ما اٰتکم الرسول فخذوہ وما نھٰکم عنہ فانتھوا

رسول الله ﷺ چه تاسو ته د څه حکم کوی هغه اخلئ او د څه نه مو منع کوی د هغې نه منع شئ

پښتو

صحیح مسلم شریف

تالیف

للإمام أبي الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري رحمه الله

۵

پښتو ترجمه

مولوی حضرت علی ابن حاجی هادی عفی عنه

فیضی کتب خانه محله جنګی پشاور
فون: 091-2566505

" وما آتكم الرسول فخذوه وما نهكم عنه فانتهوا "

رسول الله (ﷺ) چه تاسو ته د څه حکم کوی هغه اخلی او د څه نه مو چه منع کوی د هغې نه منع شی

صحیح مسلم

مع

شرح نووی

☆☆☆ تالیف ☆☆☆

ابو الحسین مسلم بن الحجاج القشیری رح

۲۰٤ھ ــــــ ۲٦۱ھ

پښتو مترجم

مولوی حضرت علی ابن حاجی هادی

ناشر: فیضی کتب خانه قصه خوانی پشاور

فون: ۰۹۱ ۲۵٦٦۵۰۵
موبائل: ۰۳۳۳۹۱۹۴۸۴٦

دَ کتاب نوم ← صحیح مسلم مع شرح نووی

پښتو

مصنف ـــ ابو الحسین مسلم بن الحجاج القشیریؒ

مترجم ـــ مولوی حضرت علی ابن حاجی هادی

زیر اهتمام ـــ عبد الاکبر : 0333=9194846



محله جنگی پشاور

الناشر : فیضی کتب خانه

ph: 091=2566505

★★★★★ فهرست مضامین صحیح مسلم جلد پنځم ★★★★★

★★★★★ فهرست مضامین صحیح مسلم جلد پنځم ★★★★★

بسم الله الرحمن الرحیم

كتاب الجهاد والسير

د جهاد او سفر بيان

﴿ بَابُ جَوَازِ الْإِغَارَةِ عَلَى الْكُفَّارِ الَّذِيْنَ بَلَغَتْهُمْ دَعْوَةُ الْإِسْلَامِ مِنْ غَيْرِ تَقَدُّمِ الْإِعْلَامِ بِالْإِغَارَةِ : ﴾

باب : هغو كفارو ته چه د دين دعوت رسيدلے وى په هغوى باندے بغير د دعوت نه د حملے كولو بيان :

(۴۵۱۹) عَنِ ابْنِ عَوْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَتَبْتُ اِلٰى نَافِعٍ اَسْئَلُهُ عَنِ الدُّعَآءِ قَبْلَ الْقِتَالِ قَالَ فَكَتَبَ اِلَيَّ اِنَّمَا كَانَ ذٰلِكَ فِيْ اَوَّلِ الْاِسْلَامِ قَدْ اَغَارَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى بَنِيْ الْمُصْطَلِقِ وَهُمْ غَارُّوْنَ وَاَنْعَامُهُمْ تُسْقٰى عَلَى الْمَآءِ فَقَتَلَ مُقَاتِلَتَهُمْ وَسَبٰى سَبْيَهُمْ وَاَصَابَ يَوْمَئِذٍ قَالَ يَحْيٰى اَحْسِبُهُ قَالَ جُوَيْرِيَةَ اَوِ الْبَتَّةَ بِنْتَ الْحَارِثِ قَالَ وَحَدَّثَنِيْ هٰذَا الْحَدِيْثَ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ عُمَرَ وَكَانَ فِيْ ذَاكَ الْجَيْشِ. [بخارى ، ابوداود]

ترجمه : د ابن عوف رضى الله عنه نه روايت دے چه ما نافع رضى الله عنه ته اوليكل چه دَ جنگ نه مخكښ كافرانو ته د دين دعوت وركول ضرورى دى ؟ هغوىؒ په جواب كښے اوليكل چه دا حكم په شروع د اسلام كښ وو (هر كله چه كافرانو ته د دين دعوت رسيدلے نۀ وو) لو جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم په بنى مصطلق باندے حمله اوكړه . او هغه غافل وو د هغوئ څناورو اوبه څښلے . حضرت صلى الله عليه وسلم قتل كړو د هغوئ نه هغه كسان چه جنگ ئے كوو او پاتے ئے قيد كړلو . او په دغه ورځ ئے جويريهؓ لور د حارث لره اونيوه نافعؒ وائى دا حديث ماته عبدالله بن عمرؓ بيان كړے دے چه هغوئؓ په دغه لښكر كښ شريك وو .

فائده : نوويؒ وائى د دے حديث نه دا معلومه شوه چه كومو كافرانو ته د اسلام دعوت رسيدلے وى په هغوئ باند ناساپه حمله كول دَ غفلت په حالت كښے درست دى . او په دے مسئله كښ درے مذهبونه دى . يو خو دا چه مطلقاً اطلاع وركول ضرورى دى . دا دَ امام

مالکؒ قول دے او ضعیف دے .

دویم دا چه مطلقاً اطلاع ورکول ضروری نهٔ دی . دا د دے نه هم زیات ضعیف دے یا باطل دے .

دریم دا چه کچرے هغوئ ته دعوت نهٔ وی رسیدلے نو اطلاع ورکول واجب دی . ورنه مستحب دی . او دغه صحیح دے او دغه مذهب دے د لیثؒ او شافعیؒ او ابوثورؒ او دَ ابن منذرؒ .

او د دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه عربو لره غلام او وینځی جوړول درست دی ولے چه بنی مصطلق عرب دے د خزاعَه اولاد . او دغه د شافعیؒ نوے قول دے . او د مالکؒ او ابوحنیفه رحمه الله او دَ اوزاعیؒ او د یو جماعت په نزد عرب غلام او وینځی نهٔ شی جوړیدے .او دغه د شافعیؒ زوړ قول دے .

﴿بَابُ تَامِيْرِ الْإِمَامِ الْاُمَرَآءَ عَلَى الْبُعُوْثِ وَوَصِيَّتِهٖ اِيَّاهُمْ بِاٰدَابِ الْغَزْوِ وَغَيْرِهَا.﴾

امام به امیرانو لره د جنګ ځولو د پاره ښکه لیږی او هغوئ ته به د جنګ طریقے ښکه ښائی .

(۴۵۲۲) عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالىٰ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَمَّرَ اَمِيْرًا عَلٰى جَيْشٍ اَوْ سَرِيَّةٍ اَوْصَاهُ فِيْ خَاصَّتِهٖ بِتَقْوَى اللهِ عَزَّوَجَلَّ وَمَنْ مَّعَهٗ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ خَيْرًا ثُمَّ قَالَ اغْزُوْا بِسْمِ اللهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ قَاتِلُوْا مَنْ كَفَرَ بِاللهِ اغْزُوْا وَلَا تَغُلُّوْا وَلَا تَغْدِرُوْا وَلَا تَمْثُلُوْا وَلَا تَقْتُلُوْا وَلِيْدًا وَّ اِذَا لَقِيْتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ فَادْعُهُمْ اِلٰى ثَلَاثِ خِصَالٍ اَوْ خِلَالٍ فَاَيَّتُهُنَّ مَا اَجَابُوْكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ اِلَى الْاِسْلَامِ فَاِنْ اَجَابُوْكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ اِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ اِلٰى دَارِ الْمُهَاجِرِيْنَ وَاَخْبِرْهُمْ اَنَّهُمْ اِنْ فَعَلُوْا ذٰلِكَ فَلَهُمْ مَّا لِلْمُهَاجِرِيْنَ وَعَلَيْهِمْ مَّا عَلَى الْمُهَاجِرِيْنَ فَاِنْ اَبَوْا اَنْ يَّتَحَوَّلُوْا مِنْهَا فَاَخْبِرْهُمْ اَنَّهُمْ يَكُوْنُوْنَ كَاَعْرَابِ الْمُسْلِمِيْنَ يَجْرِيْ عَلَيْهِمْ حُكْمُ اللهِ الَّذِيْ يَجْرِيْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَكُوْنُ لَهُمْ فِي الْغَنِيْمَةِ وَالْفَيْئِ شَيْئٌ اِلَّا اَنْ يُّجَاهِدُوْا مَعَ الْمُسْلِمِيْنَ فَاِنْ هُمْ اَبَوْا فَسَلْهُمُ الْجِزْيَةَ فَاِنْ هُمْ اَجَابُوْكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ فَاِنْ هُمْ اَبَوْا فَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَقَاتِلْهُمْ وَاِذَا حَاصَرْتَ اَهْلَ حِصْنٍ فَاَرَادُوْكَ اَنْ تَجْعَلَ لَهُمْ ذِمَّةَ اللهِ وَذِمَّةَ نَبِيِّهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا تَجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّةَ اللهِ وَلَا ذِمَّةَ نَبِيِّهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنِ اجْعَلْ ذِمَّتَكَ وَذِمَّةَ

اصحابک فانکم ان تخفروا ذممکم وذمم اصحابکم اهون من ان تخفروا ذمة الله وذمة رسوله صلی الله علیه وسلم واذا حاصرت اهل حصن فارادوک ان تنزلهم علی حکم الله فلا تنزلهم علی حکم الله ولکن انزلهم علی حکمک فانک لا تدری اتصیب حکم الله فیهم ام لا . قال عبد الرحمن هذا او نحوه وزاد اسحٰق فی اخر حدیثه عن یحیی ابن ادم قال فذکرت هذا الحدیث لمقاتل ابن حیان قال یحیی یعنی ان علقمة یقوله لابن حیان فقال حدثنی مسلم ابن هیصم عن النعمان ابن مقرن رضی الله تعالٰی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم نحوه . [راجع : ۴۵۲۱]

ترجمه :د بریده رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به چه هر کله چا لره امیر مقرر کوو په لښکر باندے یا په سرئیه باندے . (سرئیه ونیلے شی ورے تکړے ته او بعضو ونیلی دی په سریه کښ خلور سوه سواره وی چه د شپے په شرپ شرپ روان وی)نو خاص بهٔ ئے هغوئ سره بهٔ ئے نورو مسلمانانو ته حکم کوو د نیکئ کولو . او بیا بهٔ ئے اوفرمائیل جهاد کوئ د الله تعالیٰ د نوم اخستو سره د الله جل جلا له په لاره کښ جنګیږئ د هغه چا سره څوك چه نهٔ منی الله تعالیٰ لره . جهاد کوئ او غلا مهٔ کوئ د غنیمت په مال کښ او وعده خلافی مهٔ کوئ او مثله مهٔ کوئ (یعنی لاس خپے پوزه او غوږونه مهٔ کټ کوئ) او مهٔ وژنئ بچو لره (کوم چه نابالغ وی او دَ جنګ لائق نهٔ وی) او هر کله چه د خپل دشمن سره مخامخ شے نو هغه ته دَ درے خبرو دعوت ورکوه . بیا د دغه درے خبرو نه چه څه هم اومنئ نو هم ئے قبلوه او قلار شه دَ هغوئ نهٔ (یعنی د هغوئ د وژلو او لوټلو نه)بیا هغوئ ته دَ اسلام په طرف دعوت ورکړه . (دایوه خبره شوه د هغه دریؤونه) کچرے هغوئ اومنی نو قبول ئے کړئ او قلار شئ دَ هغوئ نه . بیا را اوغواړئ هغوئ لره د خپل ملك نهٔ د ویستلو او د مسلمانانو مهاجرینو په ملك کښ دَ راتلو د پاره . او ورته اووایه کچرے هغه داسے کوی نو څه چه د مهاجرینو دَ پاره دی هغه به د دوئ د پاره هم وی او څه چه په مهاجرینو باندے دی هغه به په دوئ باندے هم وی (یعنی په نفع او نقصان دواړو کښ به د مهاجرینو پشان وی) کچرے هغوئ د خپل ملك نه وتل منظور نکړی . نو هغوئ ته اووایه چه هغه به د ځنګلی مسلمانانو په شان اوسیږی . او کوم د الله تعالیٰ حکم چه په مسلمانانو باندے چلیږی هغه به په دوئ باندے هم

چلیږی او دوئ ته به د لوټ او صلح د مال نه څه حصه نه میلاویږی خو په هغه صورت کښے چه هغه د مسلمانانو په ملګرتیا کښے جنګیږی (د کافرانو سره نو حصه به ورته میلاویږی)کچرے هغه د اسلام راوړلو نه انکار اوکړی نو دَ هغوئ نه جزیه (محصول ټیکس) اوغواړه کچرے هغه جزیه ورکول قبول کړی نو قبول ئے کړه د هغوئ نه او پریږدوه هغوئ لره . او کچرے هغه جزیه هم نهٔ درکوی نود الله جل جلا له نه مدد اوغواړه او جنګ اوکړه د هغوئ سره . او هر کله چه ته یو قلعه والاؤ لره ګرفتار کړے او هغه ستا نه په خدائے یا د هغه په رسول صلی الله علیه وسلم سره پناه اوغواړی نو د الله جل جلا له او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم پناه مه ورکوه . لیکن خپله او د خپلو ملګرو پناه ورکړه . ځکه چه کچرے ستا خپله او د خپلو یارانو پناه ماته شی نو داغوره ده د الله جل جلا له او د رسول صلی الله علیه وسلم دَ پناه ماتیدو نه . او هر کله چه تهٔ یو قلعه والا ګرفتار کړے او هغوئ ستانه دا اوغواړی چه د الله تعالیٰ په حکم باندے تهٔ هغوئ لره بَهر اوبَاسَه . نو مهٔ اوباسَه تهٔ هغوئ لره د الله تعالیٰ په حکم باندے . بلکه بهر اوباسَه هغوئ لره پخپل حکم باندے ځکه چه تاته معلومه نهٔ ده چه د الله تعالیٰ حکم ستانه ادا کیږی یانهٔ . وئیلی دی عبدالرحمن رضی الله عنه دے لره یا پشان د هغے . او زیاته کړے ده اسحق رضی الله عنه په اخر د دے حدیث کښ چه روایت کوی د یحیٰی بن ادم رضی الله عنه نه وائی چه ذکر کړو ما دے حدیث لره مقاتل بن حیان رضی الله عنه ته . چه یحیی رضی الله عنه وائی یعنی چه بیشکه علقمه رضی الله عنه وئیلے دے دا حدیث ابن حیان ته . پس وئیلی دی هغوئ رضی الله عنه چه خبر راکړے دے ما لره مسلم ابن هیصم رضی الله عنه هغوئ رضی الله عنه روایت کړے دے دَ نعمان بن مقرن رضی الله عنه نه هغوئ رضی الله عنه د نبی صلی الله علیه وسلم نه پشان د هغے .

فائده : نووی علیه الرحمة وئیلی دی چه مطلب د حدیث دا دے چه هر کله هغه اسلام راوړی نو هغوئ له د مدینے مبارکے په طرف هجرت کول غوره دی . کچرے هغوئ هجرت اوکړی نو د مهاجرینو برابر بَه شی په مال غنیمت او د صلح په حصَه کښے . او که هجرت نهٔ کوی نو بیا به پشان د عامو خلقو کوم چه په ځنګلو او کلی کښے اوسیږی دوئ هم اوسیږی .

چه هغوی نهٔ جهاد کوی او نهٔ هجرت او په هغوئ به احکام د اسلام جاری وی خو په غنیمت کښ او دَ صلح په مال کښے به حصه نهٔ مومی . البته د زکات په مال کښ به کچرے هغه مستحق وی نو حصه مومی . امام شافعی علیه الرحمة وئیلی دی چه مسکینانو وغیره ته بَه په صدقاتو کښ حصه میلاویږی د چا چه د صلح په مال کښے حصه نشته دے او د صلح مال د لښکر والاؤ د پاره دے . او هغوئ ته به د صدقاتو نهٔ میلاویږی او د هغوئ دلیل دا حدیث دے لیکن د مالکؒ او ابوحنیفهؒ په نزد دواړه برابر دی او هر یو په دواړو قسمونو کښے صرف کیدے شِی . او ابوعبید رضی الله عنه وئیلی دی چه دا حدیث منسوخ دے دا حکم په اول دَوَرُ دَ اسلام کښ وو خو دَ دورستو دلیل نهٔ دے . انتهٰی مختصرًا

امام نوویؒ وئیلی دی چه د دے حدیث نه معلومه شوه چه جزیَه دَ هر یو کافر نه اخستل روا دی . که عربی وی یا عجمی یا کتابی وی یا مجوسی یا مشرك وغیره . د امام مالكؒ او اوزاعی رحمهماالله تعالیٰ دغه مذهب دے .

او د امام ابوحنیفهؒ په نزد د ټولو کافرونه به جزیه قبلولے شِی . مگر د عربو د مشرکینو او مجوسونه نهٔ . او د امام شافعیؒ په نزد جزیه به نهٔ شی قبلیدے مگر د اهلِ کتابو نه یا مجوس نه که عربی وی یا عجمی ، اوس اختلاف دے د جزیے په مقدار کښے .

د اِمام شافعی رحمة الله علیه په نزد کم نهٔ کم یو دینار دے په ټول کال کښے ، که مالدار وی یا مفلس . او زیات چه څومره مقرر کړے شو ، او دَ مالكؒ په نزد په سرو زرو والا باندے څلور دیناره دی ، او په سپینو زرو والا باندے څلویښت درهمه دی په هر کال کښے او د امام ابوحنیفه رحمة الله تعالیٰ او احمد رحمة الله تعالیٰ په نزد په مالدار باندے اته څلویښت درهمه دی . او په متوسط یعنی درمیانه باندے څلیریشت او په فقیر باندے دولس درهمه دی . انتهیٰ .

(۴۵۲۵) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا بَعَثَ اَحَدًا مِّنْ اَصْحَابِهٖ فِیْ بَعْضِ اَمْرِهٖ قَالَ بَشِّرُوْا وَلَا تُنَفِّرُوْا وَیَسِّرُوْا وَلَا تُعَسِّرُوْا . [ابوداود]

ترجمه : دَ ابوموسیٰ رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو اصحابوؓ کښے چه به هر کله چا لره د څه کار د پاره لیږلو . نو ورته به ئے اوفرمائیل زیرے

ورکوه او نفرت مهٔ ورکوه او آسانی کوه او سختی پرے مهٔ غورځوه .

فائده : د دے د پاره چه خلق دین د اسلام لره زر تر زره قبول کړی . د دے حدیث نه معلومه شوه چه فقط وعید بیانول او صرف خلقو لره ویره ول خوف نهٔ دے . بلکه د دے سره دَ الله تعالیٰ جل جلا له رحمت او کرم او بخشش لره هم بیانول ضروری دی . دغه شان په نابالغو هلکانو او نوؤ مسلمانانو او ګنهګارانو باندے آسانی کول پکار دی . او دا بیانول پکار دی چه توبه تولو ګناهونو لره غورځوی ، او اسلام تولو ګناهونو لره محوه کوی .

(٤٥٢٦) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهٗ وَمَعَاذًا اِلَی الْیَمَنِ فَقَالَ یَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا .[بخاری ، ابو داود ، ابن ماجه وانظر فی مسلم : ٥٢١٥، ٥٢١٦]

ترجمه : د حضرت ابو موسیٰ رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ لره او معاذ رضی الله تعالیٰ عنه لره دَ یمن په طرف اولیږل نو ورته ئے اوفرمائیل آسانی کوئ او سختی مهٔ کوئ او زیری بیانوئ او نفرت مهٔ ورکوئ اوپه اتفاق سره کار کوئ او بے اتفاقی مهٔ کوئ.

عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِیْثِ شُعْبَةَ وَلَیْسَ فِیْ حَدِیْثِ زَیْدِ ابْنِ اَبِیْ اُنَیْسَةَ وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا.

ترجمه :ابو موسیٰ رضی الله عنه د نبی صلی الله علیه وسلم نه پشان د شعبهؒ د حدیث روایت کړے دے او نشته دے په حدیث د زیدؒ بن ابی انیسه کښے چه په اتفاق سره کار کوئ او بے اتفاقی مهٔ کوئ .

(٤٥٢٧) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَسِّرُوْا وَلَا تُعَسِّرُوْا وَسَکِّنُوْا وَلَا تُنَفِّرُوْا . [بخاری]

ترجمه : د انس بن مالك رضی الله عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل آسانی کوئ او سختی مهٔ کوئ او آرام ورکوئ او نفرت مهٔ پیدا کوئ .

﴿ بَابُ تَحْرِیْمِ الْغَدْرِ ﴾

وعده خلافي حرامه ده

(۴۵۲۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَمَعَ اللّٰهُ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرْفَعُ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَآءٌ فَقِيْلَ هٰذِهٖ غَدْرَةُ فُلَانِ ابْنِ فُلَانٍ . [بخاری]

ترجمه :د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی هر کله چه الله تعالیٰ ورمبو او ورستو لره جمع کړی د قیامت په ورځ نو د هر یو وعده ماتونکی جهنډا به اوچته کړے شِی او بیا به اوونیلے شی چه دا د فلانی وعده خلافی ده چه د فلانی ځوئ دے .

فائده :امام نووی علیه الرّحمة وئیلی دی چه د عربو دا طریقه وه چه د مشهور کولو د پاره به ئے په بازار کښ جهنډه اودرَوله . دغا باز یعنی وعده خلاف هغه دے چه هغه وعده اوکړی او بیا ئے نۀ پوره کوی او د دے حدیث نه دَ وعده خلافئ حرام والے بنکاره شو . خاصکر د هغه سړی د پاره چه هغه حاکم وی ، ولے چه دَ هغه د وعده خلافئ نه په زرګونو مخلوق د الله تعالی ته نقصان رَسیږی . او قاضی عیاضؒ وئیلی دی چه دواړه وعده خلافئ ترے مراد کیدے شی یو د امام او حاکم چه د خپل رعیت سره دهوکه بازی کوی یا د نورو کافرانو سره . یا کوم امانت چه الله تعالیٰ ده ته ورکړے دے د هغے حق نۀ ادا کوی یعنی عدل او انصاف نۀ کوی . د الله تعالیٰ مخلوق ته آسائش او راحت نۀ ورکوے د هغویٔ په جان او مال او حق باندے پَه ناحقه ستم کوی . دوئم رعیت دَ امام سره چه هغه وعدے لره ماته کړی او بے د شرعی وجے نه د هغے مخالفت اوکړی .

(۴۵۳۰) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ .[ترمذی]

ترجمه : عبدالله ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د پورته حدیث په شان روایت کړے دے .

(۴۵۳۱) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْغَادِرَ يَنْصِبُ اللّٰهُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَيُقَالُ اَلَا هٰذِهٖ غَدْرَةُ فُلَانٍ .

ترجمه : د عبدالله ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نۀ روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله

علیه وسلم فرمائیلی دی . چه د دهوکه باز جهنده به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ پورته کړی او اوبه ونیلے شی چه دا هغه دهوکه بازی ده د فلانی .

(۴۵۳۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَآءٌ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ .

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیل ئے دَ هر دهوکه باز د پاره به یوه جهنده وی د قیامت په ورځ .

(۴۵۳۳) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَآءٌ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فَیُقَالُ هٰذِهٖ غَدْرَةُ فُلَانٍ . [بخاری]

ترجمه: هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه .

(۴۵۳۵) عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَآءٌ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ یُعْرَفُ بِهٖ یُقَالُ هٰذِهٖ غَدْرَةُ فُلَانٍ . [راجع: ۴۵۳۴]

ترجمه :د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د هر دهوکه باز به یوه جهنده وی د قیامت په ورځ چه په هغے به هغه پیژندے شی او اوبه ونیلے شی چه دا د فلانی دهوکه بازی ده .

(۴۵۳۶) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَآءٌ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ یُعْرَفُ بِهٖ . [بخاری]

ترجمه : د انس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د هر دهوکه باز به یوه جهنده وی د قیامت په ورځ چه په هغے سره به دَ هغه پیژندګلی کیږی .

(۴۵۳۷) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَآءٌ عِنْدَ اِسْتِهٖ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ .

ترجمه : د ابو سعید رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی

دی د هر دوهوکه باز (پے وعدے) بنده به د کناتو په سر یوه جهنډه وی د قیامت په ورځ .

(۴۵۳۸) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَآءٌ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ یُرْفَعُ لَهٗ بِقَدْرِ غَدْرِهٖ اَلَا وَلَا غَادِرَ اَعْظَمُ غَدْرًا مِّنْ اَمِیْرِ عَامَّةٍ .

ترجمه :د ابوسعید رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د هر دهوکه باز د پاره به یوه جهنډه وی د قیامت په ورځ چه هغه به اوچته کړے شی دهغه د دهوکه بازئ موافق او یو دهوکه باز به د هغه نه مخکښے نهٔ وی څوك چه د الله جل جلا له د مخلوق حاکم وی او دهوکه بازی کوی

فائده : ولے چه د هغه د دهوکه بازئ نه یو حکومت ته نقصان رسی په خلاف د غریب دَ دهوکه بازئ چه په هغے سره یو یا دوه کسانو ته نقصان رسیږی .

﴿ بَابُ جَوَازِ الْخِدَاعِ فِی الْحَرْبِ ﴾

په جنګ کښں مکر او حیله درسته ده .

(۴۵۳۹) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَلْحَرْبُ خُدْعَةٌ .

[بخاری ، ابوداود ، ترمذی]

ترجمه :د حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی جنګ مکر او حیله ده .

فائده : یعنی په جنګ کښں عقلمندی او مکر ضرور شته ، او دا دهوکه بازی نهٔ ده ولے چه دغا هغه څه ته وئیلے شی چه هغه قول ورکړی او مات ئے کړئ . او فریب لو مکر بل څیز دے هغه د کافرانو سره روا دے ، امام نووی رحمه الله وئیلی دی چه په حدیث سره دروغ وئیل په درے ځایونوکښں روا دی ، یو په جنګ کښں او مراد د دغه دروغو نه کنایه ده . او ظاهِر دا ده چه حقیقتًا دروغ هم درست دی .

(۴۵۴۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَلْحَرْبُ خُدْعَةٌ

[راجع: ۳۰۲۶].

ترجمه :د حضرت ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه نه هم دغه شان روایت دے لکه چه پورته تیر

شو لو .

﴿ بَابُ كَرَاهَةِ تَمَنِّيْ لِقَاءِ الْعَدُوِّ وَالْأَمْرِ بِالصَّبْرِ عِنْدَ اللِّقَاءِ . ﴾

د جنګ آرزو کول منع دی او د جنګ په وخت صبر کول لازم دی .

(۴۵۴۱) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ فَاِذَا لَقِيْتُمُوْهُمْ فَاصْبِرُوْا. [راجع : ۳۰۲۶]

ترجمه :د حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د دشمن سره د مخامخ کیدو تمنا مهٔ کوئ او هر کله چه میلاؤ شئ نو صبر کوئ .

فائده : او په مضبوط والی سره جنګیږئ او د میدانِ جنګ نه تیښته مهٔ کوئ .

(۴۵۴۲) عَنْ اَبِي النَّضْرِ عَنْ كِتَابِ رَجُلٍ مِنْ اَسْلَمَ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لَهُ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ اَبِيْ اَوْفٰى رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَكَتَبَ اِلٰى عُمَرَ ابْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ حِيْنَ سَارَ اِلَى الْحَرُوْرِيَّةِ يُخْبِرُهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِيْ بَعْضِ اَيَّامِهِ الَّتِيْ لَقِيَ فِيْهَا الْعَدُوَّ يَنْتَظِرُ حَتّٰى اِذَا مَالَتِ الشَّمْسُ قَامَ فِيْهِمْ فَقَالَ يَا اَيُّهَا النَّاسُ لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَاسْئَلُوْا اللّٰهَ الْعَافِيَةَ فَاِذَا لَقِيْتُمُوْهُمْ فَاصْبِرُوْا وَاعْلَمُوْا اَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ ثُمَّ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الْاَحْزَابِ اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه :د ابو النضرؒ نه روایت دے چه ده د عبدالله بن اوفیٰؓ کتاب اولوستو چه د قبیلهٔ اسلم نهٔ وو او د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابیؓ وو هغوئ اولیکل عمر بن عبیداللهؒ ته هر کله چه هغویؒ لاړو د خارجیانو خواله کوم چه په حروراکښې اوسیدلو (د هغوئ سره د جنګ د پاره) چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په کومو ورځو دَ دشمن سره ملاقات اوشو نو انتظارئے کوؤ تر دے پورے چه نمر زوال اوموندو نو اودریدو او اوئے فرمائیل اے خلقو ! تمنا مهٔ کوئ د دشمن سره د مخامخ کیدو او دَ الله تعالیٰ نه سلامتی اوغواړئ . او هر کله چه تاسو د دشمن سره میلاؤ شئ نو صبر کوئ . او دا اوګنړئ چه جنت د تورو د سوری لاندې دے . بیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم اودریدو او اوئے فرمائیل ! اے الله جل جلا له د کتاب

نازله وونکیه او د وریځو چلونکیه او د لښکرو زغلونکیه . او زغلوه ته دوئ لره او د دوئ په مخکښې زمونږ مدد اوکړه .

﴿ بَابُ اسْتِحْبَابِ الدُّعَاءِ بِالنَّصْرِ عِنْدَ لِقَاءِ الْعَدُوِّ ﴾

د دشمن سره د مخامخ کیدو په وخت د فتح د دعا غوښتلو غوره والی

(۴۵۴۳) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ اَبِیْ اَوْفٰیؓ قَالَ دَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَلَی الْاَحْزَابِ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْکِتَابِ سَرِیْعَ الْحِسَابِ اهْزِمِ الْاَحْزَابَ اَللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ.[بخاری ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه :د حضرت عبدالله بن ابی اوفیؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم بد دعا اوکړه په احزاب باندے (په کومه ورځ چه د کافرانو خو جماعتونه دَ حضرتؐ سره د جنګ کولو د پاره راغلی وو) په سنه ۵۰ هـ کښې او حضرتؐ په خندق کښې وو ، نو اوئے فرمائیل چه اے الله جل جلاله ! اے نازلونکیه د کتاب (قران) اے زر حساب اخستونکیه او زغلوه دے لښکرو لره یا الله ! او خوَیَوه دوئ لره او اولړزَوه دوئ لره .

(۴۵۴۴) عَنِ ابْنِ اَبِیْ اَوْفٰی یَقُوْلُ دَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِیْثِ خَالِدٍ غَیْرَ اَنَّهٗ قَالَ هَازِمَ الْاَحْزَابِ وَلَمْ یَذْکُرْ قَوْلَهُ اَللّٰهُمَّ عَنْ اِسْمٰعِیْلَ بِهٰذَ الْاِسْنَادِ وَزَادَ ابْنُ عُمَرَ فِیْ رِوَایَتِهٖ (مُجْرِیَ السَّحَابِ) [راجع : ۴۵۴۳]

ترجمه: د دے حدیث هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه .

(۴۵۴۶) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تعالیٰ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ یَقُوْلُ یَوْمَ اُحُدٍ اَللّٰهُمَّ اِنَّکَ اِنْ تَشَاْ لَاتُعْبَدْ فِی الْاَرْضِ.

ترجمه : د انس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه د احد په ورځ اوفرمائیل چه یا الله جل جلاله ! کچرے ته اوغواړے نو څوک به ستا عبادت کولو پاتے نۀ شی په زمکه کښې .

فائده : په دے کښے تسلیم دے د اَمْرِ اِلٰهِیْ او رَدُ دے په قدریه و باندے چه هغه وائی د شر خالق الله جل جلاله نۀ دے ـ نۀ د هغه په تقدیر سره کیږی او په یو روایت کښې دی چه حضرتؐ

د بدر په ورځ دا اوفرمائیل او کیدے شی په دواړو ورځو ئے فرمائیلی وی .

بَابُ تَحْرِيْمِ قَتْلِ النِّسَآءِ وَالصِّبْيَانِ فِي الْحَرْبِ

په جنګ کښې د ښځو او د بچو د وژلو حرام والې .

(۴۵۴۷) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ امْرَاَةً وُجِدَتْ فِيْ بَعْضِ مَغَازِيْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْتُوْلَةً فَاَنْكَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتْلَ النِّسَآءِ وَالصِّبْيَانِ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی]

ترجمه : د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه یوه ښځه اوموندے شوه په یو جنګ کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم چه هغه وژلے شوے وه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع اوفرمائیله د ښځو او د بچو دَ وژلو نهٔ .

فائده : نووی وئیلی دی چه اجماع ده د علماؤ په دے باندے چه دَ ښځو او د بچو وژل نهٔ دی پکار . په دے شرط چه هغه نه جنګیږی او کچرے جنګیدل نو قتل کولے بَه شِی دغه شان د ضعیفانو او دَ بوډاګانو وژل هم ناجائز دی په دے شرط چه هغوئ مشوره نهٔ ورکوی ورنه قتل کولے به شی ، او د نصرانی درویشانو په وژلو کښې اختلاف دے د مالکؒ او ابو حنیفه رحمه الله په نزد به نهٔ وژلے کیږی او دَ امام شافعیؒ په نزد به قتل کولے شی .

(۴۵۴۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ وَجَدْتُ امْرَاَةً مَقْتُوْلَةً فِيْ بَعْضِ تِلْكَ الْمَغَازِيْ فَنَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ النِّسَآءِ وَالصِّبْيَانِ.

ترجمه : د دے حدیث د دے نه د وړاندِ حدیث په شان ده کوم چه پورته ذکر شو .

﴿ بَابُجَوَازِ قَتْلِ النِّسَآءِ وَالصِّبْيَانِ فِي الْبَيَاتِ مِنْ غَيْرِ تَعَمُّدٍ ﴾

د شپې حمله کښې چا په اووهی نو د ښځو او بچو قتل درست دے په دے شرط چه قصداً نهٔ وی .

(۴۵۴۹) عَنِ الصَّعْبِ ابْنِ جَثَّامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الذَّرَارِيِّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ يُبَيَّتُوْنَ فَيُصِيْبُوْنَ مِنْ نِسَآئِهِمْ وَذَرَارِيِّهِمْ وَقَالَ هُمْ مِنْهُمْ . [بخاری ، ابوداود

، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه :د صعب بن جثامۃ نه روایت دے وائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د مشرکینو د اولاد په باره کښې تپوس اوکړے شو . هر کله چه د شپې په چهاپه کښې اووژلے شی دغه شان د هغوئ د ښځو حضرتؐ اوفرمائیل هغه په دوئ کښې داخلے دی .

فائده :یعنی دَ دنیا په حکم کښې او د هغوئ شمار په کافرانو کښې دے ۔ نو د شپې چه هر کله تیره وی او پیژندګلی نهٔ شی کیدے نو د لویو سره کچرے ښځے او بچی هم قتل شی نو په هیچا بانده ګناه نشته دے . او په آخرت کښې د کافرو په اولاد کښې اختلاف دے لیکن صحیح مذهب دا دے چه هغه جنتیان دی ۔ او دویم مذهب دا دے چه جهنمی دی او دریم دا چه چاته معلومه نهٔ ده .

(۴۵۵۰) عَنِ الصَّعْبِ ابْنِ جَثَّامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّا نُصِيْبُ فِي الْبَيَاتِ مِنْ ذَرَارِيِّ الْمُشْرِكِيْنَ قَالَ هُمْ مِنْهُمْ . [راجع: ۴۵۴۹]

ترجمه :د صعب بن جثامۃ نه روایت دے وائی ما عرض اوکړو چه یا رَسول اللهؐ ! مونږ خو د شپې په چهاپه کښې د مشرکانو اولاد هم وژنو . حضرتؐ اوفرمائیل هغه هم په مشرکانو کښې داخل دی .

(۴۵۵۱) عَنِ الصَّعْبِ ابْنِ جَثَّامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيْلَ لَهُ لَوْ اَنَّ خَيْلًا اَغَارَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَاَصَابَتْ مِنْ اَبْنَاءِ الْمُشْرِكِيْنَ قَالَ هُمْ مِنْ اٰبَائِهِمْ . [راجع : ۴۵۴۹]

ترجمه : د صعب بن جثامۃ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړے شو چه کچرے سواره خلق د شپې حمله اوکړی او د مشرکانو بچی پکښې اووژلے شی . حضرتؐ اوفرمائیل هغه هم دَ هغوئ د پلارانو نه دی (یعنی دَ مشرکانو نهٔ) .

﴿ باب جواز قطع اشجار الكفار وتحريقها ﴾

د کافرانو وُنې پرې کول اوسیزل درست دی

(۴۵۵۲) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّقَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيْرِ وَقَطَعَ وَهِيَ الْبُوَيْرَةُ زَادَ قُتَيْبَةُ وَابْنُ رُمْحٍ فِي حَدِيْثِهِمَا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ

تركتُمُوها قائمةً على أُصُولِها فبإذنِ الله وليُخزي الفاسِقِين. [بخاری ، ترمذی ، ابن ماجه]
ترجمه :د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ بنی نضیر(قبیلے) د کجورو ونے اوسیزلے او کټ نے کړلے چه هغے ته به نے بویره وئیلو ، پس الله تعالیٰ جل جلا له دا آیت نازل کړلو، کومے ونے چه تاسو کټ کړلے یا مو پریخودے هغوئ لره په خپلو زیلو باندے پس دا د الله تعالیٰ په حکم سره وو . ځکه چه رسوا کړی ګنهګارانو لره .

فائدة: نووی رحمه الله وئیلی دی د دے حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه د کافرانو وُنے کټ کول یا سیزل دغه شان د هغوئ باغ یا پټے تلف کول درست دی . او دغه قول دے دَ امام ابو حنیفهؒ او مالکؒ او شافعیؒ او احمدؒ او دَ اسحٰقؒ . اودَ ابوبکر صدیقؓ اولیثؒ او اوزاعیؒ او ابوثورؒ په نزد درست نۀ دی .

(۴۵۵۳) عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِی الله تعالٰی عَنهُ أنَّ رَسُولَ الله صَلّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ قَطَعَ نَخلَ بَنِی النَّضِیرِ وَحَرَّقَ وَلَهَا یَقُولُ حَسَّانُ.وَهَانَ عَلَی سَرَاةِ بَنِی لُؤَیٍّ حَرِیقٌ بِالْبُوَیرَةِ مُستَطِیرُ. [بخاری]
ترجمة: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ بنی نضیر ونے کټ کړلے او اوئے سیزلے او د حسان بن ثابتؓ دا شعر په دے باب کنبے دے . چه ترجمه د هغے دا ده . آسان شول د بنی لؤی شریفانو او سردارانو ته سیزل د بویره چه د هغے انګار الوتلو(د بنی لوی نه مراد قریش دی) .

(۴۵۵۴) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعالٰی عَنهُما قال حَرَّقَ رسولُ الله صَلَّی الله عَلَیهِ وَسلم نَخلَ بَنِی النَّضِیرِ.
ترجمة: د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ بنی نضیر د کجورو وُنے اوسیزلے .

﴿ باب تحلیل الغنائم لِهٰذِهِ الأمّة خاصّةً ﴾

د دے امت د پاره خاص د غنیمت د مال حلالیدل

(۴۵۵۵)عَنْ هَمَّامِ ابنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا اَبُوهُرَیرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّی اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ اَحَادِيْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا نَبِيٌّ مِّنَ الْاَنْبِيَآءِ فَقَالَ لِقَوْمِهٖ لَا يَتْبَعْنِىْ رَجُلٌ قَدْ مَلَكَ بُضْعَ امْرَاَةٍ وَّهُوَ يُرِيْدُ اَنْ يَّبْنِىَ بِهَا وَلَمَّا يَبْنِ وَلَآ اٰخَرُ قَدْ بَنٰى بُنْيَانًا وَلَمَّا يَرْفَعْ سُقُفَهَا وَلَآ اٰخَرُ قَدِ اشْتَرٰى غَنَمًا اَوْ خَلِفَاتٍ وَّهُوَ مُنْتَظِرٌ وِّلَادَهَا قَالَ فَغَزَا فَاَدْنٰى لِلْقَرْيَةِ حِيْنَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ اَوْ قَرِيْبًا مِّنْ ذٰلِكَ فَقَالَ لِلشَّمْسِ اَنْتِ مَامُوْرَةٌ وَّاَنَا مَامُوْرٌ اَللّٰهُمَّ احْبِسْهَا عَلَىَّ شَيْئًا فَحُبِسَتْ عَلَيْهِ حَتّٰى فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ قَالَ فَجَمَعُوْا مَا غَنِمُوْا فَاَقْبَلَتِ النَّارُ لِتَاكُلَهٗ فَاَبَتْ اَنْ تَطْعَمَهٗ فَقَالَ فِيْكُمْ غُلُوْلٌ فَلْيُبَايِعْنِىْ مِنْ كُلِّ قَبِيْلَةٍ رَجُلٌ فَبَايَعُوْهُ فَلَصِقَتْ يَدُ رَجُلٍ بِيَدِهٖ فَقَالَ فِيْكُمُ الْغُلُوْلُ فَلْتُبَايِعْنِىْ قَبِيْلَتُكَ فَبَايَعَتْهُ قَالَ فَلَصِقَ يَدُهٗ بِيَدِ رَجُلَيْنِ اَوْ ثَلَاثَةٍ فَقَالَ فِيْكُمُ الْغُلُوْلُ اَنْتُمْ غَلَلْتُمْ قَالَ فَاَخْرَجُوْا لَهٗ مِثْلَ رَاْسِ بَقَرَةٍ مِّنْ ذَهَبٍ قَالَ فَوَضَعُوْهُ فِى الْمَالِ وَهُوَ بِالصَّعِيْدِ فَاَقْبَلَتِ النَّارُ فَاَكَلَتْهُ فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِاَحَدٍ مِّنْ قَبْلِنَا ذٰلِكَ بِاَنَّ اللهَ رَاٰى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَطَيَّبَهَا لَنَا. [بخاری]

ترجمه: د همام بن منبهؒ نه روایت دے وائی چه دا ماته ابو هریره رضی الله عنه فرمائیلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل جهاد کوؤ یو پیغمبرؑ د پیغمبرانو نه ـ نو خپل قوم ته ئے اووے ـ چه څما سره به هغه سړی نهٔ ځی چاچه نکاح کړے ده ـ او هغه غواړی چه د خپلے ښځے سره صحبت اوکړی او لا تراوسه ده صحبت نهٔ وی کړے ـ او نهٔ به راسره هغه سړے ځی چه هغه د کور بنیادونه جوړ کړی وی او لا تر اوسه ئے پړے چهت پورته کړے نهٔ وی ـ او نهٔ به راسره هغه سړے ځی چا چه بزے یا حملدارے اوښے اخستے وی او د هغوی دَ اولاد زیږولو په امید کښ وی (ځکه چه د دغه خلقو زړهٔ به د دغه څیزونو سره لګیدلے وی او په آرام سره به جهاد نهٔ شی کولے) بیا هغه پیغمبرؑ جهاد اوکړو نو د مازیګر په وخت یا مازیګر ته نزدے هغه کلی ته اورسیدو (چرته چه جهاد کول وو) نو پیغمبرؑ نمر ته اووے ـ تهٔ هم تابعدارئے او زهٔ هم تابعدار یم یاالله جل جلاله دے حصار کړه لږ ساعت زما د پاسه (د دے د پاره چه د هفتے (خالی) ورځ رانهٔ شی ولے چه د هفتے په ورځ جنګ کول حرام وو او دا جنګ د جمعے په ورځ شوے وو) بیا نمر حصار شو تر دے پورے چه الله جل جلاله فتح ورکړه هغوی ؑ لره او بیا خلقو راجمع کړو د غنیمت مال لره، او د اور شغله (د اسمان نه رانحله) د هغے د خوراك د پاره ـ لیکن هغه ئے او نهٔ خوړه ـ پیغمبرؑ اوفرمائیل په تاسو کښے چا غلا کړے ده (هر کله چه دا نذر قبول نهٔ شولو) نوستاسو نه دے د هر ګروپ یو

بنیادم څمانه بیعت اوکړی ، بیا بیعت اوکړو تولو ـ د یو سړی لاس د پیغمبرّ د لاس سره اولګیدو نو پیغمبرّ اووے په تاسو خلقو کښے غلا معلومیږی نو ستاسو قبیله د څما نه بیعت اوکړی ، بیا هغه قبیلے بیعت اوکړو نو دَ دوو یا دریو سړو لاس د پیغمبرّ د لاس سره اولګیدو نو پیغمبرّ اووے تاسو غلا کړے ده ، بیا هغویٰ د غوایه د سر برابر سره زر راواخستل او هغه ئے هم په هغه مال کښے کیښودو (کوم چه ئے د سیزلو د پاره په زمکه باندے ایخودے وو) او د هغے په زمکه باندے دَ ایخودو سره شغله د اور راغله او هغه ئے اوخوړو ، او زمونږ نه مخکښ د چا دَ پاره غنیمتونه روانۀ وو او زمونږ د پاره رَوا شولو ځکه چه الله تعالیٰ زمونږه کمزوری او عَاجزی اولیده نو حلال ئے کړو زمونږ د پاره هغے لره ـ

فائده : دا پیغمبر حضرت یوشع بن نون علیه السلام وو دَ حضرت موسیٰ علیه السلام خلیفه دَ شام په ملك کښ په اریحانوم ښهر کښے جنګ شوے وو د جمعے په ورځ ، الله تعالیٰ د هغویٰ په دُعا سره نمر اودرولے وو تر دے پورے چه فتحَ اوشوله ـ نوویٰ وئیلی دی دا او دَ رَوَل په دے طریقه باندے وو چه نمر واپس کړے شو خپل روميی مقام باندے یا اودریدلے وو په هغه ځائے باندے چرته چه وو یائے په حرکت کښے سستی راغلے وه ـ او دا ټولے خبرے معجزه ده ـ او زمونږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د پاره هم دوه ځله نمر او درَولے شوے دے یو خو د خندق په ورځ چه هر کله د مازیګر مونځ قضا شوے وو ـ او الله پاك نمر واپس کړلو تر دے پورے چه د مازیګر مونځ ئے ادا کړلو ، ذکر کړی دی دے لره طحاوی او وئیلی دی چه د دے راویان ثقه دی ـ

دویم د معراج په سحر هر کله چه حضرت د قافلے دراتلو خبر ورکړے وو د نمر د راختلو سره ، دے لره یونس ابن بکیر د سیرت ابن اسحٰق په زیادت کښ نقل کړی دی ـ او حضرت یوشع بن نون علیه السلام د نوی واده خلقو ته او د ځناورو او کور جوړونکو خلقو لره په جهاد کښے وانۀ خستل ولے چه د هغویٰ زړونه به په دغے کښ لګیدلے وی او جهاد به ترے په ښه طریقه نۀ کیږی معلومه شوه چه جهاد کول د فارغ البال خلقو نه ښه کیږی ، او په رومبو امتونو کښے معمول وو چه قربانیٔ او د غنیمت مال لره به آسمانی اورسیزلو او دغه ئے د قبلیدو نښه وه او د غنیمت مال اخستل هغویٰ لره حلال نۀ وو ، او امت محمد صلی الله علیه وسلم د پاره

حلال شولو۔

مترجم وئیلی دی چه د دے حدیث د ظاهر نه دا معلومیږی چه نمر د زمکے نه چاپیره گردش کوی او د پخوانو یونانی حکیمانو هم دغه خیال وو او د مسلمانانو په حساب کښے چه هغوئ د یونانیانو نه حاصل کړے دے دغه ثابت شوے دے ۔ او د یو تولی د حکماء او د حال د اهلِ هیئت والا دا قول دے چه زمکه گردش کوی ، او کچرے دغه قول صحیح وی نو دَ حبس شمس نه دا مراد دے چه حبس ارض اوشول او صورتًا لکه حبس شمس اوشولو ولے چه نمر په ظاهر کښں روان معلومیږی لکه څنګه چه درېل یا کشتئ نه تمام بوټی او کورونه روان په نظر راځی ۔ اوس که دا حصاریدل په اودریدو سره وی یا په واپس تلو سره وی یا که د حرکت په سست کیدو سره وی په هر شان ممکنه ده ۔ او د دے خبر صرف څه په حدیث کښں نهٔ دے بلکه په اسمانی کتاب یعنی تورات شریف کښے موجود دے بیا چه کوم امر ممکن دے په هغے باندے د الله تعالیٰ قدرت دے ۔ او دا ناشنا د حماقت خبره ده چه الله تعالیٰ لره په دے تولو ځیزونو کښں د حرکت ورکولو او په یوه مقرر لاره باندے د چلولو او د توپ د گولئ نه څو حصے د زیات تیز واپس کولو قدرت وی بیا د واپس راوستلو یا دَ اودرَولو قدرت به ئے څنګه نهٔ وی ۔

داسے خیال هغه خلق کوی چه د هغوئ عقلونه کمزوری دی یا هغه په ښه شان له غور نهٔ کوی ورنه کوم پروردګار چه دومره لوئے لوئے دنیاګانے چه هغه دَ زمکے نه په زرګونو لکونو حصے لوئے دی پیدا کړی دی او هغه تولے په خپلو مقرره لارو باندے چکر لګوی ، او ممکنه نهٔ ده چه یو هم د خپل ځائے نه درتئ برابر آخوا دیخوا شی ، یا د بل سره اوجنګیږی ، نو ولے د هغه نه دا نهٔ شی کیدے چه دے لره او درَوی یا د هغے حرکت کم کړی ۔ افسوس دغه خلقو د الله تعالیٰ په قدرت او طاقت باندے غور نهٔ دے کړے ورنه دَ داسے بے وقوفئ خیال به ئے چرته هم نهٔ وو کړے او دَ شیطان په دے دهوکه کښے به چرته هم نهٔ وو پریوتی ۔

﴿ بَابُ الْاَنْفَالِ ﴾

دغنیمت بیان

(۴۵۵۶) عَنْ مُصْعَبِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ اَبِیْهِ قَالَ اَخَذَ اَبِیْ مِنَ الْخُمُسِ سَیْفًا فَاَتٰی بِهٖ

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَبْ لِيْ هٰذَا فَاَنْزَلَ اللهُ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ .[ابو داود ، ترمذی]

ترجمه: د مصعب بن سعد رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه هغویٰ د خپل پلار نه اوریدلی دی چه ویل ئے ما د خمس نه یوه توره واخسته بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا له راغلم او عرض م اوکړو چه دا توره ماته بخشش کړه حضرتؐ انکار اوکړو نو الله پاك دا آیت نازل کړو. ترجمه: تپوس کوی ستا نه د غنیمت د مالونو په باره کښے ته ورته اووایه چه غنیمت د الله جل جلاله د پاره او د هغه دَ رسولؐ دَ پاره دے۔

(۴۵۵۷) عَنْ مُصْعَبِ ابنِ سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَزَلَتْ فِيَّ اَرْبَعُ اٰيَاتٍ اَصَبْتُ سَيْفًا فَاَتَيْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ نَفِّلْنِيْهِ فَقَالَ ضَعْهُ ثُمَّ قَامَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ نَفِّلْنِيْهِ فَقَالَ ضَعْهُ ثُمَّ قَامَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ نَفِّلْنِيْهِ اَاُجْعَلُ كَمَنْ لَا غَنَآءَ لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعْهُ مِنْ حَيْثُ اَخَذْتَهُ قَالَ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَتُ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ .[راجع: ۴۵۵۶، وانظر :۶۲۳۸]

ترجمه :د مصعب بن سعد رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے هغویٰؓ اوریدلی دی د خپل پلار نه وائی چه څما په باره کښے څلور ایتونه نازل شوی دی ، یو ځل ماته یوه توره میلاؤ شوه په غنیمت کښے هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راوړے شوه ۔ ما اووے یا رسول الله ! دا ماته راکړئ حضرتؐ اوفرمائیل دے لره کیږده ۔ بیا زهٔ اوردیدم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل کیږده دے لره د کوم ځائے نه چه تا اخستی ده ما اووے یا رسول اللهؐ دا توره ماته راکړئ ، ولے زهٔ به دَ هغه سړی په شان اوسیږم کوم چه نادار دے ۔ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل کیږده دے لره د کوم ځائے نه چه تا اخستی ده بیا دا آیات نازل شولو ." يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ ."

فائده :سعدؓ دلته دغه یو ایت لره بَیَان کړے دے ، اوْ په دے آیت کښی اختلاف دے ، څنو ویلی دی چه منسوخ دے په دے ایت سره "وَاعْلَمُوْا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ ......" د اخره پورے ۔ او د ړومبی آیت منسوخ دا وو ۔ چه د غنیمت تول مال د رسول الله صلی

الله علیه وسلم دے .
بیا په دوئم آیت سره یو خمس د هغے د الله جل جلا له او د هغه د رسول دپاره اوګرځیدو ، او څلور خمسه د مجاهدینو دپاره او دغه قول دے د ابن عباسؓ او د یو جماعت ـ او بعضو وئیلی دی چه دا آیت محکم دے او امام لره اختیار دے چه د غنیمتونو نه چا لره چه څومره غواړی انعام ورکړی او څنو وئیلی دی چه دا ایت خاص د سرایا په غنیمت کښے دے ـ په بل روایت کښے دی چه بیا حضرتؓ هغه توره سعدؓ ته ورکړه او ورته ئے اوفرمائیل چه واخله دا الله تعالیٰ ماته راکړه او ما تاته درکړه ـ (نوویؒ)
(۴۵۵۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً وَاَنَا فِيْهِمْ قِبَلَ نَجْدٍ فَغَنِمُوْا اِبِلًا كَثِيْرًا فَكَانَتْ سُهْمَانُهُمُ اثْنَىْ عَشَرَ بَعِيْرًا اَوْ اَحَدَ عَشَرَ بَعِيْرًا وَنُفِّلُوْا بَعِيْرًا بَعِيْرًا .[بخاری ، ابوداود]
ترجمه : د ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د نجد په طرف یو سریه اولیږله چه زهٔ هم ورسره وم ـ دَ هغه ځائے نه ډیر زیات اوښان په غنیمت کښے راغلل ، نو د هر یو په حصه کښں دولس دولس یا یولس یولس اوښان راغلو او یو یو اوښ په انعام کښے میلاؤ شو .
فائده : نوویؒ وئیلی دی په انعام یعنی نفل باندے اجماع ده د علماؤ لیکن اختلاف دے چه دا نفل به د کوم ځائے نه ورکولے شی ، آیا دَ اصل غنیمت نه یا د هغے څلورو د پنځم نه یا د خمس د خمس نه او د شافعیؒ په دے کښے درے قولونه دی او صحیح دا دے چه هغه به ئے خمس د خمس نهٔ ورکولے شی ـ او دغه مذهب دے د ابن مُسیب او مالكؒ او دَ ابو حنیفهؒ ، او د حسن بصریؒ او اوزاعیؒ او احمدؒ او ابو ثورؒ په نزد د لوټ نه به ورکولے شی . نفل د امام په رائے باندے منحصره ده ـ کومو خلقو لره چه مناسب ګنړی ورکوی ئے ـ چنانچه د ابن عمرؓ دا وینا چه د انعام نه یویو اوښ د دے نه غرض دا دے چه کوم خلق دَ انعام مستحق وو هغوئ ته میلاؤ شو نهٔ د سریے تمام خلقو ته (یعنی د ټولے سریے خلقو ته میلاؤ نهٔ شولو) (نوویؒ مختصرًا)
(۴۵۵۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ بَعَثَ سَرِيَّةً قِبَلَ نَجْدٍ وَ فِيْهِمُ ابْنُ عُمَرَؓ وَاَنَّ سُهْمَانَهُمْ بَلَغَ اثْنَىْ عَشَرَ بَعِيْرًا

وَنُفِلُوْا سِوٰی ذٰلِکَ بعِيرًا فَلَمْ يُغَيِّرْهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ . [ابوداود]

ترجمه: د دے هم هغه ده کومه چه پورته تیره شوه .

(۴۵۶۰) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ سَرِيَّةً اِلٰى نَجْدٍ فَخَرَجْتُ فِيْهَا فَاَصَبْنَا اِبِلًا وَّغَنَمًا فَبَلَغَتْ سُهْمَانُنَا اثْنَىْ عَشَرَ بَعِيْرًا اَوْ نَفَّلَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعِيْرًا .

ترجمه : ایضا

(۴۵۶۱) عَنْ نَافِعٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيْثِهِمْ .

ترجمه: د دے ترجمه هم د پورته حدیث د ترجمے په شان ده .

(۴۵۶۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَفَّلَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفْلًا سِوٰى نَصِيْبِنَا مِنَ الْخُمُسِ فَاَصَابَنِىْ شَارِفٌ وَالشَّارِفُ الْمُسِنُّ الْكَبِيْرُ .

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم سوا زمونږ د حصے نه دَ خمس نه زیاته راکړه ـ نو زَمَا په حصه کښے یو شارف راغے . شارف وئیلے شی لوئے مسن اوبن ته ـ

(۴۵۶۳) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ بَلَغَنِىْ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً بِنَحْوِ حَدِيْثِ ابْنِ رَجَآءٍ .

ترجمه : د دے هم د پورته حدیث پشان ده .

(۴۵۶۵) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ مِنَ السَّرَايَا لِاَنْفُسِهِمْ خَاصَّةً سِوٰى قَسْمِ عَآمَّةِ الْجَيْشِ وَالْخُمُسُ فِىْ ذٰلِكَ وَاجِبٌ كُلِّهِ .

[بخاری ، ابوداود]

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله بعضے سرئے والاؤ ته حصه زیاته ورکوله ـ په نسبت د نورو تمامو لښکریانو . اوخمس په دغه ټولو مالونو کښں واجب وو ـ

﴿باب استحقاق القاتل سلب القتيل﴾

قاتلانو لره د مقتول د سامان ورکولو بیان

(۴۵۶۶) عَنْ اَبِیْ مُحَمَّدِ نِ الْاَنْصَارِیِّ وَکَانَ جَلِیْسًا لِّاَبِیْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ اَبُوْ قَتَادَةَ وَاقْتَصَّ الْحَدِیْثَ .

[بخاری، ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه : د ابو محمد انصاری رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه د ابوقتادةؓ مصاحب وو، وائی چه ابوقتادةؓ وئیلی دی او بیا ئے ذکر کړو حدیث لره (لکه چه مخکښے راغی) .

فائده :دلته امام مسلم رحمه الله د عادت نه خلاف کار اوکړو چه د حدیث بیانولو نه مخکښے ئے د هغے متابعاتو لره ذکر کړل .

(۴۵۶۷) عَنْ اَبِیْ مُحَمَّدٍ مَوْلٰی اَبِیْ قَتَادَةَ اَنَّ اَبَا قَتَادَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ وَسَاقَ الْحَدِیْثَ . [راجع: ۴۵۶۶]

ترجمه : د ابو محمدؒ دَ ابوقتادةؓ دَ ازاد کړی غلام نه هم دغه شان روایت دے لکه چه مخکښے راغی .

(۴۵۶۸) عَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حُنَیْنٍ فَلَمَّا الْتَقَیْنَا کَانَتْ لِلْمُسْلِمِیْنَ جَوْلَةٌ قَالَ فَرَأَیْتُ رَجُلًا مِّنَ الْمُشْرِکِیْنَ قَدْ عَلَا رَجُلًا مِّنَ الْمُسْلِمِیْنَ فَاسْتَدَرْتُ اِلَیْهِ حَتّٰی اَتَیْتُهٗ مِنْ وَّرَآئِهٖ فَضَرَبْتُهٗ عَلٰی حَبْلِ عَاتِقِهٖ وَاَقْبَلَ عَلَیَّ فَضَمَّنِیْ ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِیْحَ الْمَوْتِ ثُمَّ اَدْرَکَهُ الْمَوْتُ فَاَرْسَلَنِیْ فَلَحِقْتُ عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ مَا لِلنَّاسِ فَقُلْتُ اَمْرُ اللّٰهِ ثُمَّ اِنَّ النَّاسَ رَجَعُوْا وَجَلَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ قَتَلَ قَتِیْلًا لَهٗ عَلَیْهِ بَیِّنَةٌ فَلَهٗ سَلَبُهٗ قَالَ فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَنْ یَّشْهَدُ لِیْ ثُمَّ جَلَسْتُ ثُمَّ قَالَ مِثْلَ ذٰلِکَ قَالَ فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَنْ یَّشْهَدُ لِیْ ثُمَّ جَلَسْتُ ثُمَّ قَالَ ذٰلِکَ الثَّالِثَةَ فَقَالَ فَقُمْتُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَالَکَ یَا اَبَا قَتَادَةَ فَقَصَصْتُ عَلَیْهِ الْقِصَّةَ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ صَدَقَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ سَلَبُ ذٰلِکَ الْقَتِیْلِ عِنْدِیْ فَاَرْضِهٖ مِنْ حَقِّهٖ فَقَالَ اَبُوْبَکْرِ الصِّدِّیْقُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ لَا هَا اللّٰهِ اِذًا لَّا یَعْمِدُ اِلٰی اَسَدٍ مِّنْ اُسْدِ اللّٰهِ یُقَاتِلُ عَنِ اللّٰهِ وَعَنْ رَّسُوْلِهٖ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَیُعْطِیْکَ سَلَبَهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ فَاَعْطِهٖ اِیَّاهُ فَاَعْطَانِیْ قَالَ فَبِعْتُ الدِّرْعَ فَابْتَعْتُ بِهٖ مَخْرَفًا فِیْ بَنِیْ سَلِمَةَ فَاِنَّهٗ اَوَّلُ مَالٍ تَاَثَّلْتُهٗ فِی الْاِسْلَامِ وَفِیْ حَدِیْثِ اللَّیْثِ فَقَالَ اَبُوْبَکْرٍ کَلَّا لَا یُعْطِیْهِ

اُصَیْبِغَ مِنْ قُرَیْشٍ وَیَدَعُ اَسَداً مِنْ اُسُدِ اللهِ وَفِیْ حَدِیْثِ اللَّیْثِ لَاَوَّلُ مَالٍ تَاَثَّلْتُهُ . [راجع : ۴۵۶۶]

ترجمه : د ابوقتاده رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره اووتو دَ جنګِ حنین په کال ، پس هر کله چه مونږ د دشمنانو سره مخامخ شولو نو مسلمانانو شکست اوخوړو (یعنی څه مسلمانان اوتختیدو او څه د حضرتؐ سره په میدان کښے پاتے شو) بیا ما یو کافر اولیدو چه په یو مسلمان ئے حمله کوله (د هغه د وژلو د پاره) زه راواوچورلیدم په هغه پسے دَ شاد طرفه او د څټ په ویخ کښے مِ ورته ګذار ورکړو هغه ماله دومره زور راکړو چه د مرګ تصویر ئے راته اوښودلو او د دے نه پس هغه پخپله مړ شولو او زۀ ئے پریخودم . بیا زۀ د حضرت عمرؓ سره میلاؤ شوم هغویؓ اووے دے خلقو له څه شوی دی (چه داسے دوئ اوتښتیدل) ما اووے د الله جل جلا له حکم دے بیا خلق واپس شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم کیښناستو او اوئے فرمائیل چاچه څوك وژلے وی او ګواه ئے پرے وی نو سامان به ئے هغه اخلی ، ابوقتادهٔ وائی د دے خبرے په اوریدو سره زۀ اودریدم او بیا ما اووے څما ګواه څوك دے ؟ او بیا کیښناستم . بیا حضرتؐ داسے اوفرمائیل په دوئم ځل باندے زه اودریدم بیاما اووے څما د پاره به ګواهی څوك ورکړی او کیښناستم . بیا په درئم ځل حضرتؐ دغه شان اوفرمائیل زۀ اودریدم آخر رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو چه تا له څه شوی دی اے ابوقتادهٔ ، ما ورته توله قصه بیان کړه ، یو سړی اووے یا رسول اللهؐ ابوقتادهٔ رښتیا وائی د دے سړی سامان څما سره دے تاسوّ راضی کړئ دوئ لره چه خپل حق ماته راکړی ، د دے خبرے په اوریدو سره حضرت ابوبکر صدیقؓ اووے ، چه نهٔ په خدائے قسم داسے چرته هم نهٔ داسے نه شی کیدے ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم به چرته هم داسے قصد اونهٔ کړی د الله تعالیٰ د زمرونه چه هغه جنګیږی د الله تعالیٰ او د هغه د رسولؐ د طرفنه تاله د اسبابو درکولو دَ پاره ، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ابوبکرؓ رښتیا وائی . (د دے حدیث نه د ابوبکر صدیقؓ لوئے فضیلت ثابت شولو چه هغوئ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښے فتویٰ ورکړه او حضرتؐ ورته صحیح اووے) نهٔ ورکړه ابوقتادهٔ لره هغه سامان بیا هغوئ هغه سامان ماته راکړو . ابوقتادهٔ وائی ما (د هغه سامان نه) زغره خرڅه کړه او د هغے په بدل کښ مِ یو باغ واخستو دَ

بنو اسلم په محله کښې او دا رومیے مال وو چه ما اوګټلو د اسلام په حالت کښې . او د لیث په روایت کښې دا دي چه حضرت ابوبکر صدیقؓ اووے هیڅ کله نۀ شی کیدے رسول الله صلی الله علیه وسلم دا اسباب چرته هم نۀ درکوی د قریشو یوے ګیدړے له چرته هم نۀ پریږدی یو زمرے ته د الله تعالیٰ د زمرو نه .

فائده : یعنی د مقتول سامان به قاتل ته میلاویږی . دا حضرتؐ د رغبت ورکولو د پاره اوفرمائیل . د دے د پاره چه خلق د جنګ د پاره تیار شی او کافران او وژنی . نووی رحمه الله وئیلی دی علماؤ اختلاف کړے دے د دے حدیث په معنیٰ کښې . نو د شافعیؒ او مالکؒ او اوزاعیؒ او لیثؒ او ثوریؒ او ابوثورؒ او احمدؒ او اسحٰقؒ او د ابن جریرؒ په نزد به په تمامو جنګونو کښے د مقتول سامان قاتِل ته میلاویږی خواه که حاکم داسے حکم ورکړے وی یائے نۀ وی ورکړے .

او د امام ابو حنیفهؒ او مالکؒ په نزد به دا سامان په مال غنیمت کښې شریکولے شی او په دے کښې به د ټولو حصه وی . مګر هر کله چه حاکم حکم داسے اوکړی نو صرف قاتِل ته به میلاویږی .

(۴۵۲۹) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ اَنَّهٗ قَالَ بَيْنَآ اَنَا وَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ نَظَرْتُ عَنْ يَّمِيْنِيْ وَشِمَالِيْ فَاِذَآ اَنَا بَيْنَ غُلَامَيْنِ مِنَ الْاَنْصَارِ حَدِيْثَةٍ اَسْنَانُهُمَا تَمَنَّيْتُ لَوْ كُنْتُ بَيْنَ اَضْلَعَ مِنْهُمَا فَغَمَزَنِيْ اَحَدُهُمَا فَقَالَ يَا عَمِّ هَلْ تَعْرِفُ اَبَا جَهْلٍ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ وَمَا حَاجَتُكَ اِلَيْهِ يَا ابْنَ اَخِيْ قَالَ اُخْبِرْتُ اَنَّهٗ يَسُبُّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَئِنْ رَاَيْتُهٗ يُفَارِقُ سَوَادِيْ سَوَادَهٗ حَتّٰى يَمُوْتَ الْاَعْجَلُ مِنَّا قَالَ فَتَعَجَّبْتُ لِذٰلِكَ فَغَمَزَنِي الْاٰخَرُ فَقَالَ مِثْلَهَا قَالَ فَلَمْ اَنْشَبْ اَنْ نَظَرْتُ اِلٰٓى اَبِيْ جَهْلٍ يَزُوْلُ فِي النَّاسِ فَقُلْتُ اَلَا تَرَيَانِ هٰذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِيْ تَسْاَلَانِ عَنْهُ قَالَ فَابْتَدَرَاهُ فَضَرَبَاهُ بِسَيْفِهِمَا حَتّٰى قَتَلَاهُ ثُمَّ انْصَرَفَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرَاهُ فَقَالَ اَيُّكُمَا قَتَلَهٗ فَقَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا اَنَا قَتَلْتُهٗ فَقَالَ هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا قَالَا لَا فَنَظَرَ فِي السَّيْفَيْنِ فَقَالَ كِلَاهُمَا قَتَلَهٗ وَقَضٰى بِسَلَبِهٖ لِمُعَاذِ ابْنِ عَمْرِو ابْنِ جَمُوْحٍ وَالرَّجُلَانِ مُعَاذُ ابْنُ عَمْرِ ابْنِ الْجَمُوْحِ وَمُعَاذُ ابْنُ عَفْرَآءَ .

[بخاری]

ترجمه : د عبدالرحمن بن عوفؓ نه روایت دے . زۀ د بدر په جنګ کښې په صف کښے ولاړ وم ما

چه خپل ښي او ګس طرفته اوکتل نو دوه د انصارو هلکان م په نظر راغلو نوجوان اوکم عمر ، ما ارزو اوکړه چه کاش زۀ د دوئ نه د زور آور سړي پخواه کښې وے (یعني ازو بازوښه قوي خلق وے نو زیات آرام به ماته وے) په دے کښې یو دَ هغوئ نه زۀ اوخوزَولم او راته ئے اووے اے تره تۀ ابوجهل لره پیژنے ؟ ما اووے هاو ، او ستا څه مطلب دے د ابوجهل نه اے څما د رور څویه ، هغه اووے ما اوریدلي دي چه ابوجهل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کنځل کوي ، قسم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې څما روح دے کچرے ما ابوجهل اوموندو نو د هغه نه به جدا نۀ شو د کومے پورے چه یو پکښے رانه مړنۀ وي د چا مرګ چه مخکښے راغلے وي ، عبدالرحمنؓ وائي زۀ حیران شوم د ده په داسے وینا سره ۔ (چه د ماشوم والي باؤجود د ابوجهل غوندِ قوي سړي د وژلو اراده لري) بیا هغه دوئم زۀ اوخوزَولم او هم دغسے ئے اووے ، لږ ساعت تیر نۀ وو چه ما ابوجهل اولیدو چه په خلقو کښې ګرځیدو ما هغه دواړو هلکانو ته اووے دغه هغه سړے دے د چا چه تاسو تپوس کولو د دے په اوریدو سره هغوئ دواړو منډے کړے او په توروئے ابوجهل اووهُو تر دے پورے چه مړئے کړو بیَا دواړه واپس د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا له راغلو او دا حال ئے ورته بیَان کړو حضرتؐ ترے تپوس اوکړو پتاسو کښې کوم یو هغه اووژلو؟ هر یو ونیل چه ماوژلے دے ۔ حضرتؐ اوفرمائیل چه اے تاسو خپلے تورے صفا کړے دي ؟ هغوئ اووے نۀ دي صفا کړي ۔ بیا حضرتؐ د دواړو تورے اوکتلے او اوئے فرمائیل چه تاسو دواړو هغه لره وژلے دے بیا ئے د هغه سامان معاذؓ بن عمرو بن جموحؓ ته ورکړو او هغه دواړه هلکان دغه وو یو معاذ بن عمرو بن جموحؓ او بل معاذ بن عفراءؓ ۔

فائده: نووي رحمه الله وئیلي دي اګر چه دواړه ملګري د ابوجهل په وژلو کښې شریك وو خو معاذ بن عمروؓ به مخکښې زخم لګولے وو او ابوجهل به د دغه زخم دَ وجے نه غورځیدلے او مړ شوے وو نو حضرتؐ د هغه سامان صرف معاذ بن عمروؓ ته ورکړو ولے چه په حقیقت کښې قاتِل هم هغه وو اګر که هغه بل هم ورستو زخمي کړے وي ۔ او د حضرتؐ دا فرمائیل چه تاسو دواړو وژلے دے نو دا ئے د دواړو د زړۀ د خوشحالولو د پاره اوفرمائیل دا زمونږ مذهب دے ۔ او دَ امام مالكؒ په نزد امام لره اختیار دے چه کوم یو له غواړي د مقتول سامان ورکړي ۔ او دَ امام

بخاریؒ په یو روایت کښے دی چه د ابو جهل قاتلان د عفراء دواړه ځامن وو۔ او په یو روایت کښے دی چه عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه هغه وژلے وو او کیدے شی تول په دغه قتل د ابو جهل کښے شریك وو .

(۴۵۷۰) عَنْ عَوْفِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَتَلَ رَجُلٌ مِّنْ حِمْيَرَ رَجُلًا مِّنَ الْعَدُوِّ فَأَرَادَ سَلَبَهُ فَمَنَعَهُ خَالِدُ ابْنُ الْوَلِيْدِ وَكَانَ وَالِيًا عَلَيْهِمْ فَأَتٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَوْفُ ابْنُ مَالِكٍ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ لِخَالِدٍ مَا مَنَعَكَ أَنْ تُعْطِيَهُ سَلَبَهُ قَالَ اسْتَكْثَرْتُهُ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ادْفَعْهُ إِلَيْهِ فَمَرَّ خَالِدٌ بِعَوْفٍ فَجَرَّ بِرِدَآئِهِ ثُمَّ قَالَ هَلْ أَنْجَزْتُ لَكَ مَا ذَكَرْتُ لَكَ مِنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتُغْضِبَ فَقَالَ لَا تُعْطِهِ يَا خَالِدُ لَا تُعْطِهِ يَا خَالِدُ هَلْ أَنْتُمْ تَارِكُوْنَ لِيْ أُمَرَائِيْ إِنَّمَا مَثَلُكُمْ وَمَثَلُهُمْ كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَرْعٰى إِبِلًا أَوْ غَنَمًا فَرَعَاهَا ثُمَّ تَحَيَّنَ سَقْيَهَا فَأَوْرَدَهَا حَوْضًا فَشَرَعَتْ فِيْهِ فَشَرِبَتْ صَفْوَهُ وَتَرَكَتْ كَدْرَهُ فَصَفْوُهُ لَكُمْ وَكَدْرُهُ عَلَيْهِمْ . [ابوداود]

ترجمه : د حضرت عوف بن مالكؓ نه روایت دے دَ حمیر (یوه قبیله ده) یو سړی دَ دشمنانو نه یو تن اووژلو او د هغه سامان اخستل ئے غوښتلو ۔ لیکن خالد بن ولیدؓ (چه د لښکر سردار وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ طرفنه) ورنهٔ کړو او هغهٔ حاکم وو نو عوف بن مالكؓ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا له راغے ، او حضرتؐ ته ئے هغه حال بَیان کړو حضرت خالدؓ ته اوفرمائیل ! قناده لره سامان ولے ورنهٔ کړو ؟ خالدؓ اووے هغه سامان ډیر وو یا رسول اللهؐ ! (نو ما هغه تول ورکول مناسب اونه گنړل) حضرتؐ اوفرمائیل ورئے کړه ده لره بیا خالدؓ د عوفؓ په مخ کښے تیر شولو او د هغویؓ څادر ئے رابنکودو او اوئے وئیل څه چه ما بیان کړی وو حضرت صلی الله علیه وسلم ته هغه اوشوه که نهٔ ،(یعنی خالد لره ئے شرمنده کړو چه آخر تالره سامان ورکول پریوتلو) د دے په اوریدو رسول الله صلی الله علیه وسلم په غصه شو او اوئے فرمائیل اے خالدهٔ مهٔ ورکوه ده لره اے خالدهٔ مهٔ ئے ورکوه ده لره ولے ته پریخودلو والا ئے څما سردارانو لره ۔ ستاسو او دَ دوئ مثال داسے دے لکه چه چا اوښان یا بزے د څرولو د پاره واخستے بیا څرونکی د هغوئ هغه څاروی دَ تندے په وخت حوض له راوستلو نو هغوئ څښل شروع کړو او صفا صفا ئے اوڅښلے او په ویخ کښے ختے وغیره ئے پریخودے ۔ نو صفا (یعنی ښے خبرے) خو

ستاسو د پاره دی ، او بدې خبرې په سردارانو باندې دي (معنی بدنامی یې مواخذه به د دوئ نه وی) .

فائده : دا واقعه د موتا د غزاوه . چه په سنه ۸ هـ کښې شوې وه رسول الله صلی الله علیه وسلم زید بن حارثهؓ لره په درې زره لښکر سردار مقرر کړو او د روم ملك ته ئې اولیږلو او ورته ئې اوفرمائیل کچرې زیدؓ شهید شي نو جعفر طیارؓ به د لښکر سردار شي ، او کچرې جعفرؓ هم شهید شي نو عبدالله بن رواحهؓ به د لښکر سردار شي ، چنانچه په موتا کښې چه په شام کښې یوه علاقه ده، جنګ شروع شو او د حضرتؐ مقرر کړی سرداران پکښې شهیدان شول ، آخر خالدؓ ابن الولید دَ مسلمانانو په انتخاب او صلاح سره سردار شو ، اته تورې د دوئ په جنګیدو جنګیدو کښې ماتې شولې ، بیه غټ جنګ اوشو او الله جل جلاله مسلمانانو ته فتح ورکړه ، حالانکه د نصاریٰ ؤ لښکر په شماره یوُ لاکه وو ، او د مسلمانانو درې زره وو.

حضرت صلی الله علیه وسلم د عوفؓ په طعنه سره چه خالدؓ ته کوم خفګان راغلې وو هغه دفعه کړو ، او د هغوئ خبره ئې کینبوده ، د دې د پاره چه مسلمانان د سردارانو اطاعت اوکړی . او د سردارانو رعب باقی پاتې شی .

نووی رحمه الله وئیلی دی په دې کښې دا اشکال راځی چه حضرت صلی الله علیه وسلم د حق خاوند د حق ورکولو نه څنګه منع کړو ؟ نو د دې جواب دا دې ، چه کیدې شی حضرتؐ ورته ورستو حق ورکړې وی ، لیکن په دغه وخت ئې نهٔ وی ورکړې د دې د پاره چه خالد رضی الله عنه خفه نهٔ شي ، دویم دا چه حضرتؐ د دې په بدل کښې قاتل ته نور څه ورکړی وی چه په دې سره هغه د هغه سامان په پریخودو راضی شوې وی او په دې کښې مصلحت هم وو . (انتهٰی)

(۴۵۷۱) عَنْ عَوْفِ ابْنِ مَالِكٍ الْاَشْجَعِيِّ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ مَنْ خَرَجَ مَعَ زَيْدِ ابْنِ حَارِثَةَ فِيْ غَزْوَةِ مُوْتَةَ وَرَافَقَنِيْ مَدَدِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهٖ غَيْرَ اَنَّهٗ قَالَ فِي الْحَدِيْثِ قَالَ عَوْفٌ فَقُلْتُ يَا خَالِدُ اَمَا عَلِمْتَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضٰى بِالسَّلَبِ لِلْقَاتِلِ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنِّيْ اسْتَكْثَرْتُهٗ . [راجع : ۴۵۷۰]

ترجمه : د عوف بن مالك اشجعیؓ نه روایت دے کوم خلق چه د زید بن حارثه سره لاړل زۀ د هغوئ سره لاړم د موتا په غزا کښے ، او زمامدد د یمن نه هم را اورسیدو، بیا ئے بیان کړو حدیث لره په داسے شان لکه چه پورته تیر شو ، په دے کښں دا دی چه عوفؓ اووے - اے خالدؓ تاته معلومه نۀ ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سامان قاتِل له ورکړے دے خالدؓ اووے بیشکه ، مګر ما ته دا سامان ډیر معلومیږی -

(٣٥٧٢) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم هَوَازِن فَبَيْنَا نَحْنُ نَتَضَحّٰى مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذْ جَآءَ رَجُلٌ عَلٰى جَمَلٍ اَحْمَرَ فَاَنَاخَهُ ثُمَّ انْتَزَعَ طَلَقًا مِنْ حَقَبِهِ فَقَيَّدَ بِهِ الْجَمَلَ ثُمَّ تَقَدَّمَ يَتَغَدّٰى مَعَ الْقَوْمِ وَجَعَلَ يَنْظُرُ وَفِيْنَا ضَعْفَةٌ وَرِقَّةٌ مِّنَ الظَّهْرِ وَبَعْضُنَا وَبَعْضُنَا مُشَاةٌ اِذْ خَرَجَ يَشْتَدُّ فَاَتٰى جَمَلَهُ فَاَطْلَقَ قَيْدَهُ ثُمَّ اَنَاخَهُ وَقَعَدَ عَلَيْهِ فَاَثَارَهُ فَاشْتَدَّ بِهِ الْجَمَلُ فَاتَّبَعَهُ رَجُلٌ عَلٰى نَاقَةٍ وَرْقَآءَ قَالَ سَلَمَةُ وَخَرَجْتُ اَشْتَدُّ فَكُنْتُ عِنْدَ وَرِكِ النَّاقَةِ ثُمَّ تَقَدَّمْتُ حَتّٰى كُنْتُ عِنْدَ وَرِكِ الْجَمَلِ ثُمَّ تَقَدَّمْتُ حَتّٰى اَخَذْتُ بِخِطَامِ الْجَمَلِ فَاَنَخْتُهُ فَلَمَّا وَضَعَ رُكْبَتَهُ فِي الْاَرْضِ اخْتَرَطْتُ سَيْفِيْ فَضَرَبْتُ رَاْسَ الرَّجُلِ فَنَدَرَ ثُمَّ جِئْتُ بِالْجَمَلِ اَقُوْدُهُ عَلَيْهِ رَحْلُهُ وَسَلَاحُهُ فَاسْتَقْبَلَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مَعَهُ فَقَالَ مَنْ قَتَلَ الرَّجُلَ ؟ قَالُوْا قَالُوْا ابْنُ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَهُ سَلَبُهُ اَجْمَعُ . [ابو داود]

ترجمه : د سلمه بن الاکوعؓ نه روایت دے وائی چه مونږ په غزا دَ هوازن کښں د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو چه په سنه ٨ هـ کښے شوے وه ، یوه ورځ مونږه دَ سحر ناشته کوَله د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره چه په دے کښں یو سړے په سُور اوبں باند سور راغے ، اوبں ئے کیښنه ؤو او یوه تسمه ئے د هغه د شانه را اوویسته او په هغے سره ئے اوتړلو ، د دے نه پس راغے او د خلقو سره ئے غله خوړل شروع کړو او آخوا دیخوا ئے کتل (هغه د کافرو د طرفه جاسوس کونکے وو) او مونږ خلق په دغه ورځو کمزوری وو او ځنے پمونږ کښں پیدل هُم وو (چه د هغوئ سره سورلئ نۀ وه) په دے کښں ئے ناڅاپه منډے کړے او د خپل اوبں خواله راغے او هغۀ ئے پرانستو اوکینه ووئے او د پاسه پرے کیښناستو او اوبں ئے اودرَوو- اوبں دے واخستو او لاړو اوتختیدو ، (اوس کافرانو لره د خبرولو دَ پاره روان شو) یو سړے ورپه سے د ورستو نه لاړو

په خاکی رَنګ اوښه باندے ، سلمہؓ وائی زهٔ پیدل په منډه وریسے روان وُم د هغه اوښے د کناټو سره (کومه چه د هغه سړی په تعاقب کښے روانه وه) زهٔ لږ نور ورمخکښے شوم او د هغه (سړی) د اوښ د کناټو خوا ته اورسیدم او چه لږ نور ورمخکښ شوم نو د هغه سړی د اوښ واګے م اونیوے او هغه م کینوؤ څنګه چه اوښ خپل زنګون په زمکه باندے کیښودو نو دغه شان ما توره رابنکوده او په سړی باندے م ګزار اوکړو . او بیا م هغه اوښ نیولے او د هغه د سامان او هتیار سره راغلم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلقو سره وو چا چه مخکښ تشریف راوړے وو (ځما په انتظار کښ) ځما سره میلاؤ شو او تپوس نے اوکړو چا اووژلو دغه سړی لره ؟ خلقو اووے د اکوع ځویؓ ، حضرتؐ اوفرمائیل د هغه ټول سامان د اکوع دَ ځویؓ دے ۔

فائده :د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه د حربی جاسوس قتل درست دے ۔ او په دے باندے اتفاق دے او د ذمی جاسوس قتل هم دَ امام مالکؒ او اوزاعیؒ په نزد درست دے ۔ څکه چه په جاسوس سره د هغه وعده ماته شوه ۔ او جمهورو په نزد وعده نهٔ ماتیږی ، او جاسوس مسلمان ته به سزا ورکولے شی د زیاتو دغه قول دے ، او د مالکیهٔ په نزد به قتلولے شی ۔ (نووی مختصراً)

(۴۵۷۳) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ غَزَوْنَا فَزَارَةَ وَعَلَيْنَا اَبُوْبَكْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَمَّرَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا فَلَمَّا كَانَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْمَآءِ سَاعَةً اَمَرَنَآ اَبُوْبَكْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَعَرَّسْنَا ثُمَّ شَنَّ الْغَارَةَ فَوَرَدَ الْمَآءَ فَقَتَلَ مَنْ قَتَلَ عَلَيْهِ وَسَبَا وَانْظُرُ اِلٰى عُنُقٍ مِّنَ النَّاسِ فِيْهِمُ الذَّرَارِيُّ فَخَشِيْتُ اَنْ يَّسْبِقُوْنِيْ اِلَى الْجَبَلِ فَرَمَيْتُ بِسَهْمٍ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْجَبَلِ فَلَمَّا رَاَوُا السَّهْمَ وَقَفُوْا فَجِئْتُ بِهِمْ اَسُوْقُهُمْ وَفِيْهِمُ امْرَاَةٌ مِّنْ بَنِيْ فَزَارَةَ عَلَيْهَا قِشْعٌ مِّنْ اَدَمٍ قَالَ الْقِشْعُ النَّطْعُ مَعَهَا ابْنَةٌ لَّهَا مِنْ اَحْسَنِ الْعَرَبِ فَسُقْتُهُمْ حَتّٰى اَتَيْتُ بِهِمْ اَبَا بَكْرٍ فَنَفَّلَنِيْ اَبُوْ بَكْرٍ ابْنَتَهَا فَقَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ وما كَشَفْتُ لَهَا ثَوْبًا فَلَقِيَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السُّوْقِ فَقَالَ يَا سَلَمَةُ هَبْ لِيَ الْمَرْاَةَ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ لَقَدْ اَعْجَبَتْنِيْ وما كَشَفْتُ لها ثَوْبًا ثُمَّ لَقِيَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغَدِ فِي السُّوْقِ فَقَالَ يَا سَلَمَةُ هَبْ لِيَ الْمَرْاَةَ لِلّٰهِ اَبُوْكَ فَقُلْتُ هِيَ لَكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَوَاللّٰهِ مَا كَشَفْتُ لَهَا ثَوْبًا فَبَعَثَ بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى اَهْلِ مَكَّةَ فَفَدٰى بِهَانَاسًا مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ كَانُوْا اُسِرُوْا بِمَكَّةَ

.[ابو داود]

ترجمه: د سلمه بن اکوع نه روایت دے مونږ جهاد اوکړو د فزاره سره (دا په عربو کښې یوه مشهوره قبیله ده) او زمونږ سردار حضرت ابوبکر صدیق وو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ لره امیر جوړ کړے وو په مونږ باندے ، هر کله چه زمونږ او د اوبو په مینځ کښې د یوے گهنټے فاصله پاتے شوه (یعنی د هغه اوبو نه چرته چه فزاره اوسیدلو ، مونږ ته ابوبکر حکم اوکړو او مونږ په صبا شپے له کوز شو ، بیا ئے د هر طرف نه حکم اوکړو د حملے او اوبو ته اورسیدو هلته چه څوك قتل شو هغه قتل شو او څه قید شول ، زۀ یوے ټکړے ته په تاك کښې وُم چه په هغے کښں بچی او ښځے وی (د کافرانو) زۀ اوویریدم چه چرته هغه څما نه مخکښے غر ته اونۀ رسی ما یو غشے اوویشتو د هغوئ او د غر په مینځ کښں ....دغشی په لیدو سره هغه اودریدو ، ما هغوئ تولو لره په رابنکودو راوستل ، په هغوئ کښے یوه ښځه د فزاره (قبیلے) هم وه چه څرمه ئے اغوستی وَه ، د هغے سره یوه جینئ وه چه ډیره زیاته ښکلے وه ما هغه جینئ د ابوبکر خواله راوسته هغوئ هغه جینئ د انعام په طور ماته راکړه هر کله چه مونږ مدینے ته اورسیدو او مالا د هغے جینئ کپړه قدرے نۀ وه کهولاؤ کړے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم څما سره په بازار کښے میلاؤ شو او اوئے فرمائیل اے سلمهٔ هغه جینئ ماته راکړه ، ما اووے یا رسول الله ! قسم په خدائے چه هغه زما ډیره خوښه ده ، او مالا تر اوسه د هغے کپړه نۀ ده کهولاؤ کړے ۔ بیا په دوئمه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم څما سره میلاؤ شو او اوئے فرمائیل اے سلمه هغه جینئ ماته راکړه ستا پلار ډیر ښه سړے وو، ما اووے یا رسول الله ! هغه ستا ده ، قسم په خدائے چه ما خو د هغے کپړه قدرے نۀ ده کهولاؤ کړے ۔ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه جینئ مکے والاؤ ته اولیږله او د هغے په بدله ئے څو مسلمانان آزاد کړل چه په مکه کښے قید شوی وو ۔

فائده : نووی رحمه الله وئیلی دی د دے حدیث نه د فِدیے جواز معلوم شولو ، او دا هم معلومه شوه چه د ښځے په بدله سړی آزادول جائز دی او په مور او لور کښے جدائے راوستل درست دی خو په دے شرط چه لور څوانه وی ۔ (انتهی مختصرًا)

﴿ بَابُ حُكْمِ الْفَيْئِ ﴾

کوم مال د کافرانو چه بغیر د جنګ نه په لاس راشی د هغې بیان

(۴۵۷۴) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا اَبُوْ هُرَيْرَةَ عَنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ اَحَادِيْثَ مِنْهَا وَقَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّمَا قَرْيَةٍ اَتَيْتُمُوْهَا وَاَقَمْتُمْ فِيْهَا فَسَهْمُكُمْ فِيْهَا وَاَيُّمَا قَرْيَةٍ عَصَتِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَاِنَّ خُمُسَهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ فِيْهَا . [ابوداود : ۳۰۳۶]

ترجمه :د همام بن منبهؒ نه روایت دے وائی چه دا حدیث بیان کړے دے ماته ابو هریرهؓ چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ، کوم کلی ته چه تاسو راغلئ او هلته پاتے شوئ نو ستاسو حصه په هغې کښې شته دے او کوم کلي والا چه د الله جل جلا له او دَ هغه د رسولؐ نافرمانی اوکړه یعنې جنګ ئې اوکړو ، نو پنځمه حصه د هغه د الله جل جلا له او د هغه دَ رسول ده او باقی واړه څلور حصے ستاسو دی ـ

فائده :په دے حدیث کښے بیان دے د " فَيْئ " او دَ غنیمت یعنې کوم ملك چه بغیر د جنګ نه کافران خالی کړی یا په صلح سره په قابو کښې راشی نو هغه ټول مال د بیت المال دے ته فیئ وئیلے شی ، په دے کښې د غازیانو حصه مقرر نهٔ ده ، لیکن که هغوئ هلته لاړ شی لو حصار شی نو د عطاء په طور به حصه مومی ، په دے واسطه چه په مصارفو د بیت المال کښې غازیان هم شامل دی ، او کوم ملك چه په جنګ سره فتحه شی په هغې کښې د بیت المال پنځمه حصه ده ، او باقی څلور حصے د غازیانو دی او دے ته غنیمت وئیلے شی (تحفة الأخيار)

امام نوویؒ وئیلی دی چه د شافعی رحمه الله په نزد په " فیئ " کښې هم خمس واجب دے لکه څنګه چه په غنیمت کښے واجب دے ، او باقی علماء اختلاف کړے دے چه په " فیئ " کښې خمس نشته دے ـ ابن منذرؒ وئیلی دی سِوا د شافعیؒ نه د هغوئؒ نه مخکښې څوك په " فیئ " کښې د خمس قائل شوے نهٔ دی .

(۴۵۷۵) عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَتْ اَمْوَالُ بَنِي النَّضِيْرِ مِمَّا اَفَآءَ اللهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا لَمْ يُوْجِفْ عَلَيْهِ الْمُسْلِمُوْنَ بِخَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ فَكَانَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خَآصَّةً فَكَانَ يُنْفِقُ عَلٰى اَهْلِهٖ نَفَقَةَ سَنَةٍ وَمَا بَقِيَ يَجْعَلُهٗ فِي الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ عُدَّةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

[بخاری ، ابوداود ، ترمذی]

ترجمه: دحضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے ، د بنی نضیر مال د هغه مالونو نهٔ وو کوم چه الله تعالیٰ خپل رسول ؐ ته ورکړو ، او مسلمانانو په هغوئ باندے چړهائی نهٔ وه کړے په اسونو او اوښانو باندے ، داسے مال خاص د رسول الله صلی الله علیه وسلم وو ، حضرتؐ به د هغے نه د خپل کور خرچ د یو کال د پاره وساتلو ، او کوم چه به بچ پاتے شو هغه به ئے د اسونو او هتیارو په اخستلو کښے صرف کړلے ۔

فائده: نووی رحمه الله وئیلی دی چه د یو کال خرچ به ئے ترے وساتلو چه د کال د پوره کیدو نه مخکښ به هغه د نیکئ په کارونو کښ صرف کیدو ، د دے وجے نه هر کله چه حضرتؐ وفات او موندو نو د حضرتؐ زغره د وریشو په بدل گانړه وه ۔ او درے ورځے حضرتؐ په مَره کیده غله نهٔ وه خوړلے ۔

(۴۵۷۷) عَنِ الزُّهْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ. عَنِ الزُّهْرِيِّ اَنَّ مَالِكَ ابْنَ اَوْسٍ حَدَّثَهٗ قَالَ اَرْسَلَ اِلَيَّ عُمَرُ ابْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَجِئْتُهٗ حِيْنَ تَعَالَى النَّهَارُ قَالَ فَوَجَدْتُهٗ فِيْ بَيْتِهٖ جَالِسًا عَلٰى سَرِيْرٍ مُفْضِيًا اِلٰى رُمَالِهٖ مُتَّكِئًا اِلٰى وِسَادَةٍ مِّنْ اَدَمٍ فَقَالَ لِيْ يَا مَالُ اِنَّهٗ قَدْ دَفَّ اَهْلُ اَبْيَاتٍ مِّنْ قَوْمِكَ وَقَدْ اَمَرْتُ فِيْهِمْ بِرَضْخٍ فَخُذْهُ فَاقْسِمْهُ بَيْنَهُمْ قَالَ فَقُلْتُ لَوْ اَمَرْتَ بِهٰذَا غَيْرِيْ قَالَ خُذْهُ يَا مَالُ قَالَ فَجَآءَ يَرْفَأُ فَقَالَ لَكَ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِيْ عُثْمَانَ وَعَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ وَالزُّبَيْرِ وَسَعْدٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نَعَمْ فَاَذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوْا ثُمَّ جَآءَ فَقَالَ هَلْ لَكَ فِيْ عَبَّاسٍ وَّ عَلِيٍّ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَعَمْ فَاَذِنَ لَهُمَا فَقَالَ عَبَّاسٌ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْضِ بَيْنِيْ وَبَيْنَ هٰذَا الْكَاذِبِ الْاٰثِمِ الْغَادِرِ الْخَائِنِ فَقَالَ الْقَوْمُ اَجَلْ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ فَاقْضِ مَالِكُ ابْنُ اَوْسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يُخَيَّلُ اِلَيَّ اَنَّهُمْ قَدْ كَانُوْا قَدَّمُوْهُمْ لِذٰلِكَ فَقَالَ عُمَرُ اتَّئِدَا اَنْشُدُكُمْ بِاللهِ الَّذِيْ بِاِذْنِهٖ تَقُوْمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ اَتَعْلَمُوْنَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ قَالُوْا نَعَمْ ثُمَّ اَقْبَلَ عَلَى الْعَبَّاسِ وَعَلِيٍّ فَقَالَ اَنْشُدُكُمَا بِاللهِ الَّذِيْ بِاِذْنِهٖ تَقُوْمُ

السَّمآءُ وَالْاَرْضُ اَتَعْلَمَانِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ قَالَا نَعَمْ قَالَ عُمَرُ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى كَانَ خَصَّ رَسُوْلَهُ بِخَاصَّةٍ لَمْ يُخَصِّصْ بِهَا اَحَدًا غَيْرَهُ قَالَ مَا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهِ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ مَا اَدْرِىْ اَهَلْ قَرَءَ الْاٰيَةَ الَّتِىْ قَبْلَهَا اَمْ لَا قَالَ فَقَسَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَكُمْ اَمْوَالَ بَنِى النَّضِيْرِ فَوَاللّٰهِ مَا اسْتَاْثَرَ عَلَيْكُمْ وَلَا اَخَذَهَا دُوْنَكُمْ حَتّٰى بَقِىَ هٰذَا الْمَالُ فَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاْخُذُ مِنْهُ نَفَقَةَ سَنَةٍ ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِىَ اُسْوَةَ الْمَالِ ثُمَّ قَالَ اَنْشُدُكُمْ بِاللّٰهِ الَّذِىْ بِاِذْنِهٖ تَقُوْمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ اَتَعْلَمُوْنَ ذٰلِكَ قَالُوْا نَعَمْ ثُمَّ نَشَدَ عَبَّاسًا وَّعَلِيًّا رَّضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا بِمِثْلِ مَا نَشَدَ بِهِ الْقَوْمُ اَتَعْلَمَانِ ذٰلِكَ قَالَا نَعَمْ قَالَ فَلَمَّا تُوُفِّىَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَبُوْبَكْرٍ رَّضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَا وَلِىُّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُمَا تَطْلُبُ مِيْرَاثَكَ مِنِ ابْنِ اَخِيْكَ وَيَطْلُبُ هٰذَا مِيْرَاثَ امْرَاَتِهٖ مِنْ اَبِيْهَا فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ رَّضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ فَرَاَيْتُمَاهُ كَاذِبًا اٰثِمًا غَادِرًا خَآئِنًا وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُ لَصَادِقٌ بَآرٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِّلْحَقِّ ثُمَّ تُوُفِّىَ اَبُوْبَكْرٍ رَّضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَاَنَا وَلِىُّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوَلِىُّ اَبِىْ بَكْرٍ رَّضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَرَاَيْتُمَانِىْ كَاذِبًا اٰثِمًا غَادِرًا خَآئِنًا وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنِّىْ لَصَادِقٌ بَآرٌّ رَّاشِدٌ لِّلْحَقِّ فَوَلِيْتُهَا ثُمَّ جِئْتَنِىْ اَنْتَ وَهٰذَا وَاَنْتُمَا جَمِيْعٌ وَّاَمْرُ كُمَا وَاحِدٌ فَقُلْتُمْ ادْفَعْهَآ اِلَيْنَا فَقُلْتُ اِنْ شِئْتُمْ دَفَعْتُهَا اِلَيْكُمْ عَلٰى اَنَّ عَلَيْكُمَا عَهْدَ اللّٰهِ اَنْ تَعْمَلَا فِيْهَا بِالَّذِىْ كَانَ يَعْمَلُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخَذْتُمَاهَا بِذٰلِكَ قَالَ اَكَذٰلِكَ قَالَا نَعَمْ قَالَ ثُمَّ جِئْتُمَانِىْ لِاَقْضِىَ بَيْنَكُمَا وَلَا وَاللّٰهِ لَا اَقْضِىْ بَيْنَكُمَا بِغَيْرِ ذٰلِكَ حَتّٰى تَقُوْمُ السَّاعَةُ فَاِنْ عَجَزْتُمَا عَنْهَا فَرُدَّاهَا اِلَىَّ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: د زهرئ نـه هم د پورته حديث پشان حديث روايت دے . د زهرئ نه روايت دے چه اوس بن مالكؓ هغوئ ته حديث بيان كړے دے وائى چه مالره حضرت عمرؓ اوغوښتلو نو زهٔ د هغوئ خوا لـه د ورځـى پـه شروع كښې راغـلـم هـغـوئ په خپل كور كښې په تخت باندے په يوه گدئ ناست وو ،او څه فرش په هغے باندے نهٔ وو او تكيه ئے لګولے وه د چمړے په يوے تكيه باندے ، هـغـوئ اووے اے مالكؓ ستاسو د قوم څه كورونو والا په منډه څما خوا له راغلو ، ما هغوئ ته

څه لږ شان ورکړی دی ته ئې په هغوئ تولو باندے اوویشه ، مَا اووے کاش چه دا کار تاسو د بل چا نه اخستے وے هغوئ اووے ته ئې واخله اے مالکهٔ ! په دے کښې یرفاء (د هغوئ عرض کونکے او خدمتګار) راغے او اوئے وئیل اے امیر المؤمنین عثمان بن عفانؓ او عبدالرحمٰن بن عوفؓ او زبیرؓ او سعدؓ حاضر دی ، حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه اووے : ښه ده هغوئ راپریږده هغوئ راغلو بیا یرفاؓ راغے او هغه اووئیل عباسؓ او علیؓ راتلل غواړی حضرت عمرؓ اووے ښه ده هغوئ له هم اجازت ورکړئ ، عباسؓ اووے اے امیرالمؤمنینؓ څما او د دے دروغژن ګنهګار دغاباز غل فیصله اوکړئ، خلقو اووے هاں اے امیـرالمؤمنینؓ فیصله دَ دوئ اوکړئ او دوئ لره د دے تکلیف نه راحت ورکړئ ، مالك بن اوسؓ اووے ، زهٔ پوهه یم چه دوئ دواړو (یعنی حضرت علیؓ او حضرت عباسؓ) عثمانؓ او عبدالرحمنؓ او زبیرؓ او سعدؓ لره د دے د پاره مخکښے لیږلی وو (چه هغه حضرت عمرؓ ته اووائی او فیصله پرے اوکړی ، حضرت عمرؓ اووے اودرېږئ زهٔ تاسو له قسم درکوم په هغه الله چه د هغه په حکم سره زمکه او آسمان قائم دی ، ولے تاته معلومه نهٔ ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ، " زمونږ پیغمبرانو په مالونو کښے وارثانو ته څه نهٔ میلاوی ، او څه چه مونږه پریږدو هغه صدقه ده " تولو اووے هاں مونږ ته معلومه ده بیائے د حضرت عباسؓ او حضرت علیؓ په طرف توجه اوکړه او اوئے فرمائیل زهٔ تاسو دواړو له په هغه الله جل جلاله قسم درکوم چه د هغه په حکم سره زمکه آسمان قائم دی ، ایا تاسو ته معلومه ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " زمونږ د پیغمبرانو څوك وارث نهٔ شی کیدے څه چه مونږ پریږدو هغه صدقه ده " هغوئ دواړو اووے بیشکه مونږ ته معلومه ده ، حضرت عمرؓ اووے الله تعالیٰ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوه خبره خاص کړے وه چه هغه ئے د بل هیچا سره نهٔ ده خاص کړے " اوئے فرمائیل الله تعالیٰ چه څه ورکړو خپل رسولؑ ته د کلی والاؤ دَ مال نه هغه د الله تعالیٰ او د هغه د رسولؑ دے " (ماته دا معلومه نهٔ ده چه د دے نه هغه رومبے ایت هم هغوئ اولوستو یانهٔ) بیا حضرت عمرؓ اووے ، پس رسول الله صلی الله علیه وسلم په تاسو باندے د بنی نضیر مال اوویشلو او قسم په خدائے چه حضرتؐ مال لره ستاسو نه زیات نهٔ دے ګنړلے ، او نهٔ ئے دا کړی دی چه پخپله ئے اخستے وی

او تاسو ته ئے نۀ وی درکړے ، تر دے پورے چه دا مال پاتے شو د دے نه به رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل خرچ د یو کال د پاره اوویستو او کوم چه به باقی پاتے شو هغه به ئے په بیت المال کښے شریك کړو ، بیا حضرت عمرؓ اووے زۀ تاسو له په هغه الله قسم درکوم چه د هغه په حکم سره زمکه آسمان قائم دی تاسو دا ټول ګڼړئ یانۀ ، هغوئ اووے هاں ګڼړو ، بیا ئے قسم ورکړو عباسؓ او علیؓ ته دغه شان هغوئ هم دغسے اووے ، بیا حضرت عمرؓ اووے ، هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو نو حضرت ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه اووے زۀ ولی یَم د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ، نو تاسو دواړه د خپلے ترکے د غوښتلو د پاره راغلئ ، عباسؓ خو د خپل وراره ترکه غوښتله (یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د عباسؓ د رور ځوئ وو) او حضرت علی کرم الله وجهه د خپلے بی بی حضه د هغےؓ د پلار د مال نه غوښتله ، (یعنی د حضرت فاطمة الزهراء رضی الله عنها چه د حضرت علیؓ بی بی وه او د حضرتؐ لور وه) ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه دا جواب ورکړو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " زمونږ د مال څوك وارث نۀ شی کیدے څه چه زمونږ نه پاتے شی هغه صدقه ده " تاسو هغوئ لره دروغژن ګنهګار او غل ګڼړئ ، او الله تعالیٰ ته معلومه ده چه هغوئ رښتونے نیك او په هدایت باندے وو ، بیا چه حضرت ابوبکرؓ وفات شو او زۀ ولی شوم د رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ ابوبکرؓ نو تاسو ما لره هم دروغژن ګنهګار او دغاباز او غل اوګڼړو ، او الله تعالیٰ پو هَه دے چه زۀ رښتونے نیك او په هدایت باندے د حق تابع یم زۀ د هغه مال هم ولی پاتے شوم بیا تاسو دواړه څما خواله راغلئ او تاسو دواړه یوئ او ستاسو حکم هم یو دے (یعنی اګر که تاسو په ظاهره سره دوه تنه یئ مګر د نزدیکت په لحاظ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په مثل د یو سړی یئ ۔) تاسو دا اووے چه دا مال مونږ ته اوسپاره ، ما اووے ښه ده کچرے تاسو غواړئ نو زۀ ئے تاسو له درکوم په دے شرط باندے چه تاسو به په دے مال کښے هغه کار کوئ کوم چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم کولو تاسو په دے شرط باند دا مال څما نه واخستو ، بیا حضرت عمر رضی الله عنه اووے ایا دغسے ده ! هغوئ اووے هاں ، حضرت عمرؓ اووے بیا تاسو دواړه (اوس) ماله راغلی یئ د فیصلے کولو د پاره ، او په الله جل جلا له م د قسم وی چه زۀ بیوا د دے

نـه د بلـے یـوے فیـصـلـے کـولـو والا نـهٔ یَـمُ د قیامتـه پورے ، البتـه کچرے ستاسو نـه د دے مال بندوبست نهٔ شی کیدے نو بیا ئے ماته واپس راکړئ ۔

فائده : دا څلور الفاظ یعنی دروغژن گنهګار دغاباز او غل ئے حضرت علیؓ ته اووے ، او د دے تـاویـل دا کوی چه دا دَ شرط په طور دی ، او شرط محذوف دے یعنی کچرے حضرت علیؓ انصاف اونهٔ کړی او په حق باندے راضی نهٔ شی نو هغه به دغسے وی یا ئے په طور د مینے اووے ، لکه پلار چه څوئ ته اووائی ولے چه عباسؓ ئے تره وو او د پلار په مثل ئے وو ۔

امام مـازریؒ وئیـلـی دی چه د حضرت علیؓ شان ډیر لوئے دے او په دے څلورو خاصیانو کښے په هغویؓ کښے یوه خامی نهٔ وه ، بلکه هغهؓ ربنتونے راست باز نیك چلنه او امانت دار وو اګـر چـه مـونږ دانهٔ وایو چه هغویؓ معصوم وو بلکه معصوم صرف رسول الله صلی الله علیه وسـلـم وو یـا چه چاته هغویؑ معصوم وئیلی دی ، او مونږ ته حکم دے دَ اصحابوؓ په باره کښ د نیك ګـمـان کـولـو او د هـرے بـدے خبرے نـه هغویؓ لره د پاك ګنړلو ، او کچرے تاویل اونهٔ کړے شی ، نو دا به وایو چه راویانو دروغ وئیلی دی ، او دا تاویل هم کیدے شی ، چه یو امر د یو په نزد خطا وی او د بـل په نزد خطانهٔ وی ، لکه مالکیؒ مذهب والا چه نبیذ څکلو والا ته ناقص الدین وائـی ، خـو حنفیؒ هغوئ لره کامل الدین ګنړی دغه شان دا هم کیدے شی چه حضرت عباسؓ د حضـرت عـلـیؓ کـار وایـئ لـره غلطه ګنړی ، لیکن حضرت علیؓ هغے لره صحیح ګنړی انتهٰی مختصرًا ۔

حضرت عباسؓ او حضرت علیؓ ته دا حدیث معلوم وو ، نو بیا هغویؓ ولے جګړه کوله ، عـلـمـاء د دے جواب دا ورکړے دے چه دَ دوئ دوارو جګړه د تقسیم د پاره وه ، هغویؓ دا غوښتله چـه جـائیداد په دوارو باندے اوویشلے شی ، او هر یو په خپله حصّه کښے هغه اوکړی لکه څنګه چـه به رسول الله صلی الله علیه وسلم کولو ۔ خو حضرت عمرؓ دغه تقسیم ناجائز ګنړلو ، د دے وجے نـه چـه هـر کـلـه ډیره زمانه تیره شی او خلق دے لره میراث اونهٔ ګنړی ۔ خاص کر په داسے حـالـت کـښ چـه د لـور حـصّـه د تره سره نیم په نیمه وی نو خلق به خیال اوکړی چه دا تقسیم په طـور د ترکے د تقسیم وو ، او هر کله چه حضرت علیؓ خلیفه شولو نو هغویؓ هم دے لره تقسیم

نۀ کړو بلکه د صدقې په طور ئې قائم اوساتلو ـ

او سفاح هغه سړی ته چاچه د حضرت ابوبکرؓ او عمرؓ او عثمانؓ ظلم د فدك په باب کښې بيان کړے وو دغه جواب ورکړے دے چه ولے حضرت علی کرم الله وجهه په تابانديے ظلم کړے دے ، نو هغه چپ شولو او سفاح ورته سخت اوسست اووے دلته هم هغه تاويل دے کوم چه پورته د حضرت عباسؓ د قول تير شو ، کوم چه هغوئ د حضرت علیؓ د پاره وئيلے وو زۀ به هغه انتظام کوم ، کوم چه رسول الله صلی الله عليه وسلم کړے وو ، اوس دے ته کتل پکار دی چه شيعه ګان چه کوم په ابوبکر صديقؓ او حضرت عمرؓ باندے طعن لګوی چه هغوئ په باغِ فدك وغيره کښې د حضرت فاطمه زهراءؓ حق ورنۀ کړو ، او هغه ئې ځان له اوساتو ، دا طعن څومره نامعقول دے ولے چه حضرت ابوبکرؓ چه کوم حديث د حضرت صلی الله عليه وسلم نه اوريدلے وو دَ هغې خلاف ئې څنګه عمل کولے شو ـ

البته کچرے حضرت ابوبکرؓ دغه مال پخپله خوړلے وے يائې پخپل تصرف کښې راوستے وے ، او د حضرت صلی الله عليه وسلم په کورنۍ ئې نۀ صرف کولے نو هم به د طعن موقع وه ـ

او دومره عقل دغه بے وقوفو لره نۀ راځی چه حضرت ابوبکر صديقؓ د مکے او د مدينے او د يمن او د طائف او د خيبر او د نجد او د شام حاکم پاتے شوے وو چه د لکونو کروړنو روپو دَ حَاصِلولو مالك وو ، او د چا بادشاهی چه دومره فراخه وی او هغه په هغې کښې درتئ برابر بے ايمانی نۀ کوی ، او د ټولو مسلمانانو برابر حصه ورکوی هغه به د کجورو د يو څو ونو د پاره څنګه بے ايمانی اوکړی ، علاوه د دے نه حضرت عمر فاروقؓ پخپل خلافت کښې هغه ټول مال حضرت علیؓ او حضرت عباسؓ ته اوسپارلو ، د دے نه هم معلوميږی چه د حضرت ابوبکر صديقؓ او حضرت عمر رضی الله عنه نيت د هغوئ د مال د غصب کولو نۀ وو ، ځکه چه حضرت ابوبکر صديقؓ په هر امر کښې د حضرت عمرؓ په رائې باندے چليدلو ـ

﴿ بَابُ قَوْلِ النَّبِیِّ ﷺ : (لَانُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا فَهُوَ صَدَقَةٌ) ﴾

باب : د رسول الله ﷺ وينا چه کوم مال مونږه پريږدو نو د هغې

څوک وارث نشته دي بلکې هغه به صدقه وي :

(۴۵۷۹) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّهَا قَالَتْ اِنَّ اَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرَدْنَ اَنْ يَبْعَثْنَ عُثْمَانَ ابْنَ عَفَّانَ رضي الله تعالى عنه اِلٰى اَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَيَسْئَلْنَهُ مِيْرَاثَهُنَّ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا لَهُنَّ اَلَيْسَ قَدْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا فَهُوَ صَدَقَةٌ . [بخاری ابوداود]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشې صدیقې رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے ۔ هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شولو نو د هغوئ بیبیانو حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه لره د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه خوا ته لیږل غوښتلو د خپلې ترکې د غوښتلو د پاره ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مال نه ، حضرت عائشې رضی الله تعالیٰ عنها هغوئ ته اووے جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نهٔ دی فرمائیلی " زمونږ څوک وارث نهٔ شی کیدے څه چه زمونږ نه پاتے شی هغه صدقه ده"۔

(۴۵۸۰) عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا بِنْتَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْسَلَتْ اِلٰى اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ تَسْاَلُهُ مِيْرَاثَهَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا اَفَاءَ اللّٰهُ عَلَيْهِ بِالْمَدِيْنَةِ وَفَدَكَ وَمَا بَقِيَ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ اِنَّمَا يَاْكُلُ اٰلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ هٰذَا الْمَالِ وَاِنِّيْ وَاللّٰهِ لَا اُغَيِّرُ شَيْئًا مِّنْ صَدَقَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ حَالِهَا الَّتِيْ كَانَتْ عَلَيْهَا فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَاَعْمَلَنَّ فِيْهَا بِمَا عَمِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَبٰى اَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنْ يَّدْفَعَ اِلٰى فَاطِمَةَ رِضْوَانُ اللّٰهِ عَلَيْهَا شَيْئًا فَوَجَدَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا عَلٰى اَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فِيْ ذٰلِكَ قَالَ فَهَجَرَتْهُ فَلَمْ تُكَلِّمْهُ حَتّٰى تُوُفِّيَتْ وَعَاشَتْ بَعْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ اَشْهُرٍ فَلَمَّا تُوُفِّيَتْ دَفَنَهَا زَوْجُهَا عَلِيُّ ابْنُ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ لَيْلًا وَلَمْ يُؤْذِنْ بِهَا اَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَصَلّٰى عَلَيْهَا عَلِيٌّ وَّكَانَ لِعَلِيٍّ مِّنَ النَّاسِ وَجْهَةٌ حَيٰوةَ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَلَمَّا تُوُفِّيَتْ اسْتَنْكَرَ عَلِيٌّ وُجُوْهَ النَّاسِ

فالتمس مُصالحة ابى بكرٍ رَضِى الله تعالىٰ عنهُ وَمُبايعته' ولَمْ يَكُنْ بَايع تِلْكَ الْاَشْهُرَ فَاَرْسَلَ اِلىٰ اَبى بكرٍ رَضِى الله تعالىٰ عنهُ ان ائتنا ولا ياتنا معك احدٌ كراهِية مُحضرِ عُمَرَ ابنِ الْخطّاب رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ فقال عُمَرُ رَضِىَ الله تعالىٰ لابى بكرٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنه والله لا تدخُلُ عليهم وَحدكَ فقال اَبُو بكرٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ ما عسىٰ هُمْ اَنْ يَفْعَلُوْا اِنّى وَاللهِ لآتِيَنَّهُم فدخل عليهم اَبُو بكرٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ فتشهّد عَلِىُّ ابنُ ابى طالبٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ ثُمَّ قال اِنّاقد عرفنا يا اَبا بكرٍ فضيلتك وما اعطاكَ اللهُ ولم تنفس عليكَ خيرًا ساقهُ اللهُ اليكَ ولكنّكَ استبدرت بالأمرِ وكُنّا نحنُ نرىٰ لنا حقًّا لقرابتِنا من رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلم يزل يُكلّمُ اَبا بكرٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ حتّىٰ فاضت عينا اَبى بكرٍ رَضِىَ اللهُ عنهُ فلمّا تكلّم اَبُو بكرٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ قال والّذى نفسى بيده لقرابتُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحبُّ اِلَىَّ اَنْ اَصِلَ مِنْ قرابتى وَاَمّا الّذى شجر بينى وبينكم من هذه الاموالِ فانّى لم آلُ فيها عن الحقّ ولم اتركْ امرًا رأيتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يصنعهُ' فيها اِلّا صنعتهُ فقال عَلِىٌّ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ لِاَبى بكرٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ موعدكَ الْعشيّةُ لِلبيعةِ فلمّا صلّى اَبُو بكرٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ صلوٰةَ الظُّهرِ رقِىَ على المنبرِ فتشهّد ذكر شأنَ علِىٍّ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ وتخلُّفهُ عن البيعةِ وعذرهِ بالّذى اعتذر اليهِ ثُمَّ استغفر وتشهّد عَلِىُّ ابنُ اَبى طالبٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ فعظّم حقَّ اَبى بكرٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ وَاَنّهُ لم يحملهُ على الّذى صنع نفاسةً علىٰ اَبى بكرٍ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ ولا اِنكارًا لِلّذى فضّلهُ اللهُ عزّوجلّ بهِ ولكنّا كُنّا نرىٰ لنا فِى الْاَمرِ نصيبًا فاستبدَّ بهِ علينا بهِ فوجدنا فى انفسنا فسُرّ بذلكَ الْمُسلِمُوْنَ وقالوا اصبتَ فكانَ الْمُسلِمُوْنَ اِلىٰ علِىٍّ رَضِىَ الله تعالىٰ عنهُ قريبًا حين راجع الْاَمْرَ الْمعرُوْفَ. [بخارى ، ابوداود ، نسائى]

ترجمه : د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رَضى الله تعالىٰ عنها نه روايت دے چه حضرت فاطمه زهرا رضى الله تعالىٰ عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم لور بى بى د حضرت ابوبكر صديقؓ په خدمت كښ چالره اوليږو د خپلے تركے د غوښتلو دَ پاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د هغه مالونو نه كوم چه الله تعالىٰ حضرتؐ ته وركړى وو په مدينه كښے او په

فدك كښې او څه چه د خيبرد خمس نه بچ پاتې شوي وو، حضرت ابوبكرؓ اووئے رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى " زمونږ څوك وارث نۀ وى او څه چه زمونږ نه پاتې شى هغه صدقه ده " او د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم اولاد به د دغه مال نه خوراك كوى ، او زما خو دِ په الله جل جلاله قسم وى چه د محمد صلى الله عليه وسلم صدقه به څه شے هم بدله نۀ كرم د هغه حال نه لكه څنګه چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه مباركه كښې وه او زۀ به په دے كښې هغه كار كوم كوم چه رسول الله صلى الله عليه وسلم كولو. غرض دا چه حضرت ابوبكرؓ انكار اوكړو حضرت فاطمےؓ ته د څه وركولو نه ، او حضرتِ فاطِمهؓ غصه شوله . هغوئ د ابوبكرؓ سره ملاقات پريخودو او خبرے به ئے ورسره نۀ كولے تر دے پورے چه وفات شوله (نووى رحمه الله وائى دا تركِ ملاقات هغه پريخودل نۀ دى چه هغه په شرع كښې حرام دے او هغه دا دے چه د ملاقات په وخت سلام اونۀ كړى يا د سلام جواب ورنۀ كړى) او هغهؓ د رسول الله صلى الله عليه وسلم نۀ ورستو صرف شپږ مياشتے ژوندئ وه ، څنو وئيلى دى اته مياشتے يادرے مياشتے يا دوه مياشتے يا اويا ورځے (بهر حال په درئم تاريخ د رمضان المبارك د ١١ سنه هـ مقدس كال هغوئ انتقال اوفرمائيلو) . هر كله چه د هغوئ انتقال اوشو نو د هغوئ خاوند حضرت على بن ابى طالب هغوئ لره د شپے دفن كړه ، او حضرت ابوبكرؓ ئے خبر نۀ كړو (د دے نه معلومه شوه چه د شپے دفن كول هم جائز دى او دَ ورځې غوره دى كچرے څه عذر نۀ وى) او په هغوئ باندے (د جنازے) مونځ حضرت علىؓ اولوستو . او د كومے پورے چه حضرت فاطمة الزهراء رضى الله تعالىٰ عنها ژوندئ وه د هغے پورے خلق دَ حضرت على كرم الله وجهه په طرف مائل وو (په وجه د فاطمة الزهراء رضى الله عنها) هر كله چه د هغےؓ انتقال اوشو نو حضرت على كرم الله وجهه اوليدل چه خلق ځما د طرفنه واپس شو . هغوئ د ابوبكرؓ سره صلح كول اوغوښتو او د هغوئ نه ئے بيعت كول مناسب اوګڼړل ، او تر اوسه پورے څو مياشتے تيرے شوے وے چه هغوئ بيعت نۀ وو كړے د حضرت ابوبكرؓ نۀ ، نو حضرت علىؓ حضرت ابوبكرؓ ته قاصد اوليږو ، او ورته ئے اووئے چه تاسو يواځے راشئ او دَ ځان سره څوك مۀ راولئ ، ولے چه هغهؓ د حضرت عمرؓ راتلل نۀ غوره كولو ، حضرت عمرؓ حضرت

ابوبکرؓ ته اووے قسم په الله جل جلاله چه ته به يو اځے د هغوئ خوا له نۀ ورځے ، حضرت ابوبکرؓ اووے هغوئ به څما سره څه کوی ، قسم په الله جل جلا له زه خو يو اځے ځم ، آخر حضرت ابوبکرؓ د هغوئؓ خوا له لاړو ، او حضرت علیؓ تشهد اولوستو (لکه څنګه چه د خطبے په شروع کښں لوستلے شی) بيا ئے اووے اے ابوبکرؓ ! ما ستا فضيلت اوپيژندو او څه چه الله جل جلا له تاله درکړی دی ، او مونږ حسد نۀ کوو په هغه نعمت باندے کوم چه الله جل جلا له تاله درکړے دے (يعنی خلافت او حکومت) ليکن تا يو اځی يو اځی دا کار اوکړو ، او مونږ پوهه وو چه زمونږ هم حق دے په دے کښں ولے چه مونږ هم دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم سره نزديکت لرلو ، بيا ئے برابر دَ ابوبکر صديقؓ سره خبرے کولے ، تر دے پورے چه د حضرت ابوبکر صديقؓ سترګے ډکے شولے ، هر کله چه ابوبکرؓ خبرے شروع کړے نو دا ئے اووئيل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس کښے چه زما روح دے د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل ولئ لحاظ ماته د ځان نه زيات دے ، او دا څما اوستا په مينځ کښں د هغه خبرو په بابت (يعنی فدك او نضير او خمس خيبر وغيره) چه اختلاف راغلے نو ما حق نۀ دے پريخودے ، او مَا هغه څه کار نۀ دے پريخودے چه د هغے په کولو ما رسول الله صلی الله عليه وسلم ليدلے دے بلکه ما هغے لره کړے دے ، حضرت علیؓ حضرت ابوبکر صديقؓ ته اووے بنه ده نن د ماسپخين نه پس به مونږ ستاسوٌ نه بيعت کوو ، هر کله چه ابوبکرؓ د ماسپخين د مانځه نه فارغ شولو نو منبر ته اوختو او تشهد ئے اولوستو او د حضرت علیؓ قصه ئے بيان کړه ، او د هغوئؓ په بيعت کښں د ورستو کيدو او کوم عذر چه هغوئؓ بيان کړے وو هغه ئے هم اووے او بيا ئے دُعا دَ مغفرت اوکړه ، او حضرت علیؓ تشهد اولوستو ، او د حضرت ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه فضيلت ئے بيان کړو ، او دا ئے اووے چه زَمَا ناوخته کول په بيعت کښں د دے وجے نه نۀ وو چه زما پَه ابوبکرؓ باندے بے سودی ده يا د هغه دَ بزرګئ اوغوره والی نه ماته انکار دے بلکه مونږه دا ګنړله چه په دے خلافت کښں زمونږه هم حصه ده او حضرت ابوبکرؓ يو اځے بغير دَ صلاح نۀ دا کار اوکړو ، د دے وجے نۀ زمونږ زړۀ خفه شوے وو۔ د دے په اوريدو مسلمانان خوشحاله شو او ټولو حضرت علیؓ ته اووے تا صحيح کار اوکړو ، د دغه ورځی نه پس مسلمانان بيا د حضرت علیؓ په طرف

باندے مانله شول ۔ هر کله چه هغوئ واجبی امر لره اختیار کړو۔

فائدة : نووی رحمه الله وائی ، حضرت علی رضی الله عنه چه په بیعت کښ کومه حصارتیا اوکړه د هغے وجه پخپله حضرت علیؓ بیان کړه په دے روایت کښ ۔ او حضرت ابوبکر رضی الله عنه د هغوئ عذر قبول کړو باوجود د دے چه حضرت علیؓ په بیعت کښ حصارتیااوکړه د ابوبکرؓ په بیعت څه خلل نۀ کیږی، ځکه چه د بیعت د صحت دَ پاره د ټولو خلقو بیعت کول ضروری نۀ دی ، بلکه په څه شان چه خلق د عُلماؤ او مشرانو او معتبرو خلقو نه بیعت کوی په اسانئ سره دغه کافی ده په دے شرط چه نور معتبر خلق نے خلاف نۀ کوی ، او حضرت علی کرم الله وجهه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه خلاف نۀ ووکړے مګر دَ عذر د وجے نه صرف د هغوئ حصاروالے اوکړو او هغه عذر دا وو چه باؤجود د هغوئ د جلالتِ قدر او عظمتِ شان ئے هغوئ لره په مشوره کښے شریك نۀ کړو ، د دے وجے نه هغوئ پریشانه شول او د ابوبکرؓ او عمررضی الله عنهما تلوار کول د خلافت دپاره ، د دے وجے نۀ وو چه هغه ... مروری سوئ ؤ او په حصاریدو کښ دا ویره وه ۔ چه چرته بله څه فتنه پورته نۀ شی ۔ او ... واسطه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دفن باندے ئے هم دے لره مقدم کړو۔ (انتهی مختصراً)

د حضرت عمررضی الله تعالیٰ عنه راتلل هغوئ ته په دے وجه غوره نۀ وو چه د حضرت عمر فاروقؓ په مزاج مبارك کښ سختی او صفائی وه ۔ هغهٔ ویریدو چه چرته د حضرت ابوبکرؓ د مدد دَ پاره څه سخته خبره اوکړی او د بنی هاشم زړونو لره کومو ته چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وفات سره پریشانی وه نوره زیاته پریشانی شی ۔ او مصلحت فوت شِی ، ولے چه حضرت علیؓ هغوئ لره د ابوبکر صدیقؓ سره په بیعت کولو باندے راضی کړی وو، او حضرت عمرؓ حضرت ابوبکر صدیقؓ لره د یوائځے تللو نه منع کړو په دے خیال سره چه هغوئ نرم زړهٔ والا دی او صابره دی نو بنی هاشم هغوئ ته په یوائځے موندو سره څه سخت الفاظ اونۀ وائی اوکیدے شی د دے وجے نه د ابوبکرؓ زړهٔ واپس شی ، اوبل فساد راپورته شی او د حضرت عمرؓ په مخکښ په دوارو طرف والاؤ باندے رعب وو او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ

عنه د حضرت عمرؓ قسم لره مات کړو ولې چه د قسم پوره کول هله ضروري دی چه د دے نه څه فساد پیدا نۀ شي.

حضرت ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه ډیر زیات د نرم زړۀ خاوند او بردبار وو هغویؓ له به په لږه غونډ خبره ژړا ورتله. هر کله حضرت علیؓ د خپل قرابت او رشته دارئ او خپل فضیلت کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي وو بیان اوفرمائیلو نو د هغویؓ سترګې ډکې شوے د اوښکو نه او دغه وخت حضرت علیؓ هم د حضرت ابوبکرؓ نه په خوښئ بیعت اوکړو. دَ صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم هم دغه حال وو الله تعالیٰ د هغویٔ په شان کښې فرمائیلی دی " اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ " سخت دی په کافرانو باندے او نرم دی په خپلو کښې. پاتے شوه دا خبره چه د حضرت ابوبکرؓ نه حضرت فاطمه زهراؓ ناراضه شوله نو د حضرت ابوبکرؓ په دے کښې څه قصور نۀ وو، بلکه هغویؓ د حضرت صلی الله علیه وسلم حدیث واؤرَوو. او د مال خرچ ئے په هغه شان قائم اوساتو په کومه طریقه چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم خرچ کولو. حضرت ابوبکرؓ دانۀ وو کړی چه هغویؓ هغه مال پخپله واختویائے پخپل تصرف کښې راوستو، او د حضرتؐ په بیبیانوؓ او رشته دارانو ته ئے نۀ ورکړو. کچرے د ابوبکرؓ داسے نیت وے نو خپلے روپئ او مال به ئے په حضرت صلی الله علیه وسلم باندے د هغویؓ په ژوند کښې ولې قربانوؤ. او اصحابوؓ به د هغویؓ خلافت ولے منظوره وو. سره د دے حضرت ابوبکرؓ د حضرت علیؓ په بلنه باندے یواځے د هغویٔ خواله لاړو. حضرت عمر فاروقؓ منع هم کړو لیکن هغویؓ اونۀ منل. کچرے واقعی د دغه حضراتو په زړونو کښې عداوت یا دشمنی وے، نو دغه شان به د یو بل سره نۀ میلاویدل. دا تمام دَ رافضیانو طوفان دے چه د صحابه کرامؓ په شان کښې داسے بے ادبه الفاظ رااوباسی. او د هغے بدله ډیره نزدے ده.

(۴۵۸۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا اَنَّ فَاطِمَةَ وَالْعَبَّاسَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا اَتَيَا اَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تعالى عَنْهُ يَلْتَمِسَانِ مِيرَاثَهُمَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمَا حِيْنَئِذٍ يَطْلُبَانِ اَرْضَهُ مِنْ فَدَكَ وَسَهْمَهُ مِنْ خَيْبَرَ فَقَالَ لَهُمَا اَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ اِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وسَلَّم وساق الحَدِيْث بِمِثْلِ مَعْنَىٰ حَدِيْثِ عُقَيْلٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ ثُمَّ قَامَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ فَعَظَّمَ مِنْ حَقِّ اَبِىْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَذَكَرَ فَضِيْلَتَهُ وَسَابِقَتَهُ ثُمَّ مَضَى اِلَىٰ اَبِىْ بَكْرٍ فَبَايَعَهُ فَاَقْبَلَ النَّاسُ اِلَىٰ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ فَقَالُوْا اَصَبْتَ وَاَحْسَنْتَ فَكَانَ النَّاسُ قَرِيْبًا اِلَىٰ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ حِيْنَ قَارَبَ الْاَمْرَ الْمَعْرُوْفَ. [راجع: ۴۵۸۰]

ترجمة: د حضرت ام المؤمنين حضرت عآئشے رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے چه فاطمة الزهراء رضی الله تعالیٰ عنها او حضرت عباسؓ دواړه د حضرت ابوبکر صدیقؓ خوا له راغلو چه خپله حصه ئے غوښتله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مال نه او هغویؓ په دغه وخت کښ طلب کوله د فدك زمکه او د خیبر حصه. ابوبکر صدیقؓ اووے چه ما اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه بیائے بیان کړو حدیث لره په هغه شان لکه چه پورته تیر شو. په دے کښ دا دی چه حضرت علی رضی الله عنه اودریدو او دَ حضرت ابوبکر رضی الله عنه برائی ئے بیان کړه او د هغویؓ د فضیلت او په اسلام کښے د مخکښ کیدو ذکر ئے اوکړو بیا د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خوا له لاړو او د هغویٔ نه ئے بیعت اوکړو دغه وخت خلق د حضرت علی رضی الله عنه په طرف متوجه شول او اوئے وئیل تا ټهیك اوکړو او ښه د اوکړو. او د دغه وخت نه خلق د هغهٔ طرفدار شول هر کله چه هغویؓ واجبی خبره اومنله.

(۴۵۸۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهَا بِنْتَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَالَتْ اَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ بَعْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّقْسِمَ لَهَا مِيْرَاثَهَا مِمَّا تَرَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا اَفَآءَ اللهُ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهَا اَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَانُوْرِثُ مَاتَرَكْنَا صَدَقَةٌ قَالَ وَعَاشَتْ بَعْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ اَشْهُرٍ وَّكَانَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهَا تَسْاَلُ اَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ نَصِيْبَهَا مِمَّاتَرَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَيْبَرَ وَفَدَكَ صَدَقَتِهِ بِالْمَدِيْنَةِ فَاَبَىٰ اَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ عَلَيْهَا ذٰلِكَ وَقَالَ لَسْتُ تَارِكًا شَيْئًا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْمَلُ بِهِ اِلَّا عَمِلْتُ بِهِ اِنِّىْ اَخْشَىٰ اِنْ تَرَكْتُ شَيْئًا مِّنْ اَمْرِهِ اَنْ اَزِيْغَ

فَاَمَّا صَدَقَتُهُ بِالْمَدِيْنَةِ فَدَفَعَهَا عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِلٰى عَلِيٍّ وَّعَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فَغَلَبَهُ عَلَيْهَا عَلِيٌّ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَاَمَّا خَيْبَرُ وَفَدَكُ فَاَمْسَكَهُمَا عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ هُمَا صَدَقَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتَا لِحُقُوْقِهِ الَّتِيْ تَعْرُوْهُ وَنَوَآئِبِهِ وَاَمْرُهُمَا اِلٰى مَنْ وَلِيَ الْاَمْرَ قَالَ فَهُمَا ذٰلِكَ اِلَى الْيَوْمِ. [راجع : ۴۵۸۰]

ترجمه: د مؤمنانو مور حضرت عائشے رضی الله تعالىٰ عنها نه روایت دے چه حضرت فاطمه رضی الله عنها دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم لور د رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ وفات نه پس د ابوبکر رضی الله عنه نه خپله حصه اوغوښته ـ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ترکے نه چه الله تعالىٰ هغویٰ ته ورکړے وه ـ حضرت ابوبکرؓ فاطمیؓ ته اووے رسول الله صلی الله علیه وسلم خو دا فرمائیلی دی ـ زمونږ څوك وارث نۀ شی کیدے او څه چه مونږ پریږدو هغه صدقه ده ـ او حضرت فاطمه رضی الله تعالىٰ عنها دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس صرف د شپږو میاشتو پورے ژوندیٔ وه ـ او هغےؓ خپله حصه غوښتله د خیبر او فدك او مدینے د صدقو نه. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالىٰ عنه ورنۀ کړه او دا ئے اووے زۀ هیڅ یو کار چه هغے لره رسول الله صلی الله علیه وسلم کولو پریخودونکے نۀ یَم زۀ ویریږم چه چرته گمراه نۀ شم. بیا د مدینے صدقه حضرت عمر رضی الله تعالىٰ عنه په خپله زمانه کښې حضرت علی رضی الله تعالىٰ عنه او حضرت عباس رضی الله تعالىٰ عنه ته ورکړه ـ لیکن حضرت علی رضی الله تعالىٰ عنه په حضرت عباس رضی الله تعالىٰ عنه باندے غلبه اوکړه (یعنی په خپله قبضه کښے ئے اوساتله) او خیبر او فدك لره حضرت عمر رضی الله تعالىٰ عنه په خپله قبضه کښے اوساتلو ـ اودا ئے اووے چه دواړه صدقے وے د رسول الله صلی الله علیه وسلم چه صرف کیدے به د حضرتؐ په حقوقو او کارونو کښې کوم چه به پیښیدلو حضرتؐ ته او دا دواړه به د هغه چا په اختیار کښې وی څوك چه د مسلمانانو حاکم وی، بیا تر نن ورځې پورے دغه شان پاتے شو (یعنی خیبر او فدك همیشه دَ خلیفۀ وقت په قبضه کښې راغلو، حضرت علیؓ هم هغے لره په خپل دورِ خلافت کښې تقسیم نۀ کړو ـ پس د شیعه گانو اعتراض په ابوبکرؓ او حضرت عمرِ فاروقؓ باندے بے ځایه شولو) ـ

(۴۵۸۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا یَقْتَسِمُ وَرَثَتِیْ دِیْنَارًا مَّا تَرَکْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَآءِ یْ وَمَؤُوْنَةِ عَامِلِیْ فَهُوَ صَدَقَةٌ. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " زما وارث یو دینار هم نهٔ شی ویشلے څه چه ځما د ښځو د خرج او د منتظم د اجرت نه پس بچ پاتے شی نو هغه صدقه ده "۔

فائده : نووی رحمه الله وئیلی دی چه د جمهورو علماوٴ دا قول دے چه د ټولو انبیاوٴ علیهم السلام دغه حکم دے چه څوك د هغوئ وارث نهٔ شی کیدے ، او د حسن بصریؒ نه دا منقول دی چه دا زمونږ دَ پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره مخصوص دی ، ځکه چه حضرت زکریا علیه السلام دُعا اوغوښتله چه (یَرِثُنِیْ وَیَرِثُ مِنْ اٰلِ یَعْقُوْبَ) او مراد د دے نهٔ د مال وارثت دے ۔ ورنه د مخکښې ایت " وَاِنِّیْ خِفْتُ الْمَوَالِیَ مِنْ وَّرَآءِ یْ "صحیح کیدے نهٔ شی ۔ ولے چه دَ مَوَالی خوف وَرَاثتُ په نبوّت او علم باندے نهٔ شی کیدے .

او الله تعالیٰ فرمائیلی دی " وَوَرِثَ سُلَیْمٰنُ دَاوٗدَ " او صواب د جمهورو مذهب دے ۔ او دَ دواړو ایتونو نه مراد د نبوت وراثت دے او د منتظم نه مراد هغه بنده دے څوك چه د هغه مالونو بندوبست کوی یا خلیفهٔ وقت دے کچرے هغه په خپله انتظام کوی . قاضی عیاضؒ وئیلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مال دا وو چه یو خو اووهٔ باغونه د بنی نضیر چه د یهودی وَصیت د مخه د حضرتؐ په مِلك کښې راغلی وو هر کله چه هغه د جنګ احد په ورځ مسلمان شولو۔

دوئمه هغه زمکه کومه چه انصارو حضرتؐ له ورکړے وه ۔ دریم د بنی نضیر مال هر کله چه هغه د مدینے نه اوویستلے شول او بغیر دَ جنګ جدل نه هغه په لاس راغلے څلورم نیمه حصه د فدك چه د خیبر د فتح نه پس د صلح په وخت مقرر شوے وو ۔ پنځم درئمه حصه دَ وادی القری شپږم دوه قلعه ګانے د خیبر وطیخ او سلام چه په صلحه سره واخستے شو . اووم د خیبر د خمس نه حصه دا ټول د حضرت صلی الله علیه وسلم املاك وو د بل چا حق په دے کښې نهٔ وو ۔ حضرتؐ به دغه مالونه لګول پخپله او اهل وعیال باندے او د مسلمانانو په ضرورتونو

کښې او همیشه دا د صدقاتو په طور باندې پاتې کول پکار دی بل چا لره په هغې کښې ملك کول حرام دی

(۴۵۸۴) عَنْ اَبِیْ الزِّنَادِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهٗ.

ترجمه: د ابی الزناد نه هم د پورته اسناد پشان روایت دے ۔

(۴۵۸۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَکْنَا صَدَقَةٌ.

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " زمونږ هیڅوك وارث نشته ۔ څه چه زمونږ نه پاتې شی هغه صدقه ده ۔ "۔

﴿ بَابُ کَیْفِیَّةِ قِسْمَةِ الْغَنِیْمَةِ بَیْنَ الْحَاضِرِیْنَ ؟﴾

د غنیمت مال به څنګه تقسیمیږی ؟

(۴۵۸۶) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ النَّفْلِ لِلْفَرَسِ سَهْمَیْنِ وَلِلرَّجُلِ سَهْمًا. [ترمذی]

ترجمه : د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د غنیمت د مال نه دوه حصې اسونو سورو ته ورکولې ۔ او پیاده سړی ته به ئې یوه حصه ورکوله ۔

فائده : نو د سورلۍ د بنیادم درې حصې شوې او د پیدل بنیادم یوه حصه شوه ۔ او دغه قول دے دَ ابن عباسؓ او مجاهدؒ او محمد حسنؒ او ابن سیرینؒ او عمر بن عبدالعزیزؒ او مالكؒ او اوزاعیؒ او ثوریؒ او لیثؒ او شافعیؒ او ابویوسفؒ او احمدؒ او اسحٰقؒ او ابوعبیدؒ او ابن جریر اودَ جمهورو علماؤ او ابو حنیفهؒ وئیلی دی چه د سور دوه حصې دی او د پیدل یوه حصه ده ۔ او کچرې څوك د خپل ځان سره څو اسونه راولی نو د یو اس حصه به مومی ۔ دَ جمهورو دغه قول دے ۔ او دَ اوزاعیؒ او ثوریؒ او لیثؒ او ابویوسفؒ په نزد به ورته دَ دوو اسونو حصه میلاویږی . (نوویؒ ملخصًا)

(۴۵۸۷) عَنْ عُبَیْدِ اللّٰهِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ وَلَمْ یَذْکُرْ فِیْ النَّفْلِ.

ترجمه: د عبیداللهؒ نه د پورته حدیث پشان روایت دے مګر په دے کښې دَ غنیمت ذکر نشته ۔

﴿باب الإمداد بالملئكة في غزوة بدر وإباحة الغنائم﴾

امداد د فرښتو د بدر په جنګ کښې او د لوټ مباح کيدل.

(۴۵۸۸) عن عمر ابن الخطّاب رَضِيَ اللهُ تعالىٰ عنهُ قال لمّا كان يوم بدرٍ نظر رسول الله صلّى الله عليه وسلّم إلى المشركين وهم ألف وأصحابه ثلث مائةٍ وتسعة عشر رجلاً فاستقبل نبيّ الله صلّى الله عليه وسلّم القبلة ثمّ مدّ يديه فجعل يهتف بربّه اللّهمّ أنجز لي ما وعدتني اللّهمّ اٰت ما وعدتني اللّهمّ إن تهلك هذه العصابة من أهل الإسلام لا تعبد في الأرض فما زال يهتف بربّه مادًا يديه مستقبل القبلة حتّى سقط رداءه عن منكبيه فأتاه أبو بكرٍ رضي الله تعالى عنه فأخذ رداءه فألقاه على منكبيه ثمّ التزمه من ورائه قال يا نبيّ الله كفاك مناشدتك ربّك فإنّه سينجز لك ما وعدك فأنزل الله عزّوجلّ ((إذ تستغيثون ربّكم فاستجاب لكم أنّي ممدّكم بألفٍ من الملئكة مردفين))، فأمدّه الله بالملئكة قال أبو زميلٍ فحدّثني ابن عبّاسٍ رضي الله تعالىٰ عنهما قال بينما رجل من المسلمين يومئذٍ يشتدّ في أثر رجلٍ من المشركين أمامه إذ سمع ضربةً بالسّوط فوقه وصوت الفارس فوقه يقول أقدم حيزوم فنظر إلى المشرك أمامه فخرّ مستلقيًا فنظر إليه فإذا هو قد خطم أنفه وشقّ وجهه كضربة السّوط فاخضرّ ذلك أجمع فجاء الأنصاريّ فحدّث ذلك رسول الله صلّى الله عليه وسلّم فقال صدقت ذلك من مدد السّماء الثّالثة فقتلوا يومئذٍ سبعين وأسروا سبعين قال أبو زميلٍ قال ابن عبّاسٍ رضي الله تعالىٰ عنهما فلمّا أسروا الأسرىٰ قال رسول الله صلّى الله عليه وسلّم لأبي بكرٍ وعمر رضي الله تعالىٰ عنهما ما ترون في هؤلاء الأسارىٰ فقال أبو بكرٍ رضي الله تعالىٰ عنه يا نبيّ الله هم بنوا العمّ والعشيرة أرىٰ أن تأخذ منهم فديةً فتكون لنا قوّةً على الكفّار فعسى الله أن يهديهم للإسلام فقال رسول الله صلّى الله عليه وسلّم ما ترىٰ يا ابن الخطّاب قلت لا والله يا رسول الله صلّى الله عليه وسلّم ما أرىٰ الّذي رأىٰ أبو بكرٍ ولكنّي أرىٰ أن تمكّنّا فنضرب أعناقهم فتمكّن عليًّا من عقيلٍ فيضرب عنقه وتمكّني من فلانٍ نسيبًا لعمر رضي الله عنه فأضرب عنقه فإنّ هؤلاء أئمّة الكفر وصناديدها فهوي رسول الله صلّى الله عليه وسلّم ما قال أبو بكرٍ ولم يهو ما قلت فلمّا كان من الغد جئت فإذا رسول الله صلّى الله عليه وسلّم وأبو بكرٍ رضي الله تعالىٰ عنه قاعدين

وَهُمَا يَبْكِيَانِ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ اَخْبِرْنِيْ مِنْ اَيِّ شَيْءٍ تَبْكِيْ اَنْتَ وَصَاحِبُكَ فَاِنْ وَجَدْتُ بُكَآءً بَكَيْتُ وَاِنْ لَمْ اَجِدْ بُكَاءً تَبَاكَيْتُ لِبُكَآئِكُمَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبْكِيْ لِلَّذِيْ عَرَضَ عَلَىٰ اَصْحٰبِكَ مِنْ اَخْذِهِمُ الْفِدَآءَ لَقَدْ عُرِضَ عَلَيَّ عَذَابُهُمْ اَدْنٰى مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ شَجَرَةٍ قَرِيْبَةٍ مِّنْ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَنْزَلَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ ((مَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ اَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِي الْاَرْضِ)) اِلٰى قَوْلِهٖ ((فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا))فَاَحَلَّ اللهُ الْغَنِيْمَةَ لَهُمْ. [ابو داود ، ترمذی] .

ترجمه :د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے په کومه ورځ چه د بدر جنګ اوشو نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مشرکان اولیدل چه زر نفره وو او دَ حضرتْ اصحابؓ درے سوه او نورلس وو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مشرکانو لره اولیدل او د قبلے په طرف ئے مخ کړو بیا ئے دواړه لاسونه خواره کړل او په زوره ئے د خپل پروردګار نه دعا کول شروع کړو (د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه په دُعا کښ قبلے ته مخ کول او خپل لاس خورَوَل مستحب دی .) یاالله جل جلا له پوره کړے کومه چه تا زما سره وعده کړے ده ـ یا الله جل جلا له راکړے ماله هغه څه چه تا زما سره وعده کړے ده ـ یاالله جل جلا له کچرے تۀ هلاك کړے د مسلمانانو دے جماعت لره نو ستا عبادت کونکی به په زمکه باتے نۀ شی . (بلکه د بتانو عبادت به کولے شی) بیا حضرتؐ برابر دعا کوله او خپل لاسونه مبارك ئے خواره کړی وو تر دے پورے چه څادر مبارك ئے دَ اوګو نه اوغورځیدو ـ حضرت ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه راغے او څادر مبارك ئے ورته په اوګو واچوؤ ـ بیا د رُستو نه آخواه شو او اوئے فرمائیل اے دَ الله جل جلا له رسولهؐ ! بس ستاسو دومره دُعا کافی ده اوس به الله تعالیٰ پوره کوی وعده خپله کومه چه ئے کړے ده ستاسوَ سره ـ پس الله تعالیٰ دا ایات نازل کړو " اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ " د آخره پورے یعنی هر کله چه تاسو د الله تعالیٰ نه دُعا غوښتله او هغه جل جلا له قبوله کړه دُعا ستاسوَ او اوئے فرمائیل " زه به ستاسو مدد کوم په زرو فرښتو پرله پَسے " بیا الله تعالیٰ مدد اوکړو د هغویٰ ؓ په فرښتو سره ابوزرمیلؒ وئیلی دی ماته حدیث بیان کړے دے ابن عباسؓ چه په دغه ورځ یو مُسلمان په یو کافر وریسے شاته منډه وهله او کافر د ده نه مخکښے وو چه په دے کښے د پاسه نه دَ کوړے آواز د دغه مسلمان په غوږونو کښے راغے او د پاسه نه اووئیلے شو

مخکښې شه اے حیزدم (حیزدم د هغه فرښتې د اس نوم وو) بیا چه مسلمان اولیدل نو هغه کافر په زمکه نیغ پریوتو د ده په مخکښې مسلمان چه کله اوکتو نو د هغه په پوزه باندے نشان وو لو خله ئې ماته شوے وه ، لکه څګنه چه ئې څوك په کوړه باندے اووهی ـ او هغه (کافر) تول شین شوے وو (د کوړے د زهرونه) بیا مسلمان انصاریؓ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا له راغے او قصه ئې بیان کړه ـ حضرتؐ اوفرمائیل تهٔ رښتیا وائے دا مدد دریم آسمان نه راغلے وو ـ آخر مسلمانانو په دغه ورځ اویا کافران اووژل او اویا ئې قید کړل ، ابوزمیلؒ وائی چه ابن عباسؓ وئیلی دی هر کله چه ئې قیدیان ګرفتار کړی راویستل ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکرؓ او عُمرؓ ته اووے چه ستاسو څه رائے ده د دے قیدیانو په باره کښې ـ ابوبکرؓ اووے چه اے دَ الله جل جلاله رسولهؐ ! دا زمونږ د رورولئ خلق دی ـ او خاندان والای زهٔ دا غوارم چه تاسو دَ دوئ نه څه مال واخلئ او دوئ پریږدئ چه په دے سره به په مسلمانانو کښې طاقت راشی د کافرانو سره د مقابلے کولو او کیدے شی چه دغه خلق الله پاك په اسلام مشرف کړی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ستا رائے څه ده اے د خطاب ځویه ؟ هغویؓ اووے نهٔ قسم په الله جل جلاله دے یا رسول اللهؐ ! زمَا د ابوبکرؓ په شان رائے نهٔ دے ـ زمَا رائے دا ده چه تاسو دوئ لره مونږ ته حواله کړئ ـ چه مونږ د دوئ څټونه اووهو ـ او تاسو عقیل لره حضرت علیؓ ته حواله کړئ چه هغویؓ د هغه څټ اووهی ، او ماته زمَا فلانے عزیز حواله کړئ چه زهٔ دَ هغوئ څټ اووهم ولے چه دا د کفر مهری دی ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ابوبکرؓ رائے غوره شوه او زما رائے ورته غوره نهٔ شوله ـ هر کله چه دوئمه ورځ شوه نو زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا له راغلمه حضرتؐ او ابوبکرؓ دواړه ناست وو ژړل ئې ـ ما اووے یا رسول اللهؐ ! تاسو او ستاسو دا ملګرے ولی ژاړئ ؟ کچرے ماته هم ژړا راشی نو اوژړام او که د ژړا صورت جوړ کړمه ستاسو دَ دواړو د ژړا د وجے نه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل زهٔ ژاړم په دے واقعه سره کومه چه مخکښې راغله ستا ملګرو ته د فدیے اخستلو نه ـ زما مخے ته د هغوئ عذاب راوستے شو د دے ونے نه نزدے (دا یوه ونه وه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوا کښې) بیا الله تعالیٰ جل جلاله دا ایت نازل کړلو " مَا کَانَ لِنَبِیٍّ اَنْ یَّکُوْنَ لَهٗ اَسْرٰی " دَ آخره

پورے ـ يعنى نبیؐ لره دا درست نۀ دی چه هغه قيدی اوساتی د هغے پورے چه زور ختم نۀ شی د کافرانو په زمکه کښ ـ

فائده : د بدر جنگ د هر څه نه رومبے جنگ دے چه مسلمانانو کړے دے ، او بدر د يو اوبو نوم دے ، او يو کلے دے څلور منزله لرے د مدينے نه ـ ابن قتيبهؒ وئيلی دی چه بدر يو کوهے وو د چا ـ او دَ هغے د مالك نوم بدر وو چه بيا د هغه کوهی نوم شولو ، ابويقظان وئيلی دی چه دا د بنی غفار (قبيلے) د يو سړی نوم وو ، او د بدر جنگ په اولسم تاريخ د ۲ سنه هجری په مقدس کال د جمعے په ورځ د رمضان المبارك په مياشت کښے شوے وو ـ او حافظ ابن القاسمؒ د خپل استاد نه تاريخ په دمشق کښے روايت کړے دے چه دا جنگ د گل په ورځ شوے وو ليکن په دغه اسناد کښے څو تنه ضعيف دی . حافظؒ وئيلی دی چه محفوظ دغه دے چه دا جنگ د جمعے په ورځ شوے دے ـ او په صحيح بخاری کښے د عبدالله ابن مسعودؓ نه روايت دے چه د بدر ورځ د گرمئ دَ ورځو نه وه (نوویؒ)

په حديث سره رد راغے دَ وحدت الوجود چه هغه دا گنړی چه غرونه او بوټی هر څه الله دی (معاذ الله) د هغوئ په نزد د بت عبادت کول هم د الله تعالیٰ عبادت دے ـ

الله تعالیٰ وعده کړے وه د حضرتؐ سره د يو څيز دَ دوو څيزونو نه د قافلے يا د لښکر ـ قافله خو لاړه ليکن د لښکر سره مقابله راغله د حضرت صلی الله عليه وسلم هر وخت دا پوخ يقين وو چه د الله تعالیٰ وعده به پوره کيږی ، ليکن هغوئ د مسلمانانو د تسلئ او تشفئ دَ پاره په دوئم ځل دُعا اوکړله ـ

هر چند د الله جل جلاله يو حکم يا يوه فرښته د ټولو کافرانو د تباهئ د پاره پوره وه ، خو الله ته دا منظوره شوه چه مسلمانان چاته چه د خپل کموالی رنځ وو خوشحاله شی په خپل تعداد زياتيدو سره ـ ولے چه اوس مسلمانان يو زر درے سوه او نولس شولو ـ يا الله جل جلاله ته دا منظوره شوه چه فرښتے د بنيادمو په شان اوجنگيږی په داسے طاقت سره لکه چه په انسان کښے وی ـ ابن هشامؒ په خپل سيرت کښ په اسناد صحيح سره دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کړے دے چه يو سړی دَ بنی غفار قبيلے نه هغوئ ته اووے ، زۀ او زما د تره يو ځوئ دواړه

مشرکان وو . د بدر په ورځ یو غرته اوختو . په دے انتظار کښ چه اووینو چه څوك به شکست اوخوری نو مونږ به د لوټ والاؤ سره شریك شو . مونږه په غر کښے ناست وو چه د وریځے یوه ټکړه زمونږ خوا لـه راغلـه چه پکښے دَ اسونو آواز هم وو . ما واؤریدل چه یو وینا کونکی دا اووے ، حیزوَم مخکښے شه .

د دے حال په لیدو سره زما د روو زړهٔ په درزیدو شو او هغه ځائے مړ شولو . زهٔ هم مرګ ته نـزدے شوے وُمـه خو خپل ځان مِ قابو کړلو ابن اسحٰقؒ وئیلی دی حدیث بیان کړے دے ماته عبدالله بـن ابـن بـکرؒ هغویؒ اوریدلی د بعضے بنی سَاعده وَنهٔ . هغویؒ د ابواسید مالك بن ربیـعـهؒ نه چه د بدر په جنګ کښے شریك وو . د هغویؒ د سترګو نظر تلے وو . هغویؒ به وئیل کـچرے زهٔ پـه بـدر کښے وے او زمـا نظر وے نو ما به تاته هغه کنډو خودلے وو په کوم چه فرښتے راوتلے وے . ماته په دے کښ هیڅ شك نشته دے .

ابـن اسـحٰقؒ وائی ماته حدیث بیان کړے دے ابو اسحاق بن یسارؒ هغویؒ د بنی مازن بن نـجار د څو سرو نـه اوریـدلے دے ، هـغـویٔ د ابو داؤد مازنی نه اوریدلے دے چه هغویؒ د بدر په جنګ کښے مـوجـود وو. هـغویؒ وائی چه زهٔ د بدر په جنګ کښے په یو مشرك پسے د وژلو د پاره روان وُم مګر زَما د رسیدو نه مخکښ د هغه سَرُ اوغورځیدو نو زهٔ پو هَه شوم چه دے بل چا اووژلـو . ابـن اسـحٰقؒ وائی ماته حدیث بیان کړے شوے دے په داسے سری باندے چه په هغویؒ بـاندے زهٔ تهمت نهٔ وایم (یعنی هغه ثقه وو) هغویؒ اوریدلی دی د مقسمؒ نه هغویؒ د عبدالله ابـن عباس رضـی الله تـعـالـیٰ عنهما نه . هغویؒ وائی چه د فرښتو په سر باندے دَ بدر په ورځ سپیـن پټـکی وو چه زوړند شوی وو د ملا پورے او د حنین په ورځ ئے سره پټکی وو. ابن هشام وئیـلی دی ماته څنے د علم خاوندانو بیان کړے دے چه حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه وئیلی دی پټـکی د عربو تاجونه دی او د بدر په ورځ باندے هم د فرښتو په سَرُ باندے سپین پټکی وو د شا پورے زوړند کړی شوی . مګر د حضرت جبرائیل علیه السلام په سر باندے زیړ پټکے وو . (انتهیٰ)

د دے حدیث نه د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه غټ فضیلت معلوم شولو او دا هم

معلومه شوه چه بعضے موقعه د کمے درجے والا رائے دَ لوئے درجے والا دَ رائے نه غوره وی ـ

او دا هم معلومه شوه چه د حضرت صلی الله علیه وسلم هر رائے په وحی سره نهٔ وو۔ مګر حضرتؐ ته به د خپل رائے غلطی په وحی سره معلومیده ـ بل چاته دا رتبه نشته دے او دا هم معلومه شوه چه حضرت صلی الله علیه وسلم نبی برحق وو .ورنه د خپل رائے غلطی به ئے ولے ظاهر فرمائیله ـ او دا هم معلومه شوه چه فرښتے د بنیادمو شکل جوړولے شی او حضرت جبرائیل علیه السلام به کله کله دَ دحیه کلبی په شکل باندے راتللو . فقط ـ

﴿ بَابُ رَبْطِ الْاَسِيْرِ وَحَبْسِهٖ وَجَوَازِ الْمَنِّ عَلَيْهِ ﴾

قیدی لره تړل او بندول او هغه لره مفت پریښودل جائز دی

(۴۵۸۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَیْلًا قِبَلَ نَجْدٍ فَجَآءَتْ بِرَجُلٍ مِّنْ بَنِیْ حَنِیْفَةَ یُقَالُ لَهٗ ثُمَامَةُ ابْنُ اُثَالٍ سَیِّدُ اَهْلِ الْیَمَامَةِ فَرَبَطُوْهُ بِسَارِیَةٍ مِّنْ سَوَادِ الْمَسْجِدِ فَخَرَجَ اِلَیْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَاذَا عِنْدَکَ یَاثُمَامَةُ قَالَ عِنْدِیْ یَا مُحَمَّدُ خَیْرٌ اِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَادَمٍ وَّاِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلٰی شَاکِرٍ وَّاِنْ کُنْتَ تُرِیْدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَهٗ مِنْهُ مَاشِئْتَ فَتَرَکَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰی کَانَ بَعْدَ مِنَ الْغَدِ فَقَالَ مَا عِنْدَکَ یَاثُمَامَةُ قَالَ مَا قُلْتُ لَکَ اِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلٰی شَاکِرٍ اَوَاِنْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَّاِنْ کُنْتَ تُرِیْدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَاشِئْتَ فَتَرَکَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰی کَانَ مِنَ الْغَدِ فَقَالَ مَاذَا عِنْدَکَ یَا ثُمَامَةُ فَقَالَ عِنْدِیْ مَا قُلْتُ لَکَ اِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلٰی شَاکِرٍ وَّاِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَادَمٍ وَّاِنْ کُنْتَ تُرِیْدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَطْلِقُوْا ثُمَامَةَ فَانْطَلَقَ اِلٰی نَخْلٍ قَرِیْبٍ مِّنَ الْمَسْجِدِ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَقَالَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ . یَامُحَمَّدُ وَاللّٰهِ مَاکَانَ عَلَی الْاَرْضِ وَجْهٌ اَبْغَضَ اِلَیَّ مِنْ وَجْهِکَ فَقَدْ اَصْبَحَ وَجْهُکَ اَحَبَّ الْوُجُوْهِ کُلِّهَا اِلَیَّ وَاللّٰهِ مَاکَانَ مِنْ دِیْنٍ اَبْغَضَ اِلَیَّ مِنْ دِیْنِکَ فَاَصْبَحَ دِیْنُکَ اَحَبَّ الدِّیْنِ کُلِّهٖ اِلَیَّ وَاللّٰهِ مَاکَانَ مِنْ بَلَدٍ اَبْغَضَ اِلَیَّ مِنْ بَلَدِکَ فَاَصْبَحَ بَلَدُکَ اَحَبَّ الْبِلَادِ کُلِّهَا اِلَیَّ وَ اِنَّ خَیْلَکَ اَخَذَتْنِیْ وَاَنَا اُرِیْدُ الْعُمْرَةَ فَمَاذَا تَرٰی فَبَشَّرَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَمَرَهٗ اَنْ یَّعْتَمِرَ فَلَمَّا قَدِمَ مَکَّةَ قَالَ لَهٗ قَائِلٌ اَصَبَوْتَ فَقَالَ

وَلٰكِنِّيْ اَسْلَمْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا وَاللّٰهِ لَا يَأْتِيْكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ حَبَّةُ حِنْطَةٍ حَتّٰى يَأْذَنَ فِيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم څه سواره کسان د نجد په طرف اولیږل هغوئ یو سړے نیولے راوستو چه د بنی حنیفه قبیلے نه وو. او د هغه نوم ثمامه بن اثال وو او هغه د یمامه والاؤ سردار وو. بیا خلقو د جماعت د یوے ستنے سره اوتړو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه خوا له لاړو او اوئے فرمائیل ! اے ثمامه ستا سره څه دی ؟ هغه اووے څما سره ډیر څه دی . کچرے تاسو ما لره او وژنئ نو داسے سړے به اووژنئ چه هغه وینے والا دے او کچرے تاسو احسان اوکړئ نو په داسے سړی به احسان اوکړئ چه هغه به شکر گذاره وی او کچرے تاسو مال غواړئ نو غواړئ څومره چه ستاسو خوښه وی ، پس رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه لره هلته پاتے کړو، بیا په دریمه ورځ حضرتؐ تشریف راؤړو. او تپوس ئے اوکړو څه دی ستا سره اے ثمامهٔ هغه اووے هم هغه څه چه ما تاسوؔ ته وئیلی دی . کچرے تاسو احسان اوکړئ نو په احسان منونکی به ئے اوکړئ . کچرے وژنئ نو بنه عزت والا به اووژنئ . که روپئ غواړئ نو څومره چه غواړئ میلاؤ به شی ، بیا حضرتؐ د وړاندِ پشان هغه لره هلته پریخودو. په صَباله بیا حضرتؐ تشریف راؤړو. او تپوس ئے اوکړو ستا سره څه دی اے ثمامه ؟ ثمامه اووے هم هغه کوم چه ما تاته وئیلی دی . که احسان کوے نو اوکړه شکر گزار به یم که م وژنے نو مړ م کړه لیکن زما وینه د ضائع کیدو نهٔ ده . که مال غواړے نو څومره چه غواړے درکوم . رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل بنه ده پریږدئ ثمامه لره هغه جماعت ته نزدے دَ یوے کجورے دَ وَنے په طرف لاړو او غسل ئے اوکړو بیا جماعت ته راغے او اوئے وئیل چه " اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ " اے محمد (صلی الله علیه وسلم) په الله جل جلا له قسم دے چه ستا نه زیات د چا مخ زمَا د پاره بد نهٔ وو او اوس ستاسوؔ د مخ نه زیات ماته د چا مخ محبوب نهٔ دے . قسم دے په الله جل جلا له چه ستا د دین نه زیات بل یو دین زما په نزد بد نهٔ وو او ستا دین اوس د ټولو دینونو نه زیات ماته محبوب دے . په الله تعالیٰ قسم دے چه ستاسوؔ د ښهر نه زیات یوه ښهر ماته بد نهٔ معلومیدو .اوس ستاسو

ښهر ماته د ټولو ښهرونو نه زيات غوره دے . ستاسو رُوز ۀ اونيوم زۀ عمرے له تلمه اوس څه اوكړم تاسو راته اوفرمايئ . رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه لره خوشحاله كړو او د عمرے كولو حكم ئے ورته اوكړو ـ هر كله چه مكے ته اورَسيدو نو خلقو ورته اووے تا دين بدل كړو هغه اووے نۀ بلكه زه مسلمان شوم د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره قسم دے په الله تعالىٰ چه د يمامه نه به يوه دانه د غنمو تاسو ته را اونۀ رسى د كومے پورے چه رَسول الله صلى الله عليه وسلم اجازت نۀ وى وركړے ـ

فائده : نووى رحمه الله وئيلى دى چه د دے حديث نه دا معلومه شوه چه قيدى لره تړل او د هغه بندَول درست دى ـ او جماعت ته د كافر راتلل درست دى ـ او د شافعىؒ مذهب دا دے ـ چه د مسلمان په اجازت سره د كافر جماعت ته تلل درست دى ـ خواه كه هغه كتابى وى يا مشرك ،او د عمر بن عبدالعزيزؒ او قتادهؒ او مالكؒ په نزد روانۀ دى ـ او د ابو حنيفه رحمه الله په نزد د كتابى پريخودل رَوا دى او دَ مشرك روانۀ دى .

او ز مونږه دليل د ټولو په مقابله كښ دا حديث دے ـ او دا چه الله تعالىٰ فرمائيلى دى ، مشركان پليت دى هغه به مسجدِ حرام ته نۀ داخليږى دا خاص دى د حرم سره او حرم ته د كافر تلل درست نۀ دى .(انتهى)

يعنى د هغه بدله به نور خلق اخلى ـ غرض دا دے چه زۀ څه غريب سړے نۀ يم چه ځما د روح به څوك پرواه اونۀ كړى ـ بلكه رئيس يم ، كچرے تاسو ما وژنئ نو ځما بدله به نور خلق اخلى او ځنو وئيلى دى چه د دے معنىٰ دا ده چه كه تاسو ما اوژنئ نو هغه څوك به اووژنئ چه د هغه وژل پكار نۀ دى ـ يعنى تاسوّ ته د دے استحقاق حَاصل دے ـ او په ځنو روايتونو كښ ذاذم ـ دے يعنى خاوند د حرمت او عزت به اووژنئ . مګر دا روايت ضعيف دے ـ

نووى عليه الرحمه وئيلى دى ـ چه زمونږ دَ ملګرو دا قول دے چه هر كله كافر مسلمانيدل غواړى نو فوراً دِ مسلمانيږى او د غسل دپاره دِ نۀ ناوخته كوى او هيڅوا لره دا روا نۀ دى چه هغه لره د غسل پورے د حصاريدو اجازت وركړى ـ بلكه مخكښ د مسلمان شى بيا دغسل اوكړى ـ او غسل واجب دے اګر كه د كفر په حالت كښے هغه جنب شوے وى او غسل ئے

هم کړے وی ۔ او د ځینو په نزد کچرے د کفر په حالت کښے ئے غسل کړے وو نو غسل واجب نۀ دے ۔ او د مالکیه و په نزد په یو حال کښے غسل واجب نۀ دے او په اسلام راوړلو سره د جنابت حکم ساقط کیږی لکه ځنګه چه ګناه ساقط کیږی او په دے باندے اعتراض دا دے چه اودس واجب دے بالاجماع او دَ بے اودسۍ اثر په اسلام سره نۀ ساقط کیږی ۔ او اګر که هغه د کفر په حالت کښے هم جنب شوے نۀ وی خو غسل مستحب دے ۔

او دَ امام احمدؒ په نزد واجب دے او حضرت صلی الله علیه وسلم دَ درے ورځو پورے ثمامه لره حصار کړو ۔ د دے د پاره چه د ده په زړۀ کښې دَ اسلام محبت پیدا شی ۔ او بیا غور پرے اوکړی او د عمرے حکم ئے د هغه د پاره استحبابًا ورکړو نۀ وجوبًا (انتهی مختصرًا)

(۴۵۹۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یَقُوْلُ بَعَثَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خَیْلاً لَهُ نَحْوَ اَرْضِ نَجْدٍ فَجَآءَتْ بِرَجُلٍ یُقَالُ لَهُ ثُمَامَةُ ابْنُ اُثَالٍ الْحَنَفِیُّ سَیِّدُ اَهْلِ الْیَمَامَةِ وَسَاقَ الْحَدِیْثَ بِمِثْلِ حَدِیْثِ اللَّیْثِ اِلَّا اَنَّهُ قَالَ اِنْ تَقْتُلْنِیْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ.

ترجمة:ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث د ترجمے په شان ده ۔

﴿ بَابُ اِجْلَاءِ الْیَهُوْدِ مِنَ الْحِجَازِ ﴾

یهودیانو لره دحجاز دملک نه ویستل

(۴۵۹۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ قَالَ بَیْنَا نَحْنُ فِی الْمَسْجِدِ اِذْ خَرَجَ اِلَیْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْطَلِقُوْآ اِلٰی یَهُوْدَ فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتّٰی جِئْنَا هُمْ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَنَادَاهُمْ فَقَالَ یَا مَعْشَرَ یَهُوْدَ اَسْلِمُوْا تَسْلَمُوْا فَقَالُوْا قَدْ بَلَّغْتَ یَا اَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِکَ اُرِیْدُ اَسْلِمُوْا تَسْلَمُوْا فَقَالُوْا قَدْ بَلَّغْتَ یَا اَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِکَ اُرِیْدُ فَقَالَ لَهُمُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ اِعْلَمُوْا اَنَّمَا الْاَرْضُ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاِنِّیْ اُرِیْدُ اَنْ اُجْلِیَکُمْ مِّنْ هٰذِهِ الْاَرْضِ فَمَنْ وَّجَدَ مِنْکُمْ بِمَالِهٖ شَیْئًا فَلْیَبِعْهُ وَاِلَّا فَاعْلَمُوْا اَنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ .[بخاری ، ابوداود ،]

ترجمه : دَ ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه مونږ په جماعت کښې ناست وو

چه په دے کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم بهر تشریف راوړو او اوئے فرمائیل " د یهودیانو خوا ته ورځو " مونږ د هغوئ سره لاړو تر دے پورے چه د یهودیانو خوا ته اورسیدو ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم اودریدو او په اوچت آواز ئے اوفرمائیل اے د یهودو خلقو! مسلمانان شئ ، هغوئ اووے تاسو پیغام را اورسوؤ (د الله تعالیٰ) اے ابو القاسم صلی الله علیه وسلم رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل " زهٔ هم دا غواړم " بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل " اے یهودو مسلمانان شی " هغوئ اووے تا رااورسوؤ (پیغام) اے ابو القاسم ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل زهٔ دغه غواړمه ـ (چه تاسو اقرار اوکړئ د الله د پیغام رارسولو) بیا حضرت په دریم ځل دغه شان اووے ـ او اوئے فرمائیل پوهٔ شئ چه زمکه دَ الله جل جلاله او دَ هغه د رسول دہ ـ او زهٔ غواړم چه تاسو لره د دے ملك نه بهر اوباسم پس څوك چه خپل مال خرڅول غواړی نو هغه دِئے خرڅ کړی ـ او که نهٔ وی نو په دے پوهه شئ چه زمکه دَ الله جل جلاله او د هغه د رسول دہ ـ

(۴۵۹۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ يَهُوْدَ بَنِي النَّضِيْرِ وَقُرَيْظَةَ حَارَبُوْا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَنِيْ النَّضِيْرِ وَاَقَرَّ قُرَيْظَةَ وَمَنَّ عَلَيْهِمْ حَتّٰى حَارَبَتْ قُرَيْظَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ فَقَتَلَ رِجَالَهُمْ وَقَسَمَ نِسَآءَ هُمْ وَاَوْلَادَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ اَلَّا اَنْ بَعْضَهُمْ لَحِقُوْا بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاٰمَنَهُمْ فَاَسْلَمُوْا وَاَجْلٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهُوْدَ الْمَدِيْنَةِ كُلَّهُمْ بَنِيْ قَيْنُقَاعَ وَهُمْ قَوْمُ عَبْدِ ابْنِ سَلَامٍ وَيَهُوْدَ بَنِيْ حَارِثَةَ وَكُلَّ يَهُوْدِيٍّ كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ. [بخاری ، ابو داود]

ترجمه: د عبدالله بن عمر رَضِی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه د بنی نضیر او قریظه یهودیانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره جنګ اوکړو ـ حضرت د بنی نضیر یهودیانو لره اوویستل ـ او د قریظه یهود ئے هلته پریخودل بلکه په هغوئ ئے احسان اوکړو بیا بنی قریظه وُ د دے نه پس جنګ اوکړو (او د حضرت صلی الله علیه وسلم سره ئے دهوکه اوکړه په جنګ احزاب کښې د مشرکانو سره ملګری شو)بیا حضرتؐ د هغوئ سری اووژل او د هغوئ ښځے او بچی او مالونه ئے په مسلمانانو تقسیم کړو مګر څوك چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځائے شوی وو حضرتؐ هغوئ له امن ورکړو ـ هغه مسلمانان شول ـ او اوویستل رسول

الله صلی الله علیه وسلم تمامو یهودیانو لره دَ مدینے نه ۔ خاصکر بنی قینقاع چه دَ عبدالله بن سلام قوم وو د مدینے نه ۔ او بنی حارثه لره او هر یو یهودی لره چه په مدینه کښے وو۔

(۴۵۹۳) عَنْ مُوْسٰی بِهٰذَا الْإِسْنَادِ هٰذَا الْحَدِیْثِ وَحَدِیْثُ ابْنِ جُرَیْجٍ اَکْثَرُ وَاَتَمُّ ۔

ترجمه :د دے حدیث هم د پورته ترجمے په شان ده ۔

(۴۵۹۴) عَنْ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ لَاُخْرِجَنَّ الْیَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰی مِنْ جَزِیْرَةِ الْعَرَبِ حَتّٰی لَآ اَدَعَ اِلَّا مُسْلِمًا ۔ [ابوداود ، ترمذی]

ترجمه :د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "البته زۀ به اوباسم یهودو او نصاریٰ و لره د عربو د جزیرے نه تر دے پورے چه نۀ به اوسیږی په دے کښ مگر مسلمانانۍ "۔

فائده :جزیره هغه ځائے ته وئیلے شی چه د هغے نه خلور طرفته اوبه وی ۔ او د عربو نه درے طرفته سمندر دے ځکه یوه ښکلے جزیره ده ۔ نووی علیه الرحمه وئیلی دی چه ذمی کافر چه کله وعده ماته کړی نو هغه حربی کیږی ۔ او امام لره اختیار دے چه دَ هغویٔ نه چا لره غواړی قید کړی ۔ او چا لره چه غواړی مفت ئے پریږدی ۔ او د پریخودلو نه پس کچرے هغه جنگ کوو نو وعده به ئے ماتیږی ۔ (انتهیٰ)

(۴۵۹۵) عَنْ اَبِی الزُّبَیْرِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهٗ ۔ [راجع:۴۵۹۴]

ترجمه :د دے هم د پورته حدیث په شان ده ۔

﴿ بَابُ جَوَازِ قِتَالِ مَنْ نَقَضَ الْعَهْدَ وَجَوَازِ اِنْزَالِ اَهْلِ الْحِصْنِ عَلٰی حُکْمِ حَاکِمٍ عَدْلٍ اَهْلٍ لِلْحُکْمِ ۔﴾

څوک چه وعده ماته کړی د هغه وژل درست دی او د قلعه قیدیانو لره د چا عادل سړی په فیصله باندے راکوزول درست دی ۔

(۴۵۹۶) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ نَزَلَ اَهْلُ قُرَیْظَةَ عَلٰی حُکْمِ سَعْدِ ابْنِ مُعَاذٍ فَاَرْسَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلٰی سَعْدٍ فَاَتَاهُ عَلٰی حِمَارٍ فَلَمَّا دَنَا قَرِیْبًا مِّنَ الْمَسْجِدِ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِلْاَنْصَارِ قُوْمُوْا اِلٰی سَیِّدِکُمْ اَوْ خَیْرِکُمْ ثُمَّ قَالَ اِنَّ هٰؤُلَآءِ نَزَلُوْا عَلٰی

حُكْمِكَ قَالَ تُقْتَلُ مَقَاتِلَتُهُمْ وَتُسْبٰى ذُرِّيَّتُهُمْ قَالَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَضَيْتَ بِحُكْمِ اللّٰهِ وَرُبَّمَا قَالَ قَضَيْتَ بِحُكْمِ الْمَلِكِ وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ الْمُثَنّٰى وَرُبَّمَا قَالَ قَضَيْتَ بِحُكْمِ الْمَلِكِ.

[بخاري ، ابو داود]

ترجمه : د حضرت ابوسعيد خدري رضى الله تعالىٰ عنه نه روايت دے وائي چه د قريظه يهودي د سعد بن معاذ په فيصله باندے راكوز شو ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په سعد پسے قاصد اوليږو. هغهؓ په يو خر باندے سور شو او راغے . هر كله چه مسجد ته نزدے را اورسيدو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم انصارو ته اوفرمائيل " پورته شئ د خپل سردار په طرف يا د خپل قوم د غوره سړي په طرف " بيا ئے اوفرمائيل چه دا خلق د بني قريظه ستاسو په فيصله باندے راكوز شوي دي (د قلعه نه) سعدؓ اووے په دوئ كښے چه څوك د جنګ لائق دي هغه دِ قتل كړے شي - او د هغوئ ښځو او بچو لره دِ قيد كړے شي . رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل تا دَ الله تعالىٰ د حكم موافق يا بادشاه دَ الله جل جلا له د حكم موافق يا فرښتے (د جبرائيل عليه السلام) د حكم موافق (لكه څنګه چه هغه د الله جل جلا له دَ طرف نه راوړے وو) فيصله اوكړه .

فائده : قريضه حليف وو دَ اوس او اوس دَ انصارو يوه لويه قبيله وه چه د هغے سردار سعد بن معاذ رضى الله تعالىٰ عنه وو . هر كله چه قريظه په جنګ خندق كښے د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دهوكه اوكړله او د كافرانو سره ئے په شريكه مسلمانان اوو ژل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه جنګ په ختميدو باندے د بني قريظه نه محاصره اوكړه . هغوئ په يوه قلعه كښې وو . هر كله چه هغوئ ته تكليف شولو نو په دے شرط ئے قلعه خالي كړو چه سعد بن معاذؓ چه زمونږ په حق كښے كومه فيصله كوي هغه مونږ ته منظوره ده .

امام نووي رحمه الله وئيلي دي د دے حديث نه د پنچائت ثبوت وتلے دے كومے ته چه تحكيم وئيلے شي . او دا په اتفاق دَ اهل اسلام درست دے سِوا د خوارجو نه . او هر كله چه حكم د فيصلے اوكړي نو د هغه حكم لازم دے . اوس امام لره يا كومو خلقو چه ده ته حكم اوكړو د ده دَ فيصلے نه واپس كيدل درست نهٔ دي . البته د حكم نه مخكښے واپس كيدے شي -

(انتهٰی)

(۴۵۹۷) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ فِیْ حَدِیْثِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ حَکَمْتَ بِحُکْمِ اللّٰهِ وَقَالَ مَرَّةً حَکَمْتَ بِحُکْمِ الْمَلِکِ.

ترجمه :د شعبهؒ نه د دغې په مثل روایت دے او ده په خپل حدیث کښې ونیلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل " چه تا د الله جل جلا له په حکم باندے فیصله اوکړه " لو یو ځل ئے داسے اوفرمائیل چه " د بادشاه په حکم ډ فیصله اوکړله "۔

(۴۵۹۸) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ اُصِیْبَ سَعْدٌ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یَوْمَ الْخَنْدَقِ رَمَاهُ رَجُلٌ مِنْ قُرَیْشٍ یُقَالُ ابْنُ الْعَرِقَةِ رَمَاهُ فِی الْاَکْحَلِ فَضَرَبَ عَلَیْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَیْمَةً فِی الْمَسْجِدِ یَعُوْدُهٗ مِنْ قَرِیْبٍ فَلَمَّا رَجَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْخَنْدَقِ وَضَعَ السِّلَاحَ فَاغْتَسَلَ فَاَتَاهُ جِبْرَئِیْلُ عَلَیْهِ السَّلَامُ وَهُوَ یَنْفُضُ رَأْسَهٗ مِنَ الْغُبَارِ فَقَالَ وَضَعْتَ السِّلَاحَ وَاللّٰهِ مَا وَضَعْنَاهُ اُخْرُجْ عَلَیْهِمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَیْنَ فَاَشَارَ اِلٰی بَنِیْ قُرَیْظَةَ فَقَاتَلَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلُوْا عَلٰی حُکْمِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْحُکْمَ فِیْهِمْ اَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ وَاَنْ تُسْبَی الذُّرِّیَّةُ وَالنِّسَآءُ وَتُقْسَمُ اَمْوَالُهُمْ. [بخاری، ابوداود، نسائی]

ترجمه: دمؤمنانو د مور حضرت عآئشے رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے وائی چه سعد بن معاذؓ له د خندق په ورځ یو سړی چه دَ قریشو نه وو د عرفے ځویْ (داد هغه د مور نوم دے) په یو غشی اوویشتو ۔ تیر دَ هغویؓ په اکحل یعنی (شریان) کښې اولګیدو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د سعدؓ د پاره په جماعت کښې یوه خیمه اولګوله (د دے نه معلومه شوه چه مسجد کښې اوده کیدل او د بیمار اوسیدل روا دی) هلته به ئے د نزدے نه د هغویٔ تپوس کولو ۔ هر کله چه حضرتؐ د خندق د جنګ نه واپس شو نو هتیار ئے کیښودل او غسل ئے اوکړو ۔ بیا حضرت جبرائیل علیه السلام د حضرتؐ خوا له راغے ۔ او سر ئے ښکته کړے وو د ګردونو نه او اوئے وئیل تاسوؐ خپل هتیار کیښودل او مونږ خو په الله جل جلا له قسم دے هتیار نۀ دے ایخودی ۔ ځیٔ د هغویٔ په طرف حضرتؐ اوفرمائیل چرته ۔ هغویٔ اشاره اوکړه د بنی قریظه په طرف بیا

او جنګیدو د هغوی سره رسول الله صلی الله علیه وسلم او هغوی د قلعه نه راکوز شود حضرت
په فیصله باندے راضی شو حضرت د هغوی فیصله په سعدٌ باندے کیښوده ۔ (ولے چه هغه
حلیف وو د سعدٌ) سعدٌ اووے زهٔ دا حکم کوم چه په دوی کښ کوم جنګ کولو والا دی هغه خو
د اووژلے شی او ښځے او بچی د ئے قیدیان شی ۔ او د هغوی مال د تقسیم شی ۔
ځکه چه سعدٌ زخمی وو ۔ او بغیر د مدد نه د هغه د خر نه کوزیدل ګران وو۔ او دا قیام د تعظیم
د پاره نهٔ وو۔ ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " مهٔ اودریږئ داسے لکه چه
د عجمو خلق اودریدل کوی " نووی وئیلی دی چه جمهور علماو دے لره په قیام تعظیمی
باندے محمول کړے دے او هغوی وئیلی دی چه د علماو او فضلاؤ د تعظیم د پاره اودریدل هر
کله چه هغوی راشی مستحب دی ۔ قاضی عیاضؒ وئیلی دی دا هغه قیام نهٔ دے کوم چه منع
دے بلکه منع هغه قیام دے چه یو سړے ناست وی او خلق د هغه مخے ته ولاړ وی د کومے پورے
چه هغه ناست وی ۔ (لکه چه د هند د امیرانو په دربار کښ کیږی) ۔
نوویؒ وئیلی دی که چرے راتلو والا خاوند د فضیلت وی نو د هغه په طرف اودریدل
مستحب دی ۔ او په دے باب کښ ډیر احادیث راغلی دی او د دے په ممانعت کښ یو ښکاره
حدیث نشته دے ۔ او ما دے مسئلے لره جدا په یوه رساله کښ بیان کړی دی (انتهی مختصراً)
(۴۵۹۹) عَنْ هِشَامٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ اَبِیْ فَاُخْبِرْتُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
لَقَدْ حَکَمْتَ فِیْهِمْ بِحُکْمِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ۔ [راجع:۴۵۹۸]
ترجمه : هشام رضی الله تعالیٰ عنه د خپل پلار (عروه) نه روایت کړے دے هغوی وائی ماته
خبر رارسیدلے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سعدٌ ته اوفرمائیل تا د بنی قریظه په باب
کښے هغه حکم ورکړو کوم چه د الله عزوجل حکم وو۔
(۴۶۰۰) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ سَعْدًا قَالَ تَحَجَّرَ کَلْمُهٗ لِلْبُرْءِ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ اِنَّکَ تَعْلَمُ
اَنَّهٗ لَیْسَ اَحَدٌ اَحَبَّ اِلَیَّ اَنْ اُجَاهِدَ فِیْکَ مِنْ قَوْمٍ کَذَّبُوْا رَسُوْلَکَ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَخْرَجُوْهُ
اَللّٰهُمَّ فَاِنْ کَانَ بَقِیَ مِنْ حَرْبِ قُرَیْشٍ شَیْءٌ اَبْقِنِیْ اُجَاهِدْهُمْ فِیْکَ اَللّٰهُمَّ فَاِنِّیْ اَظُنُّ اَنَّکَ قَدْ وَضَعْتَ
الْحَرْبَ بَیْنَنَا وَبَیْنَهُمْ فَاِنْ کُنْتَ وَضَعْتَ الْحَرْبَ بَیْنَنَا وَبَیْنَهُمْ فَافْجُرْهَا وَاجْعَلْ مَوْتِیْ فِیْهَا فَانْفَجَرَتْ مِنْ

لَبَّتِهِ فَلَمْ يَرُعْهُمْ وَفِي الْمَسْجِدِ خَيْمَةٌ مِنْ بَنِيْ غِفَارٍ إِلَّا وَالدَّمُ يَسِيْلُ إِلَيْهِمْ فَقَالُوْا يَا أَهْلَ الْخَيْمَةِ مَا هٰذَا الَّذِيْ يَأْتِيْنَا مِنْ قِبَلِكُمْ فَإِذَا سَعْدٌ جُرْحُهُ يَغِذُّ دَمًا فَمَاتَ : [راجع: ۴۵۹۸]

ترجمه : دمؤمنانو د مور حضرت عائشے رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے وائی د سعد بن معاذؓ زخم وچ شولو او بنـه کیـدونکے وو ـ هغویٰ دُعا اوکړه یا الله جل جلا له ته پوهه ئے چه ماتـه ستا په لاره کښے د جهاد کولو نه د هغه خلقو سره چا چه ستا د رسولؐ تکذیب کړے دے او راویستـونکے یو څیز زیات غوره نهٔ دے ـ یاالله جل جلا له کچرے د قریشو جنګ اوس هم باقی پاتے وی نـو مـا ژونـدے اوساتـه زهٔ بـه د هغویٰ سره جهاد کوم ـ یا الله جل جلا له زه دا ګنړم چه زمونږ او دَ هغویٰ جنګ تا ختم کړے دے ، کچرے داسے وی نو دا زخم کهولاؤ کړه او زما مرګ د دے نـه راوله ـ (دا آرزو ده د شهادت او دَ مرګ آرزو نهٔ ده کومه چه منع ده) بیا هغه زخم بهیـدل شروع شو د ګرَوی نه یا دَ څټ نه ـ پس په دغه شپه بهیدل شروع شو (دا هله ده چه په حدیث کښ مـن لیلـتـه وی قـاضـی عیـاض وائی دغه صحیح دے) او خلق نهٔ ویریدو مګر په جماعت کښ د هـغـویٰ سـره یوه خیمه وه دبنی غفار وینه د هغے په طرف بهیدله پس هغویٰ لووے اے د خیمے خلقو دا څه دی چه ستاسو د طرفنه رابهیږی (معلومه شوه چه د سعدؓ زخم بهیږی) آخر په دغه زخم کښے وفات شو . (اوالله تعالیٰ شهادت ورکړو) ـ

(۴۶۰۱) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَانْفَجَرَ مِنْ لَيْلَتِهِ فَمَا زَالَ يَسِيْلُ حَتّٰى مَاتَ وَزَادَ فِي الْحَدِيْثِ قَالَتْ فَذَاكَ حِيْنَ يَقُوْلُ الشَّاعِرُ .

أَلَا يَا سَعْدُ سَعْدَ بَنِيْ مُعَاذٍ — فَمَا فَعَلَتْ قُرَيْظَةُ وَالنَّضِيْرُ
لَعَمْرُكَ إِنَّ سَعْدَ بَنِيْ مُعَاذٍ — غَدَاةَ تَحَمَّلُوْا لَهُوَ الصَّبُوْرُ
تَرَكْتُمْ قِدْرَكُمْ لَا شَيْءَ فِيْهَا — وَقِدْرُ الْقَوْمِ حَامِيَةٌ تَفُوْرُ
وَقَدْ قَالَ الْكَرِيْمُ أَبُوْ حُبَابٍ — أَقِيْمُوْا قَيْنُقَاعَ وَلَا تَسِيْرُوْا
وَقَدْ كَانُوْا بِبَلْدَتِهِمْ ثِقَالًا — كَمَا ثَقُلَتْ بِمِيْطَانَ الصُّخُوْرُ

ترجمه :د دے حدیث د پورتـه حدیث پـه شان ده ـ خو په دے کښے دا ده چه زخم په دغه شپه جاری شـو او جاری وو تـر دے پورے چه هغه مرشو دومره زیاته ده چه شاعر په دے باب کښے دا

درې شعرونه ونیلي دي چه ترجمه ئې دا ده ـ اې سعده د معاذ ځویهٔ ـ قریظه او نضیر څه شول قسم دې ستا په عمر چه سعدهٔ په کوم سحر چه تا مصیبت او چتوؤ خاموش دې اې اوس (چه د قریظه خلفاء وو) تاسو خپله کټوئ خالي پریخوده او دَ قوم کټوئ (یعنی حزرج دَ دوئې قبیلې) گرمه ده ، ختکیږي ، نیك نفس ابو احباب (یعنی عبدالله بن ابیّ بن سلول منافق چه هغه پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د قینقاع د یهودو سفارش اوکړو او حضرتؐ د ده سفارش قبول کړو ـ) ونیلي دي اودریږئ قینقاع والو او مهٔ ځئ حالانکه هغه خلق په ښهر کښې داسې ذلیله وو لکه په میطان (دا دیو غر نوم دې) کښې چه گټې ذلیله دي ـ غرض د دې نه دا دې چه سعدؓ د بنی قریظه په سفارش باندې مستعد شي او هغوئ لره بیچ کړي ـ

﴿ بَابُ الْمُبَادَرَةِ بِالْغَزْوِ وَتَقْدِيمِ اَهَمِّ الْاَمْرَيْنِ الْمُتَعَارِضَيْنِ ﴾

په جهاد کښې جلتي کول او چه دوه کارونه ضروري وي نو کوم لره مخکښې کول

(۴۶۰۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَادىٰ فِيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ انْصَرَفَ عَنِ الْاَحْزَابِ اَنْ لَّا يُصَلِّيَنَّ اَحَدٌ الظُّهْرَ اِلَّا فِيْ بَنِيْ قُرَيْظَةَ فَتَخَوَّفَ نَاسٌ فَوْتَ الْوَقْتِ فَصَلُّوْا دُوْنَ بَنِيْ قُرَيْظَةَ وَقَالَ اٰخَرُوْنَ لَا نُصَلِّيْ اِلَّا حَيْثُ اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاِنْ فَاتَنَا الْوَقْتُ قَالَ فَمَا عَنَّفَ وَاحِدًا مِّنَ الْفَرِيْقَيْنِ . [بخاری]

ترجمه :د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دې وائي چه هر کله حضرتؐ د غزوهٔ احزاب نه واپس شو نو د حضرت منادي آواز اوکړو څوك به د ماسپخین مونځ نهٔ کوي تر څو چه د بني قریظه محلې ته نهٔ وي رسیدلي ـ ځنې خلق او ویریږ داسې نهٔ وي چه مونځ قضاء شي نو هغوئ هلته د رسیدو نه مخکښې ادا کړو لو ځنو لووې چه مونږ نهٔ کوؤ مګر چرته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم ورکړې دې اګر که مونځ قضاء شي ـ بیا حضرتؐ د دواړو ګروپونو نه د یو نه هم خفه نهٔ شولو ـ

فائده :نوويؒ ونیلي دي په یو روایت کښې دَ ماز یګر ذکر دې ، او جمع داسې دې چه دا

حکم ئے د ماسپخین د وخت راتلو نه پس ورکړو دغه وخت ځنے خلقو د ماسپخین مونځ لوستلے وو او ځنو نهٔ وولوستلے نو چا چه نهٔ وو لوستلے هغوئ ته حکم اوشو د ماسپخین مونځ په بنو قریظه کښے د لوستلو ۔ او چا چه لوستلے وو هغوی ته حکم اوشو چه دَ مازیګر مونځ به د هلته رسیدو په وخت ادا کړئ ۔ (انتهیٰ مختصراً)

﴿ بَابُ رَدِّ الْمُهَاجِرِيْنَ اِلَى الْاَنْصَارِ مَنَائِحَهُمْ مِنَ الشَّجَرِ وَالثَّمَرِ حِيْنَ اسْتَغْنَوْ عَنْهَا بِالْفُتُوْحِ ـ ﴾

انصارو چه څه مهاجرينو ته ورکړی وو هغه هغوئ ته واپس کيدل هر کله چه الله جل جلاله غنیان کړل مهاجرينو لره ۔

(۴۶۰۳) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُوْنَ مِنْ مَّكَّةَ الْمَدِيْنَةَ قَدِمُوْ وَلَيْسَ بِاَيْدِيْهِمْ شَيْئٌ وَّكَانَ الْاَنْصَارُ اَهْلَ الْاَرْضِ وَالْعَقَارِ فَقَاسَمَهُمُ الْاَنْصَارُ عَلٰى اَنْ اَعْطُوْ هُمْ اَنْصَافَ ثِمَارِ اَمْوَالِهِمْ كُلَّ عَامٍ وَّيَكْفُوْنَهُمُ الْعَمَلَ وَالْمَؤُوْنَةَ وَكَانَتْ اُمُّ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا وَهِيَ تُدْعٰى اُمُّ سُلَيْمٍ وَّكَانَتْ اُمُّ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا وَهِيَ تُدْعٰى اُمُّ سُلَيْمٍ وَّكَانَتْ اُمُّ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ اَبِيْ طَلْحَةَ كَانَ اَخًا لِاَنَسٍ لِّاُمِّهٖ وَكَانَتْ اَعْطَتْ اُمُّ اَنَسٍ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِذَاقًا لَّهَا فَاَعْطَاهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيْمَنَ مَوْلَاتَهٗ اُمَّ اُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَاَخْبَرَنِيْ اَنَسُ ابْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا فَرَغَ مِنْ قِتَالِ اَهْلِ خَيْبَرَ وَانْصَرَفَ اِلَى الْمَدِيْنَةِ رَدَّ الْمُهَاجِرُوْنَ اِلَى الْاَنْصَارِ مَنَائِحَهُمُ الَّتِيْ كَانُوْا مَنَحُوْهُمْ مِنْ ثِمَارِهِمْ قَالَ فَرَدَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى اُمِّيْ عِذَاقَهَا وَاَعْطٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وسلَّمَ اُمَّ اَيْمَنَ مكانهنّ مِنْ حَائِطِه. قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَكَانَ مِنْ شَاْنِ اُمِّ اَيْمَنَ اُمِّ اُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ اَنَّهَا كَانَتْ وَصِيْفَةً لِعَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَكَانَتْ مِنَ الْحَبَشَةِ فَلَمَّا وَلَدَتْ اٰمِنَةُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَا تُوُفِّيَ اَبُوْهُ فَكَانَتْ اُمُّ اَيْمَنَ تَحْضُنُهٗ حَتّٰى كَبِرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَعْتَقَهَا ثُمَّ اَنْكَحَهَا زَيْدَ ابْنَ حَارِثَةَ ثُمَّ تُوُفِّيَتْ بَعْدَ مَا تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَمْسَةِ اَشْهُرٍ.

[بخاری]

ترجمه :د انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے ۔ هر کله چه مهاجرین د مکے مکرمے نه مدینے طیبے ته راغلو نو هغوی خالی لاس وو او د انصارو سره زمکه او ونے وے (یعنی پټی هم وو او باغونه هم) نو انصارو په مهاجرینو خپل مال تقسیم کړلو ۔ په دے طریقه چه نیمه میوه به ئے هر کال هغوی ته ورکوله۔ او هغوی به کار او محنت کولو، دَ انس بن مالك مور چه د هغے نوم ام سلیم وو ، او هغه د عبدالله بن ابن طلحة هم مور وه ، چه دَ انس د مور ځوئ وو، هغوئ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خپله د کجورے یوه ونه ورکړه ۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ونه ام ایمن ته ورکړه چه د حضرتؐ آزاده کړے وینځه وه ۔ او دَ اسامه بن زید مور وه ، (د دے نه معلومه شو چه ام سلیم هغه ونه حضرت ته په مثل د هبے ورکړے وه او هغے صرف د میوے خوړلو د پاره ورکړے وه نو حضرت ام ایمن ته څنګه ورکړه) ابن شهاب وئیلی دي چه خبر راکړے دے ما لره انس بن مالك بیا چه هر کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د خیبر د جنګ نه اوزګار شولو او مدینے ته واپس شولو نو مهاجرینو انصارو ته د هغوی ورکړی څیزونه واپس کړل او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم څما مور ته د هغے ونه واپس ورکړه او ام ایمن ته ئے د هغے په ځائے د خپل باغ نه ورکړه ۔ ابن شهاب وئیلی دی ام ایمن چه دَ اسامه بن زید مور وه ، هغه د عبدالمطلب دَ ځوئ عبدالله وینځه وه ، (چه والد محترم وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم) لو هغه د حبشو وه ، هر کله چه آمنے رَسول الله صلی الله علیه وسلم او زیږوو د هغوی د پلار د وفات نه پس نو ام ایمن به هغوی له خوراك ورکولو، تر دے پورے چه حضرت لوئے شولو ، بیا حضرت هغوی لره آزاده کړله ، بیا ئے د هغوی نکاح د زید بن حارثة سره اوتړو ، او هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه پنځه میاشتے پس وفات شوه۔

فائده: یعنی د مساقات په طور باندے او څنو بغیر د محنت نه داسے هم قبوله کړه ، د دے حدیث نه د انصارو فضیلت ثابت شولو ، چه هغوی د خپلو رونړو مسلمانانو سره څنګه سلوك اوکړو ، او الله تعالیٰ دَ هغوی په شان کښں فرمائیلی دی " وَالَّذِيْنَ تَبَوَّءُ وا الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ ..... دآخره پورے۔

(۴۶۰۳) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اَنَّ رَجُلاً وَقَالَ حَامِدٌ وَابْنُ عَبْدِ الْاَعْلٰی اِنَّ الرَّجُلَ کَانَ یَجْعَلُ لِلنَّبِیِّ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ النَّخَلَاتِ مِنْ اَرْضِہٖ حَتّٰی فُتِحَتْ عَلَیْہِ قُرَیْظَۃُ وَالنَّضِیْرُ فَجَعَلَ بَعْدَ ذٰلِکَ یَرُدُّ عَلَیْہِ مَا کَانَ اَعْطَاہُ قَالَ اَنَسٌ وَاِنَّ اَھْلِیْ اَمَرُوْنِیْ اَنْ اٰتِیَ النَّبِیَّ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَاَسْئَلَہٗ مَا کَانَ اَھْلُہٗ اَعْطَوْہُ اَوْ بَعْضَہٗ وَکَانَ النَّبِیُّ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَدْ اَعْطَاہُ اُمَّ اَیْمَنَ فَاَتَیْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَاَعْطَانِیْھِنَّ فَجَاءَ تْ اُمُّ اَیْمَنَ فَجَعَلَتِ الثَّوْبَ فِیْ عُنُقِیْ وَقَالَتْ وَاللہِ لَا نُعْطِیْکَھُنَّ وَقَدْ اَعْطَانِیْھِنَّ وَقَالَ نَبِیُّ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ یَا اُمَّ اَیْمَنَ اُتْرُکِیْہِ وَلَکِ کَذَا وَکَذَا وَتَقُوْلُ کَلَّا وَالَّذِیْ لَآ اِلٰہَ اِلَّا ھُوَ فَجَعَلَ یَقُوْلُ کَذَا حَتّٰی اَعْطَاھَا عَشْرَۃَ اَمْثَالِہٖ اَوْ قَرِیْبًا مِّنْ عَشْرَۃِ اَمْثَالِہٖ. [بخاری]

ترجمه: د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه هر کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینے ته تشریف راؤړو نو چا به د خپلے زمکے وُنے حضرتؐ ته ورکولے ، تر دے پورے چه الله تعالیٰ فتح کړو قریظه او نضیر لره ، حضرتؐ شروع کړو واپس کول هر یو ته چه څه ئے ورکړی وو ، انسؓ وائی زما خلقو زۀ اولیږلم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے چه د هغویؓ نه اوغواړی هغه څه چه کوم زمونږ خلقو دویؐ ته ورکړی وو ، ټول یا لږ د هغے نه ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ام ایمن ته ورکړی وو ، پس زه د حضرتؐ خوا له راغلم او اوم غوښتلو حضرتؐ هغه ماته راکړو ، په دے کښ ام ایمنؓ راغله او هغے کپړه څما په غاړه کښ واچوله او راته ئے اووے چه قسم په خدائے زۀ خو هغه تا لره نۀ درکوم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل اے ام ایمنؓ ورئے کړه ده لره او زۀ به تاته دا درکړم او هغےؓ به دغه وینا کوله چه هیڅ کله ئے نۀ ورکوم په الله جل جلا له قسم دے چه دَ الله نه سوا بل معبود نشته دے حضرتؐ به ورته فرمائیلو پریږده زۀ به تاته دا درکړم دا درکړم تر دے پورے چه حضرتؐ ام ایمنؓ ته د هغه مال هومره لس حصے نورے یا هغے ته نزدے ورکړے ۔

﴿ بَابُ جَوَازِ الْاَکْلِ مِنْ طَعَامِ الْغَنِیْمَۃِ فِیْ دَارِ الْحَرْبِ ﴾

دغنیمت په مال کښے څېرے غله وی نو د هغے خوړل په دارالحرب کښے درست دی

(۴٦٠٥) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ مُغَفَّلٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَصَبْتُ جِرَابًا مِّنْ شَحْمٍ یَّوْمَ خَیْبَرَ قَالَ فَالْتَزَمْتُهٗ فَقُلْتُ لَآ اُعْطِیَ الْیَوْمَ اَحَداً مِّنْ هٰذَا شَیْئًا قَالَ فَالْتَفَتُّ فَاِذَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مُتَبَسِّمًا. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه:د عبدالله بن مغفلؓ نه روایت دے وائی چه ما د خیبر په ورځ د چربئ یوه تیلئ بیامونده او پټه مې کړه ، او اومې وئیل د دے نه خو زهٔ نن هیڅ له نهٔ ورکوم بیا چه مې شا طرفته لوکتل نو څه ګورم ، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (د دے په اوریدلو سره) نرئ خندا کوله ځما په دغه وینا کولو باندے ـ

فائده:قاضی عیاضؒ وئیلی دی ، اجماع کړے ده علماؤ چه دَ اهلِ حرب د خوړلو غله خوړل درست دی ـ د کومے پورے چه مسلمان په دارالحرب کښے وی په قدر د حاجت سره خواه که امام ورته اِجازت ورکړے وی یانهٔ ، مګر د زهریؒ په نز د اجازت اخستل ضروری دی مګر خرخول ئے د هیڅا په نزد روا نهٔ دی ، او کچرے خرڅ ئے کړی نو د هغے قیمت به د غنیمت په مال کښے شریکوی ـ

دغه شان په ځناور باندے سورلی کول کېږے اغوستل او په هتیار باندے کار کول په جنګ کښے درست دی ، د دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه اهلِ کتاب چه کوم ځناور حلال کړی د هغے چربی خوړل درست دی ، اګر چه چربی په یهودو باندے حرامه وه ، او دغه مذهب دے د مالکؒ او ابو حنیفهؒ او شافعیؒ او جمهورو عُلمَاؤ ، او دَ اشهبؒ او ابن قاسمؒ او ځنو حنابله ؤ په نزد حرام دی ـ

او دا هم معلومه شوه چه د اهل کتابو ذبحے صحیح دی لو په دے باندے د اسلام دَ خاوندانو اجماع ده ، سِوا د شیعه ؤ نه او زمونږ مذهب دا دے چه په هر شان د هغوئ ذبیحه درسته ده ، خواه که بسم الله اووائی یا اونهٔ وائی ، او د ځنو په نزد بسم الله وئیل ضروری دی لیکن کچرے هغه ئے د مسیح علیه السلام په نوم باندے حلال کړی یا د څه ګرجے په نوم نو هغه به حلال نهٔ وی زمونږ په نزد باندے ، او دغه جمهورو قول دے ـ (نوویؒ) ـ

(۴٦٠٦) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مُغَفَّلٍ یَقُوْلُ رُمِیَ اِلَیْنَا جِرَابٌ فِیْهِ طَعَامٌ وَّشَحْمٌ یَوْمَ خَیْبَرَ فَوَثَبْتُ لِاٰخُذَهٗ قَالَ

فالتفتُّ فاذا رسولُ اللهِ صلی اللہ علیه وسلم فاستحییتُ منه.

ترجمه: د عبدالله بن مغفل نه روایت دے چه ماته یوه تهیلئ چه پکښے غله وه او چربی وه د خیبر په ورځ چا را وغورځوله ما د هغے د حاصلولو د پاره منډے کړے بیا چه م اوکتل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ولاړ وو ماله د هغوی نه شرم راغے۔

عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ جِرَابٌ مِّنْ شَحْمٍ وَلَمْ يَذْكُرِ الطَّعَامَ.

ترجمه: د شعبه نه په دغه اسناد سره روایت دے علاوه د دے نه چه هغوی وئیلی دی د چربئ یوه تهیلئ او د طعام ذکر ئے نهٔ دے کړے۔

﴿ بَابُ كِتَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى هِرَقْلَ يَدْعُوْهُ اِلَى الْاِسْلَامِ ﴾

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خط بیان چه حضرت د شام بادشاه هرقل ته لیکلے وو د اسلام راوړو د پاره۔

(٤٦٠٧) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ اَبَا سُفْيَانَ اَخْبَرَهُ مِنْ فِيْهِ اِلٰى فِيْهِ قَالَ انْطَلَقْتُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِيْ كَانَتْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَبَيْنَا اَنَا بِالشَّامِ اِذْ جِيْئَ بِكِتَابٍ مِّنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى هِرَقْلَ يَعْنِيْ عَظِيْمَ الرُّوْمِ قَالَ وَكَانَ دِحْيَةُ الْكَلْبِيُّ جَآءَ بِهٖ فَدَفَعَهُ اِلٰى عَظِيْمِ بُصْرٰى اِلٰى هِرَقْلَ فَقَالَ هِرَقْلُ هَلْ هٰهُنَا اَحَدٌ مِّنْ قَوْمِ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ يَزْعُمُ اَنَّهُ نَبِيٌّ قَالُوْا نَعَمْ قَالَ فَدُعِيْتُ فِيْ نَفَرٍ مِّنْ قُرَيْشٍ فَدَخَلْنَا اِلٰى هِرَقْلَ فَجَلَسْنَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ اَيُّكُمْ اَقْرَبُ نَسَبًا مِنْ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ يَزْعُمُ اَنَّهُ نَبِيٌّ فَقَالَ اَبُوْ سُفْيَانَ فَقُلْتُ اَنَا فَاَجْلَسُوْنِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَاَجْلَسُوْا اَصْحَابِيْ خَلْفِيْ ثُمَّ دَعَا بِتَرْجُمَانِهٖ فَقَالَ لَهُ قُلْ لَهُمْ اِنِّيْ سَائِلٌ هٰذَا عَنِ الرَّجُلِ الَّذِيْ يَزْعُمُ اَنَّهُ نَبِيٌّ فَاِنْ كَذَبَنِيْ فَكَذِّبُوْهُ قَالَ فَقَالَ اَبُوْ سُفْيَانَ وَاَيْمُ اللهِ لَوْلَا مَخَافَةُ اَنْ يُّؤْثَرَ عَلَيَّ الْكَذِبُ لَكَذَبْتُ ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهٖ سَلْهُ كَيْفَ حَسَبُهُ فِيْكُمْ قَالَ قُلْتُ هُوَ فِيْنَا ذُوْ حَسَبٍ قَالَ فَهَلْ كَانَ مِنْ اٰبَائِهٖ مَلِكٌ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُوْنَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ اَنْ يَّقُوْلَ مَا قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ وَمَنْ يَّتْبَعُهُ اَشْرَافُ النَّاسِ اَمْ ضُعَفَآءُهُمْ قَالَ قُلْتُ بَلْ ضُعَفَآءُهُمْ قَالَ اَيَزِيْدُوْنَ اَمْ يَنْقُصُوْنَ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ يَزِيْدُوْنَ قَالَ هَلْ يَرْتَدُّ اَحَدٌ مِّنْهُمْ عَنْ دِيْنِهٖ بَعْدَ اَنْ يَّدْخُلَ فِيْهِ سَخْطَةً لَهُ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ

فهل قاتلتموه قلت نعم قال فكيف كان قتالكم إياه قال قلت تكون الحرب بيننا وبينه سجالا يصيب منا ونصيب منه قال فهل يغدر قلت لا ونحن منه في مدة لا ندري ما هو صانع فيها قال فوالله ما امكنني من كلمة ادخل فيها شيئا غير هذه قال فهل قال هذا القول احد قبله قال قلت لا قال لترجمانه قل له اني سئلتك عن حسبه فزعمت انه فيكم ذو حسب وكذالك الرسل تبعث في احساب قومها وسألت هل كان في آبائه ملك فزعمت ان لا قلت لو كان في آبائه ملك قلت رجل يطلب ملك آبائه وسئلتك عن اتباعه اضعفاؤهم ام اشرافهم فقلت بل ضعفاؤهم وهم اتباع الرسل وسئلتك هل كنتم تتهمونه بالكذب قبل ان يقول ما قال فزعمت ان لا فقد عرفت انه لم يكن ليدع الكذب على الناس ثم يذهب فيكذب على الله وسألتك هل يرتد احد منهم عن دينه بعد ان يدخله سخطة له فزعمت ان لا وكذالك الإيمان إذا خالط بشاشة القلوب وسألتك هل يزيدون ام ينقصون فزعمت انهم يزيدون وكذلك الإيمان حتى يتم وسألتك هل قاتلتموه فتكون الحرب بينكم وبينه سجالا ينال منكم وتنالون منه وكذلك الرسل تبتلى ثم يكون لهم العاقبة وسألتك هل يغدر فزعمت انه لا يغدر وكذلك الرسل لا تغدر وسئلتك هل قال هذا القول احد قبله فزعمت ان لا فقلت لو قال هذا القول احد قبله قلت رجل ن تم بقول قيل قبله قال ثم قال بم يأمركم قلت يأمرنا بالصلوة والزكوة والصلة والعفاف قال إن يكن ما تقول فيه حقا فانه نبي قد كنت اعلم انه خارج ولم اكن اظنه انه منكم ولو انى اعلم انى اخلص إليه لاحببت لقاءه ولو كنت عنده لغسلت عن قدميه وليبلغن ملكه ما تحت قدمي ثم دعا بكتاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فقراه فاذا فيه بسم الله الرحمن الرحيم من محمد الرسول الله صلى الله عليه وسلم إلى هرقل عظيم الروم سلام على من اتبع الهدى اما بعد فاني ادعوك بدعاية الإسلام اسلم تسلم يؤتك الله اجرك مرتين وإن توليت فإن عليك إثم الاريسيين ويا اهل الكتاب تعالوا إلى كلمة سواء بيننا وبينكم الا نعبد إلا الله ولا نشرك به شيئا الى قوله فقولوا اشهدوا بانا مسلمون فلما فرغ من قراءة الكتاب ارتفعت الاصوات عنده وكثر اللغط وامر بنا فاخرجنا قال قلت لاصحابي حين خرجنا لقد امر امر ابن ابي كبشة انه ليخافه ملك بني الاصفر قال فمازلت موقنا بامر رسول الله صلى الله عليه

وَسَلَّمَ اَنَّهُ سَيَظْهَرُ حَتّٰى اَدْخَلَ اللّٰهُ عَلَيَّ الْاِسْلَامَ ۔ [بخاری ، ابوداود ، ترمذی]

ترجمه :د عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه ابوسفیانؓ هغویؓ ته خله په خله بیان کړے دے چه زهٔ په هغه موده کښې کومه چه زما او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مینځ کښې راغلی وه (یعنی د صلحه حدیبیې موده چه په سنه ٦ هجری کښې شوے وه) روان شوم زهٔ د شام په ملك کښې وم ، چه په دے کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خط مبارك هرقل ته چه د روم بادشاه وو را اورسیدو ، او دحیه کلبی رضی الله تعالیٰ عنه هغه کتاب یعنی خط راوړے وو ، پس هغویٔ د بصرے رئیس هرقل له ورکړو او دَ بصریٰ رئیس هرقل ته ورکړو هرقل اووے دلته څوك شته د دغه سړی د قوم کوم چه د پیغمبریٔ دعوه کړے ده ؟ خلقو اووے هان ، ابوسفیانؓ وائی چه زهٔ را اوغوښتے شوم او نور څو سړی د قریشو راسره وو ، مونږه د هرقل خوا ته اورسیدو ، هغه مونږ په خپل مخ کښې کیښنولو او تپوس ئے رانه اوکړو چه پتاسو کښې کوم یو زیات نزدے دے په رشته کښې هغه کس ته چه هغه خپل ځان ته پیغمبرؐ وئیلے دے ؟ ابوسفیانؓ اووے زهٔ (هرقل دا تپوس ځکه اوکړو چه څوك ورته په نسب کښې زیات نزدے وی هغه ته به د نورو نه زیات د هغویٔ حال بنه معلوم وی) بیا زهٔ د هرقل مخے ته کینولے شوم او زما ملګری ځما نه شانه کښینولے شو، د دے نه پس هغویٔ خپل ترجمان را اوغوښتو (چه هغه به د بل ملك د خلقو په ژبه بادشاه لره پوهه کؤو) او هغه ته ئے اووے ، دے خلقو ته اووایه چه زهٔ د دے سړی نه (یعنی ابوسفیانؓ) نه د هغه سړی د حال تپوس کوم چه هغهؐ خپل ځان ته پیغمبرؐ وئیلے ، پس کچرے دے (یعنی ابوسفیان) دروغ وائی نو د ده دروغ ماته ښکاره بیانوئ ، ابوسفیانؓ وائی په الله جل جلاله قسم دے کچرے زما دا ویرهٔ نه وے چه دا خلق به زما دروغ ښکاره کړی (او زهٔ به رسوا شم) نو ما به دروغ وئیلی وے (ولے چه ځما د حضرتؐ سره دشمنی وه) بیا هرقل خپل ترجمان ته اووے ، د ده نه تپوس اوکړه چه د هغه سړی (یعنی محمد صلی الله علیه وسلم) حسب څه دے (یعنی خاندان)ابوسفیانؓ وائی ما اووے چه د هغه حسب خو په مونږ کښې ډیر غوره دے ، هرقل اووے دَ هغویٔ په پلار نیکه کښې څوك بادشاه تیر شوے دے ما اووے نهٔ ، هرقل اووے چرته تا د هغویٔ نه دروغ وئیل اوریدلی دی د دے دعوے نه مخکښې (

یعنی د نبوت د دعوے نه) ما اووے نۀ هرقل اووے ښه نودَ هغهٔ ملګرتیا غټان خلق کوی او که غریبانان ؟ ما اووے غریبانان ، هرقل اووے د هغوئ تابعدار زیاتیږی او که کمیږی ؟ ما اووے زیاتیږی ، بیا هرقل اووے د هغوئ په تابعدارو کښ چرته څوك د هغوئ د دین د قبلولو نه پس ورته دین بد ښکاره شوے او واپس شوے دے ؟ ما اووے نۀ ، هرقل اووے تا د هغوئ سره جنګ هم کړے دے ؟ ما اووے ها ں ، هرقل اووے ستاسو د هغوئ سره څنګه جنګ شوے دے (یعنی څوك غالب راځی) ما اووے زمونږ او د هغوئ جنګ د بوقو پشان کله اخوا کله دیخوا کیږی (لکه د کوهی بوقه چه په اوبو راوستلو کښے یو ے غاړے او بَلے غاړے له ځی دغه شان کله زمونږ او کله دَ هغوئ فتح وی) هغه زمونږ نقصان کوی او مونږ د هغوئ نقصان کؤو ، هرقل اووے هغوئ اقرار لره مَاتوی ؟ ما اووے نۀ ، خو اوس د یو ے مدے دَ پاره زمونږه او د هغوئ په مینځ کښے اقرار شوے دے ګورو چه هغوئ په دے کښ څه کوی ، (یعنی آئنده کیدے شی چه وعده خلافی اوکړی) ابوسفیانؓ اووے قسم په خدائے چه ماته د خپل طرف نه په بل یو باب کښے د څه فقرے لګولو موقعه میلاؤ نۀ شوه سوا د دے خبرے نه (چه ما په دے کښ د عداوت په وجه دا خبره زیاته کړه چه دا اوس چه کومه د صلح موده مقرر شوے دے کیدے شی چه په دے کښ وعده خلافی اوکړی) هرقل اووے د دے مخکښ هم (د دوئ په قوم یا ملك کښے) چا د پیغمبرئ دعوه کړے وه ؟ مااووے نۀ ، بیا هرقل خپل ترجمان ته اووے تۀ دے سړی یعنی ابوسفیانؓ ته اووایه چه ماستا نه د هغوئ د حسب او نسب تپوس اوکړو نو تا اووے چه د هغوئ نسب ډیر بهتر دے ، اود پیغمبرانو دغه قاعده ده چه هغوئ همیشه د خپل قوم په اوچتو خاندانونو کښے پیدا شوی دی ، بیا ما ستا نه تپوس اوکړو چه د دوئ په پلار نیکه کښ څوك بادشاه تیر شوے دے ؟ تا اووے نۀ ، او دا تپوس م څکه اوکړو چه کچرے د ده په پلار او نیکه کښے څوك بادشاه وے نو دا ګمان به کیدے شو چه د خپلو بزرګانو سلطنت غواړی ، او ما ستا نه تپوس اوکړو چه د ده ملګرتیا کولو والا غټان خلق دی یا غریبانان ؟ نو تا اووے غریبانان ، او همیشه (د هر چا مخکښ) د پیغمبرانو ملګرتیا هم دغه غریبو خلقو کړے ده (ولے چه مالدارانو ته د چا په فرمانبرداریٔ کولو سره شرم ورځی او غریبانانو ته نۀ ورځی ،) او ما ستا نه

تپوس اوکړو چه د نبوت د دعوے نه مخکښے تاسو چرته په هغوئ کښے دروغ لیدلی دی، تا اووے نۀ، د دے نه مَا دا خبره معلومه کړه، چه هر کله هغوئ په خلقو باندے د دروغو طوفان نۀ تړی نو په الله جل جلا له باندے څنګه دروغ اوتړی (چه په دروغه دعوه به اوکړی) او ستا نه ما تپوس اوکړو چه څوك د هغوئ په دین کښں د راتلو نه پس ئے دغه دین بد ګنړلے او واپس شوے دے؟ تا اووے نۀ، او د ایمان دغه حال دے چه کله زړۀ ته راشی نو په خوشحالئ سره پکښے ځائے اونیسی، او ما ستا نه تپوس اوکړو چه د هغوئ پیروکاران زیاتیږی یا کمیږی تا اووے هغوئ زیاتیږی، او دغه د ایمان حال دے د دغه وخته پورے چه پوره شِی، (بیا د کمال نه پس که کمیږی نو قباحت نۀ دے) او ما ستا نه تپوس اوکړو چه تاسو د هغوئ سره جنګیږئ نو تا اووے مونږ جنګیږو او زمونږ او د هغوئ جنګ برابر دے د ډول په شان چه کله دیخوا هغوئ ستاسو نقصان کوی او تاسو آخوا د هغوئ نقصان کوئ، او دغه شان ازمائش راځی په پیغمبرانو باندے (د دے د پاره چه هغوئ ته د صبر او تکلیف اجر میلاؤ شی، او د هغوئ د پیروکارانو درجے اوچتے شی) بیا په آخر کښں هم هغوئ غالب راځی، او ماستانه تپوس اوکړو چه هغوئ دهوکه کوی؟ تا اووے هغوئ دهوکه نۀ کوی، او هم دغه حال دے د پیغمبرانو چه هغوئ دهوکے نۀ کوی (یعنی عهد شکنی) او ما ستا تپوس اوکړو چه د دے نه مخکښں هم چا د نبوت دعوه کړے ده، تا اووے نه، دا ما د دے د پاره تپوس اوکړو چه کچرے د دوئ نه چا مخکښں دا دعوه کړے وے نو ګمان کیدے شو چه دۀ هم د هغوئ پیروی کړے وی، بیا هرقل اووے هغوئ تاسو ته د کومو خبرو حکم کوی، ما اووے هغوئ حکم کوی د مانځه لوستلو او زکات ورکولو او د خپلوانو سره ښه سلوك کولو او د بدو خبرو نه د بچ کیدلو هرقل اووے کچرے د هغوئ هم دغه حال وی کوم چه تاسو بیان کړو، نو بیشکه هغوئ پیغمبرؐ دے، او زۀ پوهه وُم (دَ وړاندِ کتابونو په لوستو سره) چه دا پیغمبرؐ به پیدا کیږی، لیکن زما دا خیال نۀ وو چه هغهَ به ستاسو خلقو کښں پیدا کیږی، او کچرے ماته دا پته وے چه زۀ به د هغوئ پورے اورَسَمُ نو ما د هغوئ سره میلاویدل غوره کولو، (د بخاری په روایت کښے دی چه زه به په هر شان میلاویدم محنت او مشقت به م برداشت کړو،) او کچرے زۀ د هغوئ خپے وینځلے، او

البته د هغوئ حکومت تر دے ځائے پورے به راشي په کوم ځائے کښې اوس ځما دواړه خپے دي.
بيا هرقل د رسول الله صلى الله عليه وسلم خط را اوغوښتو او هغه ئے اولوستو او په هغے کښې
دا ليکلي وو چه " شروع کوم دَ نوم د الله پاك نه چه لوئے مهربانه او رحم والادے ، دَ محمد
رسول الله صلى الله عليه وسلم د طرفنه دِ هرقل ته معلومه وي چه د روم بادشاه دے ، سلام دِ
وي په هغه چا باندے چه دَ هدايت پيروي کوي ، ورستو د دے نه زهٔ تا ته هدايت درکوم چه
مسلمان شه نو سلامت به پاتے شي (يعني ستا حکومت او روح او عزت به دِ تول سلامت او په
حفاظت کښے پاتے شِي) مسلمان شه الله جل جلا له به تاته دو چند ثواب درکړي ، او کچرے تهٔ
نهٔ منے نو په تا باندے به وبال شي دَ اريسيين اے اهل کتابو ! اومَنئ يوه خبره چه هغه نيغه او
صفا ده زمونږه او ستاسو په مينځ کښ چه بندگي بَه نهٔ کؤو د الله تعالىٰ نه سِوا د بل هيچا ، او
شريك بَه نه گرځوؤ د الله جل جلا له شانه سره هيچا لره ، دَ آخر ايته پورے .... هر کله چه
هرقل د دے خط د لوستو نه اوزګار شو نو د خلقو آوازونه اوچت شو او بك بك ډير شو او مونږ
بهر راوويستلے شو ، ابوسفيانؓ وائي ما خپلو ملګرو ته اووے ، دَ ابو کبشه دَ ځوئے درجه ډير
مخکښے شوله ، د دوئ نه د بني اصفر بادشاه ويريږي ابوسفيانؓ وائي د هغه ورځے نه ځما يقين
وو چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به کاميابيږي ، او غالب به راځي ، تر دے پورے چه الله
جل جلا له زهٔ هم مسلمان کړمه -

فائده : هرقل په کسر دَ ها او فتح دَ را او سکون د قاف سره نوم وو ، دَ روم د بادشاه او
خطاب د هغه قيصر دے ، او ځنو هرقل په کسر دَ ها او په سکون د را او په کسر د قاف وئيلے دے
، او جوهري په صحاح کښ دغه نقل کړے دے ، بصرى په ضم د با سره يو ښهر دے د شام او دَ
حجاز په مينځ کښے ، بلکه دَ هرقل دا خيال وو چه کيدے شي په بني اسرائيلو کښے پيدا وي ،
لکه نور پيغمبران چه ډير په بني اسرائيلو کښ پيدا دي ، يا د شام په ملك کښ پيدا وي يا په بل
دولت مند او ذي علم قوم کښ په دغه زمانه کښے د عربو قوم نهٔ مالدار وو نهٔ ذي علم ، او نورو
قومونو به د عربو خلقو ته د عزت په نظر سره نه کتل ، د هغوئ سِوا د لوټ مار کولو او په
خپل مينځ کښے د جنګ جدل کولو نه بل کار نهٔ وو -

آخر الله جل جلا له خپل قدرت لره ښودل اوغوښتو او په يو داسے قوم کښں ئے حضرتؑ لره پيدا کړو چه چرته د چا گمان هم نهٔ وو دا يو لوئے دليل دے د حضرتؑ د نبوّت او د الله تعالیٰ د قدرت يـوه لويه نښه ده ، يعني کوم خلق چه ما تلو ته نهٔ پرېږدی ، بلکه د داسے اِرادے کولو سره ما منع کوی ، او څما دَ وژلو په فکر کښے وی ورنه زهٔ به خامخا د هغویٰ سره ملاقی شوے وَم ـ

اِمام نوویؒ وائی دا عذر د هغه درست نهٔ وو ، بلکه هغه بادشاهی او حکومت غوره کړو او دين اسلام ئے اختيار نهٔ کړو ، نوویؒ وائی د دے کتاب نه ډيرے داسے فائدے وتلی دی ، يو خو کافرانو لره د جنگ نه وړانډِ د اسلام دعوت ورکول ، او دا هله واجب دی کچرے هغویٰ ته دَ اسلام دعوت رسيدلے نهٔ وی ، او کچرے رسيدلے وی نو بيا مستحب دے دوباره دعوت ورکول ـ

دويم دا چه په خبرِ واحد باندے عمل واجب دے ځکه چه دحيهٔ يو سړی هغه خط وړے وو ، او په دے باندے اجماع ده ـ

دريم دا چه د کتاب شروع کول د بسم الله نه مستحب دی او د حمدِ الٰهی نه هُم ذِکرِ الٰهی مراد دے ـ

څلورم دا چه په خط کښں رومبے د کاتب نوم ليکل بيا د مکتوب اليه نوم ليکل مسنون دی ، او په دے مسئله کښے اختلاف دے ليکن د اکثر علماؤ دغه قول دے چه رومبی کاتب لره خپل نوم ليکل مستحب دی ، او يو جماعت مخکښے د مکتوب اليه د نوم ليکلو اجازت هم ورکړے دے ، او زيد بن ثابتؓ د معاويه په خط کښں رومبے د معاويه نوم ليکلے وو ، او په لفافه باندے به د مکتوب اليه نوم داسے ليکلے " الی فلان " او په القابو کښے به افراط تفريط نهٔ کوی ، ولے چه حضرت صلی الله عليه وسلم هرقل ته صرف د روم رئيس ليکلے وو او زياته مبالغه ئے دَ هغه په تعريف کښے نهٔ وه کړے ، انتهیٰ مختصراً ـ

دا حضرتؑ خپل امت ته طريقه اوښودَله چه په کافرانو باندے په دے طريقه سره سلام کوئ ـ د دے د پاره چه په حقيقت کښں په هغویٰ باندے سلام نهٔ وی ـ او هغویٰ ته سلام معلومېږی ـ دغه شان که په يو مجلس کښے کافر او مسلمانان دواړه موجود وی او هلته يو مسلمان راشی نو داسے د وائی " سَلَامٌ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰی ".

د بخاري په روايت کښې " يريسيين دې او د دې په معنیٰ کښې اختلاف دې - بعضې وائي مراد د دې نه زميندار او رعايا دي - يعنې کچرې ته مسلمان نۀ شوې نو ستا په وجه رعايا هم نه مسلمانيږي ، او د دې تولو گناه به هم ستا په سر باند باريږي -

او د بيهقي په روايت کښ صفا د اکارين لفظ موجود دې ، چه دَ هغې معنیٰ دغه دَ مزلرعين ده - او بعضو وئيلي دي مراد ترې يهود او نصٰري دي - چه د عبدالله بن اريس پيروکار دي - او اروسيه دغه طرفته منسوب دي - او بعضې وائي د اريسيين نه مراد هغه بادشاه دې چه هغه خلقو له د غلط مذهب په طرف راغواړي - او څنې وائي اريسيين په بني اسرائيلو کښ هغه خلق وو کومو چه خپل پيغمبرؑ وژلے وو - والله اعلم (نوويؒ مع زيادة)

دا ابو سفيان حضرت صلی الله عليه وسلم ته اووې - ابن ابی کبشه يو سړې وو په عربو کښ چه د هغه مذهب د نورو عربو نه خلاف وو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم له ئې مشابهت ورکړو د هغه سړي سره چه د حضرتؐ مذهب هم د هغوئ نه خلاف وو ، او څنو وئيلي دي ابو کبشه د حضرت د مور پلار وو - او څنو وئيلي دي د حضرتؐ د پيُو پلار وو (يعنی حَارث بن عبدالعزیٰ) او دائې ورته د دشمنئ نه اووې په دې واسطه چه د حضرتؐ په اصل نسب کښې هغه ته د طعن کولو څه موقع نۀ وه -(نوويؒ) بنو اصفر د روم نصٰریٰ دي اصفر وئيلے شي زيړ ته يو ځل حبشي په روميانو باندې غالب شول او د هغوئ نه ئې اولاد اوشو نو د حبشيانو تور والے او د روم د خلقو سپين والے يو ځائے شو او د زيړ رنګ بچي ترې پيدا شول - او ابو اسحٰق وئيلي دي چه اصفر نوم دې د اصفر بن روم بن عيصوبن اسحاق عليه السلام بن ابراهيم عليه السلام د هغوئ په اولاد کښ او بنو الزرقا هم هغوئ ته وئيلے شي ولې چه دَ هغوئ سترګې اکثر شنې وي -

(۳۶۰۸) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَزَادَ فِي الْحَدِيْثِ وَكَانَ قَيْصَرُ لَمَّا كَشَفَ اللّٰهُ عَنْهُ جُنُوْدَ فَارِسَ مَشٰى مِنْ حِمْصَ اِلٰى اِيْلِيَاءَ شُكْرًا لِّمَا اَبْلَاهُ اللّٰهُ تَعَالٰى وَقَالَ فِي الْحَدِيْثِ مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ وَقَالَ اِثْمُ الْيَرِيْسِيِّيْنَ وَقَالَ بِدَاعِيَةِ الْاِسْلَامِ. [راجع:۳۶۰۷]

ترجمه: د دې هم هغه ده کومه چه پورته تيره شوه) دومره قدرې زياته ده چه قيصر هر کله چه د

ایران فوج لره الله جل جلاله شکست ورکړو نو د حمص نه ایلیا (یعنی د بیت المقدس) په طرف لاړو ۔ دَ دغه فتح د شکر ویستلو د پاره او په خط کښې دا دی چه د محمدؐ د الله جل جلاله د بنده او د هغه د رسولؐ د طرفنه اودَ اریسیین په بدله یریسیین دے او دعایة په بدله داعیه دے یعنی راغوارم زه تا لره دَ داعیه اسلام په طرف او هغه د توحید کلمه ده ۔

﴿ باب کُتُبِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلٰی مُلُوْکِ الْکُفَّارِ یَدْعُوْهُمْ اِلَی الْاِسْلَامِ ﴾

د رسول الله صَلی اللّٰه عَلیه وسلم خط دکافر بادشاهانو په طرف داسلام په دعوت کښې

(۴۶۰۹) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَتَبَ اِلٰی کِسْرٰی وَاِلٰی قَیْصَرَ وَاِلَی النَّجَاشِیِّ وَاِلٰی کُلِّ جَبَّارٍ یَدْعُوْهُمْ اِلَی اللّٰهِ وَلَیْسَ بِالنَّجَاشِیِّ الَّذِیْ صَلّٰی عَلَیْهِ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ. [ترمذی]

ترجمه: دَ انس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کِسریٰ او قیصر او نجاشی او هر یو حاکم ته اولیکل ، او د الله تعالیٰ طرفته ئے را اوغوښتل هغویٰ لره ۔ او دا نجاشی هغه نۀ وو په کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنازے مونځ لوستلے وو۔

فائده: نوویؒ وئیلی دی کسریٰ به ئے هر یو د فارس بادشاه ته وئیلو او قیصر به ئے د روم بادشاه ته وئیلو او نجاشی به ئے د حبشو بادشاه ته ۔ او خاقان به ئے ترکی بادشاه ته او فرعون به ئے د قبط بادشاه ته ۔ او عزیز به ئے د مصر بادشاه ته او تبع به ئے د حمیر بادشاه ته ، او فغفور به ئے د چین بادشاه ته او زارا به ئے د روس بادشاه ته وئیلو ۔ (انتهی مع زیادة)

(۴۶۱۰) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ وَلَمْ یَقُلْ وَلَیْسَ بِالنَّجَاشِیِّ الَّذِیْ صَلّٰی عَلَیْهِ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَلَمْ یَذْکُرْ بِالنَّجَاشِیِّ الَّذِیْ صَلّٰی عَلَیْهِ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه : دا روایت هم د انس رضی الله تعالیٰ عنه د پورته روایت په شان دے مگر په دے کښې داسے نشته دے چه دا نجاشی هغه نجاشی نۀ وو په کوم چه حضرت صلی الله علیه وسلم د جنازے مونځ کړے وو۔

﴿باب غزوة حنين﴾

دجنګ حنين بيان

(٤٦١٢) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالىٰ عَنْهُ شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَلَزِمْتُ اَنَا وَاَبُوْ سُفْيَانَ ابْنُ الْحَارِثِ ابْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ نُفَارِقْهُ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلىٰ بَغْلَةٍ لَهُ بَيْضَاءَ اَهْدَاهَا لَهُ فَرْوَةُ ابْنُ نُفَاثَةَ الْجُذَامِيُّ فَلَمَّا الْتَقَى الْمُسْلِمُوْنَ وَالْكُفَّارُ وَلَّى الْمُسْلِمُوْنَ مُدْبِرِيْنَ فَطَفِقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكُضُ بَغْلَتَهُ قِبَلَ الْكُفَّارِ قَالَ عَبَّاسٌ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالىٰ عَنْهُ وَاَنَا اٰخِذٌ بِلِجَامِ بَغْلَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَكُفُّهَا اِرَادَةَ اَنْ لَّا تُسْرِعَ وَاَبُوْ سُفْيَانَ اٰخِذٌ بِرِكَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيْ عَبَّاسُ نَادِ اَصْحَابَ السَّمُرَةِ فَقَالَ عَبَّاسٌ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالىٰ عَنْهُ وَكَانَ رَجُلاً صَيِّتًا فَقُلْتُ بِاَعْلىٰ صَوْتِيْ اَيْنَ اَصْحَابُ السَّمُرَةِ قَالَ فَوَاللّٰهِ لَكَاَنَّ عَطْفَتَهُمْ حِيْنَ سَمِعُوْا صَوْتِيْ عَطْفَةُ الْبَقَرِ عَلىٰ اَوْلَادِهَا فَقَالُوْا يَا لَبَّيْكَ يَا لَبَّيْكَ قَالَ فَاقْتَتَلُوْا الْكُفَّارَ وَالدَّعْوَةُ فِي الْاَنْصَارِ يَقُوْلُوْنَ يَامَعْشَرَ الْاَنْصَارِ يَا مَعْشَرَ الْاَنْصَارِ قَالَ ثُمَّ قُصِرَتِ الدَّعْوَةُ عَلىٰ بَنِي الْحَارِثِ ابْنِ الْخَزْرَجِ قَالُوْا يَابَنِي الْحَارِثِ ابْنِ الْخَزْرَجِ يَابَنِي الْحَارِثِ ابْنِ الْخَزْرَجِ فَنَظَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلىٰ بَغْلَتِهِ كَالْمُتَطَاوِلِ عَلَيْهَا اِلىٰ قِتَالِهِمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا حِيْنَ حَمِيَ الْوَطِيْسُ قَالَ ثُمَّ اَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَصَيَاتٍ فَرَمىٰ بِهِنَّ وُجُوْهَ الْكُفَّارِ ثُمَّ قَالَ انْهَزَمُوْا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَذَهَبْتُ اَنْظُرُ فَاِذَا الْقِتَالُ عَلىٰ هَيْئَتِهِ فِيْمَآ اَرىٰ قَالَ فَوَاللّٰهِ مَاهُوَ اِلَّا اَنْ رَمَاهُمْ بِحَصَيَاتِهِ فَمَا زِلْتُ اَرىٰ حَدَّهُمْ كَلِيْلاً وَاَمْرَهُمْ مُدْبِرًا.

ترجمه : د عباس بن عبدالمطلب رضی الله تعالیٰ عنه نه روايت دے ، زۀ د حنين (دا يوه صحرا ده په مينځ د مکے او د طائف کښې د عرفات نه لرے) په ورځ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره موجود وم ـ نو زه او ابوسفيان بن حارث بن عبدالمطلب (دَ حضرتٌ د تره ځوئ) دواړه دَ حضرتٌ سره يو ځائے پاتے شو او جدا نۀ شولو ـ او حضرتٌ په يو سپين قچر باندے سور وو چې هغه فروه بن نفاثه جذامی حضرتٌ ته په تحفه کښې ورکړے وو (چه هغے ته به ئے شهباء او دَل

دَل هم ونیلو) هر کله چه کافران او مسلمانان یو بل ته مخامخ شولو۔ نو مسلمانان په شا اوتختیدو او رسول الله صلی الله علیه وسلم پونده ورکوله خپل قچر لره د کافرو په طرف د تلو د پاره (دا د هغویٔ د بهادرئ کمال وو چه په داسے سخت وخت کښے په قچر باندے سور وو ورنه اسونه هم موجود وو) حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه وائی ما د حضرتؐ د خچر واګے نیولے وے او هغه مِ دَ تیز تللو نه منع کولو ۔ او ابو سفیان د حضرتؐ رِکاب نیولے وو ۔ آخر جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اے عباسؓ اصحابِ سمره ته چغه کړه ۔ او د عباسؓ آواز ډیر اوچت وو (هغویٔ چه به د شپے غلامانو ته آواز اوکړو نو د اته ؤ میلو پورے به اوریدے شو) عباسؓ وائی ما په اوچت آواز سره چغه کړه چه اصحابِ سمره چرته دی د دے په اوریدو سره په الله جل جلا له قسم دے هغویٔ داسے واپس شو لکه څنګه چه غوا د خپلو بچو خوا له په منډه راځی ۔ او اوئے ونیل حاضر دی حاضر دی ۔ (د دے نه معلومه شوه چه هغه لرے نهٔ وو تختیدلی او نهٔ ټول تختیدلی وو بلکه څنے نوی مسلمانان وغیره دفعتا د غشو د باران نه واپس شو او کریر جوړ شو بیا الله تعالیٰ د مسلمانانو زړونه مضبوط کړل او بیا ئے د کافرانو سره جنګ شروع کړو او انصارو لره ئے داسے رااوغوښتل اے د انصارو خلقو! اے دَ انصارو خلقو! بیا تمام شو رابلل په بنی حارث بن حزرج رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل قچر باندے وو څټ لره اوږد کړے شوے ۔ حضرتؐ اوکتل د هغویٔ جنګ ته او اوے فرمائیل " دا وخت دے د تنور ډِ جوش " (یعنی دا وخت جنګ ښه په ګرمه ګرمئ سره روان دے) بیا حضرتؐ یو څو ګیټئ را اوچتے کړے او د کافرو په مخ ئے اوویشتے او اوئے فرمائیل شکست اوموندو کافرانو قسم مِ دوی د محمدؐ په رَب جل جلا له باندے ۔

حضرت عباس رضی الله عنه تعالیٰ عنه وائی زهٔ د لیدو د پاره وراغلم نو جنګ هم هغسے شروع وو ۔ په دے کښ په الله جل جلا له قسم دے چه حضرتؐ ګیټئ او ویشتے نو څه ګورم چه د کافرو زور ختم شو ۔ او د هغویٔ کار الټه شولو۔

فائده : د دے نه دا معلومه شوه چه د مشرکانو تحفه اخستل درست دی خو په بَل حدیث کښ دی چه موږ نهٔ اخلو د مشرکانو تحفه او په یو روایت کښ دی چه حضرتؐ د

مشرکانو هدیه واپس ورکړه ، او صحیح دا ده چه حضرتﷺ لره هدیه اخستل درست وو بل چا عامل لره درست نهٔ دی . بلکه هغه غلا ده . او دَ اهلِ کتابو دغه هدیه حضرت قبوله اوفرمائیله ، لکه د مقوقس او ملوکِ شام .

نووی وئیلی دی قاضی او عامل اګر که حرامه هدیه واخلی نو بیا دِ ئے هغه ورکړی او کچرے دَ ورکونکی پته نهٔ لګی نو په بیت المال کښ دِ هغه هدیه داخله کړی . په صحیح بخاری کښے دی چه دغه قچر حضرتﷺ ته دَ ایله بادشاه ورکړے وو چه د هغه نوم یحنه بن رَدیا وو، سمره یوه ځنګلی وُنه ده . او دَ اصحاب سمره نه هغه خلق مراد دی چه هغویٌ د شجره رضوان یعنی د رضوان دَ وُنے لاندِ د حضرتﷺ نه بیعت کړے وو . چه د کافرانو سره به په جنګ کښے مره شو خو هیڅکله به او نهٔ تښتو .

نووی رحمه الله وائی دلته د حضرتﷺ نه دوه معجزے ښکاره شوے یوه فعلی او بله خبری . فعلی خو ئے ګیټی او ویشتے او په هغے سره کافرانو ته شکست اوشو . خبری دا چه بیان کول د وړاندِ نه یعنی د مخکښے نه چه کافرانو ته به شکست وی . او دغه شان اوشوه حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه وائی زهٔ د لیدو د پاره لاړم نو جنګ هغه شان کیدلو . په دے کښ په الله قسم دے چه حضرتﷺ ګیټی اوویشتلے نو څه ګورم چه د کافرانو زور کم شو او د هغوی کار التہ شولو .

(۴۶۱۳) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهٗ غَیْرَ اَنَّهٗ قَالَ فَرْوَةُ ابْنُ نُعَامَةَ الْجُذَامِیُّ وَقَالَ انْهَزَمُوْا وَرَبِّ الْکَعْبَةِ انْهَزَمُوْا وَرَبِّ الْکَعْبَةِ وَزَادَ فِی الْحَدِیْثِ حَتّٰی هَزَمَهُمُ اللّٰهُ قَالَ وَکَاَنِّیْ اَنْظُرُ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَرْکُضُ خَلْفَهُمْ عَلٰی بَغْلَتِهٖ.

ترجمه: د دے هم د پورته حدیث په شان ده .

(۴۶۱۴) عَنِ الْعَبَّاسِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنْتُ مَعَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ حُنَیْنٍ وَسَاقَ الْحَدِیْثَ غَیْرَ اَنَّ حَدِیْثَ یُوْنُسَ وَحَدِیْثَ مَعْمَرٍ اَکْثَرُ مِنْهُ وَاَتَمُّ.

ترجمه: د دے هم هغه ده کومه چه پورته تیره شوه .

(۴۶۱۵) عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلْبَرَآءِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَا اَبَا عُمَارَةَ اَفَرَرْتُمْ یَوْمَ حُنَیْنٍ قَالَ

لَا وَاللهِ مَا وَلّٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلٰکِنَّهٗ خَرَجَ شُبَّانُ اَصْحَابِهٖ وَاَخِفَّاءُ هُمْ حُسَّرًا لَیْسَ عَلَیْهِمْ سِلَاحٌ اَوْ کَثِیْرُ سِلَاحٍ فَلَقُوْا قَوْمًا رُمَاةً لَا یَکَادُ یَسْقُطُ لَهُمْ سَهْمٌ جَمْعَ هَوَازِنَ وَبَنِیْ نَصْرٍ فَرَشَقُوْهُمْ رَشْقًا مَا یَکَادُوْنَ یُخْطِئُوْنَ فَاَقْبَلُوْا هُنَاکَ اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ علی بَغْلَتِهِ الْبَیْضَآءِ وَاَبُوْ سُفْیَانَ ابْنُ الْحَارِثِ ابْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْدُ بِهٖ فَنَزَلَ فَاسْتَنْصَرَ قَالَ اَنَا النَّبِیُّ لَا کَذِبْ اَنَا بْنُ عَبْدِالْمُطَّلِبِ ثُمَّ صَفَّهُمْ. [بخاری]

ترجمه : دَ ابو اسحٰق نه روایت دے وائی چه یو سړی براء بن عازبؓ ته اووے اے ابوعمارهؓ تاسو د حنین په ورځ اوتښتیدئ۔ هغوئ اووے نهٔ۔ په الله قسم دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته نهٔ ده شا کړے مگر د هغوئ دَ اصحابو نه څو ځوانان تادی کونکی د چا سره چه وسله نهٔ وه۔ یا پوره اسلحه نهٔ وه اووتل د هغوئ مقابله د داسے غشو ویشتونکو سره راغله چه د هغوئ یو غشے نهٔ تللو هغه خلق د هوازن او بنو نضر (قبیلے) نه وو، عرض دا چه هغوئ په یو ځائے د غشو به خطا نه لګیدو هغه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا له راغے حضرتؐ په سپین قچر باندے سور وو نود قچر نه راکوز شولو، او د الله جل جلاله نه د مدد دُعائے اوغوښته، حضرتؐ اوفرمائیل۔ اَنَا النَّبِیُّ لَا کَذِبْ اَنَا بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ یعنی زهٔ نبیٔ یم دا دروغ نهٔ دی زهٔ د عبدالمطلب ځوئ یم بیا حضرتؐ صفونه اوتړل د خپلو خلقو۔

فائده :نوویؒ وئیلی دی دا رجز موزون دے مگر هر موزون ته شعر نهٔ شی وئیلے د کومے پورے چه د هغے د ویونکی اراده د شعر نهٔ وی او د دے د پاره ځنے موزون فقرے په قرآن مجید کښ موجود دی لکن لن تنالوالبر حتّٰی تُنْفِقُوْا یا نَصْرٌ مِّنَ اللهِ وَفَتْحٌ قَرِیْبٌ یا وَیَرْزُقْه من حیث لا یَحْتَسِبُ . حالانکه دا شعر نهٔ وی۔

او حضرتؐ خپل ځان ته د عبدالمطلب ځوئ اووے ځکه چه عبدالمطلب مشهور سړے وو او عربو به حضرتؐ ته د هغه ځوئ وئیلو۔ د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه په جنګ کښے داسے وئیل درست دی۔ لکه چه سلمه وئیلی دی۔ انا بن الاکوع او حضرت علی کرم الله وجهه وئیلی دی انا الذی سمتنی امی حیدره۔ او بغیر د جنګ نه په طور د فخر وئیل منع دی۔ (انتهٰی مختصرا)

(۴۶۱۶) عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ اِلَی الْبَرَآءِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَكُنْتُمْ وَلَّيْتُمْ يَوْمَ حُنَيْنٍ يَااَبَا عُمَارَةَ قَالَ اَشْهَدُ عَلٰی نَبِیِّ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ مَا وَلّٰی وَ لٰكِنَّهُ انْطَلَقَ اَخِفَّآءُ مِنَ النَّاسِ وَحُسَّرٌ اِلٰی هٰذَا الْحَیِّ مِنْ هَوَازِنَ وَهُمْ قَوْمٌ رُمَاةٌ فَرَمَوْهُمْ بِرِشْقٍ مِنْ نَّبْلٍ كَاَنَّهَا رِجْلٌ مِّنْ جَرَادٍ فَانْكَشَفُوْا فَاَقْبَلَ الْقَوْمُ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبُوْ سُفْيَانَ ابْنُ الْحَارِثِ يَقُوْدُ بِهٖ بَغْلَتَهٗ فَنَزَلَ وَدَعَا وَاسْتَنْصَرَ وَهُوَ يَقُوْلُ اَنَا النَّبِیُّ لَا كَذِبْ اَنَا عَبْدُ الْمُطَّلِبْ اَللّٰهُمَّ نَزِّلْ نَصْرَكَ قَالَ الْبَرَآءُ كُنَّا وَاللّٰهِ اِذَا احْمَرَّ الْبَاْسُ نَتَّقِیْ بِهٖ وَاِنَّ الشُّجَاعَ مِنَّا لَلَّذِیْ يُحَاذِیْ بِهٖ يَعْنِی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه :د حضرت ابواسحاقؒ نه روایت دے یو سړے د براء بن عازبؓ خوا له راغے او اوئے وئیل د حنین په ورځ تاسو تختیدلی وئ اے ابوعماره ! هغویؓ اووے زهٔ ګواهي ورکوم په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے چه حضرتؐ مخ نهٔ دے اړولے ۔ لیکن څو تنه تادی کونکی خلق بے هتیاره د هوازن د قبیلے په طرف لاړو هغه تیر انداز وو هغوئ یو باران اوکړو د غشو لکه دَ ملخانو تپه نو دا خلق د مخے نه لړے شو ۔ نور خلق د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا له راغے ۔ ابوسفیان بن حارث د حضرتؐ قچر لره رابنکودو ۔ حضرتؐ د قچر نه راکوز شو او دُعائے اوکړه او مدد ئے اوغوښتو او حضرتؐ فرمائیلو " زه نبی یم دا دروغ نهٔ دی زهٔ د عبدالمطلب څوئے یَم یا الله جل جلا له خپل مدد راولیږه براء وائی قسم دے په الله جل جلا له باندے چه هر کله خونخوار جنګ اونختو نو مونږ به خپل ځان بچ کوؤ د حضرتؐ په خواه کښی ۔ او بهادر په مونږ کښی هغه وو چه مخامخ به ورتلو په جنګ کښی یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ۔

(۴۶۱۷) عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَآءَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَسَاَلَهٗ رَجُلٌ مِّنْ قَيْسٍ هَلْ فَرَرْتُمْ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ الْبَرَآءُ وَلٰكِنْ رَّسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَفِرَّ وَكَانَتْ هَوَازِنُ يَوْمَئِذٍ رُمَاةً وَاِنَّا لَمَّا حَمَلْنَا عَلَيْهِمُ انْكَشَفُوْا فَاَكْبَبْنَا عَلَی الْغَنَآئِمِ فَاسْتَقْبَلُوْنَا بِالسِّهَامِ وَلَقَدْ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَغْلَتِهِ الْبَيْضَآءِ وَاِنَّ اَبَا سُفْيَانَ ابْنَ الْحَارِثِ اٰخِذٌ بِلِجَامِهَا وَهُوَ يَقُوْلُ اَنَا النَّبِیُّ لَا كَذِبْ اَنَا ابْنُ عَبْدِالْمُطَّلِبْ. [بخاری]

ترجمه :د حضرت ابواسحقؒ نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی د براء نه د هغویؓ نه د قیس (قبیلے) یو سړی تپوس اوکړو ایا تاسو تختیدلی وئ د حنین په ورځ او رسول الله صلی الله

علیه وسلم مو یواځې پریخودې وو. براء اووې خو رسول الله صلی الله علیه وسلم نهٔ وو تختیدلې. داسې اوشوه چه د هوازن قبیلې خلق په دغه ورځو تیر انداز وو. او مونږ چه هر کله په هغوئ حمله اوکړه نو هغوئ اوتختیدل او مونږ د لوټ په مال باندې راښکته شو پس هغوئ غشی اوچلول، ما رسول الله صلی الله علیه وسلم لره اولیدو په خپله سپینه قچره باندې. او ابوسفیان بن حارث د هغې واګې نیولې وې او حضرت دا فرمائیلو زهٔ نبیّ یم څه دروغ نهٔ دی او زهٔ ځوئې یم د عبدالمطلب.

(۴۶۱۸) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ لَهٗ رَجُلٌ يَااَبَا عُمَارَةَ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ وَهُوَ اَقَلُّ مِنْ حَدِيْثِهِمْ وَهٰؤُلَآءِ اَتَمُّ حَدِيْثًا. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: د دې حدیث هم د پورته حدیث پشان ده.

(۴۶۱۹) عَنْ اِيَاسِ ابْنِ سَلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ حُنَيْنًا فَلَمَّا وَاجَهْنَا الْعَدُوَّ تَقَدَّمْتُ فَاَعْلُوْ ثَنِيَّةً فَاسْتَقْبَلَنِيْ رَجُلٌ مِّنَ الْعَدُوِّ فَاَرْمِيْهِ بِسَهْمٍ فَتَوَارٰى عَنِّيْ فَمَا دَرَيْتُ مَا صَنَعَ وَنَظَرْتُ اِلَى الْقَوْمِ فَاِذَا هُمْ قَدْ طَلَعُوْا مِنْ ثَنِيَّةٍ اُخْرٰى فَالْتَقَوْهُمْ وَصَحَابَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَلّٰى صَحَابَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَرْجِعُ مُنْهَزِمًا وَعَلَيَّ بُرْدَتَانِ مُتَّزِرًا بِاِحْدٰهُمَا مُرْتَدِيًا بِالْاُخْرٰى فَاسْتَطْلَقَ اِزَارِيْ فَجَمَعْتُهُمَا جَمِيْعًا وَّمَرَرْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْهَزِمًا وَهُوَ عَلٰى بَغْلَتِهِ الشَّهْبَآءِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ رَاٰى ابْنُ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَزَعًا فَلَمَّا غَشُوْا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ عَنِ الْبَغْلَةِ ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً مِّنَ الْاَرْضِ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ بِهٖ وُجُوْهَهُمْ فَقَالَ شَاهَتِ الْوُجُوْهُ فَمَا خَلَقَ اللهُ مِنْهُمْ اِنْسَانًا مَلَاَ عَيْنَيْهِ تُرَابًا بِتِلْكَ الْقَبْضَةِ فَوَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ فَهَزَمَهُمُ اللهُ بِذٰلِكَ قَسَمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَائِمَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ.

ترجمه: د ایاس بن سلمهٔ نه روایت دې وائی چه ځما پلار سلمه بن اکوع ماته بیان کړې دې، چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د حنین جهاد کولو. هر کله چه دَ دشمن سره مخامخ شو نو زهٔ مخکښې شوم او په یو کنډو باندې اوختم، یو سړې دَ دشمنانو نه ځما مخې له راغې ما په یو غشی اوویشتو پس هغه غائب شو زما نه معلومه نهٔ ده چه څه شو ما چه خلقو ته اوکتل نو په دویم کنډو کښې ښکاره شول. او دَ دوئ او د نبی صلی الله علیه وسلم د اصحابو

جنګ شروع شو ۔ لیکن اصحابوٌ شکست اوخوړو او ما هم شکست اوخوړو او واپس شوم ، او ما دوه څادرے اغوستے وے یو م ترلے وو او بل م پسر کړے وو ۔ زما تهبند کهولاؤ شو نو ما دواړه څادرونو لره یو ځائے کړل او شکست موندلے د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښے تیر شو مَه ۔ حضرتؐ اوفرمائیل چه د اکوع ځوئے ګهبراؤ شوے واپس شولو ۔ بیا دشمنان د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چاپیره شو ۔ حضرتؐ دَ قچر نه کوز شو او یو موټے خاورے ئے د زمکے نه را اوچتے کړے او د هغوئ په مخ ئے اوویشتے او اوئے فرمائیل وران شول مخونه د دوئ ، بیا یو سړے په هغوئ کښے داسے پاتے نۀ وو چه د هغوئ سترګے د خاورو نه ډکے شوے نۀ وے ، د هغه یو موټی خاورو د وجے نه آخر هغوئ اوتختیدل ، او الله تعالیٰ هغوئ له شکست ورکړو او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوئ مال په مسلمانانو باندے تقسیم کړو ۔

فائده : هم دغے ته الله تعالیٰ فرمائی " وما رمیت اذ رمیت ولکن الله رمی " یعنی تا دا خاورے نۀ دی غورځولے بلکه الله تعالیٰ غورځولی دی ولے چه دا معجزه ده او معجزه دَ الله تعالیٰ فعل دے چه د نبیؐ په لاسونو ئے ظاهره وی ۔

﴿ بَابُ غَزْوَةِ الطَّائِفِ ﴾

دطائف دجنګ بیان

(۴۶۲۰) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالیٰ عَنْهُمَا قَالَ حَاصَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَهْلَ الطَّآئِفِ فَلَمْ یَنَلْ مِنْهُمْ شَیْئًا وَقَالَ اِنَّا قَافِلُوْنَ اِنْشَاءَ اللهُ قَالَ اَصْحَابُهُ نَرْجِعُ وَلَمْ نَفْتَحْهُ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اغْدُوْا عَلَی الْقِتَالِ فَغَدَوْ عَلَیْهِ فَاَصَابَهُمْ جِرَاحٌ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّا قَافِلُوْنَ غَداً قَالَ فَاَعْجَبَهُمْ ذٰلِکَ فَضَحِکَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ.

[بخاری]

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے (او په ځنو نسخو کښے عبدالله بن عمرو دے چه دَ عاص ځوئ دے) وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ طائف والاؤ نه محاصره اوکړه او د هغوئ نه ئے څه حاصل نۀ کړو ۔ نو حضرتؐ اوفرمائیل مونږ به واپس لاړ شو که الله جل جلا له غواړی ۔ د هغوئ اصحابو اووے ۔ بغیر دَ فتح نه به مونږ

واپس څو، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل " بنه ده سحر له اوجنګیږئ، پس وجنګیدل او زخمی شولو" حضرت اوفرمائیل مونږ به صبا له واپس څو. دا هغوئ ته غوره معلومه شوه نو حضرت اوخندل.

فائده: چه پرون خو په واپس تللو باندې راضی نهٔ وو. او په جنګ باند مستعد وو. هر کله چه زخمی شول نو واپس تلل ئې غوره اوګنړل او دومره زر ئې رائې بدل شولو.

﴿ باب غزوة بدر ﴾

دبدر دغزا بیان

(۳۶۲۱) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاوَرَ حِيْنَ بَلَغَهُ اِقْبَالُ اَبِىْ سُفْيَانَ قَالَ فَتَكَلَّمَ اَبُوْ بَكْرٍ فَاَعْرَضَ عَنْهُ فَقَامَ سَعْدُ ابْنُ عُبَادَةَ فَقَالَ اِيَّانَا تُرِيْدُ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِهٖ لَوْ اَمَرْتَنَا اَنْ نُّخِيْضَهَا الْبَحْرَ لَا خَضْنَاهَا وَلَوْ اَمَرْتَنَا اَنْ نَّضْرِبَ اَكْبَادَهَآ اِلٰى بَرْكِ الْغُمَادِ لَفَعَلْنَا قَالَ فَنَدَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ فَانْطَلَقُوْا حَتّٰى نَزَلُوْا بَدْرًا وَوَرَدَتْ عَلَيْهِمْ رَوَايَا قُرَيْشٍ وَّفِيْهِمْ غُلَامٌ اَسْوَدُ لِبَنِى الْحَجَّاجِ فَاَخَذُوْهُ فَكَانَ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْاَلُوْنَهٗ عَنْ اَبِىْ سُفْيَانَ وَاَصْحَابِهٖ فَيَقُوْلُ مَالِىْ عِلْمٌ بِاَبِىْ سُفْيَانَ وَلٰكِنْ هٰذَا اَبُوْ جَهْلٍ وَّعُتْبَةُ وَشَيْبَةُ وَاُمَيَّةُ ابْنُ خَلَفٍ فَاِذَا قَالَ ذٰلِكَ ضَرَبُوْهُ فَقَالَ نَعَمْ اَنَا اُخْبِرُكُمْ هٰذَا اَبُوْ سُفْيَانَ فَاِذَا تَرَكُوْهُ فَسَاَلُوْهُ فَقَالَ مَالِىْ بِاَبِىْ سُفْيَانَ عِلْمٌ وَلٰكِنْ هٰذَا اَبُوْ جَهْلٍ وَّعُتْبَةُ وَشَيْبَةُ وَاُمَيَّةُ ابْنُ خَلَفٍ فِى النَّاسِ فَاِذَا قَالَ هٰذَا اَيْضًا ضَرَبُوْهُ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَآئِمٌ يُصَلِّىْ فَلَمَّا رَاٰى ذٰلِكَ انْصَرَفَ وَقَالَ وَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِهٖ لَتَضْرِبُوْهُ اِذَا صَدَقَكُمْ وَتَتْرُكُوْهُ اِذَا كَذَبَكُمْ قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ وَّيَضَعُ يَدَهٗ عَلَى الْاَرْضِ هٰهُنَا قَالَ فَمَا مَاتَ اَحَدُهُمْ عَنْ مَّوْضِعِ يَدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مشوره اوکړه هر کله چه حضرت ته دَ ابوسفیان د راتلو خبر اورسیدو، نو حضرت ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه ګفتګو اوکړه. حضرت جواب ورنهٔ کړو. بیا حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه خبرے اوکړے بیا هم حضرت مخاطب نهٔ شولو. آخر سعد بن عبادةؓ (د انصارو مشر پاڅیدو) او

عرض ئے اوکړو تاسو زمونږ نه تپوس کوئ یا رسول الله! قسم دوی په هغه ذات د چا په لاس کښے چه ځما روح دے کچرے تاسو مونږ ته حکم اوکړئ چه خپل اسونه سمندر ته اوغورځوئ نو مونږ به ئے ضرور غورځوو۔ کچرے تاسو مونږ ته حکم اوکړی چه خپل اسونه لوز غلوئ د برك الغماد پورے (چه د مکے نه لرے یو مقام دے) البته مونږ به ئے ضرور اوز غلوو ۔ (یعنی مونږ په هره طریقه ستا د حکم تابعداریو ۔ ولے مونږ ستاسو سره دا وعده نۀ ده کړے آفرین د وی د انصارو په قربانئ باندے) پس رسول الله صلی الله علیه وسلم خلق را اوغوبنتلو او لاړو ۔ تر دے پورے چه په بدر کښے کوز شو هلته د قریشو اوبو ځښلولو والا میلاو شو په هغے کښ یو تور غلام د بنی حجاج هم وو ۔ اصحابوّ هغه اونیوو او د هغه نه ئے دَ ابوسفیانّ او هغه د ملګرو د حال تپوس کولو ۔ هغه وئیلو چه ماته د ابوسفیان حال معلوم نۀ دے البته ابوجهل لو عتبه او شیبه او امیه بن خلف خو دا موجود دی هر کله چه به هغه دا وئیل نو بیا ئے هغه وهلو او هر کله چه به هغه دا اووے چه ښه ښه د ابوسفیان حال درته وایَم نو بیا به ئے پریخودو ، بیا چه به ئے ترینه تپوس اوکړو هغه به بیا اووے زهٔ دَ ابوسفیان د حال نه خبر نۀ یَم البته ابوجهل او عتبه او شیبه او امیه بن خلف خو په خلقو کښے موجود دی ، بیا ئے هغه لره وهلو او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مونځ کولو چه اودریدو ، هر کله چه ئے دا (وهل) اولیدو نو د مانځه نه فارغ شو او اوئے فرمائیل ! " قسم دے په هغه ذات چه د هغه په لاس کښے ځما روح دے ، هر کله چه هغه تاسو ته رښتیا وائی نو تاسو هغه لره وهئ ، او کله چه دروغ وائی نو تاسو ئے پریږدئ " (دا یوه معجزه شوه د حضرتؐ) بیا حضرتؐ اوفرمائیل دا د فلانی کافر د مر کیدو ځائے دے او لاس ئے په زمکه باندے کیښودو دا ځائے (او دا د فلانی د غورځیدو ځائے دے) راوی وائی بیا چه کوم ځائے حضرتؐ لاس ایخودے وو د هغے نه لږ شان هم فرق نۀ وو راغلے ، او هر یو کافر هم په هغه ځائے باندے غورځیدلو دا دویمه معجزه شوله .

﴿ بَابُ فَتْحِ مَكَّةَ ﴾

د مکې د فتح کیدو بیان

(۴۶۲۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ وَفَدْتُ وَفُوْدًا اِلٰی مُعَاوِیَةَ وَذٰلِکَ فِیْ رَمَضَانَ فَکَانَ

يَصْنَعُ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ الطَّعَامَ فَكَانَ أَبُوهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ مِمَّا يُكْثِرُ أَنْ يَدْعُوَنَا إِلٰى رَحْلِهِ فَقُلْتُ أَلَا أَصْنَعُ طَعَامًا فَأَدْعُوهُمْ إِلٰى رَحْلِي فَأَمَرْتُ بِطَعَامٍ يُصْنَعُ ثُمَّ لَقِيتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ مِنَ الْعَشِيِّ فَقُلْتُ الدَّعْوَةُ عِنْدِي اللَّيْلَةَ فَقَالَ سَبَقْتَنِي قُلْتُ نَعَمْ فَدَعَوْتُهُمْ فَقَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَلَا أُعْلِمُكُمْ بِحَدِيثٍ مِنْ حَدِيثِكُمْ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ ثُمَّ ذَكَرَ فَتْحَ مَكَّةَ فَقَالَ أَقْبَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى قَدِمَ مَكَّةَ فَبَعَثَ الزُّبَيْرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَلٰى إِحْدَى الْمُجَنِّبَتَيْنِ وَبَعَثَ خَالِدًا رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَلَى الْمُجَنِّبَةِ الْأُخْرٰى وَبَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ عَلَى الْحُسَّرِ فَأَخَذُوا بَطْنَ الْوَادِي وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كَتِيبَةٍ قَالَ فَنَظَرَ فَرَآنِي فَقَالَ أَبُوهُرَيْرَةَ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا يَأْتِينِي إِلَّا أَنْصَارِيٌّ زَادَ غَيْرُ شَيْبَانَ فَقَالَ اهْتِفْ لِي بِالْأَنْصَارِ قَالَ فَأَطَافُوا بِهِ وَوَبَّشَتْ قُرَيْشٌ أَوْبَاشًا لَهَا وَأَتْبَاعًا فَقَالُوا نُقَدِّمُ هٰؤُلَاءِ فَإِنْ كَانَ لَهُمْ شَيْءٌ كُنَّا مَعَهُمْ وَإِنْ أُصِيبُوا أَعْطَيْنَا الَّذِي سُئِلْنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَوْنَ إِلٰى أَوْبَاشِ قُرَيْشٍ وَأَتْبَاعِهِمْ ثُمَّ قَالَ بِيَدَيْهِ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى ثُمَّ قَالَ حَتّٰى تُوَافُونِي بِالصَّفَا قَالَ فَانْطَلَقْنَا فَمَا شَاءَ أَحَدٌ مِنَّا أَنْ يَقْتُلَ أَحَدًا إِلَّا قَتَلَهُ وَمَا أَحَدٌ مِنْهُمْ يُوَجِّهُ إِلَيْنَا شَيْئًا قَالَ فَجَاءَ أَبُوسُفْيَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أُبِيحَتْ خَضْرَاءُ قُرَيْشٍ لَا قُرَيْشَ بَعْدَ الْيَوْمِ ثُمَّ قَالَ مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِي سُفْيَانَ فَهُوَ آمِنٌ فَقَالَتِ الْأَنْصَارُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ أَمَّا الرَّجُلُ فَأَدْرَكَتْهُ رَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ وَرَأْفَةٌ بِعَشِيرَتِهِ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَجَاءَ الْوَحْيُ وَكَانَ إِذَا جَاءَ الْوَحْيُ لَا يَخْفٰى عَلَيْنَا فَإِذَا جَاءَ فَلَيْسَ أَحَدٌ يَرْفَعُ طَرْفَهُ إِلٰى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى يَنْقَضِيَ الْوَحْيُ فَلَمَّا قَضَى الْوَحْيُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالُوا لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ قُلْتُمْ أَمَّا الرَّجُلُ فَأَدْرَكَتْهُ رَغْبَةٌ فِي قَرْيَتِهِ قَالُوا قَدْ كَانَ ذٰلِكَ قَالَ كَلَّا إِنِّي عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ، هَاجَرْتُ إِلَى اللهِ وَإِلَيْكُمْ فَالْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ وَالْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَبْكُونَ وَيَقُولُونَ وَاللهِ مَا قُلْنَا الَّذِي قُلْنَا إِلَّا الضِّنَّ بِاللهِ وَرَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ وَرَسُولَهُ يُصَدِّقَانِكُمْ وَيَعْذِرَانِكُمْ قَالَ فَأَقْبَلَ النَّاسُ إِلٰى دَارِ أَبِي سُفْيَانَ وَأَغْلَقَ النَّاسُ أَبْوَابَهُمْ فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى أَقْبَلَ إِلَى الْحَجَرِ فَاسْتَلَمَهُ ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ قَالَ فَأَتٰى عَلٰى صَنَمٍ إِلٰى جَنْبِ الْبَيْتِ كَانُوا يَعْبُدُونَهُ قَالَ وَفِي يَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْسٌ وَهُوَ آخِذٌ

بِسِيَةِ الْقَوْسِ فَلَمَّا اَتٰى عَلَى الصَّنَمِ جَعَلَ يَطْعُنُهُ فِيْ عَيْنِهِ وَيَقُوْلُ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ طَوَافِهِ اَتَى الصَّفَا فَعَلَا عَلَيْهِ حَتّٰى نَظَرَ اِلَى الْبَيْتِ وَرَفَعَ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَحْمِدُ اللّٰهَ وَيَدْعُوْ مَاشَآءَ اَنْ يَّدْعُوَ.

ترجمه :د حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے ، څو جماعتونو سفر اوکړو دَ معاویهٔ خوا له لاړو د رمضان شریف په میاشته کښې ۔ عبدالله بن رباح وائی (چه د ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت کوی دے حدیث لره) په مونږ کښې به یو دَ بل دَ پاره غله تیارَوُله ، نو ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه به اکثر مونږ را اوغوښتو خپل ځائے ته ، یو ورځ ما اووے ۔ زهٔ هم غله تیاره وُم او تول به خپل ځائے ته راغواړم ، نو ما د غلے حکم ورکړو او ماښام ته د ابو هریرهٔ سره میلاؤ شوم ۔ او ورته مِ اووے نن شپه به زما سره میلمستیا وی حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه اووے ۔ تا ځما نه مخکښې اووے ۔ (یعنی نن زهٔ دعوت کولو والا وم) ما اووے هلو ! بیا ما هغویٔ تول را اوغوښتو حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه اووے اے د انصارو ګروپه ! زهٔ ستاسو په باب کښې یو حدیث بیانوم بیا هغویٔ د فتح مکے ذکر اوکړو د دے نه پس ئے اووے رسول الله صلی الله علیه وسلم راغے تر دے پورے چه په مکه کښې داخل شو نو په یو طرف باندے زبیرؓ لره اولیږو او په بل طرف باندے ئے خالد بن ولید لره اولیږو (یعنی یو ئے په میمنه کړو او بل ئے په میسره) او ابو عبیده ابن الجراح رضی الله تعالیٰ عنه لره ئے د دغه خلقو سردار مقرر کړو ، د چاسره چه زغرے نهٔ وے هغه د کنډوپه دننه طرف لاړو ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه ټکړه کښې وو ، حضرتؐ چه زهٔ اولیدم نو اوئے فرمائیل " ابُو هُرَیره " ما اووے حَاضِرِ یَمْ یَا رَسُوْلَ اللهِ ! حضرتؐ اوفرمائیل "نهٔ راځی ځما خوا له مګر انصاریؓ " او اوئے فرمائیل انصارو ته آواز اوکړه ځما د پاره ولے چه د حضرتؐ په انصارو باندے ډیر اعتماد وو ، او هغویٔ ته د مکے والاؤ نه هیڅ غرض هم نهٔ وو ، حضرتؐ دَ هغویٔ په خواه کښې ساتل مناسب ګڼړل ۔ بیا هغویٔ تول د حضرتؐ نه چاپیره شول ، او قریشو هم خپل ګروپ او تابعدار جمع کړل او اوئے وئیل مونږ دویٔ لره مخکښې کوؤ ، کچرے څه میلاؤ شو نو مونږ هم دَ دویٔ سره یُو ۔ او که آفت راشی نو ورکوؤ به ئے مونږ څه چه غوښتلے شی حضرتؐ اوفرمائیل تاسو وینیٔ د قریشو جماعتونو او تابعدارو لره ۔ بیا حضرتؐ د یو لاس نه په بل لاس باند اوښودل ۔ (یعنی

وژنئ د مکے کافرانو لره او د دوئ نه یو هم پرینږدئ) او اوئے فرمائیل تاسو میلاویږئ څما سره په صفا باندے . حضرت ابو هریرهٔ وائی بیا مونږ روان شو چا چه به زمونږ نه چا (کافر) لره وژل غوښتو هغه به ئے وژلو او هیچا زمونږ مقابله نهٔ کوله . تر دے پورے چه ابوسفیان راغے او اوئے وئیل یَا رَسُوْل اللهٔ ! د قریشو گروپ تباه شولو اوس به د نن نه بعد قریش نهٔ وی . رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل کوم سړے چه دَ ابوسفیانؓ کور ته داخل شو هغه په امن دے . (دا حضرتؐ د ابوسفیان په درخواست باندے هغه له د عزت ورکولو د پاره اوفرمائیل) انصارو د یو بل سره اووے چه دہ ته (یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته) د خپل وطن محبت راغے او په خپل خاندان والاؤ باندے ئے مینه راغله . ابو هریره رضی الله عنه وائی او وحی نازلیدل شروع شو هر کله چه به وحی راتلل شروع شو نو مونږ ته به معلومه شوه . هر کله چه به وحی نازلیدله نو چا به خپلے سترگے د حضرتؐ په طرف نهٔ اوچتولے . تر دے پورے چه وحی به ختم شوه . غرض دا چه هر کله وحی ختم شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اے د انصارو تولیه . هغوئ اووے حَاضِر یو یَارَسول اللهٔ ! حضرتؐ اوفرمائیل (دا معجزه ده) تاسو دا اووے چه دے سړی ته د خپل کلی محبت راغے . هغوئ اووے بیشکه دا خو مونږ وئیلی دی حضرتؐ اوفرمائیل هیڅ کله نهٔ زهٔ د الله جل جلا له بنده یَمُ او د هغه جل جلا له رَسولؐ یَمُ (لو څه چه تاسو اووے هغه ماته په وحی سره معلوم شولو . خو ما هم د دغه الله خاص بنده اوگنړئ (نصارئ و چه څنګه عیسی علیه السلام ته لوئی ورکړے داسے ماته رانهٔ کړئ) هجرت م کړے د الله جل جلا له په طرف او ستاسو په طرف اوس څما ژوند او مرگ ستاسو سره دے . د دے په اوریدو انصارو په ژړا مندے کړے او اوئے وئیل قسم په خدائے مونږ چه څه وئیلی دی صرف الله جل جلا له ته او دَ هغه رسولؐ ته مو حرص کړے دے (یعنی زمونږ مطلب دا وو چه تاسو زمونږه ملگرتیا پرینږدئ او زمونږ په ښهر کښے پاتے شئ) رَسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل " بیشکه الله جل جلا له او رسولؐ تصدیق کوی ستاسو او ستاسو عذر قبلوی . بیا خلق د ابوسفیان کور ته لاړو (د ځان بچ کولو د پاره) او خلقو دروازے بندے کړلے . او رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ حجر اسود خوا له تشریف راؤړو او ښکل ئے کړو بیا ئے د خانه کعبه

طواف اوکړو (اګر چه حضرتؐ په احرام کښې نهٔ وو ولې چه د هغوئؐ په سر باندې د وسپنې توپئ وه) بیا د یو بت خواله راغې کوم چه د کعبې په یو طرف ته ایخودې وو هغې ته به خلقو سجده کوله . د حضرتؐ په لاس کښې لینده وه . حضرتؐ هغې لره د سر نه نیولې وه . هر کله چه د بت خواله راغې نو د هغه سترګه ئې راکنستله اوفرمائیل ئې حق راغې او باطل ختم شو . هر کله چه د طواف نه فارغ شولو نو د صفا په غر باندې راغې او هغې ته اوختو تر دې پورې چه کعبه ئې اولیده او دواړه لاسونه ئې اوچت کړل او د الله تعالیٰ حمد وثنا او دعائې شروع کړه . کومه دعا چه حضرتؐ غوښتله .

فائده: د دې د پاره چه وطن جوړ کړم مدینې لره اوس دا مهٔ ګنړئ چه زهٔ به هجرت فسخ کوم او بیا به په مکه کښې اوسیدل اختیاروُم (د دې حدیث نه په دعا کښې د لاس اوچتولو دلیل هم معلوم شولو) مترجم .

(۴۶۲۳) عَنْ سَلْمَانَ ابْنِ الْمُغِيْرَةِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِي الْحَدِيْثِ ثُمَّ قَالَ بِيَدَيْهِ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى احْصُدُوْهُمْ حَصْدًا وَقَالَ فِي الْحَدِيْثِ قَالُوْا قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ فَمَا اسْمِيْ إِذًا كَلَّا إِنِّيْ عَبْدُاللهِ وَرَسُوْلُهٗ .

ترجمه : د دې حدیث هم د پورته حدیث په شان ده مګر په دې کښې دا زیاته ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو لاس په بل لاس باند کیښودو او اوئې ښودله چه بالکل دوئ لره کټ کړئ .

فائده : یعنې چه څوك مخې له راځي هغه وژنئ د دې د پاره چه دَ کفر زور ختم شي ، څو څوك چه دَ ابوسفیان کور ته لاړ شي یا هتیار اوغورځوي هغوئ ته ئې امن ورکړو . د دې نه معلومه شوه چه مکه معظمه په زور د تورې فتح شوه . او دغه قول دې د مالكؒ او ابو حنیفهؒ او احمد او جمهور علماؤ اهل سیرو ، او د شافعيؒ په نزد په صلحه سره فتح شوې ده . او مازريؒ وئیلي دي چه دا صرف دَ شافعيؒ قول دې . (نوويؒ) .

(۴۶۲۴) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ رَبَاحٍ قَالَ وَفَدْنَا إِلَى مُعَاوِيَةَ ابْنِ أَبِيْ سُفْيَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَفِيْنَا أَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَكَانَ كُلُّ رَجُلٍ مِّنَّا يَصْنَعُ طَعَامًا يَوْمًا لِّأَصْحَابِهٖ فَكَانَتْ نَوْبَتِيْ فَقُلْتُ يَا أَبَا

هُرَيْرَةَ الْيَوْمَ نَوْبَتِىْ فَجَآءُوْا اِلَى الْمَنْزِلِ وَلَمْ يُدْرِكْ طَعَامُنَا فَقُلْتُ يَا اَبَا هُرَيْرَةَ لَوْ حَدَّثْتَنَا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى يُدْرِكَ طَعَامُنَا فَقَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَجَعَلَ خَالِدَ ابْنَ الْوَلِيْدِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَلَى الْمُجَنِّبَةِ الْيُمْنٰى وَجَعَلَ الزُّبَيْرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَلَى الْمُجَنِّبَةِ الْيُسْرٰى وَجَعَلَ اَبَا عُبَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَلَى الْبَيَاذِقَةِ وَبَطْنِ الْوَادِىْ فَقَالَ يَا اَبَا هُرَيْرَةَ ادْعُ الْاَنْصَارَ فَدَعَوْتُهُمْ فَجَآءُوْا يُهَرْوِلُوْنَ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْاَنْصَارِ هَلْ تَرَوْنَ اَوْبَاشَ قُرَيْشٍ قَالُوْا نَعَمْ قَالَ انْظُرُوْا اِذَا لَقِيْتُمُوْهُمْ غَدًا اَنْ تَحْصِدُوْهُمْ حَصْدًا وَاَخْفٰى بِيَدِهٖ وَوَضَعَ يَمِيْنَهٗ عَلٰى شِمَالِهٖ وَقَالَ مَوْعِدُكُمُ الصَّفَا قَالَ فَمَا اَشْرَفَ يَوْمَئِذٍ لَهُمْ اَحَدٌ اِلَّا اَنَامُوْهُ قَالَ وَصَعِدَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفَا وَجَآءَتِ الْاَنْصَارُ فَاَطَافُوْا بِالصَّفَا فَجَآءَ اَبُوْ سُفْيَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ اُبِيْدَتْ خَضْرَآءُ قُرَيْشٍ لَا قُرَيْشَ بَعْدَ الْيَوْمِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دَخَلَ دَارَ اَبِىْ سُفْيَانَ فَهُوَ اٰمِنٌ مَنْ دَخَلَ دَارَ اَبِىْ سُفْيَانَ فَهُوَ اٰمِنٌ مَنْ اَلْقَى السِّلَاحَ فَهُوَ اٰمِنٌ وَمَنْ اَغْلَقَ بَابَهٗ فَهُوَ اٰمِنٌ فَقَالَتِ الْاَنْصَارُ اَمَّا الرَّجُلُ بِعَشِيْرَتِهٖ وَرَغْبَةٌ فِىْ قَرْيَتِهٖ وَنَزَلَ الْوَحْىُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُمْ اَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ اَخَذَتْهُ رَاْفَةٌ بِعَشِيْرَتِهٖ وَرَغْبَةٌ فِىْ قَرْيَتِهٖ اَلَا فَمَا اِسْمِىْ اِذًا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ اَنَا مُحَمَّدٌ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهٗ هَاجَرْتُ اِلَى اللهِ وَاِلَيْكُمْ فَالْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ وَالْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ قَالُوْا وَاللهِ مَا قُلْنَا اِلَّا ضِنًّا بِاللهِ وَرَسُوْلِهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَاِنَّ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ يُصَدِّقَانِكُمْ وَيَعْذِرَانِكُمْ .

ترجمه : د عبدالله بن رباحؒ نه روايت دے مونږ سفر اوکړو د معاويه بن ابى سفيانؓ خوا له لاړو - او په مونږ کښې ابو هريره رضى الله تعالىٰ عنه هم وو - نو په مونږ کښې به يوه يوه ورځ هر يو سړى غله تيارَوله د خپلو ملګرو د پاره - يوه ورځ ځما نمبر راغے ما اووے اے ابو هريرهؓ نن ځما نمبر دے هغویؓ ټول ځما ځائے ته راغلو او لا تر اوسه غله تياره شوے نۀ وه - ما لووے اے ابو هريرهؓ کاش تۀ مونږ ته يو حديث بيان کړه دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغے پورے به غله تياره شِى هغویؓ اووے مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو په کومه ورځ چه مکه فتح شوه - نو حضرتؓ خالد بن وليدؓ لره په ښى طرف باندے سردار مقرر کړو او زبيرؓ لره ئے په ګس طرف باندے او ابوعبيده رضى الله تعالىٰ عنه لره ئے د پياده خلقو سردار مقرر کړو لو

هغوئ ته ئے په څنګل کښې دننه د تلو اووے ـ بیا حضرت اوفرمائیل اے ابو هریرهٔ انصارؓ را اوغواړه ـ ما هغوئ ته آواز اوکړو هغوئ په منډه راغلو ـ حضرتؐ اوفرمائیل اے دا انصارو خلقو! تاسو اولیدل د قریشو بدمعاشانو لره هغوئ اووے هان ـ حضرتؐ اوفرمائیل صبا چه هر کله دَ دوئ سره میلاؤ شئ نو دوئ صفا کړئ ـ او حضرتؐ په لاس سره صفا کول اوښودل او ښی لاس ئے په ګس لاس باندے کیښودو او اوئے فرمائیل تاسو څما سره په صفا غر باندے میلاؤ شئ حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه وائی په دغه ورځ چه به څوك لیدے شو هغوئ به هغه لره اوده کولو (یعنی وژلو) او رسول الله صلی الله علیه وسلم صفا غر ته اوختو او انصارؓ راغلو او چاپیره شو د صفا نه ـ په دے کښ ابو سفیانؓ راغے او اوئے وئیل یَا رسول اللهؐ د قریشو بوټے لرے شو د نن نه بعد به قریش نهٔ وی رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل څوك چه دَ ابو سفیان کورته ننوتو هغه په امن دے ـ او چا چه هتیار اوغورځوؤ هغه ته هم امن دے ـ او چا چه خپله دروازه بنده کړه هغه لره هم امن دے ـ انصارو اووے دوئ ته د خپلو خپلوانو محبت راغلے لو د خپل ښهر سره ئے مینه پیدا شوے ده ـ پس وحی نازله شوه او رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل تاسو ته پته ده څما نوم څه دے ؟ درے ځله ئے اوفرمائیل محمدؐ یم دَ الله تعالیٰ بنده لو د هغه رسولؐ یم ـ ما وطن پریخودے دے د الله تعالیٰ په طرف او ستاسو په طرف نو اوس خو ځ ژوند او مرګ دواړه ستاسو د ژوند او مرګ سره دی هغوئ اووے قسم په خدائے مونږ داسے نهٔ دی وئیلی مګر د حرص نه د الله جل جلا له او د هغه د رسولؐ حضرتؐ اوفرمائیل نو الله جل جلا له او د هغه رسولؐ دواړه تاسو لره رښتونی ګنړی او ستاسو عذر قبلوی ـ

﴿ بَابُ اِزَالَةِ الْاَصْنَامِ مِنْ حَوْلِ الْكَعْبَةِ : ﴾

باب : د مکے کبر چاپیره د بوتانو نه د پاکولو بیان

(۴۶۲۵) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ دَخَلَ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ وَحَوْلَ الْكَعْبَةِ ثَلٰثُ مِائَةٍ وَّسِتُّوْنَ نُصُبًا فَجَعَلَ يَطْعُنُهَا بِعُوْدٍ كَانَ بِيَدِهٖ وَيَقُوْلُ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ زَادَ ابْنُ اَبِىْ عُمَرَ يَوْمَ الْفَتْحِ . [بخاری ، ترمذی ،]

ترجمه : د عبدالله نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په کومه ورځ مکه فتح

شوه مکے ته تشریف یوړلو ۔ هلته د کعبے نه چاپیره درے سوه شپیته بتان وو ۔ حضرتؐ به هر یو له دیکه ورکوله په لخته سره چه د حضرتؐ په لاس کښ وه (هغه به پریوتو لکه چه په بل روایت کښے دی) او اوئے فرمائیل ۔ حق راغے باطل ختم شو باطل ختمیدونکے دے حق راغے ۔ او دروغ ختم شو دروغ ختمیدونکی دی حق راغے ۔ او باطل نهٔ جوړوی چا لره نهٔ واپس کوی .(بلکه دواړه د الله جل جلالہ کارونه دی) ۔

(۴۶۲۶) عَنِ ابْنِ اَبِیْ نَجِیْحٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ اِلٰی قَوْلِهٖ زَهُوْقًا وَلَمْ یَذْکُرِ الْاٰیَةَ الْاُخْرٰی وَقَالَ بَدَلَ نُصُبًا۔ صَنَمًا [راجع:۴۶۲۵]

ترجمه : د دے ترجمه هم د پورته حدیث دَ ترجمے پشان ده ۔

(۴۶۲۷) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ مَطِیْعٍ عَنْ اَبِیْهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ یَوْمَ فَتْحِ مَکَّةَ لَا یُقْتَلُ قُرَشِیٌّ صَبْرًا بَعْدَ هٰذَا الْیَوْمِ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ .

ترجمه : د عبدالله بن مطیعؒ نه روایت دے هغویؒ اوریدلی دی د خپل پلار مطیع بن اسوڈ نه ۔ هغویؒ وائی ما اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نهٔ په کومه ورځ چه مکه فتح شوه حضرتؐ فرمائیلی وو د نن نه پس به یو قریشی سرے تړلے نهٔ شی قتلولے د قیامته پورے ۔

فائده : نوویؒ وائی د دے نه دا مطلب دے چه قریش به مسلمانان کیږی او د هغوئ نه به یو د اسلام نه نهٔ اوړی ۔ او د کفر په وجه به تړلے نهٔ شی وژلے ۔ او هسے په ظلم سره وژل نور دی ۔ او کوم ظلم چه د حضرت صلی الله علیه وسلم نه پس په قریشو باندے کیدلو هغه مشهور دے) په تحفة الاخیار کښے دی چه ابن خطل یو کافر وو حضرتؐ ته اووے چه ابن خطل د کعبے په پردو کښے پټ شوے دے ۔ حضرتؐ اوفرمائیل هغه اونیسئ راولئ ۔ خلقو هغه د لاسونو او خپو نه اوتړو او حاضر ئے کړو لو بیا هغه قتل کړے شو ۔ پس حضرت صلی الله علیه وسلم دا حدیث اوفرمائیلو ۔

(۴۶۲۸) عَنْ زَکَرِیَّا بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَزَادَ قَالَ وَلَمْ یَکُنْ اَسْلَمَ اَحَدٌ مِّنْ عُصَاةِ قُرَیْشٍ غَیْرَ مُطِیْعٍ کَانَ اِسْمُهُ الْعَاصَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَسَمَّاهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مُطِیْعًا .

ترجمه : د دے ترجمه هم د پورته حدیث په شان ده ۔ صرف دومره زیاته ده چه په دغه ورځ د

کومو خلقو عاص نوم ونه وو د قریشو د خلقو نه یو هم په هغوئ کښې مسلمان نۀ شولو سوا د عاص بن اسود نه حضرتؐ د هغه نوم بدل کړو او مطیع نوم ئې ورله کیښودو .

فائده :ولې چه د عاص لفظی معنې نافرمانه ده ، او دا بد معلوم شو حضرتؐ ته او حضرتؐ بدل کړلو نووی ونیلی دی چه عاص نور هم وو لکه عاص بن وائل سهمی او عاص بن هشام او عاص بن منبه خو یو هم د دوی نه په دغه ورځ مسلمان نۀ شولو . البته یو عاص بل مسلمان شوې وو ابو جندل سهل بن عمروؓ خو کیدے شی د راوی په هغه خیال نۀ وی راغلې ولې چه هغه په کنیت سره زیات مشهور وو .

بَابُ صُلْحِ الْحُدَيْبِيَةِ

د حدیبه د صلح بیان

(۴۶۲۷) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلُ كَتَبَ عَلِیُّ ابْنُ اَبِیْ طَالِبٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ الصُّلْحَ بَيْنَ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ الْمُشْرِكِيْنَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ فَكَتَبَ هٰذَا مَا كَاتَبَ عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا لَا تَكْتُبْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَوْ نَعْلَمُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ نُقَاتِلْكَ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِیٍّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ امْحُهُ فَقَالَ مَا اَنَا بِالَّذِیْ اَمْحَاهُ فَمَحَاهُ النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهٖ قَالَ وَكَانَ فِيْمَا اشْتَرَطُوْا اَنْ يَّدْخُلُوْا مَكَّةَ فَيُقِيْمُوْا بِهَا ثَلَاثًا وَّ لَا يَدْخُلُهَا بِسِلَاحٍ اِلَّا جُلُبَّانَ السِّلَاحِ قُلْتُ لِاَبِیْ اِسْحٰقَ وَمَا جُلُبَّانُ السِّلَاحِ قَالَ الْقِرَابُ وَمَا فِيْهِ .

ترجمه :د براء بن عازب رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه هغه صلح نامه لیکلې وه کومه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د مشرکانو مینځه شوې وه په ورځ د حدیبیه باندے . په هغې کښې دا عبادت وو دا هغه دے چه فیصله اوکړه محمدؐ د الله جل جلا له رسولؐ (د دے نه معلومه شوه چه په اقرار نامه او سندونو کښې اول داسې لیکل پکار دی) مشرکانو اووے د الله رسولؐ تاسو مه لیکئ . ځکه چه کچرے زمونږ یقین وے چه تۀ د الله جل جلا له رسولؐ ئې نو مونږ ستاسره جنګ ولې کوؤ رسول الله صلی الله

علیه وسلم حضرت علی رضی الله عنه ته اوفرمائیل وران کړه دے لفظ لره ، هغوی عرض اوکړو زهٔ د دے ورانولو والا نهٔ یم (دا هغوی د ادب د وجے نه اووے ځکه چه دا ورته معلومه وه چه د حضرت دا حکم قطعی نهٔ دے ورنه د هغے اطاعت به واجب وو) رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه لفظ په خپل لاس سره وران کړو ـ (دا د حضرت معجزه وه ځکه چه حضرت لیکونکے او لوستونکے نهٔ وو ـ او په یو روایت کښ دی چه حضرت په خپل لاس مبارک سره په ځائے د رسول دَ ابن عبدالله لفظ اولیکلو ـ) چه په هغے کښ یو شرط دا هم وو چه مکے ته راشی نو د درے ورځو پورے به وی او هتیار به نهٔ راوړی مگر په غلاف کښے دننه ـ

(۴۶۳۰) عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَآءَ بْنَ عَازِبٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ لَمَّا صَالَحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَهْلَ الْحُدَیْبِیَةِ قَالَ کَتَبَ عَلِیٌّ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ کِتَابًا بَیْنَهُمْ قَالَ فَکَتَبَ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ذَکَرَ نَحْوَ حَدِیْثِ مُعَاذٍ غَیْرَ اَنَّهٗ لَمْ یَذْکُرْ فِی الْحَدِیْثِ هٰذَا مَا کَاتَبَ عَلَیْهِ .

ترجمه : د دے هم د پورته حدیث پشان ده ـ

(۴۶۳۱) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّآ اُحْصِرَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ الْبَیْتِ صَالَحَهٗ اَهْلُ مَکَّةَ عَلٰٓی اَنْ یَّدْخُلَهَا فَیُقِیْمُ بِهَا ثَلَاثًا وَّلَا یَدْخُلَهَا اِلَّا بِجُلُبَّانِ السِّلَاحِ السَّیْفِ وَقِرَابِهٖ وَلَا یَخْرُجَ بِاَحَدٍ مَّعَهٗ مِنْ اَهْلِهَا وَلَا یَمْنَعَ اَحَداً یَّمْکُثُ بِهَا مِمَّنْ کَانَ مَعَهٗ قَالَ لِعَلِیٍّ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اکْتُبِ الشَّرْطَ بَیْنَنَا بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ٥ هٰذَا مَا قَاضٰی عَلَیْهِ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ الْمُشْرِکُوْنَ لَوْ نَعْلَمُ اَنَّکَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَابَعْنٰکَ وَلٰکِنْ اکْتُبْ مُحَمَّدُ ابْنُ عَبْدِ اللّٰهِ فَاَمَرَ عَلِیًّا رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنْ یَّمْحَاهَا فَقَالَ عَلِیٌّ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ لَا وَاللّٰهِ لَآ اَمْحَاهَا. فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَرِنِیْ مَکَانَهَا فَاَرَاهُ مَکَانَهَا فَمَحَاهَا وَکَتَبَ ابْنُ عَبْدِ اللّٰهِ فَاَقَامَ بِهَا ثَلَاثَةَ اَیَّامٍ فَلَمَّا اَنْ کَانَ الْیَوْمُ الثَّالِثُ قَالُوْا لِعَلِیٍّ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ هٰذَا اٰخِرُ یَوْمٍ مِّنْ شَرْطِ صَاحِبِکَ فَاْمُرْهُ فَلْیَخْرُجْ فَاَخْبَرَهٗ بِذٰلِکَ فَقَالَ نَعَمْ فَخَرَجَ وَقَالَ ابْنُ جَنَابٍ فِیْ رِوَایَتِهٖ مَکَانَ تَابَعْنَاکَ بَایَعْنَاکَ .

ترجمه :د براءؓ نه روایت دے ، هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړے شو د کعبے شریفے د تلو نه نو صلح اوکړه د هغوئ سره مکے والو په دے شرط باندے چه په (راتلونکی کال راشئ او د درے ورځو پورے به مکه کښے پاتے شئ او هتیار به په غلاف کښے پټ راوړئ ، او یو مکے والا به د ځان سره نۀ بیایئ ۔ او ستاسو د ملګرو نه که څوك پاتے کیږی (او د مشرکانو ملګرتیا قبلوی) نو هغه به نۀ منع کوئ ۔ حضرتؑ حضرت علیؓ ته اوفرمائیل ۔ ښه ده دے شرط لره اولیکه ۔ بسم الله الرحمن الرحیم ٥ دا هغه دے چه فیصله کړے ده په دے باندے محمدؐ د الله رسول صلی الله علیه وسلم مشرکانو اووے کچرے مونږ دا ګنړلے چه محمدؐ د الله جل جلا له رسولؐ دے نو ستا اطاعت به مونږ کړے وو یا به مو ستا نه بیعت کړے وو، بلکه داسے اولیکه چه محمدؐ دَ عبدالله ځوئ حضرتؑ حضرت علیؓ ته حکم اوکړو د رسولؐ د لفظ ورانولو د پاره ، هغوئؓ اووے قسم په خدائے زۀ ئے نۀ ورانوم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ښه ده ماته د دے لفظ ځائے اوښایه ، حضرت علیؓ ورته اوښودلو ۔ حضرتؑ هغه وران کړلو او ابن عبدالله ئے اولیکلو ۔ (بیا په دویم کال حضرتؑ تشریف راوړو) او د درے ورځو پورے په مکه کښے پاتے شو ۔ هر کله چه دریمه ورځ شوه نو مشرکانو حضرت علی کرم الله وجهه ته اووے دا ستا د ملګری د شرط آخری ورځ ده ۔ اوس دوئؐ ته د تللو وینا اوکړه هغوئؓ ورته اووے حضرتؑ اووے ښه ده او (د مکے) نه را اووتلو ۔

فائده :امام نوویؒ وائی قاضی عیاضؒ وئیلی دی ۔ چه ځنے خلقو د دے روایت نه دلیل اخستے دے په دے خبره باندے چه حضرتؑ په خپل لاس مبارك سره اولیکلو لکه څرنګه چه ظاهر معنیٰ ده ۔ او دَ بخاریؒ په روایت کښے دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کاغذ واخستو او اوئے لیکلو ۔ او په یو روایت کښ دی چه حضرتؑ په ښه شان سره لیکل نۀ شو کولے او حضرتؑ اولیکل ، دغه مذهب والا دا وائی چه الله پاك دَ حضرتؑ په لاس مبارك سره اولیکل په دے طریقه باندے چه قلم پخپله اولیکل او هغوئؐ نۀ پیژندل چه څه لیکی ۔ یا الله تعالیٰ حضرتؑ ته په دغه وخت لیکل اوښودو او دا زیاته معجزه ده دَ هغوئؐ ځکه چه حضرتؑ امی وو ۔ بیا لکه څنګه چه الله جل جلا له هغوئؐ نه شو لوستلے ۔ او اوئے لیکل پرے هغه څه

چه هغوئ نه شو لیکلے او په دے سره د حضرتؑ په امی کیدو کښے څه خلل نهٔ پریوځی . او د اکثرو مذهب دا دے چه حضرتؑ پخپله نهٔ دے لیکلے . ولے چه حضرتؑ ته الله امی نبی وئیلے دے . او فرمائیلی دی " وما کُنتَ تَتلُوا مِن قَبلِهٖ مِن کِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِیَمِیْنِکَ " او حضرت صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی . او په دے حدیث کښے د لیکلو معنیٰ په بل لیکل دی . لکه په دویم روایت کښے دی چه حضرتؑ حضرت علیؓ ته اوفرمائیل اولیکه محمد بن عبدالله .(انتهی مختصراً) .

(۴۶۳۲) عَن اَنَسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهُ اَنَّ قُرَیشًا صَالَحُوا النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ فِیهِم سُهَیلُ ابنُ عَمرٍو فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ لِعَلِیٍّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهُ اکتُب بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ ○ قَالَ سُهَیلٌ اَمَّا بِسمِ اللهِ فَمَا نَدرِیْ مَا بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ ○ وَلٰکِنِ اکتُب مَا نَعرِفُ بِاسمِکَ اللّٰهُمَّ فَقَالَ اکتُب مِن مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ قَالُوا لَو عَلِمنَا اَنَّکَ رَسُولُ اللهِ لَا تَبِعنَاکَ وَلٰکِنِ اکتُب اسمَکَ وَاسمَ اَبِیکَ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ اکتُب مِن مُحَمَّدِ ابنِ عَبدِ اللهِ فَاشتَرَطُوا عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ اَنَّ مَن جَآءَ مِنکُم لَم نَرُدَّهٗ عَلَیکُم وَمَن جَآءَکُم مِّنَّا رَدَدتُّمُوهُ عَلَینَا فَقَالُوا یَا رَسُولَ اللهِ اَنَکتُبُ هٰذَا قَالَ نَعَم اِنَّهٗ مَن ذَهَبَ مِنَّا اِلَیهِم فَاَبعَدَهُ اللهُ وَمَن جَآءَنَا مِنهُم سَیَجعَلُ اللهُ لَهٗ فَرَجًا وَّمَخرَجًا.

ترجمه : د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے قریشو صلحه اوکړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره او په قریشو کښے سهل بن عمرو هم وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه ته اولیکه چه بسم الله الرحمن الرحیم، سهیل وائی مونږه نه پیژندو چه بسم الله الرحمن الرحیم څه دے . هغه اولیکه چه مونږ پرے پو هیږو بسمك اللهم . حضرتؑ اوفرمائیل بنه ده اولیکه د محمدؐ د طرفنه چه د الله رسولؐ دے، مشرکانو اووے کچرے مونږ دا گنړلے چه تهٔ د الله جل جلاله رسولؐ ئے نو ستا پیروی مو ولے نه کوله . البته خپل او د خپل پلار نوم اولیکه حضرتؑ اوفرمائیل بنه ده اولیکه ذ محمد بن عبدالله د طرفنه بیا هغوئ دا شرط اولګولو چه کچرے ستاسو نه څوك زمونږ طرفته راشی نو مونږ به هغه واپس نهٔ درکوو او کچرے زمونږ نه څوك تاسو ته درشی نو تاسو به ئے مونږ ته

واپس راکوئ ۔ صحابو کرامؓ اووے یا رسول اللهؐ ! دا شرط مونږ اولیکو، حضرتؐ اوفرمائیل اولیکئ ۔ زمونږ نه چه څوك دَ دوئ خوا له لاړو نو الله جل جلا له ؤ هغه لرے اوساتی او د دوئ نه چه څوك زمونږ خوا له راځی نو الله تعالیٰ جل جلا له به د هغوئ د پاره هم لاره اوباسی ۔ او د هغوئ مشکل به آسان کړی ۔

فائده : بیا دغه شان اوشوه ، د دے شرط د لیکلو نه مشرکانو ته څه فائده اونهٔ شوه بلکه څو ورځے پس ځنے خلق لکه ابو بصیر او د هغه ملګری به مسلمانیدل او راتلل به هغوئ" به د شرط دَ وجے نه د حضرتؐ خوا له نهٔ شو راتلے او هغوئ ځان له په لاره کښے یو تولے قائم کړو او مشرکان ئے داسے اولوټل او تباه کړل چه دَ هغوئ ساه پوزے له راغے ۔ آخر هغوئ تنګ شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئے قاصد اولیږو چه مونږ د دغه شرط نه تنګ شو تاسو خپلو خلقو لره د خدائے په لحاظ ځان ته اوغواړئ او د صلحه نامے په وخت حضرتؐ په داسے جزئیاتو کښے لکه بسم الله الرحمن الرحیم وغیره کښے تکرار اونهٔ کړو ولے چه د بسم الله الرحمن الرحیم او د بسمك الله دغه یو مضمون دے ، دا د مشرکانو بے فائدے ګرځول وو، او محمد رسول اللهؐ په ځائے باندے محمّد بن عبداللهؐ ؤ وی ۔

د دے صلحه نامے نه د حضرتؐ غرض بل وو دا چه هغوئ ؐلره مشرکان بیوقوف اونهٔ ګنړی ، او مسلمانان او مشرکان د دے صُلح په وجه سره په خپلو کښے تګ راتګ شروع کړی او مسلمانان به د خپلو خپلوانو دوستانو سره میلاویږی او په حقه خبره به ئے پو هه کوی (د دے نه دا معلومه شوه چه حق پرست به دَ اهلِ بدعت خپلوانو او دوستانو سره د میلاویدو نه پس د توحید مسئله پیش کوی)۔(مترجم پښتو) آخر د کومے پورے به څه چه په دین کښ حق دی هغه به یوه نه یوه ورځ د بنیادم په سمجهـ کښ راځی۔ او بیا دغه شان اوشوه چه د دغه صلح په موده کښ په زرګونو خلق نوی مسلمانان شول۔او د کافرانو زور په ماتیدو شو تر دے پورے چه مکه معظمه فتح شوه او تمام قریش مسلمانان شول ، او د قریشو(د مسلمانیدو) په انتظار کښے د عربو نورے قبیلے هم مسلمانانے شولے،او د الله تعالیٰ رسولؐ ته کامیابی راغله ، او دا سورت نازل شو " اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ " دَ آخره پورے ۔

(۴۶۳۳) عَنْ اَبِیْ وَائِلٍ قَالَ قَامَ سَهْلُ ابْنُ حُنَیْفٍ یَوْمَ صِفِّیْنَ فَقَالَ یَا اَیُّهَا النَّاسُ اتَّهِمُوْا اَنْفُسَكُمْ لَقَدْ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ الْحُدَیْبِیَةِ وَلَوْ نَرٰی قِتَالًا لَقَاتَلْنَا وَذٰلِكَ فِی الصُّلْحِ الَّذِیْ كَانَ بَیْنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَبَیْنَ الْمُشْرِكِیْنَ فَجَآءَ عُمَرُ ابْنُ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَاَتٰی رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَسْنَا عَلٰی حَقٍّ وَّهُمْ عَلٰی بَاطِلٍ قَالَ بَلٰی قَالَ اَلَیْسَ قَتْلَانَا فِی الْجَنَّةِ وَقَتْلَاهُمْ فِی النَّارِ قَالَ بَلٰی قَالَ فَفِیْمَ نُعْطِی الدَّنِیَّةَ فِیْ دِیْنِنَا وَنَرْجِعُ وَلَمَّا یَحْكُمِ اللّٰهُ بَیْنَنَا وَبَیْنَهُمْ قَالَ یَا ابْنَ الْخَطَّابِ اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَلَنْ یُّضَیِّعَنِیَ اللّٰهُ اَبَدًا قَالَ فَانْطَلَقَ عُمَرُ فَلَمْ یَصْبِرْ مُتَغَیِّظًا فَاَتٰی اَبَابَكْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ یَا اَبَا بَكْرٍ اَلَسْنَا عَلٰی حَقٍّ وَّهُمْ عَلٰی بَاطِلٍ قَالَ بَلٰی قَالَ اَلَیْسَ قَتْلَانَا فِی الْجَنَّةِ وَقَتْلَاهُمْ فِی النَّارِ قَالَ بَلٰی قَالَ فَعَلَامَ نُعْطِی الدَّنِیَّةَ فِیْ دِیْنِنَا وَنَرْجِعُ وَلَمَّا یَحْكُمِ اللّٰهُ بَیْنَنَا وَبَیْنَهُمْ فَقَالَ یَابْنَ الْخَطَّابِ اِنَّهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلَنْ یُّضَیِّعَهُ اللّٰهُ اَبَدًا فَنَزَلَ الْقُرْاٰنُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِالْفَتْحِ فَاَرْسَلَ اِلٰی عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَاَقْرَءَهٗ اِیَّاهُ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَوَفَتْحٌ هُوَ قَالَ نَعَمْ فَطَابَتْ نَفْسُهٗ وَرَجَعَ . [بخاری]

ترجمه: سهیل بن حنیفؓ د صفین په ورځ (هر کله چه د حضرت علیؓ او معاویهؓ جنگ وو) پاڅیدو او اوئے وئیل اے خلقو! خپل قصور اوپیژنئ مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو په کومه ورځ چه د حدیبیے صلح اوشوله ـ کچرے مونږ جنگ کولے نو جنګیدلی به وو او داد هغه صلح ذکر دے کومه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او مشرکانو په مینځ کښے شوے وه ـ نو حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه راغے ـ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا له، او عرض ئے اوکړو یا رسول اللهؐ! ولے مونږ په رښتونی دین باندے نهٔ یو او کافر په غلط دین باندے نهٔ دی حضرتؐ اوفرمائیل ولے نهٔ دی . بیا هغوئ اووے په مونږ کښے چه څوك اووژلے شی هغه به جنت ته نهٔ ځی ، او په دوئ کښے چه څوك اووژلے شی . هغه به جهنم ته نهٔ ځی . حضرتؐ اوفرمائیل ولے به نهٔ ځی ـ (مطلب د حضرت عمرؓ دا وو چه بیا د دوئ په مرضئ صلح ولے کوو جنگ ولے نهٔ کوو) حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه اووے بیاولے مونږ په خپل دین باندے داغ لګوو او واپس کیږو ، او اوس الله تعالیٰ زمونږه او د دوئ فیصله نهٔ ده کړے ، حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اے د خطاب ځویه زهٔ د الله جل جلا له رسولؐ یم هغه ما نهٔ تباه کوی چرته

هم ، د دې په اوریدو سره عمرؓ روان شو اود غصې نه ئې صبر اونهٔ کړو او د ابوبکرؓ خوا له لاړو او هغوئ ؓ ته ئې اووې ـ اې ابوبکرهٔ ولې مونږ په حقه نهٔ یو او هغه په باطِله نهٔ دی ؟ ابوبکرؓ اووې ولې نهٔ دی ، هغوئ ؓ اووې زمونږ مقتول به جنت ته نهٔ ځی او د هغوئ مقتول به دوزخ ته نهٔ ځی ؟ ابوبکرؓ اووې ولې به نهٔ ځی هغوئ ؓ اووې بیا ولې مونږ د خپل دین نقصان کوو او واپس کیږو ـ او تر اوسه زمونږه او د هغوئ فیصله نهٔ ده کړې الله تعالیٰ جل جلا له ، ابوبکرؓ اووې اې د خطاب ځویه ! هغوئ ؓ د الله رسول ؐ دې الله جل جلا له هغوئ ؐ لره چرته نهٔ تباه کوی (دلته نه د ابوبکر صدیقؓ روحانی اتصال او نزدیکت د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره معلومول پکار دی) چه هغوئ ؓ هوبهو هغه جواب ورکړو کوم چه حضرتؐ ورکړے وو) بیا قرآن شریف نازل شو په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې هغه چه په هغې کښې د فتح ذکر دې ـ (یعنی سورت انا فتحنا) حضرتؐ حضرت عمرؓ ته قاصد اولیږو او دا سورت ئې ورته اولوستو ، هغوئ ؓ عرض اوکړو یا رسول الله ؐ ! دا صلحه زمونږ د پاره د فتح ده ، حضرتؐ اوفرمائیل هو ، بیا هغوئ ؓ خوشحاله شو او واپس راغې (او الله تعالیٰ هم هغسې اوکړو چه د دغه صلح نتیجه فتح شوه) ـ

فائده : د سهلؓ دا مطلب وو چه د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه ملګرې به هم په صُلح او تحکیم باندې راضی وی ، اګر چه په هغوئ ؓ باندې ګرانه ده خو سهلؓ په دې پوهه کړو چه ځنې خبرې بدې معلومیږی ، لیکن د هغې انجام ښه وی چنانچه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې اصحابوؓ صلح حدیبیې ته بد خیال کولو خو الله تعالیٰ دغه صلح د هغوئ په حق کښې غوره کړله او انجام د هغې دا شو چه مکه فتح شوله او مسلمانان غالب شول ـ

(۴۶۳۴) عَنْ شَقِيْقٍ قَالَ سَمِعْتُ سَهْلَ ابْنَ حُنَيْفٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ بِصِفِّيْنَ اَيُّهَا النَّاسُ اتَّهِمُوْا رَاْيَكُمْ وَ اللّٰهِ لَقَدْ رَاَيْتُنِيْ يَوْمَ اَبِيْ جَنْدَلٍ وَلَوْ اَنِّيْ اَسْتَطِيْعُ اَنْ اَرُدَّ اَمْرَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَرَدَدْتُهُ وَاللّٰهِ مَا وَضَعْنَا سُيُوْفَنَا عَلٰى عَوَاتِقِنَا اِلٰى اَمْرٍ قَطُّ اِلَّا اَسْهَلْنَ بِنَآ اِلٰى اَمْرٍ نَعْرِفُهٗ اِلَّا اَمْرَكُمْ هٰذَا لَمْ يَذْكُرِ ابْنُ نُمَيْرٍ اِلٰى اَمْرٍ قَطُّ . [راجع:۴۶۳۳]

ترجمه : د شقیق نه روایت دې وائی چه ما د سهل بن حنیف نه واورېدل چه هغه وئیلو په صفین کښې چه اې خلقو! د خپلو عقلونو قصور لوګنړئ قسم دې په الله جل جلا له چه تاسو

به لیدلے وے ما لره د ابو جندل په ورځ ، (یعنی دَ حدیبئے په ورځ ، د ابو جندل نوم عاص بن سهیل بن عمرو وو) کچرے ما طاقت لرلے د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم د واپس کولو ، البته واپس کرے به م وو هغې لره ، (دا ئے د مبالغے په طور اووے (یعنی صلح په مونږه دومره ناخوښه وه) قسم په خدائے مونږه چرته هم خپلے تورے په اوګو باندے نۀ دی ایخے ، مګر هغوئ یوړو مونږه د هغې خبرے په طرف چه هغه مونږ پیژندله مګر په هغه جنګ کښ (کوم چه د شام والاو سره وو) .

(۴۶۳۵) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَفِيْ حَدِيْثِهِمَا اِلٰى اَمْرٍ يُفْظِعُنَا . [راجع: ۴۶۳۳]

ترجمه : د دے حدیث هم د دغه حدیث په شان ده کوم چه وړاندِ تیر شو .

(۴۶۳۶) عَنْ اَبِيْ وَائِلٍ قَالَ سَمِعْتُ سَهْلَ ابْنَ حُنَيْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِصِفِّيْنَ يَقُوْلُ اتَّهِمُوْا رَاْيَكُمْ عَلٰى دِيْنِكُمْ فَلَقَدْ رَاَيْتُنِيْ يَوْمَ اَبِيْ جَنْدَلٍ وَلَوْ اَسْتَطِيْعُ اَنْ اَرُدَّ اَمْرَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا فَتَحْنَا مِنْهُ فِيْ خُصْمٍ اِلَّا انْفَجَرَ عَلَيْنَا مِنْهُ خُصْمٌ .

ترجمه : د دے هم هغه ده کومه چه پورته تیره شوه . په دے کښ دومره زیاته ده چه سهل اووے ستا رائے داسے ده چه هر کله یو ګټ د هغے نه مونږ کهولاؤ کړو نو دویم ګټ ئے کهولاویږی .

فائده : قاضی عیاض وئیلی دی . د صحیح مسلم په نسخو کښ ما فتحنادے . او دا غلط دے صحیح ما سد دنا دے او د بخاری په روایت کښے هم دغه دے او دغسے ئے معنیٰ تهیك کیږی . ولے چه اوس به دا معنیٰ وی چه هر کله مونږ یو ګټ د هغے بندوو نو بل کهولاویږی . نووی وائی د دے حدیثو نه د کافرو سره د صلح کولو جواز وتلے دے هر کله چه ضرورت یا مصلحت وی . او په دے باندے د عالمانو اتفاق دے ، لیکن زمونږ مذهب دا دے چه د صلح موده د لسو کالو نه زیاته نۀ شی کیدے په هغه حالت کښ چه هر کله مسلمان مغلوب وی او کچرے غالب وی نو د څلورو میاشتو نه زیات درست نۀ دے ، او یو قول دا دے چه د یو کال دننه درست دے ، او امام مالك وئیلی دی چه د مودے څه حد نشته ، بلکه څومره چه د حاکم په رائے کښ مناسب معلومه شی درسته ده .

(۴۶۳۷) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ حَدَّثَهُمْ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا

لِيَغْفِرَكَ اللهُ اِلٰى قَوْلِهٖ فَوْزًا عَظِيْمًا مَرْجِعَهٗ مِنَ الْحُدَيْبِيَةِ وَهُمْ يُخَالِطُهُمُ الْحُزْنُ وَالْكَابَةُ وَقَدْ نَحَرَ الْهَدْىَ بِالْحُدَيْبِيَةِ فَقَالَ لَقَدْ اُنْزِلَتْ عَلَىَّ اٰيَةٌ هِىَ اَحَبُّ اِلَىَّ مِنَ الدُّنْيَا جَمِيْعًا .

ترجمه :دَ انس بن مالكؓ نه روايت دے چه هر كله دا سورت نازل شولو۔ اِنا فتحنا لك فتحا مُبِيناً د آخره پورے ۔ نو حضرتؐ واپس راتلو دَ حُديبيے نه او اصحابؓ ته ډير غم او رنځ وو او حضرتؐ هديه قرباني كړے وه په حديبيه كښ (ولے چه كافرانو په مكه كښے راتلو ته پريے نۀ ښودل) بيا حضرتؐ اوفرمائيل چه په ما باندے يو ايت نازل شو چه هغه د ټولے دنيا نه زيات ماته غوره دے ۔

(۴۶۳۸) عَنْ اَنَسٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نَحْوَ حَدِيْثِ ابْنِ اَبِىْ عَرُوْبَةَ .

ترجمه :د دے هم هغه شان ده لكه چه پورته تيره شوه ۔

﴿ بَابُ الْوَفَاءِ بِالْعَهْدِ ﴾

د اقرار پوره كولو بيان

(۴۶۳۹) عَنْ حُذَيْفَةَ ابْنِ الْيَمَانِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ مَا مَنَعَنِىْ اَنْ اَشْهَدَ بَدْرًا اِلَّا اَنِّىْ خَرَجْتُ اَنَا وَاَبِىْ حُسَيْلٌ قَالَ فَاَخَذَنَا كُفَّارُ قُرَيْشٍ فَقَالُوْا اِنَّكُمْ تُرِيْدُوْنَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا مَا نُرِيْدُ اِلَّا الْمَدِيْنَةَ فَاَخَذُوْا مِنَّا عَهْدَ اللهِ وَمِيْثَاقَهٗ لَنَنْصَرِفَنَّ اِلَى الْمَدِيْنَةِ وَلَا نُقَاتِلَ مَعَهٗ فَاَتَيْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرْنَاهُ الْخَبَرَ فَقَالَ انْصَرِفَا نَفِىْ لَهُمْ بِعَهْدِهِمْ وَنَسْتَعِيْنُ اللهَ عَلَيْهِمْ .

ترجمه : د حذيفه بن اليمان رضى الله تعالىٰ عنه نه روايت دے ، زۀ بدر ته د راتلو نه څه شى نۀ يم منع كړے مگر دا چه زه را اووتم د خپل پلار حسيل سره (دا كنيت دے د حذيفه د پلار او ځنو حسيل وئيلے دے) نو مونږ د قريشو كافرانو اونيوۀ ۔ او اوئے وئيل تاسو د محمد صلى الله عليه وسلم خوا له تلل غواړئ ، پس مونږه اووے مونږ د هغوئ خوا له تلل نۀ غواړو بلكه مونږه مدينے ته تلل غواړو ، بيا هغوئ زمونږ نه دَ الله جل جلا له په نوم وعده او اقرار واخستو چه مونږ مدينے ته ځو او محمد صلى الله عليه وسلم په ملگرتيا كښے نۀ جگنيږو ۔ هر كله چه مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم خوا له راغلو نو مونږ ورته ټوله قيصه بَيان كړه ۔

حضرتؓ اوفرمائیل تاسو مدینے ته لاړ شئ ـ مونږ د هغوئ اقرار پوره کوؤ او د الله نه مدد غواړو په هغوئ باندے ـ

فائده : د دے حدیث نه معلومه شوه چه په جنګ کښے دروغ وئیل درست دی ولے چه حذیفهٔ خاص د حضرتؓ خوا له راتلو ـ خو په مصلحت سره هغوئؓ دروغ اووئیل چه مونږ مدینے ته ځو ـ او د کومے پورے چه تعریض کیدے شی (تعریض دا دے چه دروغ هم نهٔ وی لو خپل مطلب هم فوت نهٔ شی) اولیٰ دے ، لیکن په جنګ کښے دروغ وئیل هم درست دی ـ دغه شان دروغ وئیل درست دی په خلقو کښے دَ صلح کولو دَ پاره ـ او خاوند له د بی بی سره د هغے د راجی کولو د پاره ـ لکه څنګه چه په حدیث کښے د دے تصریح راغلے ده ـ د دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه اقرار پوره کول ضروری دی ـ او اختلاف کړے دے علماؤ په دے کښ چه کچرے کافر مسلمان قید کړی او د هغه نه د نهٔ تختیدو اقرار واخلی ـ نو دَ امام شافعیؒ او ابو حنیفهؒ او دَ اهلِ کوفهؒ دا قول دے چه د دغه اقرار پوره کول ضروری نهٔ دی بلکه هر کله چه موقعه اومومی او د تښتی ـ

او دَ امام مالکؒ په نزد د اقرار پوره کول ضروری دی ـ او کچرے کافرانو په هغه باندے په زور قسم اوکړو دَ نهٔ تختیدو نو په اتفاق د علماؤ تښتیدل درست دی ـ ځکه چه په زور قسم نهٔ لازمیږی لیکن حذیفه او د هغوئ پلار حضرتؐ د اقرار پوره کولو حکم ورکړو په دے خیال سره چه زما اصحاب په وعده ماتولو کښے بد نام نهٔ شی ـ او دا حکم په طور دَ واجبیدو نهٔ وو ـ (نوویؒ) ـ

﴿ باب غزوة الاحزاب ﴾

د غزوهٔ احزاب یعنی جنګ خندق بیان

(۴۶۴۰) عن ابراهیم التیمی عن ابیه قال کنا عند حذیفة رضی الله تعالی عنه فقال رجل لو ادرکت رسول الله صلی الله علیه وسلم قاتلت معه وابلیت فقال حذیفة انت کنت تفعل ذلک لقد رأیتنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم لیلة الاحزاب واخذتنا ریح شدیدة وقر فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم الا رجل یأتینی بخبر القوم جعله الله عزوجل معی یوم القیمة فسکتنا فلم یجبه منا احد

ثُمَّ قَالَ اَلَا رَجُلٌ يَأْتِيْنِيْ بِخَبَرِ الْقَوْمِ جَعَلَهُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ مَعِيَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَسَكَتْنَا فَلَمْ يُجِبْهُ مِنَّا اَحَدٌ فَقَالَ قُمْ يَا حُذَيْفَةُ فَأْتِنَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ فَلَمْ اَجِدْ بُدًّا اِذْ دَعَانِيْ بِاسْمِيْ اَنْ اَقُوْمَ قَالَ اذْهَبْ فَأْتِنِيْ بِخَبَرِ الْقَوْمِ وَلَا تَذْعَرْهُمْ عَلَيَّ فَلَمَّا وَلَّيْتُ مِنْ عِنْدِهٖ جَعَلْتُ كَاَنَّمَا اَمْشِيْ فِيْ حَمَّامٍ حَتّٰى اَتَيْتُهُمْ فَرَاَيْتُ اَبَا سُفْيَانَ يَصْلِيْ ظَهْرَهُ بِالنَّارِ فَوَضَعْتُ سَهْمًا فِيْ كَبِدِ الْقَوْسِ فَاَرَدْتُ اَنْ اَرْمِيَهُ فَذَكَرْتُ قَوْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَذْعَرْهُمْ عَلَيَّ وَلَوْ رَمَيْتُهُ لَاَصَبْتُهُ فَرَجَعْتُ وَاَنَا اَمْشِيْ فِيْ مِثْلِ الْحَمَّامِ فَلَمَّا اَتَيْتُهُ فَاَخْبَرْتُهُ بِخَبَرِ الْقَوْمِ وَفَرَغْتُ قُرِرْتُ فَاَلْبَسَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فَضْلِ عَبَاءَةٍ كَانَتْ عَلَيْهِ يُصَلِّيْ فِيْهَا فَلَمْ اَزَلْ نَائِمًا حَتّٰى اَصْبَحْتُ فَلَمَّا اَصْبَحْتُ قَالَ قُمْ يَا نَوْمَانُ.

ترجمه: د ابراهیم تیمیؒ نه روایت دے هغویؒ اوریدلی دی د خپل پلار (یزید بن شریک تیمیؒ نه) هغویؒ وائی مونږ د حذیفه بن الیمانؓ سره ناست وو یو سړی اووے کچرے زۀ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښے وے نو جهاد به مې کوؤ د هغویؑ سره او کوشش به مې کوؤ په جنګ کښے. حذیفهؓ اووے تا به داسے کول (یعنی ستا وئیل معتبر نۀ شی کیدے کول ځانله شے دے او وئیل ځانله شے دے صحابه کرامؓ چه کوم کوشش کړے تا د هغے نه زیات نۀ شو کولے) تۀ ګوره مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو د احزاب (دا جمع ده د حزب او حزب وئیلے شی ګروه ته. هغه جنګ ته کوم چه په سنه ۵ هـ کښے شوے دے هغه ته احزاب وئیلے شی. ځکه چه د کافرانو ډیر ګروپونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره جنګ ته راغلی وو) په شپه او هوا ډیره تیزه چلیدله. او یخنی هم ښه پرقیدله. دغه وخت حضرتؐ اوفرمائیل چه څوک شته چه لاړ شی او د کافرانو خبر راوړی. الله تعالی به هغه لره د قیامت په ورځ ځما په خواه کښے ځائے ورکړی. د دے په اوریدو مونږ خلق خاموش پاتے شو. او هیچا جواب ورنۀ کړو (د چا همت رانۀ غے چه په دومره یخنۍ کښے د شپے د ویرے ځائے ته لاړ شی او خبر راوړی حالانکه د اصحابوؓ جان نثاری او همت مشهور دے) بیا حضرتؐ اوفرمائیل څوک سړے شته چه د کافرانو خبر ما له راوړی الله تعالی به هغه لره د قیامت په ورځ ځما سره اوساتی. هیچا جواب ورنۀ کړو تول چپ پاتے شو. اخر حضرتؐ اوفرمائیل اے حذیفه لاړ شه او د کافرانو خبر ما له راوړه. زما نوره څه (بهانه) نۀ جوړیده. ولے چه حضرتؐ زما نوم واخستو او د تلو

حکم یې اوکړو حضرتؓ اوفرمائیل لاړ شه او خبر راوړه راشه د کافرانو ، او مه خبروه هغوئ لره په
ما باندې (یعنې داسې څه کار مه کوه چه په هغې سره دَ هغوئ غصه راشي او تا اووژني ، یا په
جنګ باندې مستعد شي ـ) هر کله چه زهٔ د حضرتؐ د خوا نه روان شوم نو داسې معلومه شوه
لکه چه څوك د حمام دننه روان وي ـ (یعني یخني بالکل ختمه شوه بلکه ګرمي معلومیده دا
د هغویؐ د دُعا برکت وو ـ د الله او د رسولؐ فرمانبرداري حو اول په نفس باندې ګرانه وي لیکن
هر کله چه یې د مستعدئ نه شروع کړي نو په ځانې د تکلیف ورته لذت او راحت حَاصلیږي)،
تر دې پورې چه زهٔ دَ کافرانو خوا ته اورَسیدم څه ګورم چه ابوسفیان خپله شا اورته ګرموي ما
پرې غشې لینده رابنکوده او اراده م اوکړه د هغه دَ وژلو ، بیا ماته د رسول الله صلی الله علیه
وسلم فرمان یاد شولو چه داسې څه کار به نهٔ کوې چه په هغې سره د هغوئ غصه پیدا شي او
کچرې ما وژلے نو بیشکه ابوسفیانؓ لګیدو ـ آخر دا چه زهٔ واپس شوم بیا ماته داسې معلومیده
چه د حمام دننه روان یم هر کله چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا له راغلم او تول حال م
ورته اووې هغه وخت یخني معلومَه شوه (دا د هغه لویَه معجزه وه د نبی صلی الله علیه وسلم
)هغوئ ماته خپل یو بنکلے کمبل راپَسر کړو ـ چه هغه به د حضرتؐ پسر وو او مونځ به یې
کولو ، ما چه هغه پَسر کړو او اوده شوم نو د سحره پورې اوده وُم ، هر کله چه سحر شو نو
حضرتؐ اوفرمائیل پاسه ډیر اوده کیدونکیه ـ

فائده :نووئ وائي د دې حدیث نه دا معلومه شوه چه حاکم لره پټ جاسوس او مخبر
لیګل پکار دي ـ او دَ دشمن خبر اخستل پکار دي ، او په جنګ کښې خو دا ډیر ضروري دي ، او
په امن کښې هم د کافرانو اخبار په ذریعه د خپلو وکیلانو او ایلچیانو همیشه معلومول پکار
دي او دَ هغوئ د قوت او سازوسامان او د لښکر خبر هر وخت اخستل پکار دي ، او د دې خبرې
بندوبست ضرور کول پکار دي چه کافر د اسلحو په معیار او فوج په تعداد کښې د مسلمانانو نه
زیات نهٔ شي ـ

ما یو ځل په تنهایئ کښې فکر اوکړو چه د مسلمانانو دَ مغلوب کیدو او تباه کیدو وجه
څه ده؟ معلومه شوه چه د کتاب او سنت نه مخ اړول د الله تعالیٰ ویره پریخودل او د دنیا په

محبت کښې مستغرق کېدل ئې اصلي وجه ده .

او د دې زمانې عقلمند خلق چه کومې وجې تراشي چه تجارت نۀ کېدل زراعت نۀ کېدل صنعت نۀ کېدل دا ټول غلط دي ، او نخرې دي د مسلمانانو په مخکښې کېدو کښې صرف دغه حائل دې چه قران او حديث ئې پرېخودې دي او د دنيا په دهندو کښې داسې نښتي دي چه دين ئې هېو په خيال کښې نۀ راځي بيا الله تعالیٰ هم دوئ لره په عذاب کښې گرفتار کړي دي چه دنيا هُم دوئ ته نه ميلاوېږي باوُجو د دې چه پۀ فکر کښې ئې سرگردانه دي . او شپه او ورځ په دنيادارئ کښې مصروف دي ، بيا ورځ په ورځ نور مفلس او تباه کيږي . او د کومې پورې چه هغه د دې نه توبه نۀ کړي د هغې پورې به پرې دا عذاب چرته هم کم نۀ شي . هغه که هر څومره اولولی او علم حاصل کړي .

بيا ما خيال اوکړو چه کافر خو هم د الله جل جلا له نه غافله دي او شپه او ورځ په دنيا کښې مصروف دي هغوئ ته ئې دا حکومت او دولت ولې ورکړې دې ، معلومه شوه چه د کافرانو دپاره خو صرف دغه دنيا ده ، او د هغوئ کفر د دغه يو امريعنی په آخرت کښې د پې نصيبه کولو د پاره پوره دې ، اوس د بل عذاب صورت نشته نۀ هغوئ له د دنيا دَ عذاب د پاره د وېښه ولو او د دين د پاره د بيدارَولو ضرورت شته . بلکه الله تعالیٰ خپلو مسلمانانو بنديگانو لره خواه که هر څومره گنهگار وي په تکليف ورکولو سره بيداره ول غواړي . او کيږي به هغه څه چه دَ هغه پَه عِلم کښې دي .

صدقه د خپل پروردگار او مالك حقيقي نه قربان او دَ آقا ئې واقعي نه يا الله جل جلا له تۀ په خپل فضل سره او د خاتم الانبياء صلی الله عليه وسلم دَ اطاعت په ذريعه د مسلمانانو په زړۀ په کتاب او سنت باندې اولگوې . او يو ځل بيا ورته خپل او د خپل دين بول بالا اوبنائې . آمين .

﴿ بابُ غزوة اُحُد ﴾

د احد د غزا بيان

(۴۶۴۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُفْرِدَ يَوْمَ اُحُدٍ

فِىْ سَبْعَةٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ وَرَجُلَيْنِ مِنْ قُرَيْشٍ فَلَمَّا رَهِقُوْهُ قَالَ مَنْ يَرُدُّهُمْ عَنَّا وَلَهُ الْجَنَّةُ اَوْ هُوَ رَفِيْقِىْ فِىْ الْجَنَّةِ فَتَقَدَّمَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ ثُمَّ رَهِقُوْهُ قَالَ مَنْ يَرُدُّهُمْ عَنَّا وَلَهُ الْجَنَّةُ اَوْ هُوَ رَفِيْقِىْ فِىْ الْجَنَّةِ فَتَقَدَّمَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ ثُمَّ رَهِقُوْهُ اَيْضًا فَلَمْ يَزَلْ كَذٰلِكَ حَتّٰى قُتِلَ السَّبْعَةُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَاحِبَيْهِ مَا اَنْصَفْنَا اَصْحَابَنَا مَا اَنْصَفْنَا اَصْحَابَنَا.

ترجمه :دَ انس بن مالكؓ نه روايت دے رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ احد په ورځ (هر کله چه کافران غلبه شو او مسلمان مغلوب شو) جدا شولو اووه سړی دَ انصارو او دوه دَ قريشو د حضرتؐ سره پاتے شو ـ او کافرانو په حضرتؐ باندے هجوم اوکړو ـ حضرتؐ اوفرمائيل چا چه دوئ لره واپس کړو هغه ته به جنت ميلاؤ شی يا به په جنت کښ زما ملګرے وی ـ يو انصاریؓ ورمخکښے شو او اوجنګيدو تر دے پورے چه شهيد شولو ، هغوئ بيا هجوم اوکړو حضرتؐ اوفرمائيل چا چه واپس کړو دوئ لره هغه ته به جنت ميلاؤ شی يا به په جنت کښے زما ملګرے وی ـ يو بل انصاریؓ ورمخکښے شو او اوجنګيدو تر دے پورے چه قتل شو بيا دغه حال روان وو تر دے پورے چه اووه واړه انصارؓ شهيدان شول (سبحان الله دَ انصارؓو وفاداری او جان نثاری څنګه وه ـ د دے نه دَ اصحابؓو د رسول الله صلى الله عليه وسلم درجه او مرتبه پيژندل پکار دی)بيا حضرتؐ اوفرمائيل مونږ انصاف اونۀ کړو د خپلو ملګرو سره ـ يا زمونږ يارانو زمونږ سره انصاف اونۀ کړو ـ

(په رومبی صورت کښے به مطلب دا وی چه انصاف اونۀ کړے شو يعنی قريش موجود وو لو انصارؓ شهيدان شو ـ دغه وتل قريشو له پکار وو ـ په دوئم صورت کښ به دا معنے وی چه زمونږ ياران کوم چه اوتښتيدل ځان ئے بچ کړو هغوئؓ انصاف اونۀ کړو چه د هغوئؓ رونړه شهيدان شول او هغه د خپل ځان د بچ کولو په فکر کښے وو ـ

(۴۶۴۲) عَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ ابْنِ اَبِىْ حَازِمٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهٗ سَمِعَ سَهْلَ ابْنَ سَعْدٍ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يُسْئَلُ عَنْ جُرْحِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اُحُدٍ فَقَالَ جُرِحَ وَجْهُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهٗ وَهُشِمَتِ الْبَيْضَاءُ عَلٰى رَاْسِهٖ فَكَانَتْ فَاطِمَةُ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا بِنْتُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَغْسِلُ الدَّمَ وَكَانَ عَلِىُّ ابْنُ اَبِىْ طَالِبٍ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَسْكُبُ عَلَيْهَا

بِالْمِجَنِّ فَلَمَّا رَأَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ الْمَآءَ لَا يَزِيْدُ الدَّمَ اِلَّا كَثْرَةً اَخَذَتْ قِطْعَةَ حَصِيْرٍ فَاَحْرَقَتْهُ حَتّٰى صَارَ رَمَادًا ثُمَّ اَلْصَقَتْهُ بِالْجُرْحِ فَاسْتَمْسَكَ الدَّمُ. [بخاری ،]

ترجمه : د عبدالعزیز بن ابی حازم نه روایت دے ، هغویؒ د خپل پلار ابو حازم (سلمه بن دینار مدنیؒ) نه اوریدلی او هغویؒ د سهل بن سعد رضی الله تعالیٰ عنه د هغویؒ نه تپوس اوشو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زخمی کیدو د حال ذ احد ذ ورځی . هغویؒ اووے د هغویؒ مخ مبارك زخمی شو او غابنونه ئے شهیدان شو او په سَر باندے ئے دَ وسپنے توپئ ماته شوه (نو سرته به ئے څو مره تکلیف راغلے وی) بیا حضرت فاطمے رضی الله عنها لور د رسول الله صلی الله علیه وسلم به وینی وینځلے . او حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنهٔ به پرے اوبه غورځولے ، هر کله چه فاطمےؓ اولیدل چه دَ اوبو سره وینه زیاته بهیږی نو هغویؒ دَ یو پوزی ټکړه اوسیزله او د هغے هغه ایره ئے ورته پَه زخم اولګوله پس وینه بنده شوه .

(۴۶۴۳) عَنْ اَبِيْ حَازِمٍ اَنَّهُ سَمِعَ سَهْلَ ابْنَ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهُوَ يُسْئَلُ عَنْ جُرْحِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَمَا وَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَعْرِفُ مَنْ كَانَ يَغْسِلُ جُرْحَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَ يَسْكُبُ الْمَاءَ وَبِمَا زَادُوِیْ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيْثِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ غَيْرَ اَنَّهُ زَادَ وَجُرِحَ وَجْهُهُ وَقَالَ مَكَانَ هُشِمَتْ كُسِرَتْ. [بخاری]

ترجمه: د سهل بن سعد رضی الله تعالیٰ عنه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د زخمی کیدو د حال تپوس اوشو . هغویؒ اووے زهٔ پیژنم قسم په خدائے هغه سرے چه دَ حضرتؐ زخم ئے وینځلو . او چا چه پرے اوبه اچولے او کومه دوائی چه اوشوه . بیا ئے بیان کړو حدیث په دغه شان لکه چه پورته تیر شولو .

(۴۶۴۴) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَدِيْثِ ابْنِ اَبِيْ هِلَالٍ اُصِيْبَ وَجْهُهُ وَفِيْ حَدِيْثِ ابْنِ مُطَرِّفٍ جُرِحَ وَجْهُهُ . [بخاری ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه :د دے ترجمه هم د دے نه د مخکښنے حدیث په شان ده .

(۴۶۴۵) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُسِرَتْ رُبَاعِيَتُهُ يَوْمَ اُحُدٍ وَشُجَّ فِيْ رَاْسِهٖ فَجَعَلَ يَسْلُتُ الدَّمَ عَنْهُ وَيَقُوْلُ كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوْا نَبِيَّهُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَكَسَرُوْا رَبَاعِيَتَهٗ وَهُوَ يَدْعُوْهُمْ اِلَى اللّٰهِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ .

ترجمه : د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے ۔ دَ احد په ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم غابښ مات شو او سَرْئے هم زخمی شو حضرتؐ وینه لرے کوله اوفرمائیلو ئے ۔ څنګ به خلاصے اومومی یو قوم چا چه زخمی کړے دے پیغمبرؐ خپل لره او د هغه غابښ ئے مات کړے دے حالانکه هغه رابللو دوئ لره د الله جل جلا له په طرف ۔ پَه دغه وخت دا ایت نازل شولو " ستا څه اختیار نشته دے که الله جل جلا له اوغواړی معاف به ئے کړی او که اوغواړی عذاب به ورکړی ۔ ولے چه دوئ ظالمان دی ۔

فائده : حضرت صلی الله علیه وسلم چه د خپل قوم دا حال اولیدو نو د هغوئ د تباهئ یقین ئے اوکړو ، لیکن الله جل جلا له ورته اوښوده چه ستا په کارخانهٔ الهی کښے څه کار نشته دے ۔ اوس هم که الله جل جلا له غواړی نو هغوئ به معاف کړی او عذاب هم ورکولے شی بیا آخر الله تعالیٰ هغوئ لره په عذاب کړو چه خاص په دنیا کښ تباه او برباد ذلیل او خوار شو ۔ د مکے حکومت ترے هم لاړو ، تول غرور ترے د پوزے په لار اووتو ۔ او الله پاك خپل پیغمبرؐ لره غالب کړو ۔ په یو روایت کښے دی چه حضرتؐ د قریشو ظالمانو ته په بد دعا شروع اوکړه نو بیا هله الله تعالیٰ دا ایات نازل کړو۔

(۴۶۴۶) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كَاَنِّیْ اَنْظُرُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْكِیْ نَبِيًّا مِّنَ الْاَنْبِيَآءِ ضَرَبَهٗ قَوْمُهٗ وَهُوَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهٖ وَيَقُوْلُ رَبِّ اغْفِرْ لِقَوْمِیْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ . [بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه : د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نهٔ روایت دے لکه چه زهٔ وینم رَسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کولو د یو پیغمبرؐ دَ حال چه د هغوئ قوم هغهٔ وهلے وو او هغهٔ د خپلے خلے نه وینه صَفا کوله او دا به ئے وئیل یا الله جل جلا له ځما قوم اوبخښے دوئ کم عقل دی (سبحٰن الله د نبوت دَ حِلم بَه څه وائے) ۔

(۴۶۴۷) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهٗ قَالَ فَهُوَ يَنْضِحُ الدَّمَ عَنْ جَبِيْنِهٖ .

ترجمه: د دے حدیث د پورته حدیث په شان ده ۔

﴿ بَابُ اشْتِدَادِ غَضَبِ اللّٰهِ عَلٰى مَنْ قَتَلَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴾

چا لره چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله قتل کړی په هغه باندے دَ الله جل جلا غصه ډیره سخته دَه۔

(۴۶۴۸) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا اَبُوْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ اَحَادِيْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى قَوْمٍ فَعَلُوْا هٰذَا بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ حِيْنَئِذٍ يُشِيْرُ اِلٰى رُبَاعِيَتِهٖ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ عَلٰى رَجُلٍ يَّقْتُلُهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ.

[بخاری]

ترجمه: دَ ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ۔ لویه غصه ده دَ الله تعالیٰ په هغه خلقو باندے چا چه داسے کړی دی او اشاره ئے کوله د خپل غاښ په طرف ، اوفرمائیلی دی حضرت صلی الله علیه وسلم لویه غصه ده دَ الله تعالیٰ په هغه سړی باندے چه هغه لره رسول الله صلی الله علیه وسلم قتل کړی ، د الله تعالیٰ په لاره کښے ۔ (یعنی په جهاد کښے چه چا لره اووژنی ولے چه دغه مردود به د پیغمبرؑ دَ وژلو اراده کړے وی او د دے نه مراد هغه خلق نهٔ دی چه هغوئ لره حضرت صلی الله علیه وسلم په حد یا قصاص کښے اووژنی ۔

﴿ بَابُ مَا لَقِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَذَى الْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُنَافِقِيْنَ ﴾

رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د مشرکانو او منافقانو د لاس نه کوم تکلیف موندلی د هغے بیان

(۴۶۴۹) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ عِنْدَ الْبَيْتِ وَاَبُوْ جَهْلٍ وَّاَصْحَابٌ لَّهٗ جُلُوْسٌ وَّقَدْ نُحِرَتْ جَزُوْرٌ بِالْاَمْسِ فَقَالَ اَبُوْ جَهْلٍ اَيُّكُمْ يَقُوْمُ اِلٰى سَلَا جَزُوْرِ بَنِيْ فُلَانٍ فَيَاْخُذُهٗ فَيَضَعُهٗ فِيْ كَتِفَيْ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا سَجَدَ فَانْبَعَثَ اَشْقَي

الْقَوْمِ فَاَخَذَهُ فَلَمَّا سَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ قَالَ فَاسْتَضْحَكُوْا وَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَمِيْلُ عَلٰى بَعْضٍ وَاَنَا قَائِمٌ اَنْظُرُ لَوْ كَانَتْ لِيْ مَنَعَةٌ طَرَحْتُهُ عَنْ ظَهْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدٌ مَا يَرْفَعُ رَاْسَهُ حَتّٰى انْطَلَقَ اِنْسَانٌ فَاَخْبَرَ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَجَاءَتْ وَهِيَ جُوَيْرِيَةٌ فَطَرَحَتْهُ عَنْهُ ثُمَّ اَقْبَلَتْ عَلَيْهِمْ تَشْتِمُهُمْ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ رَفَعَ صَوْتَهُ ثُمَّ دَعَا عَلَيْهِمْ وَكَانَ اِذَا دَعَا دَعَا ثَلَاثًا وَاِذَا سَاَلَ سَاَلَ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا سَمِعُوْا صَوْتَهُ ذَهَبَ عَنْهُمُ الضُّحْكُ وَخَافُوْا دَعْوَتَهُ ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِاَبِيْ جَهْلِ ابْنِ هِشَامٍ وَعُتْبَةَ بْنِ رَبِيْعَةَ وَشَيْبَةَ ابْنِ رَبِيْعَةَ وَالْوَلِيْدِ ابْنِ عُقْبَةَ وَاُمَيَّةَ ابْنِ خَلَفٍ وَعُقْبَةَ ابْنِ اَبِيْ مُعَيْطٍ وَذَكَرَ السَّابِعَ وَلَمْ اَحْفَظْهُ وَالَّذِيْ بَعَثَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَقِّ لَقَدْ رَاَيْتُ الَّذِيْنَ سَمّٰى صَرْعٰى يَوْمَ بَدْرٍ ثُمَّ اِلَى الْقَلِيْبِ قَلِيْبِ بَدْرٍ قَالَ اَبُوْ اِسْحَاقَ الْوَلِيْدُ ابْنُ عُقْبَةَ غَلَطٌ فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ . [بخاری، نسائی]

ترجمه : د عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خانه کعبے په خواه کښے مونځ لوستلو او ابوجهل د خپلو یارانو سره ناست وو. او یوه ورځ مخکښے نے یوه اوښه حلاله کړے وه . ابوجهل اووے ستاسو به څوك لاړ شی چه د هغے بچه دان راوړی او هغے لره کیږدی د محمد صلی الله علیه وسلم د دواړو اوګو په مینځ کښے هر کله چه هغه سجدے له لاړ شی . د دے په اوریدو یو بدبخت شقی پاڅیدو (عقبه بن ابی معیط ملعون) او راٸے وړو هغے لره . او رسول الله صلی الله علیه وسلم چه هرکله سجدے له لاړو نو د هغویٰ د دواړو اوګو په مینځ کښے ئے هغه بچه دان کیښودو . بیا هغه خلقو خندا شروع کړه او د خندا دَ وجے نه په یو بل باندے پریوتو . او زهٔ ولاړوم ما لیدلو ماته کچرے زور وے (یعنی څما مددګار خلق وے) نو ما به دَ حضرتؐ د شا نه هغه شے غورځولے وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه سجده پروت وو . هغویٰ سر نهٔ اوچتولو تر دے پورے چه یو سړے لاړو او هغه فاطمه رضی الله عنها خبرکړه . او هغهٔ راغله . دغه وخت جینئ وه . او د حضرتؐ د شانه ئے هغه (بچه دان) اوغورځوو بیا د هغه خلقو طرفته راغله او هغویٰ ته ئے بدرَدْ اووے . هر کله چه حضرتؐ مونځ ادا کړو نو په اوچت آواز سره ئے هغویٰ ته بد دُعا اوکړه . حضرتؐ چه به

هر کله دعا کوله نو درے ځله به ئے کوله ، او هر کله چه به ئے د الله جل جلا له نه څه غوښتل نو درے ځله به ئے غوښتل بیا حضرتؐ درے ځله اوفرمائیل الله جل جلاله قریشو له سزاء ورکړه ، هغه خلقو چه هر کله د حضرتؐ آواز واوریدو نو خندا ئے لاړه او دَ حضرتؐ د بد دعا نه اوویریدل ، بیا حضرتؐ اوفرمائیل اے الله جل جلا له تهٔ پوهَ شه د ابو جهل بن هشام ، او عتبه بن ربیعه او شیبه بن ربیعه او ولید بن عقبه او امیه بن خلف او عقبه بن ابی معیط سره او دَ اووم نوم ماته یاد نهٔ دے (د بخاری په روایت کښے د هغه نوم عماره بن ولید مذکور دے) بیا قسم دے په هغه ذات چا چه محمد صلی الله علیه وسلم په سچه پیغمبرّ رالیږلے دے ، چه ما هغه تولو لره د چا چه پیغمبرّ نوم اخستے وو د بدر په ورځ پریوتی اولیدل چه د هغویٔ لاشونه په راښکودو سره په کوهی کښے اوغورځولے شو کوم چه په بدر کښے وو (لکه څنګه چه سپی لره په راښکودو غورځولے شی) ابو اسحٰق وئیلی دی د ولید بن عقبه نوم غلط دے په دے حدیث کښے ۔

فائده : نووئ وائی په دے حدیث کښے دا اشکال دے چه هر کله پلیتی ئے د حضرتؐ په شا کیښوده نو حضرتؐ مونځ څنګه لوستلو قاضی عیاضؒ د دے دا جواب ورکړے دے چه بچه دان دَ اوښے پلیت نهٔ دے ، په دے واسطه چه پچے اولوندوالے د هغے دبدن پاك دے ، او په لړے کښے دغه څیزونه وی ، پلیته خو وینه ده ، او دا جواب دَ امام مالك په مذهب باندے جوړ دے چه د حلال څناور بول پاك دی ، زمونږه او دَ ابو حنیفهؒ مذهب دا دے چه بچه دان نجس دے او د قاضی عیاضؒ جواب ضعیف او باطِل دے ځکه چه په لړے یا بچه دان کښے وینه هم وی ، دویم دا چه هغه د مشرکانو ذبیحه وه ، او هغه پلیته ده ۔ دغه شان د هغے غوښه او تول اجزاء ناپاك دی ، جواب دا دے چه حضرتؐ د دے نه خبر نهٔ وو چه په شا باندے ئے څه ایخودے شوی دی ، ځکه حضرتؐ په سجده کښے مصروف وو ، (انتهیٰ) (بلکه دا چه د سجدے لګولو نه مخکښے د هغویٔ کپړے پاکے وے او د سجدے معنے الله جل جلا له ته عاجزی کول دی ، او په سجده کښے دننه پرے ظلم کول خو نوره هم عاجزی زیاتوی) (مترجم)

بلکه صحیح ولید بن عتبه دے ، او بخاری په خپل صحیح کښے دغه شان روایت کړے دے ، او ولید بن عقبه خو دغه وخت موجود نهٔ وو ، یاوو خو بچے به وو ، ولے چه په کومه ورځ

مکه فتح شوه نو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخې له راوستے شو په سر باندے د لاس
راښکودلو د پاره، دغه وخت هغه ځوانئ ته نزدے وو۔ (نووی) ۔

(۴۶۵۰) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ بَیْنَمَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدٌ وَحَوْلَهٗ نَاسٌ مِّنْ قُرَیْشٍ اِذْ جَآءَ عُقْبَةُ ابْنُ اَبِیْ مُعَیْطٍ بِسَلَاجَزُوْرٍ فَقَذَفَهٗ عَلٰی ظَهْرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ یَرْفَعْ رَاْسَهٗ فَجَاءَ تْ فَاطِمَةُ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فَاَخَذَتْهُ عَنْ ظَهْرِهٖ وَدَعَتْ عَلٰی مَنْ صَنَعَ ذٰلِکَ فَقَالَ اللّٰهُمَّ عَلَیْکَ الْمَلَاَ مِنْ قُرَیْشٍ اَبَاجَهْلِ ابْنِ هِشَامٍ وَعُتْبَةَ ابْنِ رَبِیْعَةَ وَشَیْبَةَ ابْنِ رَبِیْعَةَ وَعُقْبَةَ ابْنِ اَبِیْ مُعَیْطٍ وَاُمَیَّةَ ابْنِ خَلْفٍ وَّاُبَیَّ ابْنَ خَلْفٍ شُعْبَةُ الشَّاکُ فَلَقَدْ رَاَیْتُهُمْ قُتِلُوْا یَوْمَ بَدْرٍ فَاُلْقُوْا فِیْ بِئْرٍ غَیْرَ اَنَّ اُمَیَّةَ اَوْ اُبَیًّا تَقَطَّعَتْ اَوْصَالُهٗ فَلَمْ یُلْقَ فِی الْبِئْرِ ۔

ترجمه :دَ عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم په سجده پروت وو ۔ او د هغوئ نه چاپیره د قریشو خوتنه وو په دے کښے ولید بن ابی معیط راغے ، او دَ اوښے لرے ئے راوړو، او د حضرتؐ په شا مبارکه ئے اوغورځوۀ حضرتؐ خپل سر نۀ شو اوچتولے بیا حضرت فاطمه رضی الله تعالیٰ عنها راغله او د حضرتؐ د شا نه ئے هغه لرے کړو او دَ داسے کولو والا د پاره ئے بد دُعا اوکړه بیا حضرتؐ اوفرمائیل یا الله جل جلا له تۀ سزا ورکړه د قریشو دے تولی لره چه ابوجهل بن هشام دے او عتبه بن ربیعَه او شیبه بن رَبیعَه او عقبه بن ابی معیط او امیه بن حلف یا ابیّ بن خلف (په دوئ کښے شعبهؒ راوی د دے حدیث ته شك دے) عبدالله ابن مسعودؓ وائی بیا ما دغه تولو خلقو لره اولیدل چه اووژلے شو د بدر (د جنګ) په ورځ او کوهی ته اوغورځولے شول مګر دَ امیه یا ابی اوس تکړے تکړے جدا شوے وے ځکه هغه کوهی ته اونۀ غورځولے شو ۔

فائده :نوویؒ وائی د حضرتؐ دعا د هغوئ په باب کښے قبوله شوه او هغوئ کوهی ته اوغورځولے شول په ذلت سره او دفن نۀ کړے شول ولے چه د حربی دفن واجب نۀ دے ، بلکه په ځنګل کښے د اوغورځولے شی خو چه په کوم صورت کښے د هغه د بد بوئ نه خلقو ته د تکلیف ویره وی نو په خاوړو کښے دے پټ کړی ۔

قاضی عیاضؒ وائی په دے روایت باندے دا اعتراض شوے دے چه عماره بن ولید هم په

دغه خلقو کښې وو او هغه د بدر په ورځ باندے اونهٔ وژلے شو بلکه حبشو ته لاړو لو مړشو ، د هغے جواب دا دے چه مراد د هغوئ نه زیات خلق دی ولے چه عقبه بن ابی معیط هم د بدر په ورځ نهٔ وو وژلے شوے بلکه قید شوے وو بیا عراق الطبیه ته راغے او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه قتل کړو ـ (انتهیٰ)۔

(۴۶۵۱) عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهُ زَادَ وَکَانَ یَسْتَحِبُّ ثَلَاثًا یَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ عَلَیْکَ بِقُرَیْشٍ نِ اللّٰهُمَّ عَلَیْکَ بِقُرَیْشٍ نِ اللّٰهُمَّ عَلَیْکَ بِقُرَیْشٍ ثَلَاثًا وَذَکَرَ فِیْهِمُ الْوَلِیْدُ ابْنُ عُتْبَةَ وَاُمَیَّةَ ابْنَ خَلَفٍ وَلَمْ یَشُکَّ قَالَ اَبُوْ اِسْحَاقَ وَنَسِیْتُ السَّابِعَ ۔

ترجمه :د ابو اسحقؒ نه د پورته روایت پشان روایت دے په دے کښې دا دی چه حضرتؐ به درے ځله دُعا غوره کوله په عاجزئ سره ـ حضرتؐ فرمائیلی وو یاالله تهٔ اونیزنه د قریشو نه یا الله جل جلا له تهٔ ئے اونیزنه د قریشو نه یا الله جل جلا له ته ئے اونیزنه د قریشو نه ، او دَ ولید بن عتبه نوم دے په ځائے د ولید بن عقبه او دَ امیه بن خلف نوم دے په دے کښې شك نشته ، او ابو اسحاقؒ وائی دَ اووم سړی نوم رانه هیر شولو ـ

(۴۶۵۲) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اسْتَقْبَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْبَیْتَ فَدَعَا عَلٰی سِتَّةِ نَفَرٍ مِّنْ قُرَیْشٍ فِیْهِمْ اَبُوْ جَهْلٍ وَّاُمَیَّةُ ابْنُ خَلَفٍ وَّعُتْبَةُ ابْنُ رَبِیْعَةَ وَشَیْبَةُ ابْنُ رَبِیْعَةَ وَعُقْبَةُ ابْنُ اَبِیْ مُعَیْطٍ فَاُقْسِمُ بِاللّٰهِ لَقَدْ رَأَیْتُهُمْ صَرْعٰی عَلٰی بَدْرٍ قَدْ غَیَّرَتْهُمُ الشَّمْسُ وَکَانَ یَوْمًا حَآرًّا ۔

[[راجع: ۴۶۴۹]]

ترجمه:دعبدالله بن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د کعبے طرفته مخ کړو او د قریشو د شپږو سړو د پاره ئے بد دُعا اوغوښته د ابو جهل او امیه بن خلف او عتبه بن ربیعه او د شیبه بن ربیعه او د عقبه بن ابی معیط د پاره ، بیا عبدالله بن مسعودؓ قسم اوخوړو چه ما دغه خلقو لره د بدر په ورځ پراته اولیدل چه نمر وراسته کړی وو ولے چه هغه دَ ګرمئ ورځ وه ـ

(۴۶۵۳) عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَتْهُ اَنَّهَا قَالَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ اَتٰی عَلَیْکَ یَوْمٌ کَانَ اَشَدَّ مِنْ یَّوْمِ اُحُدٍ فَقَالَ لَقَدْ لَقِیْتُ مِنْ قَوْمِکِ وَکَانَ

اشَدَّ مَا لَقِيتُ مِنْهُمْ يَوْمَ الْعَقَبَةِ إِذَا عَرَضْتُ نَفْسِي عَلَى ابْنِ عَبْدِ يَالِيلَ ابْنِ عَبْدِ كُلَالٍ فَلَمْ يُجِبْنِي إِلَى مَا اَرَدْتُ فَانْطَلَقْتُ وَاَنَا مَهْمُومٌ وَجْهِي فَلَمْ اَسْتَفِقْ اِلَّا بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَاِذَا اَنَا بِسَحَابَةٍ قَدْ اَظَلَّتْنِي فَنَظَرْتُ فَاِذَا فِيهَا جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ فَنَادَانِي فَقَالَ اِنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ لَكَ وَمَا رَدُّوْا عَلَيْكَ وَقَدْ بَعَثَ اِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَاْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيهِمْ قَالَ فَنَادَانِي مَلَكُ الْجِبَالِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ وَاَنَا مَلَكُ الْجِبَالِ وَقَدْ بَعَثَنِي رَبُّكَ اِلَيْكَ لِتَاْمُرَنِي بِاَمْرِكَ فَمَا شِئْتَ اِنْ شِئْتَ اَنْ اُطْبِقَ عَلَيْهِمُ الْاَخْشَبَيْنِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ اَرْجُوْا اَنْ يُخْرِجَ اللّٰهُ تَعَالٰى مِنْ اَصْلَابِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللّٰهَ وَحْدَهُ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا. [بخاری]

ترجمه :د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رضی الله تعالىٰ عنها نه روايت دے چه هغوئ عرض اوكړو يا رسول الله ! پتاسو باندے دَ احد دَ ورځی نه هم چرته زياته سخته ورځ تيره شوے ده؟ حضرتؐ اوفرمائيل " ما ډير افت اوچت كړے دے ستاد قوم نه (يعنی د قريشو د قوم نه) اود تولونه زياته سخته ماته د عقبے په ورځ را اورسيده چه ما دَ عبد يا ليل په ځوئ باندے خپل ځان پيش كړو (يعنی هغه ته مِ د مسلمانيدو او وے) هغه زما وينا اونۀ منله ، زۀ روان شوم او زما په مخ باندے تكليف وريدلو بيا ماته هوش رانغے (يعنی بوشان په تكليف كښی لاوم) مگر كله چه قرن الثالعب ته اورسيدم (دا ديو مقام نوم دے د كوم ځائے نه چه دَ نجد خلق احرام تړی د مكے نه دَ دوه منزله په فاصله باندے) نو ما خپل سر اوچت كړو څه گورم چه دَ وريځے يوه ټكړه په ما باندے سورے شوه او په هغے كښی جبرائيل عليه السلام وو هغوئ ماته آواز اوكړو او اوئے وئيل چه الله جل جلا له ستا د قوم وينا واوريده او څه چه هغوئ تاسو ته جواب دركړو ، نو د غرونو فرښته ئے تاته رااوليږله تۀ چه څه غواړے دوئ ته حكم اوكړه ، بيا هغه فرښتے ماته آواز اوكړو او سلام ئے اوكړو ، او اوئے وئيل اے محمدَ الله تعالىٰ ستا د قوم وينا اوريدَله ، او زۀ د غرونو فرښته يم ، او زۀ ستاسو پرودگار تاسو ته راليږلے يم د دے د پاره چه تۀ څه حكم كوے زۀ به ئے كوم څنگه چه ستاسو خوښه وی ، كه تۀ غواړے نو زۀ به دے دواړو غرونو لره په دوئ باندے (يعنی د ابو قبيس غر اوكوم چه د هغے مخے ته په مكه كښے دے) يو ځائے كړم (او دوئ به

پکښې چخړې کړم) حضرت صلی الله علیه وسلم هغه ته اوفرمائیل (زه دانۀ غوارم) بلکه زما امید دے چه الله تعالیٰ جل جلا له به د دوئ په اولاد کښې هغه خلقو لره پیدا کړی چه هغه به خاص دَ الله جل جلا له عبادت کوی او د هغه سره به هیڅ لره نۀ شریکوی ۔ (سبحن الله څومره مینه وه د حضرتؐ په خپل امت باندے چه هغوئ به ورته تکلیف ورکړو او حضرتؐ به د هغوئ تکلیف نۀ ګرانه وو۔)

(۴۶۵۴) عَنْ جُنْدُبِ ابْنِ اَبِیْ سُفْیَانَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ دَمِیَتْ اِصْبَعُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ بَعْضِ تِلْکَ الْمَشَاهِدِ فَقَالَ هَلْ اَنْتِ اِلَّا اِصْبَعٌ دَمِیْتِ وَفِیْ سَبِیْلِ اللهِ مَا لَقِیْتِ ۔ [بخاری ، ترمذی]

ترجمه : د جندب بن سفیانؓ نه روایت دے په یو جنګ کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ګوته مبارکه زخمی شوله او وینه ترے را اووته حضرتؐ اوفرمائیل نشته دے مګر یوه ګوته چه د هغے نه وینه را اووته ، او د الله تعالیٰ په لاره کښے تاته دغه تکلیف راغے (مطلب دا دے چه د الله پاك په لاره کښے دومره غونډِ تکلیف بے حقیقته دے ، او دا شعر نۀ دے لکه چه پورته تیر شو) ۔

(۴۶۵۵) عَنِ الْاَسْوَدِ ابْنِ قَیْسٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ کَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ غَارٍ فَنُکِبَتْ اِصْبَعُهٗ ۔ [راجع: ۴۶۵۴]

ترجمه :د اسود بن قیسؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په غار کښے وو(قاضی عیاضؒ وائی دا غلطی ده دَ غار په ځائے به دَ غازی لفظ وی یا د غار نه مراد لښکر دے) چه د حضرت ګوته زخمی شوله ۔

(۴۶۵۶) عَنْ جُنْدُبٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ اَبْطَا جِبْرَئِیْلُ عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الْمُشْرِکُوْنَ قَدْ وُدِّعَ مُحَمَّدٌ فَاَنْزَلَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ وَالضُّحٰی وَاللَّیْلِ اِذَا سَجٰی مَا وَدَّعَکَ رَبُّکَ وَمَا قَلٰی ۔ [بخاری ، ترمذی ،]

ترجمه :د جندبؓ نه روایت دے وائی چه جبرائیل علیه السلام څه ورځے حصار شو د حضرتؐ خوا له په راتلو کښې نو مشرکانو به وئیل الله تعالیٰ پریخودو محمد صلی الله علیه وسلم لره دغه وخت دا سورت نازل کړلو الله تعالیٰ جل جلا له چه قسم دے په وخت د څاښت او په شپه

چه کله پرده وا چوی ، نو نے پریخودے ته رب ستا او نه نے دشمن کړے نے ۔

(۴۶۵۷) عن الاسود ابن قیس قال سمعت جندب ابن سفیان رضی الله تعالیٰ عنه یقول اشتکی رسول الله صلی الله علیه وسلم فلم یقم لیلتین او ثلاثا فجاءته امرأة فقالت یا محمد انی لارجو ان یکون شیطانک قد ترکک لم اره قربک منذ لیلتین او ثلاث قال فانزل الله عزوجل والضحی • واللیل اذا سجی ما ودعک ربک وما قلی.

ترجمه: د اسود بن قیسؒ نه روایت دے وائی چه ما د جندب بن سفیانؓ نه اوریدلی دی چه ونیل نے رسول الله صلی الله علیه وسلم ناجوړه شو نو دوه درے شپے پانه خیدو بیا یوه ښځه راغله (عوراء بنت حرب د ابوسفیان خور د ابولهب ښځه حَمَّالَةَ الْحَطَبْ) او اونے ونیل یَا محمدهٔ زهٔ پوهه یم چه ستا شیطان ته پریخودے نے (دا دغه شیطانے د خندا نه اووے) زهٔ گورم چه دوه درے شپے ستا خوا له رانهٔ غے ۔ پس الله تعالیٰ دَا سورت نازل کړلو ۔ والضحیٰ د آخره پورے ، د دے معنیٰ پورته تیره شوه ۔

(۴۶۵۸) عن الاسود ابن قیس بهذا الاسناد نحو حدیثهما .[راجع: ۴۶۵۶]

ترجمه: نے هم هغه ده کومه چه پورته تیره شوه .

﴿ باب : فی دعاء النبی صلی الله علیه وسلم وصبره علی اذی المنافقین : ﴾

باب : دَ رسول الله ﷺ دُعا او دَ منافقینو په تکالیفو باندے صبر :

(۴۶۵۹) عن اسامة ابن زید رضی الله تعالیٰ عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم رکب حمارا علیه اکاف تحته قطیفة فدکیة واردف وراءه اسامة وهو یعود سعد ابن عبادة فی بنی الحارث ابن خزرج وذاک قبل وقعة بدر حتی مر بمجلس فیه اخلاط من المسلمین والمشرکین عبدة الاوثان والیهود فیهم عبد الله ابن ابی وفی المجلس عبد الله ابن رواحة فلما غشیت المجلس عجاجة الدآبة خمر عبد الله ابن ابی انفه بردائه ثم قال لا تغبر علینا فسلم علیهم النبی صلی الله علیه واله وسلم ثم وقف فنزل فدعاهم الی الله وقرء علیهم القرآن فقال عبد الله ابن ابی ایها المرء لا احسن من هذا ان کان ما تقول حقا فلا تؤذنا فی مجالسنا وارجع الی رحلک فمن جاءک منا فاقصص

عَلَيْهِ . فَقَالَ عَبْدُ اللهِ ابْنُ رَوَاحَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اغْشَنَا فِيْ مَجَالِسِنَا فَإِنَّا نُحِبُّ ذٰلِكَ قَالَ فَاسْتَبَّ الْمُسْلِمُوْنَ وَالْمُشْرِكُوْنَ وَالْيَهُوْدُ حَتّٰى هَمُّوْا اَنْ يَّتَوَاثَبُوْا فَلَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّضُهُمْ ثُمَّ رَكِبَ دَآبَّتَهُ حَتّٰى دَخَلَ عَلٰى سَعْدِ ابْنِ عُبَادَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ اَىْ سَعْدُ اَلَمْ تَسْمَعْ اِلٰى مَا قَالَ اَبُوْ حُبَابٍ يُرِيْدُ عَبْدَاللهِ ابْنَ اُبَيٍّ قَالَ كَذَا وَكَذَا قَالَ اُعْفُ عَنْهُ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَاصْفَحْ فَوَاللهِ لَقَدْ اَعْطَاكَ اللهُ الَّذِىْ اَعْطَاكَ وَلَقَدِ اصْطَلَحَ اَهْلُ هٰذِهِ الْبُحَيْرَةِ اَنْ يُّتَوِّجُوْهُ فَيُعَصِّبُوْهُ بِالْعِصَابَةِ فَلَمَّا رَدَّ اللهُ ذٰلِكَ بِالْحَقِّ الَّذِىْ اَعْطَاكَهُ شَرِقَ بِذٰلِكَ فَذٰلِكَ فَعَلَ بِهِ مَا رَاَيْتَ فَعَفَاعَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . [بخاری ،]

ترجمه : د اسامه بن زيدؓ نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو خر باندے سور شولو په هغه باندے يو ه کته وه ، او لاندِ د هغې نه دَ فدك يو څادر وو (فدك يو مشهور ښهر وو د دمدينې نه په دوه ورځے منزله باندے) او د حضرتؓ سره ورستو په دغه خر باندے اسامه بن زيدؓ هم وو ، هغوئ د سعد بن عبادهؓ د بيمار پُرسَئ د پاره د بنى حارث بن خزرج محلے ته تشريف يوړلو او دا قيصه د بدر د جنګ نه د مخکښيے وخت ده - تر دے پورے چه حضرتؓ تير شو په يو مجلس باندے چه په هغے کښ د هر قسمه خلق يعنى مسلمانان او مشرکان بت پرست او يهود شريك وو ، په دغه خلقو کښے عبدالله بن ابئ (مشهور منافق) هم وو - او عبداللهؓ بن رواحه هم وو ، هر کله چه دغه مجلس ته د څناور ګرد وراورَسيدو نو عبدالله بن ابئ خپله پوزه په څادر بنده کړه ، او اوئے وئيل په مونږ باند ګردونه مهٔ الوزَوئ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه خلقو ته سلام اوکړو بيا اودريدو او د خر نه راکوز شو او هغوئ ته ئے دَ الله جل جلا له په طرف دعوت ورکړو او قرآن ئے ورته واؤرَوو. عبدالله بن ابئ اووے اے سړيه ! د دے نه ښه څه نشته يا د دے نه خو دا غوره وه چه تهٔ په خپل کور کښ ناست وے کچرے ستا وينا حقه وى نو مهٔ تنګوه مونږ لره زمونږ په مجلسونو کښ او واپس لاړ شه خپل کور ته بيا چه څوك زمونږ نه ستا خوا له درځى نو هغه ته دا قيصه اورَه وه - عبداللهؓ بن رواحه اووے مونږ ته ئے ضرور زمونږ په مجلسونو کښ بَيَانوه - ولے چه مونږ دے خبرو لره خوښه وو. اسامهؓ وائى چه بيا مسلمانانو او مشرکانو او يهودو کنځل وئيل شروع کړو تر دے پورے چه يو دَ بل دَ وهلو لراده اوکړه ، او رسول الله صلى الله عليه وسلم به

دغه جګړه غلې کوله. آخر حضرتؐ په خپله سورلۍ باندې سور شولو، او د سعدؓ بن عباده خوا له لاړو . حضرتؐ اوفرمائیل اې سعدؓ تا وانۀ وریدلې د ابو احباب (دا د عبدالله بن ابیٔ کنیت دې) خبرې ، هغه داسې داسې خبرې اوکړې سعدؓ اووې تاسوؐ ئې معاف کړئ یا رسول اللهؐ او پرېږدوئ ئې ، قسم دې په الله جل جلاله باندې الله جل جلاله چه تا له څه درکړی هغه ئې درکړی دی . او دې ښهر والاؤ خو دا مقرر کړې وه چه عبدالله بن ابیٔ ته تاج پسر کړی او پټکې ورته اوتړی (یعنی هغه د دې ځائې بادشاه کړی) هر کله چه الله تعالیٰ ورنۀ کړو ده لره هغه حق کوم چه ئې تا له درکړو نو دې اوسیزلې شو (د حسد په وجه) او دغه حسد د هغه نه دا اوکړو کوم چه تاسوؐ اولیدل . بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه لره معاف کړلو۔

فائده :او هغه موذی د مرګه پورې منافق پاتې شو چرته هم دزرۀ دَ اخلاصه مسلمان نۀ شولو خو حضرتؐ هغه لره چرته هم تنګ نۀ کړو بلکه د هغه سفارش ئې قبول کړو د بنی قینقاع په باره کښې او هر کله چه هغه مړ شو نو د هغه د ځوئ په درخواست باندې حضرتؐ هغه ته د اغوستلو د پاره خپله کرته ورکړه ۔

(۴۶۶۰) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ فِيْ هٰذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِهِ وَزَادَ ذٰلِکَ قَبْلَ اَنْ يُّسْلِمَ عَبْدُ اللهِ

ترجمه :د دې د پورته حدیث په شان ده ۔ خو دومره نورې زیاته ده چه د دغه وخته پورې عبدالله بن ابیٔ مسلمان شوې نۀ وو۔

(۴۶۶۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قِيْلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْاَتَيْتَ عَبْدَ اللهِ ابْنَ اُبَيٍّ قَالَ فَانْطَلَقَ اِلَيْهِ وَرَکِبَ حِمَارًا وَّانْطَلَقَ الْمُسْلِمُوْنَ وَهِيَ اَرْضٌ سَبِخَةٌ فَلَمَّا اَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِلَيْکَ عَنِّيْ فَوَاللهِ لَقَدْ اٰذَانِيْ نَتْنُ حِمَارِکَ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ وَاللهِ لَحِمَارُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَطْيَبُ رِيْحًا مِّنْکَ قَالَ فَغَضِبَ لِعَبْدِاللهِ رَجُلٌ مِّنْ قَوْمِهِ قَالَ فَغَضِبَ لِکُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا اَصْحَابُهُ قَالَ فَکَانَ بَيْنَهُمْ ضَرْبٌ بِالْجَرِيْدِ وَبِالْاَيْدِيْ وَالنِّعَالِ فَبَلَغَنَا اَنَّهَا نَزَلَتْ فِيْهِمْ "وَاِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ". [بخاری]

ترجمه : دَ انس بن مالك رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دې وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خلقو عرض اوکړو چه کاش تاسو د عبدالله بن ابیٔ خوا له تشریف یوړلې ۔ (او هغه ته

مو دعوت د اسلام ورکړلے) حضرت په یو خر باندے سور شولو او د هغه خوا له روان شولو او مسلمانان هم روان شولو هغه زمکه بنوره وه ، هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه خوا له راغے نو هغه اووے لرے شه ځما د خوا نه قسم په خدائے چه ستا د خربوئ زۀ خفه کړمه . یو انصاریؓ اووے قسم په خدائے د حضرتؐ د خربوئ ستا د بوئ نه غوره دے ، د دے په اوریدو د عبدالله په قوم کښے یو سړے په غصه شو . او د دواړو طرفو خلق غصه شولو او یو بل ئے وهلو په لرګو اولاسونو او پیزارونو سره ، انسؓ وائی بیا مونږ ته خبر رااورسیدو چه دا آیت " وإن طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فأصلحوا بينهما " د هغوئ په باب کښے نازل شولو یعنی " کچرے دوه ډلے د مسلمانانو په خپلو کښے جنګ کوی نو صلحه کوه په مینځ د دغه دواړو کښے " دَ آخره پورے .

﴿ باب قتل أبي جهل ﴾

د ابوجهل مردود د وژلو بیان

(۴۶۶۲) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَّنْظُرُ لَنَا مَاصَنَعَ اَبُوْ جَهْلٍ فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَآءَ حَتّٰى بَرَدَ قَالَ فَاَخَذَ بِلِحْيَتِهٖ فَقَالَ اَنْتَ اَبُوْ جَهْلٍ فَقَالَ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوْهُ اَوْ قَالَ قَتَلَهُ قَوْمُهُ قَالَ وَقَالَ اَبُوْ مِجْلَزٍ قَالَ اَبُوْ جَهْلٍ فَلَوْ غَيْرُ اَكَّارٍ قَتَلَنِيْ . [بخاری]

ترجمه : دَ انس بن مالك رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل څوك به د ابوجهل خبر راوړی د دے په اوریدو ابن مسعود رضی الله عنه لاړو چه اوئے کتل نو د عفراء ځامنو هغه داسے وهلے یخ شوے دے (یعنی مرګ ته نزدے دے) ابن مسعودؓ د هغوئ ږیره اونیوه او ورته ئے اووے تهٔ ابوجهل ئے هغه اووے ولے تهٔ زیات ئے د هغه سړی نه چا لره چه تاسو قتل کړے دے (یعنی ځما نه زیات په قریشو کښے د لوئے درجے څوك نشته) یا د هغه قوم وژلے دے (مطلب دا دے کچرے تازهٔ قتل کړم نو ما لره څه ذلت نهٔ دے) ابومجلز وائی ابوجهل اووے کاش چه د زمیندار نه سوا بل چا زهٔ وژلے وے .

فائده : مردود د مرګ په وخت هم د جهل او بے وقوفئ په خیال کښے وو ، او مطلب د دے

:' رو چه د عفراء ځامن انصار وو او هغوئ به پټی او باغونه لرل نو کاشتکار او زمیندار شول دَ ابوجهل په نزد دا خلق ذلیله وو ، نو هغه آرزو کوله چه افسوس زهٔ د دوئ د لاسه نهٔ وے وژلے شوے ، د چا معزز سړی د لاسه وژلے شوے وے ، نو زما په شان باندے به داغ نهٔ وو لګیدلے ۔

په یو روایت کښې دی چه ابوجهل تپوس اوکړو چا فتح اوکړه ابن مسعودؓ اووے الله جل جلاله او د هغه رسول بیائے د هغه نه سر کټ کړلو او رائے وړو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښې ئے اوغورځوؤ پس حضرتؐ دَ الله تعالیٰ شکر ادا کړو او اوئے فرمائیل چه دا د دے امت فرعون وو۔

(۴۶۶۳) عَنْ اَنَسٍ قَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَعْلَمُ لِيْ مَا فَعَلَ اَبُوْ جَهْلٍ بِمِثْلِ حَدِيْثِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَقَوْلِ اَبِيْ مَجْلَزٍ كَمَا ذَكَرَهُ اِسْمَاعِيْلُ ۔ [راجع: ۴۶۶۲]

ترجمه: د دے هم هغه ده کومه چه پورته تیره شوه ۔

فائده :نووی وئیلی دی حضرتؐ محمد بن مسلمه لره دَ کعب بن اشرف د قتل د پاره اولیږلو۔ او هغوئ هغه لره په مکر او فریب سره قتل کړلو ، او د دے وجه دا وه چه کعب به د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وعده خلافی کوله او د هغوئ سپکاوے به ئے کولو ۔ اود هغوئ بد به ئے وئیلو ، او مخکښے ئے دا اقرار کړے وو چه ستا دشمن ته به مدد نهٔ ورکوم لو بیا دَ دښمنانو سره شریک شولو ۔ او دا قتل د حضرت صلی الله علیه وسلم د طرفنه خلاف وعده نهٔ وو۔

اود حضرت علی رضی الله عنه په مجلس کښے یو سړی اووے چه د کعب قتل غدر (یعنی دهوکه) وه چه هغوئ د هغه څټ اووهو ولے چه دهوکه به هله وے چه د امن ورکولو نه پس ئے قتل کړے وے او د دے حدیث نه دا را اوځی چه چاته دَ اسلام دعوت ور رسیدلے وی د هغه قتل په فریب او تدبیر سره هم درست دے ، د بار بار دعوت ورکولو حاجت نشته دے ۔

﴿ بَابُ قَتْلِ كَعْبِ ابْنِ الْاَشْرَفِ طَاغُوْتِ الْيَهُوْدِ ﴾

د کعب بن اشرف د یهودیانو د پیرد قتل بیان

(۴۶۶۴) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لِكَعْبِ ابْنِ

اْلاَشْرَف فَاِنَّهٗ قَدْ اٰذَى اللهَ تعالى وَرَسُوْلَهٗ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُحَمَّدُ ابْنُ مَسْلَمَةَ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَتُحِبُّ اَنْ اَقْتُلَهٗ قَالَ نَعَمْ قَالَ اِئْذَنْ لِيْ فَلاَقُلْ قَالَ قُلْ فَاَتَاهُ فَقَالَ لَهٗ وَذَكَرَ مَا بَيْنَهُمَا وَقَالَ اِنَّ هٰذَا الرَّجُلَ قَدْ اَرَادَ صَدَقَةً وَقَدْ عَنَّانَا فَلَمَّا سَمِعَهٗ قَالَ وَاَيْضًا وَاللهِ لَتَمَلُّنَّهٗ قَالَ اِنَّا قَدِاتَّبَعْنَاهُ الْاٰنَ وَنَكْرَهُ اَنْ نَّدَعَهٗ حَتّٰى نَنْظُرَ اِلٰى اَيِّ شَيْئٍ يَّصِيْرُ اَمْرُهٗ قَالَ وَقَدْ اَرَدْتُّ اَنْ تُسْلِفَنِيْ . سَلَفًا قَالَ فَمَا تَرْهَنُنِيْ قَالَ مَا تُرِيْدُ قَالَ تَرْهَنُنِيْ نِسَآءَ كُمْ قَالَ اَنْتَ اَجْمَلُ الْعَرَبِ اَنَرْهَنُكَ نِسَآءَ نَا قَالَ تَرْهَنُوْنِيْ اَوْلَادَكُمْ قَالَ يُسَبُّ ابْنُ اَحَدِنَا فَيُقَالُ رُهِنَ فِيْ وَسْقَيْنِ مِنْ تَمْرٍ وَّلٰكِنْ نَّرْهَنُكَ اللَّاْمَةَ يَعْنِي السِّلَاحَ قَالَ نَعَمْ وَوَاعَدَهٗ اَنْ يَّاْتِيَهٗ بِالْحَارِثِ وَاَبِيْ عَبْسِ ابْنِ جَبْرٍ وَّعَبَّادِ ابْنِ بِشْرٍ قَالَ فَجَآءُ وْا فَدَعَوْهُ لَيْلًا فَنَزَلَ اِلَيْهِمْ قَالَ سُفْيَانُ قَالَ غَيْرُ عَمْرٍو وَقَالَتِ امْرَاَتُهٗ اِنِّيْ لَاَسْمَعُ صَوْتًا كَاَنَّهٗ صَوْتُ دَمٍ قَالَ اِنَّمَا هٰذَا مُحَمَّدٌ وَّرَضِيْعُهٗ وَاَبُوْنَائِلَةَ اِنَّ الْكَرِيْمَ لَوْ دُعِيَ اِلٰى طَعْنَةٍ لَيْلًا لَاَجَابَ قَالَ مُحَمَّدٌ اِنِّيْ اِذَا جَآءَ فَسَوْفَ اَمُدُّ يَدِيْ اِلٰى رَاْسِهٖ فَاِذَا اسْتَمْكَنْتُ مِنْهُ فَدُوْنَكُمْ قَالَ فَلَمَّا نَزَلَ نَزَلَ مُتَوَشِّحٌ فَقَالُوْا نَجِدُ مِنْكَ رِيْحَ الطِّيْبِ قَالَ نَعَمْ تَحْتِيْ فُلَانَةُ هِيَ اَعْطَرُ نِسَآءِ الْعَرَبِ قَالَ فَتَاْذَنُ لِيْ اَنْ اَشُمَّ مِنْهُ قَالَ نَعَمْ فَشُمَّ فَتَنَاوَلَ فَشَمَّ ثُمَّ قَالَ اَتَاْذَنُ لِيْ اَنْ اَعُوْدَ قَالَ فَاسْتَمْكَنَ مِنْ رَّاْسِهٖ ثُمَّ قَالَ دُوْنَكُمْ قَالَ فَقَتَلُوْهُ. [بخاری ، ابو داود]

ترجمه: دحضرت جابررضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوك به اوژنی كعب بن اشرف لره بیشكه هغه ضرر وركوی الله جل جلاله ته او: هغه رسول لره، (په سیرۀ ابن همام كښ دی چه كعب روميے مكے ته لاړو اومشركانو ته ئے دجنګ كولو ترغیب وركړو دحضرت ﷺ سره يامدينے ته راغے اودمسلمانانو په ښځوباندے ئے غزلے ونیل "دسپكاوی كولو دمحمد رسول الله ﷺ" شروع كړو) محمد بن مسلمه اووے، ايا تاسو ﷺ غواړی چه زۀ دی اووژنم هغه لره. حضرت ﷺ اوفرمائیل هاں،محمد بن مسلمةؓ اووے بیاخومالره دويناكولو اجازت راكړئ، (يعنی زه به دهغه سره چه څنګه مصلحت وی هغسے خبرے كوم اګركه په ظاهركښے ستاسوبل هم وی ددے دپاره چه هغه په مااعتبار اوكړی) حضرت ﷺ اوفرمائيل وايه (چه څه مصلحت وی) بيامحمد بن مسلمةؓ دكعب سره خبرے شروع كړے اوخپله اودحضرت ﷺ معامله ئے ورته بيان كړه، اواوئے ونيل چه دے سړی (يعنی حضرت ﷺ) دصدقے اخستلو اراده كړے ده اوموږ ئے په تكليف كښے اچولی يو)داتعريض

دے چه ددے ظاهری معنی بله ده اوپه اصل کښے مطلب نے صحیح دے چه دشرع احکام ئے په مونږ باندے جاری کړل اوپه هغے دعمل کولو په وجه نفس ته تکلیف وی) هرکله چه کعب داواوریدل نواوئے وئیل چه اوس به نورهم په الله تعالی قسم چه تاسو ته تکلیف شی، محمدؓ بن مسلمه اووے اوس خو مونږ دهغوئ ﷺ سره شریك شوی یو اواوس دهغوئ ﷺ پریخودل راته هم بدمعلومیږی، دکومے پورے چه مونږ ددے انجام اونهٔ وینو چه څه کیږی، محمد بن مسلمهؓ اووے زهٔ داغوارم چه تهٔ ماله څه قرضه راکړه کعب اووے بنه ده تهٔ به څه شے ماته گانړه کړے، محمدؓ بن مسلمهؓ اووے ته څه غواړے، کعب اووے خپلے ښځے ماته گانړه کړه، محمدؓ بن مسلمهؓ اووے ته خوپه عربوکښے دهرچانه زیات ښکلے ئے نو مونږ خپلے ښځے څنگه ستاسره گانړه کړو؟ کعب اووے ښه ده خپل اولاد راسره گانړه کړه، محمدؓ اووے زمونږه څامنوته به بیاخلق پیغورکوی چه دکجورو په دوه پیمانو کښے ئے گانړه کړی وئ، البته مونږ به خپل هتیارستاسوسره گانړه کړو (په دے کښے مصلحت داوو چه دوسلے سره به ددے مردود خواله لاړشو اودے به قتل کړو) کعب اووے ښه ده، بیامحمدؓ بن مسلمه دهغه سره وعده اوکړه، چه زهٔ به حارثؓ (بن اوس) لره اوابوعبسؓ بن جبرعبدالرحمن اوعباد بن بشرلره راولم (په سیرة ابن هشام کښ دی چه ابونائله سلکان بن سلامه بن وقش چه دکعب رضاعی رور وو هغه هم لاړو) داتړون خلق راتلو اوهغه ئے دشپے راوغوښتو، هغه راکوزشو (دخپلے بالاخانے نه) دعمرونه علاوه. اوپه نورو روایتونوکښے دادی چه دکعب ښځے اووے دا آواز خوخونی آواز معلومیږی کعب اووے واه داخو محمدؓ بن مسلمهؓ دے اودهغوئ رضاعی رور اوابونائله دے (امام نوویؒ وئیلی دی صحیح داسے دی چه محمدؓ بن مسلمه دے اودهغوئ رضاعی رور ابونائله دے، دبخاری په روایت کښے دی چه کعب اووے واه داخو څما رور محمدؓ بن مسلمه دے اوزماسره پئ خوریٔ نکے رور ابونائله دے، اودغه صحیح دے لکه چه دسیرة ابن هشام نه معلومیږی) اودځوان سړی کار دادے چه کچرے دشپے دزخمی کولو اووژلو دپاره اوغوښتے شی نو هم دی لاړشی محمدؓ (خپلو ملگروته) اووے هرکله چه کعب راشی نوزهٔ به خپل لاس دهغه دسرپه طرف اوچت کړم، اوهرکله چه زهٔ په ښه شان دهغه سراونیسم یعنی قبضه ئے کړم نوبیاتاسوخپل کار

کوی، بیا کعب راکوز شو څادرلره دترخ نه لاندے کړے شوے، دغه خلقو اووے څومره مزیداره خوشبوئی ده کومه چه تالګولے ده، کعب اووے هاں څماسره فلانئ ښځه ده هغه دعربو دټولو ښځونه زیاته خوشبوداره اوسیږی، محمد بن مسلمه اووے که چرے ستااجازت وی نو چه زهٔ ستاسر بوئ کړم کعب اووے ښه ده، محمد ؓ دهغه سر اونیوهٔ اوبوئ ئے کړو، بیائے په دوباره اووے کهچرے ستااجازت وی نو چه بیائے بوئ کړم، اوپه قبضه کښے ئے دهغه سر اونیوهٔ اوملګروته ئے اووے نو هغوئ دهغه کارتمام کړو.

﴿ بَابُ غَزْوَةِ خَيْبَرَ ﴾

دخیبر دغزا بیان

(۴۶۶۵) عَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا خَيْبَرَ قَالَ فَصَلَّيْنَا عِنْدَهَا صَلٰوةَ الْغَدَاةِ بِغَلَسٍ فَرَكِبَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكِبَ أَبُوْطَلْحَةَ وَأَنَارَدِيْفُ أَبِي طَلْحَةَ فَأَجْرِىٰ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي زُقَاقِ خَيْبَرَ وَإِنَّ رُكْبَتِي لَتَمَسَّ فَخِذَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَانْحَسَرَ الْإِزَارُ عَنْ فَخِذِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي لَأَرَىٰ بَيَاضَ فَخِذِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّم فَلَمَّا دَخَلَ الْقَرْيَةَ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ قَالَهَا ثَلَاثَ مِرَارٍ قَالَ وَقَدْ خَرَجَ الْقَوْمُ إِلَى أَعْمَالِهِمْ فَقَالُوْا مُحَمَّدٌ قَالَ عَبْدُالْعَزِيْزِ وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا وَالْخَمِيْسُ قَالَ وَأَصَبْنَاهَا عَنْوَةً. [راجع:۳۴۹۷]

ترجمه: دانس بن مالک ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دخیبر جهاد اوکړو، نومونږ دسحر مونځ دخیبرسره اوکړو په تیاره کښې. رسول الله ﷺ سور شولو اوابو طلحة ؓ هم سور شولو اوزهٔ دهغوئ ؓ سره سور شوم په یواس باندے) رسول الله ﷺ دخیبرپه کوڅو کښې اس اوزغلوهٔ، اوزما زنګون درسول الله ﷺ دورون سره اولګیدو، اود حضرت ﷺ دورون نه تهبند آخوا شولو (داس په زغلولو کښې) نوماد حضرت ﷺ دورون سپین والے اولیدلو، هرکله چه حضرت ﷺ آبادئ ته اورسیدو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل "الله اکبر خراب شو خیبر، مونږ چه هرکله دیوقوم په میدان کښې کوز شو نوبده وی ورځ دویریدلو خلقو" حضرت ﷺ دادرے

حمله اوفرمائیل دغه وخت یهودیان خپلو کارونو ته وتلی وو، هغوئ داوئیل شروع کړو محمد ﷺ را اورسیدو دلښکر سره، انس وائی مونږه خیبر په زور دتورے فتح کړو۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی ددے حدیث نه مالکیه ؤ دلیل نیولے دے چه ورون سترنۂ دے، اوزمونږ مذهب دادے چه هغه ستردے، اوددے په ثبوت کښے ښو احادیث راغلے دی، لوددے حدیث داتاویل دے چه دلته بے اختیاره ورون کھولاؤشولو دمنډے دوجے نه، اودانس نظرناڅاپه په هغے باندے پریوتو۔ انتهی۔

(۴۶۶۶) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنْتُ رِدْفَ اَبِیْ طَلْحَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَوْمَ خَیْبَرَ وَقَدَمِیْ تَمَسُّ قَدَمَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَاَتَیْنَاهُمْ حِیْنَ بَزَغَتِ الشَّمْسُ وَقَدْاَخْرَجُوْا مَوَاشِیَهُمْ وَخَرَجُوْا بِفُؤُسِهِمْ وَمَکَاتِلِهِمْ وَمُرُوْرِهِمْ فَقَالُوْ مُحَمَّدٌ وَالْخَمِیْسُ قَالَ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَرِبَتْ خَیْبَرُ اِنَّااِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِیْنَ قَالَ فَهَزَمَهُمُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ. [راجع: ۳۵۰۰]

ترجمه: دانس رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ دابو طلحه رضی الله عنه سره سوروم دخیبر په ورځ اوزما خپے درسول الله ﷺ دخپو سره لګیدلے بیامونږ دنمردراختو سره هغوئ ته را اورسیدو، هغوئ خپل څاروی بهر راویستلی وو، اوتبرګئ اوزمبیلو نه، اوکشئ (یارسئ په ونه باندے دختلو دپاره) ئے را اخستی وو لوراوتلی وو، پس هغوئ اوونیل محمد ﷺ سره دلښکررا اورسیدو اورسول الله ﷺ اوفرمائیل خراب شولو خیبر، مونږ چه کله کوز شو دیوقوم په زمکه کښے نوبدوی سحردهغه خلقو چه هغه ویریدلو، انس وائی بیاالله تعالی شکست ورکړو هغوئ لره۔

(۴۶۶۷) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّا اَتٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَیْبَرَ اِنَّااِذَانَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِیْنَ .

ترجمه: دانس بن مالک رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، هرکله چه رسول الله ﷺ خیبرته اورسیدو، نودا ایت ئے اولوستو

فائده: معنی [illegible] تیره شوه اودا استشهاد دے دقران مجید نه اوهغه جائز دے،

لکه څنګه چه حضرت ﷺ دفتح مکے په موقع بتانوته دراشوکولو په وخت اوفرمائیل "جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ......" مګرمکروه دی په عامو خبرو کښے یاپه مزاج اوزړه لګولو کښ، ولے چه خلاف دے دعظمت نه۔

(۴۶۶۸) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰی خَيْبَرَ فَسِرْنَا لَيْلًا فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ لِعَامِرِ ابْنِ الْاَكْوَعِ اَلَا تُسْمِعُنَا مِنْ هُنَيْهَاتِكَ وَكَانَ عَامِرٌ رَجُلًا شَاعِرًا فَنَزَلَ يَحْدُوْا بِالْقَوْمِ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ لَوْلَا اَنْتَ مَااهْتَدَيْنَا وَلَاتَصَدَّقْنَا وَلَاصَلَّيْنَا فَاغْفِرْفِدَآءً لَكَ مَااقْتَفَيْنَا وَثَبِّتِ الْاَقْدَامَ اِنْ لَاقَيْنَا وَاَلْقِيَنْ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا اِنَّااِذَاصِيْحَ بِنَآاَتَيْنَا وَبِالصِّيَاحِ عَوَّلُوْا عَلَيْنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا السَّائِقُ قَالُوْا عَامِرٌ قَالَ يَرْحَمُهُ اللّٰهُ قَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ وَجَبَتْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْلَا اَمْتَعْتَنَا بِهٖ قَالَ فَاَتَيْنَا خَيْبَرَ فَحَاصَرْنَاهُمْ حَتّٰی اَصَابَتْنَا مَخْمَصَةٌ شَدِيْدَةٌ ثُمَّ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی فَتَحَهَا عَلَيْكُمْ فَلَمَّا اَمْسَی النَّاسُ مَسَآءَ الْيَوْمِ الَّذِیْ فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ اَوْقَدُوْا نِيْرَانًا كَثِيْرَةً فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاهٰذِهِ النِّيْرَانُ عَلٰی اَیِّ شَیْءٍ تُوْقِدُوْنَ قَالُوْا عَلٰی لَحْمٍ قَالَ اَیُّ لَحْمٍ قَالُوْا لَحْمُ حُمُرِ الْاِنْسِيَّةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَهْرِيْقُوْهَا وَاكْسِرُوْهَافَقَالَ رَجُلٌ اَوْيُهَرِيْقُوْنَهَا وَيَغْسِلُوْنَهَا قَالَ اَوْذَاكَ قَالَ فَلَمَّا تَصَآفَّ الْقَوْمُ كَانَ سَيْفُ عَامِرٍ فِيْهِ قِصَرٌ فَتَنَاوَلَ بِهٖ سَاقَ يَهُوْدِیٍّ لِيَضْرِبَهٗ وَيَرْجِعُ ذُبَابُ سَيْفِهٖ فَاَصَابَ رُكْبَةَ عَامِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَمَاتَ مِنْهُ فَلَمَّا قَفَلُوْا قَالَ سَلَمَةُ وَهُوَاٰخِذٌ بِيَدِیْ فَلَمَّا رَاٰنِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاكِتًا قَالَ مَالَكَ قُلْتُ لَهٗ فِدَاكَ اَبِیْ وَاُمِّیْ زَعَمُوْا اَنَّ عَامِرٌ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ حَبِطَ عَمَلُهٗ قَالَ مَنْ قَالَهٗ قُلْتُ فُلَانٌ وَفُلَانٌ وَاُسَيْدُ ابْنُ حُضَيْرِ نِ الْاَنْصَارِیُّ فَقَالَ كَذَبَ مَنْ قَالَهٗ اِنَّ لَهٗ لَاَجْرَيْنِ وَجَمَعَ بَيْنَ اِصْبَعَيْهِ اِنَّهٗ لَجَاهِدٌ مُجَاهِدٌ قَلَّ عَرَبِیٌّ مَشٰی بِهَامِثْلَهٗ وَخَالَفَ قُتَيْبَةُ مُحَمَّدًا مِّنَ الْحَدِيْثِ فِیْ حَرْفَيْنِ وَفِیْ رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّادٍ وَّاَلْقِ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا۔

[بخاری ، ابن ماجه ، وانظر فی مسلم :۵۰۱۸]

ترجمه : دسلمه بن اکوع رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه مونږ درسول الله ﷺ سره دخیبر په طرف اووتلو نودشپے روان وو، چه یوسړی په مونږ کښے اووے اے عامر بن اکوع (څماروړته) څه خپل اشعار نۀ وائے (چه لاره لنډه شی اوخوك اونه ویریږی ، نووی علیه الرحمة

وائی شعرونه تول بدنهٔ وی په دے کښ بنه اوید دواړه وی) اوعامرشاعر وو هغه کوز شو اوشعروئیل ئے شروع کړو (نووی وائی چه په سفرکښے دامستحب دی دزړهٔ دلګیدودپاره اودځناورو دخوشحاله ولو دپاره، اوښ په دے وئیلو سره داسے مستیږی چه بیاپه تللو سره مطلق نهٔ سترے کیږی)

"تاکچرے نهٔ وے کړے مونږ ته هدایت، چرته به بیامونږ صدقه زمونږ نهٔ وے عادت مونږ خاص دزړه نه شو قربان په تامونږه خطاکاریو مونږ ته اوکړے مغفرت کله مخامخ چه شو کافروته هلته قدمونه مومحکم کړه په قدرت خدایه تسلی اوتشفی راکړه تهٔ، مونږه خو حاضریو غواړو دانصرت سحروختی کافروانو شور جوړ کړو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل داڅوك چغے وهی ؟ خلقو عرض اوکړو چه عامربن الاکوع ، حضرت ﷺ اوفرمائیل الله تعالی دی په ده باندے رحم اوکړی یوسړی اووے اوس به هغه ضرور شهید کیږی یارسول الله ﷺ تاسو مونږ ته دهغه نه فائده اخستل راکړے وے، سلمه بن اکوع وائی بیامونږه خیبرته اورسیدواومونږه دخیبرخلقوله محاصره کړو اومونږ ته ډیره سخته لوږه راغله، ددے نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل الله تعالی خیبرله ستاسویه لاسونو باندے فتح کړو، سلمهٔ وائی هرکله چه هغه شپه شوه په کومه ورځ چه خیبرفتح شونو خلقو ډیراوربل کړو حضرت ﷺ تپوس اوکړو دا اور څنګه دے اوڅه پخولے شی، هغوی اووے غوښه پخوی حضرت ﷺ اوفرمائیل دڅه غوښه ؟ هغوی اووے دکلی دخرو، حضرت ﷺ اوفرمائیل تویٔ کړئ هغے له اوماتے کړئ کټویٔ دهغے، یوسړی اووے یارسول الله ! کچرے غوښه اوغورځوو اوکټویٔ اووینځو . حضرت ﷺ اوفرمائیل بنه ده داسے اوکړئ (نووی رحمه دحضرت ﷺ رائے بدله شوه په اجتهاد سره یاوحی سره) بیاچه هرکله خلقو صف اوتړلو نودعامرٌ توره وړه وه، هغهٔ دیویهودی په خپه ګدار اوکړو نوتوره ورته دهغهٔ په زنګون اولګیده، اوهغه ددغه زخم نه مړشولو هرکله چه خلق واپس شولو نوسلمهٔ وائی هغه زما لاس نیولے وو، رسول الله ﷺ ماته غلے غلے کتل. حضرت ﷺ تپوس اوکړو وے سلمهٔ ستاڅه حال دے . ماعرض اوکړو یارسول الله ځماپلار اومور دی تانه قربان شی خلق وائی چه دعامر عمل لغوه شو، ولے چه هغهٔ دخپل زخم

نه پخپله مړشولو) حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك وائي؟ ماواوریے فلانے فلانے اواسید بن حضیرانصاریؓ وائي، حضرت ﷺ اوفرمائیل چه هغویٔ غلط وائي دعامرؓ دوچند ثواب اوشو(یو خوداسلام اوعبادت اودویم دجهاد)اوحضرت خپلو دواړو ګوتو له میلاؤ کړے اواوئے فرمائیل چه هغه جاهد دے (یعني کوشش کولو والا داالله تعالی په لاره کښے) اومجاهد دے (یعني جهاد کونکے) داسے به ډیرکم عرب وي چا چه داسے جنګ کړے وي دده په مثل یادده مشابه عرب به ډیرکم وي۔

فائده : نووي علیه الرحمة وئیلي دي په خدائے باندے فداکیدل په دے کښې دا اشکال دے، چه فدا په هغه بنده باندے کیدے شي چه په هغه باندے څه بلاراتلے شي، اوپه الله تعالی باندے څه افت نۀ شي راتلے، اوکیدے شي چه دالفظ پے ارادے دخلے نه وتلے وي، لکه چه وئیلے شي قاتله الله ، اوکیدے شي، مراد دشاعر دفدا کیدونه داوي چه خپل روح ستادرضا دپاره خرچ کړم، بیاهم داسے لفظ ته علاوه دسند شرعي نه دخدائے نسبت نۀ شي وئیلے کیدے، یعني مونږه ئے را اوغوښتو اوآوازئے راکړو دجنت دپاره۔

اودبخاري په روایت کښے ددریمے اوڅلورمے مصرعے دامضمون دے چه زمونږ ګناهونه اوبخښے مونږ ستافدایان یو دکومے پورتے چه ژوندے یو، اوداتمے مصرعے دامضمون دے چه هرکله مونږدګناه دپاره اوغوښتے شو نو مونږ انکار کوؤ، اصحابوؓ ته دا امرمعلوم وو چه هرکله به حضر ﷺ دجنګ په موقعه کښے دچاد پاره داسے دعا اوکړه نو هغه به ضرور شهید کېدو، ځکه به هغوئ ﷺ داسے اوویے، دا هم دحضرت یوه معجزه وه۔

نوويؒ وئیلي دي ددے حدیث نه معلومیږي چه دکورني خرغونه پلیته دهٔ، اودغه مذهب دے زمونږه اودجمهور علماؤ ، اوددے حدیث بیان سره دشرح په کتاب النکاح کښے تیرشوے دے، اومالکیه چه کوم ددے په اباحت قائل دي، هغویٔ داتاویل کوي چه حضرت ﷺ منع فرمائیلے ده ددے نه . ولے چه حاجت وو دخرانو دسورلیٔ وغیره دپاره، یادتقسیم نۀ مخکښے هغویؒ داسے کړي وو.

(۴۶۶۹) عَنْ سَلَمَه ابْنِ الْاَکْوَعْ رِضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّا کَانَ یَوْمُ خَیْبَرَ قَاتَلَ اَخِیَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی

عَنْهُ قتالا شدیدا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وسلّم فَارْتدَّ عَلَیْهِ سَیْفُهُ فَقَتَلَهُ فَقَالَ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ فِیْ ذٰلِکَ وَشَکُّوْا فِیْهِ مَاتَ فِیْ بَعْضِ اَمْرِهٖ قَالَ سلمةُ فقفل رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خیبر فَقُلْتُ یَارَسُوْلَ اللهِ! اِءْ ذَنْ لِیْ اَنْ اَرْجُزَلَکَ فَاَذِنَ لَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عُمَرُ ابْنُ الْخطَّابِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَعْلَمُ مَاتَقُوْلُ قَالَ فَقُلْتُ وَاللهِ لَوْلَا اللهُ مَااهْتَدَیْنَا وَلَاتَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّیْنَا ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ صَدَقْتَ وَاَنْزِلَنْ سَکِیْنَةً عَلَیْنَا وَثَبِّتِ الْاَقْدَامَ اِنْ لَاقَیْنَا ، وَالْمُشْرِکُوْنَ قَدْبَغَوْعَلَیْنَا فَلَمَّاقَضَیْتُ رِجْزِیْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ هٰذَا قُلْتُ قَالَهٗ اَخِیْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَرْحَمُهُ اللهُ قَالَ فَقُلْتُ وَاللهِ یَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّ نَاسًا لَیَهَابُوْنَ الصَّلٰوۃَ عَلَیْهِ یقولون رجلٌ [illegible] سلاحه فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَاتَ جَاهِدًا مُجَاهِدًا قَالَ ابْنُ شِهَابٍ سَالْتُ ابـ [illegible] ـلَمَةَ ابْنِ الْاَکْوَعِ فَحَدَّثَنِیْ عَنْ اَبِیْهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ مِثْلَ ذٰلِکَ غَیْرَ اَنَّهٗ قَالَ حِیْنَ قُلْتُ اِنَّ نَاسًا یَهَابُوْ [illegible] صَلٰوۃ عَلَیْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَذَبُوْا مَاتَ جَاهِدًا مُجَاهِدًا فَلَهٗ اَجْرُهٗ مَرَّتَیْنِ وَاَشَارَ بِاِصْبَعَیْهِ. [ابو داود، نسائی]

ترجمه: دسلمه بن اکوع رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، هرکله چه دخیبر جنگ اوشو نو ځمارور (عامر بن اکوع) درسول الله ﷺ په ملګرتیاکښے ښه اوجنګیدو، دهغه توره پخپله په هغه باندے اولګیده اومړشو نو دهغه ملګرو دهغه په باره کښے خبرے اترے کولے، اوشکایت ئے اوکړو چه هغه په خپله توره پخپله مړشو. په دے باب کښے ئے څه شکایت کولو، په دے باب کښے سلمهؓ وائی بیارسول الله ﷺ دخیبرنه واپس شو، نو ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ !اجازت راکړه ماله درجز دلوستلو (رجزدهغه دموزون کلام نه دشعریوبحردے) حضرت ﷺ اجازت ورکړو. حضرت عمررضی الله عنه اووے، ماته معلومه ده څه چه ته وائے، بیامااووے هغه شعرونه لره چه دهغے ترجمه داده چه په الله جل جلاله قسم دے کچرے الله جل جلاله مونږ ته هدایت نۀ وے کړے نو مونږ به چرته هم لارنۀ وه موندلے اونه به موزکوة ورکړے وے اونه به مومونځ ادفاکړے وے، بیاحضرت ﷺ اوفرمائیل تاربنتیااووے، بیامااووے نازل کړے الله جل جلاله خپل رحمت په مونږ باندے، اومحکم کړه قدمونه زمونږه که چرے مونږ مخامخ شودکافرانو اومشرکانو سره اومشرکان ډیروی په مونږ باندے هرکله چه ماخپل

رجز اولوستو نورسول الله ﷺ اوفرمائیل داد چاکلام دے؟ ماعرض اوکړو څما درور، حضرت ﷺ اوفرمائیل الله جل جلاله دی رحم اوکړی په هغهٔ باندے، ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ څنے خلق خوپه هغهٔ باندے دمونږ لوستلو نه ویریږی، اووائی چه هغهٔ په خپله اسلحه سره مړدے، حضرت ﷺ اوفرمائیل هغهٔ خوجاهد اومجاهد مړشوے دے، ابن شهابؒ وئیلی دی مادسلمهؓ دیو ځوئ نه تپوس اوکړو نوهغویؓ دغه حدیث دخپل پلار نه روایت کړو، صرف هغه دا اووے چه هرکله مادااووے چه څنے خلق خوپه هغه دمونځ کولونه ویره کوی نوحضرت ﷺ اوفرمائیل هغه دروغژن دی هغهٔ خوجاهد اومجاهد مړدے، اوهغه لره دوچند ثواب دے، اواشاره ئے اوکړه پخپله گوته سره۔

﴿ بَابُ غَزْوَةِ الْاَحْزَابِ وَهِیَ الْخَنْدَقُ ﴾
دغزوهٔ احزاب یعنی جنگ خندق بیان

(۴۶۷۰) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ الْاَحْزَابِ یَنْقُلُ مَعَنَا التُّرَابَ وَلَقَدْوَارَی التُّرَابُ بَیَاضَ بَطْنِهٖ وَهُوَیَقُوْلُ وَاللّٰهِ لَوْلَآ اَنْتَ مَااهْتَدَیْنَا ، وَلَاتَصَدَّقْنَا وَلَاصَلَّیْنَا فَاَنْزِلَنْ سَکِیْنَةً عَلَیْنَا ،اِنَّ الْاُوْلٰی قَدْاَبَوْاعَلَیْنَا،قَالَ وَرُبَّمَاقَالَ اِنَّ الْمَلَا قَدْاَبَوْعَلَیْنَا ، اِذَآ اَرَادُوْا فِتْنَةً اَبَیْنَا وَیَرْفَعُ بِهَا صَوْتَهٗ. [بخاری ،]

ترجمه: دبراء بن عازب رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ داحزاب په ورځ زمونږ سره وو خاوړے به ئے چلولے، (هرکله چه خندق اوکنستلے شو دمدینے نه چاپیره) اوخاوړو دهغوئ ﷺ دگیډے سپین والے پټ کړے وو، حضرت ﷺ دافرمائیلو قسم په الله جل جلاله کچرے تاهدایت نهٔ وے کړے نومونږ به لارنهٔ وه موندلے، اونه به مونږ صدقه ورکړے وه اونهٔ به مونږ مونځ لوستلے وو، تاراولیږو خپل رحمت لره په مونږ باندے، هغه خلقو (یعنی مکے والا وو) اونهٔ منله زمونږ وینا (یعنی ایمان ئے رانهٔ وړو اوپه یوروایت کښے دی هغه جماعت زمونږ وینا اونهٔ منله) هرکله چه هغوئ دفساد خبره کول غواړی (یعنی شرك اوکفروغیره) نومونږ انکار کوؤ دهغے نه اودابه حضرت ﷺ په اوچت آواز سره فرمائیلو۔

فائده: نـووی رحمـه الله وئیلی دی ددے حدیث نه درجز استحباب وتلے دے دمحنت په وخت کښ لـکـه تـعـمیـر وغیـره اوداتـرے هـم معلومه شوه چه امام لره هم په دغه کارونو کښے شریـکیـدل پکار دی دضرورت په وخت کښ، افسوس دے چه رسول الله ﷺ خودخاورو پورے په راچلـولـو کښے شرم نهٔ کولو اوددے زمان ځنے بیوقوفه تـهی پاکونکی امیران چه هغوی نه دکـنـجـکے بـرابـر اختیـار نـسـتـه دے دغریبو خلقو سره په خوړلو اویو ځائے کیـنـاسـتلو کښے شرم کـوی. پـه الـسـلام عـلیـك کـولـو سره هغه خپه کیږی دستنو موافق په مصافحه کولو سره هغه نـاراضـه کیـږی. بیـادا ځـنـګـه مـسـلـمانان دی په ښکاره ولے نهٔ وائی چه مونږ کافران یو مرتدو ملعون دی معاذ الله من ذلك.

(۴۶۷۱) عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَآءَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَذَكَرَ مِثْلَهٗ اِلَّا اَنَّهٗ قَالَ اِنَّ الْاُوْلٰی قَدْبَغَوْعَلَیْنَا. [راجع: ۴۶۷۰]

ترجمه: تـرجـمـه ددے هـم دپـورتـه حدیث پشان ده په دے کښ صرف دادی چه که دغه خلقو په مونږ په جمع حمله اوکړه اوسرکشی ئے اختیار کړه. (دبخاری په روایت کښے هم دغسے دی)

(۴۶۷۲) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَآءَ نَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَحْفِرُ الْخَنْدَقَ وَنَنْقُلُ التُّرَابَ عَلٰی اَكْتَافِنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ لَاعَیْشَ اِلَّاعَیْشُ الْاٰخِرَةِ فَاغْفِرْ لِلْمُهَاجِرِیْنَ وَالْاَنْصَارِ. [بخاری]

ترجمه: دسهـل بـن سـعـدؓ نـه روایت دے وائـی چـه رسول الله ﷺ ځمونږ خواله راغے اومونږ خـنـدق کـنـسـتـلـو اوخاورو به موږ په خپلو اوګوباندے اوړله، حضرت ﷺ اوفرمائیل یاالله نشته دے عیش مګردآخرت عیش اوابخښے ته انصاروؓ اومهاجرینوؓ لره.

فائده: خـو مـره خـوش قسمته وو هغه مهاجرین اوانصارؓ. قسم دے درسول الله ﷺ په خـدمـت کـښـے، اوالله جـل جـلالـه پـه خـدمت کښے خاورے چلول دهفت اقلیم یعنی تولے دنیا دسلطنت نه په زرګونو درجے غوره دی، خوداخوند هغه چاته دے چه هغه ئے پیژنی.

(۴۶۷۳) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ اَللّٰهُمَّ لَاعَیْشَ اِلَّاعَیْشُ الْاٰخِرَةِ فَاغْفِرْ لِلْاَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةِ. [بخاری ۰]

ترجمه: د حضرت انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل یاالله نشته دے عیش مګر عیش د آخرت اوابخښے مهاجرینو اوانصارو لره.

(۴۶۷۴) عن انس ابن مالک رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یقول اللّٰهم ان العیش عیش الاخرة قال شعبة اوقال اللّٰهم لاعیش الاعیش الاٰخرة فاکرم الانصار والمهاجرة. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی وو یاالله جل جلاله! عیش خود آخرت دے، ته کرم اوکړه په انصارو باندے، اومهاجرینو باندے.

(۴۶۷۵) عَنْ اَنس ابنِ مَالِكٍ رَّضِیَ اللهُ تعالی عَنْهُ قَالَ کَانُوْا یَرْتَجِزُوْنَ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسلَّمَ مَعَهُمْ وَهُمْ یَقُوْلُوْنَ اَللّٰهُمَّ لاخَیْرَ اِلَّاخَیْرُ الْاٰخِرَةِ فَانْصُرِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَةَ وَفِیْ حَدِیْثِ شَیْبَانَ بدل فَانْصُرْ فَاغْفِرْ.

ترجمه: د حضرت انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے اصحابو په رجز لوستلو، اورسول الله ﷺ هم د هغوی سره وو، هغوی ﷺ به فرمائیلو یاالله جل جلاله نشته دے خرمګر خیر خود آخرت دے، ته مدد اوکړه دانصارو اومهاجرینو اودشیبان په روایت کښی دی اودبخښے انصارو اومهاجرینو لره.

(۴۶۷۶) عن انس رَضِیَ اللهُ تعالی عَنْهُ اَنَّ اَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانُوْیَقُوْلُوْنَ یَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْنُ الَّذِیْنَ بَایَعُوْا مُحَمَّدًا عَلَی الْجِهَادِ شَکَّ حَمَّادٌ مَابَقِیْنَا اَبَدًا وَالنَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اللّٰهُمَّ اِنَّ الْخَیْرَ خَیْرُ الْاٰخِرَةِ فَاغْفِرْ لِلْاَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةِ.

ترجمه: دانس رضی الله عنه نه روایت دے چه درسول الله ﷺ اصحابو دخندق په ورځ به وئیلو چه مونږ هغه خلق یو چاچه بیعت کړے دے درسول الله ﷺ نه په اسلام یاپه جهاد باندے دکومے پورے چه مونږه ژوندی یو. اورسول الله ﷺ به فرمائیلو یاالله جل جلاله! نیکی خود آخرت نیکی ده، ته اوبخښے انصارو اومهاجرینو لره.

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

﴿ باب غزوة ذی قرد وغیرها ﴾

دذی قرد وغیره جنګونو بیان

(۴۶۷۷) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ خَرَجْتُ قَبْلَ اَنْ يُّؤَذَّنَ بِالْاُوْلٰی فَكَانَتْ لِقَاحُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْعٰی بِذِیْ قَرَدٍ قَالَ فَلَقِيَنِیْ غُلَامٌ لِّعَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اُخِذَتْ لِقَاحُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ مَنْ اَخَذَهَا قَالَ غَطَفَانُ قَالَ فَصَرَخْتُ ثَلَاثَ صَرَخَاتٍ يَاصَبَاحَاهُ قَالَ فَاَسْمَعْتُ لَابَتَیِ الْمَدِيْنَةِ ثُمَّ انْدَفَعْتُ عَلٰی وَجْهِیْ حَتّٰی اَدْرَكْتُهُمْ بِذِیْ قَرَدٍ وَقَدْ اَخَذُوْا يَسْقُوْنَ مِنَ الْمَآءِ فَجَعَلْتُ اَرْمِيْهِمْ بِنَبْلِیْ وَكُنْتُ رَامِيًا وَّاَقُوْلُ اَنَا ابْنُ الْاَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ فَارْتَجِزُ حَتّٰی اسْتَنْقَذْتُ اللِّقَاحَ مِنْهُمْ وَاسْتَلَبْتُ مِنْهُمْ ثَلَاثِيْنَ بُرْدَةً قَالَ وَجَآءَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فَقُلْتُ يَانَبِیَّ اللّٰهِ اِنِّیْ قَدْ حَمَيْتُ الْقَوْمَ الْمَآءَ وَهُمْ عِطَاشٌ فَابْعَثْ اِلَيْهِمُ السَّاعَةَ فَقَالَ يَاابْنَ الْاَكْوَعِ مَلَكْتَ فَاَسْجِحْ قَالَ ثُمَّ رَجَعْنَا وَيُرْدِفُنِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰی نَاقَتِهٖ حَتّٰی دَخَلْنَا الْمَدِيْنَةَ. [بخاری]

ترجمه: دسلمه بن الاکوع رضی الله عنه نه روایت دے چه زۀ دسحرداذان نه مخکښ را اووتم اودحضرت ﷺ پیۍ ورکونکے اوښے په ذی قرد کښے څریدلے (ذی قرد دیواوبو نوم دے دمدینے نه دیوے ورځی په فاصله باندے، بخاری وئیلی دی چه داجنګ دخیبر دجنګ نه درے ورځے مخکښے شوے وو اوځنو وئیلی دی په شپږمه حجریٔ کښے دحدیبیٔے نه مخکښے) ځماسره دعبدالرحمن بن عوفؓ دغلام ملاقات اوشو هغه اووے درسول الله ﷺ پیۍ ورکونکے اوښے لاړلے. ماواوے چاواخستے هغه اووے عطفان (چه دقیس قبیلے یوشاخ دے) ددے په اوریدو مادرے چغے اووهلے یاصباحاه (دعربو عادت دے چه داکلمه هغه وخت وائی هرکله چه څه لوئے آفت راځی اوخلقو ته دخبر دارکولو ضرورت وی) اودمدینے دواړه طرف والاؤ ته می بنه واؤروو، بیازۀ نیغ لاړم تردے پورے چه هغه ډاکوان می په ذی قرد کښے بیا موندو، هغوئ اوبه څښل شروع کړی وو اومابرے غشی ویشتل شروع کړو اوزۀ تیرانداز وم ، اودابه می وئیل چه "اَنَا ابْنُ الْاَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ" ما دا رجز لوستلو تردے پورے چه اوښے می دهغوئ نۀ آزادے کړلے بلکه

نورمی ترے دیرش څادرونه دهغوئ واخستل اورسول الله ﷺ اونورخلق هم راغلو، ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ دغه ډاکوانولره ماوبو څښلوته نهٔ دی پریخودی هغه تږی دی، اوس په هغوئ پسے لښکراولیږئ حضرت ﷺ اوفرمائیل دے داکوع څویه تاترے خپل څیزونه واخستل اوس ئے پریږده، سلمهؓ وائی بیامونږ واپس شو اورسول الله ﷺ په اوښه باندے دخپل ځان سره زهٔ کینولم تردے پورے چه مونږه مدینے منورے ته اورسیدو.

فائده: دارجز وو ددے معنی داده چه زهٔ داکوع څوئ یم، په جنګ کښے داسے ونیل روا دی ددے دپاره چه په دشمن باندے رعب پریوځی نن دکم اصلو دتباهئ ورځ ده یانن به پیژندګلی وی چه چادشریفانو پئ څښلی وی اوچادرزیلانو یانن هغه ورځ ده چه په دے به پیژندګلی کیږی دهغه سړی چاچه دماشوم والی نه دجنګ پئ څښلی وی اوپه جنګ کښے ماهر وی.

(۴۶۷۸) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَدِمْنَا الْحُدَيْبِيَةَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ اَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً وَّعَلَيْهَا خَمْسُوْنَ شَاةً لَّاتُرْوِيْهَا قَالَ فَقَعَدَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى جَبَاالرَّكِيَّةِ فَاِمَّا دَعَاوَاِمَّا بَصَقَ فِيْهَا قَالَ فَجَاشَتْ فَسَقَيْنَا وَاسْتَقَيْنَا قَالَ ثُمَّ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثَّالِثَةَ ثُمَّ قَالَ لِيْ يَاسَلَمَةُ اَيْنَ جَحَفَتُكَ اَوْدَرَقَتُكَ الَّتِيْ اَعْطَيْتُكَ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ لَقِيَنِيْ عَمِّيْ عَامِرٌ عَزِلًا فَاَعْطَيْتُهٗ اِيَّاهَا قَالَ فَضَحِكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ اِنَّكَ كَالَّذِيْ قَالَ الْاَوَّلُ اَللّٰهُمَّ ابْغِنِيْ حَبِيْبًا هُوَاَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ نَفْسِيْ ثُمَّ اِنَّ الْمُشْرِكِيْنَ رَاسَلُوْنَا الصُّلْحَ حَتّٰى مَشٰى بَعْضُنَا فِيْ بَعْضٍ وَاصْطَلَحْنَا قَالَ كُنْتُ تَبِيْعًا لِّطَلْحَةَ ابْنِ عُبَيْدِاللّٰهِ اَسْقِيْ فَرَسَهٗ وَاَحُسُّهٗ وَاَخْدِمُهٗ وَاٰكُلُ مِنْ طَعَامِهٖ وَتَرَكْتُ اَهْلِيْ وَمَالِيْ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ تَعَالٰى وَرَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَانَا لِلْبَيْعَةِ فِيْ اَصْلِ الشَّجَرَةِ قَالَ فَبَايَعْتُهٗ اَوَّلَ النَّاسِ ثُمَّ بَايَعَ وَبَايَعَ حَتّٰى اِذَاكَانَ فِيْ وَسْطٍ مِّنَ النَّاسِ قَالَ بَايِعْ يَاسَلَمَةُ قَالَ قُلْتُ قَدْبَايَعْتُكَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَوَّلَ النَّاسِ قَالَ وَاَيْضًا قَالَ وَرَاٰنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَزِلًا يَعْنِيْ لَيْسَ مَعِيَ سِلَاحٌ قَالَ فَاَعْطَانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَفَةً اَوْدَرَقَةً ثُمَّ بَايَعَ حَتّٰى اِذَاكَانَ فِيْ اٰخِرِ النَّاسِ قَالَ اَلَاتُبَايِعُنِيْ يَاسَلَمَةُ قَالَ قُلْتُ قَدْبَايَعْتُكَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ فِيْ اَوَّلِ النَّاسِ وَفِيْ اَوْسَطِ النَّاسِ قَالَ وَاَيْضًا قَالَ فَبَايَعْتُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

فلما اصطلحنا نحن واهل مكة واختلط بعضنا ببعض اتيت شجرة فكسحت شوكها فاضطجعت في اصلها قال فاتاني اربعة من المشركين من اهل مكة فجعلوا يقعون في رسول الله صلى الله عليه وسلم فابغضتهم فتحولت الى شجرة اخرى وعلقوا سلاحهم واضطجعوا فبينماهم كذلك اذنادى مناد من اسفل الوادي ياللمهاجرين قتل ابن زنيم قال فاخترطت سيفي ثم شددت على اولئك الاربعة وهم رقود فاخذت سلاحهم فجعلته ضغثا في يدي قال ثم قلت والذي كرم وجه محمد صلى الله عليه وسلم لا يرفع احد منكم راسه الا ضربت الذي فيه عيناه قال ثم جئت بهم اسوقهم الى رسول الله صلى الله عليه وسلم قال وجاء عمي عامر رضي الله تعالى عنه برجل من العبلات يقال له مكرز يقوده الى رسول الله صلى الله عليه وسلم على فرس مجفف في سبعين من المشركين فنظر اليهم رسول الله صلى الله عليه وسلم دعوهم يكن لهم بدء الفجور وثناه فعفا عنهم رسول الله صلى الله عليه وسلم وانزل الله وهو الذي كف ايديهم عنكم وايديكم عنهم ببطن مكة من بعد ان اظفركم عليهم الاية كلها قال ثم خرجنا راجعين الى المدينة فنزلنا منزلا بيننا وبين بني لحيان جبل وهم المشركون فاستغفر رسول الله صلى الله عليه وسلم لمن رقي هذا الجبل الليلة كانه طليعة للنبي صلى الله عليه وسلم واصحابه قال سلمة فرقيت تلك الليلة مرتين او ثلاثا ثم قدمنا المدينة فبعث رسول الله صلى الله عليه وسلم بظهره مع رباح غلام رسول الله صلى الله عليه وسلم وانا معه وخرجت معه بفرس طلحة انديه مع الظهر فلما اصبحنا اذا عبد الرحمن الفزاري قد اغار على ظهر رسول الله صلى الله عليه وسلم فاستاقه اجمع وقتل راعيه قال فقلت يا رباح خذ هذا الفرس فابلغه طلحة ابن عبيد الله واخبر رسول الله صلى الله عليه وسلم ان المشركين قد اغاروا على سرحه قال ثم قمت على اكمة فاستقبلت المدينة فناديت ثلاثا يا صباحاه ثم خرجت في آثار القوم ارميهم بالنبل وارتجز اقول انا ابن الاكوع واليوم يوم الرضع فالحق رجلا منهم فاصك سهما في رحله حتى خلص نصل السهم الى كتفه قال قلت خذها وانا ابن الاكوع واليوم يوم الرضع قال فوالله مازلت ارميهم واعقر بهم فاذا رجع الي فارس اتيت شجرة فجلست في اصلها ثم رميته فعقرت به حتى اذا تضايق الجبل فدخلوا في تضايقه علوت الجبل فجعلت ارديهم بالحجارة قال

فمازلت كذلك اتبعهم حتى ما خلق الله تعالى من بعير من ظهر رسول الله صلى الله عليه وسلم
لاخلفته وراء ظهري وخلوا بيني وبينه ثم اتبعتهم ارميهم حتى القوا اكثر من ثلاثين بردة وثلاثين
رمحا يستخفون ولا يطرحون شيئا الا جعلت عليه آراما من الحجارة يعرفها رسول الله صلى الله عليه
وسلم واصحابه حتى اتوا متضائقا من ثنية فاذاهم قداتاهم فلان ابن بدر الفزاري فجلسوا يتضحون
يعني يتغدون وجلست على رأس قرن قال الفزاري ماهذا الذي ارى قالوا لقينا من هذا البرح والله
مافارقنا منذ غلس يرمينا حتى انتزع كل شيء في ايدينا قال فليقم اليه نفر منكم اربعة قال فصعد
الي منهم اربعة في الجبل قال فلما امكنوني من الكلام قال قلت هل تعرفونني قالوا لا ومن انت قال
قلت انا سلمة ابن الاكوع والذي كرم وجه محمد صلى الله عليه وسلم لا اطلب رجلا منكم
الا ادركته ولا يطلبني رجل منكم فيدركني قال احدهم انا اظن قال فرجعوا فما برحت مكاني حتى
رأيت فوارس رسول الله صلى الله عليه وسلم يتخللون الشجر قال فاذا اولهم الاخرم الاسدي وعلى
اثره ابو قتادة الانصاري وعلى اثره المقداد ابن الاسود الكندي قال فاخذت بعنان الاخرم قال فولوا
مدبرين قلت يا اخرم احذرهم لا يقطعونك حتى يلحق رسول الله صلى الله عليه وسلم واصحابه
قال سلمة ان كنت تؤمن بالله واليوم الاخر وتعلم ان الجنة حق والنار حق فلا تحل بيني وبين
الشهادة قال فخليته فلتقى هو وعبدالرحمن قال فعقر بعبدالرحمن فرسه وطعنه عبدالرحمن فقتله
وتحول على فرسه ولحق ابو قتادة فارس رسول الله صلى الله عليه وسلم بعبدالرحمن فطعنه فقتله
فو الذي كرم وجه محمد صلى الله عليه وسلم لتبعتهم اعدو على رجلي حتى ما ارى وراءي من
اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم ولا غبارهم شيئا حتى يعدلوا قبل غروب الشمس الى شعب
فيه ماء يقال له ذو قرد ليشربوا منه وهم عطاش قال فنظروا الي اعدو وراءهم فحليتهم عنه يعني
اجليتهم عنه فما ذاقوا منه قطرة قال ويخرجون فيشتدون في ثنية قال فاعدو فالحق رجلا منهم
فاصكه بسهم في نغض كتفه قال قلت خذها وانا ابن الاكوع واليوم يوم الرضع قال يا ثكلته امه
اكوعه بكرة قال قلت نعم يا عدو نفسه اكوعك بكرة قال واردوا فرسين على ثنية قال فجئت
بهما اسوقهما الى رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ولحقني عامر بسطيحة فيها ماء فتوضأت

وَشَرِبْتُ ثُمَّ اَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمَآءِ الَّذِىْ حَلَّيْتُهُمْ عَنْهُ فَاِذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَخَذَ تِلْكَ الْاِبِلَ وَكُلَّ شَيْءٍ اِسْتَنْقَذْتُهُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَكُلَّ رُمْحٍ وَّبُرْدَةٍ وَاِذَا بِلَالٌ نَحَرَ نَاقَةً مِّنَ الْاِبِلِ الَّذِىْ اسْتَنْقَذْتُ مِنَ الْقَوْمِ وَاِذَا هُوَ يَشْوِىْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ كَبِدِهَا وَسَنَامِهَا قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ خَلِّنِىْ فَاَنْتَخِبَ مِنَ الْقَوْمِ مِائَةَ رَجُلٍ فَاَتَّبِعَ الْقَوْمَ فَلَايَبْقٰى مِنْهُمْ مُخْبِرٌ اِلَّاقَتَلْتُهُ قَالَ فَضَحِكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ فِىْ ضَوْءِ النَّارِ فَقَالَ يَاسَلَمَةُ اَتُرَاكَ كُنْتَ فَاعِلًا قُلْتُ نَعَمْ وَالَّذِىْ اَكْرَمَكَ فَقَالَ اِنَّهُمُ الْاٰنَ لَيُقْرَوْنَ فِىْ اَرْضِ غَطَفَانَ قَالَ فَجَآءَ رَجُلٌ مِنْ غَطَفَانَ فَقَالَ نَحَرَ لَهُمْ فُلَانٌ جَزُوْرًا فَلَمَّا كَشَفُوْا جِلْدَهَا رَاَوْا غُبَارًا فَقَالُوْا اَتَاكُمُ الْقَوْمُ فَخَرَجُوْا هَارِبِيْنَ فَلَمَّا اَصْبَحْنَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ خَيْرَ فُرْسَانِنَا الْيَوْمَ اَبُوْقَتَادَةَ وَخَيْرَ رَجَّالَتِنَا سَلَمَةُ قَالَ ثُمَّ اَعْطَانِىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمَيْنِ سَهْمُ الْفَارِسِ وَسَهْمُ الرَّاجِلِ فَجَمَعَهُمَا لِىْ جَمِيْعًا ثُمَّ اَرْدَفَنِىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَآءَهُ عَلَى الْعَضْبَآءِ رَاجِعِيْنَ اِلَى الْمَدِيْنَةِ قَالَ فَبَيْنَمَا نَحْنُ نَسِيْرُ قَالَ وَكَانَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ لَايُسْبَقُ شَدًّا قَالَ فَجَعَلَ يَقُوْلُ اَلَامُسَابِقٌ اِلَى الْمَدِيْنَةِ هَلْ مِنْ مُسَابِقٍ اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَجَعَلَ يُعِيْدُ ذٰلِكَ قَالَ فَلَمَّا سَمِعْتُ كَلَامَهُ قُلْتُ اَمَا تُكْرِمُ كَرِيْمًا وَّلَاتَهَابُ شَرِيْفًا قَالَ لَااِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاَبِىْ اَنْتَ وَاُمِّىْ ذَرْنِىْ فَلِاُسَابِقَ الرَّجُلَ قَالَ اِنْ شِئْتَ قَالَ قُلْتُ اذْهَبْ اِلَيْكَ وَثَنَيْتُ رِجْلَىَّ فَطَفَرْتُ فَعَدَوْتُ قَالَ فَرَبَطْتُ عَلَيْهِ شَرَفًا اَوْشَرَفَيْنِ اَسْتَبْقِىْ نَفَسِىْ ثُمَّ عَدَوْتُ فِىْ اِثْرِهٖ فَرَبَطْتُ عَلَيْهِ شَرَفًا اَوْشَرَفَيْنِ ثُمَّ اِنِّىْ رَفَعْتُ حَتّٰى اَلْحَقَهُ فَاَصُكُّهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ قَالَ قُلْتُ قَدْ سُبِقْتَ وَاللّٰهِ قَالَ اَنَا اَظُنُّ قَالَ فَسَبَقْتُهُ اِلَى الْمَدِيْنَةِ قَالَ فَوَاللّٰهِ مَالَبِثْنَا اِلَّا ثَلَاثَ لَيَالٍ حَتّٰى خَرَجْنَا اِلٰى خَيْبَرَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَعَلَ عَمِّىْ عَامِرٌ يَرْتَجِزُ بِالْقَوْمِ، تَاللّٰهِ لَوْلَا اللّٰهُ مَااهْتَدَيْنَا وَلَاتَصَدَّقْنَا وَلَاصَلَّيْنَا وَنَحْنُ عَنْ فَضْلِكَ مَااسْتَغْنَيْنَا فَثَبِّتِ الْاَقْدَامَ اِنْ لَّاقَيْنَا وَاَنْزِلَنْ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا قَالَ اَنَا عَامِرٌ قَالَ غَفَرَلَكَ رَبُّكَ قَالَ وَمَا اسْتَغْفَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاِنْسَانٍ يَخُصُّهُ اِلَّا اسْتُشْهِدَ قَالَ فَنَادٰى عُمَرُ ابْنُ الْخَطَّابِ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهُوَ عَلٰى جَمَلٍ لَّهُ يَانَبِىَّ اللّٰهِ لَوْلَا مَتَّعْتَنَا بِعَامِرٍ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْنَا خَيْبَرَ قَالَ خَرَجَ مَلِكُهُمْ مَرْحَبٌ يَخْطُرُ بِسَيْفِهٖ يَقُوْلُ

قَدْعَلِمَتْ خَيْبَرُاَنِّيْ مُرَحَّبٌ، شَاكِيْ السِّلَاحِ بَطَلٌ مُجَرَّبٌ اِذَا الْحُرُوْبُ اَقْبَلَتْ تَلَهَّبُ قَالَ وَبَرَزَلَهُ عَمِّيْ عَامِرٌرَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ قَدْعَلِمَتْ خَيْبَرُاَنِّيْ عَامِرٌشَاكِيْ السِّلَاحِ بَطَلٌ مُغَامِرٌ قَالَ فَاخْتَلَفَ ضَرْبَتَيْنِ فَوَقَعَ سَيْفُ مُرَحَّبٍ فِيْ تُرْسِ عَامِرٍ وَذَهَبَ عَامِرٌ يَسْفُلُ لَهُ فَرَجَعَ سَيْفُهُ عَلٰى نَفْسِهٖ فَقَطَعَ اَكْحَلَهُ وَكَانَتْ فِيْهَا نَفْسُهُ قَالَ سَلَمَةُ فَخَرَجْتُ فَاِذَانَفَرٌ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُوْنَ بَطَلَ عَمَلُ عَامِرٍ قَتَلَ نَفْسَهُ قَالَ فَاَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَنَااَبْكِيْ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ بَطَلَ عَمَلُ عَامِرٍ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ ذٰلِكَ قَالَ قُلْتُ نَاسٌ مِّنْ اَصْحَابِكَ قَالَ كَذَبَ مَنْ قَالَ ذٰلِكَ بَلْ لَهُ اَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ اَرْسَلَنِيْ اِلٰى عَلِيٍّ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهُوَاَرْمَدُفَقَالَ لَاُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ رَجُلًا يُحِبُّ اللهَ تَعَالٰى وَرَسُوْلَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْيُحِبُّهُ اللهُ وَرَسُوْلُهُ قَالَ فَاَتَيْتُ عَلِيًّا رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَجِئْتُ بِهٖ اَقُوْدُهُ وَهُوَاَرْمَدُ حَتّٰى اَتَيْتُ بِهٖ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَسَقَ فِيْ عَيْنَيْهِ فَبَرَأَ وَاَعْطَاهُ الرَّايَةَ فَخَرَجَ مُرَحَّبٌ فَقَالَ قَدْعَلِمَتْ خَيْبَرُاَنِّيْ مُرَحَّبٌ شَاكِيْ السِّلَاحِ بَطَلٌ مُجَرَّبٌ، اِذَا الْحُرُوْبُ اَقْبَلَتْ تَلَهَّبُ، فَقَالَ عَلِيٌّ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَا الَّذِيْ سَمَّتْنِيْ اُمِّيْ حَيْدَرَهْ كَلَيْثِ غَابَاتٍ كَرِيْهِ الْمَنْظَرَهْ اُوْفِيْهِمْ بِالصَّاعِ كَيْلَ السَّنْدَرَهْ قَالَ فَضَرَبَ رَاْسَ مُرَحَّبٍ فَقَتَلَهُ ثُمَّ كَانَ الْفَتْحُ عَلٰى يَدَيْهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ.

ترجمه: دابـن اکـوع رضی الله عـنـه نه روایت دے هرکله چه مونږ حدیبیه ته اورسیدو نو مونږ خوارلس سوه سری وو (دغه مشهور روایت دے اوپه یوروایت کښی دیارلس سوه اوپه بل روایت کښے پنځلس سوه راغلی دی) اوهلته پنځوس بزے وے چه هغه به دکوهی په اوبو نهٔ شوے مړیدلے (یعنی دومره کمے اوبه وے په کوهی کښے) بیارسول الله ﷺ دکوهی په غاړه باندے کیښناستو اودعا ئے اوکړه یائے لاړے مبارکے په کوهی کښے اوتوکلے، کوهے په هغه وخت ترغاړے پورے ډک شولو ،اوماخپل اهل وعیال اومال تول اوبه اوڅښلی اوپخپله موهم اوڅښلے ددے نه پس رسول الله ﷺ مونږ را اوغوښتو دبیعت دپاره دونے ویخ ته چه هغه ونے ته شجره رضوان ونیلے شی اوددغے ونے ذکرپه قران مجید کښی دے "اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ اِنَّمَايُبَايِعُوْنَ اللهَ" دآخره پورے مادهرچانه مخکښے په خلقوکښی دحضرت ﷺ نه بیعت اوکړو، بیاحضرت

ﷺ بیعت اخستلو اخستلو تردے پورے چه نیمو خلقو بیعت اوکړلو، دغه وخت حضرت ﷺ اوفرمائیل اے سلمه ؓ بیعت اوکړه ماعرض اوکړو یارسول الله ماخوستانه دهر چانه اول بیعت کړے دے، حضرت ﷺ اوفرمائیل بیابه دے، اوحضرت ﷺ زه بے د وسلے نه اولیدم نویولږ غونډی ډال یاوړوکے ډال نے راکړو، بیاحضرت ﷺ بیعت اخستل شروع کړو تردے چه خلق په ختمیدو شو، اودغه وخت حضرت ﷺ اوفرمائیل اے سلمه ؓ ځمانه بیعت نهٔ کوے ماعرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ هر څه پریخودی وو دالله جل جلاله اودهغه درسول ﷺ په طرف می هجرت کړے وو. هرکله چه زمونږه اودمکے والاؤ صلح راغله اومیلاویدل به بعضے زمونږ دهغوئ دبعضو سره، نوزهٔ دیوے ونے خواله راغلم اودهغے دلاندے نه می اغزی جارو کړل اودلاندے ترے سملاستم، چه په دے کښ څلور سړی دمکے دمشرکانو نه راغلو اودرسول الله ﷺ په بدو ویلو ئے شروع اوکړه، ماته غصه راغله اودبلے ونے لاندے لاړمه هغوئ خپله هتیار یعنی وسلے ونے ته واچولے اواوده شول. هغوئ په دغه حال کښے وو چه ناساپه دوادئ دلاندے نه چا آواز راکړو منډه کړئ اے مهاجرینو ابن زنیم (صحابی) اووژلے شو. ددے په اوریدو ماخپله توره اوویستله اوپه هغه څلورو سړو باندے می حمله اوکړه، هغه اوده وو دهغوئ وسلے می را واخستے اویو ځائے می اوتړلے اوپه یولاس کښے می را واخستے بیامااوویے قسم دے په هغه ذات چاچه عزت ورکړے دے دمحمد ﷺ مخ لره، چه ستاسونه دی یو هم سر اوچت نهٔ کړی مګروهلے به وی ماپه هغه اندام چه په هغے کښے ئے دواړه سترګے دی. بیاماپه راښکودو راښکودو درسول الله ﷺ خواله راوستل، اوځماتره عامر دعبلات (دادقریشو یوشاخ دے) نه یوسړے راوستو چه هغه ته به نے مکرز ویلو، هغوئ هغه لره په راښکودلو راوستو په اس باندے چه په هغه باندے کجاوه پرته وه، اوداویاؤ سړو سره په مشرکانو کښ رسول الله ﷺ هغه اولیدو، بیائے اووے پریږدئ ده لره دمشرکانو په طرف دوعده خلافئ دشروع کیدو دپاره بیائے په دویمه وعده خلافئ پریږدوئ. (یعنی مونږ کچرے دغه خلقولره اووژنو نودصلح نه پس به زمونږ دطرفنه وعده خلافی شی دامناسب نهٔ ده مخکښ چه دکافرانو دطرفنه وعده خلافی یوځل نه چه دوه ځله اوشی بیامونږ لره بدله اخستل بد نهٔ دی) آخررسول الله ﷺ هغه

خلقولره معاف کړل بیاالله تعالی دا ایات نازل کړو" وَهُوَ الَّذِی کَفَّ اَیْدِیَهُمْ عَنْکُمْ " داخیره پورې.
یعنی هغه الله جل جلاله دهغوئ لاسونه منع کړل ستاسونه اوستاسولاسونه ئې منع کړل
دهغوئ، نه دمکې په سرحدکښې هرکله چه ئې فتح درکړې وه تاسولره په هغوئ باندې.
بیامونږ مدینې ته واپس شوپه لاره کښې په یو منزل باندې کوز شولو چرته چه زمونږ اودبنی
لحیان دمشرکانو په مینځ کښې یو غرو وو، رسول الله ﷺ دعا اوکړه دهغه سړی دپاره چه هغه په
دغه غرباندې دشپې اوخیژي، اوپهره ورکړي دحضرت ﷺ اودهغوئ ﷺ دملګرو، سلمهؓ
وائي زۀ دشپې په دغه غرباندې دوه یادرې ځله اوختم (اوپهره مې ورکړه) بیامونږ مدینې ته
اورسیدو نو جناب رسول الله ﷺ خپلې اوښې رباح غلام ته پخپله ورکړې اوزۀ هم دهغه سره وم
دطلحه اس راسره وو چراګاه ته درسولو دپاره دهغه اوښو سره هرکله چه سحرشو نوعبدالرحمن
فزاري (مشرك) دحضرت ﷺ اوښو لره لوټ کړلې اوټولې ئې اوشړلې وائې خستې، اوځرونکې ئې
اووژلو. ماووې اې رباح تۀ دااس واخله اودطلحه خواله ئې اورسوه اورسول الله ﷺ خبر کړه چه
کافرانو ستااوښې لوټ کړلې بیازۀ په یو ګټ باندې اودریدمه اودمدینې طرفته مې مخ کړو لودرې
ځله مې آواز اوکړو یاصباحاه" ددې ونیلو نه پس بیاپه هغه ډاکوانوپسې ورستوروان شوم
اوغشې به مې ویشتل اورجز به مې لوستلو (یعنی زۀ داکوع ځوئ یم اونن دکم اصلو دتباهئ
ورځ ده بیاچه به زۀ چاته نزدې کیدم نویو غشې به مې دهغه په کاټهئ کښې ویشتلو چه هغه به
دهغه داوږې پورې اورسیدو (کاټهی به ئې څیرې کړه) اودابه مې ونیل دا واخله اوزۀ داکوع
ځوئ یم اونن دحرامیانو دتباهئ ورځ ده، بیاقسم په خدائې چه مابرابر غشې ویشتلو اوزخمي
کول به مې هرکله چه به یوسور ځما په طرف واپس شو نوزۀ به دونې لاندې راغلم اودهغې دتنې
په خواه به کیښناستم اویو غشې به مې اوویشتو نو هغه سور سرې به زخمي شولو ترڅ پورې
چه هغه دغرپه تنګه لاره کښې ننوتل اوزۀ غرته اوختم، اودهغه ځائې نه مې ږې ګټې ویشتل
شروع کړلو، اوبرابر په هغوئ پسې ورستو روان وم تردې پورې چه یواوښ چه هغه الله تعالی
پیداکړې وو اوهغه درسول الله ﷺ دسورلئ وو داسې نۀ وو چه ځمانه ورستوپاتې شوې نۀ وو
اولوټ کونکو هغې لره پرېخودې نۀ وو (نوټول اوښان سلمه بن اکوع دهغوئ نه واخستل)

سلمهؓ وائی بیا ز ه پـه هغوئ پسے ورستو دغشو ویشتلوسره روان وم تردے پورے چه دیرشو
څادرونو نـه زیات اوددیرشـو نیـزونـه زیاتے مے دهغوئ نـه واخستے اوهغوئ بـه خپل ځان
سپکولو (دتختیدو دپاره) اوکوم څیز چه بـه هغوئ غورځوو په هغے به مے دګتے یوه نښه
ایخـوده ددے دپاره چـه حضرت ﷺ اودهغوئ ﷺ اصحاب دے لره اوپیژنی (چه دادغنیمت
مال دے اودے لره واخلی) تردے پورے چه هغوئ په یوتنګ کنډو کښے راغلو، اوهلته هغوئ ته
دبدرؓ فزاری څوئ میلاؤ شـو هـغوئ تول کیښناستو اودسحرناشته ئے کوله اوزه دیوورو کی
کمرپـه سـوکـه بـانـدے نـاست وم، فزاري اووے داڅوك سرے دے ؟ هغوئ اووے دے سرے مونږ
دیرتنګ کړی یـو قسم پـه خدائے دتورے شپے نه زمونږ سره دے برابر په غشو مواولی، تردے
پورے چه څـه زمونږ سره وو هغه تول ئے رانه واخستلو، فزاری اووے ستاسونه دے څلور سری
لاړ شی اوده لره دی مرکړی، ددے پـه اوریـدو څلـور سری ځما په طرف په غرباندے راختلو
هرکله چه هغه دومره بیرته راغلو چه ځماخبرے ئے اوریدلے نوما اووے تاسو ماپیژنئ، هغوئ
اووے نهٔ، مااووے زهٔ سلمه یم داکوع څوئ، (اکوع دده نیکه وو لیکن دنیکه په طرف ئے دخپل
ځان نسبت اوکړو په وجه دشهرت اودلمهؓ دپلار نوم عمر وو اوعامر دده تره وو ولے چه داکوع
څوئ وو) قسم دے پـه هغه ذات چاچه دمحمد ﷺ مخ لره بزرګی ورکړے ده زهٔ چه ستاسونه
چالره اوغوارمه وژلے شم، (ستاسونه) اوستاسونه یو هم مانهٔ شی وژلے، دهغوئ نه یوسړی اووے
داهم دغسے معلومیږی بیاهغه تول واپس شو زهٔ دهغه ځائے نه لانه وم تلے چه درسول الله ﷺ
سـواره پـه نـظر راغـلو چه په ونوکښی راداخل شولو، دتولونه مخکښے اخرامؓ اسدی وو، پـه هغه
پسے ابـوقتـادهؓ وو، پـه هغه ورپسے مقداد بن اسود کندی وو، مااخرمؓ داس واګے اونیوی ددے په
لیدو هغـه ډاګه مار اوتختیدو مااووے اے اخرامؓ ته دهغوئ نه ځان بچ ساته داسے نه وی چاتاله
مړ کړی دکـومے پـورے رسـول الله ﷺ اودهغوئ ﷺ ملګری راغلی نهٔ وی، هغویؓ اووے اے
سـلـمـهؓ کـچرے ستایقین وی په الله تعالی اودآخرت په ورځ اوتهٔ جنت اودوزخ رښتیاګڼړی نوماته
منـع کوه ماڵره دشهادت نه (یعنی دیره به ښه وی چه زه ددغه خلقودلاسه شهید شم ددے غوره
څه دی) ماهغویؓ لره پریخودو دهغوئ مقابله راغله دعبدالرحمن فزاری سره اخرامؓ دهغه اس

لره زخمی کړو اوعبدالرحمنؓ په نیزه سره اخرمؓ شهید کړو اوداخرم په اس باندے سور شولو په دے کښے درسول الله ﷺ شاهسوار حضرت ابوقتادهؓ را اورسیدو اوهغوی عبدالرحمن په نیزه اووهو اوقتل ئے کړو، نوقسم دے په هغه ذات چاچه دحضرت ﷺ مخ لره بزرګی ورکړے ده چه زۀ پـه هـغـوی پسے ورستـو پـیـدل داسے پـه منډه روان وم چه ماتـه په ماپسے دحضرت ﷺ یو ملګرے نۀ ښکاریدونۀ دهغوی دورے تردے پورے چه هغه نقب زن دنمر دپریوتو نه مخکښے یوګـنـډوتـه اورسیـدل چـه هتله کښے اوبه وے، اودهغه ځائے نوم ذیق قرد وو، هغوی تږی شوی ووکوز شـولـو داوبـو څښـلـو دپـاره، بیـائے زۀ اولیـدم چــه پــه هغوی ورپسے په منډه روان وم، آخرماهغوی داوبـونـه لرے کړل هغوی یوه قطره هم اونۀ څښله، اوس هغوی په منډه روان وو دیوکنډو په طرف ماهم ورپسے منډے کړے اودهغوی نه می یوکس دمنګز په هډوکی بلندے په غشـی اوویشتـو اومـااووے واخـلـه دے لره اوزۀ داکـوع ځـوئ یم اوداورځ دحرامیانو دتباهئ ده، هغوی اووے (الله جل جلاله دی اوکړی چه داکوع ځوئ مرشی او) دهغه مور په هغویؓ بلندے اوژاړی هـغـه اکـوع دے کـوم چـه سحرزمونږ سره وو، مااووے هاں اے دځپـل روح دشـمـنه هغه اکـوع دے کـوم چـه سـحرستاسره وو سلمهؓ بن اکوع وائی ددغه نقب زنو نه (په منډو منډو) دوه اسونـه پاتے شول هغوی هغے لره په یو کنډو کښے پریښودل، ماهغه اسونه په راښکودو درسول الله ﷺ خوالـه راوستـل، هـلـتـه مـاتـه عامرسره دیوبـتـکـی دپیو لولوبو میلاؤ شوؤ اویوبتکے ئے داوبـو رااخستے میلاؤشو مااودس اوکړو، اوپئ می اوڅښـل (الله اکبر دسلمهؓ بن اکوع همت چه دسحروختـی نـه پـه مـنـډو منډو شپه شوه، اسونه ستړی شو اوښان ستړی شو خلق مړه شول اسباب پاتے شـو خـوسلمهؓ نه ستړے شونۀ ئے په توله ورځ کښں څه اوخوړل اوڅښـل داټول دالله جل جلالـه امـداد وو) بیـادجناب رسول الله ﷺ خواله راغلم، حضرت ﷺ دهغه اوبو سره وو دکومے نـه چـه مانقب زن زغلولی وو، مااوکتل چه حضرت ﷺ ټول اوښان اخستے دی اوټول څیزونـه چـه کـوم مادمشرکانونه اخستی وو تولے نیزے اوڅادرونه، اوبلال رضی الله عنه دهغه اوښانونـه کـوم چـه مـااخستـی وو یـواوښ ذبح کړو، اوهغهؓ دجناب رسول الله ﷺ دپاره دهغے کـلـیـجی اوقب وریتـولو ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ !ماته اجازت راکړه دلښکرنه دسلوسړو

دانړه ولو، او بیا زۀ په دغه نقب زنو پسے ځم او چه دهغوئ نه باقی یو سړے پاتے نه شی چه هغه خبرور کړے (اوخپل قوم ته لاړشی یعنی ټولو لره وژنمه) ددے په اوریدو سره حضرت ﷺ مسکے شو تردے پورے چه نواجذ غاښونه د حضرت ﷺ ښکاره شول دانګار په رڼا کښے.

حضرت ﷺ اوفرمائیل اے سلمه ؓ تۀ داکولے شے ما اووے هاں قسم دے په هغه ذات چه تالۀ بزرګی درکړے ده، حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه خواوس دغطفان سرحد ته اورسیدل لوهلته دهغوئ میلمستیا کیږی، په دے کښے یو سړے دغطفان نه راغے هغه اووے فلانی سړی دهغوئ دپاره اوښ حلال کړے وو په دے کښی هغوئ ته ګرد معلوم شولو هغوئ اووے خلق راغی نودهغه ځائے نه هم پاڅیدل اوتختیدو، هرکله چه سحر شولو نو حضرت ﷺ لوفرمائیل نن ورځ زمونږ په سوروکښے بهترسوار ابوقتادهؓ دے اوپیاده ؤ کښی دټولو نه اوچت سلمهؓ بن الاکوع دے، سلمهؓ وائی بیا رسول الله ﷺ ماته دوه حصے راکړے یو حصه دسوار اویوه دپیاده، لودواړه ئے خاص ماته راکړے ددے نه پس حضرت ﷺ زۀ دځان سره په غضباء باندے کینولم مدینے ته دواپس کیدو په وخت، مونږ روان وو چه یو انصاریؓ چه هغه به په منډه کښے دچانه ورستونۀ پاتے کیدو داسے اووئیل څوک شته دے چه مدینے ته ځمانه مخکښے په منډه لاړشی، اوبیا بیا به ئے داوینا کوله هرکله چه ما دهغه داوینا واوریده نو ورته می اووے تۀ دعزتمندو عزت نۀ کوے اودشریفانو نه ویریږے هغهؓ اووے نۀ، البته درسول الله ﷺ عزت کوم، ماعرض اوکړو یارسول الله! زما پلار مور دی ستانه قربان شی، ماله پریږدوئ زۀ به ددے سړی نه مخکښے شم په منډه کښی حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده ستا زړۀ غواړی پس ما اووے زۀ راځم ستاسو ﷺ په طرف اوماخپله خپه کږه کړه اوټوپ می کړو بیا ما منډه کړه لو هرکله چه یو یادوه لوړے باقی پاتے شوے نو ماخپل ځان دمه کړو اودهغهؓ نه می ورستو منډه وهله او هرکله چه یو یادوه لوړے باقی پاتے شے نو ساه می برابر کړو او بیا چه می بنده کړه نو دهغه سره یو ځائے شوم، تردے پورے چه ددواړو اوګو په مینځ کښی می ورته یو سوك ورکړو، او ما اووے چه قسم په خدائے اوس زۀ مخکښے شو مه بیا دهغه نه مخکښے مدینے ته اورسیدم (نو معلومه شوه چه بے دعوض نه مسابقت درست دے او په عوض کښے خلاف دے) بیا قسم په خدائے چه مونږ صرف درے ورځی حصار

پاتے شو، ددے نه پس دخیبر په طرف اووتو درسول الله ﷺ سره نو څماتره عامر رجزلوستل شروع کړو، قسم دے په الله جل جلاله کچرے خدائے تعالی هدایت نۀ وے کړے نو مونږ به لاره نۀ وه موندلے اونۀ به موصدقه ورکړے وه اونۀ به مومونځ لوستلے وو، اومونږ ستادرحم نه بے پروا شوی نۀ یو ته محکم کړه قدمونه زمونږ کچرے مونږ دکافرانو سره مخامخ شواوخپل رحمت اوتسلی نازله کړه په مونږ باندے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل داڅوك دے؟ هغه اووئیل زۀ عامرؓ یم حضرت ﷺ اوفرمائیل الله دی اوبخښی تالره، سلمةؓ وائی رسول الله ﷺ چه به هرکله دچاد پاره په خاص طور باندے استغفار اوکړو نو هغه به ضرور شهید کیدو نو حضرت عمر رضی الله عنه آواز اوکړو او هغه په خپل اوښ باندے، وو اے دالله نبی ﷺ! تاسومونږ ته فائده ولے رانۀ کړه دعامرؓ نه، سلمةؓ وائی بیا چه هرکله مونږ خیبرته راغلو نو دهغے بادشاه مرحب توره پرقوله اوړا اووتو اودارجز ئے لوستلو، "قَدْعَلِمَتْ خَيْبَرُ اَنِّىْ مَرْحَبٌ، شَاكِ السَّلَاحِ بَطَلٌ مُجَرَّبٌ، اِذَالْحُرُوْبُ اَقْبَلَتْ تَلَهَّبُ" یعنی خیبرته معلومه ده چه زۀ مرحب یم، پوره وسله بند بهادر ازموده کارهرکله چه جنګونه راشی نوشغلے الوزوی، ددے په اوریدو څماتره عامر را اووتو دهغه دمقابلے دپاره، او هغویؓ دارجز اولوستو، "قَدْعَلِمَتْ خَيْبَرُ اَنِّىْ عَامِرٌ، شَاكِ السَّلَاحِ بَطَلٌ مُغَامِرٌ" یعنی خیبرپوهه دے چه زۀ عامرؓ یم پوره وسله بند په جنګ کښے ننوتونکے، بیادواړویویوګذار اوکړو، نودمرحب توره څمادتره عامرؓ په ډهال باندے اولګیده، اوعامردلاندے نه ګذار کول غوښتلو نو دهغه توره په هغه پخپله اولګیده اوشه رګ ئے کټ شولو، اودهغے نه وفات شولو سلمةؓ وائی بیا زۀ را اووتم نو درسول الله ﷺ څو اصحاب می اولیدل چه وئیل ئے دعامرؓ عمل لغوه شولو هغه پخپله خپل ځان اووژلو ددے په اوریدو زۀ درسول الله ﷺ خواله په ژړا راغلم اوعرض می اوکړو یارسول الله ﷺ دعامرؓ عمل لغوه شو، حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك وائی، مااووے ستاسو بعضے اصحابؓ وائی، حضرت ﷺ اوفرمائیل دروغ دی چه څوك وائی بلکه هغه لره دوچند ثواب دے، بیا رسول الله ﷺ زۀ دحضرت علیؓ خواله اولیږلم دهغویؓ سترګے سوزیدلے حضرت ﷺ اوفرمائیل زۀ دا بے سری له نښان ورکوم چه هغه دوست ګڼری الله جل جلاله اود هغه رسول الله ﷺ لره یاالله تعالی اورسول الله ﷺ ده لره دوست ګڼری (دابن

هشام په روایت کښې دومره زیاته ده چه الله تعالی به فتح ورکړی دهغه په لاسونو اوهغه تختیدو والانهٔ دے) سلمهٔ وائی بیازهٔ دحضرت علیؓ خواله لاړم اوهغه می په راښکودو راوستو دهغویٔ سترګے سوزیدلے تردے پورے چه درسول الله ﷺ خواله می راوستو، حضرت ﷺ دهغویٔ په سترګو کښې خپلے لاړے مبارکے پورے کړے هغه په هغه وخت ښه شولے. بیاحضرت ﷺ هغویٔ ته نشان ورکړلو اومرحب را اووتو اودائے اووے "قَدْعَلِمَتْ خَيْبَرُاَنِّى مُرَحَّبْ، شَاكِ السِّلاحِ بَطَلٌ مُجَرَّبٌ، اِذَا الْحُرُوْبُ اَقْبَلَتْ تَلَهَّبُ، حضرت علی رضی الله عنه ددے په جواب کښې دا اووے "اَنَا الَّذِیْ سَمَّتْنِیْ اُمِّیْ حَيْدَرَهْ كَلَيْثِ غَابَاتٍ كَرِيْهِ الْمَنْظَرَةِ اُوْفِيْهِمْ بِالصَّاعِ كَيْلَ السَّنْدَرَةَ" یعنی زهٔ هغه یم چه ځما مور ځما نوم حیدر ایخودے دے په مثل دهغه زمری کوم چه په ځنګلو کښې وی (یعنی شیرببر) زیات یرونکی صورت والا (چه دهغه په لیدو سره ویره پیداکیږی) زهٔ خلقو ته دیواوړی په بدله سندره ورکوم (سندره دصاع نه لویه پیمانه ده یعنی هغه خویه ماسپکه حمله کوی اوزهٔ دهغه کار تمامه وم) بیاحضرت علیؓ دمرحب په سرباندے یوګذار ورکړو اوهغه دهغے سره جهنم ته روان شو، ددے نه پس الله پاك فتح ورکړه دهغه په لاسونو باندے۔

فائده: حیدر وئیلے شی زمری ته، اوهرکله چه حضرت علی رضی الله تعالی عنه پیداشولو نودهغویٔ نوم دهغه مور اسد کیخودے وو اسد وئیلے شی زمری ته، اومرحب په خوب کښې لیدلے وو چه یومنزرے راغے اودے ئے مات کړلو، نوحضرت علیؓ ورته داخبره ذکرکړله ددے دپاره چه دده په زړهٔ کښې ویره پیداشی۔

اوځنے علماؤ وئیلی دی چه دحضرت علیؓ مور هرکله چه هغه پیداشولو نودهغه نوم ئے اسد کیخودو چه دده دنیکه نوم وو، اسد بن هشام بن عبدمناف اوابو طالب په سفرکښې وو، هرکله چه دسفرنه واپس راغے نو هغویٔ پرے علیؓ نوم کیخودو، اواسد ته حیدر وئیلے شی ولے چه هغه سخت اوغلیظ وی، حیدردحادرنه اودحادرمعنے سخت اوپهلوان ده، مراد دحضرت علیؓ دادے چه زهٔ دزمری پشان جرأت اوقوت اوبهادری لرم ستاخه حقیقت دے۔

په سیرة ابن هشام کښې په اسناد دابورافعؓ سره چه ازاد کړے غلام وو درسول الله ﷺ

روایت کړے دے چه مونږ د حضرت علی رضی الله عنه سره وو هرکله چه رسول الله ﷺ هغوی ته خپل نشان ورکړو اودقلعه فتح کولو دپاره ئے اولیږلو حضرت علی رضی الله عنه چه هرکله قلعه ته نزدے اورسیدو نوقلعه والابهررا اووتل او هغوی جنګیدل شروع کړو. یو یهودی په حضرت علی بانده ګزار اوکړو اود هغوی نه ئے ډهال اوغورځولو، هغوی یوه دروازه چه دقعلے په خواکښے پرته وه اوچته کړه اوهغه ئے ډهال کړله، بیاهغه دروازه دجنګ دفتح کیدو پورے دهغوی په لاس کښے وه، هرکله چه دجنګ نه فارغ شولو نو هغه دروازه ئے اوغورځوله.

ابورافع وائی مااواووه سړو نورو دهغه دروازے دالټه کولو کوشش اوکړو خوالټه نه شوله، (یعنی دومره درنه وه) سبحان الله دحضرت علی کرم الله وجهه طاقت اوشجاعت اوهمت خدا داد وو لوئے لوئے بهادران چه دهغوی په عربو کښے شهرت وو حضرت علی په ډیره اسانئ سره اوورژل، اوخلق په حیرانتیاکښے پاتے شول.

نووی وئیلی دی صحیح داده چه حضرت علی رضی الله عنه مرحب لره قتل کړو اوځنو داوئیلی دی چه مرحب لره محمد بن مسلمه قتل کړے دے، ابن عبدالبر په خپل کتاب دررفی مختصر ایسر کښے لیکلی دی چه ابن اسحق وئیلی دی چه دمرحب قاتل محمد بن مسلمه وو، اونورو خلقو وئیلی دی چه قاتل دهغه حضرت علی وو، ابن عبدالبر وئیلی دی زمونږ په نزد دغه صحیح دے، بیاروایت کړے دے هغوی په خپل اسناد سره دسلمه بن بریدة نه اوهم دغسے ابن اثیر وئیلی دی، صحیح قول چه په هغے بانده اکثر اهل حدیث متفق دی، چه دمرحب قاتل حضرت علی وو راضی دی وی الله تعالی دهغوی نه، انتهی.

په سیرة ابن هشام کښ دی چه ابن اسحق وئیلی دی حدیث بیان کړے دے ماته عبدالله بن سهل هغوی اوریدلی دی دجابر بن عبدالله نه چه اوفرمائیل رسول الله ﷺ څوك به را اوځی دمرحب سره دجنګ کولو دپاره محمد بن مسلمة اووے زۀ ځم پرون ځما رور وژلے شوے دے، اوپه الله جل جلاله قسم دے چه ماته جوش راغلی دے، حضرت ﷺ اوفرمائیل بنه ده لاړشه، اودعائے اوکړه یاالله جل جلاله دمحمد بن مسلمة مدد اوکړه هرکله چه دیوبل سره نزدے شول نودیوے ونے ویخ له راغلو اوهریوبه دهغے ونے نه پناه اخسته دخپل مقابل دحملے نه،

لیکن هریو په توره سره هغه ونه کټ کول شروع کړو تردے پورے چه دواړوته مخه کولاؤشوه، یوبل ته مخامخ شو اودهغه ونے صرف زیله ولاړه پاتے شوه، بیامرحب په محمدؓ حمله اوکړه هغوئ په ډهال واخسته، لیکن توره په ډهال کښے ننوته اوپه هغے کښې لونخته۔

بیامحمد ګذار ورکړو اومرحب مړکړے شو ابن اسحاقؒ وائی دمرحب نه پس دهغه رور یاسررا اووتو اوآواز ئے اوکړو څوک به را اوځی څماسره جنګ ته، زبیربن عوامؓ دحضرت ﷺ دترور ځوئ دهغه مقابلے ته را اووتو، صفیےؓ دعبدالمطلب لور دزبیرؓ مور حضرت ﷺ ته اووے، یارسول الله ﷺ هغه به څما ځوئے مړکړی، حضرت ﷺ اوفرمائیل نه ستاځوئ که خدائے غواړی نو هغه به مړکړی بیادغه شان اوشوه چه زبیرؓ هغه مردود لره جهنم ته اولیږو، نوویؒ وئیلی دی په دے حدیث کښے دحضرت ﷺ څلور معجزے منقول دے (۱) دحدیثے لوبه زیاتیدل۔ (۲) دحضرت علیؓ سترګے فورا ښه کیدل۔ (۳) دحضرت علیؓ دفتح خبروركول چه دهغے په بل روایت کښے تصریح موجوده ده۔ (٤) خبروركول چه هغه نقب زن یعنی ډاکوان اوس په غطفان کښې دی۔ انتهی۔

عَنْ عِكْرَمَةَ بِنِ عَمَّارٍ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ بِطُوْلِهٖ عَنْ عِكْرَمَةَ ابْنِ عَمَّارٍ .

ترجمه: ترجمه ددے حدیث دپورته حدیث په شان ده۔

﴿ بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ وَهُوَالَّذِیْ كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ الْاٰيَةَ۔﴾

دايت وَهُوَالَّذِیْ كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ دنازليدو بيان۔

(۴۶۷۹) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ ثَمَانِیْنَ رَجُلًا مِّنْ اَهْلِ مَكَّةَ هَبَطُوْا عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَبَلِ التَّنْعِیْمِ مُتَسَلِّحِیْنَ یُرِیْدُوْنَ غِرَّةَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَصْحَابِهٖ فَاَخَذَهُمْ سَلْمًا فَاسْتَحْیَاهُمْ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ وَهُوَالَّذِیْ كَفَّ اَیْدِیَهُمْ عَنْكُمْ وَاَیْدِیَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَیْهِمْ. [ابوداود ، ترمذی]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چه اتیا سړی دمکے اوسیدونکی په رسول الله ﷺ دپاسه راکوز شو دتنعیم دغرنه، هغوئ داغوښتله چه حضرت ﷺ دهوکه ورکړی اوپه غفلت کښے پرے حمله اوکړی، بیاحضرت ﷺ هغوئ اونیول اوقیدئے کړل ورستودے نه

حضرت ﷺ پریخودل پس الله تعالی دا ایات مبارك نازل کړلو (وَهُوَالَّذِیْ کَفَّ اَیْدِیَهُمْ عَنْکُمْ) یعنی الله هغه ذات دے چا چه منع کړو دهغوئ دلاسونو نه تاسولره (اودهغوئ قریب څه کار اونۀ کړو) اوستاسو لاسونو لره دهغوئ نه (چه تاسو هغوئ لره قتل نۀ کړو) دمکے په سرحد کښے ستاسو دفتح کولو نه پس په هغوئ باندے۔

﴿باب غزوة النساء مع الرجال﴾

دښځو دسړو سره په غزاګانو شریکیدل

(۴۶۸۰) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ اُمَّ سُلَیْمٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا اتَّخَذَتْ یَوْمَ حُنَیْنٍ خَنْجَرًا فَکَانَ مَعَهَا فَرَاٰهَا اَبُوْا طَلْحَةَ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللهِ هٰذِهٖ اُمُّ سُلَیْمٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا مَعَهَا خِنْجَرٌ فَقَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَاهٰذَا الْخِنْجَرُ قَالَتِ اتَّخَذْتُهُ اِنْ دَنٰی مِنِّیْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِکِیْنَ بَقَرْتُ بِهٖ بَطْنَهُ فَجَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَضْحَکُ قَالَتْ یَارَسُوْلَ اللهِ اُقْتُلْ مَنْ بَعْدَنَا مِنَ الطُّلَقَآءِ انْهَزَمُوْا بِکَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَااُمَّ سُلَیْمٍ اِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ قَدْ کَفٰی وَاَحْسَنَ.

ترجمه: دانسؓ نه روایت دے چه ام سلیمؓ (دهغوئؓ مور) دحنین په ورځ یو خنجر واخستو هغهؓ دهغوئ رضی الله عنها سره وه، داابو طلحه اولیدله، نو عرض ئے اوکړو یارسول الله! دا ام سلیم ده، دهغےؓ سره یو خنجر دے، حضرت ﷺ تپوس اوکړو دا خنجر څنګه دے، ام سلیمؓ اووے یارسول الله ﷺ کچرے یو مشرك څماخواله راشی نو په دے خنجر به دهغه ګیډه اوڅیرم ددے په اوریدو رسول الله ﷺ مسکے شولو بیاام سلیمؓ اووے یارسول الله ﷺ زمونږ نه سوا چه کوم خلق دروغژن دی (دفتح مکے په ورځ) هغوئ لره قتل کړئ هغوئ شکست اومونډو ستاسو نه (ددے په وجه مسلمانان شول اودزړۀ نه مسلمانان شوی نۀ دی) حضرت ﷺ اوفرمائیل اے ام سلیمؓ دکافرانو دشرنه الله تعالی خلاصے راکړو اوهغه په مونږ باندے احسان اوکړو (اوس ستادخنجر ترلو ضرورت نشته).

(۴۶۸۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قِصَّةِ اُمِّ سُلَیْمٍ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ

حَدِیْثِ ثَابِتٍ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث دپورته حدیث پشان ده۔

(۴۶۸۲) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَغْزُوْ بِاُمِّ سُلَیْمٍ وَنِسْوَةٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ مَعَهٗ اِذَاغَزَا فَیَسْقِیْنَ الْمَآءَ وَیُدَاوِیْنَ الْجَرْحٰی. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به ام سلیمؓ اوخو دانصار ښځولره په جهاد کښې دځان سره ساتلے، هغویؓ به اوبه څکولے اودزخمیانو دوائی به ئے کوله۔

فائده: نوویؒ وئیلی دی ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه ښځولره په جهاد کښې وتل درست دی، اودهغویٔ نه کار اخستل اوبه څکول یادوائی وغیره درست دی، اودا دوائی به هغه دخپلو محرمو کوی یادخاوند اودغیروهم کولے شی په دے شرط چه بے ضرورته به ورسره بدن نهٔ لګوی اودضرورت په ځائے جائز دی۔ انتهی

(۴۶۸۳) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّا کَانَ یَوْمُ اُحُدٍ انْهَزَمَ نَاسٌ مِنَ النَّاسِ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وسَلَّمَ وَاَبُوْطَلْحَةَ بَیْنَ یَدَیِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مُجَوِّبٌ عَلَیْهِ بِحَجَفَةٍ قَالَ وَکَانَ اَبُوْطَلْحَةَ رَجُلًا رَّامِیًا شَدِیْدًا لنَّزْعِ وَکَسَرَ یَوْمَئِذٍ قَوْسَیْنِ اَوْثَلَاثًا قَالَ فَکَانَ الرَّجُلُ یَمُرُّمَعَهُ الْجَعْبَةُ مِنَ النَّبْلِ فَیَقُوْلُ اُنْثُرْهَا لِاَبِیْ طَلْحَةَ قَالَ وَیُشْرِفُ نَبِیُّ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَنْظُرُ اِلَی الْقَوْمِ فَیَقُوْلُ اَبُوْطَلْحَةَ یَانَبِیَّ اللهِ بِاَبِیْ اَنْتَ وَاُمِّیْ لَاتُشْرِفْ لَایُصِیْبُکَ سَهْمٌ مِّنْ سِهَامِ الْقَوْمِ نَحْرِیْ دُوْنَ نَحْرِکَ قَالَ وَلَقَدْرَاَیْتُ عَآئِشَةَ بِنْتَ اَبِیْ بَکْرٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَاوَاُمَّ سُلَیْمٍ وَاِنَّهُمَا لَمُشَمِّرَتَانِ اَرٰی خَدَمَ سُوْقِهِمَا تَنْقُلَانِ الْقِرَبَ عَلٰی مُتُوْنِهِمَا ثُمَّ تُفْرِغَانِهٖ فِیْ اَفْوَاهِهِمْ ثُمَّ تَرْجِعَانِ فَتَمْلَآنِهَا ثُمَّ تَجِیْئَانِ تُفْرِغَانِهٖ فِیْ اَفْوَاهِ الْقَوْمِ وَلَقَدْوَقَعَ السَّیْفُ مِنْ یَدَیْ اَبِیْ طَلْحَةَ اِمَّا مَرَّتَیْنِ وَاِمَّاثَلَاثًا مِنَ النُّعَاسِ. [بخاری]

ترجمه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے هرکله چه داحد ورځ شوه نو څه خلقو شکست اوموندو اورسول الله ﷺ ئے پریخودو، اوابو طلحهؓ دحضرت ﷺ مخے ته ود اودډهال پرده ئے په حضرت ﷺ باندے کړے وه، اوابو طلحهؓ لوئے تیرانداز وو، دهغویؓ په دغه ورځ دوه یادرے لیندے ماتے شوے وے نو هرکله چه به یو سړے دغشو ترکش را اخستے را اووتو

نو حضرت ﷺ به هغه ته اوفرمائيل داغشى كيږده وه دابو طلحهؓ دپاره، اوحضرت ﷺ چه به كافرانو ته دكتلو دپاره سراوچت كړو نوابو طلحهؓ به ورته اووے اے دالله جل جلاله نبى ځماپلار مور دې ستانه قربان شى تاسو سرمه اوچتوئ، داسے نه چه دكافرانو يو غشے په تاسو باندے اولګى، زمامرئ به ستاسو دمباركے مرئ برابر وى (يعنى ابو طلحهؓ خپله مرئ مخكښے كړه وه چه كچرے غشے وغيره راشى نو په مابه لګى، انسؓ وائى مادحضرت عائشے بنت ابى بكرؓ اوام سليمؓ لره اوليده چه هغوئؓ دواړو كپړے اوچتے كړے وے (لكه څنګه چه دكار په وخت څوك اوچتوى) اومادهغوئؓ دپندئ پانزيب لره ليدلو، هغوئؓ دواړو به مشكونه راوړلو په خپله شاباندے اواوبه به ئے وركولے خلقوته په خله كښے، بيابه تلے اواوبه به ئے راوړے اوخلقوته به ئے په خله كښے غورځولے، اودابو طلحهؓ په مخكښے دوه درے ځله توره پريوته دخوب دوجے نه.

فائده: ددے نه دابو طلحهؓ بے حده وفادارى اوجان نثارى ثابتيږى، په سيرة ابن هشام كښى دى چه ابودجانهؓ خپله شا دكافرانو په طرف كړے وه اوپه حضرت ﷺ ئے پرده كړے وه اوغشى به دهغه په شاباندے برابر پريوتل، اوسعد ابن ابى وقاصؓ هم كافرانو لره په غشو ويشتلو، اورسول الله ﷺ به هغوئؓ له غشى وركولو اوورته به ئے فرمائيلو اوله اے سعدهؓ دمحمد ﷺ پلار اومور دى ستانه قربان شى، اورسول الله ﷺ هم پخپله غشى ويشتلو ،تردے پورے چه دهغه دلينده يوه غاړه ماته شوله بيا هغه لينده قتاده بن نعمانؓ واخسته اودهغه سره وه دابوقتاده ستركه دكافرو په ګذار سره اووته اوپه اننګى باندے راپريوته رسول الله ﷺ هغه ستركه په خپل لاس مبارك سره په خپل ځائے كينښوده هغه بالكل صحيح شوله بلكه دمخكښے نه ئے نظربنه زيات شولو. انتهے

داحد دورغ پورے دپردے حكم نۀ وو نازل شوے په ليدلو كښ څه قباحت نۀ وو، يادا چه هغوئؓ هغه پانزيب قصداً نۀ وو ليدلے بلكه ناڅاپه ئے پرے نظرپريوتو.

﴿ باب النساء الغازيات يرضخ لهن ولايسهم والنهى عن قتل صبيان اهل الحرب.﴾

﴿كومے ښځے چه په جهاد كښے شريكے شى هغوئ ته به انعام ميلاويږى اوحصه به ورته نۀ

﴿ميلا ويړي اوبچو قتل منع دے۔﴾

(۴۶۸۴) عَنْ يزِيدَ ابْنِ هُرْمُزَ اَنَّ نَجْدَةَ كَتَبَ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَسْأَلُهُ عَنْ خَمْسِ خِلَالٍ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ لَوْلَا اَنْ اَكْتُمَ عِلْمًا مَا كَتَبْتُ اِلَيْهِ كَتَبَ اِلَيْهِ نَجْدَةُ اَمَّا بَعْدُ فَاَخْبِرْنِيْ هَلْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُوْا بِالنِّسَاءِ وَهَلْ كَانَ يَضْرِبُ لَهُنَّ بِسَهْمٍ وَهَلْ كَانَ يَقْتُلُ الصِّبْيَانَ وَمَتٰى يَنْقَضِيْ يُتْمُ الْيَتِيْمِ وَعَنِ الْخُمُسِ لِمَنْ هُوَ فَكَتَبَ اِلَيْهِ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ كَتَبْتَ تَسْاَلُنِيْ هَلْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُوْا بِالنِّسَاءِ وَقَدْ كَانَ يَغْزُوْا بِهِنَّ فَيُدَاوِيْنَ الْجَرْحٰى وَيُحْذَيْنَ مِنَ الْغَنِيْمَةِ وَاَمَّا بِسَهْمٍ فَلَمْ يَضْرِبْ لَهُنَّ وَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَقْتُلُ الصِّبْيَانَ فَلَا تَقْتُلِ الصِّبْيَانَ وَكَتَبْتَ تَسْاَلُنِيْ مَتٰى يَنْقَضِيْ يُتْمُ الْيَتِيْمِ فَلَعَمْرِيْ اِنَّ الرَّجُلَ لَتَنْبُتُ لِحْيَتُهُ وَاِنَّهُ لَضَعِيْفُ الْاَخْذِ لِنَفْسِهِ ضَعِيْفُ الْعَطَاءِ مِنْهَا فَاِذَا اَخَذَ لِنَفْسِهِ مِنْ صَالِحِ مَا يَاْخُذُ النَّاسُ فَقَدْ ذَهَبَ عَنْهُ الْيُتْمُ وَكَتَبْتَ تَسْاَلُنِيْ عَنِ الْخُمُسِ لِمَنْ هُوَ وَاِنَّا كُنَّا نَقُوْلُ هُوَ لَنَا فَاَبٰى عَلَيْنَا قَوْمُنَا ذَاكَ. [ابو داود ، ترمذی]

ترجمه: دیزید بن هرمزؒ نه روایت دے نجده (حروری دخوارجو سردار) عبدالله بن عباس رضی الله عنه ته دپنځه خبرو دتپوس په باره کښې اولیکل، عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما اووے، کچرے دعلم پټولو سزاء نۀ وے نو مابه ده ته جواب نۀ وو لیکلے، (ولې چه هغه مردود دخارجی بدعتیانو سردار وو او حضرت ﷺ دهغوی په شان کښې فرمائیلی دی چه هغوی دین نه داسے اوځی لکه غشے چه دښکارنه اوځی) نجده دالیکلی وو چه ورستو دحمد وصلوٰۃ نه ئے اوښایه چه رسول الله ﷺ په جهاد کښې ښځولره شریکے کړے وے؟ اوهغوی لَه به ئے څه حصه ورکوله (دغنیمت دمال نه) اوایا حضرت ﷺ به ماشومانولره هم وژلو؟ اودیتیم یتیمی کله ختمیږی؟ اوخمس دچادے؟ عبدالله ابن عباسؓ جواب اولیکو چه تالیکلی دی ځمانه تپوس کوے، چه رسول الله ﷺ په جهاد کښې ښځولره شریکے کړے وے نو بیشکه چه شریکے کړے ئے وے. هغویؓ به دزخمیانو دوائی کوله، اوهغویؓ ته به څه انعام میلاویدو او حصه خو هغویؓ ته نۀ وه لګولے شوے (دابو حنیفه اوثوریؒ اولیثؒ اوشافعی اوجمهورو علماؤ دغه قول دے لیکن داوزاعیؒ په نزد به ښځے له حصه لګولے شی کچرے هغه جنګ کوی یا دزخمیانو علاج کوی،

اودمالكؒ په نزد به هغې ته انعام هم نۀ ميلاويږي، اودغه دواړه مذهبونه مردود دي په دے حديث صحيح سره) اورسول الله ﷺ بچولره (دكافرانو) نۀ وژلوته هم بچولره مۀ وژنه (دغه شان ښځولره ،ليكن كه بچي اوښځي جنګ كوي نوبيائے وژل جائز دي) اوتاليكلي دي ځمانه تپوس كوے چه ديتيم يتيمي كله ختميږي، نوقسم دے چه ځماعمر ته رسيدونكي بعضے سړي داسے وي چه دهغه په مخ ګيره راشي خوبيا هم دلين دين شعور نۀ لري، (دغه يتيم دے يعني دهغه حكم ديتيمانو په شان دے) بيا چه هركله دخپلے فائدے دپاره هغه نيے خبرے كول شروع كړي لكه څنګه چه خلق كوي نودهغه يتيمي ختمه شي، اوتاليكلي دي ځمانه دي تپوس كړے دے چه خمس دچادے، نومونږ خودا وايو چه خمس زمونږ دپاره دے خو زمونږ قوم اونه منله.

فائده : نوويؒ وئيلي دي مراد ددے نه ديتيمئ حكم دے ورنه يتيمي په بلوغت سره ختميږي، رسول الله ﷺ فرمائيلي دي نشته دے يتيمي ورستوداحتلام نه، اوپه دے كښې دليل دے دشافعي اومالك اوجمهور علماؤ رحمهم الله ديتيمئ په بلوغ سره نه ځي اونۀ په عمرزياتيدوسره ځي، بلكه داضروري ده چه په لين دين كښے هښيار شي لوابو حنيفهؒ وئيلي دي هركله چه هغه دپنځه ويشتو كالوشي نودهغه مال هغه ته اوسپارئ ولے چه په داسے عمركښے سړے نيكه كيدے شي، چه اوس ئے هم عقل رانۀ شي نو كله به راځي۔ [انتهى سره دزيادت]

نوويؒ وئيلي دي مراد خمس دے اوخمس چه په قرآن سره كوم حق دے دذوالقربے اوعالمانو په دے كښې اختلاف كړے دے، دشافعيؒ دغه قول دے كوم چه دابن عباسؓ دے چه هغه دذوالقربے حق دے، يعني دبني هاشم اوبني مطلب ، اودقوم نه مراد دبنواميه اميران دي، چه هغوئ داخمس هم دحضرت ﷺ عزيزانو اوسيدانو ته ورنۀ كړلو ،پخپله ئے قبضه كړلو.

((۴٦٨٥) عَنْ يَزِيْدَابْنِ هُرْمُزَاَنَّ نَجْدَةَ كَتَبَ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالىٰ عَنْهُمَا يَسْئَالُهُ عَنْ خِلَالٍ بِمِثْلِ حَدِيْثِ سُلَيْمَانَ ابْنِ بِلَالٍ غَيْرَاَنَّ فِىْ حَدِيْثِ حَاتِمٍ وَّاَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَقْتُلُ الصِّبْيَانَ فَلَاتَقْتُلِ الصِّبْيَانَ اِلَّااَنْ تَكُوْنَ تَعْلَمُ مَاعَلِمَ الْخَضِرُمِنَ الصَّبِيِّ الَّذِىْ قَتَلَ وَزَادَ اِسْحَاقُ فِىْ

حدیثه عن خاتم وتمیز المؤمن فتقتل الکافر وتدع المؤمن.

ترجمه: دیزید بن هرمز نه روایت دے نجده ابن عباس ته دخو خبرو دتپوس په باره کښے اولیکل بیانے بیان کړو حدیث لره په دغه شان په دے روایت کښ دادی چه رسول الله ﷺ به ماشومانو لره نۀ وژل، ته هم ماشومانو لره مۀ وژنه، مگر که تاته داسے علم وی لکه څنگه چه حضرت خضرعلیه السلام ته وو هرکله چه هغوی علیه السلام یو هلك لره وژلے وو او داسحاق په روایت کښے دومره زیاته ده چه ته تمیز اوکړے دمؤمن بیاقتل کړے کافرلره، اوپریږدے مؤمن لره) یعنی تۀ پیژندگلی کولے شے چه کوم بچے لوئے شی مؤمن به وی اوکوم به کافروی اوداگرانه ده څکه قتل هم دبچو ناجائزه دے)

فائده: اوظاره ده چه حضرت خضرعلیه السلام داکار په خپل رائی سره نۀ وو کړے، ولے چه پخپله په قران کریم کښے موجود دی "وَمَافَعَلْتُهُ عَنْ اَمْرِیْ" بلکه دالله تعالی په حکم سره وو اوتاته داحکم نۀ شی دررسیدے پس دماشومانو قتلول هم تالره ناجائز دی.

(۴۶۸۶) عَنْ يَزِيْدَابْنِ هُرْمُزَقَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ ابْنَ عَامِرِنِ الْحَرُوْرِىُّ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَسْأَلُهُ عَنِ الْعَبْدِوَالْمَرْاَةِ يَحْضُرَانِ الْمُغْنَمَ هَلْ يُقْسَمُ لَهُمَا وَعَنْ قَتْلِ الْوِلْدَانِ وَعَنِ الْيَتِيْمِ مَتٰى يَنْقَطِعُ عَنْهُ الْيُتْمُ وَعَنْ ذَوِالْقُرْبٰى مَنْ هُمْ فَقَالَ لِيَزِيْدَاكْتُبْ اِلَيْهِ فَلَوْلَااَنْ يَقَعَ فِىْ اُحْمُوْقَةٍ مَّاكَتَبْتُ اِلَيْهِ اُكْتُبْ اِنَّكَ كَتَبْتَ تَسْأَلُنِىْ عَنِ الْمَرْاَةِ وَالْعَبْدِ يَحْضُرَانِ الْمُغْنَمَ هَلْ يُقْسَمُ لَهُمَا شَىْءٌ وَّاِنَّهُ لَيْسَ لَهُمَا شَىْءٌ اِلَّا اَنْ يُّحْذَيَا وَكَتَبْتَ تَسْأَلُنِىْ عَنْ قَتْلِ الْوِلْدَانِ وَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَقْتُلْهُمْ وَاَنْتَ لَاتَقْتُلْهُمْ اِلَّا اَنْ تَعْلَمَ مِنْهُمْ مَّاعَلِمَ صَاحِبُ مُوْسٰى عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ مِنَ الْغُلَامِ الَّذِىْ قَتَلَهُ وَكَتَبْتَ تَسْأَلُنِىْ عَنِ الْيَتِيْمِ مَتٰى يَنْقَطِعُ عَنْهُ اِسْمُ الْيُتْمِ حَتّٰى يَبْلُغَ وَيُوْنَسَ مِنْهُ رُشْدٌ وَّكَتَبْتَ تَسْأَلُنِىْ عَنْ ذَوِالْقُرْبٰى مِنْهُمْ وَاِنَّا زَعَمْنَا اَنَّا هُمْ فَاَبٰى ذٰلِكَ عَلَيْنَا قَوْمُنَا.

ترجمه: دیزید بن هرمز نه روایت دے وائی چه نجده بن عامر حروری ابن عباس ته اولیکل تپوس ئے اوکړو دهغوی نه چه غلام اوښځه کچرے په جهاد کښے شریك شی نو هغوی ته به حصه میلاویږی یانه. اودبچو قتل څنگه دے. اودبچو یتیمی کله ختمیږی اوذوالقربے (چه دهغے ذکر په قران مجید کښے دے ٥ په پنځمه حصه کښے به هغوی له حصه ورکولے شی)

خوك دى ؟ ابن عباس رضى الله تعالى عنهما يزيد ته اووے تهٔ اوليكه جواب هغه ته، اوكچرے هغه په حماقت كښے پريوتلو والانهٔ وے نوما به هغه ته جواب نهٔ وو ليكلے (يعنى ماته ددے خبرے خيال دے كچرے زهٔ ددے مسئلو جواب ده لره ورنهٔ كړم نو هغه به دشرع خلاف په خبره دحماقت عمل اوكړى.) اوليكه دا چه تاماته اوليكل تپوس دى اوكړو چه ښځے اوغلام ته به حصه ميلاويږى هركله چه هغه په جهاد كښے شريك وى نو حال دادے چه هغوئ ته به حصه نهٔ ميلاويږى البته انعام ورته ميلاويدى شى، (ځومره چه امام مناسب اوګنړى، دشافعى اوابو حنيفه اودجمهورو علماؤ دغه قول دے، اودمالك په نزد غلام ته به انعام هم نهٔ ميلاويږى، لكه ښځكه چه ښځے ته، اودحسن اوابن سيرين اونخعى اوحكم په نزد كچرے غلام جنګ اوكړى نو هغه ته به هم حصه وركيدے شى) اوتاپه ليكلو كښے تپوس كړے دے ځمانه دبچو دقتل په باره كښے نورسول الله ﷺ بچى نهٔ دى قتل كړى اوتهٔ ئے هم مهٔ قتلوه مګركه تاته داسے علم وى لكه دموسى عليه السلام ملګرى (حضرت حضرت عليه السلام) ته چه وو اوتاپه ليكلو كښے تپوس كړے دے ديتيم په باره كښے چه دهغه يتيمى به كله ختميږى نوديتيم نوم دهغه نه نهٔ ځى دكومے پورے چه بالغ شوے نهٔ وى اوعقل ورته رَاغلے نهٔ وى، اوتاليكلى دى دذوى القربى تپوس دى كړے دے نودازما په خيال كښے زمونږ خلق دى، خوزمونږ قوم ئے نهٔ منى۔

(۴۶۸۷) عَنْ يَزِيْدَابْنِ هُرْمُزَقَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِمِثْلِهٖ قَالَ اَبُوْاِسْحَاقَ حَدَّثَنِىْ عَبْدُالرَّحْمٰنِ ابْنُ بِشْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ بِطُوْلِهٖ.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته حديث پشان ده۔

(۴۶۸۸) عَنْ يَزِيْدَابْنِ هُرْمُزَقَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ ابْنُ عَامِرٍ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ فَشَهِدْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ حِيْنَ قَرَءَ كِتَابَهٗ وَحِيْنَ كَتَبَ جَوَابَهٗ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَاللّٰهِ لَوْلَآ اَنْ اَرُدَّهٗ عَنْ نَّتْنٍ يَّقَعُ فِيْهِ مَاكَتَبْتُ اِلَيْهِ وَلَانُعْمَةَ عَيْنٍ قَالَ فَكَتَبَ اِلَيْهِ اِنَّكَ سَاَلْتَ عَنْ سَهْمِ ذِى الْقُرْبٰى الَّذِىْ ذَكَرَاللّٰهُ مَنْ هُمْ وَاِنَّا كُنَّا نَرٰى اَنَّ قَرَابَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُمْ نَحْنُ فَاَبٰى ذٰلِكَ عَلَيْنَا قَوْمُنَا وَسَاَلْتَ عَنِ الْيَتِيْمِ مَتٰى يَنْقَضِىْ يُتْمُهٗ وَاِنَّهٗ اِذَابَلَغَ النِّكَاحَ وَاُوْنِسَ مِنْهُ رُشْدٌ وَّدُفِعَ اِلَيْهِ مَالُهٗ فَقَدِانْقَضٰى يُتْمُهٗ وَسَاَلْتَ

هَلْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْتُلُ مِنْ صِبْيَانِ الْمُشْرِكِيْنَ اَحَدًا فَاِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَقْتُلُ مِنْهُمْ اَحَدًا وَّاَنْتَ فَلَا تَقْتُلْ مِنْهُمْ اَحَدًا اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ تَعْلَمُ مِنْهُمْ مَا عَلِمَ الْخَضِرُ مِنَ الْغُلَامِ حِيْنَ قَتَلَهُ وَسَاَلْتَ عَنِ الْمَرْاَةِ وَالْعَبْدِ هَلْ كَانَ لَهُمَا سَهْمٌ مَّعْلُوْمٌ اِذَا حَضَرُوا الْبَاْسَ وَاَنَّهُمْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ سَهْمٌ مَّعْلُوْمٌ اِلَّا اَنْ يُّحْذَيَا مِنْ غَنَائِمِ الْقَوْمِ.

ترجمه: ديزيد بن هرمز رضي الله عنه نه روايت دے وائي چه نجده بن عامر ابن عباسؓ ته اوليكل زهٔ دابن عباس رضي الله تعالى عنهما سره موجود وم خه وخت چه هغوئ دنجده خط لوستلو اوخه وخت چه ئے دهغے جواب ليكلو، ابن عباس رضي الله تعالى عنهما اووے قسم په الله تعالى كچرے څماداخيال نهٔ وے چه دے به پليتئ كښے اوغورځيږي، (يعني دحماقت په خبره به عمل اوكړي) نو مابه ده ته جواب نهٔ وو ليكلے اوالله تعالى دې دده سترګے چرته يخے نهٔ كړي (يعني دده دې خوشحالي نصيب نهٔ شي) بيائے دا اوليكل تاڅما نه تپوس اوكړو دذوالقربى دحصے چه دهغے ذكر الله تعالى كړے دے هغه څوك دي، نو مونږ داخيال كوو چه د رسول الله ﷺ قرابت والا څمونږ خلق دي، ليكن زمونږ قوم ئے زهٔ منى، اوتا تپوس كړے دے چه ديتيم يتيمي كله ختميږي؟ نو هركله چه هغه دنكاح قابل شي اوعقل ورله راشي اودهغه مال هغه ته اوسپارلے شي، دهغه يتيمي ختمه شوله، اوتا تپوس كړے دے چه رسول الله ﷺ به دمشركانو بچولره وژلو؟ نو رسول الله ﷺ دمشركانو يو بچے هم نهٔ دے وژلے اوتهٔ ئے هم مهٔ وژنه البته كچرے تاته دومره علم وى لكه چه حضرت خضر عليه السلام ته وو هركله چه هغوئ هلك وژلے وو نو بيا خيردے اوتا تپوس كړے دے چه دښځے اوغلام به څه حصه مقرر وى كچرے هغوئ په جنګ كښې شريك شي؟ نو هغوئ ته څه حصه هم نهٔ ميلاويده مګر دانعام په طور باندے دمال غنيمت نه۔

(۴۶۸۹) عَنْ يَزِيْدَ ابْنِ هُرْمُزَ قَالَ كَتَبَ نَجْدَةُ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فَذَكَرَ بَعْضَ الْحَدِيْثِ وَلَمْ يُتِمَّ الْقِصَّةَ كَاِتْمَامِ مَنْ ذَكَرْنَا حَدِيْثَهُمْ. [راجع: ۴۶۸۴]

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دپورته حديث په شان ده۔

(۴۶۹۰) عَنْ اُمِّ عَطِيَّةَ الْاَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ اَخْلُفُهُمْ فِیْ رِحَالِهِمْ فَاَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ وَاُدَاوِیْ الْجَرْحٰی وَاَقُوْمُ عَلَی الْمَرْضٰی.

[ابن ماجه]

ترجمه: دام عطیه رضی الله عنها نه روایت دے چه هغوی وائی زهٔ درسول الله ﷺ په اووه غزاګانو کښې پاتې شوے یم زهٔ به دسرو داوسیدو په ځائے کښې وم هغوی له به غله پخوله اودزخمیانو دوائی به می کوله اودبیمارانو خدمت به می کولو.

(۴۶۹۱) عَنْ هِشَامِ ابْنِ حَسَّانَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهُ. [راجع: ۴۶۸۳]

ترجمه: ددے ترجمه دپورته حدیث په شان ده.

﴿ بَابُ عَدَدِ غَزَوَاتِ النَّبِیِّ ﷺ ﴾

رسول الله ﷺ څومره جهادونه کړی دی

(۴۶۹۲) عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ اَنَّ عَبْدَاللهِ ابْنَ یَزِیْدَ خَرَجَ یَسْتَسْقِیْ بِالنَّاسِ فَصَلّٰی رَکْعَتَیْنِ ثُمَّ اسْتَسْقٰی قَالَ فَلَقِیْتُ یَوْمَئِذٍ زَیْدَابْنَ اَرْقَمَ قَالَ لَیْسَ بَیْنِیْ وَبَیْنَهٗ غَیْرُ رَجُلٍ اَوْبَیْنِیْ وَبَیْنَهٗ رَجُلٌ قَالَ فَقُلْتُ لَهٗ کَمْ غَزَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تِسْعَ عَشْرَةَ فَقُلْتُ کَمْ غَزَوْتَ اَنْتَ مَعَهٗ قَالَ سَبْعَ عَشْرَةَ غَزْوَةً قَالَ فَقُلْتُ فَمَااَوَّلُ غَزْوَةٍ غَزَاهَا قَالَ ذَاتُ الْعُسَیْرِ اَوِالْعُشَیْرِ. [بخاری، وانظر فی مسلم: ۳۰۳۵]

ترجمه: دابو اسحاق نه روایت دے چه عبدالله بن یزید داستسقاء دمانځه دپاره راووتو نودخلقو سره ئے دوه رکعته مونځ اوکړو اوبیائے داوبو دپاره دعا اوغوښته، په دغه ورځ زهٔ دزید بن ارقم سره میلاؤ شوم زما اودهغوی په مینځ کښې صرف یو سړے وو ماتپوس اوکړو دهغه نه چه رسول الله ﷺ څومره جهادونه کړی دی هغوی اووے نولس (۱۹) مابیاتپوس اوکړوتهٔ په څومره جهادونو کښې دهغوی سره شریك وے، هغوی اووے په اوولسو(۱۷) کښې، ماتپوس اوکړو رومبے جهاد کوم یو وو؟ هغوی اووے ذات العسیریاذات العشیر (چه دادیو ځائے نوم دے په سیرت ابن هشام کښې دے ته غزوة العشیره لیکلے دے په دے کښې جنګ نهٔ وو شوے، رسول الله ﷺ دعشیره پورے لاړو اومدینے ته واپس راغے، داواقعه په سنه ۲ هـ کښې شوے وه، ابن هشام وائی چه دټولو نه مخکښې غزوه دوان اوشوه مدینے ته دراتلونه پس دکال په آخرباندے په دے

کښې هم جنګ اونهٔ شولو۔

(۴۶۹۳) عَنْ زَیْدِ ابْنِ اَرْقَمَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ غَزَا تِسْعَ عَشْرَةَ غَزْوَةً وَحَجَّ بَعْدَمَا هَاجَرَ حَجَّةً لَمْ یَحُجَّ غَیْرَهَا حَجَّةِ الْوَدَاعِ. [راجع: ۴۶۹۲]

ترجمه: دزید بن ارقم نه روایت دے چه رسول الله ﷺ نورلس جهادونه کړی دی، اودهجرت نه پس ئے صرف یو حج کړے دے چه هغے ته حجة الوداع وئیلے شی۔

(۴۶۹۴) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تِسْعَ عَشْرَةَ غَزْوَةً قَالَ جَابِرٌ لَمْ اَشْهَدْ بَدْرًا وَلَا اُحُدًا مَنَعَنِیْ اَبِیْ فَلَمَّا قُتِلَ عَبْدُاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَوْمَ اُحُدٍ لَمْ اَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ غَزْوَةٍ قَطُّ.

ترجمه: دحضرت جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما درسول الله ﷺ سره نورلس جهادونه کړی دی اوزهٔ په بدر اواحد کښے شریك نهٔ وم زما پلار به زهٔ نهٔ پریخودم بیا چه هرکله څما پلار اووژلے شو داحد په ورځ، نو ما په یو جنګ کښې هم درسول الله ﷺ ملګرتیانهٔ ده پریخودے۔

(۴۶۹۵) عَنْ بُرَیْدَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ غَزَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تِسْعَ عَشْرَةَ غَزْوَةً قَاتَلَ فِیْ ثَمَانٍ مِنْهُنَّ وَلَمْ یَقُلْ اَبُوْبَکْرٍ مِنْهُنَّ وَقَالَ فِیْ حَدِیْثِهٖ حَدَّثَنِیْ عَبْدُاللّٰهِ ابْنُ بُرَیْدَةَ.

ترجمه: دبریدهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ نورلس جهادونه کړے دی، اوددے نه په اتو (۸) کښې زهٔ جنګیدلے یم۔

فائده: امام نووی وئیلی دی اهل مغازی اختلاف کړے دے درسول الله ﷺ دجهادونو په شمار کښے، نو ابن سعدؒ دهغے شمار مفصلا په ترتیب ذکرکړے دے، اودهغے تعداد داویشتنو غزاګانو اوشپږ پنځوس سریو پورے رسیدلے دے (سریه هغه غزاده چه هغے ته رسول الله ﷺ اصحاب لیږلی وی اوپخپله پکښې حاضرشوے نهٔ وی) ددغه غزاګانو نه په نهو (۹) کښې جنګ شوے دے چه هغه بدر اواحد اومریسیع اوخندق، اوقریظه، اوخیبر، اوفتح اوحنین، اوطائف دی، اوبریدهؓ چه کوم اته بیان کړی دی نو کیدے شی غزوه فتح ئے ترے ویستلے وی ولے چه دهغویؒ مذهب به دامام شافعیؒ په شان وی چه هغهؒ وائی مکه په صلح فتح شوے ده،

اوباقی علماء داوائی چه مکه په زور دتورے فتح شوے ده، (مترجم وائی دباقی عالمانو قول صحیح دے اوهم دغه دتاریخ نه ثابت دے۔)

(۴۶۹۶) عَنْ بُرَيْدَةَ اَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّ عَشْرَةَ غَزْوَةً.

ترجمه: دبریدة نه روایت دے چه هغوئ درسول الله ﷺ سره شپاړس جهادونه کړی دی۔

(۴۶۹۷) عَنْ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ يَقُوْلُ غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَخَرَجْتُ فِيْمَا يَبْعَثُ مِنَ الْبُعُوْثِ تِسْعَ غَزَوَاةٍ مَرَّةً عَلَيْنَا اَبُوْبَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ وَمَرَّةً عَلَيْنَا اُسَامَةُ ابْنُ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ. [بخاری]

ترجمه: دسلمه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما درسول الله ﷺ سره اوه جهادونه کړی دی، اوکوم لښکر چه به حضرت ﷺ لیږلو په هغے کښ نهه ځله وتلے یم یو ځل خوزمونږ سردار ابوبکر رضی الله تعالی عنه وو اوپه دویم ځل اسامه بن زید رضی الله تعالی عنه وو۔

(۴۶۹۸) عَنْ حَاتِمٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ فِيْ كِلْتَيْهِمَا سَبْعَ غَزَوَاتٍ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث په شان ده مګرپه دے روایت کښے دواړه ځایه داووه عدد ذکردے۔

بَابُ غَزْوَاتِ ذَاتِ الرِّقَاعِ۔

دذات الرقاع دجهاد بیان

(۴۶۹۹) عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزَاةٍ وَنَحْنُ سِتَّةُ نَفَرٍ بَيْنَنَا بَعِيْرٌ نَعْتَقِبُهُ قَالَ فَنَقِبَتْ اَقْدَامُنَا فَنَقِبَتْ قَدَمَايَ وَسَقَطَتْ اَظْفَارِيْ فَكُنَّا نَلُفُّ عَلٰى اَرْجُلِنَا الْخِرَقَ فَسُمِّيَتْ غَزْوَةُ ذَاتِ الرِّقَاعِ لِمَا كُنَّا نُعَصِّبُ عَلٰى اَرْجُلِنَا مِنَ الْخِرَقِ قَالَ اَبُوْبُرْدَةَ.

ترجمه: دابوموسی اشعری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ درسول الله ﷺ سره په یو جهاد کښے را اووتو، اوزمونږ په شپږو سړو کښ یو اوښ وو، په نمبرنمبربه هغه ورختو آخرزمونږ خپے زخمے شولے اونوکونه ترے پریوتل، نوپه هغه زخمونوباندے چړرے اوتړلے، ددے وجے نه دهغه جهادنوم غزوه ذات الرقاع شولو، ولے چه مونږ په خپلو خپلوباندے رقاع یعنی

چرہے ترلے وہ۔

فَحَدَّثَ اَبُوْمُوْسٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ بِهٰذَا الْحَدِیْثِ ثُمَّ کَرِهَ ذٰلِکَ قَالَ کَاَنَّهٗ کَرِهَ اَنْ یَّکُوْنَ شَیْئًا مِّنْ عَمِلِهٖ اَفْشَاهُ قَالَ اَبُوْاُسَامَةَ زَادَنِیْ غَیْرُبُرَیْدٍ وَاللّٰهُ یُجْزِیْ بِهٖ.

ترجمه: ابو موسی رضی الله تعالی عنه دے حدیث لره بیان کړو بیائے بد اوګنړل ددے بیانول ولے چه دوئ ته دخپل عمل ظاهرول ناخوښه وو، ابو اسامةؓ وائی دبرید نه سیوا نورو راویانو په دے حدیث کښے دومره نورزیات کړے دی چه الله تعالی به ددے بدله ورکوی (یعنی زمونږ دمحنت اوتکلیف)

بَابُ کَرَاهَةِ الْاِسْتِعَانَةِ فِی الْغَزْوِبِکَافِرٍ اِلَّالِحَاجَةٍ اَوْکَوْنِهٖ حُسْنَ الرَّاْیِ فِی الْمُسْلِمِیْنَ۔

دکافرنه په جهادکښے مدد اخستل منع دی مګرپه ضرورت سره جائز دے

(۴۷۰۰) عَنْ عَآئِشَةَ زَوْجِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ بَدْرٍ فَلَمَّا کَانَ بِحَرَّةِ الْوَبَرَةِ اَدْرَکَهٗ رَجُلٌ قَدْکَانَ یُذْکَرُمِنْهُ جُرْاَةٌ نَجْدَةٌ فَفَرِحَ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حِیْنَ رَاَوْهُ فَلَمَّا اَدْرَکَهٗ قَالَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ جِئْتُ لِاَتَّبِعَکَ وَاُصِیْبَ مَعَکَ قَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ قَالَ لَاقَالَ فَارْجِعْ فَلَنْ اَسْتَعِیْنَ بِمُشْرِکٍ قَالَتْ ثُمَّ مَضٰی حَتّٰی اِذَاکُنَّا بِالشَّجَرَةِ اَدْرَکَهُ الرَّجُلُ فَقَالَ لَهٗ کَمَاقَالَ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَقَالَ لَهُ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَمَا قَالَ اَوَّلَ مَرَّةٍ قَالَ فَارْجِعْ فَلَمْ اَسْتَعِیْنَ بِمُشْرِکٍ قَالَ ثُمَّ رَجَعَ فَاَدْرَکَهٗ بِالْبَیْدَآءِ فَقَالَ لَهٗ کَمَاقَالَ اَوَّلَ مَرَّةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ قَالَ نَعَمْ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلِقْ. [ابو داود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے هغوئ وائی چه رسول الله ﷺ دبدر په طرف را اووتو هرکله چه حره الوبره ته اورسیدو (چه دمدینے نه په څلور میله فاصله باندے دے) نو یو سړے میلاؤ شو دحضرت ﷺ سره چه د هغه دبهادرئ اواصلت شور وو، درسول الله ﷺ اصحابو چه دے اولیدونو ډیر خوشحاله شو، هرکله چه

دحضرت ﷺ سره میلاؤ شونو هغه اووے زۀ ددے دپاره راغلم چه ستاسو سره لاړشم اوڅه چه میلاؤشی په هغے کښې حصه واخلم حضرت ﷺ اوفرمائیل ستایقین دے په الله تعالی اودهغه په رسول ﷺ باندے، هغه اووے نۀ ، حضرت ﷺ اوفرمائیل ته واپس شه زۀ دمشرك مدد نۀ غوارمه، بیاحضرت ﷺ روان شو هرکله چه شجره ته اورسیدونو هغه سړے بیادحضرت ﷺ سره میلاؤشو اوهغه ئے اووے څه چه ئے مخکښې وئیلی وو حضرت ﷺ ورته هغه اوفرمائیل څه چه ئے ورته مخکښې فرمائیلی وو اوورته ئے اوفرمائیل چه واپس شه زۀ دمشرك نه مدد نۀ غوارمه بیا هغه واپس شو اوددے نه پس بیادحضرت ﷺ سره په بیداء کښې میلاؤ شو حضرت ﷺ ورته هغه اوفرمائیل څه چه ئے ورته مخکښې فرمائیلی وو چه تۀ یقین لرے په الله جل جلاله اودهغه په رسول ﷺ باندے اوس هغه سړی اووے هان زۀ لرم یقین، نوحضرت ﷺ ورته اوفرمائیل پس ته لاړ شه (زمونږ سره)

فائده : نووی" وائی په بل حدیث کښې دی چه حضرت ﷺ دصفوان بن امیه نه مدد واخستو په جنګ کښې اوهغه مسلمان شوے نۀ وو، نوبعضے علماؤ مطلقا دمشرك نه مدد اخستل منع کړی دی، اودشافعی" داقول دے چه کچرے ضرورت شی اوکافر دمسلمانانو خیرخواوی، نودهغه نه مدد اخستل جائز دی ورنه مکروه دی په هغه صورت کښې هرکله چه کافرپه جنګ کښې شریك وی اوهغه ته به انعام میلاویږی اوحصه به ورته نۀ میلاویږی، دمالك" اوشافعی" اوابوحنیفة" اوجمهورعلماؤ دغه قول دے، اودزهری" اواوزاعی" په نزد به هغه ته حصه میلاویږی ۔

[[[[[[تمت کتاب الجهاد]]]]]]

﴿ كِتَابُ الْاَمَارَةِ ﴾

كتاب امارت (يعنى دحكومت او سردارئ) په بيان كښې

بَابُ النَّاسُ تَبَعٌ لِّقُرَيْشٍ وَّالْخِلَافَةُ فِيْ قُرَيْشٍ

[خليفه دقريشو نه كيدل پكار دى]

(۴۷۰۱) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِىْ حَدِيْثِ زُهَيْرٍ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ عَمْرٌو رِوَايَةً النَّاسُ تَبَعٌ لِّقُرَيْشٍ فِىْ هٰذَا الشَّاْنِ مُسْلِمُهُمْ لِمُسْلِمِهِمْ وَكَافِرُهُمْ لِكَافِرِهِمْ. [بخارى ، وانظر فى مسلم :۴۶۴۳]

ترجمه: دحضرت ابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى "خلق تابعدار دى دقريشو، مسلمانان تابعدار دى دَ مسلمانانو اوكافران دقريشو دكافرانو تابعدار دى.

(۴۷۰۲) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَاحَدَّثَنَا اَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ اَحَادِيْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسُ تَبَعٌ لِّقُرَيْشٍ فِىْ هٰذَا الشَّاْنِ مُسْلِمُهُمْ تَبَعٌ لِمُسْلِمِهِمْ وَكَافِرُهُمْ تَبَعٌ لِّكَافِرِهِمْ.

ترجمه: دهمام بن منبه نه روايت دے وائى چه داهغه حديثونه دى چه ابو هريره رضى الله تعالى عنه دِرسول الله ﷺ نه روايت كرى دى په هغې كښې يوداهم وو چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى، "خلق تابع دى دقريشو په خلافت كښې مسلمانان دهغوئ تابعدار دى دقريشو دمسلمانانو اوكافران تابعدار دى دقريشو دكافرانو.

(۴۷۰۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَيَقُوْلُ قَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسُ تَبَعٌ لِّقُرَيْشٍ فِى الْخَيْرِ وَالشَّرِّ.

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى "خلق تابعدار دى دقريشو په خيراوشركښې".

(۴۷۰۴) عَنْ عَبْدِاللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَايَزَالُ هٰذَا الْاَمْرُ فِىْ قُرَيْشٍ مَابَقِىَ مِنَ

النَّاسِ اثْنَانِ. [بخاری]

ترجمه: دعبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی داکار یعنی خلافت به همیشه په قریشو کښې وی ترڅو پورې چه دخلقو نه په دنیاکښې دوه سړی وی۔

فائده: نووی وائی ددے احادیثو نه دا را اوتـه چـه خلافت خاص دے دقریشو سره، اوڅوك چه قریشی نۀ وی دهغه خلافت درست نۀ دے اوپه دے باندے اجماع شوے ده داصحابو په زمانه کښې اودغه شان ورستو دهغوئ نه، اوڅوك چه په دے کښې مخالفت کوی که بدعتی وی یابل څوك په هغه باندے حجت تمام شولو داحادیث صحیحه ؤ نه۔

قاضی عیاض وئیلی دی چه دپاره دخلافت قریشی کیدل شرط دے اودغه مذهب دے دعلمائے کرامو اوابوبکر صدیق اوحضرت عمر رضی الله تعالی عنه دسقیفه په ورځ په انصاروباندے دغه حدیث پیش کړو اوددے نه هیچا انکار اونۀ کړلو، اوداهغه مسائلونه دے چه په هغے باندے علماؤ اجماع کړے ده، اودچاسلفو نه څه قول یافعل دهغے خلاف منقول نۀ دے نۀ ورستـودبل چاعالم نه، اونظام اوځی خوارجو داوئیلی دی چه دغیرقریشی خلافت جائز دے، اوضرار بن عمرووئیلی دی چه غیرقریشی به مقدم کوی په قریشی باندے ددے دپاره چه دهغه کوزول دضرورت پـه وخت آسان وی، خـودا دواړه قولونه لغوه اوباطل دی، اوداجماع مخالف دی.

اوداچـه نبي کـوم اوفـرمائیـلـه چه خلق تابع دی دقریشو په خیراوشرکښې نودخیرنه مراد اسلام دے اودَ شرنـه مـراد جاهلیت دے، پـه دے واسطه چه دجاهلیت په زمانه کښې هم قریش دعربو رئیس اومحافظ وو دبیت الحرم اوحج به ئے کولو، دبیت الله اودعربو نورے قبیلے دهغوئ داسلام منتـظرووو، هـرکله چه هغوئ اسلام راوړو اومکه فتح شوه نودغه وخت جوق درجوق دهرے قبیلے عرب مسلمانیدل شروع شو، دغه شان قریش په اسلام کښې دخلافت خاوندان دی اوخلق دهغـوئ تـابعدار دی، اوحضرت ﷺ فرمائیلی دی چه دقیامته پورے به دغه شان وی، تردے پورے چـه دوه سـړی پـاتے شی، اوداخبـره ربنتیـاشوله ولے چه درسول الله ﷺ دزمانے نه تراوسـه پـورے خـلافـت په قریشو کښې دے، اوڅوك دهغوئ مزاحم شـتـه اوهم په دوئ کښې به

وی، دګو مے پورے چه دوه سړی هم پاتے شی۔

قاضی عیاضؒ وئیلی دی شافعیه و ددے حدیث نه دامام شافعیؒ په فضیلت باندے استدلال کړے دے حالانکه ددے نه فضیلت نۀ دے وتلے، ولے چه ددے حدیث نه دقریشو تقدیم صرف دخلافت دپاره معلومیږی زۀ وایم چه ددے نه دقریشو فضیلت په نورو قومونو باندے ثابتیږی اوامام شافعیؒ قریش دے اوهغوئ فضیلت ثابت شو په نورو امامانو باندے چه قریشی نۀ دی انتهی ماقال النوویؒ۔

مترجم وائی چه ددے حدیث نه داهم را اووتله چه چه دخلافت ثابتیدو دپاره دتمامو خلقو مسلمانانو بیعت ضروری نۀ دے بلکه څه قدرے مسلمانان چه بیعت اوکړی پوره ده، په دے شرط چه دچا چه بیعت کولے شی هغه قریشی وی، داخلافت دریشو په معتصم بالله باندے ختم شو ورستو ددے نه څو کاله په فاطمین مصرکښے پاتے شو، بیاد هغوئ هم زمانه ختمه شوه اوسلطنت اوحکومت غیرقریشوته لاړو، اوس په روم کښے چه کوم بادشاه دے هغه ترك دے. په ایران کښے چه کوم دے هغه قاچار دی، په هند کښے مغل وو، اوس خونصری دی۔

غرض داچه اوس خو چرته دقریشو حکومت په طور دوسعت اواستقلال نه معلومیږی په مکه معظمه کښے چه چاته شریف وئیلے شی هغه سید اوقریشی دی لیکن هغوئ ته څه اختیار نشته دے، هغوئ دسلطان دفرمان تابعدار دی، په حدیث کښے چه کوم راغلی دی چه همیشه به خلافت په قریشو کښ وی داصحیح دے ځکه چه دغه بادشاهان چه قریشی نۀ دی خلافت شرعی نۀ دی البته حاکم اسلام دی۔

اوپه منطوق داطیعوالله واطیعوالرسول واولی الامر منکم اوعلیکم بالسمع والطاعة وان کان عبداً حبشیًا اوالسلطان ظل الله فی الارض وغیره ددوئ فرمانبرداری په دے شرط چه دشریعت مخالف نۀ وی واجب ده دغه شان هغه قریشی چه دهغه نه څو مسلمانانو بیعت کړے وی اګرکه دهغه جماعت لږ وی خلیفه کیدے شی، اودهغه هم اطاعت واجب دے، اودهغه په ملګرتیاکښے دکفاروسره جهاد درست دے، اوداسے خلافت په اقطاع عرب اواطراف هندوغیره کښے کیدے شی تراوسه پورے موجود وی، اوچرته چه نۀ وی دهغه ځائے مسلمانان هروخت داسے سړی لړه

چه هغه قریشی وی خلیفه جوړولے شی۔

(۴۷۰۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ اَبِیْ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعْتُهُ یَقُوْلُ اِنَّ هٰذَا الْاَمْرَ لَایَنْقَضِیْ حَتّٰی یَمْضِیَ فِیْهِمْ اثْنَا عَشَرَ خَلِیْفَةً قَالَ ثُمَّ تَکَلَّمَ بِکَلَامٍ خَفِیَ عَلَیَّ قَالَ فَقُلْتُ لِاَبِیْ مَاقَالَ کُلُّهُمْ مِنْ قُرَیْشٍ۔

ترجمه: دجابربن سمره رضی اللّٰدتعالی عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ دخپل پلار سره درسول الله ﷺ خواله لاړم، ماواؤریدل چه حضرت ﷺ فرمائیلو "داخلافت به تمام نهٔ شی ترهغے پورے چه په مسلمانانوکښے دولس خلیفه جوړنهٔ شی " بیاحضرت ﷺ غلی غوندی څه اوفرمائیل پس مادخپل پلارنه تپوس اوکړو چه حضرت ﷺ څه اوفرمائیل هغه اووے حضرت ﷺ اوفرمائیل "چه داټول خلیفه ګان به دقریشونه وی۔

(۴۷۰۶) عَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ لَایَزَالُ اَمْرُ النَّاسِ مَاضِیًا مَّاوَلِیَهُمْ اِثْنَاعَشَرَ رَجُلًاثُمَّ تَکَلَّمَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِکَلِمَةٍ خَفِیَتْ عَلَیَّ فَسَاَلْتُ اَبِیْ مَاذَاقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ کُلُّهُمْ مِنْ قُرَیْشٍ ۔ [بخاری]

ترجمه: دجابربن سمره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ماواوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو، همیشه به دخلقو کار روان وی تردے پورے چه دهغوئ حکومت کوی دولس سری، بیاحضرت ﷺ روغوندی یوه خبره اوکړه چه هغه ماوانهٔ وریده نوملادخپل پلارنه تپوس اوکړو چه څه اووے رسول الله ﷺ هغوئ اووے حضرت ﷺ اوفرمائیل داټول سری به دقریشونه وی۔

(۴۷۰۷) عَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِیْثِ وَلَمْ یَذْکُرْ لَایَزَالُ اَمْرُ النَّاسِ مَاضِیًا۔

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دتیرشوی حدیث په شان ده۔

(۴۷۰۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَایَزَالُ الْاِسْلَامُ عَزِیْزًا اِلٰی اثْنَیْ عَشَرَ خَلِیْفَةً ثُمَّ قَالَ کَلِمَةً لَمْ اَفْهَمْهَا فَقُلْتُ لِاَبِیْ مَاقَالَ فَقَالَ کُلُّهُمْ مِنْ قُرَیْشٍ۔

ترجمه: د جابر بن سمره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ماولوریدل د رسول الله ﷺ نه چه هغوئ ﷺ فرمائیلو "همیش به اسلام غالب وی د دولسو خلیفه گانو د خلافت پورے" بیا حضرت ﷺ یوه خبره اوفرمائیله چه په هغے زهٔ پو هه نهٔ شوم، ما د خپل پلار نه تپوس اوکړو څه ئے اوفرمائیل هغوئ اووے ټول به د قریشو نهٔ وی.

(۴۷۰۹) عَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَزَالُ هٰذَا الْاَمْرُ عَزِیْزًا اِلٰی اثْنَیْ عَشَرَةَ خَلِیْفَةً قَالَ ثُمَّ تَکَلَّمَ بِشَیْءٍ لَمْ اَفْهَمْهُ فَقُلْتُ لِاَبِیْ مَاقَالَ فَقَالَ کُلُّهُمْ مِّنْ قُرَیْشٍ. [ابوداود]

ترجمه: د دے حدیث ترجمه هم د پورته حدیث په شان ده.

(۴۷۱۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ انْطَلَقْتُ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَمَعِیَ اَبِیْ فَسَمِعْتُهُ یَقُوْلُ لَا یَزَالُ هٰذَا الدِّیْنُ عَزِیْزًا مَنِیْعًا اِلٰی اِثْنَیْ عَشَرَ خَلِیْفَةً فَقَالَ کَلِمَةً صَمَّنِیْهَا النَّاسُ فَقُلْتُ لِاَبِیْ مَاقَالَ قَالَ کُلُّهُمْ مِنْ قُرَیْشٍ. [راجع: ۴۷۰۹]

ترجمه: د حضرت جابر بن سمره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ د جناب رسول الله ﷺ خواله لاړمه او څماسره څماپلار هم وو، حضرت ﷺ اوفرمائیل چه دادین به همیشه غالب او مضبوط وی د دولسو خلیفه گانو د خلافته پورے بیا حضرت ﷺ څه ارشاد اوفرمائیلو، چه هغه خلقو په ماوانهٔ وریدو (یعنی د هغوئ خبروزهٔ اوریدو ته پرے نه خودم کونړے کړم د هغے داوریدو نه) ما د خپل پلار نه تپوس اوکړو؟ حضرت ﷺ څه اوفرمائیل هغوئ اووے حضرت ﷺ اوفرمائیل ټول به د قریشو نهٔ وی.

فائده: قاضی عیاض وائی دلته دوه اشکاله دی، یو خو دا چه په بل حدیث کښے راغلی دی چه خلافت به څمانه پس د دیرشو کالو پورے دے، او په دریشو کالو کښے خو صرف پنځه خلیفه شوی دی دامام حسن رضی الله عنه سره، د هغے جواب دادے چه په دے حدیث کښے خلافت نبوت مراد دے او د دولسو خلیفه گانو نه خلافت عام مراد دے.

دویم دا چه د دولسو خلیفه گانو نه زیات تیر شوی دی د دے جواب دادے چه په دے حدیث کښے د دولسو حصر نشته دے چه سیوا د دوئ نه به نور خلیفه گان نهٔ وی، بلکه داده چه دولس

خلیفه ګان به وی نوزیاتیدل ئے څه خلاف نهٔ دی. (نوویؒ)

(۴۷۱۱) عَنْ عَامِرِ ابْنِ سَعْدِ ابْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کَتَبْتُ اِلٰی جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ مَعَ غُلَامِیْ نَافِعٍ اَنْ اَخْبِرْنِیْ بِشَیْءٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَکَتَبَ اِلَیَّ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ عَشِیَّةَ رُجِمَ الْاَسْلَمِیُّ فَقَالَ لَایَزَالُ الدِّیْنُ قَائِمًا حَتّٰی تَقُوْمَ السَّاعَةُ اَوْیَکُوْنَ عَلَیْکُمْ اثْنَاعَشَرَ خَلِیْفَةً کُلُّهُمْ مِّنْ قُرَیْشٍ وَسَمِعْتُهُ یَقُوْلُ عُصَیْبَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ یَفْتَحُوْنَ الْبَیْتَ الْاَبْیَضَ بَیْتَ کِسْرٰی اَوْاٰلِ کِسْرٰی وَسَمِعْتُهُ یَقُوْلُ اِنَّ بَیْنَ یَدَیِ السَّاعَةِ کَذَّابِیْنَ فَاحْذَرُوْهُمْ وَسَمِعْتُهُ یَقُوْلُ اِذَآاَعْطَی اللّٰهُ تَعَالٰی اَحَدَکُمْ خَیْرًا فَلْیَبْدَأْ بِنَفْسِهٖ وَاَهْلِ بَیْتِهٖ وَسَمِعْتُهُ یَقُوْلُ اَنَا الْفَرَطُ عَلَی الْحَوْضِ. [انظر فی مسلم :۶۰۰۳]

ترجمه: دعامر بن سعد ابن ابی وقاص رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ماجابر بن سمره رضی الله تعالی عنه ته اولیکل اودنافع غلام په لاس می اولیکل چه ماته بیان کړئ څه چه تاسو اوریدلی وی درسول الله ﷺ نه هغوئ په جواب کښ اولیکل، مااوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو "دجمعے په ورځ مابنام په کومه ورځ چه ماعزاسلمی سنګسار کړے شو. (اودهغوئ قصه په کتاب الحدود کښے تیره شوے ده) دا دین به همیشه قائم وی تردے پورے چه قیامت به قائم شی یابه پتاسوباندے دولس خلیفه ګان وی اوهغه ټول به قریشی وی، (کیدے شی داواقعه هم قیامت ته نزدے وی چه دولس خلیفه ګان په دولسوتکړو باندے دمسلمانانو وی په یووخت کښے) او اوریدلی دی ماچه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه یووړوکے شان جماعت دمسلمانانوبه دکسری سپین محل فتح کړی، (دامجعزه وه دحضرت ﷺ چه هم دغسے اوشوه دحضرت عمرؓ په زمانه کښے) اومااوریدلی دی حضرت ﷺ اوفرمائیل چه قیامت ته نزدے به دروغژن پیداشی دهغوئ نه ځان اوساته، اومااوریدلی دی حضرت ﷺ اوفرمائیل هرکله چه په تاسو کښے الله تعالی چاته دولت ورکړی، نومخکښې به ئے په خپل ځان اوپه خپل کور والاؤباندے خرچ کوی، (هغوئ به په ارام سره ساتی بیابه فقیرانوته ورکوی) اومااوریدل چه حضرت ﷺ فرمائیلو "زه به تاسوته په کوثرباندے ولاړیم (یعنی ستاسوداوبو ښنبلو دپاره به هلته بندوبست کوم اوستاسودراتلوبه منتظریم".

(۴۷۱۲) عَنْ عَامِرِ ابْنِ سَعْدٍ اَنَّهٗ اَرْسَلَ اِلَى ابْنِ سَمُرَةَ الْعَدَوِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ حَدِّثْنَا مَا سَمِعْتَ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيْثِ حَاتِمٍ. [راجع: ۴۷۱۱]

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته تیرشوی حدیث په شان ده.

بَابُ الْاِسْتِخْلَافِ وَتَرْكِهٖ

دخلیفه جوړولو اونه جوړولو بیان

(۴۷۱۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ حَضَرْتُ اَبِيْ حِيْنَ اُصِيْبَ فَاَثْنَوْا عَلَيْهِ وَقَالُوْا جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا فَقَالَ رَاغِبٌ وَّرَاهِبٌ قَالُوْا اسْتَخْلِفْ قَالَ اَتَحَمَّلُ اَمْرَكُمْ حَيًّا وَّمَيِّتًا لَوَدِدْتُ اَنَّ حَظِّيْ مِنْهَا الْكَفَافُ لَا عَلَيَّ وَلَا لِيْ فَاِنْ اَسْتَخْلِفْ فَقَدِ اسْتَخْلَفَ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِّنِّيْ يَعْنِيْ اَبَابَكْرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَاِنْ اَتْرُكْكُمْ فَقَدْ تَرَكَكُمْ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِّنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَعَرَفْتُ اَنَّهٗ حِيْنَ ذَكَرَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ مُسْتَخْلِفٍ. [راجع: ۴۷۱۸]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه ځماپلار (عمرابن الخطاب رضی الله تعالی عنه) هرکله چه زخمی شو نوزۀ دهغه په خواه کښے موجود وم، خلقو دهغوئ تعریف اوکړو، اواوئے وئیل الله تعالیٰ دی تاسوته دَ نیکه بدله درکړی هغوئ اووے خلق په دوه قسمه دی ځنے خوزمانه دخه حاصلولو امید وار دی اوځنے ویرېږی ځمانه، یازۀ امید واریم دالله تعالی درحمت اوویرېږم دهغه دعذاب نه، خلقواووے ،تاسو خلیفه کړئ چالره، هغوئ اووے زۀ ستاسو کارکوم په ژوند کښے هم اودمرګ نه پس هم، زۀ غواړم چه دخلافت نه دی دومره ماته میلاؤشی چه نه مالره څه وبال وی اونه مالره څه ثواب وی، (یعنی حکومت اوخلافت داسے خوفناك څیزدے چه ددے نه انسان صفالاړشی اوڅه وبال په خپل سرباندے یونۀ شی نو هم ډیره ده (اجراوثواب خوزیات مشکل دے هرکله چه حضرت عمرؓ ته سره ددومره عدل اوانصاف اواتباع شریعت دومره ترود وو) نودنورو حاکمانو به څه حال وی) اوکچرے زۀ خلیفه کړم چالره اولاړشم نو هم کیدے شی ولے چه خلیفه کړے وو مالره هغه چاچه زمانه غوره

وو (یعنی حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه) اوکه زۀ چالره خلیفه نۀ کرم اولاړشم نو هم کیدےشی ولے چه خلیفه نۀ وو جوړکړے چالره هغه چاچه ځمانه غوره وو، یعنی رسول الله ﷺ. عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه وائی هرکله چه هغوی درسول الله ﷺ ذکراوکړو نو ځمایقین راغے چه هغویٔ چالره نۀ خلیفه کوی.

فائده: نووی وائی مسلمانانو اجماع کړے ده، چه دخلیفه چه هرکله دوفات کیدوحالات شروع شی نو هغه له درست دی چه بل چالره خلیفه کړی اوکه چالره خلیفه نه کړی نو هم درست دی بلکه دمسلمانانو په رائے باندے ئے پریږدی لکه څنګه چه رسول الله ﷺ چالره نۀ ووخلیفه کړے، پس کچرے چالره خلیفه کړی څوك نودحضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه پیروی اوکړه، اواجماع ده چه په خلیفه مقرر کولو سره خلافت صحیح کیږی اوکوم خلق چه صاحب رائے وی دهغوی په اتفاق سره هم صحیح کیدےشی اواجماع ده چه خلافت په یوتهولی باندے پریخودل درست دی دمسلمانانو په مشوره باندے، لکه څنګه چه حضرت عمرؓ دشپږو سړوخلافت وصیت اوکړو، اواجماع ده چه په مسلمانانوباندے دیو خلیفه مقررول واجب دی، ځکه خوصحاب کرامو داکار دحضرت ﷺ په تکفین اوتجهیز باندے مقدم کړو.

اودے حدیث نه داثابته شوه چه رسول الله ﷺ صراحةً چالره خلیفه کړے نۀ دے اوپه دے باندے داهل سنتواجماع ده قاضی عیاضؒ وئیلی دی په دے کښ صرف بکربن عبدالواحد خلافت کړے دے چه وائی رسول الله ﷺ نص کړے وو دابوبکر رضی الله عنه په خلافت باندے. اوابن راوندی وائی چه دعباسؓ په خلافت باندے ئے نص کړے وو، شیعه اورافضیه وائی چه دحضرت علیؓ دخلافت دپاره حضرت نص کړے وو. اوداټول دعاوی باطله دی، ولے کچرے داسے وے نو صحابهؓ به دخلافت په باره کښے دحضرت ﷺ خلاف نۀ وو کړے، اودابوبکرؓ خلافت به ئے نۀ اختیاره وو اوبیابه ئے دهغویؓ په وینا سره حضرت عمرؓ نۀ خلیفه کوۀ، بیادحضرت عمرؓ رائے چه په شپږوسړوکښے دیودپاره وو په هغے به ئے عمل نۀ کوۀ، اوهیچاهم په دغه موقعوکښے خلاف نۀ دے کړے، نۀ حضرت علیؓ اوعباسؓ اوحضرت ابوبکر صدیقؓ

دحضرت ﷺ دوصیت دعوه کړے ده پس چه څوك دادعوه کوی چه حضرت ﷺ په دوی
کښے دیو دپاره دخلافت وصیت کړے وو، هغه تمام امت محمدی لره دخطاپه طرف منسوب
کوی، اودا چایو اهل قبلے لره جائزنهٔ دی، چه صحابه ؓ ته په باطله باندے داتفاق کولو نسبت
اوکړی۔ انتهی

(۴۷۱۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى حَفْصَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَقَالَتْ اَعَلِمْتَ اَنَّ اَبَاكَ غَيْرُ مُسْتَخْلِفٍ قَالَ قُلْتُ مَا كَانَ لِيَفْعَلَ قَالَتْ اِنَّهُ فَاعِلٌ قَالَ فَحَلَفْتُ اَنِّيْ اُكَلِّمُهُ فِيْ ذٰلِكَ فَسَكَتُّ حَتّٰى غَدَوْتُ وَلَمْ اُكَلِّمْهُ قَالَ فَكُنْتُ كَاَنَّمَا اَحْمِلُ بِيَمِيْنِيْ جَبَلًا حَتّٰى رَجَعْتُ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ فَسَاَلَنِيْ عَنْ حَالِ النَّاسِ وَاَنَا اُخْبِرُهُ قَالَ ثُمَّ قُلْتُ لَهٗ اِنِّيْ سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُوْلُوْنَ مَقَالَةً فَاٰلَيْتُ اَنْ اَقُوْلَهَا لَكَ زَعَمُوْا اَنَّكَ غَيْرُ مُسْتَخْلِفٍ وَاَنَّهٗ لَوْ كَانَ لَكَ رَاعِيْ اِبِلٍ اَوْ رَاعِيْ غَنَمٍ ثُمَّ جَآءَكَ وَتَرَكَهَا رَاَيْتَ اَنْ قَدْ ضَيَّعَ فَرِعَايَةُ النَّاسِ اَشَدُّ قَالَ فَوَافَقَهٗ قَوْلِيْ فَوَضَعَ رَاْسَهٗ سَاعَةً ثُمَّ رَفَعَهٗ اِلَيَّ فَقَالَ اِنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ يَحْفَظُ دِيْنَهٗ وَاِنِّيْ لَئِنْ لَّا اَسْتَخْلِفْ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسْتَخْلِفْ وَاِنْ اَسْتَخْلِفْ فَاِنَّ اَبَابَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَدِ اسْتَخْلَفَ قَالَ فَوَاللّٰهِ مَاهُوَ اِلَّا اَنْ ذَكَرَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبَابَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَعَلِمْتُ اَنَّهٗ لَمْ يَكُنْ لِيَعْدِلَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَدًا وَاَنَّهٗ غَيْرُ مُسْتَخْلِفٍ. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه زهٔ دام المؤمنین حفصے رضی الله عنها خواله لاړم، هغوئ اووے ایا تاته معلومه ده چه ستاپلار هیچاله نهٔ خلیفه کوی، ما اووے داسے نهٔ شی کولے هغوئ اووے هغهٔ داسے کوی، ماقسم اوخوړو چه زهٔ به هغوئ ته ددے خبرے ذکر اوکړم بیا چپ پاتے شو، په دوئمه ورځ سحر هم ماهغوئ ته اونهٔ وے لیکن څماحال داسے وو لکه چه چاغرپه لاسو کښے اخستے وی (دقسم بوجه وو) آخرزهٔ واپس شوم اودهغوئ خواله لاړم هغوئ څمانه دخلقو دحال تپوس اوکړو اوماورته بیان کړلو بیاماواوے چه ماد خلقونه یوه خبره واوریده نوقسم می اوخوړو چه تاته به ضرور دهغے ذکرکوم، هغوئ وائی چه تاسو چالره خلیفه کوئ نهٔ، اوکچرے ستاسو څوك داوښانو یادبزو څرونکے وی او هغه هغه اوښان یابزے پریږدی اوستاخواله راشی نوتهٔ به دا اوګڼرے چه هغه څناور برباد شول په دے

صورت کښې دخلقو خیال ډیرضروری دے، زمایه دے ویناسره دهغویؓ خیال راغلے اودیوے گھنټے پورے هغویؓ سرخته کړے وو(فکرئے کولو) بیائے سراوچت کړو اوائے وئیل، چه الله جل شانه به دخپل دین حفاظت کوی، اوکچرے زهٔ خلیفه مقررنهٔ کړم نورسول الله ﷺ هیچاله خلیفه کړے نهٔ وو اوکچرے خلیفه مقررکړم نو حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه خلیفه مقررکړے دے عبدالله بن عمرؓ وائی بیاقسم په الله تعالی هرکله چه هغویؓ درسول الله ﷺ اودحضرت ابوبکر صدیقؓ ذکر اوکړو نوزهٔ پوهه شوم چه هغه درسول الله ﷺ برابر هیچاله نهٔ کونکے اوهغه خلیفه نهٔ جوړونکے دے۔

فائده: یعنی درسول الله ﷺ پیروی دابوبکر صدیقؓ دپیروئ نه مقدم ده، اگرچه دابوبکرؓ فعل هم دشرع خلاف نهٔ وو، خودمؤمن دغه کار دے چه درسول الله ﷺ عاشق به وی، اوهرکله چه دحضرت قول یافعل په صحت سره اورسی بیادهغے په خلاف کښې دبل یواصحابیؓ یاامام یامجتهد یاپیریاولی یابادشاه یاحاکم دقول اوفعل څه پرواه نهٔ کوی، اودخپل پیغمبر ﷺ په طریقه باندے چلیږی، یاالله جل جلاله مونږه عاشقان اوپیروکار کړه دخپل عزتمند حبیب رسول الله ﷺ۔

بَابُ النَّهْيِ عَنْ طَلَبِ الْاَمَارَةِ وَالْحِرْصِ عَلَيْهَا

دامارت درخواست کول اوحرص کول منع دی۔

(۴۷۱۵) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ سَمُرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاعَبْدَالرَّحْمٰنِ لَاتَسْئَلِ الْاَمَارَةَ فَاِنَّکَ اِنْ اُعْطِيْتَهَا عَنْ مَسْئَلَةٍ وُّکِلْتَ اِلَيْهَا وَاِنْ اُعْطِيْتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْئَلَةٍ اُعِنْتَ عَلَيْهَا. [راجع: ۴۲۸۱]

ترجمه: دعبدالرحمن بن سمرةؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل اے عبدالرحمنؓ! دعهدے اوحکومت درخواست مهٔ کوه، ولے چه کچرے په درخواست ترے میلاؤشی نوالله جل جلاله به تاله پریږدی اوکچرے بغیردسوال نه درته میلاؤ شی نوالله تعالی به ستامدد کوی۔

(۴۷۱۶) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ سَمُرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِیْثِ جَرِیْرٍ. [راجع: ۴۷۱۵]

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۱۷) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ دَخَلْتُ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَا وَرَجُلَانِ مِنْ بَنِیْ عَمِّیْ فَقَالَ اَحَدُ الرَّجُلَیْنِ یَارَسُوْلَ اللهِ اَمِّرْنَا عَلٰی بَعْضِ مَاوَلَّاکَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ وَقَالَ الْاٰخَرُ مِثْلَ ذٰلِکَ فَقَالَ اِنَّا وَاللهِ لَانُوَلِّیْ عَلٰی هٰذَا الْعَمَلِ اَحَدًا سَاَلَهٗ وَلَآ اَحَدًا حَرَصَ عَلَیْهِ. [راجع: ۴۷۱۹]

ترجمه: دابو موسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ درسول الله ﷺ خواله لاړم، او ځماسره ځما دوه دتره ځامن وو، په هغوی کښے یو اووے یارسول ﷺ! مونږ ته حکومت راکړه دیو ملك دهغه ملکونو نه کوم چه الله تعالی تاسو ته درکړی دی او هغه بل هم دغه شان اووے، پس حضرت ﷺ اوفرمائیل قسم په الله تعالی چه مونږ نهٔ ورکوؤ خدمت هغه سړی ته چه هغه دهغے درخواست اوکړی او چه دهغے حرص اوکړی۔

(۴۷۱۸) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَقْبَلْتُ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَمَعِیَ رَجُلَانِ مِنَ الْاَشْعَرِیِّیْنَ اَحَدُهُمَا عَنْ یَمِیْنِیْ وَالْاٰخَرُ عَنْ یَسَارِیْ فَکِلَاهُمَا سَاَلَ الْعَمَلَ وَالنَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَسْتَاکُ فَقَالَ مَاتَقُوْلُ یَااَبَامُوْسٰی اَوْیَاعَبْدَاللهِ ابْنَ قَیْسٍ قَالَ فَقُلْتُ وَالَّذِیْ بَعَثَکَ بِالْحَقِّ مَآاَطْلَعَانِیْ عَلٰی مَافِیْ اَنْفُسِهِمَا وَمَاشَعَرْتُ اَنَّهُمَایَطْلُبَانِ الْعَمَلَ قَالَ وَکَاَنِّیْ اَنْظُرُاِلٰی سِوَاکِهٖ تَحْتَ شَفَتِهٖ وَقَدْ قَلَصَتْ فَقَالَ لَنْ اَوْلَانَسْتَعْمِلُ عَلٰی عَمَلِنَا مَنْ اَرَادَهٗ وَلٰکِنِ اذْهَبْ اَنْتَ یَااَبَامُوْسٰی اَوْیَاعَبْدَاللهِ ابْنَ قَیْسٍ فَبَعَثَهٗ عَلَی الْیَمَنِ ثُمَّ اَتْبَعَهٗ مُعَاذَ ابْنَ جَبَلٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَلَمَّا قَدِمَ عَلَیْهِ قَالَ اَنْزِلْ وَاَلْقٰی لَهٗ وِسَادَةً وَاِذَارَجُلٌ عِنْدَهٗ مُوْثَقٌ قَالَ مَاهٰذَا کَانَ یَهُوْدِیًّا فَاَسْلَمَ ثُمَّ رَاجَعَ دِیْنَهٗ دِیْنَ السُّوْءِ فَتَهَوَّدَ قَالَ لَآاَجْلِسُ حَتّٰی یُقْتَلَ قَضَآءُ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِجْلِسْ نَعَمْ قَالَ لَآاَجْلِسُ حَتّٰی یُقْتَلَ قَضَآءُ اللهِ وَرَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَاَمَرَبِهٖ فَقُتِلَ ثُمَّ تَذَاکَرَالْقِیَامَ مِنَ اللَّیْلِ فَقَالَ اَحَدُهُمَامُعَاذٌ اَمَّااَنَا فَاَنَامُ وَاَقُوْمُ وَاَرْجُوْا فِیْ نَوْمَتِیْ مَااَرْجُوْا فِیْ قَوْمَتِیْ. [بخاری، ابوداود، نسائی]

ترجمه: دابو موسیؓ نه روایت دے چه زهٔ درسول الله ﷺ خواله راغلمه او ځماسره دوه سړی وو

یو بنی طرفته او بل کس طرفته دوارو حضرت ﷺ ته دکار درخواست اوکړو او حضرت ﷺ مسواك كولو . حضرت ﷺ اوفرمائیل اے ابو موسی ؓ یاعبدالله بن قیس (دادابو موسی نوم دے) تاسو څه وایئ؟ ماا‌ووے یارسول الله ﷺ قسم دے په هغه ذات چا چه تهٔ په حقه سره پیغمبر ﷺ رالیګلے نے چه دوئ دخپل زړهٔ خبره ماته نهٔ وه کړے، اوماته معلومه نهٔ وه چه ددے کار (یعنی دخدمت دعهدے) درخواست به کوی، لکه چه زهٔ دحضرت ﷺ مسواك لره وینم چه هغه نے دلاندے شونډے په خواکښے اودرولے وو، حضرت ﷺ اوفرمائیل مونږ هغوئ ته کار چرے هم نهٔ ورکوو څوك چه دکاردرخواست اوکړی، لیکن ته لاړشه اے ابو موسی یاعبدالله ابن قیس ؓ بیائے هغوئ لره دیمن دصوبے عامل جوړکړو اوائے لیږلو وروستو دهغه نه ئے معاذ بن جبل ؓ اولیږلو(ددے دپاره چه هغه دابوموسی ؓ سره ملګرے وی) هرکله چه معاذ هلته اورسیدونو حضرت ابو موسی ؓ ورته اووے کوزشه، اویو ګدئ ئے دهغه دپاره خوره کړله، اتفاقا هلته یو سړے په قید کښے بندکړے شوے وو معاذ ؓ اووے داڅه دی ؟ ابو موسی ؓ اووے دایو یهودی وو مسلمان شوے وو اوبیاکمبخت یهودی شولو اوخپل خراب دین ئے اختیارکړلو، معاذ ؓ اووے زهٔ نهٔ کینم ترهغے پورے چه دالله جل جلاله اودهغه درسول ﷺ دحکم موافق دے قتل شوے نهٔ وی، بیاابوموسی ؓ حکم اوکړو اوهغه قتل کړلے شو، وروستوددے نه دوارو دشپ بیداریٔ ذکر لوکړو معاذ ؓ اووے زهٔ خواوده کیږم هم اوعبادت هم کوم دشپے، اوزماامید دے چه په خوب سره به هم ماته هغه ثواب میلاویږی کوم چه په عبادت سره میلاویږی.

فائده : دایوه داسے مزیداره قاعده ده، چه کچرے په دے باندے دزمانے حاکمان عمل اوکړی. نودزرګونو خرابونه به محفوظ پاتے شی، اکثردکار اوخدمت هغه خلقو درخواست کوی چه هغوئ ته آخری انجام بلکل څه ویره نهٔ وی، اورشوتونه اخستل اودالله جل جلاله مخلوق تنګول دهغوئ کار وی پس دداسے خلقوسزا داده چه هغوئ ته دی څه کارنه شی و کیدے.

نووی ؒ وائی دمرتد په قتل باندے اجماع ده لیکن اختلاف دے چه دهغه نه توبه اخستل واجب دی یامستحب دی، دمالك اوشافعی اواحمد رحمهم الله په نزد به پرے توبه کوی، اوابن قصار په دے باندے اجماع داصحابو نقل کړے ده، اودطاؤس ؒ اوحسن ؒ اوماجشون ؒ

مالکی اوابویوسف" اواهل ظاهرو په نزد به پرے توبه کوی، نهٔ، اوکچرے هغه توبه اوباسی نو په نزد دالله جل جلاله به فائده وی خو په دنیاکښے به هغه دقتل نه نهٔ شی بچ کیدے۔

اوعطاء وائی کچرے هغه مسلمان پیداوی نو دهغه نه به توبه نهٔ طلب کوی، اوکافر مسلمان شو اوبیامرتد شونوتوبه پرے اوباسی، دشافعی" اودهغه دملګرو په نزد پرے توبه کول واجب دی، اوفورا توبه کول پکار دی اوپه یوروایت کښے به درے ورځے مهلت ورکوی، اودغه قول دے دمالک" اوابو حنیفة" اواحمد" اواسحق"، اوحضرت علی رضی الله عنه نه دیوے میاشتے مهلت منقول دے، اوکچرے ښځه هم مرتده شی نو دهغے هم حکم دجمهورو په نزد په شان دسری دے، یعنی هغه به هم قتلولے شی، اودکومے پورے چه ئے توبه کړے نهٔ وی هغے له وینځه جوړول درست نهٔ دی ،اودابو حنیفة" په نزد به ښځه قید کولے شی اودحسن" اوقتاده په نزد به هغے له وینځه جوړولے شی۔ انتهی

بَابُ كَرَاهِيَةِ الْاِمَارَةِ بِغَيْرِضَرُوْرَةٍ

بے ضرورته حاکم جوړول ښه نهٔ دی

(۴۷۱۹) عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَاتَسْتَعْمِلُنِیْ قَالَ فَضَرَبَ بِيَدِهٖ عَلٰی مَنْكِبِیْ ثُمَّ قَالَ يَآاَبَاذَرٍّ اِنَّكَ ضَعِيْفٌ وَّاِنَّهَآ اَمَانَةٌ وَّاِنَّهَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ خِزْیٌ وَّنَدَامَةٌ اِلَّامَنْ اَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَاَدَّالَّذِیْ عَلَيْهِ فِيْهَا.

ترجمه: دابوذر رضی اللهعنه نه روایت دے وائی چه ماعرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ تاسو ماته خدمت نهٔ راکوئ حضرت ﷺ په خپل لاس مبارك باندے څماګه اووهله، اوئے فرمائیل اے ابوذرة" ته ناتوان ئے اودا امانت دے (یعنی دبندیګانو حقوق اودالله جل جلاله حقوق تول حاکم له اداکول دی) اودقیامت په ورځ دخدمت نه سوا درسوایئ نه اوشرمندګئ نه نورڅه نهٔ حاصلیږی، مګرخوك چه ددے حق اداکړی، اودراستئ نه کار واخلی۔

فائده: امام نووی" وئیلی دی ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه حتی المقدور دحکومت نه پرهیزکول پکار دی اوچانه چه نهٔ شی کیدے هغه له ئے قبلول نهٔ دی پکار، البته خوك چه ئے وکلے شی اویقین ئے وی دانصاف اودمعدلت هغه دی ئے قبلو کړی، بیاکچرے

انصاف کوی اودتولو حق اداکوی، نو دهغې ثواب هم لوئې دے. (افسوس چه دنن زمانے علماء طبقه په کوم شکل په امارت اوحکومت پسے منډے وهی۔ مترجم)

(۴۷۲۰) عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ یَااَبَاذَرٍّ اِنِّیْ اَرَاکَ ضَعِیْفًا وَاِنِّیْ اُحِبُّ لَکَ مَا اُحِبُّ لِنَفْسِیْ لَاتَاَمَّرَنَّ عَلٰی اثْنَیْنِ وَلَاتَوَلَّیَنَّ مَالَ یَتِیْمٍ. [ابوداود]

ترجمه: دابوذرؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل، اے ابوذرؓ زهٔ تالره کمزورے وینم، اوزهٔ ستاد پاره هغه څه غوره کوم کوم چه دخپل ځان دپاره غوره کوم، حکم مهٔ کوه د دوه سړو په مینځ کښے، اومه بندوبست کوه دیتیم دمال (ولے چه احتمال دے چه دیتیم مال به بے ځایه اولگی یابه ئے په خپل ضرورت کښے اولگوے اوپه مواخذه کښے به ئے تهٔ گرفتار شے.

بَابُ فَضِیْلَةِ الْاِمَامِ الْعَادِلِ وَعُقُوْبَتِ الْجَآئِرِوَالْحَثِّ بِالرِّفْقِ بِالرَّعِیَّةِ وَالنَّهْیِ عَنْ اِدْخَالِ الْمُشَقَّةِ عَلَیْهِمْ

دحاکم عادل فضیلت اودحاکم ظالم بدوالی

(۴۷۲۱) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الْمُقْسِطِیْنَ عِنْدَاللّٰهِ عَلٰی مَنَابِرَ مِنْ نُوْرٍ عَنْ یَمِیْنِ الرَّحْمٰنِ عَزَّوَجَلَّ وَکِلْتَا یَدَیْهِ یَمِیْنٌ اَلَّذِیْنَ یَعْدِلُوْنَ فِیْ حُکْمِهِمْ وَاَهْلِیْهِمْ وَمَاوَلُوْا. [نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمروؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم خلق چه انصاف کوی هغه به دالله جل جلاله په خواکښے ښی طرفته په منبرونوباندے وی، او دَ الله جل جلاله دواړه طرفونه ښی دی (یعنے په کس لاس کښے دښی نه طاقت کم وی داخبره په الله تعالی کښے نشته ولے چه هغه جل جلاله دهرعیب نه پاك دے.) اودا انصاف کولو والا هغه خلق دی چه دحکم کولو په وخت انصاف کوی. اوپه خپل بال بچ اوعزیزانو کښے انصاف کوی، اوکوم کار چه هغوئ ته ورکړے شی په هغے کښې انصاف کوی.

فائده: یعنی انصاف څه په دے باندے منحصر نهٔ دے چه دبنده دی چرته حاکم یاقاضی وی بلکه په خپلو بچو اوبیبیانو اوخاندان والاؤ کښے هم انصاف کول پکار دی اودهریو حقوق

دشریعت موافق اداکول پکار دی، نووی وئیلی دی داحدیث دصفاتو داحادیثونه دے اوددے بیان پورته تیرشولو اودعلماؤ اختلاف په داسے حدیثونو کښے بیان شولو، څنوداوئیلی دی چه مونږ په دغه صفاتو باندے ایمان راوړے دے اودهغے دتاویل دپاره خبرے نهٔ کوو، اوددے په معنی مونږ نهٔ پوهیږو، لیکن مونږ دااعتقاد لرو چه ددے دغه ظاهری معنی مراد نهٔ ده، بلکه ددے معنی داسے ده چه دالله جل جلاله دشان لائقه ده، اودغه مذهب دے دجمهور سلفو اودمتکلمینو دیوتولی اودویم قول دادے چه دهغے تاویل دی اوکړے شی اواکثرمتکلمین په دے طرف دی اوپه دغه بناباندے قاضی عیاض وئیلی دی چه مراد دهغه خلقودښی طرف کیدو نه په ښه حالت اواوچتے درجے باندے دے۔

اوابن عرفه وئیلی دی چه عرب خلق وائی هغه دښی طرفنه راغے کله چه دښه طرفنه راشی، اوعرب ښه کار اواحسان لره ښی طرفته منسوب کوی، اوبدلره ګس طرفته، اویمین ماخوذدے دیمن نه چه معنی ئے برکت اوخوبی ده، اوداچه کوم حضرت ﷺ اوفرمائیل چه دواړه لاسونه دالله جل جلاله ښیٔ دی، ددے نه مقصود تنبیه ده، په دے امرباندے چه دیمین نه مراد اندام نهٔ دے، ولے چه هغه دالله جل جلاله په حق کښے محال دے۔ انتهی ماقال النووی

مترجم وائی دسلفوصالحینو مذهب دادے، چه دالله تعالی چه کوم صفات په قران اوحدیث کښے مذکوردی، هغه تول په خپله ظاهری معنی باندے محمول دی، اوپه هغوئ کښے تاویل یاتحریف جائز نهٔ دے، اودپروردګار لاسونه داسے دی، لکه څنګه چه دهغه ذات مبارك دے، اودلاس نه دنعمت اوقدرت تاویل کول دمعتزله اوقدریه و مذهب دے خذلهم الله تعالی په دے صورت کښے دنووی داقول دے چه ددے ظاهرے معنے مراد نهٔ ده محمول دے ظاهریه متعارف باندے، یعنی دالله تعالی لاس زمونږ دلاس په شان نهٔ دے، اوداصحیح دے بلاشبه لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ لکه دهغه ذات معظم زمونږ دذات په شان نهٔ دے، ولے چه دهغه سره یوشان هیڅ هم نشته دے۔ فقط

(۴۷۲۲) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ شَمَاسَةَ قَالَ اَتَيْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَسْئَلُهَا عَنْ شَيْءٍ فَقَالَتْ مِمَّنْ اَنْتَ فَقُلْتُ رَجُلٌ مِنْ اَهْلِ مِصْرَ فَقَالَتْ كَيْفَ كَانَ صَاحِبُكُمْ لَكُمْ فِيْ غَزَاتِكُمْ هٰذِهٖ قَالَ

مانقِمْنا علَيْهِ شَيْئًا اِنْ كَانَ لَيَمُوْتُ لِلرَّجُلِ مِنَّا الْبَعِيْرُ فَيُعْطِيْهِ الْبَعِيْرَ الْعَبْدُ فَيُعْطِيْهِ الْعَبْدَ وَيَحْتَاجُ اِلَى النَّفَقَةِ فَيُعْطِيْهِ النَّفَقَةَ فَقَالَتْ اَمَااِنَّهُ لَايَمْنَعُنِيْ الَّذِيْ فُعِلَ فِيْ مُحَمَّدِابْنِ اَبِيْ بَكْرٍ اَخِيْ اَنْ اُخْبِرَكَ مَاسَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ بَيْتِيْ هٰذَا اللّٰهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ اَمْرِاُمَّتِيْ شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِ وَمَنْ وَلِيَ مِنْ اَمْرِاُمَّتِيْ شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهٖ.

ترجمه: دعبدالرحمن بن شماسه نه روايت دے وائي چه زهٔ دام المؤمنين حضرت عائشے رضى الله تعالى عنها خوا له لاړم دخه تپوسونو دپاره، هغوئ تپوس اوکړوتهٔ دکوم خلقونه ئے؟ مااووے دمصروالاؤنه، هغوئ اووے ستاسودحاکم څه حال وو په هغه جنګ (یعنی دمحمد بن ابی بکر چه هغه لره حضرت علی مرتضی دمصرحاکم کړے وو اوقیس بن سعد ئے معزول کړو) مااووے، دهغوئ خوڅه خبره مونږ بده نهٔ ده لیدلے، په مونږ کښے چه دچااوښ مړشی هغه له اوښ ورکوی، اوکه غلام مړشی نوغلام ورکوی، اوکه دخرچ حاجت راشی نوخرچ وروکوی، حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها اووے، دمحمد بن ابی بکر څمادرور چه کوم حال اوشو (چه اوئے وژلو اولاش ئے ورله په مرداروکښے اوغورځولو اوبیائے اوسیزلو) داماد هغه امر دبیانولونه نهٔ شی منع کولے څه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زماپه دے کوټهړئ کښے یاالله جل جلاله څوك چه څمادامت حاکم وی بیاهغه په هغوئ باندے سختی کوی نوته هم په هغوئ باندے سختی اوکړه، اوڅوك چه زمادامت حاکم وی اوهغه دهغوئ سره نرمی کوی نوتهٔ هم دهغوئ سره نرمی اوکړه.

(۴۷۲۳) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۲۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ اَلَاكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ فَالْاَمِيْرُالَّذِيْ عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَّهُوَمَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلٰى اَهْلِ بَيْتِهٖ وَهُوَمَسْئُوْلٌ عَنْهُمْ وَالْمَرْاَةُ رَاعِيَةٌ عَلٰى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهٖ وَهُوَمَسْئُوْلَةٌ عَنْهُمْ وَالْعَبْدُرَاعٍ عَلٰى مَالِ سَيِّدِهٖ وَهُوَمَسْئُوْلٌ عَنْهُ اَلَافَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ. [ترمذی]

ترجمه: دعبدالله بن عمرو رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل

ستاسو نه هرسړے حاکم دے، او د هر یو نه به د هغه د رعیت تپوس کیږی، (د حاکم نه مراد منتظم او د کارنګران او محافظ دے) بیا خو ك چه بادشاه دے هغه د خلقو حاکم دے او د هغه نه به د هغه د رعیت سوال کیږی، (چه ده د خپل رعیت حق ادا کړے او د خپل جان او مال حفاظت ئے کړے دے یا نه) او سړے حاکم دے د خپل کور والاؤ دده نه به سوال کیږی د هغوئ ، او ښځه حاکم دے د خپل خاوند د کور او د بچو دده نه به د هغوئ سوال کیږی، او غلام د خپل مالك د مال حاکم دے دده نه به د هغے سوال کیږی، غرض دا دے چه ستاسو نه هر یو سړے حاکم دے، او ستاسو نه به د هر یو نه سوال کیږی د هغه د رعیت۔

فائده: تردے پورے چه کوم سړے مجرد دے هغه حاکم دے د خپلو نوکرانو او غلامانو او دوینځو که چرے مالداروی، او خوك چه غریب دے هغه حاکم دے د خپل نفس او خپلو اندامونو۔

(۴۷۲۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا بِهٰذَا مِثْلَ حَدِيْثِ اللَّيْثِ عَنْ نَّافِعٍ.

ترجمه: ددے ترجمه د پورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۲۶) عَنْ سَالِمِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَزَادَ فِيْ حَدِيْثِ الزُّهْرِيِّ قَالَ وَحَسِبْتُ اَنَّهٗ قَدْ قَالَ الرَّجُلُ رَاعٍ فِيْ مَالِ اَبِيْهِ وَمَسْئُوْلٌ عَنْ رَّعِيَّتِهٖ. [بخاری]

ترجمه: ددے حدیث ترجمه د تیرشوی حدیث په شان ده په دے کښې دادی چه سړے د خپل پلار د مال محافظ دے، او د هغے سوال به تری نه کیدے شی۔

(۴۷۲۸) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْمَعْنٰى.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم د پورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۲۹) عَنِ الْحَسَنِ قَالَ عَادَ عُبَيْدُاللّٰهِ ابْنُ زِيَادٍ مَعْقِلَ ابْنَ يَسَارِنِ الْمُزَنِيَّ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ فَقَالَ مَعْقِلٌ اِنِّيْ مُحَدِّثُكَ حَدِيْثًا سَمِعْتُهٗ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ عَلِمْتُ اَنَّ لِيْ حَيَاةً مَّا حَدَّثْتُكَ بِهٖ اِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ عَبْدٍ يَّسْتَرْعِيْهِ اللّٰهُ يَمُوْتُ يَوْمَ يَمُوْتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِّرَعِيَّتِهٖ اِلَّا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ. [راجع: ۳۶۶]

ترجمه: دحسنؒ نه روایت دے وائی چه عبیدالله بن زیاد معقل بن یسارؓ تپوس له راغے په کومه بیماریٔ کښے چه هغه مړشولو، نو معقلؓ اووے زهٔ یو حدیث تاته بیانوم چه ما درسول الله ﷺ نه اوریدلے دے، اوکهٔ چرے مداګنړلے چه اوس به زهٔ ژوندے پاتے شم نو تاته به مے نهٔ وو بیان کړے، ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو یو بنده داسے نشته چه هغه له الله جل جلاله رعیت ورکړی بیا هغه مړشی او په هغه ورځ هغه مړشی چه هغه خیانت کوی دخپل رعیت په حقوقو کښے، مګرالله تعالی به حرام کړی په هغه باندے جنت لره۔

داحدیث سره دفائدے په کتاب الایمان کښے تیرشوے دے۔

(۴۷۳۰) عَنِ الْحَسَنِ قَالَ دَخَلَ ابْنُ زِيَادٍ عَلٰى مَعْقِلِ ابْنِ يَسَارٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهُوَ وَجِعٌ بِمِثْلِ حَدِيْثِ اَبِي الْاَشْهَبِ وَزَادَ قَالَ اَلَّا كُنْتَ حَدَّثْتَنِيْ هٰذَا قَبْلَ الْيَوْمِ قَالَ مَا حَدَّثْتُكَ اَوْلَمْ اَكُنْ لِّاُحَدِّثَكَ. [۳۶۶]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث په شان ده صرف دومره زیات دے چه ابن زیاد تپوس اوکړوتاداحدیث ماته مخکښے ولے نه بیانوۀ هغویٔ اووے مانهٔ دے بیان کړے یازهٔ ئے تاته ولے بیان کړم۔

(۴۷۳۱) عَنْ اَبِي الْمَلِيْحِ اَنَّ عُبَيْدَاللهِ ابْنَ زِيَادٍ دَخَلَ عَلٰى مَعْقِلِ ابْنِ يَسَارٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فِيْ مَرَضِهٖ فَقَالَ لَهٗ مَعْقِلٌ اِنِّيْ مُحَدِّثُكَ بِحَدِيْثٍ لَوْلَا اَنِّيْ فِي الْمَوْتِ لَمْ اُحَدِّثْكَ بِهٖ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَامِنْ اَمِيْرٍ يَّلِيْ اَمْرَ الْمُسْلِمِيْنَ ثُمَّ لَايَجْهَدُلَهُمْ وَيَنْصَحُ اِلَّالَمْ يَدْخُلْ مَعَهُمُ الْجَنَّةَ. [راجع: ۳۶۶]

ترجمه: ترجمه ددے حدیث دکتاب الایمان په اول جلد کښے تیره شوے ده۔

(۴۷۳۲) عَنْ اَبِي الْاَسْوَدِ اَنَّ مَعْقِلَ ابْنَ يَسَارٍ مَّرِضَ فَاَتَاهُ عُبَيْدُاللهِ ابْنُ زِيَادٍ يَّعُوْدُهٗ نَحْوَ حَدِيْثِ الْحَسَنِ عَنْ مَّعْقِلٍ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۳۳) عَنِ الْحَسَنِ اَنَّ عَائِذَ ابْنَ عَمْرٍو رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَكَانَ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلٰى عُبَيْدِاللهِ ابْنِ زِيَادٍ فَقَالَ اَيْ بُنَيَّ اِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يَقُوْلُ اِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ فَاِيَّاكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنْهُمْ فَقَالَ لَهُ اجْلِسْ فَاِنَّمَا اَنْتَ مِنْ نُخَالَةِ اَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَهَلْ كَانَتْ لَهُمْ نُخَالَةٌ اِنَّمَا كَانَتِ النُّخَالَةُ بَعْدَهُمْ وَفِيْ غَيْرِهِمْ.

ترجمه: دحسنؒ نه روایت دے چه عائذبن عمروؓ چه درسول الله ﷺ اصحابیؓ وو، هغه دعبید الله بن زیاد خواله لاړو اورته ئے او وے اے ځما بچیه مااوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو، دتولونه بدترونکے ظالم بادشاه دے، (چه هغه رعیت تباه کوی) نه داسے نۀ شے پس عبیدالله اووے کینه ته دمحمد ﷺ په صحابه کرامو دبوسو غوندے ئے، عائذؓ اووے ولے درسول الله ﷺ اصحابوؓ کنبے بوس هم وو بوس خو پسه ورستنو خلقو کنبے دی او په غیرخلقو کنبے۔

فائده: یعنی تۀ دافضلو اصحابو کراموؓ نه نۀ ئے، بلکه په اصحابوؓ کنبے ادنی درجه لرے لکه څنګه چه بهوسه داړونه اوځی، داهم دابن زیاد مردود یوه ګستاخی ده اوبے ادبی ده چه هغه دحضرت ﷺ داصحابوؓ سره اوکړه، اودحضرت ﷺ اصحابؓ ټول غوره اوافضل وو۔

بَابُ غَلْظِ تَحْرِيْمِ الْغُلُوْلِ۔

په غنیمت کنبے غلاکول خومره ګناه ده۔

(۴۷۳۴) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَامَ فِيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَذَكَرَ الْغُلُوْلَ فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ اَمْرَهُ ثُمَّ قَالَ لَآ اُلْفِيَنَّ اَحَدَكُمْ يَجِيْئُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ فَيَقُوْلُ يَارَسُوْلَ اللهِ اَغِثْنِىْ فَاَقُوْلُ لَآ اَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ اَبْلَغْتُكَ لَآ اُلْفِيَنَّ اَحَدَكُمْ يَجِيْئُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ يَقُوْلُ يَارَسُوْلَ اللهِ اَغِثْنِىْ فَاَقُوْلُ لَآ اَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ اَبْلَغْتُكَ لَآ اُلْفِيَنَّ اَحَدَكُمْ يَجِيْئُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى رَقَبَتِهِ نَفْسٌ لَهَا صِيَاحٌ فَيَقُوْلُ يَارَسُوْلَ اللهِ اَغِثْنِىْ فَاَقُوْلُ لَآ اَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ اَبْلَغْتُكَ لَآ اُلْفِيَنَّ اَحَدَكُمْ يَجِيْئُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ فَيَقُوْلُ يَارَسُوْلَ اللهِ اَغِثْنِىْ فَاَقُوْلُ لَآ اَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ اَبْلَغْتُكَ لَآ اُلْفِيَنَّ اَحَدَكُمْ يَجِيْئُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ فَيَقُوْلُ يَارَسُوْلَ اللهِ اَغِثْنِىْ فَاَقُوْلُ لَآ اَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ اَبْلَغْتُكَ. [بخاری]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه یوه ورځ رسول الله ﷺ اودریدو

(مونږ ته دنصیحت کولو دپاره) نوبیان اوفرمائیلو حضرت ﷺ دغنیمت په مال کښې دغلاکولو اولوئے گناه ئے ورته اوفرمائیلو بیائے اوفرمائیل زهٔ اونهٔ مومم ستاسونه هیچالره دقیامت په ورځ چه هغه به راشی اودهغه په څټ باندے به یواوښ بړبړی هغه به اووائی یارسول الله ﷺ څمامدد اوکړه زهٔ به اووایم څماڅه اختیار نشته دے. (نووی علیه الرحمه وائی یعنی زهٔ بغیردرب جل جلاله دحکم نه نهٔ مغفرت کولے شم نهٔ شفاعت اوکیدے شی رومبے دغصے نه حضرت ﷺ داسے اوفرمائی اوبیاشفاعت اوکړی په دے شرط چه هغه موحد وی لکه څنگه چه په کتاب الایمان کښے تیرشولو) اونهٔ مومم زهٔ ستاسونه هیچالره چه هغه دقیامت په ورځ راشی اوپه څټ باندے ئے یواس رااخستے وی چه هغه هنړېږی اوبه وائی یارسول الله ﷺ څمامدد اوکړه زهٔ به اووایم ماته څه اختیار نشته دے ماخوتاته وئیلی وو (یعنی په دنیاکښے می دالله تعالی حکم دررسولے وو چه دغلا سزادیره لویه ده بیاتاولے غلاکوله) اونهٔ موم زهٔ ستاسونه هیڅ یوکس لره چه هغه به دقیامت په ورځ راشی اوپه څټ به ئے یوه بزه رااخستے وی چه هغه به مې مې کوی اواوبه وائی یارسول الله ﷺ! څمامدد اوکړه زهٔ به اووایم څماڅه اختیار نشته دے ماخوتاته دالله پاك حکم دررسولے وو، اونهٔ مومم زهٔ ستاسونه یوکس لره چه هغه به دقیامت په ورځ راشی چه په څټ باندے به ئے یونفس رااخستے وی چه هغه به چغے وهی (دچاچه ده په دنیاکښے خون کړے وی) بیابه اووائی یارسول الله ﷺ زمامدد اوکړه، زهٔ به وایم ماته اختیارنشته دے ماتاته دالله تعالی حکم دررسولے وو اولونه مومم زهٔ ستاسونه هیڅ یوکس لره چه هغه به راشی دقیامت په ورځ اوپه څټ باندے به ئے کپړے رااخستے وی چه زورندے شوے به وی (چه هغے لره ده غلاکړے وی په دنیاکښے) یادکاغذ ټکړے چه الوزی (چه په هغے کښے په ده باندے حقوق لیکلی وی) یانور څیزونه چه هغه خوزیږی (چه هغه ده په دنیاکښے غلا کړے وی (بیابه اووائی یارسول الله ﷺ لرامدد اوکړه، زهٔ به وایم ماته څه اختیارنشته دے ماخوتهٔ خبرکړے ے. اواونهٔ ونهٔ م زهٔ ستاسونه هیڅ یوکس لره چه هغه به دقیامت په ورځ راشی اوپخپل څټ به ئے سره زر، سپین زر، پیسے وغیره بارکړی وی اواوبه وائی یارسول الله ﷺ څمامدد اوکړه .زهٔ به وایم څماڅه اختیارنشته دے،ماخوتاته خبردرکړے وو.

فائده: دادرے واړه ترجمے د رقاعؒ تخفیق دی، نـووی ؒ وئیلی دی مسلمانانو اتفاق کړے دے چه غلـول یعنی دغنیمت دمال نه غلاکول حرام اولوئے ګناه ده، کچرے غلائے کړی وی نو هغه مال دی واپس کړی، کـچرے لښکرمتفرق شی اورسول دهریوحق والا دمال ممکن نۀ وی نوپه دے کښے دعالمانو اختلاف دے، دشافعی ؒ اودیوے طائفے په نزد به هغه مال امام یاحاکم ته اوسپاری په شان دنورو ضائع شوؤ مالونو، اودحضرت ابن مسعود رضی الله عنه اوابن عباس ؒ اومعاویه ؒ اوحسن ؒ اوزهری ؒ اواوزاعی ؒ اومالك ؒ اواوثوری ؒ اولیث ؒ اواحمد ؒ اوجمهورو په نزد به پنځمه حصه دهغے امام ته ورکړی اوباقی به صدقه ورکړی، اوغلاکونکی ته به امام چه څنګه مناسب اوګنړی سزاء ورکړی، لیکن دهغه اسباب به نۀ سیزی، دمالك ؒ اوشافعی ؒ اوابو حنیفة دغه قول دے، اودمکحول ؒ اوحسن اواوزاعی ؒ په نزد به دهغه کور اواسباب ټول سوزولے شی، صرف تهیار اوکومے کپړے چه ئے اغوستے وی هغه به پریخودلے شی، اوحسن ؒ وئیلی دی چه څناور اوقران به پریخودلے شی اودلیل دهغوی ؒ حدیث دے دعبدالله بن عمرؓ۔

جمهورو وئیلی دی چه هغه حدیث ضعیف دے ولے چه منفرد شولو ددے سره صالح محمد بن سالم اوهغه ضعیف دے. طحاوی وئیلی دی کچرے داروایت صحیح وی نو محمول دے په هغه زمانه باندے هرکله چه مالی سزاګانے درستے وے، لکه دزکوۃ نۀ ورکولو والانیم مال اخستل بیامنسوخ شولو، (یعنی اوس زمونږ په شریعت کښے تعزیر بالمال جائز نۀ دے اوجرمانه کول په مال سره بالکل دشرع خلاف دی۔)

(۴۷۳۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ بِمِثْلِ حَدِیْثِ اِسْمٰعِیْلَ عَنْ اَبِیْ حَیَّانَ.

ترجمه: ترجمه ددے دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۳۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ ذَکَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْغُلُوْلَ فَعَظَّمَهٗ وَاقْتَصَّ الْحَدِیْثَ قَالَ حَمَّادٌ ثُمَّ سَمِعْتُ یَحْیٰی یَقُوْلُ بَعْدَ ذٰلِکَ یُحَدِّثُهٗ فَحَدَّثَنَا بِنَحْوِ مَاحَدَّثَنَا عَنْهُ اَیُّوْبُ. [راجع: ۴۷۳۴]

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۳۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِیْثِهِمْ.

ترجمه: ددې ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

بَابُ تَحْرِيمِ هَدَايَا الْعُمَّالِ

هغوم سړي چه په سرکاري کار مقرروي تحفه به نۀ اخلي

(۴۷۳۸) عَنْ اَبِيْ حُمَيْدِنِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِّنَ الْاَسَدِ يُقَالُ لَهُ ابْنُ اللُّتْبِيَّةِ قَالَ عَمْرٌو وَابْنُ اَبِيْ عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا لِيْ اُهْدِيَ لِيْ قَالَ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَحَمِدَ اللهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ وَقَالَ مَابَالُ عَامِلٍ اَبْعَثُهُ فَيَقُوْلُ هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا اُهْدِيَ لِيْ اَفَلَا قَعَدَ فِيْ بَيْتِ اَبِيْهِ اَوْفِيْ بَيْتِ اُمِّهٖ حَتّٰى يَنْظُرَ اَيُهْدٰى اِلَيْهِ اَمْ لَا وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَا يَنَالُ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنْهَا شَيْئًا اِلَّا جَآءَ بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَحْمِلُهٗ عَلٰى عُنُقِهٖ بَعِيْرٌ لَهٗ رُغَآءٌ اَوْبَقَرَةٌ لَهَا خُوَارٌ اَوْشَاةٌ تَيْعِرُ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى رَاَيْنَا عُفْرَتَيْ اِبْطَيْهِ قَالَ اَللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ مَرَّتَيْنِ. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دابوحمید ساعدیؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ داسد قبیلے یوسړے چه خلقوبه ورته لتبیه وئیلو دزکوۃ په وصولولوباندے مقرر کړو هرکله چه هغه واپس راغے نواوئے وئیل داستاسو مال دے، اوداماته دتخفے په طور میلاؤشوے دے، حضرت ﷺ په منبرباندے اودریدلو اودالله تعالی حمدوثنا ئے اووے، اوبیائے اوفرمائیل "څه حال دے دهغه تحصیلدار چه هغه لره زۀ مقرر کړم اوبیاوائی داستاسو مال دے اوداماته هدیه هدیه ملاؤشوے ده، دخپل پلار یامورپه کورکښے ولے نه کیناستو چه بیائے لیدلے وے چه ده ته هدیه میلاویدے یانۀ، (یعنی کچرے دغه وخت هم هرکله چه سرکاری کارنۀ وی څوك هدیه ورکوی نودهغه هدیه دکارنه ورستو هم درسته ده، ورنه ظاهره خبره ده چه هغوئ هدیه په دباؤسره ورکړے ده یاپه بل غرض سره اوداسے هدیه اخستل حرام دی) قسم دے په هغه ذات دچاپه لاس کښے چه دمحمد ﷺ روح دے هیڅ یوکس به ستاسو نه داسے مال اخستے نۀ وی مګردقیامت په ورځ به ئے په خپل څټ بارکړے راوړی، که اوښ وی نوبربړی به، که غواوی نعرے به وهی که بزه وی نو مئی مئی به کوی بیاحضرت ﷺ خپل دواړه لاسونه اوچت کړل تردے پورے چه دترخونو سپین والی ئے

مونږ ته په نظر راغی، او حضرت ﷺ اوفرمائیل یاالله جل جلاله ما (ستا حکم) او رسولو، دلته دوه ځله اووے۔

(۴۷۳۹) عَنْ اَبِیْ حُمَیْدِنِ السَّاعِدِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اسْتَعْمَلَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ابْنَ اللُّتْبِیَّةِ رَجُلًا مِّنَ الْاَزْدِ عَلَی الصَّدَقَةِ فَجَآءَ بِالْمَالِ فَدَفَعَهٗ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هٰذَا مَالُکُمْ وَهٰذِهٖ هَدِیَّةٌ اُهْدِیَتْ لِیْ فَقَالَ لَهُ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَفَلَا قَعَدْتَ فِیْ بَیْتِ اَبِیْکَ وَاُمِّکَ فَتَنْظُرَ اَیُهْدٰی لَکَ اَمْ لَا ثُمَّ قَامَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَطِیْبًا ثُمَّ ذَکَرَ نَحْوَ حَدِیْثِ سُفْیَانَ۔ [راجع: ۴۷۳۱]

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده خو په دے کښې دادی چه هغه سړے دقبیله ازد نه وو۔

(۴۷۴۰) عَنْ اَبِیْ حُمَیْدِنِ السَّاعِدِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اسْتَعْمَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِّنَ الْاَزْدِ عَلٰی صَدَقَاتِ بَنِیْ سُلَیْمٍ یُدْعَی ابْنَ اللُّتْبِیَّةِ فَلَمَّا جَآءَ حَاسَبَهٗ قَالَ هٰذَا مَالُکُمْ وَهٰذَا هَدِیَّةٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَهَلَّا جَلَسْتَ فِیْ بَیْتِ اَبِیْکَ وَاُمِّکَ حَتّٰی تَاْتِیَکَ هَدِیَّتُکَ اِنْ کُنْتَ صَادِقًا ثُمَّ خَطَبَنَا فَحَمِدَ اللّٰهَ وَاَثْنٰی عَلَیْهِ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ فَاِنِّیْ اَسْتَعْمِلُ الرَّجُلَ مِنْکُمْ عَلَی الْعَمَلِ مِمَّا وَلَّانِیَ اللّٰهُ فَیَاْتِیْنِیْ فَیَقُوْلُ هٰذَا مَالُکُمْ وَهٰذَا هَدِیَّةٌ اُهْدِیَتْ لِیْ اَفَلَا جَلَسَ فِیْ بَیْتِ اَبِیْهِ وَاُمِّهٖ حَتّٰی تَاْتِیَهٗ هَدِیَّتُهٗ اِنْ کَانَ صَادِقًا وَاللّٰهِ لَا یَاْخُذُ اَحَدٌ مِّنْکُمْ مِنْهَا شَیْئًا بِغَیْرِ حَقِّهٖ اِلَّا لَقِیَ اللّٰهَ تَعَالٰی یَحْمِلُهٗ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فَلَاَعْرِفَنَّ اَحَدًا مِّنْکُمْ لَقِیَ اللّٰهَ یَحْمِلُ بَعِیْرًا لَهٗ رُغَآءٌ اَوْ بَقَرَةً لَهَا خُوَارٌ اَوْ شَاةً تَیْعَرُ ثُمَّ رَفَعَ یَدَیْهِ حَتّٰی رُءِیَ بَیَاضُ اِبْطَیْهِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ بَصُرَ عَیْنِیْ وَسَمِعَ اُذُنِیْ۔ [راجع: ۴۷۳۱]

ترجمه: دابو حمید ساعدی نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ داسد قبیلے نه یو سړے لره چه هغه ته به نے ابن التبیه ونیلو دبنی سلیم دزکوتونو دوصولولو دپاره مقرر کړو هرکله چه هغه راغے، نو حضرت ﷺ دهغه نه حساب واخستو، هغه اووے داخو ستامال دے، او دا هدیه ده، (چه خلقو ماته راکړے ده) حضرت ﷺ اورمائیل که ته دخپل پلار یا مور په کور کښې ناست وے نو ستا هدیه به ستا خواله راغلے وه که چرے ته ربنتونے نے، بیا حضرت ﷺ مونږ ته خطبه ولاروله

اوالله تعریف ئے اوکړو اوثنانه پس ئے اوفرمائیل 'چه زهٔ ستاسونه یو کس په څه کاربانده مقرر کړم دهغه کارونونه چه الله تعالی ماته راکړی دی بیا هغه راشی اووائی چه داستامال دے اوداماته هدیه میلاؤشوے ده، عجیبه خبره ده هغه دخپل پلار یامورپه کورکښے ولے نه کینی چه بیادهغه هدیه هغه له راشی کچرے هغه ربښتونے وی، قسم دے په الله جل جلاله چه څوك دی ستاسونه څه څیزپه ناحقه وانهٔ خلی مګردالله تعالی سره به میلاویږی هغے لره بارکړے شوے اوزهٔ به ئے پیژنم ستاسونه هغه کس چه میلاویږی دالله تعالی سره اواوښ به ئے په څټ باروی اوهغه به بربړی یابه ئے غواپه څټ باروی اوهغه به نعرے وهی، یابه ئے بزه په څټ باروی اوهغه به منی منی کوی، بیاحضرت ﷺ خپل دواړه لاسونه اوچت کړل تردے پورے چه دهغه دترخونو سپین والے ښکاره شولو، اوحضرت ﷺ اوفرمائیل الله جل جلاله ما اورسؤو، ابوحمیدؓ وئیلی دی چه څماسترګودااولیدو اوڅماغوږونواوؤریدل۔

(۴۷۳۱) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِيْ حَدِيْثِ عَبْدَةَ وَابْنِ نُمَيْرٍ فَلَمَّا جَآءَ حَاسَبَهٗ كَمَاقَالَ اَبُوْاُسَامَةَ وَفِيْ حَدِيْثِ ابْنِ نُمَيْرٍ تَعْلَمُنَّ وَاللهِ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَايَاْخُذُ اَحَدُكُمْ مِنْهَاشَيْئًاوَزَادَفِيْ حَدِيْثِ سُفْيَانَ قَالَ بَصُرَعَيْنِيْ وَسَمِعَ اُذُنَايَ وَسَلُوْازَيْدَابْنَ ثَابِتٍ فَاِنَّهٗ كَانَ حَاضِرًا مَّعِيَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث په شان ده، خوددے په روایت کښں دومره زیاتوالے دے چه ابوحمیدؓ اووے دزید بن ثابتؓ نه تپوس اوکړئ هغه هم دغه وخت څماسره موجود وو۔

(۴۷۳۲) عَنْ اَبِيْ حُمَيْدِنِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَ رَجُلًاعَلَى الصَّدَقَةِ فَجَآءَ بِسَوَادٍ كَثِيْرٍ فَجَعَلَ يَقُوْلُ هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا اُهْدِيَ اِلَيَّ فَذَكَرَ نَحْوَهٗ قَالَ عُرْوَةُ اِلَيْ فَقُلْتُ لِاَبِيْ حُمَيْدِنِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَسَمِعْتَهٗ مِنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مِنْ فِيْهِ اِلَى اُذُنِيْ.

ترجمه: دابو حمید ساعدیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوسړی لره د زکوٰة دوصولولو دپاره مقررکړو، هغه ډیرڅیزونه راؤړل راغے اووئے وئیل داخوستاسومال دے، اوداماته په هدیه کښے میلاؤدے، بیائے بیان کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته تیرشولو، عروهؓ وائی چه مادابوحمید ساعدیؓ نه تپوس اوکړوچه داحدیث تادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دے، هغویؓ

اووے بیشکه د حضرت ﷺ دخلے مبارکے نه څماغوږونو اوریدلے دے۔

(۴۷۴۳) عَنْ عَدِیِّ ابْنِ عُمَیْرَةَ الْکِنْدِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْکُمْ عَلٰی عَمَلٍ فَکَتَمَنَا مِخْیَطًا فَمَافَوْقَهٗ کَانَ غُلُوْلًا یَاْتِیْ بِهٖ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ قَالَ فَقَالَ اِلَیْهِ رَجُلٌ اَسْوَدُ مِنَ الْاَنْصَارِ کَاَنِّیْ اَنْظُرُ اِلَیْهِ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اقْبَلْ عَنِّیْ عَمَلَکَ قَالَ وَمَالَکَ قَالَ سَمِعْتُکَ تَقُوْلُ کَذَا وَکَذَا قَالَ وَاَنَا اَقُوْلُهُ الْاٰنَ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْکُمْ عَلٰی عَمَلٍ فَلْیَجِیْءْ بِقَلِیْلِهٖ وَکَثِیْرِهٖ فَمَا اُوْتِیَ مِنْهُ اَخَذَ وَمَا نُهِیَ عَنْهُ انْتَهٰی۔ [ابو داود]

ترجمه: دعدی بن عمیرهؓ نه روایت دے وائی چه ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه اوئے فرمائیل کوم سړی لره چه ستاسونه په څه یو کار باندے مقرر کړو بیا هغه یوه ستن یا ددے نه زیات پټ کړی نو هغه غلول دے، دقیامت په ورځ به ئے هغه راخستی وی اورابه شی، ددے په اوریدو یو تور رنگ والا انصاریؓ اودریدو لکه چه هغه لره زۀ وینمه اواوئے وئیل یارسول الله ﷺ خپل کار زما نه واخلئ، حضرت ﷺ اوفرمائیل "تاله څه شوی دی" هغه اووے ما واوریدل چه تاسو فرمائیلو داسے (یعنی دیوے ګنډلو دستن به هم مواخذه وی) حضرت ﷺ اوفرمائیل !زۀ اوس هم وایم خو چه چالره مونږ په کار باندے مقرر کړو او هغه لږ ډیر څیزونه ټول واخلی اوراشی، بیا چه څه ده ته میلاؤ شی هغه واخلی اوکه د هغے نه میلاؤ نه شی نو قلار شی، (په دے صورت کښے څه هم مواخذه نشته دے۔

(۴۷۴۵) عَنْ عَدِیِّ ابْنِ عَمِیْرَةَ الْکِنْدِیِّ یَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ بِمِثْلِ حَدِیْثِهِمْ۔ [راجع: ۴۷۴۳]

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

بَابُ وُجُوْبِ طَاعَةِ الْاُمَرَآءِ فِیْ غَیْرِ مَعْصِیَةٍ وَتَحْرِیْمِهَا فِی الْمَعْصِیَةِ

باب :هبادشاه یاحاکم یاامام اطاعت واجب دے په هغه کار کښے چه دګناه نه وی او په ګناه کښے اطاعت کول حرام دی

(۴۷۴۶) عَنْ حَجَّاجِ ابْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ قَالَ ابْنُ جُرَیْجٍ نَزَلَ "یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِی الْاَمْرِ مِنْکُمْ" فِیْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ حُذَافَةَ ابْنِ قَیْسِ ابْنِ عَدِیِّ نِ السَّهْمِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ

تعالی عَنْهُ بَعَثَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ أَخْبَرَنِيهِ يَعْلَى ابْنُ مُسْلِمٍ عَنْ سَعِيدِ ابْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: دحجاج بن محمدؒ نه روایت دے ابن جریج وائی داایات "اے ایمان والاو دالله تعالی اطاعت کوئ، اودهغه درسول ﷺ ، اودهغه چاچه حاکمان وی ستاسودعبدالله بن حذافهؓ په باب کښے نازل شوے دے، هرکله چه رسول الله ﷺ هغهؓ دیوفوج سردارکړو اواوئے لیږو، ابن جریجؒ وائی بیان کړے دے ماته داحدیث یعلی بن مسلمؒ هغویؒ اوریدلے دسعید بن جبیرؓ نه اوهغویؒ دابن عباسؓ نه۔

فائده: ددے روایت نه معلومه شوه چه داولوالامرنه حاکمان اوامیران مراد دی دمسلمانانو دغه قول دے دجمهور سلف اوخلف چه ددینه مراد مفسرین اوفقهاء نه دی، اوځنو وئیلی دی علماء مراد دی، اوځنو وئیلی دی امراء اوعلماء دواړه مراد دی، اوچاچه وئلی دی چه صرف صحابه ؓ مراد دی هغه غلطی کړے ده (نووی)

(۴۷۴۷) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ يَّعْصِمْنِي فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَّعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل "چاچه ځما اطاعت اوکړو هغه دالله تعالی اطاعت اوکړو، اوچاچه ځمانافرمانی اوکړه هغه دالله تعالی نافرمانی اوکړه، اوچاچه اطاعت اوکړودحاکم (کوم چه مامقررکړے دے) هغه ځمااطاعت اوکړواوچادهغه نافرمانی اوکړه هغه ځمانافرمانی اوکړه۔

(۴۷۴۸) عَنْ أَبِي الزِّنَادِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ وَمَنْ يَّعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي.

ترجمه: ددے ترجمه دپورته حدیث په شان ده خوپه دے کښں دانشته دے چه چاداميرنافرمانی اوکړه، هغه زمانافرمانی اوکړه۔

(۴۷۴۹) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ عَصَى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي. [بخاری]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ لوفرمائیل چاچه ځمااطاعت اوکړو هغه دالله جل جلاله اطاعت اوکړو، اوڅوک چه ځمانافرمانی کوی هغه دالله تعالی نافرمانی کوی، اوڅوک چه ځمادامیراطاعت کوی هغه ځمااطاعت کوی، لوچاچه ځمادامیرنافرمانی اوکړه هغه ځمانافرمانی اوکړه۔

(۴۷۵۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ سَوَآءً

(۴۷۵۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَحَدِیْثِهِمْ

(۴۷۵۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِیْثِهِمْ.

ترجمه: ددے احادیثو ترجمه دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۵۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِذٰلِکَ وَقَالَ مَنْ اَطَاعَ الْاَمِیْرَوَلَمْ یَقُلْ اَمِیْرِیْ وَکَذٰلِکَ فِیْ حَدِیْثِ هَمَّامٍ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ .

ترجمه: ددے ترجمه دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۵۴) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ السَّمْعَ وَالطَّاعَةَ فِیْ عُسْرِکَ وَیُسْرِکَ وَمَنْشَطِکَ وَمَکْرَهِکَ وَاَثَرَةٍ عَلَیْکَ. [نسائی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ لوفرمائیل په تاباندے لازم دی اوریدل اواطاعت کول (دحاکم دخبرے) په تکلیف اوراحت کښے په خوشحالئ اوغم کښ، اوپه هغه وخت کښے چه ستاحق بل چاله ورکری، (یعنی اګرچه حاکم ستاحق تلفی هم اوکری، اوکوم سرے چه ستانه کم حق لری هغه په تاباندے مخکښے کری، بیا هم صبراواطاعت کول پکار دی، اوفساد کول اوفتنه خورول منع دی، نووی ؒ وئیلی دی دا اطاعت په داسے صورت کښے دے هرکله چه حاکم دشرع نه خلاف نۀ وی اوکچرے دشرع نه خلاف وی نو اطاعت به ئے نۀ کوے۔

(۴۷۵۵) عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اِنَّ خَلِیْلِیْ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَوْصَانِیْ اَنِ اَسْمَعَ وَاُطِیْعَ وَاِنْ کَانَ عَبْدًا مُجَدَّعَ الْاَطْرَافِ.

ترجمه: دابوذر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه زمادوست جناب رسول الله ﷺ ماته

وصیت کړے دے داوریدلو اواطاعت کولو اګرکه دیو غلام لاس اوخپے پریکړے شوے حاکم وی۔

(۴۷۵٦) عَنْ اَبِیْ عِمْرَان بِهٰذَا الْاِسْنَادِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَا فِی الْحَدِیْثِ : عَبْدًا حَبَشِیًّا مُجَدَّعَ الْاَطْرَافِ:

ترجمه: ترجمه ددے دپورته حدیث په شان ده په دے کښ دحبشی لاس خپے کټ شوی ذکرنشته دے۔

(۴۷۵۸) عَنْ یَحْیَی ابْنِ حُصَیْنٍ عَنْ جَدَّتِهٖ اُمِّ الْحُصَیْنِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَ سَمِعْتُهَا تَقُوْلُ حَجَجْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَجَّتَ الْوَدَاعِ قَالَتْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَوْلًا کَثِیْرًا ثُمَّ سَمِعْتُهٗ یَقُوْلُ اِنْ اُمِّرَ عَلَیْکُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ حَسِبْتُهَا قَالَتْ اَسْوَدُ یَقُوْدُکُمْ بِکِتَابِ اللّٰهِ فَاسْمَعُوْا لَهٗ اَطِیْعُوا. [نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: ام حصین دیحیی بن حصینؒ دَ "نیا "نه روایت دے وائی چه ماپه حج وداع کښے درسول الله ﷺ سره حج اوکړو، نو حضرت ﷺ ډیرے غوندے خبرے اوکړے، بیاماواوریدل چه حضرت ﷺ فرمائیلو "کچرے په تاسوباندے لاس خپے پریکړے شوے تور غلام هم امیرشی، اودالله تعالی دکتاب موافق هغه حکومت چلول غواړی ، نودهغه فرمانبرداری کوئ اودهغه خبرے لره اوریٔ۔

فائده: ددے حدیثونو نه معلومیږی چه کچرے امیر داسلام قریشی نۀ وی بیاهم دهغه فرمانبرداری په هغه خبروکښے چه دشریعت خلاف نه وی واجب ده، اودهغه نه بے وجے بغاوت حرام دے، اودهغه په ملګرتیاکښے دکافرو سره جنګیدل درست دی۔

(۴۷٦۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ عَلَی الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِیْمَا اَحَبَّ وَکَرِهَ اِلَّا اَنْ یُّؤْمَرَ بِمَعْصِیَةٍ فَاِنْ اُمِرَ بِمَعْصِیَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ. [ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "په مسلمان باندے اوریدل اومنل واجب دی، (دحاکم دخبرے) خواه که ده ته غوره وی یانۀ وی ، مګرهرکله چه حکم اوکړی دګناه نونۀ ئے اوریدل پکار دی اونۀ ئے منل ۔

(۴۷٦۴) عَنْ عُبَیْدِ اللّٰهِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ. [بخاری، ابو داود]

ترجمه : ددے ترجمه دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۶۵) عَنْ عَلِیٍّ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ جَیْشًا وَاَمَرَ عَلَیْهِمْ رَجُلًا فَاَوْقَدَ نَارًا وَقَالَ ادْخُلُوْهَا فَاَرَادَ نَاسٌ اَنْ یَّدْخُلُوْهَا وَقَالَ الْاٰخَرُوْنَ اِنَّا فَرَرْنَا لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِلَّذِیْنَ اَرَادُوْا اَنْ یَّدْخُلُوْهَا لَوْ دَخَلْتُمُوْهَا لَمْ تَزَالُوْا فِیْهَا اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ وَقَالَ لِلْاٰخَرِیْنَ قَوْلًا حَسَنًا وَقَالَ لَاطَاعَةَ فِیْ مَعْصِیَةِ اللهِ اِنَّمَا الطَّاعَةُ فِی الْمَعْرُوْفِ. [بخاری ، ابو داود]

ترجمه : دامیرالمؤمنین حضرت علی مرتضی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ یو لښکر اولیږلو او په هغے باندے ئے یو سړی لره حاکم کړو، هغه حاکم اور بل کړو او خلقوته ئے اووے په دے کښے ننوځئ، څنوغوښتل چه (د حاکم په حکم) په دغه انکار کښے ننوځئ، او څنو اووے چه مونږ خو داور نه او تښتیدو نو مسلمانان شولو (کفر مو پریخودو د جهنم نه مونږ اووریدو اوس بیا په اور کښے ننوځو داز مونږ نه نه شی کیدے) بیا ددے خبرے ذکر رسول الله ﷺ ته اوشو، حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه خلقوته چا چه دننوتلو اراده کړے وه، کچرے تاسو ننوتے وے نو همیشه به په دغے کښے پاتے شوے وے د قیامته پورے، (ولے چه دا خودکشی ده او په شریعت کښ حرامه ده) او کوم خلقو چه په ننوتلو راضی نه شول د هغوئ تعریف ئے اوکړو او اوئے فرمائیل "د الله تعالی په نافرمانئ کښ د چا اطاعت نشته دے بلکه اطاعت په هغے کښ دے چه هغه د نیکئ خبره وی"۔

(۴۷۶۶) عَنْ عَلِیٍّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ سَرِیَّةً وَاسْتَعْمَلَ عَلَیْهِمْ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ وَاَمَرَهُمْ اَنْ یَّسْمَعُوْا لَهٗ وَیُطِیْعُوْهُ فَاَغْضَبُوْهُ فِیْ شَیْءٍ فَقَالَ اجْمَعُوْا لِیْ حَطَبًا فَجَمَعُوْا لَهٗ ثُمَّ قَالَ اَوْقِدُوْا نَارًا فَاَوْقَدُوْا نَارًا ثُمَّ قَالَ اَلَمْ یَاْمُرْکُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ تَسْمَعُوْا لِیْ وَتُطِیْعُوْا قَالُوْا بَلٰی قَالَ فَادْخُلُوْهَا قَالَ فَنَظَرَ بَعْضُهُمْ اِلٰی بَعْضٍ فَقَالَ اِنَّمَا فَرَرْنَا اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنَ النَّارِ فَکَانُوْا کَذٰلِکَ وَسَکَنَ غَضَبُهٗ وَطُفِئَتِ النَّارُ فَلَمَّا رَجَعُوْا ذَکَرُوْا ذٰلِکَ لِلنَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ دَخَلُوْهَا مَا خَرَجُوْا مِنْهَا اِنَّمَا اِنَّمَا الطَّاعَةُ فِی الْمَعْرُوْفِ.

ترجمه : د حضرت علی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ یو لښکر

اولیږواوپه هغې باندې ئې یوانصاریؓ حاکم کړو (نوویؒ وائی ددې نه معلومه شوه چه هغه سړې عبدالله بن حذافه نۀ وو) اوحکم ئې اوکړو خلقوته دهغه دفرمانبردارئ اود هغهؓ دخبرې اوریدلو، بیاهغهؓ اووې لرګې راجمع کړئ خلقولرګې راجمع کړل، هغویٔ اووې اور بل کړئ، اوربل کړلو، بیا هغه سړی اووې، اې رسول الله ﷺ تاسوته حکم نۀ دې کړې څمادخبرې اوریدلو او څمادفرمانبردارئ کولو؟ هغویٔ اووې بیشکه حضرت ﷺ مونږ ته دغسې حکم کړې دې هغهؓ اووې پس تاسوپه دې اورکښې ننوځئ، ددې خبرې په اوریدوخلقویوبل ته اوکتل اواوئې وئیل چه مونږ خوددغې اورنه (دجهنم) تختیدودرسول الله ﷺ خواله راغلو،بیاهغویٔ په دغه حال کښې وو چه دهغهؓ غصه سړه شوله اوهغه اورمړکړلے شو.هرکله چه واپس راغلونوهغویٔ رسول الله ﷺ ته ددې خبرې ذکراوکړو، حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرې په اورکښې ننوتے وې نوبیابه واپس نه وئ راوتې،اطاعت کول په هغه باب کښې لازم دی چه هغه واجبې وی (یعنې دشریعت په بنامنع نۀ وی، نوویؒ وائی هغهؓ داخبره دامتحان اخستلودپاره کړې وه، یادمذاق نه ، خوپه هرحال کښې دشرع نه په خلاف خبره کښې دامیراطاعت کول نۀ دی پکار۔

فائده: یعنې دشرع نه خلاف چه کومه خبره وی هغې لره هیڅ کله منل نۀ دی پکاری، بلکه ټول دی په جمع دغې بادشاه لره پو هه کړی، اوهغه دی دشرع په مخالفت دظلم کولو نه منع کړی اوکه نه منع کیږی، نو هغه دی دخلافت نه معزول کړی اودهغه په ځائې دی بل دالله په کتاب چلیدونکې خلیفه مقرر کړی، ځکه چه اطاعت دبادشاه یاخلیفه بالذات نۀ دې بلکه بادشاه اوخلیفه هم دنورو خلقوبنیاد موپشان بنیادم دې دکومې پورې چه هغه دشریعت موافق چلیږی نودهغه اطاعت بالذات نۀ دې بلکه دشریعت اطاعت دې، اوهرکله چه هغه دشریعت خلاف وی دهغه اطاعت په خلقو ضروری پاتې نۀ شو۔

(۴۷۶۷) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ. [راجع: ۴۷۵۸]

ترجمه: ددې ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۶۸) عَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ بَايَعْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى

السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَعَلٰى اَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَعَلٰى اَنْ لَّا نُنَازِعَ الْاَمْرَ اَهْلَهُ وَعَلٰى اَنْ نَقُوْلَ بِالْحَقِّ اَيْنَمَا كُنَّا لَا نَخَافُ فِي اللّٰهِ لَوْمَةَ لَآئِمٍ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعباده بن صامت نه روایت دے وائی چه مونږ بیعت اوکړو د جناب رسول الله ﷺ نه په اوریدلو او خبره منلو باندے، په سختئ او راحت کښے، په خوشحالئ او غم کښے، او اګر که زمونږ د حق خیال اونۀ ساتلے شی، او په دے امر باندے چه مونږ جګړه نۀ کوو د هغه سړی په سردارئ کښے چه هغه ددے لائق دے، او مونږ به رښتیا وایو هر چرته چه یو د الله تعالی په لار کښے به مونږ د چا ملامت کونکو د ملامتے نه نۀ ویریږو۔

فائده: دغه خبرے د اسلام دی او کوم مسلمان چه دنیاساز، خوشامدباز د حقے خبرے پټونکے او د دنیادارو د ملامتے نه ویریدونکے وی هغه پوره مسلمان نۀ دی، بلکه په ده کښے د کفارو خصلتونه موجود دی، ده لره پکار دی چه توبه اوباسی ، او راست بازی او جرأت او بهادری او حق ګوئی او وفاداری اختیار کړی۔

(۴۷۷۰) عَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ قَالَ بَايَعْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ ابْنِ اِدْرِيْسَ. [راجع: ۴۷۶۸]

ترجمه: ددے ترجمه هم د پورته حدیث پشان ده۔

(۴۷۷۱) عَنْ جُنَادَةَ ابْنِ اَبِيْ اُمَيَّةَ قَالَ دَخَلْنَا عَلٰى عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهُوَ مَرِيْضٌ فَقُلْنَا حَدِّثْنَا اَصْلَحَكَ اللّٰهُ بِحَدِيْثٍ يَنْفَعُ اللّٰهُ بِهٖ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْنَا فَكَانَ فِيْمَا اَخَذَ عَلَيْنَا اَنْ بَايَعْنَا عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِيْ مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا وَاَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَنُنَازِعُ الْاَمْرَ اَهْلَهُ قَالَ اِلَّا اَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللّٰهِ فِيْهِ بُرْهَانٌ. [بخاری]

ترجمه: دجناده بن امیهؓ نه روایت دے وائی چه مونږ دعباده بن صامت رضی الله تعالٰی عنه خواله لاړو هغه بیماروو، مونږه اووے، بیان کړه مونږ ته الله تعالی دی تا ښه کړی داسے یو حدیث شته چه په هغے سره الله تعالی فائده درکړی لوخه چه تا اوریدلی وی د رسول الله ﷺ نه، هغوی اووے مونږ را اوغوښتو رسول الله ﷺ او مونږ دهغوی ﷺ نه بیعت اوکړو، او حضرت ﷺ چه کومے وعدے واخستے په هغے کښے ئے دا هم اوښودلے چه مونږ بیعت کوؤ په خبره

اوریدلو او اطاعت کولو باندې په خوشحالئ او غم کښې او سختئ او آسانئ کښې او زمونږ په حقونو تلف کیدو کښې، او مونږ جګړه نۀ کوو، د هغه سړی په خلاف کښې چه هغه ددې لائق وی، مګر هرکله چه پکښې ښکاره ښکاره کفر اووینو چه هغه دالله تعالی په نزد حجت شی۔

فائده : نووی وئیلی دی دکفرنه مراد معاصی دی او مطلب دادې چه صفا صفا دشرع نه په خلاف کولونې اووینې، نو دغه وخت چپ مه پاتې کیږئ بلکه هغه ته اووایئ او حقه خبره ورته بیان کړئ، خو د مسلمان حاکم سره جنګ کول او بغاوت کول حرام دی، په اجماع د اهل اسلام اګرکه هغه فاسق وی یا ظالم، او ددې دلیل ډیر حدیثونه دی، او اجماع کړې ده اهل سنتو چه امام دفسق په وجه سره نۀ شی معزول کیدې۔

مګر زمونږ دملګرو په څنو کتابونو کښې دی چه هغه به معزوله کیږی او دمعتزله هم دغه قول دې، او داغلط دې مخالف دې داجماع، او سبب دنۀ معزوله کیدو دادې چه په معزوله کولو کښې دفساد او خونریزئ ویره ده، قاضی عیاض وئیلی دی چه علمائې کرامو اجماع کړې ده چه امامت دکافر صحیح نۀ دې، او هرکله چه امام کافر اوګرځی، نو هغه به معزوله کیدې شی دغه شان کچرې مونځ پریږدی یا بدعت شروع کړی نو دجمهورو هم دغه قول دې بیا کافر اوګرځی یا دشرع احکام بدل کړی یا بدعت را اوباسی نو د هغه ولایت به تللې شی، او د هغه اطاعت به ساقط کیدې شی، او په مسلمانانو باندې واجب دې چه هغه لره معزوله کړی لو د هغه په ځائې یو عادل امام مقرر کړی او دبدعت ویستلو په صورت کښې د هغه معزوله کول واجب نۀ دی، مګر په هغه صورت کښې چه په مسلمانانو کښې طاقت وی د هغه دمعزوله کولو، خو د هغه دملک نه هجرت کول پکار دی، او خپل دین بچ کول پکار دی، او دفاسق هم امامت دشروع نۀ صحیح نۀ دې، لیکن که دامامت نه پس فاسق شی نو بعضو په نزد د هغه معزوله کول واجب دی، کچرې بغیر دفساد او جنګ نه معزوله کیدې شی، او دجمهورا هل سنتو او دفقهاؤ او محدثینو او متکلمینو نه داقول دې چه هغه به دظلم یا حق تلفئ په وجه سره نۀ معزوله کیږی او نه به معزوله کولې شی او د هغه جنګ یا بغاوت کول درست نۀ دی، بلکه هغه ته نصیحت کول او ویره ول واجب دی۔

قاضی عیاض ؒ وئیلی دی ابن مجاهد په دے باندے داجماع وعده کړے ده لیکن رد کړے ده بعضو دغه دعوے لره ځکه چه امام حسن علیه السلام اوعبدالله ابن زبیرؓ لواهل مدینه دبنی امیه خلاف را اوچت شولو اوبولوئے جماعت دتابعینو اوصدر اول ابن اشعث سره شولو دحجاج سره دجنګ کولو دپاره ، قاضی عیاض ؒ وئیلی دی کیدے شی دا اختلاف رومبے وو ددے نه پس اجماع شوله، والله اعلم انتهی مختصرا

بَابُ الْاِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَّرَآئِهٖ وَيُتَّقٰى بِهٖ۔

امام دمسلمانو ډهال دے

(۴۷۷۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّمَا الْاِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَّرَآئِهٖ وَيُتَّقٰى بِهٖ فَاِنْ اَمَرَ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَعَدَلَ كَانَ لَهٗ بِذٰلِكَ اَجْرٌ وَّاِنْ يَّاْمُرْ بِغَيْرِهٖ كَانَ عَلَيْهِ مِنْهُ.

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه امام ډهال دے دهغه نه شاته مسلمانان جنګیږی (دکافرانو سره) اودهغه په وجه خلق بچ کیږی دتکلیف نه (دظالمانو لولوټ کونکو نه) پس کچرے هغه حکم کوی دالله تعالی نه ویریدو اوانصاف کوی نودهغه دپاره ثواب دے اوکچرے دهغه خلاف حکم ورکړی نوپه هغه باندے به وبال وی۔

بَابُ وُجُوْبِ الْوَفَآءِ بِبَيْعَةِ الْخَلِيْفَةِ الْاَوَّلِ فَالْاَوَّلِ

معلوم خلیفه سره چه مخکښی بیعت اوشی هغه لره قائم ساتل پکار دی

(۴۷۷۳) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ بَنُوْا اِسْرَآئِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْاَنْبِيَآءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهٗ نَبِيٌّ وَاِنَّهٗ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ وَسَتَكُوْنُ خُلَفَآءُ فَتَكْثُرُ قَالُوْا فَمَا تَاْمُرُنَا قَالَ فُوْا بِبَيْعَةِ الْاَوَّلِ فَالْاَوَّلِ وَاَعْطُوْهُمْ حَقَّهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى سَآئِلُهُمْ عَنْ مَّا اسْتَرْعَاهُمْ.

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی دبنی اسرائیلو حکومت به پیغمبر علیه السلام کولو، هرکله چه به یو پیغمبر وفات شو نو بل

پیغمبرعلیه السلام به دهغه په ځائے خلیفه شولو. زمانه پس خو څوك پیغمبر نشته دے، بلکه خلیفه به وی او ډیر به وی خلقو عرض اوکړو بیا تاسو مونږ ته څه حکم کوئ حضرت ﷺ اوفرمائیل دچاسره چه مخکښے بیعت اوکړئ دهغه بیعت پوره کوئ او دهغه حق اداکوئ، پس الله جل جلاله به تپوس کوی دهغه نه دهغه څه چه ده له نی ورکړی دی۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی ،مطلب دحدیث دادے چه هرکله دیوخلیفه سره بیعت اوکړے شی بیادهغه په موجودوالی کښے دبل خلیفه سره بیعت اوشی، نوداول بیعت صحیح دے، اوددغه دویم بیعت حرام دے ولے چه هغے لره پوره کول حرام دی، خواه دویم بیعت دروميى بیعت دمعلو میدو باوجود شوے وی، یا په بے خبرئ کښے شوے وی خواه که په یو ښهر کښے شوے وی یا په دوه وو ښارونو کښے شوے وی، اوعلماؤ په دے باندے اتفاق دے، چه په یوه زمانه کښے دوه خلیفه نۀ شی کیدے اګر کۀ دارالاسلام ډیروسیع وی، مګرامام الحرمین وائی چه هرکله دوه ملکونه په ډیره فاصله باندے وی، اوبو خلیفه دبل خلیفه نه ډیرلرے وی نو احتمال دے چه تعدد جائز وی، نووی وئیلی دی داقول مخالف دے دسلف اوخلف اوظاهرحدیث۔

(۴۷۷۵) عَنْ عَبْدِاللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا سَتَكُوْنُ بَعْدِىْ اَثَرَةٌ وَّاُمُوْرٌ تُنْكِرُوْنَهَا قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ تَأْمُرُ مَنْ اَدْرَكَ مِنَّا ذٰلِكَ قَالَ تُؤَدُّوْنَ الْحَقَّ الَّذِىْ عَلَيْكُمْ وَتَسْئَلُوْنَ اللهَ الَّذِىْ لَكُمْ. [بخاری ، ترمذی]

ترجمه: دحضرت عبدالله نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "ځمانه پس به حق تلفی وی اوداسے خبرے به پیداشی چه هغه به تاسو بدے ګنړئ" اصحابو عرض اوکړو یارسول الله ﷺ په دغه زمانه کښے چه څوك وی هغوئ ته ستاسو څه حکم دے ؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل اداکوئ هغه حق لره چه په تاسو باندے دے (یعنی طاعت اوفرمانبرداری) اوڅه چه ستاسو حق دے هغه دپروردګار نۀ غوارئ (چه الله تعالی هغه ته هدایت نصیب کړے یا هغه بدل کړی اوعادل حاکم تاسوله درکړی۔)

(۴۷۷۶) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ عَبْدِرَبِّ الْكَعْبَةِ قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَاِذَا عَبْدُاللهِ ابْنُ عَمْرِو ابْنِ

الْعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ جَالِسًا فِیْ ظِلِّ الْکَعْبَةِ وَالنَّاسُ مُجْتَمِعُوْنَ عَلَیْهِ فَاَتَیْتُهُمْ فَجَلَسْتُ اِلَیْهِ فَقَالَ کُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ سَفَرٍ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فَمِنَّا مَنْ یُّصْلِحُ خِبَآءَهٗ وَمِنَّا مَنْ یَّنْتَضِلُ وَمِنَّا مَنْ هُوَ فِیْ جَشَرِهٖ اِذْ نَادٰی مُنَادِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الصَّلٰوةُ جَامِعَةٌ فَاجْتَمَعْنَا اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنَّهٗ لَمْ یَکُنْ نَبِیٌّ قَبْلِیْ اِلَّا کَانَ حَقًّا عَلَیْهِ اَنْ یَّدُلَّ اُمَّتَهٗ عَلٰی خَیْرِ مَا یَعْلَمُهٗ لَهُمْ وَیُنْذِرَهُمْ شَرَّ مَا یَعْلَمُهٗ لَهُمْ اِنَّ اُمَّتَکُمْ هٰذِهٖ جُعِلَ عَافِیَتُهَا فِیْ اَوَّلِهَا وَسَیُصِیْبُ آخِرَهَا بَلَاءٌ وَّاُمُوْرٌ تُنْکِرُوْنَهَا وَتَجِیْءُ فِتْنَةٌ فَیُرَقِّقُ بَعْضُهَا بَعْضًا وَتَجِیْءُ الْفِتْنَةُ فَیَقُوْلُ الْمُؤْمِنُ هٰذِهٖ مُهْلِکَتِیْ فَمَنْ اَحَبَّ اَنْ یُّزَحْزَحَ عَنِ النَّارِ وَیُدْخَلَ الْجَنَّةَ فَلْتَاْتِهٖ مَنِیَّتُهٗ وَهُوَ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَلْیَاْتِ اِلَی النَّاسِ الَّذِیْ یُحِبُّ اَنْ یُّؤْتٰی اِلَیْهِ وَمَنْ بَایَعَ اِمَامًا فَاَعْطَاهُ صَفْقَةَ یَدِهٖ وَثَمَرَةَ قَلْبِهٖ فَلْیُطِعْهُ اِنِ اسْتَطَاعَ فَاِنْ جَآءَ اٰخَرُ یُنَازِعُهٗ فَاضْرِبُوْا عُنُقَ الْاٰخَرِ فَدَنَوْتُ مِنْهُ فَقُلْتُ لَهٗ اَنْشُدُکَ اللّٰهَ آنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَهْوٰی اِلٰی اُذُنَیْهِ وَقَلْبِهٖ بِیَدَیْهِ وَقَالَ سَمِعَتْهُ اُذُنَایَ وَوَعَاهُ قَلْبِیْ فَقُلْتُ لَهٗ هٰذَا ابْنُ عَمِّکَ مُعَاوِیَةُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَاْمُرُنَا اَنْ نَّاْکُلَ اَمْوَالَنَا بَیْنَنَا بِالْبَاطِلِ وَنَقْتُلَ اَنْفُسَنَا وَاللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ یَقُوْلُ یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْکُلُوْا اَمْوَالَکُمْ بَیْنَکُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّا اَنْ تَکُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْکُمْ وَلَا تَقْتُلُوْا اَنْفُسَکُمْ اِنَّ اللّٰهَ کَانَ بِکُمْ رَحِیْمًا" قَالَ فَسَکَتَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ اَطِعْهُ فِیْ طَاعَةِ اللّٰهِ وَاعْصِهٖ فِیْ مَعْصِیَةِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ . [ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالرحمن بن عبدرب الکعبة ؒ نه روایت دے وائی چه زهٔ جماعت ته لارم هلته عبدالله بن عمرو بن العاص ؓ دکعبے په سوری باندے ناست وو اوخلق دهغه په خواه کښے جمع وو، زهٔ هم لارم اوکیښناستم، هغوئ اووے مونږ په یو سفر کښے درسول الله ﷺ سره وو نو په یو ځائے کښے کوز شو چاچپله دیره برابروله چاغشی ویشتلو څوك په خپلو څناورو کښے وو، چه په دے کښے درسول الله ﷺ اواز کونکی آواز اوکړو چه دمانځه دپاره راجمع شئ، مونږه تول دحضرت ﷺ خواته جمع شو. حضرت ﷺ اوفرمائیل "زمانه مخکښے یو نبی داسے نهٔ دے تیرشوے چه په هغه باندے دخپل امت حق نهٔ وو، کومه غوره خبره چه په هغه ته معلومیده نو ښودله به ئے اوبدے خبرے نه به ئے ویرولو، اوستاسو دا امت چه ددے په رومبئ حصه کښے

سلامتی ده اوپه آخره حصه کښې بلاده، اوهغه خبرې دی چه په تاسوبه بدې لګی اوداسې فتنې به راځی چه یوه فتنه به هغه رومبئ لره کمه اوسپکه کړی (یعنی هغه وروستنئ فتنه به دومره زیاته وی چه درومبئ فتنې به دهغې په مخکښې څه حقیقت نۀ وی، اویوه فتنه چه راځی نومؤمن به وائی په دې کښې څماتباهی ده. بیابه هغه لاړه شی اوبله به راځی نومؤمن به وائی په دې کښې څماتباهی ده، پس چه څوك غواړی چه دجهنم نه دی بچ شی اوجنت ته دی لاړشی نوهغه له پکار دی چه په الله تعالی باندې اوپه ورځ دآخرت باندې دیقین سره مړشی، اودخلقوسره هغه سلوك کوی څنګه چه هغه غواړی اوخلق دده سره کوی، اوکوم سړی چه دڅاامام نه بیعت اوکړی اوهغه له خپل لاس ورکړی اوپه زړۀ سره دهغه دتابعداریٔ نیت اوکړی نودهغه فرمانبرداری دی کوی کچرې طاقت ئې وی، اوس کچرې بل امام دهغه سره جنګ له راشی نو(هغه منع کوئ کچرې نۀ منع کیږی بغیردجنګ نه) نودهغه څټ اووهئ " ددې په اوریدوزۀ دعبدالله خواله لاړم، اوهغوئ ته می اووې زۀ تاسوله په الله جل جلاله قسم درکوم چه تاسودا درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی ؟ هغوئ دخپل زړۀ اوغوږونو طرفته اشاره اوکړه په لاس سره، اواوئې ونیل زماغوږونواوریدلی دی اوزړۀ می یادساتلی دی، ماورته اووې ستادتره ځوئ معاویه مونږ ته دیوبل دمال په ناحقه خوړلو حکم کوی، اودخپلوروحونودتباه کولو دپاره، اوالله تعالی فرمائیلی دی اې مؤمنانو !مۀ خورئ خپل مال په ناحقه مګرپه رضاسره په تجارت کولو اومۀ وژنئ خپلو ځانونولره بیشکه الله پاك په تاسوباندې مهربانه دې " ددې په اوریدوعبدالله بن عمروبن العاص لږساعت غلې شو اوبیائې اووې، دمعاویه اطاعت کوئ په هغه کار کښې چه دالله جل جلاله دحکم موافق وی، اوکوم چه دالله جل جلاله دحکم نه خلاف وی په هغې کښې دمعاویه دحکم نافرمانی کوئ.

(۴۷۷۷) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهُ.

ترجمه : ترجمه ددې هم دپورته حدیث په شان ده.

(۴۷۷۸) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ عَبْدِالرَّحْمٰنِ رَبِّ الْكَعْبَةِ الصَّائِدِی قَالَ رَأَیْتُ جَمَاعَةً عِنْدَالْكَعْبَةِ فَذَكَرَنَحْوَحَدِیْثِ الْاَعْمَشِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

باب الامر بالصبر عند ظلم الولاة واستيثارهم

دحاکمانو په ظلم اوبے ځایه ترجیح باندے دصبر کولو بیان

(۴۷۷۹) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ اُسَيْدِابْنِ حُضَيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ خَلَا بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَلَا تَسْتَعْمِلُنِيْ كَمَا اسْتَعْمَلْتَ فُلَانًا فَقَالَ اِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِيْ اَثَرَةً فَاصْبِرُوْا حَتّٰى تَلْقَوْنِيْ عَلَى الْحَوْضِ. [بخاری، ترمذی، نسائی]

ترجمه: داسید بن حضیر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه درسول الله ﷺ سره یو انصاری ځانله شو اورته ئے اووے، ماحاکم کړه لکه څنګه چه تافلانی سړی له حکومت ورکړے دے حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ځمانه پس به ستاسو حق تلفی کیږی ته صبرکوه تردے پورے چه ځماسره به میلاؤشے په حوض کوثرباندے۔

(۴۷۸۰) عَنْ اُسَيْدِابْنِ حُضَيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ خَلَا بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ. [راجع: ۴۷۷۹]

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۷۸۱) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَلَمْ يَقُلْ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [راجع: ۴۷۷۹]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده دومره فرق دے چه په دے کښے دځانله کیدو ذکرنشته۔

(۴۷۸۲) عَنْ عَلْقَمَةَ ابْنِ وَآئِلِ نِ الْحَضْرَمِيِّ عَنْ اَبِيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَئَلَ سَلَمَةُ ابْنُ يَزِيْدَ الْجُعْفِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَانَبِيَّ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ اِنْ قَامَتْ عَلَيْنَا اُمَرَآءُ يَسْاَلُوْنَا حَقَّهُمْ وَيَمْنَعُوْنَا حَقَّنَا فَمَا تَاْمُرُنَا فَاَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ سَاَلَهُ فِي الثَّانِيَةِ اَوْفِي الثَّالِثَةِ فَجَذَبَهُ الْاَشْعَثُ ابْنُ قَيْسٍ وَقَالَ اسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَّا حُمِّلُوْا وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ. [ترمذی]

ترجمه: دعلقمه بن وائل حضرمیؓ نه روایت دے هغویٔ دخپل پلار نه اوریدلی دی وائی چه سلمی بن یزید جعفیؓ درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو؟ اے دالله جل جلاله نبیؓ کچرے زمونږ

امیر داسے مقرر شی چه هغه خپل حق زمونږ نه طلب کوی لوزمونږ حق نه راکوی نوتاسو مونږ ته څه فرمایئ حضرت ﷺ جواب ورنه کړو، بیائے تپوس اوکړو نواشعث بن قیس سلمهؓ لره رابښکودو اواوئے وئیل، اوره اواطاعت کوه په هغوئ باندے دهغوئ دعملونو بوج دے، اوپه تاسو باندے ستاسو دعملونو۔

(۴۷۸۳) عَنْ سِمَاکٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ فَجَذَبَهُ الْأَشْعَثُ ابْنُ قَيْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَعُوْا وَأَطِيْعُوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوْا وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ .

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده په دے کښے داسے دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل "اوره اواطاعت کوه، دهغوئ عمل دهغوئ سره دے اوستاسو عمل به ستاسو سره وی۔

بَابُ وُجُوْبِ مُلَازَمَةِ جَمَاعَةِ الْمُسْلِمِيْنَ عِنْدَ ظُهُوْرِ الْفِتَنِ وَفِيْ كُلِّ حَالٍ

دفتنو اوفساد په وخت بلکه هروخت دمسلمانانو دجماعت سره اوسیدل

(۴۷۸۴) عَنْ حُذَيْفَةَ ابْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ كَانَ النَّاسُ يَسْأَلُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَيْرِ وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ مَخَافَةَ أَنْ يُدْرِكَنِيْ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا كُنَّا فِيْ جَاهِلِيَّةٍ وَشَرٍّ فَجَآءَنَا اللّٰهُ بِهٰذَا الْخَيْرِ فَهَلْ بَعْدَ هٰذَا الْخَيْرِ شَرٌّ قَالَ نَعَمْ فَقُلْتُ هَلْ بَعْدَ ذٰلِكَ الشَّرِّ مِنْ خَيْرٍ قَالَ نَعَمْ فِيْهِ دَخَنٌ قُلْتُ وَمَادَخَنُهُ قَالَ قَوْمٌ يَسْتَنُّوْنَ وَيَهْتَدُوْنَ بِغَيْرِ هَدْيِىْ تَعْرِفُ مِنْهُمْ وَتُنْكِرُ فَقُلْتُ هَلْ بَعْدَ ذٰلِكَ الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ قَالَ نَعَمْ دُعَاةٌ عَلٰى أَبْوَابِ جَهَنَّمَ مَنْ أَجَابَهُمْ إِلَيْهَا قَذَفُوْهُ فِيْهَا فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ صِفْهُمْ لَنَا قَالَ نَعَمْ هُمْ قَوْمٌ مِّنْ جِلْدَتِنَا وَيَتَكَلَّمُوْنَ بِأَلْسِنَتِنَا فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ فَمَاتَرٰى إِنْ أَدْرَكَنِيْ ذٰلِكَ قَالَ تَلْزِمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْنَ وَإِمَامَهُمْ فَقُلْتُ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَّلَا إِمَامٌ قَالَ فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الْفِرَقَ كُلَّهَا وَلَوْاَنْ تَعَضَّ عَلٰى أَصْلِ شَجَرَةٍ حَتّٰى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ عَلٰى ذٰلِكَ. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: دحذیفه بن الیمانؓ نه روایت دے وائی چه خلقو به درسول الله ﷺ نه دنیکو خیرو تپوسونه کول، اومابه دبدے خبرے تپوس کولو ددے ویرے نه چه چرے په بدئ کښې اخته نۀ

شم، ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ! مونږ په جاهلیت اوبدئ کښې وو، بیاالله تعالی مونږ ته داعزت راکړو(یعنی اسلام) اوس ددې نه پس خه بدئ شته، حضرت ﷺ اوفرمائیل هاں لیکن په هغې کښې دهبه ده، ماآووې هغه دهبه څه ده؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل داسې خلق به وی چه څماپه سنتوباندې به نۀ چلیږی، اوڅمادطریقې نه علاوه به په بله لاره روان وی په هغوئ کښې به ښې خبرې هم وی اوبدې هم، ماعرض اوکړو بیابه ددغې نه پس بدئ وی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل هاں داسې خلق به پیداشي چه هغه به دجهنم دروازې په طرف خلقولره راغواړی، څوک چه دهغوئ خبره منی هغه به جهنم ته غورزیږی ماآووې یارسول الله ﷺ دهغه خلقوبیان مونږ ته اوفرمایئ، حضرت ﷺ اوفرمائیل دهغوئ رنګ به څمونږ په شان وی اوهم زمونږ ژبه به وائی ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ! کچرې دغه زمانه زۀ اوموموم نو څه به کوم حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل دمسلمانانو دجماعت سره اوسیږه، اودهغوئ دامام سره اوسیږه کچرې جماعت اوامام نۀ وی حضرت ﷺ اوفرمائیل نوټولې فرقې پرېږده، اواګرچه دیوې ونې زیله په غاښونوسره اوژوئې دمرګه پورې۔

فائده: یعنی څنګل ته لاړشه اوکه څه دخوراك درته نۀ میلاویږی نو دونې زیلې ژوبه اوبیاد هغه پې دینوسره مۀ میلاویږه اوځانله جدا ترې اوسیږه، په دې حدیث کښې حضرت ﷺ لویه پیش ګوئی دخوارجو اوقرامطه ؤ وغیره کړې ده، چه هغه ګمراه فرقه دمحمد ﷺ نه پس پیداشوه۔

اودنیکئ نه چه په هغې کښې دهبه ده، بعضوئیلی دی دعمروبن عبدالعزیز زمانه مراد ده، اومادیو متدین محدث نه اوریدلی دی چه دغه زمانه دبنوامیه دخلافت نه پس راغلې وه، په دې کښې اګرچه نیکی وه حوبدعات پکښې خواره شوی وو، دهغې نه پس دبنکاره بدئ زمانه اوس ده څکه چه نیچریت اوبې دینی اوکهلم کهلاکفرخوریږی، او دَجهنم په طرف راغوبنتونکی هغه خلق دی چه دسید احمد خان ابوالنیا چره پیروکار اودهغوئ په لاره باندې تللو والا دی، په دغه وخت کښې داسلام دجماعت سره ملګرتیاکول هرمسلمان له ضروری دی، اودغه بې دینو نه جدا پاتې کیدل ۔ والله اعلم

(۴۷۸۵) عَنْ حُذَيْفَةَ ابْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّا كُنَّا بِشَرٍّ فَجَآءَ نَا اللهُ بِخَيْرٍ فَنَحْنُ فِيْهِ فَهَلْ مِنْ وَّرَآءِ هٰذَا الْخَيْرِ شَرٌّ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ هَلْ وَرَآءَ ذٰلِكَ الشَّرِّ خَيْرٌ قَالَ نَعَمْ فَقُلْتُ فَهَلْ وَرَآءَ ذٰلِكَ الْخَيْرِ شَرٌّ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ كَيْفَ قَالَ تَكُوْنُ بَعْدِىْ اَئِمَّةٌ لَايَهْتَدُوْنَ بِهُدَاىَ وَلَايَسْتَنُّوْنَ بِسُنَّتِىْ وَسَيَقُوْمُ فِيْهِمْ رِجَالٌ قُلُوْبُهُمْ قُلُوْبُ الشَّيَاطِيْنِ فِىْ جُثْمَانِ اِنْسٍ قَالَ قُلْتُ كَيْفَ اَصْنَعُ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنْ اَدْرَكْتُ ذٰلِكَ قَالَ تَسْمَعُ وَتُطِيْعُ لِلْاَمِيْرِ وَاِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ وَاُخِذَ مَالُكَ فَاسْمَعْ وَاَطِعْ.

ترجمه : دحذيفه بن اليمان رضى الله تعالى عنه نه روايت دے ماعرض اوكړو يارسول الله ﷺ مونږ په بدئ كښے وو بياالله تعالى نيكى راكړه اوس ددے نه پس څه بدى شته حضرت ﷺ اوفرمائيل هاں ،مااووے بيادهغے نۀ پس نيكى شته ؟ حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل هاں!مااووے بيادهغے نه پس بدى شته حضرت ﷺ اوفرمائيل هاں !مااووے څنګه ، حضرت ﷺ اوفرمائيل څمانه پس به هغه خلق حاكمان شى چه هغه به څماپه لاره نۀ چليږى، اوڅماپه سنتوبه عمل نۀ كوى، اوپه هغوئ كښے به داسے خلق وى چه دهغوئ زړۀ به دشيطان غوندى اوبدن به ئے دبنيادمو غوندې وى، ماعرض اوكړو يارسول الله ﷺ په دغه وخت كښ به زۀ څه كوم ؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل كچرے په تاداسے زمانه راغله نواوره اومنه دحاكم خبرے لره، اګركه هغه ستاملاوهى اوستامال اخلى خوبياهم دهغه خبره اوره څه اودهغه حكم منه۔

(۴۷۸۶) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ مَاتَ مِيْتَةً جَاهِلِيَّةً وَّمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عُمِّيَّةٍ يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ اَوْيَدْعُوْا اِلٰى عَصَبَةٍ اَوْيَنْصُرُ عَصَبَةً فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ ج.اهِلِيَّةٌ وَّمَنْ خَرَجَ عَلٰى اُمَّتِىْ يَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا وَلَايَتَحَاشٰى مِنْ مُّؤْمِنِهَا وَلَايَفِىْ لِذِىْ عَهْدٍ عَهْدَهٗ فَلَيْسَ مِنِّىْ وَلَسْتُ مِنْهُ. [نسائى ، ابن ماجه]

ترجمه : دابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى "كوم سړے چه دحاكم داطاعت نه بهرشى اودجماعت ملګرتياپريږدى اوبيا هغه مرشى نودهغه مرګ به دجاهليت غوندے وى، اوكوم سړے چه درندے جهنډے لاندے جنګيږى (دكوم جنګ چه صحيح والے په شريعت سره صفاصفا ثابت نۀ وى ، غسه وى دقوم دلحاظ نه يابللے وى دقوم دطرفنه يامدد كوى دقوم اودالله جل جلاله رضامندى ئے مقصود نۀ وى) بيا هغه مرشى

نو دهغه مرګ به دجاهلیت دزمانې په شان وي، اوکوم سړے چه ځماپه امت باندے لاس پورته کړي اونیکانو اوبدانو لره دهغوئ نه قتل کړي، اومؤمن هم پرینږدي اودکوموسره چه وعده شوے وي دهغوئ وعده پوره نۀ کړي نو هغه زماسره تعلق نۀ لري اوزۀ دهغه سره تعلق نۀ لرم (یعني هغه مسلمان نۀ دے)

(۴۷۸۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ ثُمَّ مَاتَ مَاتَ مِیْتَةً جَاهِلِیَّةً وَمَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَایَةٍ عُمِّیَّةٍ یَغْضَبُ لِلْعَصَبَةِ وَیُقَاتِلُ لِلْعَصَبَةِ فَلَیْسَ مِنْ اُمَّتِیْ وَمَنْ خَرَجَ مِنْ اُمَّتِیْ عَلٰی اُمَّتِیْ یَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا لَا یَتَحَاشٰی مِنْ مُؤْمِنِهَا وَلَا یَفِیْ لِذِیْ عَهْدِهَا فَلَیْسَ مِنِّیْ. [راجع: ۴۷۸۶]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلي دي "کوم سړے چه داطاعت نه اوځي اوجماعت پریږدي بیامړشي نو دهغه به مرګ دجاهلیت پشان وي، اوڅوك چه دضرر رسونکي جهنډے دلاندے اوړلے شي چه هغه دقوم دطرفنه غصه شوے وي لودقوم په خیال سره جنګیږي هغه ځمادامت نه نۀ دے، اوچه زماپه امت پسے دوهلودپاره را اوځي، اودهغوئ نیکانواوبدانو اومؤمنانولره هم پرینږدي دکوموسره چه وعده شوے وي هغه هم پوره نۀ کړي، نو هغه زمادامت نه نۀ دے۔

(۴۷۸۹) عَنْ غَیْلَانَ ابْنِ جَرِیْرٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ اَمَّا ابْنُ الْمُثَنّٰی فَلَمْ یَذْکُرِ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِی الْحَدِیْثِ وَاَمَّا ابْنُ بَشَّارٍ فَقَالَ فِیْ رِوَایَتِهٖ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِیْثِهِمْ.

ترجمه: ترجمه ددے هم هغه ده کومه چه پورته تیره شوه۔

(۴۷۹۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَرْوِیْهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَاٰی مِنْ اَمِیْرِهٖ شَیْئًا یَکْرَهُهٗ فَلْیَصْبِرْ فَاِنَّهٗ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَمَاتَ فَمِیْتَةٌ جَاهِلِیَّةٌ. [بخاری]

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي کوم سړے چه دخپل حاکم نه بده خبره اووینی هغه دې صبراوکړي ځکه چه څوك دجماعت نه یوه لویشت قدرے جدا شي، نو دهغه مرګ به دجاهلیت مرګ وي۔

(۴۷۹۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ کَرِهَ مِنْ

اَمِیْرِهٖ شَیْئًا فَلْیَصْبِرْ عَلَیْهِ فَاِنَّهٗ لَیْسَ اَحَدٌ مِّنَ النَّاسِ یَخْرُجُ مِنَ السُّلْطَانِ شِبْرًا فَمَاتَ فَمِیْتَةٌ جَاهِلِیَّةٌ.

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "کوم انسان چه دخپل حاکم نه بده خبره اووینی هغه دی صبر کوی ولے چه څوك دخپل بادشاه نه دیوے لویشتے په مقدار جدا شی اوبیا مړشی په دغه حال کښے، دهغه مرګ به دجاهلیت په شان مرګ وی۔

(۴۷۹۲) عَنْ جُنْدُبِ ابْنِ عَبْدِاللهِ الْبَجَلِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَایَةٍ عُمِّیَّةٍ یَدْعُوْا عَصَبِیَّةً اَوْیَنْصُرُ عَصَبِیَّةً فَقِتْلَةٌ جَاهِلِیَّةٌ. [نسائی]

ترجمه: دجندب بن عبدالله بجلی ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم انسان چه دتیرے جهنډے دلاندے قتل کړے شی، اود هغه دتعصب اوقومی طرفدارئ په طرف رابللے شوے وی یادقومی تعصب مدد کوی نو دهغه قتل به دجاهلیت دهغے پشان وی۔

(۴۷۹۳) عَنْ نَافِعٍ قَالَ جَآءَ عَبْدُاللهِ ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اِلٰی عَبْدِاللهِ ابْنِ مُطِیْعٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ حِیْنَ کَانَ مِنْ اَمْرِالْحَرَّةِ مَاکَانَ زَمَنَ یَزِیْدَ ابْنِ مُعَاوِیَةَ فَقَالَ اَطْرِحُوْا لِاَبِیْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ وِسَادَةً فَقَالَ اِنِّیْ لَمْ اٰتِکَ لِاَجْلِسَ اَتَیْتُکَ لِاُحَدِّثَکَ حَدِیْثًا سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ مَنْ خَلَعَ یَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِیَ اللهَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ لَاحُجَّةَ لَهٗ وَمَنْ مَاتَ وَلَیْسَ فِیْ عُنُقِهٖ بَیْعَةٌ مَاتَ مِیْتَةً جَاهِلِیَّةً.

ترجمه: دنافع ؓ نه روایت دے وائی چه عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما دعبدالله بن مطیع ؓ خواله راغے، هرکله چه دحره واقعه دیزید بن معاویه په زمانه کښے اوشوه، (هغه په مدینه منوره باندے لښکر اولیږلو اومدینے والاپه حره کښے (چه دمدینے سره په خواه کښے یو مقام دے) قتل شولو اوقسم قسم ظلم په مدینے والاؤ باندے اوشو، عبدالله بن مطیع ؓ اووے دابوعبدالرحمن ؓ (داکنیت دے دعبدالله بن عمر ؓ) دپاره توشك خورکړه، هغوئ اووے زۀ ددے دپاره نه یم راغلے چه کینم بلکه تاسوته دیو حدیث اوره ولو دپاره راغلم چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلے دے، حضرت ﷺ فرمائیلی وو څوك چه خپل لاسونه داطاعت نه اوباسی هغه به دقیامت په ورځ دالله جل جلاله سره میلاویږی اوځه دلیل به دهغه سره نۀ وی، اوکوم سړے چه مړشی اوهیچانه هغه بیعت نه وی کړے،نو دهغه مرګ به دجاهلیت غوندی وی۔

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه په مسلمانانو باندے دامام مقرر کول واجب دی، اوبغیر دامام نه اوسیدل ښه نهٔ دی، ورنه مرګ به دجاهلیت مرګ وی، پس دخپلے خاتمے پخیر کولو دپاره اودهغه وعید نه دبچ کیدو دپاره هرڅوك چه وی خو چه دامام والی مستحق وی امام مقرر کړی، اودهغه نه دبیعت اوکړی۔

(۴۷۹۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّهُ اَتَى ابْنَ مُطِيعٍ فَذَكَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دتیرشوی حدیث پشان ده۔

(۴۷۹۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دمخکښیے تیرشوی حدیث په شان ده۔

بَابُ حُكْمِ مَنْ فَرَّقَ أَمْرَ الْمُسْلِمِيْنَ وَهُوَ مُجْتَمِعٌ

څوك چه دمسلمانانو په اتفاق کښے خلل غورځوی دهغے حکم

(۴۷۹۶) عَنْ عَرْفَجَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّهُ سَتَكُوْنُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ فَمَنْ اَرَادَ اَنْ يُفَرِّقَ اَمْرَ هٰذِهِ الْاُمَّةِ وَهِيَ جَمِيْعٌ فَاضْرِبُوْهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ.

[ابوداود، نسائی،]

ترجمه: دعرفجهؓ نه روایت دے وائی چه مااوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلو ئے "نزدے دی فتنے اوفسادونه، پس هرهغه څوك چه ددے امت اتفاق ورانول اوغواړی، نو هغه له په توره سره اووهئ، دغه که هرڅوك چه وی۔

فائده: کچرے هغه قلارنهٔ شو دخپل کار نه په پوهه کولو سره نو دهغه وینه مباح ده۔

(۴۷۹۷) عَنْ عَرْفَجَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ اَنَّ فِيْ حَدِيْثِهِمْ جَمِيْعًا فَاقْتُلُوْهُ. [راجع: ۴۷۹۶]

ترجمه: ددے ترجمه هم داوس تیرشوی حدیث په شان ده۔

(۴۷۹۸) عَنْ عَرْفَجَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ

اتاکُمْ وَاَمْرُکُمْ جَمِیْعٌ عَلٰی رَجُلٍ وَّاحِدٍ یُرِیْدُاَنْ یَّشُقَّ عَصَاکُمْ اَوْیُفَرِّقَ جَمَاعَتَکُمْ فَاقْتُلُوْهُ.

ترجمه: دعرفجه ؓ نه روایت دے وائی چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو "څوك چه ستاسو خواله راغے اوتاسوټول دیوسړی په قیادت کښے جمع شوی وئ اوهغه غوښته چه په تاسو کښے دشمنی اوجدائی راولی، نو هغه لره قتل کړئ.

باب اذابویع لخلیفتین

هرکله چه ددوه خلیفه ګانو سره بیعت اوشی

(۴۷۹۹) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا بُوْیِعَ لِخَلِیْفَتَیْنِ فَاقْتُلُوْا الْاٰخِرَمِنْهُمَا.

ترجمه: دحضرت ابوسعید رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "هرکله چه ددوه خلیفه ګانو سره بیعت اوکړے شی، نودکوم سره چه په آخرکښے بیعت شوے وی هغه لره قتل کړئ، (ځکه چه دهغه خلافت دړومبی خلیفه په موجودګئ کښے باطل دے)

باب وجوب الانکار علی الامرآء فیما یخالف الشرع

کچرے امیردشرع خلاف څه کار اوکړی نوهغے لره بدګڼل پکار دی

(۴۸۰۰) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَتَکُوْنُ اُمَرَآءُ فَتَعْرِفُوْنَ وَتُنْکِرُوْنَ فَمَنْ عَرَفَ بَرِیٔ وَمَنْ اَنْکَرَسَلِمَ وَلٰکِنْ مَّنْ رَّضِیَ وَتَابَعَ قَالُوْا اَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ قَالَ لَامَاصَلُّوْا. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: دمؤمنانو دمور ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل نزدے ده چه پتاسوباندے امیر مقرر شی تاسوبه دهغوئ بنه کارونه هم اووینی اوبد هم، پس چا چه دیوبدکارلره اوپیژندو هغه بری شولو (کچرے هغه لره منع کړی په لاس یاژبه یازړۀ سره) اوچا چه بدکارلره بد اوګڼړو هغه هم بچ شولو. لیکن څوك چه په بد کار راضی شولو اودهغه پیروی ئے اوکړه (هغه تباه شولو) صحابه کرامو ؓ عرض اوکړو یارسول الله ﷺ!

مونږ دداسې اميرانو سره جنګ اونۀ کړو؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل نۀ دکومې پورې چه هغه مونځ اداکوي، (اوکچرې مونځ هم پرېږدي نو هغه قتل کړئ اودامارت نه ئې معزوله کړئ)

(۴۸۰۱) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ يُسْتَعْمَلُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ فَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ بَرِئَ وَمَنْ أَنْكَرَ فَقَدْ سَلِمَ وَلٰكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ قَالُوا يَارَسُولَ اللهِ أَلَا نُقَاتِلُهُمْ قَالَ لَامَاصَلَّوْا أَيْ مَنْ كَرِهَ بِقَلْبِهِ وَأَنْكَرَ بِقَلْبِهِ.

ترجمه: دام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل "پتاسو باندے به داسے اميران مقرر کيږی چه دهغوئ به تاسو بنه کارونه هم اوګورئ اوبدهم، پس هرهغه څوك چه دهغه بدکار لره بداوګنړی هغه دګناه نه بچ شولو، اوچاچه ورته بد اووے هغه هم بچ شولو، ليکن څوك چه پرے راضی شولو اودهغه پيروی ئے اوکړه (هغه تباه شولو) خلقوعرض اوکړو يارسول الله ﷺ !مونږ به دهغه سره جنګ کوؤ؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل نۀ دکومے پورے چه هغه مونځ اداکوی ،(بدئے ورته اووے يعنی په زړۀ اداکوی، (بدئے ورته اووے يعنی په زړۀ کښے ئے ورته بد اووے اوپه زړۀ سره ئے بداوګنړواګرکه په ژبه سره نۀ شی وئيلے.

(۴۸۰۲) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ ذٰلِكَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَمَنْ أَنْكَرَ فَقَدْ بَرِئَ وَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ سَلِمَ.

ترجمه: ترجمه ددے حديث دپورته حديث په شان ده۔

(۴۸۰۳) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ فَذَكَرَ مِثْلَهُ إِلَّا قَوْلَهُ وَلٰكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ لَمْ يَذْكُرْهُ.

ترجمه: ددے هم ترجمه دپورته حديث په شان ده۔

باب خيار الائمة وشرارهم

دښو اوبدو حاکمانو بيان

(۴۸۰۴) عَنْ عَوْفِ ابْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ وَتَلْعَنُونَهُمْ

وَيَلْعَنُونَكُمْ قِيلَ يَارَسُوْلَ اللهِ اَفَلَانُنَابِذُهُمْ بِالسَّيْفِ فَقَالَ لَامَااَقَامُوْا فِيْكُمُ الصَّلٰوةَ وَاِذَارَأَيْتُمْ مِّنْ وُّلَاتِكُمْ شَيْئًا تَكْرَهُوْنَهُ فَاكْرَهُوْا عَمَلَهُ وَلَاتَنْزِعُوْا يَدًا مِّنْ طَاعَتِهِ .

ترجمه: دعوف بن مالكؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي "غوره حاكمان ستاسو هغه دي كوم چه تاسو غواړئ او هغه تاسو غواړي، هغه ستاسو دپاره دعاكوي اوتاسو دهغوئ دپاره دعا كوئ، اوبد حاكمان ستاسو هغه دي، چه هغه ستاسو دشمنان دي اوتاسو دهغوئ دشمنان يئ، تاسو په هغوئ باندے لعنت كوئ او هغه په تاسو باندے لعنت كوي، خلقو عرض اوكړو يارسول الله ﷺ !مونږ به داسے بدحاكمان په توره سره نه دفع كوؤ؟ حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل چه نۀ دكومے پورے چه هغه مونځ پتاسو كښے قائموي، اوهركله چه تاسو څه خبره په خپلو حاكمانو كښے اوګورئ نوپه زړه سره هغه بدګڼړئ ليكن دهغوئ داطاعت نه بهرنۀ شئ، (يعني بغاوت مۀ كوئ،)

(۴۸۰۵) عَنْ عَوْفِ ابْنِ مَالِكِ الْاَشْجَعِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ خِيَارُ اَئِمَّتِكُمُ الَّذِيْنَ تُحِبُّوْنَ هُمْ وَيُحِبُّوْنَكُمْ وَتُصَلُّوْنَ وَشِرَارُ اَئِمَّتِكُمُ الَّذِيْنَ تُبْغِضُوْنَهُمْ وَيُبْغِضُوْنَكُمْ وَتَلْعَنُوْنَهُمْ وَيَلْعَنُوْنَكُمْ قَالَ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ اَفَلَانُنَابِذُهُمْ عِنْدَذٰلِكَ قَالَ لَامَااَقَامُوْا فِيْكُمُ الصَّلٰوةَ اِلَّامَنْ وَّلِيَ عَلَيْهِ وَالٍ فَرَاٰهُ يَاْتِيْ شَيْئًا مِّنْ مَّعْصِيَةِ اللهِ فَلْيَكْرَهْ مَايَاْتِيْ مِنْ مَّعْصِيَةِ اللهِ وَلَايَنْزِعَنَّ يَدًا مِّنْ طَاعَةٍ قَالَ ابْنُ جَابِرٍ فَقُلْتُ يَعْنِيْ لِرُزَيْقٍ حِيْنَ حَدَّثَنِيْ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ آللهِ يَااَبَاالْمِقْدَامِ لَحَدَّثَكَ بِهٰذَا اَوْسَمِعْتَ هٰذَا مِنْ مُّسْلِمِ ابْنِ قَرَظَةَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ عَوْفَ ابْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَثَاعَلٰى رُكْبَتَيْهِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَقَالَ اِيْ وَاللهِ الَّذِيْ لَااِلٰهَ اِلَّاهُوَ لَسَمِعْتُهُ مِنْ مُّسْلِمِ ابْنِ قَرَظَةَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ عَوْفَ ابْنَ مَالِكٍ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

ترجمه: دعوف بن مالك رضي الله تعالى عنه نه روايت دے وائي چه مادرسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو "بهتر حاكمان ستاسو هغه دي چه هغوئ لره تاسو غواړئ او هغوئ تاسو لره غواړي تاسو دهغوئ دپاره دعاكوئ او هغه ستاسو دپاره دعاكوي، اوبدحاكمان ستاسو هغه دي چه دهغوئ تاسو دشمنان يئ، تاسو په هغوئ باندے لعنت كوئ او هغوئ په

تاسو باندے لعنت کوی" خلقو عرض اوکړو یارسول الله ﷺ داسے بد حاکم لره مونږ لرے نۀ کړو حضرت ﷺ اوفرمائیل نه دکومے پورے چه پتاسو کښے مونځ قائموی ،لیکن هرکله چه څوک یو حاکم لره دګناه په خبره کولو اووینی نو هغه خبره دی بده اوګڼړی او دهغه داطاعت نه دی بهر کیږی نۀ، ابن جابرؓ وائی چه ددے حدیث راوی دے چه مارزیق بن حیانؓ ته اووے هرکله چه هغوئ داحدیث بیان کړو، چه اے ابوالمقدام تاته مسلمه بن قرظه داحدیث بیان کړے دے هغه وائی چه مادعوفؓ نه اوریدلے دے اوهغوئ وائی چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلے دے، ددے په اوریدو درزیق دزنګونانو په سرکنیبناستو اوقبلے طرفته ئے مخ کړو اواوئے وئیل بیشکه قسم دے په هغه الله جل جلاله چه دهغه نه سوا بل معبود نشته چه ماداحدیث دمسلم بن قرظه نه اوریدلے دے هغه وئیلو چه مادعوف بن مالكؓ نه اوریدلے دے اوهغویؓ وئیلو چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلے دے ۔

(۴۸۰۶) عَنْ عَوْفِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ مُبَايَعَةِ الْإِمَامِ الْجَيْشَ عِنْدَإِرَادَةِ الْقِتَالِ

دجنګ په موقعه دمجاهدینو نه بیعت اخستل مستحب دی

(۴۸۰۷) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ أَلْفًا وَّأَرْبَعَ مِائَةٍ فَبَايَعْنَاهُ وَعُمَرُ اٰخِذٌ بِيَدِهٖ تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَهِيَ سَمُرَةٌ وَقَالَ بَايَعْنَاهُ عَلٰى اَنْ لَّا نَفِرَّ وَلَمْ نُبَايِعْهُ عَلَى الْمَوْتِ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ دحدیبیه په ورځ یوزرڅلور سوه سړی وونو مونږ بیعت اوکړو درسول الله ﷺ نه، اوحضرت عمر درضوان دونے لاندے دحضرت ﷺ لاس نیولے وو او هغه دسمره ونه وه، (سمره یو ځنګلی ونه ده چه په ریګستان کښے کیږی) لومونږ بیعت اوکړو دحضرت ﷺ سره په دے شرط باندے چه نه به تښتو اودابیعت مو اونۀ کړو چه ترمرګه پورے۔

(۴۸۰۸) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَمْ نُبَايِعْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمَوْتِ اِنَّمَا بَايَعْنَاهُ عَلٰى اَنْ لَّا نَفِرَّ.

ترجمه: دجابرؓ نه روایت دے چه مونږ درسول الله ﷺ نه پرمرګ باندے بیعت نۀ وو کړے، بلکه په نۀ تښتیدو باندے مو کړے وو۔

(۴۸۰۹) عَنْ اَبِی الزُّبَیْرِ اَنَّهٗ سَمِعَ جَابِرًرَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَسْاَلُ کَمْ کَانُوْا یَوْمَ الْحُدَیْبِیَۃِ قَالَ کُنَّا اَرْبَعَ عَشْرَۃَ مِائَۃً فَبَایَعْنَاهُ وَعُمَرُ اٰخِذٌ بِیَدِهٖ تَحْتَ الشَّجَرَۃِ وَهِیَ سَمُرَۃٌ فَبَایَعْنَاهُ غَیْرَ جَدِّ ابْنِ قَیْسٍ الْاَنْصَارِیِّ اخْتَبَأَ تَحْتَ بَطْنِ بَعِیْرِهٖ.

ترجمه: ابوالزبیرؓ دجابرؓ نه اوریدلی دی چه دهغویٔ نه تپوس اوشو چه دحدیبیے په ورځ خومره سړی وو، هغویٔ اووے مونږ څوارلس سوه سړی وونو مونږ دحضرت ﷺ نه بیعت اوکړو اوحضرت عمرؓ دسمره ونے لاندے دحضرت ﷺ لاس نیولے وو، بیا مونږ ټولو دحضرت ﷺ نه بیعت اوکړو مګر جدبن قیس انصاری بیعت اونۀ کړو هغه دخپل اوښ دګیډے لاندے پټ شولو۔

(۴۸۱۰) عَنْ اَبِی الزُّبَیْرِ اَنَّهٗ سَمِعَ جَابِرًا یُسْاَلُ هَلْ بَایَعَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِذِی الْحُلَیْفَۃِ فَقَالَ لَا وَلٰکِنْ صَلّٰی بِهَا وَلَمْ یُبَایِعْ عِنْدَ شَجَرَۃٍ اِلَّا الشَّجَرَۃَ الَّتِیْ بِالْحُدَیْبِیَۃِ قَالَ ابْنُ جُرَیْجٍ وَاَخْبَرَنِیْ اَبُو الزُّبَیْرِ اَنَّهٗ سَمِعَ جَابِرَ ابْنَ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ دَعَا النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَلٰی بِئْرِ الْحُدَیْبِیَۃِ.

ترجمه: ابوالزبیر رضی الله تعالی عنهم دجابرؓ نه اوریدلی دی چه دهغویٔ نه تپوس اوشو چه اے رسول الله ﷺ بیعت اخستے وو په ذوالحلیفه کښے هغویٔ اووے نۀ لیکن حضرت ﷺ هلته مونځ لوستلے وو، اودبلے یوے ونے په خواه کښے ئے بیعت نۀ دے اخستے مګر دحدیبیے دونے په خواه کښے، ابن جریجؓ وائی ماته ابوالزبیرؓ بیان کړے دے اوهغویٔ اوریدلی دی دجابر رضی الله تعالی عنه نه چه رسول الله ﷺ دعا اوکړه دحدیبیے په کوهی باندے (دهغے اوبه زیاتے شوے، اوداقصه پورته تیره شوے ده)

(۴۸۱۱) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنَّا یَوْمَ الْحُدَیْبِیَۃِ اَلْفًا وَاَرْبَعَ مِائَۃٍ فَقَالَ لَنَا النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْتُمُ الْیَوْمَ خَیْرُ اَهْلِ الْاَرْضِ وَقَالَ جَابِرٌ لَوْ کُنْتُ اُبْصِرُ لَاَرَیْتُکُمْ مَوْضِعَ الشَّجَرَۃِ. [بخاری]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ دحدیبیے په ورځ

خوارلس سوه سری وو رسول الله ﷺ اوفرمائیل "نن ورځ تاسو دتمامو زمکے والاؤنه غوره یئ." اوجابرؓ اووے کچرے زما نظروے نو ما به تاسو ته دهغه ونے ځائے ښودلے وے۔

فائده : ولے چه هغه ونه باقی پاتے نۀ وه، هغے لره حضرت عمرؓ پریکړے وه، هرکله چه نے دلواوریدل چه خلق ددے نه خواؤشاته راجمع کیږی۔

(۴۸۱۲) عَنْ سَالِمِ ابْنِ اَبِی الْجَعْدِقَالَ سَأَلْتُ جَابِرَ ابْنَ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ اَصْحَابِ الشَّجَرَةِ فَقَالَ لَوْ کُنَّامِائَةَ اَلْفٍ لَکَفَانَا کُنَّا اَلْفًا وَّخَمْسَ مِائَةٍ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه : دسالم بن ابی الجعدؓ نه روایت دے وائی چه ما دجابر بن عبداللهؓ نه تپوس اوکړو چه اصحاب شجره څوتنه وو، هغویؓ اووے کچرے مونږ یولاکه کسان وئے بیا به هم مونږ ته دهغه ځائے کوهے پوره وو، (ولے چه دحضرت ﷺ په دعاسره دهغے اوبه ډیرے زیاتے شوے وے) اومونږه پنځلس سوه سری وو۔

(۴۸۱۳) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَوْ کُنَّامِائَةَ اَلْفٍ لَکَفَانَا کُنَّاخَمْسَ عَشَرَةَ مِائَةٍ.

ترجمه : ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۸۱۴) عَنْ سَالِمِ ابْنِ اَبِی الْجَعْدِقَالَ قُلْتُ لِجَابِرٍ کَمْ کُنْتُمْ یَوْمَئِذٍ قَالَ اَلْفًا وَّاَرْبَعَ مِائَةٍ.

ترجمه : دسالم بن ابی الجعدؓ نه روایت دے وائی چه ما دجابرؓ نه تپوس اوکړو چه تاسو څومره سری وئ په هغه ورځ هغویؓ اووے څوارلس سوه سری وو ۔

(۴۸۱۵) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ اَبِی اَوْفٰی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کَانَ اَصْحٰبُ الشَّجَرَةِ اَلْفًا وَّثَلاثَ مِائَةٍ وَّکَانَتْ اَسْلَمُ ثُمُنَ الْمُهَاجِرِیْنَ. [بخاری]

ترجمه : دعبدالله بن ابی اوفی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه اصحاب شجره دیارلس سوه سری وو اوداسلم خلق دمهاجرینو اتمه حصه وو۔

(۴۸۱۶) عَنْ مَعْقِلِ ابْنِ یَسَارٍ قَالَ لَقَدْرَأَیْتُنِیْ یَوْمَ الشَّجَرَةِ وَالنَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یُبَایِعُ النَّاسَ وَ اَنَارَافِعٌ غُصْنًا مِنْ اَغْصَانِهَا عَنْ رَّأْسِهٖ وَنَحْنُ اَرْبَعَ عَشَرَةَ مِاْئَةً قَالَ لَمْ نُبَایِعُهٗ عَلَی الْمَوْتِ وَلٰکِنْ بَایَعْنَاهُ عَلٰٓی اَنْ لَّانَفِرَّ.

ترجمه : دمعقل بن یسارؓ نه روایت دے وائی چه ما خپل ځان لره دشجره په ورځ اولیدو، اورسول

الله ﷺ بیعت اخستلو دخلقو نه، او مایوه ځانګه دونے دهغوی ﷺ دسر د پاسه نیولے وه مونږ ځوارلس سوه سړی وو، او مونږ دحضرت ﷺ نه بیعت نۀ وو کړے په مرګ باندے بلکه په نۀ تښتیدو مو بیعت کړے وو۔

(۴۸۱۸) عَنْ یُوْنُسَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ .

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۴۸۱۹) عَنْ سَعِیْدِابْنِ الْمُسَیَّبِ قَالَ کَانَ اَبِیْ مِمَّنْ بَایَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلّٰی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَالشَّجَرَةِ قَالَ فَانْطَلَقْنَا فِیْ قَابِلٍ حَآجِّیْنَ فَخَفِیَ عَلَیْنَا مَکَانُهَا فَاِنْ کَانَتْ تَبَیَّنَتْ لَکُمْ فَاَنْتُمْ اَعْلَمُ. [بخاری]

ترجمه: دسعید بن مسیبؒ نه روایت دے وائی چه ځما پلار دهغه خلقو نه وو چا چه درضوان دونے په خواه کښے درسول الله ﷺ نه بیعت کړے وو هغویؒ وائی هرکله چه مونږ په دوباره حج له راغلو نو دهغه ونے ځائے هغوی معلوم نۀ شولو کچرے تاته معلوم وی نو تۀ زیات خبردار ئے۔

(۴۸۲۰) عَنْ سَعِیْدِابْنِ الْمُسَیَّبِ عَنْ اَبِیْهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُمْ کَانُوْا عِنْدَرَسُوْلِ اللهِ صَلّٰی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الشَّجَرَةِ قَالَ فَنَسُوْهَا مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ.

ترجمه: سعیدبن المسیبؒ دخپل پلار نه روایت کړے دے، چه هغه درسول الله ﷺ سره وو دشجره په خواه کښے په کوم کال چه بیعت اوشو بیا په دویم کال دصحابه کرامو نه هغه ونه هیره وه۔

(۴۸۲۱) عَنْ سَعِیْدِابْنِ الْمُسَیَّبِ عَنْ اَبِیْهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَقَدْرَاَیْتُ الشَّجَرَةَ ثُمَّ اَتَیْتُهَابَعْدُفَلَمْ اَعْرِفْهَا. [راجع: ۴۸۱۲]

ترجمه: سعیدبن مسیبؒ دخپل پلار نه روایت کړے دے وائی چه ماشجره رضوان لیدلے وه لیکن بیا چه زۀ دهغے خواله راغلم نو اومی نۀ پیژنده۔

فائده: نوویؒ وئیلی دی دهغه ونے په پټیدو کښے دامصلحت وو چه ناپوهه خلق بیا دهغے عبادت شروع نۀ کړی، نو دهغے پټیدلے دالله تعالی رحمت دے۔

(۴۸۲۲) عَنْ یَزِیْدَابْنِ اَبِیْ عُبَیْدٍ قَالَ قُلْتُ لِسَلَمَةَ عَلٰی اَیِّ شَیْءٍ بَایَعْتُمْ رَسُوْلَ اللهِ صَلّٰی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ الْحُدَیْبِیَةِ قَالَ عَلَی الْمَوْتِ. [بخاری، ترمذی، نسائی،]

ترجمه: دیزید بن ابوعبیده نه روایت دے وائی چه مادسلمهؓ نه تپوس اوکړوتاسوپه کومه خبره درسول الله ﷺ نه بیعت اوکړو، هغوئ اووے په مرګ باندے۔

(۴۸۲۳) عَنْ سَلَمَةَ بِمِثْلِهِ

ترجمه: په دے سند سره هم مذکوره بالا حدیث نقل شوے دے۔

(۴۸۲۴) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَتَاهُ اٰتٍ فَقَالَ هَاذَاكَ ابْنُ حَنْظَلَةَ يُبَايِعُ النَّاسَ فَقَالَ عَلٰى مَاذَا قَالَ عَلَى الْمَوْتِ قَالَ لَا اُبَايِعُ عَلٰى هٰذَا اَحَدًا بَعْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: دعبدالله بن زیدؓ نه روایت دے وائی چه دهغوئ خواله یوسړی راغے اواوئے وئیل دادحنظلهؓ ځوئ دے چه دخلقونه په مرګ باندے بیعت اخلی هغوئ اووے زهٔ داسے بیعت دهیچا سره کولو والانه یم درسول الله ﷺ نه پس۔

فائده: نوویؒ وائی په مرګ باندے بیعت کول یاپه نهٔ تختیدو باندے ددواړومطلب یودے، اوپه شروع داسلام کښے دلسو کافرانو دمقابلے نه تښتیدل منع وو، بیاالله تعالی آسانی اوکړه اود ددوو کافرانو نه دیو مسلمان تښتیدل منع دی، ددے نه زیات کچرے وی نوجائز دی۔

بَابُ تَحْرِيْمِ رُجُوْعِ الْمُهَاجِرِيْنَ اِلَى اسْتِيْطَانِ وَطَنِهٖ

څوک چه دخپل وطن نه هجرت اوکړی لاړشی بیاهغه لره هلته راتلل اووطن جوړول حرام دی

(۴۸۲۵) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّهُ دَخَلَ عَلَى الْحَجَّاجِ فَقَالَ يَابْنَ الْاَكْوَعِ اِرْتَدَدْتَ عَلٰى عَقِبَيْكَ تَعَرَّبْتَ قَالَ لَا وَلٰكِنْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَذِنَ لِيْ فِي الْبَدْوِ.

[بخاری، نسائی]

ترجمه: دسلمه بن اکوع رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، چه هغوئؓ دحجاج خواله لاړو، حجاج اووے اے داکوع ځویه تهٔ مرتد شولے اوپه ځنګل کښے اوسیږے سلمهؓ اووے نه بلکه رسول الله ﷺ ماته په ځنګل کښے داوسیدو اجازت راکړے دے۔

فائده: قاضی عیاضؒ وائی علماؤ اتفاق کړے دے چه مهاجرولره بیاخپل وطن ته واپس

کیدل او هغې لره بیا خپل وطن جوړول حرام دی او څکه خو حجاج اعتراض اوکړو په سلمه ؓ باندې، او سلمه ؓ جواب ورکړو چه زهٔ د رسول الله ﷺ په اجازت سره داسې کوم. لوکیدې شی هغهٔ خپل وطن ته واپس نهٔ وی تلې، بلکه بل ځائې چرته په ځنګل کښې اوسیدلې وی۔

دوئم دا چه د هجرت نه چه څه غرض وو هغه د رسول الله ﷺ مدد وو. او هغه د مکې په فتح کیدو سره ختم شولو، اوس د هغې نه پس هجرت فرض نهٔ وو، په دغه وجه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه د مکې د فتح نه پس هجرت نه دې پاتې (انتهی مختصراً)

بَابُ الْمُبَايَعَةِ بَعْدَ فَتْحِ مَكَّةَ عَلَى الْإِسْلَامِ وَالْجِهَادِ وَالْخَيْرِ وَبَيَانِ مَعْنٰى لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ

د مکې د فتح کیدو نه پس په اسلام یا جهاد یا نیکئ باندې بیعت کول او د هغې نه پس د هجرت نهٔ کیدو معنی

(۴۸۲۶) عَنْ مُجَاشِعِ ابْنِ مَسْعُوْدِ السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُبَايِعُهُ عَلَى الْهِجْرَةِ فَقَالَ اِنَّ الْهِجْرَةَ قَدْ مَضَتْ لِاَهْلِهَا وَلٰكِنْ عَلَى الْاِسْلَامِ وَالْجِهَادِ وَالْخَيْرِ .[بخاری]

ترجمه: د مجاشع بن مسعود سلمی ؓ نه روایت دې چه زهٔ د رسول الله ﷺ خوا له راغلم د هجرت بیعت کولو له، حضرت ﷺ اوفرمائیل "هجرت خو تیر شولو د مهاجرینو د پاره، لیکن بیعت اوکړه په اسلام باندې یا په جهاد باندې یا په نیکئ کولو باندې۔

(۴۸۲۷) عَنْ مُجَاشِعِ ابْنِ مَسْعُوْدِ السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جِئْتُ بِاَخِيْ اَبِيْ مَعْبَدٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الْفَتْحِ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَايِعْهُ عَلَى الْهِجْرَةِ قَالَ مَضَتِ الْهِجْرَةُ بِاَهْلِهَا قُلْتُ فَبِاَيِّ شَيْءٍ تُبَايِعُهُ قَالَ عَلَى الْاِسْلَامِ وَالْجِهَادِ وَالْخَيْرِ قَالَ اَبُوْ عُثْمَانَ فَلَقِيْتُ اَبَا مَعْبَدٍ فَاَخْبَرْتُهُ بِقَوْلِ مُجَاشِعٍ فَقَالَ صَدَقَ.

ترجمه: د مجاشع ؓ نه روایت دې چه ما خپل رور ابو سعید ؓ لره د رسول الله ﷺ خوا له راوستو د مکې د فتح کیدو نه پس، او ما اووې یا رسول الله ﷺ دده نه بیعت واخلئ په هجرت باندې، حضرت ﷺ اوفرمائیل هجرت د مهاجرینو سره اوشولو، ما اووې بیا په څه شی باندې

تاسو ﷺ بیعت اخلی؛ دده نه حضرت ﷺ اوفرمائیل په اسلام باندے اوپه جهاد باندے اوپه نیکئ باندے ابوعثمانؒ وئیلی دی چه زهٔ دابوسعیدؓ سره سیلاؤشوم اوهغوئ ته می دمجاشعؓ وینا بیان کړه هغویؓ اووے مجاشعؓ ربنتیاوائی۔

(۴۸۲۸) عَنْ عَاصِمٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ فَلَقِيْتُ اَخَاهُ فَقَالَ صَدَقَ مُجَاشِعٌ وَلَمْ يَذْكُرْ اَبَامَعْبَدٍ.

ترجمه: ترجمه هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه۔

(۴۸۲۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ لَاهِجْرَةَ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَّنِيَّةٌ وَاِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوْا۔ [راجع: ۳۳۰۳]

ترجمه: دعبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے، وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل "په کومه ورځ چه مکه فتح شوه اوس هجرت نشته دے، لیکن جهاد دے اونیك نیت دے، اوهرکله چه تاسوته اووئیلے شی جهاد ته دوتلودپاره نوتاسواوځئ دجهاد دپاره۔

فائده: نوویؒ وائی زمونږ ملګرووئیلی دی چه هجرت ددارالحرب نه دارالاسلام طرفته همیشه قائم دے دقیامته پورے، اوددے حدیث مطلب دادے چه اوس دمکے نه هجرت پاتے نهٔ شولے چه مکه داراسلام شولودهغه درجے هجرت کوم چه دفتح مکے نه مخکښے وو اوس پاتے نهٔ شو نهٔ ئے اوس دومره ثواب شته۔

(۴۸۳۰) عَنْ مَنْصُوْرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ.

ترجمه: هم دغه ترجمه ده کومه چه پورته تیره شوه۔

(۴۸۳۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْهِجْرَةِ فَقَالَ لَاهِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ وَلٰكِنْ جِهٰدٌ وَّنِيَّةٌ وَاِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوْا.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه درسول الله ﷺ نه دهجرت په باره کښے تپوس اوکړے شو، حضرت ﷺ اوفرمائیل چه دمکے دفتح کیدو نه پس هجرت پاتے نهٔ دے لیکن جهاد دے اونیت دے، اوهرکله چه تاسوته دجهاد دوتلودپاره اووئیلے شی نواوځئ۔

(۴۸۳۲) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ اَعْرَابِيًّا سَاَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ

الْهِجْرَةِ فَقَالَ وَيْحَکَ اِنَّ شَانَ الْهِجْرَةِ لَشَدِيْدٌ فَهَلْ لَکَ مِنْ اِبِلٍ فَقَالَ نَعَمْ قَالَ فَهَلْ تُوءُ تِيْ صَدَقَتَهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَاعْمَلْ مِنْ وَّرَآءِ الْبِحَارِ فَاِنَّ اللهَ لَنْ يَّتِرَکَ مِنْ عَمَلِکَ شَيْئًا.[بخاری،ابو داود،نسائی]

ترجمه: دحضرت ابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یوبانډه چی درسول الله ﷺ نه دهجرت په باره کښے تپوس اوکړو حضرت ﷺ اوفرمائیل الله ! هجرت ډیر مشکل دے (یعنی خپل وطن پریخودل اوپه مدینه کښے څماسره اوسیدل اوداحضرت ﷺ څکه اوفرمائیل چه کچرے دده نه اوښ شي نوبیابه ورته هجرت ماتول پریوځی) ستاسره اوښان شته ؟ هغه اووے هاں حضرت ﷺ اوفرمائیل ته دسمندرونو نه دهغے دپورے ویستوعمل کوه، الله تعالی به ستایوعمل لره نۀ ضائع کوی۔

(۴۸۳۳) عَنِ الْاَوْزَاعِيِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ اِنَّ اللهَ لَنْ يَّتِرَکَ مِنْ عَمَلِکَ شَيْئًا وَّزَادَ فِي الْحَدِيْثِ قَالَ فَهَلْ تَحْتَلِبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا قَالَ نَعَمْ. [راجع : ۴۸۳۲]

ترجمه: هم دغه ترجمه ده کومه چه پورته تیرشوه، په دے کښں دادی چه الله تعالی به ستایوعمل هم پرے نږدی، دومره زیات دے، چه ته دهغوئ پۍ لوشے هرکله چه هغه اوبو څښلوته راځی، هغه اووے هاں۔

بَابُ كَيْفِيَّةِ بَيْعَةِ النِّسَآءِ

ښځے به څنګه بیعت کوی۔

(۴۸۳۴) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَتِ الْمُوْمِنَاتُ اِذَاهَاجَرْنَ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُمْتَحَنَّ يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى "يَاۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَاجَآءَ کَ الْمُوْمِنَاتُ يُبَايِعْنَکَ عَلٰى اَنْ لَّايُشْرِكْنَ بِاللهِ شَيْئًا وَّلَايَسْرِقْنَ وَلَايَزْنِيْنَ" اِلٰى اٰخِرِالْاٰيَةِ، قَالَتْ عَآئِشَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَمَنْ اَقَرَّ بِهٰذَامِنَ الْمُوْمِنَاتِ فَقَدْاَقَرَّبِالْمِحْنَةِ وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَااَقْرَرْنَ بِذٰلِکَ مِنْ قَوْلِهِنَّ قَالَ لَهُنَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْطَلِقْنَ فَقَدْبَايَعْتُكُنَّ وَلَاوَاللهِ مَامَسَّتْ يَدُرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَامْرَاَةٍ قَطُّ غَيْرَ اَنَّهُ يُبَايِعُهُنَّ بِالْكَلَامِ قَالَتْ عَآئِشَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا وَاللهِ مَااَخَذَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى النِّسَآءِ قَطُّ اِلَّابِمَااَمَرَهُ اللهُ تَعَالٰى

ومامَسَّتْ كَفُّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَفَّ امْرَاَةٍ قَطُّ وَكَانَ يَقُوْلُ لَهُنَّ إِذَا اَخَذَ عَلَيْهِنَّ قَدْ بَايَعْتُكُنَّ كَلَامًا. [بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی مسلمانانو ښځو چه به کله هجرت کولو نو حضرت ﷺ به د هغوئ امتحان ددے ایت موافق اخستلو "اے نبی ﷺ هرکله چه تاته مسلمانانے ښځے دبیعت کولو دپاره راشی په دے خبره باندے چه نۀ به شریکوی دالله تعالی سره هیڅاره، نۀ به غلا کوی. اونۀ به زنا کوی. دآخره پورے، حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمائی، پس چه هرکله به یوے ښځے ددے خبرو اقرار اوکړونو هغے به لکه چه دبیعت اقرار اوکړو، (یعنی بیعت به ئے اوشو) اودرسول الله ﷺ په مخکښے چه به ئے هرکله دغه اقرار اوکړو نو حضرت ﷺ به ورته اوفرمائیل ځه ماستانه بیعت واخستو په الله جل جلاله قسم دے چه دحضرت ﷺ لاس دیوے ښځے دلاس سره نه دے لګیدلے البته په ژبه سره به حضرت ﷺ د هغوئ نه بیعت اخستلو ، حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ دښځونه څه اقرار نۀ دے اخستے مګردکومے چه به الله تعالی حکم اوکړو. اودحضرت ﷺ لاس ورسره چرته نۀ دے لګیدلے بلکه حضرت ﷺ به صرف په ژبه سره فرمائیلو هرکله چه به هغوئ اقرار اوکړلو چه ماستاسو نه بیعت اوکړلو.

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه دښځے نه صرف په ژبه سره بیعت اخستل پکار دی د هغوئ لاس نیول درست نۀ دی، اودسړو به لاس اونیسی اوپه ژبه به اقرار کوی اوداهم معلومه شوه چه دپردئ ښځے سره دضرورت په وخت خبرے کول درست دی، اودښځے آواز سترنۀ دے، البته دهغے بدن دضرورت په وخت لکه دعلاج، یافصد یعنی ښکرلګولو په وخت یادغابن ویستلو اویاپه سترګو کښے دوایئ اچولو دپاره مسه کول درست دی. اوداضروری خبرے هم په هغه وخت رواه دی هرکله چه دغه کارونو کولو والا ښځه میلاؤنۀ شی.

(۴۸۳۵) عَنْ عُرْوَةَ اَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَخْبَرَتْهُ عَنْ بَيْعَةِ النِّسَاءِ قَالَتْ مَامَسَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ امْرَاَةً قَطُّ اِلَّا اَنْ يَاْخُذَ عَلَيْهَا فَاِذَا اَخَذَ عَلَيْهَا فَاَعْطَتْهُ قَالَ اذْهَبِيْ

فقدبايعتک [ابوداود]

ترجمه: دعروة نه روايت دے چه هغوئ ته حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها دښځو دبيعت بيان کولو نواوئے فرمائيل چه رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک ديوے ښځے سره نۀ دے لګولے البته حضرت ﷺ به ژبه سره دهغے سره خبرے کولے. هرکله چه به هغے په ژبه سره قول ورکړو، نو حضرت ﷺ به اوفرمائيل څه ماستانه بيعت واخستو.

باب البيعة على السمع والطاعة فيما استطاع

بيعت کول په اوريدواومنلوباندے دکومے پورے چه کيدے شي.

(۴۸۳۶) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تعالی عَنْهُمَا يَقُوْلُ كُنَّا نُبَايِعُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ يَقُوْلُ لَنَافِيْمَا اسْتَطَعْتُمْ. [ترمذی، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمرو رضی الله تعالی عنهما نه روايت دے وائی چه مونږ به دحضرت ﷺ نه بيعت کولو دخبرے په اوريدواودحکم په منلوباندے، حضرت ﷺ به فرمائيلو داهم وايئ څومره چه زمونږ نه کيدے شي (ددهغوئ ﷺ مينه وه په خپل امت باندے چه کوم کارترے نۀ شي کيدے دهغے نۀ کولو ګنهګارنۀ شي)

باب بيان سن البلوغ

بنده هلک ځوانئ ته رسي

(۴۸۳۷) عن ابْنِ عُمَرَ قَالَ عَرَضَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ فِيْ الْقِتَالِ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَاَجَازَنِيْ، قَالَ نَافِعٌ فَقَدِمْتُ عَلَى عُمَرَ ابْنِ عَبْدِالْعَزِيْزِ وَهُوَيَوْمَئِذٍ خَلِيْفَةٌ فَحَدَّثْتُهُ هٰذَا الْحَدِيْثَ فَقَالَ اِنَّ هٰذَا لَحَدٌّ بَيْنَ الصَّغِيْرِ وَالْكَبِيْرِ كَتَبَ اِلَى عُمَّالِهِ اَنْ يَفْرِضُوْا لِمَنْ كَانَ ابْنَ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً وَمَنْ كَانَ دُوْنَ ذٰلِكَ فَاجْعَلُوْهُ فِيْ الْعِيَالِ. [ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روايت دے زۀ داحد په ورځ په جنګ کښې درسول الله ﷺ مخے ته پيش کړلے شوم اوزۀ دڅوارلسوکالو وم حضرت ﷺ زۀ منظور نۀ

کړمه، بیا د پنځلسو کالو په عمر کښې د خندق په ورځ پیش کړلے شوم نو حضرت ﷺ منظور کړمه، نافعؒ وائی زۀ د عمر بن عبدالعزیز خواله راغلم او دا حدیث می ورته بیان کړو هغه په دغه ورځو خلیفه وو، هغوئ اووے دغه د نابالغ او بالغ حد دے، او خپلو عاملانو ته ئے اولیکل چه کوم سړے د پنځلسو کالو وی د هغه حصه اولګوئ او کوم چه د پنځلسو کالو نه کم وی هغوئ لره په بال بچ کښې شریك کړئ۔

(۴۸۳۸) عَنْ عُبَيْدِاللهِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّ فِىْ حَدِيْثِهِمْ وَاَنَا ابْنُ اَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً فَاسْتَصْغَرَنِىْ۔ [ابوداود]

ترجمه: ترجمه ددے هم د پورته حدیث په شان ده، په دے کښې داده چه زه د څوارلسو کالو وم، حضرت زۀ وړوکے حساب کړمه۔

بَابُ النَّهْيِ اَنْ يُّسَافَرَ بِالْمُصْحَفِ اِلٰى اَرْضِ الْكُفَّارِ اِذَا خِيْفَ وُقُوْعُهٗ بِاَيْدِيْهِمْ

قرآن پاك د کافرو ملك ته اوړل منع دی هر کله چه داویره وی چه د هغوئ لاس به پرے اولګی۔

(۴۸۳۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُّسَافَرَ بِالْقُرْاٰنِ اِلٰى اَرْضِ الْعَدُوِّ۔ [بخاری، ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ د قران دوړلو نه د دشمن ملك ته په سفر کښے۔

(۴۸۴۰) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهٗ كَانَ يَنْهٰى اَنْ يُّسَافَرَ بِالْقُرْاٰنِ اِلٰى اَرْضِ الْعَدُوِّ مَخَافَةَ اَنْ يَّنَالَهُ الْعَدُوُّ۔ [ابن ماجه]

ترجمه: د عبدالله بن عمرو رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے وو قران لره د دشمن ملك ته دوړلو نه په سفر کښے ددے ویرے نه چه چرته د دشمن لاس پرے پرے نۀ وځی۔

(۴۸۴۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُسَافِرُوْا بِالْقُرْاٰنِ فَاِنِّىْ لَا اٰمَنُ اَنْ يَّنَالَهُ الْعَدُوُّ وَقَالَ اَيُّوْبُ فَقَدْ نَالَهُ الْعَدُوُّ وَخَاصَمُوْكُمْ بِهٖ۔

ترجمه: د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ

فرمائیلی دی مه اوړئ په سفر کښې قران شریف لره ولې چه ماته ویره ده ددشمن په لاس کښې دپریوتلو نه، ابوایوب وئیلی دی که ددشمن په لاس ورغې هغه به جګړه کوی ستاسو سره په دے باندے.

فائده: نووی وئیلی دی دممانعت وجه داده چه دشمن دهغې بے ادبی لونهٔ کړی لوکچرے داویره نهٔ وی مثلا لوئے لښکروی نو هغه وخت منع نهٔ دی، اودمالک په نزد په هرحال کښې منع دی، اومالک مکروه ګڼړی هغه روپئ یااشرفئ کافروته ورکول چه په هغې باندے دالله جل جلاله نوم لیکلے وی.

(۴۸۴۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَدِيْثِ ابْنِ عُلَيَّةَ وَالثَّقَفِيِّ فَإِنِّيْ اَخَافُ وَفِيْ حَدِيْثِ سُفْيَانَ وَحَدِيْثِ الضَّحَّاكِ ابْنِ عُثْمَانَ مَخَافَةَ اَنْ يَّنَالَهُ الْعَدُوُّ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه.

بَابُ الْمُسَابَقَةِ بَيْنَ الْخَيْلِ وَتَضْمِيْرِهَا

دګهوړدوړ بیان اوداسونوتیاره ول دشرط دپاره.

(۴۸۴۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَابَقَ بِالْخَيْلِ الَّتِيْ قَدْ اُضْمِرَتْ مِنَ الْحَفْيَاءِ وَكَانَ اَمَدُهَا ثَنِيَّةَ الْوَدَاعِ وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِيْ لَمْ تُضْمَرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ اِلٰى مَسْجِدِ بَنِيْ زُرَيْقٍ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فِيْمَنْ سَابَقَ بِهَا. [بخاری، ابوداود، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دمنډے هغه اسونولره تیارکړی وو دحفیانه د ثنية الوداع پورے (ددے دواړو مقاماتو په مینځ کښې دپنځه و یاشپږومیلوفاصله ده، اوځنو شپږو یااووه میله وئیلی دی) اوکوم چه تیارکړے شوی نهٔ وو دهغوئ منډه ئے دبنی زریق دجماعته پورے مقررکړه، اوابن عمرؓ په هغه خلقو کښې ووچا چه منډه وهله.

(۴۸۴۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ مَالِكٍ عَنْ نَافِعٍ وَزَادَ فِيْ حَدِيْثِ اَيُّوْبَ مِنْ رِوَايَةِ حَمَّادٍ وَابْنِ عُلَيَّةَ قَالَ عَبْدُاللهِ فَجِئْتُ سَابِقًا فَطَفَّفَ بِيَ الْفَرَسُ الْمَسْجِدَ. [بخاری، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده، په دے کښې دادی چه عبدالله وائی زه مخکښې

راغلم نوزه لاداس په شا وم چه جماعت ته اوختلو۔

فائده: نووی وائی ددے حدیث نه دگھوړ دوړیعنی اسونو زغلولو جواز معلوم شولو، اوداهم معلومه شوه چه دهغوئ تیارول یعنی تضمیرکول دمندے دپاره درست دی، اوتضمیر دادے چه اس ته دانه چاره کمه کړی بیاهغوئ ته ګرم جهول واغوندوی اوپه یوه بنده کوټه کښے ئے بندکړی، ددے دپاره چه خوله شی اوغوښه ئے کمه شی اوپه منډه کښے تیزشی، اوعلماؤ اختلاف کړے دے چه اسونه زغلولو جائز دی یامستحب دی، اوزمونږ دملګرپه نزد هغه مستحب دی، اوبغیرد عوض نه خوبالاجماع درست دی، اوپه عوض هله درست دی چه دریم کس ئے عوض ورکړی یادریم سرے ئے په مینځ کښے راشی اوهغه څه ورنه کړی اوپه حدیث کښ دعوض ذکرنشته دے۔ (انتهی)

بَابُ فَضِيْلَةِ الْخَيْلِ وَاِنَّ الْخَيْلَ مَعْقُوْدٌ بِنَوَاصِيْهَا

داسونو دفضیلت بیان

(۴۸۴۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَيْلُ فِيْ نَوَاصِيْهَا الْخَيْرُ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ. [بخاری]

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "داسونوپه تندی کښے برکت دے اوخوبی دقیامته پورے۔

(۴۸۴۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ مَالِكٍ عَنْ نَافِعٍ. [بخاری، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۴۸۴۷) عَنْ جَرِيْرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْوِيْ نَاصِيَةَ فَرَسٍ بِاِصْبَعِهٖ وَهُوَ يَقُوْلُ الْخَيْلُ مَعْقُوْدٌ بِنَوَاصِيْهَا الْخَيْرُ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ الْاَجْرُ وَالْغَنِيْمَةُ.

ترجمه: دجریربن عبدالله نه روایت دے وائی چه مارسول الله ﷺ لره اولیدوچه هغوئ ﷺ هلس دتندی ویخته په ګوته مبارکه سره خوزول اوفرمائیل ئے چه داسونو دتندوسره برکت تړلے شوے دے دقیامته پورے، یعنی ثواب اوغنیمت (هم دنیااوهم آخرت)

(۴۸۴۸) عَنْ يُوْنُس بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهٗ.

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے پورته پشان ده۔

(۴۸۴۹) عَنْ عُرْوَةَ الْبَارِقِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَيْلُ مَعْقُوْدٌ فِيْ نَوَاصِيْهَا الْخَيْرُ إِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ الْأَجْرُ وَالْمَغْنَمُ. [بخاری، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دعروه بارقی ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، "برکت تړلے شوے دے داسونو دتندو سره دقیامته پورے یعنی ثواب اوغنیمت۔

(۴۸۵۰) عَنْ عُرْوَةَ الْبَارِقِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَيْرُ مَعْقُوْصٌ بِنَوَاصِي الْخَيْلِ قَالَ فَقِيْلَ لَهٗ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ بِمَ ذَاكَ قَالَ الْأَجْرُ وَالْمَغْنَمُ إِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ.

ترجمه: دعروه بارقی ؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "برکت تړلے شوے دے داسونو دتندوسره" خلقوعرض اوکړو چه ولے یارسول الله ﷺ! حضرت ﷺ اوفرمائیل ثواب دے اوغنیمت دقیامته پورے (ولے چه جهاد به دقیامته پورے قائم وی)

(۴۸۵۱) عَنْ حُصَيْنٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهٗ قَالَ عُرْوَةَ ابْنُ الْجَعْدِ.

ترجمه: ترجمه هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه۔

(۴۸۵۲) عَنْ عُرْوَةَ الْبَارِقِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَذْكُرِ الْأَجْرَ وَالْمَغْنَمَ وَفِيْ حَدِيْثِ سُفْيَانَ سَمِعَ عُرْوَةَ الْبَارِقِيَّ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه۔

(۴۸۵۳) عَنْ عُرْوَةَ ابْنِ الْجَعْدِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا وَلَمْ يَذْكُرِ الْأَجْرَ وَالْمَغْنَمَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث په شان ده خوپه دے روایت کښے دثواب اوغنیمت ذکرنشته دے۔

(۴۸۵۴) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَرَكَةُ فِيْ نَوَاصِي الْخَيْلِ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دانس ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "برکت داسونو په تندوکښں دے"۔

(۴۸۵۵) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث دترجمے په شان ده۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی ددے حدیثونونه داس ساتلوفضیلت دجهاد دپاره وتلی دے، اوهغه چه کوم په بل حدیث کښے دی چه سپیره توب په اس کښ وی مراد ددے نه هغه اس دے چه هغه دجهاد دپاره نۀ وی، یاځنے اسونه مبارك وی اوځنے منحوس وی۔

بَابُ مَايُكْرَهُ مِنْ صِفَاتِ الْخَيْلِ۔

داسونوکوم قسمونه بد دی۔

(۴۸۵۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَكْرَهُ الشِّكَالَ مِنَ الْخَیْلِ .[ابوداود ، ترمذی ،نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به بدگنړلواشکل اس لره، (ددے تفسیرمخکښے راځی)

(۴۸۵۷) عَنْ سُفْیَانَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ وَزَادَ فِیْ حَدِیْثِ عَبْدِالرَّزَّاقِ وَالشِّكَالُ اَنْ یَّكُوْنَ الْفَرَسُ فِیْ رِجْلِهِ الْیُمْنٰی بَیَاضٌ وَّفِیْ یَدِهِ الْیُسْرٰی اَوْفِیْ یَدِهِ الْیُمْنٰی وَرِجْلِهِ الْیُسْرٰی.

ترجمه: اواکثردعلم دخاوندانو په نزد اشکل هغه دے چه دهغه درے خپے سپینے وی اویوه ئے دخپل رنگ په شان وی یائے درے دخپل رنگ په شان وی اویوه ئے سپینه وی، ابن وریدوئیلی دی اشکل هغه دے چه یوطرفته ئے مخکښے اوورستو خپه سپینه وی، یائے یو طرفته مخکښے خپله اوبل طرفته ورستو خپه سپینه وی۔ والله اعلم

(۴۸۵۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِیْثِ وَكِیْعٍ وَّفِیْ رِوَایَةِ وَهْبٍ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ یَزِیْدَ وَلَمْ یَذْكُرِالنَّخَعِیَّ. [نسائی]

ترجمه: ددے ترجمه هم دوراندے ذکرشوی حدیث په شان ده۔

(۴۸۵۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَضَمَّنَ اللّٰهُ لِمَنْ خَرَجَ فِیْ سَبِیْلِهٖ لَایُخْرِجُهٗ اِلَّاجِهَادًا فِیْ سَبِیْلِیْ وَاِیْمَانًا بِیْ وَتَصْدِیْقًا بِرُسُلِیْ فَهُوَعَلَیَّ ضَامِنٌ اَنْ اُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ اَوْاَرْجِعَهٗ اِلٰی مَسْكَنِهِ الَّذِیْ خَرَجَ مِنْهُ نَائِلًا مَّانَالَ مِنْ اَجْرٍ اَوْغَنِیْمَةٍ وَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِیَدِهٖ

مامِنْ كَلْمٍ يُكْلَمُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ تَعَالىٰ اِلَّاجَآءَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كَهَيْئَةٍ حِيْنَ كُلِمَ لَوْنُهٗ لَوْنُ دَمٍ وَرِيْحُهٗ مِسْكٌ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ مَاقَعَدْتُ خِلَافَ سَرِيَّةٍ تَغْزُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَبَدًا وَلٰكِنْ لَااَجِدُسَعَةً فَاَحْمِلَهُمْ وَلَايَجِدُوْنَ سَعَةً وَيَشُقُّ عَلَيْهِمْ اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنِّيْ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَوَدِدْتُ اَنِّيْ اَغْزُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَاُقْتَلُ ثُمَّ اَغْزُوْا فَاُقْتَلُ ،ثُمَّ اَغْزُوْا فَاُقْتَلُ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی الله تعالی ضامن دے دهغه چا چه څوك اوځی دهغه په لاره كښے اونۀ اوځی مګردجهاد دپاره، اوايمان لری په الله تعالی باندے اورښتونے ګڼری دهغه پيغمبرانو عليهم السلام لره، الله تعالی فرمائی داسے بنده څماپه حفاظت كښے دے، ياخوبه زۀ ده لره جنت ته بوځمه يابه ئے واپس كړمه خپل كورته دثواب ياغنيمت حاصلولو سره، قسم دے په هغه ذات دچاپه لاس كښے چه دمحمد ﷺ روح دے. يو زخم داسے نشته دے چه هغه دالله تعالی په لار كښے زخمی شوے وی مګرهغه به په قيامت كښے په هغه شكل راشی لكه څنګه چه په دنياكښے شوے وی، دهغے رنګ به دوينو پشان وی، اوخوشبوئی به ئے دمشكو په شان، قسم دے په هغه ذات دچاپه لاس كښے چه دمحمد ﷺ روح دے كه چرے په مسلمانانو باندے ګرانيدے نۀ نومابه ديولښكرملګرتيانۀ وه پريخودے چه هغه دالله تعالی په لاره كښے جهاد كوی چرته هم، ليكن څماره دومره ګنجائيش نشته (دسورو وغيره) اومسلمانانوته به ګرانه وی زماسره تلل قسم دے په هغه ذات دچاپه لاس كښں چه دمحمد روح دے، زۀ داغوارم چه جهاد اوكړم دالله تعالی په لار كښے اووژلے شم بياجهاد اوكړم اوبيااووژلے شم بياجهاد اوكړم اوبيااووژلے شم.

فائده: يعنی چه باربار دالله جل جلاله په لاره كښے شهيد شم بياژوندے شم اوبياشهيد شم، ددے حديث نه دجهاد لوئے فضيلت ثابت شولو، اوداهم ثابته شوه چه جهاديوداسے عبادت دے چه ددے برابر بل يو عبادت نشته دے. اوحضرت ﷺ ته دجهاد ډيرزيات شوق وو، اوحضرت ﷺ به داغوښتله چه ديوے تكړے سره پخپله هم جهاد ته اووتلے. خودخرچے دكم والی نه حضرت ﷺ مجبوره وو، اوڅنګه چه هغوئ وتلے نونوربه هم ټول مسلمانان وتلو، اودومره خلقوسامان هروخت مشكل وو.

(۳۸۶۰) عَنْ عُمَارَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ :

ترجمه : دَ عماره نه په دے سند سره مذکوره روایت منقول دے۔

(۳۸۶۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَکَفَّلَ اللّٰهُ لِمَنْ جَاهَدَ فِیْ سَبِیْلِهٖ لَایُخْرِجُهٗ مِنْ بَیْتِهٖ اِلَّا جِهَادٌ فِیْ سَبِیْلِهٖ وَتَصْدِیْقُ کَلِمَتِهٖ بِاَنْ یُّدْخِلَهُ الْجَنَّةَ اَوْیُرْجِعَهٗ اِلٰی مَسْکَنِهِ الَّذِیْ خَرَجَ مِنْهُ مَعَ مَانَالَ مِنْ اَجْرٍ اَوْغَنِیْمَةٍ.

ترجمه : دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "الله جل جلاله دهغه ضامن دے خوك چه جهاد کوی دهغه په لاره کښ اونهٔ اوځی دخپل کورنه مګردالله جل جلاله په لاره کښے دجهاد کولو دپاره، اودهغه دخبرے تصدیق اوکړی په دے چه داخل به کړی ده لره په جنت کښے یابه واپس کړی ده لره هغه کورخپل ته چه راوتلے وو دهغے نه سره دثواب اوغنیمت۔

(۳۸۶۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَایُکْلَمُ اَحَدٌ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَنْ یُّکْلَمُ فِیْ سَبِیْلِهٖ اِلَّا جَآءَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وَجُرْحُهٗ یَثْعَبُ اللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ وَالرِّیْحُ رِیْحُ مِسْکٍ. [نسائی]

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خوك داسے نشته چه زخمی شی دالله جل جلاله په لاره کښے، اوالله جل جلاله ښه پوهه دے چه خوك زخمی شی دهغه په لاره کښے، مګردقیامت په ورځ به په داسے حال کښے راشی چه وینه به ترے بهیږی رنګ خوبه دوینے وی خوخوشبوئی به ترے دمشکو ځی۔

(۳۸۶۳) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَاحَدَّثَنَا اَبُوْهُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَ اَحَادِیْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کُلُّ کَلْمٍ یُکْلَمُهُ الْمُسْلِمُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثُمَّ تَکُوْنُ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ کَهَیْئَتِهَا اِذَاطُعِنَتْ تَفَجَّرُ وَمَااللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ وَالْعَرْفُ عَرْفُ الْمِسْکِ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِیْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِیَدِهٖ لَوْلَآ اَنْ اَشُقَّ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ مَاقَعَدْتُ خَلْفَ سَرِیَّةٍ تَغْزُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَلٰکِنْ لَّآاَجِدُ سَعَةً فَاَحْمِلَهُمْ وَلَایَجِدُوْنَ سَعَةً فَیَتَّبِعُوْنِیْ وَلَاتَطِیْبُ اَنْفُسُهُمْ اَنْ یَّقْعُدُوْا بَعْدِیْ.

ترجمه: دهمام بن منبهؒ نه روایت دے وائی چه دا هغه دے چه حدیث بیان کړے دے مونږ ته ابو هریره رضی الله تعالی عنه چه درسول الله ﷺ نه نے اوریدلی دے، بیانے بیان کړل څو حدیثونه لره اواونے وئیل چه فرمائیلی دی رسول الله ﷺ "کوم زخم چه مسلمان ته اولګی د الله تعالی په لاره کښے هغه به دقیامت په ورځ هم په دغه شکل باندے راشی، لکه څنګه چه نوے لګیدلے وی اووینه ترے بهیږی، رنګ خوبه نے دوینے وی خوخوشبوئی به نے دَ مشکووی" اوحضرت ﷺ اوفرمائیل "قسم دے په هغه ذات چه دهغه په لاس کښے دمحمد ﷺ روح دے کچرے ګرانیدے نه په مسلمانانو باندے نوزهٔ به دهرلښکرسره تلمه کوم چه جهاد کوی دالله تعالی په لاره کښے لیکن دومره ګنجائش نشته دے چه زهٔ تولوله سورلئ ورکړمه، اونه دهغوئ دومره طاقت شته چه هغه تول دی ځماسره وی اونهٔ به دهغوئ زړونه داخوښه کړی چه زماسره دی نهٔ ځی.

(۴۸۶۴) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ مَاقَعَدْتُ خِلَافَ سَرِيَّةٍ بِمِثْلِ حَدِيْثِهِمْ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ لَوَدِدْتُ اَنِّیْ اُقْتَلُ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ اُحْيٰی بِمِثْلِ حَدِيْثِ اَبِیْ زُرْعَةَ عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مااوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی نے وو. کچرے ګرانیدے نهٔ مسلمانانو ته نوزهٔ به دهرلښکرسره تلمه، باقی ترجمه دپورته حدیث په شان ده، په دے کښے داسے دی چه قسم دے په هغه ذات چه دهغه په لاس کښ دمحمد ﷺ روح دے زهٔ داغوارم چه دالله جل جلاله په لاره کښے دی قتل کړے شم بیادی ژوندے شم اوبیادی ..... هغه شان لکه چه پورته تیرشو.

(۴۸۶۵) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلٰى اُمَّتِیْ لَاَحْبَبْتُ اَنْ لَّا اَتَخَلَّفَ خَلْفَ سَرِيَّةٍ نَحْوَ حَدِيْثِهِمْ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے نهٔ ګرانیدے ځماپه امت باندے نوزهٔ غوارم چه یولښکردی هم پرینږدم، باقی ترجمه دپورته پشان ده.

(۴۸۶۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَضَمَّنَ اللّٰهُ لِمَنْ خَرَجَ فِیْ سَبِیْلِهِ اِلٰی قَوْلِهِ مَاتَخَلَّفْتُ خِلَافَ سَرِیَّةٍ تَغْزُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ تَعَالٰی:

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ

دالله تعالی په لاره کښې دشهید کېدو فضیلت

(۴۸۶۷) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَامِنْ نَفْسٍ تَمُوْتُ لَهَاعِنْدَاللّٰهِ خَیْرٌ یَسُرُّهَا اَنَّهَاتَرْجِعُ اِلَی الدُّنْیَا وَلَآ اَنَّ لَهَا الدُّنْیَا وَمَافِیْهَا اِلَّا الشَّهِیْدُفَاِنَّهُ یَتَمَنّٰی اَنْ یَّرْجِعَ فَیُقْتَلُ فِی الدُّنْیَا لِمَایَرٰی مِنْ فَضْلِ الشَّهَادَةِ.

ترجمه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل "څوك چه مرشی اودالله جل جلاله په نزد دهغه غوره والے وی نو هغه نۀ راضی کیږی چه بیادنیاته راشی اګرکه توله دنیا اوڅه چه په دے کښے دی دا هرڅه هغه ته میلاویږی، مګرشهید دا ارمان کوی چه بیادنیاته راغلے اواوژلے شوے ولے چه هغه دشهادت فضیلت ته ګوری۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی ددے حدیث نه دشهادت لویه مرتبه یعنی فضیلت وتلے دے، اوشهید ... ځکه وئیلے شی شهید ته چه هغه شاهد دے یعنی حاضردے په جنت کښے، اونور مسلمانان به دقیامت په ورځ جنت ته ځی، اوابن انباری" وئیلی دی، ځکه چه الله تعالی اودهغه فرښتے ګواه دی په جنت کښ۔

په دے وجه څښو وئیلی دی ځکه چه هغه دروح دوتلوسره دخپل اجر اودرجه مشاهده کوی، اوڅښو وئیلی دی چه درحمت فرښتے ده ته حاضریږی یاورته شهید ځکه وائی چه دهغه حال ګواه دے دهغه دحسن خاتمے، یاځکه چه دهغه زخم دهغه ګواه دے، یاځکه چه هغه به ګواه وی په نورو امتونو باندے دقیامت په ورځ۔ انتهی ملخصا۔

(۴۸۶۸) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یُحَدِّثُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَامِنْ اَحَدٍ یَدْخُلُ الْجَنَّةَ یُحِبُّ اَنْ یَّرْجِعَ اِلَی الدُّنْیَا وَاَنَّ لَهُ مَاعَلَی الْاَرْضِ مِنْ شَیْءٍ غَیْرُ الشَّهِیْدِ فَاِنَّهُ یَتَمَنّٰی اَنْ

يَرْجِعَ فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرىٰ مِنَ الْكَرَامَةِ.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، څوك چه جنت ته لاړشی هغه ته بیادنیاته دراتلو آرزوپاتے نۀ شی اګرکه هغه ته دټولے زمکے څیزونه ورکړے شی خوشهید آرزو کوی دنیاته بیادراتلو اودلس واره قتل کیدو ولے چه هغه لیدلی وی دشهادت درجے لره۔

(۴۸۶۹) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قِيْلَ لِلنَّبِیِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَعْدِلُ الْجِهَادَ فِیْ سَبِيْلِ اللهِ قَالَ لَا تَسْتَطِيْعُوْنَهُ قَالَ فَاَعَادُوْا عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ اَوْثَلَاثًا كُلُّ ذٰلِكَ يَقُوْلُ لَا تَسْتَطِيْعُوْنَهُ قَالَ فِی الثَّالِثَةِ مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِیْ سَبِيْلِ اللهِ كَمَثَلِ الصَّآئِمِ الْقَآئِمِ الْقَانِتِ بِاٰيَاتِ اللهِ لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ وَّلَا صَلٰوةٍ حَتّٰى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِیْ سَبِيْلِ اللهِ تَعَالٰی .

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته اوونیلے شو چه دالله جل جلاله په لاره کښے دجهاد کولو برابر کوم عبادت دے، حضرت ﷺ اوفرمائیل ته دهغے طاقت نۀ شی لرلے، بیا هغوئ تپوس اوکړو دوه یادرے ځله، اوحضرت ﷺ به ورته هرځل هم دغه فرمائیلو چه تۀ دهغے طات نۀ شے لرلے، آخرپه دریم ځل حضرت ﷺ اوفرمائیل، دالله جل جلاله په لاره کښے دجهاد کولو والامثال داسے دے لکه چه یوروژه دار په مانځه اودریږی دالله تعالی دایتونو فرمانبرداروی، نۀ په روژه ستړے کیږی نۀ په مانځه تردے پورے چه واپس شی مجاهد دجهاد نۀ۔

فائده: اوظاهره ده چه یو کس داسے ورځ نۀ شی کولے نودجهاد برابر بل عبادت هم نه شی کیدے۔

(۴۸۷۰) عَنْ سُهَيْلٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهُ .

ترجمه: ترجمه ددے دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۸۷۱) عَنِ النُّعْمَانِ ابْنِ بَشِيْرٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ كُنْتُ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَجُلٌ مَّآ اُبَالِیْ اَنْ لَّا اَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْاِسْلَامِ اِلَّا اَنْ اُسْقِیَ الْحَآجَّ وَقَالَ آخَرُ مَا اُبَالِیْ اَنْ لَّا اَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْاِسْلَامِ اِلَّا اَنْ اَعْمُرَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ وَقَالَ اٰخَرُ الْجِهَادُ فِیْ سَبِيْلِ اللهِ اَفْضَلُ مِمَّا قُلْتُمْ

فَزَجَرَهُمْ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَقَالَ لَاتَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ عِنْدَمِنْبَرِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَيَوْمُ الْجُمُعَةِ دَخَلْتُ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فِيْمَااخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِالْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِااللّٰهِ الْاٰيَةَ اِلٰى اٰخِرِهَا.

ترجمه : دنعمان بن بشير رضی الله تعالی عنه نه روايت دے وائی چه زۀ درسول الله ﷺ دمنبر په خواه كښې ناست وم، يو سړی اووے ماته دمسلمانيدونه پس ديو عمل هم پرواه نشته مګر زۀ اوبه څكوم په حاجيانو باندے، دويم اووے داسلام دراوړونه پس ماته څه پرواه نه دی عمل زۀ خودمسجد حرام مرمت كوم، دريم اووے ددے ټيزونونه خوجهاد غوره دے، حضرت عمررضی الله تعالی عنه هغوئ لره اورټل اورته ئے اووئيل چه دحضرت ﷺ دمنبر په مخكښے دجمعے په ورځ چغے مۀ وهئ، ليكن زۀ به دجمعے دمانځه نه پس دحضرت ﷺ نه تپوس اوكړم دهغه خبرے په كومه كښے چه تاسو اختلاف كوئ، پس الله تعالی دا ايت نازل كړلو، يعنی ايا تاسو په حاجيانو اوبه څكول اودمسجد حرام خدمت كول دايمان اوجهاد برابر كړو، هيڅ كله نۀ شی كيدے دالله تعالی په مخكښے برابر نۀ دی۔

فائده : نوویؒ وائی ددے حديث نه دامعلومه شوه چه په جماعت كښے آواز اوچتول مكروه دی، تردے پورے چه هركله مونږ كونكی جمع شی نوپه دغه وخت به دالله ذكريادين تعليم هم په اوچت آواز سره نۀ كوی، ولے چه مونږ كونكو ته مشكله جوړيږی۔

(۴۸۷۲) عَنِ النُّعْمَانِ ابْنِ بَشِيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنْتُ عِنْدَمِنْبَرِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ اَبِيْ تَوْبَةَ.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته حديث په شان ده۔

بَابُ فَضْلِ الْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

دالله تعالی په لاره كښے دسحر اوماښام دوتلو فضيلت

(۴۸۷۳) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَغَدْوَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْرَوْحَةٌ خَيْرٌمِّنَ الدُّنْيَا وَمَافِيْهَا.

ترجمه: د حضرت انس ؓ نه روايت دے واتی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی "دالله جل جلاله په لاره کښے سحريا ماښام تلل ددنيانه اوځه چه په دے کښے دی ددے نه غوره دی".

(۴۸۷۴) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدِ السَّاعِدِىِّ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ غَدْوَةٌ اَوْرَوْحَةٌ فِىْ سَبِيْلِ اللهِ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَافِيْهَا. [بخاری]

ترجمه: ترجمه هم دغه ده چه سحريا ماښام وتل دالله تعالی په لاره کښے ددنيانه اوځه چه په دے کښے دی دهغے نه بهتردی.

(۴۸۷۵) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَآ اَنَّ رِجَالًا مِّنْ اُمَّتِىْ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ وَقَالَ فِيْهِ وَلَرَوْحَةٌ فِىْ سَبِيْلِ اللهِ اَوْغَدْوَةٌ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَافِيْهَا. [بخاری، نسائی]

ترجمه: ددے حديث ترجمه هم دغه ده کومه چه پورته بيان شوله.

(۴۸۷۷) عَنْ اَبِىْ اَيُّوْبَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدْوَةٌ فِىْ سَبِيْلِ اللهِ اَوْرَوْحَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَغَرَبَتْ. [نسائی]

ترجمه: دابوايوب رضی الله تعالی نه روايت دے واتی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی "سحريا ماښام دالله جل جلاله په لاره کښے تلل غوره دی، دهغه ټولو څيزونو نه چه په هغے باندے نمر راخيژی اوډوبيږی.

(۴۸۷۸) عَنْ اَبِىْ اَيُّوْبَ الْاَنْصَارِىِّ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ سَوَآءً. [راجع: ۴۸۷۷]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حديث په شان ده.

بَابُ بَيَانِ مَاأَعَدَّهُ اللهُ تَعَالٰى لِلْمُجَاهِدِ فِى الْجَنَّةِ

دجهاد کولو والا ددرجو بيان

(۴۸۷۹) عَنْ اَبِىْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِىِّ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَااَبَاسَعِيْدٍ مَّنْ رَّضِىَ بِااللهِ رَبًّا وَّبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيًّا وَّجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ

فعجب لها ابوسعید فقال اعدها علی یارسول اللہ ففعل ثم قال واخری یرفع بها العبد مائة درجة فی الجنة مابین کل درجتین کمابین السماء والارض قال وماھی یارسول اللہ قال الجهاد فی سبیل اللہ، الجهاد فی سبیل اللہ الجهاد فی سبیل اللہ. [نسائی]

ترجمه: دابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے ابوسعید څوک چه راضی وی دالله جل جلاله په رب کیدو سره اوداسلام په دین کیدو سره اودمحمد ﷺ په نبی کیدوسره دهغه دپاره جنت واجب دی ددے په اوریدوسره ابوسعید رضی الله تعالی عنه حیران شو اواوئے وئیل تاسو بیاالوفرمایئ یارسول الله ﷺ! حضرت ﷺ بیاالوفرمائیل اواوئے فرمائیل چه یوعمل بل دے چه دهغے په وجه بنده ته په جنت کښے سل درجے میلاویږی، اودهرے یوے درجے نه دبلے درجے پورے به دزمکے اوآسمان هومره فاصله وی، حضرت ابوسعید عرض اوکړو چه هغه کوم عمل دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل جهاد کول دالله تعالی په لاره کښے جهاد کول دالله تعالی په لاره کښے جهاد کول۔

(۴۸۸۰) عن ابی قتادة رضی الله تعالی عنه انه سمعه یحدث عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قام فیهم فذکرلهم ان الجهاد فی سبیل الله والایمان بالله افضل الاعمال فقام رجل فقال یارسول الله ارأیت ان قتلت فی سبیل الله تکفرعنی خطایای فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم ان قتلت فی سبیل الله وانت صابر محتسب مقبل غیرمدبر ثم قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کیف قلت قال ارأیت ان قتلت فی سبیل الله اتکفرعنی خطایای فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم نعم وانت صابرمحتسب مقبل غیرمدبر الا الدین فان جبریل علیه السلام قال لی ذلک. [ترمذی، نسائی]

ترجمه: دابوقتاده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ خطبے لوستوته اودریدو په اصحابو کښی لوبیان ئے اوکړوهغوئ ته چه په تمامو عملونوکښی افضل عمل جهاد دے دالله جل جلاله په لاره کښے. اوایمان راوړل په الله تعالی باندے، یوسړے پاسیدو اواوئے وئیل یارسول الله ﷺ کچرے زهٔ اووژلے شم دالله جل جلاله په لاره کښے نوزماګناه به معاف شی حضرت ﷺ اوفرمائیل هاں کچرے تهٔ اووژلے شی دالله تعالی په لاره کښے دصبرسره اوستانیت خالص وی دالله جل جلاله دپاره اوتهٔ دشمن ته مخامخ وے په شانهٔ تښتیدے،بیاحضرت ﷺ اوفرمائیل

تاخه اووے؟ هغه اووے کچرے زهٔ اوو‌ژلے شم دالله جل جلاله په لاره کښ نو ځماګناه به معاف شی، بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل هاں کچرے تهٔ اوو‌ژلے شوے په صبرسره اوخلاص نیت سره، اودشمن ته مخامخ وے په شانهٔ تښتیدے، مګرقرض نهٔ معاف کیږی، ولے چه جبرائیل علیه السلام بیان کړه ماته دے خبرے لره.

فائده: نووی چه نیت نے خالص وی، (یعنی خاص دالله تعالی دپاره جنګیږی نهٔ دملك اومال دولت دپاره، نه دقوم دناموری اویادعزت دپاره اوقرض نهٔ معاف کیږی دغه شان تمام حقوق العباد نهٔ معاف کیږی، اوروميے حضرت ﷺ قرض لره مستثنی نهٔ کړو، بیا چه هرکله حضرت جبرائیل علیه السلام حضرت ﷺ ته په دغه وخت اوښودل نو حضرت ﷺ بیان کړل. (انتهی)

(۴۸۸۱) عَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَرَأَیْتَ اِنْ قُتِلْتُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ اللَّیْثِ. [راجع: ۴۸۸۰]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده.

(۴۸۸۲) عَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَزِیْدُ اَحَدُهُمَا عَلٰی صَاحِبِهٖ اَنَّ رَجُلًا اَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَی الْمِنْبَرِ فَقَالَ اَرَأَیْتَ اِنْ ضَرَبْتُ بِسَیْفِیْ حَدِیْثِ الْمَقْبُرِیِّ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده په دے کښ دادی چه یوسړی راغے اوحضرت ﷺ په ممبرباندے وو.

(۴۸۸۳) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِوابْنِ الْعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ یَغْفِرُ اللّٰهُ لِلشَّهِیْدِ کُلَّ ذَنْبٍ اِلَّا الدَّیْنَ.

ترجمه: دعبدالله بن عمروبن العاص رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، الله تعالی دشهید هریوګناه بخښی، لیکن قرض نهٔ شی بخښلے کیدے.

(۴۸۸۴) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِوابْنِ الْعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْقَتْلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ یُکَفِّرُ کُلَّ شَیْءٍ اِلَّا الدَّیْنَ.

ترجمه: دعبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، دالله جل جلاله په لاره کښې قتلیدل ورانوی تولوګناهونو لره مګر قرض نهٔ.

باب فی بیان ان ارواح الشهداء فی الجنة وانهم احیاء عند ربهم یرزقون

دشهیدانو روحونه په جنت کښې دی، او داچه هغه دخپل رب په نزد هم ژوندی دی، رزق ورته ورکولی شی.

• (۴۸۸۵) عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ سَأَلْنَا عَبْدَاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنْ هٰذِهِ الْاٰيَةِ "وَلَاتَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَرَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ" قَالَ اَمَاإِنَّا قَدْسَأَلْنَا عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ اَرْوَاحُهُمْ فِيْ جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ لَهَا قَنَادِيْلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَآءَتْ ثُمَّ تَأْوِيْ اِلٰى تِلْكَ الْقَنَادِيْلِ فَاطَّلَعَ اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ طَلَاعَةً فَقَالَ هَلْ تَشْتَهُوْنَ شَيْئًا قَالُوْا اَىُّ شَيْءٍ نَشْتَهِيْ وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا فَفَعَلَ ذٰلِكَ بِهِمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا رَاَوْاَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوْا مِنْ اَنْ يُسْئَلُوْا قَالُوْا يَارَبِّ نُرِيْدُ اَنْ تَرُدَّ اَرْوَاحَنَا فِيْ اَجْسَادِنَا حَتّٰى نُقْتَلَ فِيْ سَبِيْلِكَ مَرَّةً اُخْرٰى فَلَمَّا رَاٰى اَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوْا. [ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دمسروق نه روایت دے وائی چه مونږ دعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نه تپوس اوکړو، ددے ایت په باره کښې "وَلَاتَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْيَاءٌ عِنْدَرَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ" یعنی مه ګنړه هغه خلقولره چه قتل کړے شی په لاره دالله تعالی کښې مړه بلکه هغه ژوندی دی، دخپل پروردګار په نزد رزق ورکولے شی عبدالله وائی مونږ ددے ایت تپوس اوکړو درسول الله ﷺ نه حضرت ﷺ اوفرمائیل دشهیدانو روحونه دشنو طوطیانو په ججرو کښې په قندیلو نودننه موجود دی چه هغه دعرش مبارك سره زوړند کړے شوی دی، اوکوم ځائے غواړی په جنت کښې ګرځی راګرځی اوچه څه ئې زړهٔ غواړی خوری اوبیا خپلو قندیلو نوته راځی، یوه ورځ دهغوئ پروردګار هغوئ لره اولیدل اوورته ئې اوفرمائیل تاسو څه غواړئ هغوئ اووے اوس مونږ څه غواړو مونږ خو په جنت کښې چرته چه غواړو ګرځو راګرځو پروردګار جل شانه ترے بیا تپوس اوکړو، بیائے ترے تپوس اوکړو هرکله چه هغوئ اولیدل چه بغیر دتپوس نه زمونږه ازادی نشته، (یعنی پروردګار جل شانه به برابر تپوس کولو) نو هغوئ اووے اے زمونږه

پروردګاره مونږ دغواړو چه زمونږ په بدنونو کښې (يعنی ددنيا په بدنونو کښې) ددے دپاره چه مونږ دوباره ستا په لاره کښې اووژلے شو. هرکله چه پروردګار جل شانه اوليدل چه اوس ددوئ يو خواهش نشته دے، نوپريخودل ئے هغوئ لره.

فائده: نووی عليه الرحمة وئيلی دی ددے حديث نه دامعلومه شوه چه جنت موجود دے، اودغه مذهب دے داهل سنتو او هم ددغه ځائے نه آدم عليه السلام راکوز کړے شوے وو، او هم دغلته نه دايمان خاوندان عيش کوی. دمعتزله اوځنوبدعتيانوداقول دے چه جنت به دقيامت نه پس پيداکيږی، اودآدم عليه السلام هغه جنت بل وو.

اوددے حديث نه داهم معلومه شوه چه روح لره فنانشته دے، اودروح په حقيقت کښے ډيراختلاف دے اکثرعلماء دا وائی چه بنديګانو ته ددے حقيقت معلومه نۀ دے، اوفلاسفه وائی چه روح يوجدا څيز نۀ دے، اواطباء وائی چه روح يوبخار لطيف دے، په بدن کښے، اوځنے مشائخو وئيلی دی، چه روح دژوندنوم دے، ياداجسام لطيفه، يادځنے حصے دجسم يادجسم لطيف چه صورت دبيان لری په دغه جسم دننه يادنفس داخل اوخارج يادوينے نوم دے.

اوصحيح داده چه روح اجسام لطيفه دی چه په بدن کښے برابر شوی دی يعنی دبدن سره يو ځائے شوی دی، هرکله چه هغه جداکيږی نوبنيادم مرکيږی. انتهی مختصرًا.

بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالرِّبَاطِ

جهاد اودشمن ته په انتظار کښے داوسيدوفضيلت

(۴۸۸۶) عَنْ اَبِیْ سَعِيْدِ الْخُدْرِیِّ اَنَّ رَجُلًا اَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَیُّ النَّاسِ اَفْضَلُ فَقَالَ رَجُلٌ يُجَاهِدُ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ مُؤْمِنٌ فِیْ شِعْبٍ مِّنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ رَبَّهٗ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهٖ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: دابوسعيد خدری رضی الله تعالی عنه نه روايت دے چه يوسړے راغے درسول الله ﷺ خواله اوتپوس ئے اوکړو، چه کوم سړے غوره دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل څوك چه دالله تعالی په لاره کښے جهاد کوی په خپل مال اوجان سره، هغه اووے بيا څوك؟ حضرت ﷺ اوفرمائيل "هغه مؤمن چه هغه دغرپه يو کنډو کښے دالله جل جلاله عبادت کوی، اوخلقو لره

بچ کوی، دخپل شرنه۔

فائده: نووی ؒ وئیلی دی چه ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه عزلت (تنهائی اوګوشه نشینی) غوره ده دصحبت اوختلاط نه اودشافعی ؒ اواکثرو علماؤ مذهب دادے چه اختلاط غوره دے په دے شرط چه دفتنونه حفاظت اوشی اوپه دے کښے څه شك نشته چه دفتنے په زمانه کښے یواځے اوسیدل غوره دی، اوحدیث په دغے باندے محمول دے۔

(۴۸۸۷) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ قَالَ رَجُلٌ اَیُّ النَّاسِ اَفْضَلُ یَارَسُوْلَ اللّٰہِ قَالَ مُؤْمِنٌ یُجَاھِدُ بِنَفْسِہٖ وَمَالِہٖ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰہِ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِیْ شِعْبٍ مِّنَ الشِّعَابِ یَعْبُدُ رَبَّہٗ وَیَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّہٖ۔ [راجع: ۴۸۸۶]

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۸۸۸) عَنِ ابْنِ شِھَابٍ بِھٰذَا الْاِسْنَادِ قَالَ رَجُلٌ فِیْ شِعْبٍ وَلَمْ یَقُلْ ثُمَّ رَجُلٌ۔

ترجمه: ددے ترجمه دوړاندے حدیث په شان ده۔

(۴۸۸۹) عَنْ اَبِیْ ھُرَیْرَۃَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اَنَّہٗ قَالَ مِنْ خَیْرِ مَعَاشِ النَّاسِ لَھُمْ رَجُلٌ مُمْسِکٌ عِنَانَ فَرَسِہٖ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰہِ یَطِیْرُ مَتْنِہٖ کُلَّمَا سَمِعَ ھَیْعَۃً اَوْفَزْعَۃً طَارَ عَلَیْہِ یَبْتَغِیْ الْقَتْلَ وَالْمَوْتَ مَظَانَّہٗ اَوْرَجُلٌ فِیْ غُنَیْمَۃٍ فِیْ رَأْسِ شَعْفَۃٍ مِّنْ ھٰذِہِ الشَّعَفِ اَوْبَطْنِ وَادٍ مِّنْ ھٰذِہِ الْاَوْدِیَۃِ یُقِیْمُ الصَّلٰوۃَ وَیُؤْتِی الزَّکٰوۃَ وَیَعْبُدُ رَبَّہٗ حَتّٰی یَاْتِیَہُ الْیَقِیْنُ لَیْسَ مِنَ النَّاسِ اِلَّا فِیْ خَیْرٍ۔

[ابن ماجه]

ترجمه: دابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "دټولو خلقودژوند نه دهغه خلقوژوند غوره دے چه هغه په جهاد کښے دخپلواسونوواګے نیولی وی اومندے وهی ګرځی دهغه په شاباندے، هرکله چه شور یاګبراهټ واوری نو منډے وهی په خپلوقتلیدوپسے اومرګ لره دمرګ په مقاماتوکښے تلاش کوی ګرځی، یادهغه سړی زندګی غوره ده چه هغه بزے واخلی چرته دیوغره په سرباندے هغوئ دغرونودسرونونه یادغره یو نالئ کښے هغوئ په نالوکښے اوسیږی، مونځ اداکوی اوزکوٰة ورکوی اودخپل رب عبادت کوی دمرګه پورے دبنیادمونه یوسړے په خیرکښے نۀ دے سوادهغه نه۔

فائده: حضرت ﷺ په دے حدیث کښې دوو کسانو ته د هر چانه افضل وئیلی دی، یو مجاهد جان نثار ته اوبل په خلوت کښې عبادت کونکی ته، اوپه حقیقت کښې چه هرکله دفساد زمانه وی لکه دازمانه چه ده، په دے ،کښې دخانله اوسیدونه غوره یوځیزنشته دے، مګر هغه کس چه د هغه په خلقو کښې داوسیدونه ددین فائده وی او د هغه دپاره دنقصان ویره نۀ وی۔

(۴۸۹۰) عَنْ اَبِیْ حَازِمٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ وَقَالَ عَنْ بَعْجَةَ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ بَدْرٍ وَّقَالَ فِیْ شُعْبَةٍ مِّنْ هٰذِهٖ الشِّعَابِ خِلَافَ رِوَایَةِ یَحْیٰی.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۸۹۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ اَبِیْ حَازِمٍ عَنْ بَعْجَةَ وَقَالَ فِیْ شِعْبٍ مِّنَ الشِّعَابِ.

ترجمه: دا هم دپورته حدیث په شان ده۔

بَابُ بَیَانِ الرَّجُلَیْنِ یَقْتُلُ اَحَدُهُمَا الْاٰخَرَ یَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ

قاتل اومقتول به دواړه ځنګه جنت ته ځي۔

(۴۸۹۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ یَضْحَکُ اللّٰهُ اِلٰی رَجُلَیْنِ یَقْتُلُ اَحَدُهُمَا الْاٰخَرَ کِلَاهُمَا یَدْخُلُ الْجَنَّةَ فَقَالُوْا کَیْفَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ یُقَاتِلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَیُسْتَشْهَدُ ثُمَّ یَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَی الْقَاتِلِ فَیُسْلِمُ فَیُقَاتِلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَیُسْتَشْهَدُ. [نسائی]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "الله جل شانه اوخاندی ددوو سړوپه لیدو سره، چه یوبل قتل کړی وی اوبیاهغه دواړه جنت ته لاړشی، خلقوعرض اوکړو دابه ځنګه وی یارسول الله ﷺ حضرت ﷺ اوفرمائیل یو سړے اوجنګیدو دالله تعالی په لاره کښې اوشهیدشو اوچاچه ده لره شهید کړے وو هغه مسلمان شولو اوبیااوجنګیدو دالله تعالی په لاره کښې اوشهید شو۔

فائده: قاتل اومقتول دواړه جنتیان شو، نووی علیه الرحمة وئیلی دی دالله تعالی

دخندانه استعاره مقصود ده، ولې چه هغه خنداکومه چه زمونږ دپاره متعارف ده، دا لله تعالی دپاره جائز کیدے نه شی ځکه چه هغه خاص ده دجسم اومتغیراتو سره، اوالله جل شانه ددے نه پاك دے، نو مراد دخندانه رضاده یاثواب اوتعریف دهغه دفعل یادفرښتو خندل دی۔ انتهی

مترجم وائی چه دنورو صفاتو په شان ضحك یعنی خندل دا هم دالله تعالی یو صفت دے، لکه چه سمع اوبصر اونزول اواستواء اومحیا وغیره، اودهغه ټول صفات په خپله معانی ظاهرے باندے محمول دی، اودتاویل څه ضرورت نشته دے، البته دائنه دی وئیل پکار چه دهغه یو صفت مشابه دے، دمخلوق دصفاتو سره، اودغه طریقه ده دسلفودامت، رحمهم الله تعالی۔

(۴۸۹۳) عَنِ اَبِی الزِّنَادِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ. [ابن ماجه]

ترجمه: ترجمه ددے دپورته په شان ده۔

(۴۸۹۴) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَاحَدَّثَنَا اَبُوْهُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَ اَحَادِیْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَضْحَکُ اللّٰهُ لِرَجُلَیْنِ یَقْتُلُ اَحَدُهُمَا الْاٰخَرَ کِلَاهُمَا یَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَالُوْا کَیْفَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ یُقْتَلُ هٰذَا فَیَلِجُ الْجَنَّةَ ثُمَّ یَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَی الْاٰخَرِ فَیَهْدِیْهِ اِلَی الْاِسْلَامِ ثُمَّ یُجَاهِدُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَیُسْتَشْهَدُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده، په دے کښے داسے دی، چه یو قتل شی اوجنت ته لاړشی، بیاالله پاك په هغه بل رحم اوکړی اوداسلام هدایت ورته اوکړی اوبیادالله په لاره کښے په جهاد کښے شهید شی۔

بَابُ مَنْ قَتَلَ كَافِرًا ثُمَّ سَدَّدَ

څوك چه یوکافرله قتل کړی اوبیاپه نیك عمل باندے قائم پاتی شی۔

(۴۸۹۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَایَجْتَمِعُ کَافِرٌ وَّقَاتِلُهٗ فِی النَّارِ اَبَدًا. [ابوداود]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "کافر اودهغه وژلووالا (مسلمان) دواړه به یو ځائے په جهنم کښے نۀ وی، اوکافرته به داموقعه نۀ

میلاویږی چه په مسلمان پورے اوخاندی " (اوداپیغور ورکړی چه تاته دایمان نه څه فائده اوشوه)

(۴۸۹۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَایَجْتَمِعَانِ فِی النَّارِ اجْتِمَاعًا یَضُرُّ اَحَدُهُمَا الْاٰخَرَقِیْلَ مَنْ هُمْ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ مُؤْمِنٌ قَتَلَ کَافِرًا ثُمَّ سَدَّدَ .

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل "دواړه به په جهنم کښے په دے شان یو ځائے نۀ وی چه یوبل ته نقصان اورسوی " خلقو عرض اوکړو هغه کوم خلق دی یارسول الله ﷺ! حضرت ﷺ اوفرمائیل !"چه یو مسلمان کافرله قتل کړی اوبیاپه نیکئ قائم پاتے شی "

فائده: نووی ؒ وئیلی دی په دے کښے داشکال دے چه داسے مسلمان خو جهنم ته به ځی هم نۀ، بیادیو ځائے کیدونه څه غرض دے، خواه که هغه کافر قتل کړی یانۀ کړی، اودهغے جواب دادے چه کیدے شی دراویانو نه په دے حدیث کښے غلطی شوی وی، اوصحیح داده چه هغه مؤمن چه هغه له کافر قتل کړی اوبعددهغے نه هغه کافرایمان راوړی نوددے انجام به هغه وی کوم چه دحدیث یضحك الله دے یادسدد نه داغرض دے چه په ایمان باندے قائم پاتے شی، لیکن دنورو گناهونونه ځان بچ نۀ کړی، نوداسے مؤمن جهنم ته تللے شی، خو هغه به په جهنم کښے دکفاروسره یو ځائے نه وی۔ انتهی مع زیادة

بَابُ فَضْلِ الصَّدَقَةِ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَتَضْعِیْفِهَا

دالله جل جلاله په لاره کښے دصدقے ورکولوثواب

(۴۸۹۷) عَنْ اِبْنِ مَسْعُوْدِ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ بِنَاقَةٍ مَّخْطُوْمَةٍ فَقَالَ هٰذِهٖ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَکَ بِهَا یَوْمَ الْقِیٰمَةِ سَبْعُ مِائَةِ نَاقَةٍ کُلُّهَا مَخْطُوْمَةٌ.

[نسائی]

ترجمه: دابو مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو سړی یوه اوښه راوسته دواګو سره اواوئے وئیل چه داالله تعالی په لاره کښے ورکوم حضرت ﷺ اوفرمائیل ددے په بدله به تاته دقیامت په ورځ اووه سوه اوښان زین کړے شوی میلاؤشی۔

(۴۸۹۸) عن الاعمش بهذا الاسناد. [راجع: ۴۸۹۷]

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے پورته پشان ده.

باب فضل اعانة الغازی فی سبیل الله بمرکوب وغیره۔

دغازی د مدد کولو فضیلت

(۴۸۹۹) عَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدِ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنِّیْ اُبْدِعَ بِیْ فَاحْمِلْنِیْ فَقَالَ مَاعِنْدِیْ فَقَالَ رَجُلٌ یَّارَسُوْلَ اللّٰهِ اَنَادُلُّهُ عَلٰی مَنْ یَّحْمِلُهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دَلَّ عَلٰی خَیْرٍ فَلَهُ مِثْلُ اَجْرِفَاعِلِهٖ. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: دحضرت ابو مسعود انصاری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو سړے درسول الله ﷺ خواله راغے اوعرض ئے اوکړو یارسول الله ﷺ زما څناور لاړو اوس ماله سورلی راکړه، حضرت ﷺ اوفرمائیل څماسره سورلئ نشته دے، یو سړے اووے یارسول الله زهٔ ده ته یو داسے سړے اوښایم چه سورلئ ورته ورکړی حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك چه یوه دنیکی لاره اوښائی هغه له دنیکئ کونکی هومره ثواب دے۔

(۴۹۰۰) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۴۹۰۱) عَنْ اَنَسٍ اَنَّ فَتًی مِّنْ اَسْلَمَ قَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّیْ اُرِیْدُالْغَزْوَوَلَیْسَ مَعِیَ مَااَتَجَهَّزُ قَالَ ائْتِ فُلَانًا فَاِنَّهٗ قَدْکَانَ تَجَهَّزَفَمَرِضَ فَاَتَاهُ فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یُقْرِئُکَ السَّلَامُ وَیَقُوْلُ اَعْطِنِیَ الَّذِیْ تَجَهَّزْتَ بِهٖ قَالَ یَافُلَانَةُ اَعْطِیْهِ الَّذِیْ تَجَهَّزْتُ بِهٖ وَلَاتَحْبِسِیْ عَنْهُ شَیْئًا فَوَاللّٰهِ لَاتَحْبِسِیْ مِنْهُ شَیْئًا فَیُبَارَکَ لَکِ فِیْهِ. [ابوداود]

ترجمه: دانس نه روایت دے چه یو ځوان داسلم قبیلے رسول الله ﷺ ته اووے یارسول الله ﷺ زهٔ دجهاد اراده لرم او څماسره سامان نشته دے حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل دفلانی سړی خواله ورشه هغه سامان کړے وو دجهاد خو هغه ناجوړه شوے دے، هغه کس دهغه سړی خواله لاړو او ورته ئے اووے چه رسول الله ﷺ پتا سلام وئیلے دے اوفرمائیلی ئے دی چه هغه سامان ماته

راکړه، هغه خپلے بی بی یاوینځی نه اووے) اے فلانۍ هغه تول سامان ده لره ورکړه او څه شے ترے نه هم مهٔ پریږده، په الله جل جلاله قسم چه څه شے تهٔ اوساتے په هغے کښې برکت نهٔ وی۔

(۴۹۰۲) عَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَهُ فِيْ أَهْلِهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دزید بن خالد جهنی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "چاچه سامان ورکړو یو غازی ته دالله تعالی په لاره کښے هغه جهاد اوکړو او چاچه دغازی دکور خبرواخستو هغه هم جهاد اوکړو (یعنی دجهاد ثواب هغه اوګټلو)

(۴۹۰۳) عَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِيْ أَهْلِهِ فَقَدْ غَزَا.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته حدیث په شان ده۔

(۴۹۰۴) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا إِلٰى بَنِيْ لِحْيَانَ مِنْ هُذَيْلٍ فَقَالَ يَنْبَعِثُ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا وَالْأَجْرُ بَيْنَهُمَا. [ابوداود]

ترجمه: دابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو لښکر دبنی لحیان په طرف اولیږو، چه دهذیل قبیلے یو شاخ دے اوورته ئے اوفرمائیل په دوو سړو کښے دی یو سړے دهر کور نه را اوځی او ثواب به ددواړو کیږی، (دیو دجهاد او دبل دمجاهد دکور دخبرګیرئ)

(۴۹۰۵) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا بِمِثْلِهِ. [راجع: ۴۹۰۴]

ترجمه: ددے حدیث ترجمه ددے نه دمخکښے حدیث په شان ده۔

(۴۹۰۶) عَنْ يَحْيٰى بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دغه شان ده۔

(۴۹۰) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ إِلٰى بَ لِحْيَانَ فَقَالَ لِيَخْرُجْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ رَجُلٌ ثُمَّ قَالَ لِلْقَاعِدِ أَيُّكُمْ خَلَفَ الْخَارِجَ فِيْ أَهْلِهِ وَمَالِهِ بِخَيْرٍ

كَانَ لَهُ مِثْلُ نِصْفِ اَجْرِ الْخَارِجِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دمخکښے تیرشوے حدیث په شان ده خودومره پکښې سواده چه څوك دمجاهد دکور خبرګیری کوی هغه ته به دمجاهد نیم ثواب میلاویږی.

بَابُ حُرْمَةِ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِيْنَ وَاِثْمِ مَنْ خَانَ فِيْهِنَّ.

دمجاهدینو دښځودحرمت بیان اوپه هغوئ کښې دخیانت ولا دګناه بیان

(۴۹۰۸) عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُرْمَةُ نِسَآءِ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَی الْقَاعِدِيْنَ كَحُرْمَةِ اُمَّهَاتِهِمْ وَمَامِنْ رَجُلٍ مِّنَ الْقَاعِدِيْنَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِّنَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِیْ اَهْلِهٖ فَيَخُوْنُهُ فِيْهِمْ اِلَّا وُقِفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَيَاْخُذُ مِنْ عَمَلِهٖ مَاشَآءَ فَمَاظَنُّكُمْ. [ابوداود، نسائی]

ترجمه: دبریده رضی اللّٰه تعالی عنه نه روایت دے چه رسول اللّٰه ﷺ فرمائیلی دی، دمجاهدینو دښځو حرمت دکورپه اوسیدونکوباندے داسے دے لکه دهغوئ دمیاندو حرمت اوکوم سړے چه په کورکښے دمجاهدد دکور دخبرګیرئ دپاره پاتے وی اوبیاپه هغے کښے خیانت اوکړی، نو هغه به دقیامت په ورځ اودرولے شی اومجاهد ته به اووئیلے شی چه ددے دعمل نه چه څه غواړے واخله.

(۴۹۰۹) عَنْ عَلْقَمَةَ ابْنِ مَرْثَدٍ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ اَبِيْهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ يَعْنِی النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰی حَدِيْثِ الثَّوْرِیِّ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث دپورته حدیث په شان ده .

(۴۹۱۰) عَنْ عَلْقَمَةَ ابْنِ مَرْثَدٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ فَخُذْ مِنْ حَسَنَاتِهٖ مَاشِئْتَ فَالْتَفَتَ اِلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ فَمَاظَنُّكُمْ.

ترجمه: ترجمه ددے هم هغه ده کومه چه پورته تیره شوه، په دے کښې دادی چه مجاهد ته به اووئیلے شی ته دده دنیکونه چه څه غواړے نوواخله ددے فرمائیلوسره جناب رسول اللّٰه ﷺ زمونږ په طرف اوکتل اواوئے فرمائیل بیاتاسو څه خیال کوئ (یعنی هغه مجاهدبه د نیکئ پریښودلوواﻻ نۀ دے تول به تربے اخستے شی)

باب سقوط فرض الجهاد عن المعذورين

په معذورباندے جهادفرض نه دے

(۴۹۱۱) عن البرآء رضی الله تعالی عنه فی هذه الآیة لایستوی القعدون من المؤمنین والمجاهدون فی سبیل الله فامر رسول الله صلی الله علیه وسلم زیدا فجآء بکتف فکتبها فشکی الیه ابن ام مکتوم ضرارته فنزلت لایستوی القاعدون من المؤمنین غیر اولی الضرر قال شعبة واخبرنی سعد ابن ابراهیم عن رجل عن زید فی هذه الآیة لایستوی القعدون بمثل حدیث البرآء رضی الله تعالی عنه وقال ابن بشار فی روایته سعد ابن ابراهیم عن ابیه عن رجل عن زید ابن ثابت. [بخاری]

ترجمه: دبراءؓ نه روایت دے وائی چه ددے ایت په باب کښے "لایستوی القعدون من المؤمنین" (یعنی برابر نه دی په کور کښے ناست اوجهاد کونکی مسلمانان (یعنی دجهادکونکو درجه ډیره لویه ده) رسول الله ﷺ حکم اوکړو زیدؓ ته هغویؓ یو هډوکے راواخستوراغے اوپه هغے باندے ئے دا ایت اولیکو، بیاعبدالله بن ام مکتومؓ شکایت اوکړو دخپلے نابینایئ شکایت ئے اوکړو (یعنی زه ړوندیمه جهاد له تلے نه شمه نوزمادرجه به کمه وی.) دغه وخت دغیر اولی الضرر لفظ نازل شولو، یعنی هغه خلق کوم چه معذوره نهٔ دی، اومعذور خوپه درجه کښے به دمجاهدینو سره برابر وی.

(۴۹۱۲) عن البرآء رضی الله تعالی عنه قال لما نزلت "لایستوی القعدون من المؤمنین" کلمه ابن مکتوم فنزلت غیر اولی الضرر.

ترجمه: دبراء رضی الله تعالی نه روایت دے وائی چه هرکله دا ایات نازل شو "لایستوی القعدون من المؤمنین" نوابن ام مکتوم خبرے اوکړے پس "غیر اولی الضرر" نازل شولو.

باب ثبوت الجنة للشهيد

دشهيددپاره دجنت ثابت کيدل

(۴۹۱۳) عن جابر رضی الله تعالی عنه یقول قال رجل این انا یارسول الله ان قتلت قال فی الجنة فالقی تمرات کن فی یده ثم قتل حتی قتل وفی حدیث سوید قال رجل للنبی صلی الله علیه وسلم

يَوْمَ أُحُدٍ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه : دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو سړی اووے یارسول الله ﷺ زهٔ به کوم ځائے یم کچرے اووژلے شم، حضرت ﷺ اوفرمائیل په جنت کښی، ددے په اوریدو هغه خو کجورے چه دهغه په لاس کښے وے (دخوراك دپاره) اوغورځولے اواوجنګیدوترهغے پورے چه شهیدشولو اودسوید ؒ په روایت کښے دی چه داحد په ورځ یو سړی اووے۔

(۴۹۱۴) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ مِّنْ بَنِي النَّبِيْتِ قَبِيْلٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّكَ عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ثُمَّ تَقَدَّمَ فَقَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمِلَ هٰذَا يَسِيْرًا وَّاُجِرَ كَثِيْرًا.

ترجمه : دبراء رضی الله تعالی عنه نه روایت دے دبنی نبیت یو سړے راغے بنی نبیت دانصارو یوه قبیله ده اواوئے وئیل زهٔ ګواهی ورکوم چه دالله تعالی نه سوا بل څوك دعبادت لائق نشته اوتاسو ﷺ دالله تعالی بنده اودهغه پیغام رسولووالایئ، بیا ورمخکښے شو او اوجنګیدو ترد ے پورے چه اووژلے شو حضرت ﷺ اوفرمائیل ده عمل لږ اوکړو خوثواب ئے ډیر اوموندو۔

(۴۹۱۵) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُسَيْسَةَ عَيْنًا يَنْظُرُ مَاصَنَعَتْ عِيْرُ اَبِيْ سُفْيَانَ فَجَآءَ وَمَافِي الْبَيْتِ اَحَدٌ غَيْرِيْ وَغَيْرُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا اَدْرِيْ مَااسْتَثْنٰى بَعْضَ نِسَآئِهٖ قَالَ فَحَدَّثَهُ الْحَدِيْثَ قَالَ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَكَلَّمَ فَقَالَ اِنَّ لَنَا طَلِبَةً فَمَنْ كَانَ ظَهْرُهٗ حَاضِرًا فَلْيَرْكَبْ مَعَنَا فَجَعَلَ رِجَالٌ يَسْتَاْذِنُوْنَهٗ فِيْ ظُهْرَانِهِمْ فِيْ عُلْوِ الْمَدِيْنَةِ فَقَالَ لَآ اِلَّا مَنْ كَانَ ظَهْرُهٗ حَاضِرًا فَانْطَلَقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَصْحَابُهٗ حَتّٰى سَبَقُوْا الْمُشْرِكِيْنَ اِلٰى بَدْرٍ وَّجَآءَ الْمُشْرِكُوْنَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُقَدِّمَنَّ اَحَدٌ مِّنْكُمْ اِلٰى شَيْءٍ حَتّٰى اَكُوْنَ اَنَا دُوْنَهٗ فَدَنَا الْمُشْرِكُوْنَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُوْمُوْا اِلٰى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ قَالَ يَقُوْلُ عُمَيْرُ الْحَمَامِ الْاَنْصَارِيُّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَارَسُوْلَ اللهِ ﷺ جَنَّةٌ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ قَالَ نَعَمْ قَالَ بَخٍ بَخٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَايَحْمِلُكَ عَلٰى قَوْلِكَ بَخٍ بَخٍ قَالَ لَا وَاللهِ يَارَسُوْلَ اللهِ اِلَّا رَجَآءَةً اَنْ اَكُوْنَ مِنْ اَهْلِهَا قَالَ

فاتک من اهلها قال فاخرج تمرات من قرنه فجعل یاکل منهن ثم قال لئن انا حییت حتی اٰکل تمراتی هذه انها لحیوة طویلة قال فرمی بما کان معه من التمر ثم قاتلهم حتی قتل. [ابوداود]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ بسیسه لره (دادیو سړی نوم دے) جاسوس مقرر کړو اواوئے لیږلو چه دابوسفیان دقلعه خبراوړی، هغه واپس راغے دغه وخت څمانه اودرسول الله ﷺ نه په کورکښے سیوا نورڅوك نۀ وو. راوی وائی ماته یادنۀ دی چه دحضرت ﷺ دکومے بی بی حضرت انسؓ ذکراوکړو، بیائے حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ بهررا اووتو اواوئے فرمائیل زمونږ کار دے نود چاسورلئ چه موجوده وی هغه دی سورشی زمونږ سره ددے په اوریدو څوسړود حضرت ﷺ نه اجازت غوښتل شروع کړو په خپلو سورلوپسے چه دمدینے منورے په اوچتو څایونو کښں وے لاړشی، چه دهغوئ سورلئ موجودے وی) آخرچه حضرت ﷺ لاړو دخپلو اصحابوؓ سره، تردے پورے چه دمشرکینو نه مخکښں بدرته اورسیدو، حضرت ﷺ اوفرمائیل ستاسو نه دی څوك دڅه څیز په طرف نۀ ورمخکښے کیږی دکومے پورے چه زۀ دهغه نه مخکښں نۀ یم، بیامشرکان نزدے اورسیدو، پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل پاڅئ جنت ته دتلو دپاره چه دهغے پلنوالے دتمامو آسمانونو اودزمکے برابر دے، عمیربن حمام انصاریؓ اووے یارسول الله ﷺ دجنت پلنوالے دزمکے اوآسمانونو برابر دے، حضرت ﷺ اوفرمائیل هان هغه اووے واه سبحان الله، حضرت ﷺ اوفرمائیل داسے ولے وائے. هغه اووے هیڅ نشته یارسول الله ﷺ ماپه دے امید سره اووے چه دجنت دخلقو نه زۀ هم یم، حضرت ﷺ اوفرمائیل ته دجنتیانو نه ئے، ددے په اوریدو هغه څو کجورے دخپل ترکش نه را اوویستے. او هغه خوړل ئے شروع کړو، بیائے اووے کچرے زۀ ژوندے پاتے شم دخپلو کجورو دخوړلو پورے نولوئے اوږد ژوندبه شی، اوڅومره کجورے چه ورسره باقی پاتے وے هغه ئے اوغورځولے، اواوجنګیدو دکافروسره تردے پورے چه شهیدشولو۔

فائده: نوویؒ وائی ددے حدیث نه معلومه شوه چه امام لره جنګ پټول درست دی ددے دپاره چه خبرفاش نۀ شی، اونقصان اونۀ رسی اوداهم معلومه شوه په کافرانو کښں ننوتل دشهادت دپاره درست دی، په دکراهت نه دجمهورعلماؤ دغه قول دے۔

(۴۹۱۶) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ قَيْسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ اَبِىْ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهُوَ بِحَضْرَةِ الْعَدُوِّ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ فَقَالَ رَجُلٌ رَثُّ الْهَيْئَةِ فَقَالَ يَااَبَا مُوْسٰى ءَ اَنْتَ سَمِعْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَرَجَعَ اِلٰى اَصْحَابِهٖ فَقَالَ اَقْرَءُ عَلَيْكُمُ السَّلَامَ ثُمَّ كَسَرَ جَفْنَ سَيْفِهٖ فَاَلْقَاهُ ثُمَّ مَشٰى بِسَيْفِهٖ اِلَى الْعَدُوِّ فَضَرَبَ بِهٖ حَتّٰى قُتِلَ. [ترمذی]

ترجمه: عبدالله بن قیس رضی الله تعالی عنه دخپل پلار نه روایت کړے دے هغه ددشمن په مخکښې وو اوویلوئے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "دجنت دروازے دتوردسورولاندے دی، ددے په اوریدویوسړے پاخیدوغریب خیرن چخن، اواوئے وئیل اے ابو موسی تاسودا درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی، هغویٔ اووے هاں حضرت ﷺ داسے فرمائیلی وو، ددے په اوریدو هغه دخپلوملګروپه طرف لاړو اواوئے وئیل زه تاسوته سلام کوم اودخپلے تورے نیام (یعنی قاش) ئے مات کړو اوتوره ئے واخسته ددشمن په طرف لاړو پس وژل ئے دشمنانو لره تردے پورے چه شهید شولو۔

(۴۹۱۷) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جَآءَ نَاسٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا اَنِ ابْعَثْ مَعَنَا رِجَالًا يُعَلِّمُوْنَا الْقُرْاٰنَ وَالسُّنَّةَ فَبَعَثَ اِلَيْهِمْ سَبْعِيْنَ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّآءُ فِيْهِمْ خَالِيْ حَرَامٌ يَقْرَءُ وْنَ الْقُرْاٰنَ وَيَتَدَارَسُوْنَ بِاللَّيْلِ يَتَعَلَّمُوْنَ وَكَانُوْا بِالنَّهَارِ يَجِيْئُوْنَ بِالْمَآءِ فَيَضَعُوْنَهٗ فِى الْمَسْجِدِ فَيَحْتَطِبُوْنَ فَيَبِيْعُوْنَهٗ وَيَشْتَرُوْنَ بِهِ الطَّعَامَ لِاَهْلِ الصُّفَّةِ وَلِلْفُقَرَآءِ فَبَعَثَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَيْهِمْ فَعَرَضُوْا لَهُمْ فَقَتَلُوْهُمْ قَبْلَ اَنْ يَّبْلُغُوا الْمَكَانَ فَقَالُوا اللّٰهُمَّ بَلِّغْ عَنَّا نَبِيَّنَا اَنَّا قَدْ لَقِيْنٰكَ فَرَضِيْنَا عَنْكَ وَرَضِيْتَ عَنَّا قَالَ وَاَتٰى رَجُلٌ حَرَامًا خَالَ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ مِنْ خَلْفِهٖ فَطَعَنَهٗ بِرُمْحٍ حَتّٰى اَنْفَذَهٗ فَقَالَ حَرَامٌ فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَصْحَابِهٖ اِنَّ اِخْوَانَكُمْ قَدْ قُتِلُوْا وَاِنَّهُمْ قَالُوا اللّٰهُمَّ بَلِّغْ عَنَّا نَبِيَّنَا اَنَّا قَدْ لَقِيْنٰكَ فَرَضِيْنَا عَنْكَ وَرَضِيْتَ عَنَّا.

ترجمه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه څه خلق درسول الله ﷺ خواله راغلو اوعرض ئے اوکړو چه په مونږ باندے یو څوسړی مقرر کړئ چه هغه مونږ ته قران

اوحدیث نسائی، حضرت ﷺ د هغوئ سره اوياانصاري سرولره مقرر كړو چه هغے ته به ئے قراء (دقاری جمع یعنی قران لوستونکی وئیلو، په هغوئ کښے څماماما حرام " هم وو هغه خلقو به قران مجيد خودل كولو، اودشپے به ئے دقران مجيد تحقيق كول ايزده كولو، اودورځې به ئے اوبه راوړے اوپه جماعت کښے به ئے ايخودے، اولرګی به ئے جمع كولو اوبيابه ئے خرڅولو، اوغله به ئے اخسته دصفے والاؤ اودفقيرانو دپاره (صفه په جماعت کښے يو ځائے وو چه پکښې اوياسړی اوسيدل چه محض په معاشه اومتوكل وو) درسول الله ﷺ هغه خلقولره كوم چه هغوئ ﷺ ورسره ملګری کړی وو) دغه کسانوپه لاره کښے دهغوئ مقابله اوکړه اوهغوئ ئے قتل کړو، (یعنی هغه خلق ئے قتل کړو کوم چه ورسره رسول الله ﷺ دقران دښودنے دپاره ملګری کړے وو)خپلوكورونوته درسيدونه مخكښے هغوئ (دمرګ په وخت) اووے ياالله جل جلاله زمونږ نبی ﷺ ته اورسوے چه مونږ ستاسره میلاؤ شو، اوراضی یو ستانه اوتهٔ زمونږ نه راضی شے، يو سړے (دکافرانو نه) دحرام خواله راغے (چه حرام دانس بن مالك ماما وو) اوپه غشی ئے لووهو هغوئ لره داسے چه پورے ترے اووتو، حرام اووے زهٔ مراد ته اورسيدم قسم دے دكعبے په مالك باندے، رسول الله ﷺ خپلو اصحابو ته اوفرمائيل "ستاسوروڼړه اووژلے شو لوهغوئ داوئيل چه ياالله جل جلاله زمونږ نبی خبر كړه چه مونږ ستاسره يو ځائے شو،اوستانه راضی يواوتهٔ زمونږ نه راضی ئے "(داخبررسول الله ﷺ ته جبرائيل عليه السلام را اورسوؤ، اوحضرت ﷺ اصحابولره خبركړل)

(۴۹۱۸) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَمِّی سُمِّیْتُ بِهٖ لَمْ یَشْهَدْمَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَدْرًا فَشَقَّ عَلَیْهِ قَالَ اَوَّلُ مَشْهَدٍ شَهِدَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ غِبْتُ عَنْهُ وَاِنْ اَرَانِیَ اللهُ مَشْهَدًا فِیْهَا بَعْدُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَیَرَانِیَ اللهُ تَعَالٰی مَااَصْنَعُ قَالَ فَهَابَ اَنْ یَّقُوْلَ غَیْرَهَاقَالَ فَشَهِدَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ اُحُدٍ قَالَ فَاسْتَقْبَلَ سَعْدُابْنَ مُعَاذٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ لَهٗ اَنَسٌ یَااَبَاعَمْرٍو اَیْنَ فَقَالَ وَاهًا لِرِیْحِ الْجَنَّةِ اَجِدُهٗ دُوْنَ اُحُدٍ قَالَ فَقَاتَلَهُمْ حَتّٰی قُتِلَ قَالَ فَوُجِدَ فِیْ جَسَدِهٖ بِضْعٌ وَّثَمَانُوْنَ مِنْ بَیْنِ ضَرْبَةٍ وَّطَعْنَةٍ وَّرَمْیَةٍ قَالَ فَقَالَتْ اُخْتُهٗ عَمَّتِیَ الرُّبَیِّعُ بِنْتُ النَّضْرِ فَمَاعَرَفْتُ اَخِیْ اِلَّا بِبَنَانِهٖ وَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰیَةُ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَاعَاهَدُوْا اللهَ عَلَیْهِ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰی

نحبَهٗ ومِنهُم مَّن يَّنتَظِرُ وَمَابَدَّلُوْا تَبدِيْلًا قَالَ فَكَانُوْ يَرَوْن اَنَّهَانَزَلَتْ فِيْهِ وَفِيْ اَصْحَابِه. [ترمذی]

ترجمه: دانسؓ نه روایت دے وائی چه زماتره چه دهغه په نوم ځمانوم ایخودے شوے دے (یعنی دهغه نوم هم انسؓ وو) درسول الله ﷺ سره دبدرپه غزاکښے شریك نهٔ شولو په دے خبره هغه دیرپریشانه وو. اودائے اووے چه زهٔ درسول الله ﷺ سره په رومبی جنگ کښے غائب پاتے شوم اوس کچرے الله تعالی په بله یوه غزاکښے مادهغویٰ ﷺ سره کړی. نو الله جل جلاله به اووینی مالره چه زهٔ څهٔ کوم. اوویریدودے نه سوا دنورو وئیلونه (یعنی دنورے څه دعوے کولو نه چه زهٔ به داسے اوکړم داسے اوکړم ولے چه کیدے شی اوئے نه کړم اوبیا دروغژن شم) بیا هغویٰ درسول الله ﷺ سره داحد جنګ له لاړو نوسعد بن معاذؓ ورله مخے له راغے اوورته ئے اووے، اے ابوعمروؓ چرته ځے (داکنیت وو دانس بن النضربن ضمضم انصاریؓ چه دانس بن مالكؓ تره وو) هغویٰ اووے افسوس داحد دطرفنه په مابانده دجنت هوارا ځی، انسؓ وائی بیا هغه اوجنګیدودکافروسره تردے پورے چه شهید شولو، (دجنګ نه پس چه اوکتلے شو) نودهغهؓ په بدن باندے اتیا زخمونه وو دتورے اودشل ، اودغشو دهغویٰؓ خور یعنی زماترور ربیع بنت نضر وائی ماخپل رورنهٔ پیژندلو سکر دهغویؓ دګوتودبندونودلیدلونه (ولے چه ټول بدن ئے زخمونوسورے سورے کړے وو) اودا آیت نازل شو چه "رِجَالٌ صَدَقُوْا مَاعَاهَدُوْا اللهَ عَلَيْهِ الخ" یعنی هغه سړے چه هغویؓ پوره کړو خپل اقرار دالله جل جلاله سره. څنو خوخپل کار پوره کړلو اوځنے انتظار کوی صحابهؓ وئیلو چه داآیت دهغویؓ اودهغویؓ دملګروپه باره کښے نازل شوے دے۔

بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُوْنَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ

څوك چې ددے دپاره جنګیږی چه دالله تعالی دین غالب شی هغه دالله جل جلاله په لاره کښې جنګیږی۔

(۴۹۱۹) عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيْ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اَعْرَابِيًّا اَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُذْكَرَوَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرٰى مَكَانُهُ فَمَنْ

فِیْ سَبِیْلِ اللهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَاتَلَ لِتَکُوْنَ کَلِمَةُ اللهِ اَعْلٰے فَهُوَ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ.

[بخاری ، ابوداود ، ترمذی، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دابو موسی اشعری رضی ا تعالی عنه نه روایت دے چه یو باندے چې درسول الله ﷺ خواله راغے. اوعرض ئے اوکړو یارسول الله ﷺ ! یو سړے جنګیږی، دنوم دپاره، اوسړے جنګیږی دخپلے مرتبے دښودلو دپاره، نو دالله تعالی په لاره کښے جنګیدل کوم یو دی ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل "څوك چه جنګیږی ددے دپاره چه دالله تعالی کلمه اوچته شی نو هغه دالله تعالی په لاره کښے دی ".

(۴۹۲۰) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ یُقَاتِلُ شَجَاعَةً وَّیُقَاتِلُ حَمِیَّةً وَّیُقَاتِلُ رِیَآءً اَیُّ ذٰلِکَ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَاتَلَ لِتَکُوْنَ کَلِمَةُ اللهِ هِیَ الْعُلْیَا فَهُوَ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ.

ترجمه : دابو موسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ نه دهغه سړی په باره کښے تپوس اوکړے شو چه هغه جنګیږی دبهادرئ خودلو دپاره یاجنګیږی دخپل قوم لوخاندان دعزت دپاره یاجنګیږی دځان ښودلو دپاره، نوکوم یو جنګیدل دپاره دالله جل جلاله دی. حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك چه ددے دپاره جنګیږی چه دالله تعالی کلمه اوچته شی هغه دالله تعالی په لاره کښے جنګیدل دی.

(۴۹۲۱) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی قَالَ اَتَیْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا یَارَسُوْلَ اللهِ الرَّجُلُ یُقَاتِلُ مِنَّاشَجَاعَةً فَذَکَرَ مِثْلَهُ.

ترجمه : ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده.

(۴۹۲۲) عَنْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا سَاَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْقِتَالِ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ فَقَالَ الرَّجُلُ یُقَاتِلُ غَضَبًا وَّیُقَاتِلُ حَمِیَّةً قَالَ فَرَفَعَ رَاْسَهُ اِلَیْهِ وَمَارَفَعَ رَاْسَهُ اِلَیْهِ اِلَّا اَنَّهُ کَانَ قَآئِمًا فَقَالَ مَنْ قَاتَلَ لِتَکُوْنَ کَلِمَةُ اللهِ هِیَ الْعُلْیَا فَهُوَ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ.

ترجمه : دابو موسی اشعری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو سړی درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه دالله په لاره کښے جنګ کوم یو دے نو اوئے وئیل چه سړے جنګ کوی دغصے

نه جنګ کوی دخپل قوم په طرفدارئ کښے پس حضرت ﷺ خپل سراوچت کړو ددے وجے نه چه هغه ولاړ وو(اوحضرت ﷺ ناست وو) حضرت ﷺ اوفرمائیل "څوک چه جنګ کوی ددے دپاره چه دالله تعالی کلمه غالبه شی (یعنی توحید غالب شی په شرك باندے اوکفرختم شی) نو هغه جنګ دالله جل جلاله په لاره کښے دے"۔

بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِلرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اسْتَحَقَّ النَّارَ۔

کوم بنده چه خلقو ښودنے دپاره جنګیږی هغه جهنمی دے

(۴۹۲۳) عَنْ سُلَيْمَانَ ابْنِ يَسَارٍ قَالَ تَفَرَّقَ النَّاسُ عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ لَهُ نَاتِلُ اَهْلِ الشَّامِ اَيُّهَا الشَّيْخُ حَدِّثْنِىْ حَدِيْثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ اَوَّلَ النَّاسِ يُقْضٰى يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ نِ اسْتُشْهِدَ فَاُتِىَ بِهٖ فَعَرَّفَهُ نِعْمَتَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا قَالَ قَاتَلْتُ فِيْكَ حَتّٰى اسْتُشْهِدْتُ قَالَ كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِاَنْ يُّقَالَ جَرِىْءٌ فَقَدْ قِيْلَ ثُمَّ اُمِرَ بِهٖ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهٖ حَتّٰى اُلْقِىَ فِى النَّارِ وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ وَقَرَءَ الْقُرْاٰنَ فَاُتِىَ بِهٖ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا قَالَ تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَءْتُ فِيْكَ الْقُرْاٰنَ قَالَ كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ عَالِمٌ وَقَرَءْتَ الْقُرْاٰنَ لِيُقَالَ هُوَ قَارِىءٌ فَقَدْ قِيْلَ ثُمَّ اُمِرَ بِهٖ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهٖ حَتّٰى اُلْقِىَ فِى النَّارِ وَرَجُلٌ وَّسَّعَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاَعْطَاهُ مِنْ اَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهٖ فَاُتِىَ بِهٖ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا قَالَ مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيْلٍ تُحِبُّ اَنْ يُّنْفَقَ فِيْهَا اِلَّا اَنْفَقْتُ فِيْهَا لَكَ قَالَ كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ هُوَ جَوَادٌ فَقَدْ قِيْلَ ثُمَّ اُمِرَ بِهٖ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ثُمَّ اُلْقِىَ فِى النَّارِ۔ [نسائی]

ترجمه : دسلیمان بن یسار رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه خلق دابو هریره رضی الله تعالی عنه دخوانه جداشول، نوناتل اووے چه دشام والاؤ نه وو (ناتل بن قیس خرامی دادفلسطین اوسیدونکے وو اوداتابعی دے دده پلار صحابی وو) اے شیخه ماته یو حدیث بیان کړه کوم چه تادرسول الله ﷺ نه اوریدلے وی ابو هریره رضی الله تعالی عنه اووے بنه ده مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو "رومبئ په قیامت کښ چه دچافیصله

وی هغه به یوسړے وی چه شهید شوے وی، هرکله چه هغه دالله تعالی خواته راوستے شی نو الله تعالی به خپل نعمت هغه ته اوبنائی او هغه به ئے اوپیژنی نو الله تعالی به ترے تپوس اوکړی تاددے دپاره څه عمل کړے دے هغه به اووائی زه جنګیدلے یم ستاپه لاره کښے تردے پورے چه شهید شوے یم، الله جل جلاله به اوفرمائی تۀ دروغ وائے ته جنګیدلے ددے پداره چه خلق ماته بهادر اووائی، اوتاته بهادر اووئیلے شو بیابه حکم اوشی چه دے پرمخے په رابنکودوپه جهنم کښے اوغورځوئ، اویوسړے به وی چه هغه به ددین علم بنودلے وی اوقران به ئے لوستلے وی. هغه به دالله پاك په حضور کښے حاضر کړے شی هغه به ورته خپل نعمتونه اوبنائی هغه به ئے اوپیژنی، بیابه ورته اووئیلے شی چه تاددے دپاره څه عمل کړے دے ؟ هغه به اووائی چه ماعلم کړے وو اونوروته می ایزده کولو، اوقران می لوستلو الله پاك به ورته اوفرمائی تۀ دروغ وائے تاددے دپاره علم کړے وو، چه خلق تاته عالم اووائی اوقران دی ددے دپره لوستلو چه خلق تاته قاری اووائی تاته عالم اوقاری په دنیاکښے وئیلے شوی دی، بیابه حکم اوکړی ده لره پرمخے په رابنکودو جهنم ته اوغورځوئ، اویوسړے به وی چه ده ته الله تعالی مال ورکړے وو اوده په هره طریقه لګولے وو هغه به دالله پاك خواله راوستے شی الله تعالی به ورته خپل نعمتونه اوښائی لوهغه به ئے اوپیژنی، الله تعالی ترے تپوس اوکړی، تاددے دپاره څه عمل کړے دے ؟ هغه به اووائی مایوه لاردمال خرچ کولو چه په هغے کښ مال خرچ کول غوره وو ستادپاره نۀ ده پرے ایخے، الله تعالی به ورته اووائی تۀ دروغژن ئے تاخوددے دپاره خرچ کولو چه خلق تاته سخی اووائی نوتاته خلقوپه دنیاکښے سخی وئیلے دے بیابه حکم اوشی ده لره پرمخے په رابنکودوجهنم ته اوغورځوئ.

فائده : نو جهاد اوعلم اوصدقه اودقران تلاوت دومره لوئے لوئے عبادتونه به ضائع کړے شی. الله جل جلاله دی تمام مسلمانان سره زمونږه دریا اونمائش نه اوساتی ریاوغیره څه بده بلاده چه ټول محنت اومشقت بے ځایه کوی، دچاقول دے چه نیکی برباد ګناه لازم، مؤمن له پکار دی که لږ عمل کوی یادیرخو چه خاص دالله جل جلاله درضا دپاره ئے کوی، دښودنے په خیال ئے هیڅ کله نۀ کوی، ځکه دالله جل جلاله بندیګانو دریا دزیلے کټ کولو په حقیقت کښے

هغه فسق نۀ وی، خو هغوئ داغواړی چه خلق هغوئ لره بنه اونۀ گنړی، اوس چه هغه څۀ عمل کوی الله جل جلاله په هغے خبر دے اود هغے مطابق به ورته ثواب میلاویږی۔

غرض دا چه که دنیکئ عمل دخلقو په مخکښے اوکړے شی نو هم بده نۀ ده په دے شرط چه نیت ئے خلقوته دښودنے دپاره نۀ وی، اوخالص دالله جل جلاله درضامندی ئے مقصود وی، اوحتی المقدور دخپلو نیکو عملونو پټول غوره دی، په دے شرط چه دهغے په پټولو کښے ئے څه قباحت نۀ وی، مثلاً فرض مونځ نۀ شی پټولے، ولے چه په هغے کښ جماعت ضروری دے، لیکن نفل مونځ صدقه ،اوتهجد اوعبادات په پټه سره اداکولے شی، اوصدقه هغه غوره ده چه په ښی لاس ئے ورکړے اوګس لاس ترے خبرنۀ شی۔

(۴۹۲۴) عَنْ سُلَيْمَانَ ابْنِ يَسَارٍ قَالَ تَفَرَّجَ النَّاسُ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ لَهُ نَاتِلُ الشَّامِيُّ وَاقْتَصَّ الْحَدِيْثَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ خَالِدِ ابْنِ الْحَارِثِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دتیرشوی حدیث پشان ده۔

بَابُ بَيَانِ قَدْرِ ثَوَابِ مَنْ غَزَافَغَنِمَ وَمَنْ لَّمْ يَغْنَمْ

خوک چه جهاد کوی اوغنیمت گټی ددے ثواب دهغے نه کم دے چه جهاد کوی اوغنیمت نۀ اخلی۔

(۴۹۲۵) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَامِنْ غَازِيَةٍ تَغْزُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَيُصِيْبُوْنَ الْغَنِيْمَةَ اِلَّاتَعَجَّلُوْا ثُلُثَيْ اَجْرِهِمْ مِّنَ الْاٰخِرَةِ وَيَبْقٰى لَهُمُ الثُّلُثُ وَاِنْ لَّمْ يُصِيْبُوْا غَنِيْمَةً تَمَّ لَهُمْ اَجْرُهُمْ. [ابوداود ، نسائی ،ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "کوم لښکر چه دالله په لاره کښے اوجنګیږی، اودلوټ مال اوګټی نو هغوئ ته به پوره ثواب په آخرت کښے میلاویږی۔

(۴۹۲۶) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمْرٍورَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَامِنْ غَازِيَةٍ اَوْسَرِيَّةٍ تَغْزُوْا فَتَغْنَمُ وَتَسْلَمُ اِلَّا كَانُوْا قَدْتَعَجَّلُوْا ثُلُثَيْ اُجُوْرِهِمْ وَمَامِنْ غَازِيَةٍ اَوْسَرِيَّةٍ تُخْفِقُ وَتُصَابُ اِلَّاتَمَّ اُجُوْرُهُمْ.

ترجمه: دعبدالله بن عمرو رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "چه یو سرے یا دفوج تکړه جهاد اوکړی اوغنیمت حاصل کړی، اوسلامت پاتے شی نو هغوئ ته دآخرت دثواب نه دوه حصے په دنیاکښے میلاؤشوے، اوکوم لښکریادفوج تکړه په خالی لاس راشی اونقصان اوچت کړی، (یعنی زخمی شی یااووژلے شی)نو هغوئ ته به په آخرت کښے پوره ثواب میلاویږی۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی مطلب دحدیث دادے چه مجاهدین هرکله سلامت پاتے شی اولوټ حاصل کړی، نودهغوئ ثواب به په نسبت دهغه مجاهدینو کم وی چه هغه سلامت پاتے نۀ شی یاسلامت پاتے شی خو غنیمت حاصل نۀ کړی، اولوټ لکه چه دبل دے دثواب دیوے حصے نولوټ هم به اجرکښے داخل دے، اودااحادیث صحیحه موافق دے، اوددے په خلاف کښ حدیث صحیح اوصریح نۀ دے راغلے۔

بَابُ قَوْلِهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ

دهر عمل ثواب دنیت موافق وی۔

(۴۹۲۷) عَنْ عُمَرَابْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ وَاِنَّمَا لِاِمْرِئٍ مَّانَوٰى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَهِجْرَتُهٗ اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهٗ لِدُنْيَا يُصِيْبُهَا اَوِامْرَاَةٍ يَّتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهٗ اِلٰى مَاهَاجَرَاِلَيْهِ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دحضرت عمررضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "دعملونواعتبار په نیت سره دے اودبنده دپاره هم هغه دی دځه چه هغه نیت کړے وی، پس هغه چاچه دالله جل جلاله اودهغه درسول الله ﷺ دپاره هجرت اوکړونودهغه هجرت دالله اودهغه درسول الله ﷺ دپاره دے، اوچاچه هجرت ددنیادګټلویادچاښځے دواده کولو دپاره وی، نودهغه هجرت هم ددغے دپاره دے"۔

فائده: ددے حدیث قصه داده چه یوسړی دیوے ښځے دپاره چه دهغے نوم ام قیس وو دمدینے په طرف هجرت اوکړو، خلقوددہ حال حضرت ﷺ ته بیان کړو، پس حضرت ﷺ

داحدیث اوفرمائیلو۔

امام نووی وائی چه ددے حدیث په عظمت اوزیاتوفائدوباندے عالمانواتفاق کړے دے۔
امام شافعیؒ وائی چه داحدیث دریمه حصه ده اسلام اوشافعیؒ وئیلی دی چه دفقهے په اویابابونو کښے ددے حدیث دخل دے۔ اوځنوورته داسلام شلورمه حصه وئیلی ده. اوعبدالرحمن بن مهدی وئیلی دی، څوك چه یوکتاب لره تصنیف کوی نوداحدیث دی ورله په شروع کښے لیکی، ددے دَ پاره چه طالب ته دنیت دصحیح کولو دپاره خبردارے وی، اوبخاریؒ هم دغسے وئیلی دی، اودے حدیث لره ئے په خپل کتاب کښے اووه ځایه نقل کړے دے حفاظ وئیلی دی، چه داحدیث صرف دحضرت عمررضی الله تعالی عنه نه صحیح دے، اودحضرت عمررضی الله تعالی عنه نه هم هیچانۀ دے نقل کړے سوا دعلقمه بن وقاصؒ نه، اودعلقمه نه هم هیچانۀ دے نقل کړے سوا دمحمد ابراهیم تیمیؒ نه، اودمحمدؒ نه هم هیچانۀ دے نقل کړے سوا دیحیی بن سعید انصاریؒ نه، البته دیحیی نه داحدیث مخکښے نور ددوه سوه سرونه زیاتودے حدیث لره دیحیی نه نقل کړے دے، اوځکه خواکثرو امامانودے حدیث ته متواترنۀ وئیلے، اګرکه په خاص اوعامو کښے مشهوردے، ولے چه په شروع داسناد کښے ئے تواترنشته دے۔
اوپه دے حدیث کښے یولطف دادے چه درے واړه تابیعین دے لره دیوبل نه روایت کوی، یحییؒ، اومحمدؒ، اوعلمقهؒ۔

جمهورعلماؤ وئیلی دی چه انمادحصردپاره دے نو مطلب دحدیث دادے چه عمل به په هغه صورت کښے معتبروی هرکله چه ئے نیت وی اوبغیردنیت نه به لغوه وی۔ اوپه دے کښ دلیل دے چه اودس اوغسل اوتیمم بغیردنیت نه صحیح نه دی، دغه شان مونځ اوز کوٰة اوروژه اوحج اواعتکاف اوتمام عبادتونه، لیکن دپلیتیٔ په وینځلو کښے نیت شرط نۀ دے۔ انتهی مختصرا۔

(۴۹۲۸) عَنْ يَحْيَى ابْنَ سَعِيدٍ بِإِسْنَادِ مَالِكٍ وَمَعْنَى حَدِيثِهِ وَفِي حَدِيثِ سُفْيَانَ سَمِعْتُ عُمَرَابْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ مِنْبَرِيُخْبِرُعَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده، خوپه دے کښے دادی چه مادحضرت عمررضی الله

تعالی عنه نه اوریدلی دی چه هغوئ په منبرباندے بیانولو درسول الله ﷺ نه۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ طَلَبِ الشَّهَادَةِ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ تَعَالٰی

دالله جل جلاله په لاره کښې دشهادت غوښتلوثواب

(۴۹۲۹) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الشَّهَادَةَ صَادِقًا اُعْطِیَهَا وَلَوْلَمْ تُصِبْهُ.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے واثی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "څوك چه دزړهٔ په صدق سره دشهادت آرزو کوی هغه ته دشهادت ثواب میلاویږی اګرکه شهید نهٔ شی۔

(۴۹۳۰) عَنْ سَهْلِ ابْنِ حُنَیْفٍ حَدَّثَهُ عَنْ اَبِیْهِ عَنْ جَدِّهٖ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَاَلَ اللهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَآءِ وَاِنْ مَّاتَ عَلٰی فِرَاشِهٖ وَلَمْ یَذْکُرْاَبُوْالطَّاهِرِفِیْ حَدِیْثِهٖ بِصِدْقٍ. [ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دسهل بن حنیف ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه دزړهٔ داخلاصه دالله جل جلاله نه دشهادت تمنا کوی الله جل جلاله به هغه ته دشهیدانو درجه ورکوی اګرکه هغه پخپله بستره باندے وفات شی۔

بَابُ ذَمِّ مَنْ مَّاتَ وَلَمْ یَغْزُوَلَمْ یُحَدِّثْ نَفْسَهٗ بِالْغَزْوِ

هغه څوك چه مړشی بغیردجهاد نه بغیردنیت دجهاد نه دهغه دبدوالی بیان۔

(۴۹۳۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَلَمْ یَغْزُوَلَمْ یُحَدِّثْ بِهٖ نَفْسَهٗ مَاتَ عَلٰی شُعْبَةٍ مِّنْ نِّفَاقٍ قَالَ ابْنُ سَهْمٍ قَالَ عَبْدُاللهِ ابْنُ الْمُبَارَكِ فَنُرٰی اَنَّ ذٰلِکَ عَلٰی عَهْدِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ. [ابوداود، نسائی]

ترجمه: دحضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے واثی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "څوك چه مړشی اوجهادئے نهٔ وی کړے نهٔ ئے نیت دجهاد کړے وی، هغه

دمنافقانو په طور مرشو " عبدالله بن مبارک وائی چه مونږ خیال کوو چه داحدیث درسول الله ﷺ دزمانے سره تعلق لری۔

فائده: اوخلقو اوویے داحدیث عام دے اومطلب دادے چه داسے سړے دمنافقانو مشابه شولو، لکه څنګه چه منافق په کورکښے ناست وی اودجهاد نه خبرنۀ وی، دغه شان ده هم اوکړو اودجهاد پریخودل منافقت دے۔ انتهی

بَابُ ثَوَابِ مَنْ حَبَسَهُ مِنَ الْغَزْوِ مَرَضٌ اَوْعُذْرٌ اٰخَرُ۔

څوک چه جهاد نۀ شی کولے دبیمارئ یادعذر دوجے نه دهغه ثواب

(۴۹۳۲) عَنْ جَابِرٍرَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِیِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِیْ غَزَاةٍ فَقَالَ اِنَّ بِالْمَدِيْنَةِ لَرِجَالًا مَاسِرْتُمْ مَسِيْرًا وَّلَاقَطَعْتُمْ وَادِيًا اِلَّاكَانُوْا مَعَكُمْ حَبَسَهُمُ الْمَرَضُ. [ابن ماجه]

ترجمه: دجابرؓ نه روایت دے وائی چه مونږ په یو جنګ کښے درسول الله ﷺ سره وو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل "په مدینه کښے څه خلق دی، هرکله چه تاسو ځئ یایو بے وادئ لره طے کوئ نو هغه ستاسو سره دی، (یعنی دهغوئ هم دغه ثواب کیږی کوم چه ستاسو کیږی) هغه دبیمارئ په وجه ستاسره نه شی راتلے۔"

(۴۹۳۳) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَاَنَّ فِیْ حَدِيْثِ وَكِيْعٍ اِلَّاشَرِكُوْكُمْ فِی الْاَجْرِ.

ترجمه: ترجمه بدے هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ فَضْلِ الْغَزْوِفِی الْبَحْرِ

په درباب کښے دجهاد کولو فضیلت

(۴۹۳۴) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْخُلُ عَلٰی اُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ فَتُطْعِمُهٗ وَكَانَتْ اُمُّ حَرَامٍ تَحْتَ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَدَخَلَ عَلَيْهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَاَطْعَمَتْهُ ثُمَّ جَلَسَتْ تَفْلِیْ رَاْسَهٗ فَنَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَيَضْحَكُ قَالَتْ فَقُلْتُ مَايُضْحِكُكَ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ نَاسٌ مِّنْ اُمَّتِیْ عُرِضُوْا عَلَیَّ غُزَاةً فِیْ سَبِيْلِ اللهِ يَرْكَبُوْنَ ثَبَجَ هٰذَا الْبَحْرِمُلُوْكًا عَلَی الْاَسِرَّةِ اَوْمِثْلَ الْمُلُوْكِ عَلَی

الا سرة يشك ايهما قال قالت فقلت يارسول الله ادع الله ان يجعلني منهم فدعالها ثم وضع رأسه فنام ثم استيقظ وهو يضحك قالت فقلت مايضحكك يارسول الله قال ناس من امتي عرضوا علي غزاة في سبيل الله كما قال في الاولى قالت فقلت يارسول الله ادع الله ان يجعلني منهم قال انت من الاولين فركبت ام حرام بنت ملحان البحر في زمان معاوية فصرعت عن دابتها حين خرجت من البحر فهلكت. [بخاری ، ابو داود ، ترمذی، نسائی]

ترجمه : دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ به دام حرام بنت ملحان خواله تللو. (ولے چه هغه دحضرت ﷺ محرمه وه یعنی رضاعی ترور یادحضرت ﷺ دپلار یادنیکه ترور) هغے به په حضرت غله خوروله، اوام حرام دعباده بن صامت په نکاح کښے وه یوه ورځ رسول الله ﷺ دهغوی خواله لاړو، هغوی په حضرت ﷺ غله اوخوروله، بیاکیناسته دحضرت په سرکښے ئے سپږے کتلے اورسول الله ﷺ اوده شولو، بیاحضرت ﷺ په خنداکښے رابیدارشو، ام حرام ترے تپوس اوکړو چه تاسولے خنداکوئ یارسول الله ﷺ! حضرت ﷺ اوفرمائیل څمادامت څه خلق څمامخے ته حاضر کړے شو، دالله په لاره کښے دجهاد په واسطه په دے شان ددریاب په مینځ کښے سواره شوی وو لکه څنګه چه بادشاه په تخت باندے وړخیږی یابادشاهانو په شان په تخت باندے، ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ الله جل جلاله ته سوال اوکړئ چه ما هم دهغوئ نه حساب کړی، حضرت ﷺ دعاوکړه اوبیائے سرمبارك کیښودو اوده شولو، بیاپه خنداراوبینت شو، ماترے تپوس اوکړو تاسولے خاندئ حضرت ﷺ اوفرمائیل. څه خلق زمادامت زماپه مخکښے حاضرکړے شو چه دجهاددپاره روان وو. اوبیان ئے اوکړوپه دغه شان لکه چه پورته تیرشو. ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ دعا اوغواړئ دالله تعالی نه چه الله جل جلاله ما هم دهغه خلقونه کړی، حضرت ﷺ اوفرمائیل ته درومبو خلقونه شوے ئے. بیاام حرام دلمحان لور دمعاویه په زمانه کښے سرره شوه په دریاب کښے، (دجزیره قبرص دفتح کولو دپاره، کوم چه دیارلس سوه کاله پس سلطان روم انګریزانو ته حواله کړلو) اودخناورنه رااوغورزیده هرکله چه ددریاب نه را اووته نو مړه شوله.

فائده : نووی وائی ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه سپږے وژل جائز دی، دغه شان

دمحرم سرمسحه کول دهغه سره ځانله کیدل اودهغه په خواکښې اوده کیدل جائز دی، اوپه دې حدیث کښې دحضرت ﷺ څومعجزې ذکر دی، یوخودخپل امت دترقئ پیشن ګوئی۔ دوئم داچه به په دریاب کښې جهاد کوی۔ دریم داچه ام حرام به تر هغې پورې ژوندئ وی اودهغوئ سره به شهیده کیږی۔ اوداجهاد دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په خلافت کښې شوې وو دمعاویهؓ په سرداریٔ کښې یادمعاویهؓ په حکومت کښې۔ مګراکثراهل سیررومې قول اختیاره وی ددې حدیث نه داخبره هم معلومه شوه چه ښځه اوسړې دواړه په دریاب کښې سورلی کولې شی۔ (انتهی مختصر)

(۴۹۳۵) عَنْ اُمِّ حَرَامٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا خَالَةُ اَنَسٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَتْ اَتَانَا النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمًا فَقَالَ عِنْدَنَا فَاسْتَیْقَظَ وَهُوَ یَضْحَکُ فَقُلْتُ مَا یُضْحِکُکَ یَارَسُوْلَ اللّٰہِ بِاَبِیْ اَنْتَ وَاُمِّیْ قَالَ اُرِیْتُ قَوْمًا مِنْ اُمَّتِیْ یَرْکَبُوْنَ ظَهْرَ الْبَحْرِ کَالْمُلُوْکِ عَلَی الْاَسِرَّةِ فَقُلْتُ ادْعُ اللّٰہَ اَنْ یَجْعَلَنِیْ مِنْهُمْ قَالَ فَاِنَّکِ مِنْهُمْ قَالَتْ ثُمَّ نَامَ فَاسْتَیْقَظَ اَیْضًا وَهُوَ یَضْحَکُ فَسَاَلْتُهُ فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ فَقُلْتُ ادْعُ اللّٰہَ اَنْ یَجْعَلَنِیْ مِنْهُمْ قَالَ اَنْتِ مِنَ الْاَوَّلِیْنَ قَالَ فَتَزَوَّجَهَا عُبَادَةُ ابْنُ الصَّامِتِ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ بَعْدُ فَغَزَا فِی الْبَحْرِ فَحَمَلَهَا مَعَهُ عَلَی الْمِنْبَرِ فَلَمَّا اَنْ جَآءَتْ قُرِبَتْ لَهَا بَغْلَةٌ فَرَکِبَتْهَا فَصَرَعَتْهَا فَانْدَقَّتْ عُنُقُهَا.

[بخاری ، ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دام حرامؓ بنت ملحان نه روایت دې لکه څنګه چه پورته تیرشولو، دامختصردې، اوپه دې کښې دادی، چه دهغې سره عباد بن صامتؓ نکاح اوکړو، ورستوددې نه نوروخلقوجهاد لوکړو په سمندرکښې، عبادهؓ هغېؓ لره هم دځان سره بوتلله، هرکله چه هغهؓ راغله نویواس ورته مخکښې راوستې شو، داپه هغه باندې سوره شوله لیکن هغه قچرهغېؓ لره اوغورځوله، اودهغېؓ څټ مات شولو، (اوشهیده شوه)

(۴۹۳۶) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ خَالَتِهٖ اُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّهَا قَالَتْ نَامَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمًا قَرِیْبًا مِنِّیْ ثُمَّ اسْتَیْقَظَ یَتَبَسَّمُ فَقُلْتُ یَارَسُوْلَ اللّٰہِ مَا اَضْحَکَکَ قَالَ نَاسٌ مِّنْ اُمَّتِیْ عُرِضُوْا عَلَیَّ یَرْکَبُوْنَ ظَهْرَ هٰذَا الْبَحْرِ الْاَخْضَرِ ثُمَّ ذَکَرَ نَحْوَ حَدِیْثِ حَمَّادِ ابْنِ زَیْدٍ.

ترجمه: حضرت انس بن مالك رضی الله تعالی عنه دخپلې ترور ام حرامؓ بنت ملحان نه روایت کړے دے، هغوئ اوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه حضرت ﷺ یو ځل زماپه خواکښے اوده شو بیاپه نرئ خنداکښے راویښ شولو، ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ تاسولے خاندئ حضرت ﷺ اوفرمائیل څمادامت څه خلق څمامخے ته راوستے شو چه سواره شوی وو په هغه شین دریاب باندے، بیائے بیان کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته تیرشولو۔

(۴۹۳۷) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ اَتٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنْتَ مِلْحَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا خَالَةَ لِاَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَوَضَعَ رَاْسَهُ عِنْدَهَا وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ اِسْحَاقَ ابْنِ اَبِىْ طَلْحَةَ وَمُحَمَّدِابْنِ يَحْيٰى ابْنِ حَبَّانٍ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

بَابُ فَضْلِ الرِّبَاطِ فِىْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ۔

دالله جل جلاله په لاره کښے دخوکئ کولو اوپهرے ورکولو فضیلت۔

(۴۹۳۸) عَنْ سَلْمَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌمِّنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهٖ وَاِنْ مَّاتَ جَرٰى عَلَيْهِ عَمَلُهُ الَّذِىْ كَانَ يَعْمَلُهُ وَاُجْرِىَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ وَاَمِنَ الْفُتَّانَ. [نسائی]

ترجمه: دسلمانؓ نه روایت دے وائی چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو "دالله جل جلاله په لاره یوه شپه ورځ پهره خوکئ کول دیوے میاشتے دروژونیولو اوعبادت کولو نه غوره دی. اوکچرے مړشی پکښے نودهغه داکاربه برابر جاری وی (یعنی دهغه ثواب به دمرګ نه پس هم نۀ اودریږی بلکه په مخه به زیاتیږی، داخاص ده ددے عمل سره) اودهغه رزق به په هغه باندے جاری کړے شی (کوم چه شهیدانوته میلاویږی) اوپه امن به وی دفتنونه۔

(۴۹۳۹) عَنْ سَلْمَانَ الْخَيْرِعَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ اللَّيْثِ عَنْ اَيُّوْبَ ابْنِ مُوْسٰى. [راجع: ۴۹۳۸]

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

بَابُ بَيَانِ الشُّهَدَآءِ

دشهيدانو بيان

(۴۹۴۰) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِیْ بِطَرِيْقٍ وَّجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَے الطَّرِيْقِ فَاَخَّرَهٗ فَشَكَرَ اللّٰهُ لَهٗ فَغَفَرَ لَهٗ وَقَالَ الشُّهَدَآءُ خَمْسَةٌ اَلْمَطْعُوْنُ وَالْمَبْطُوْنُ وَالْغَرِقُ وَصَاحِبُ الْهَدَمِ وَالشَّهِيْدُ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ.

ترجمه: دابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلی دی يو سړے روان وو، هغه په لاره کښے دغنويو څانګه اوليده، هغه ئے دلارے نه لرے کړه الله تعالی دهغے په بدله کښے هغه اوبخلو او حضرت ﷺ فرمائيلی دی شهيد پنځه قسمه دے، څوك چه په طاعون (دايوه هغه وبا چه عامه شی لکه په دے زمانه کښے طاعون په ټے اودست سره راځی) سره مړشی، يعنی دګيډے دتکليف نه مړشی (لکه دستو نه ياپيچش يااستسقاء) او څوك چه په اوبو کښے ډوب شی او مړشی يادځه درو ند څيز دلاندے مړشی، او څوك چه دالله تعالی په لاره کښے اووژلے شی۔

فائده: نووی عليه الرحمة وئيلی دی، ددوئ نه سوا نور خلق هغه په نورو احاديثو کښے مذکور دی، لکه څوك چه دګردے دردد نه مړشی ، او څوك چه اوسوزی او مړشی، يا ښځه دبچی په پيدئش کښے مړه شی، يو سړے دخپل مال په سر مړشی، يادمال په څوکئ کولو کښے مړشی، يا يو سړے دخپل بال بچ په بچ کولو کښے مړشی، او مراد ددوئ دشهادت نه دا دے چه په آخرت کښے به دوئ ته ثواب دشهيدانو ميلاويږی، ليکن دوئ له به غسل ورکولے شی او په دوئ باندے به مونځ لوستلے شی، البته څوك چه دالله تعالی په لاره کښے شهيد شی هغه ته به غسل نۀ شی ورکولے او دهغه بيان په کتاب الايمان کښے تيرشوے دے۔

(۴۹۴۱) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاتَعُدُّوْنَ الشَّهِيْدَ فِيْكُمْ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ مَنْ قُتِلَ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ قَالَ اِنَّ شُهَدَاءَ اُمَّتِیْ اِذًا لَّقَلِيْلٌ قَالُوْا فَمَنْ

هُمْ يَارَسُوْلَ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ وَّمَنْ مَاتَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ وَّمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُوْنِ فَهُوَ شَهِيْدٌ وَّمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيْدٌ قَالَ ابْنُ مِقْسَمٍ اَشْهَدُ عَلٰى اَبِيْكَ فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ اَنَّهٗ قَالَ وَالْغَرِيْقُ شَهِيْدٌ.

ترجمه: د حضرت ابو هريره رضي الله تعالى عنه نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل "تاسو شهيد چاته وايئ؟ هغوئ اووے يارسول الله ﷺ! څوك چه دالله پاك په لاره كښے اووژلے شي هغه شهيد دے، حضرت ﷺ اوفرمائيل بيا خو به څما په امت كښے ډيركم شهيدان وي. بيا شهيدان كوم كوم خلق دي. حضرت ﷺ اوفرمائيل څوك چه دالله جل جلاله په لاره كښے اووژلے شي هغه شهيد دے، او څوك چه دالله جل جلاله په لاره كښے مرشي (مثلا حج يا جهاد له په تلو كښے) هغه هم شهيد دے څوك چه په طاعون (وبا) كښے مرشي هغه هم شهيد دے، او څوك چه دګيډے دتكليف نه مرشي هغه هم شهيد دے، او څوك چه ډوب شي اومرشي هغه هم شهيد دے.

(۴۹۴۲) عَنْ سُهَيْلٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ غَيْرَ اَنَّ فِيْ حَدِيْثِهٖ قَالَ سُهَيْلٌ قَالَ عُبَيْدُاللهِ ابْنُ مِقْسَمٍ اَشْهَدُ عَلٰى اَبِيْكَ اَنَّهٗ زَادَ فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ وَمَنْ غَرِقَ فَهُوَ شَهِيْدٌ.

ترجمه: ددے حديث ترجمه هم ددے پورته حديث په شان ده.

(۴۹۴۳) عن سُهَيْلٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ فِيْ حَدِيْثِهٖ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُبَيْدُاللهِ ابْنُ مِقْسَمٍ عَنْ اَبِيْ صَالِحٍ وَّزَادَ فِيْهِ الْغَرِقُ شَهِيْدٌ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دتيرشوي حديث په شان ده.

(۴۹۴۴) عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيْرِيْنَ قَالَتْ قَالَ لِيْ اَنَسُ ابْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِمَ مَاتَ يَحْيٰى ابْنُ اَبِيْ عَمْرَةَ قَالَتْ قُلْتُ بِالطَّاعُوْنِ قَالَتْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُوْنُ شَهَادَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ. [بخاري]

ترجمه: د حفصه بنت سيرين نه روايت دے وائي چه انس بن مالك رضي الله تعالى عنه څمانه تپوس اوكړو چه يحيى بن ابى عمره په كومه بيمارئ سره وفات شولو ما اووے، په طاعون سره، هغوئ اووے رسول الله ﷺ فرمائيلي دي "طاعون شهادت دے د هر مسلمان دپاره".

فائده: څما درے رونړو يعني مولوي حاجي واعظ مشهور مولوي بديع الزمان صاحب،

او مولوی حافظ حاجی فریدالزمان او مولوی حاجی سعیدالزمان دحیدرآباد په ښهرکښے په طاعون مرض سره انتقال کړے دوئ معطعون هم مره شو لومبطون هم. الله پاك دی هغوئ له دشهادت بدله ورکړی اوزمونږ دهغوئ ملاقات دی په جنت کښے نصیب کړی کوم مسلمانان چه دے ترجمے لره لولی هغه دی دالله جل جلاله دپاره مونږ څلورو ولړوه رونړه دخپلو خیر په دعاګانو کښے .....نه هیروی۔ (مترجم)

(۴۹۳۵) عَنْ عَاصِمٍ فِیْ هٰذَا الْاِسْنَادِ بِمِثْلِهٖ .

ترجمه: دعاصمؒ نه هم په دغه اسناد سره روایت دے لکه چه پورته ذکرشو۔

بَابُ فَضْلِ الرَّمْیِ

دغشوویشتلوثواب

(۴۹۳۶) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَی الْمِنْبَرِ یَقُوْلُ وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ اَلَا اِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْیُ اَلَا اِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْیُ اَلَا اِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْیُ. [ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دعقبه بن عامر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو. الله تعالی فرمائی، "تیارکړئ دکافرانو دپاره زورلره دزورنه مراد تیراندازی ده دزورنه مراد تیراندازی ده دزورنه مراد تیراندازی ده۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی دجهاد دپاره دتیراندازی ایزده کولو فضیلت ددے حدیث نه وتلے دے اوپه دے باندے قیاس کول پکار دی، دهرے یوے وسلے مشق لره. اودآس سورلی اومنډه وغیره چه دجهاد په نیت سره وی۔ انتهی

(۴۹۳۷) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ سَتُفْتَحُ عَلَیْکُمْ اَرَضُوْنَ وَیَکْفِیْکُمُ اللّٰهُ فَلَا یَعْجِزُ اَحَدُکُمْ اَنْ یَّلْهُوَ بِاَسْهُمِهٖ.

ترجمه: دعقبه بن عامر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ما اوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو"په خوورځوکښے به څوملکونه ستاسوپه لاسونو باندے فتح شی، اوالله

تعالی ستاسو دپاره کافی دے، بیادی یو هم ستاسو نه دخپل غشی لوبه نهٔ پریږدی، (یعنی غشی دپه نشانه باندے ویشتل شروع کړی) ۔

(۴۹۴۸) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِہٖ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده.

(۴۹۴۹) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ شَمَاسَةَ اَنَّ فُقَیْمَانِ اللَّخْمِیَّ قَالَ لِعُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ تَخْتَلِفُ بَیْنَ ھٰذَیْنِ الْغَرَضَیْنِ وَاَنْتَ کَبِیْرٌیَشُقُّ عَلَیْکَ قَالَ عُقْبَةُ لَوْلَا کَلَامٌ سَمِعْتُہٗ مِنْ رَسُوْلِ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ لَوْاُعَانِہٖ قَالَ الْحَارِثُ فَقُلْتُ لِابْنِ شَمَاسَةَ وَمَاذَاکَ قَالَ اِنَّہٗ قَالَ مَنْ عَلِمَ الرَّمْیَ ثُمَّ تَرَکَہٗ فَلَیْسَ مِنَّا اَوْقَدْعَصٰی .

ترجمه: دعبدالرحمن بن شماسهؓ نه روایت دے چه فقیم الخمی عقبه بن عامرؓ ته اووے تهٔ په هغه دواړو نشانونو کښے ځے راځے، اوبوډا ضعیف نے تاته به ډیره ګرانه وی عقبهؓ اووے کچرے مادرسول الله ﷺ نه دایوه خبره نهٔ وے اوریدلے نودابرداشت دتکلیف به می نهٔ ووکړے حارث وائی مادابن شماسهؒ نه تپوس اوکړو هغه څه خبره وه هغویؒ اووے چه حضرت ﷺ فرمائیلی دی، خوک چه غشی ویشتل ایزده کړی اوبیائے پریږدی هغه کس زمونږ نه نهٔ دے یاګنهګاردے۔"

بَابُ قَوْلِہٖ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ لَاتَزَالُ طَائِفَةٌ مِّنْ اُمَّتِیْ ظَاھِرِیْنَ عَلَی الْحَقِّ لَایَضُرُّھُمْ مَّنْ خَالَفَھُمْ۔

رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څمادامت یوګروپ به همیشه په حق باندے قائم وی۔

(۴۹۵۰) عَنْ ثَوْبَانَ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ لَاتَزَالُ طَآئِفَةٌ مِّنْ اُمَّتِیْ ظَاھِرِیْنَ عَلَی الْحَقِّ لَایَضُرُّھُمْ مَّنْ خَذَلَھُمْ حَتّٰی یَاْتِیَ اَمْرُاللہِ وَھُمْ کَذٰلِکَ وَلَیْسَ فِیْ حَدِیْثِ قُتَیْبَةَ وَھُمْ کَذٰلِکَ. [ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت ثوبان رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی

دی، "همیشه به څماد امت یو ګروپ په حق باندې قائم وي، څوك به هغوی ته نقصان نۀ شی رسولې تردې پورې چه دالله تعالی حکم به راشی (یعنی قیامت) او هغوی به په دغه حال کښې وی۔

فائده: داهل حدیثو فضیلت:

دا لله تعالی دحکم نه یاخو قیامت مراد دے یا هغه هوا چه په هغې سره هر مؤمن مرشی، او داګروه امام بخاریؒ وئیلی دی چه اهل علم دی او امام احمد بن حنبلؒ وئیلی دی چه داګروه اهل حدیث نۀ دی نو زۀ نۀ پو هیږم چه نور څوك دی، قاضی عیاضؒ وئیلی دی مراد ترې اهل سنت والجماعت دی او څوك چه داهل حدیثو په مذهب باندې یقین لری،

اوددې کتاب مترجم علامه وحیدالزمان وائی چه په نن زمانه کښې اهل السنت والجماعت ډیرکم پاتې شوی دی اوس داهل بدعت او ضلالت هغه هجوم دے چه دالله پاك پناه، خود حضرت ﷺ خلاف کیدې نۀ شی اوس هم یوه فرقه دمسلمانانو باقی ده چه دمحمدی ﷺ په لقب سره مشهور ده، او اهل حدیث او اهل توحید او موحد داټول دهغوئ نومونه دی، دافرقه په قران او حدیث باندې قائمه ده، اوباؤجود دسوونو زرګونو فتنو دافرقه تراوسه پورې دبدعت او ګمراهئ نه بچ پاتې شوې ده، او په دې زمانه کښې دغه خلق ددې حدیث مصداق دی۔

(۴۹۵۱) عَنِ الْمُغِيْرَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَنْ يَّزَالَ قَوْمٌ مِّنْ أُمَّتِيْ ظَاهِرِيْنَ عَلَى النَّاسِ حَتّٰى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ ظَاهِرُوْنَ.

ترجمه: ددې ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

فائده: ددې حدیث بیان په کتاب الایمان کښې تیر شوې دے۔

(۴۹۵۲) عَنِ الْمُغِيْرَةِ ابْنِ شُعْبَةَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ بِمِثْلِ حَدِيْثِ مَرْوَانَ سَوَاءً.

ترجمه: ددې ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۹۵۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَنْ يَّبْرَحَ هٰذَا الدِّيْنُ قَائِمًا يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ.

ترجمه: دجابربن سمره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل "دادین به برابر قائم وی اوددے دپاره به جنګیږی یو جماعت (دکافرانو اومخالیفینو سره) دمسلمانانو دقیامته پورے۔

(۴۹۵۴) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَاتَزَالُ قَآئِمَةٌ مِّنْ اُمَّتِيْ يُقَاتِلُوْنَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِيْنَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ.

ترجمه: دجابربن عبدالله نه روایت دے مااوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو "همیشه به ځمادامت یوګروپ په حق باندے جنګیږی دقیامته پورے۔"

(۴۹۵۵) عَنْ عُمَيْرِ ابْنِ هَانِئٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَاتَزَالُ طَآئِفَةٌ مِّنْ اُمَّتِيْ قَآئِمَةً بِاَمْرِ اللهِ لَايَضُرُّهُمْ مَّنْ خَذَلَهُمْ اَوْخَالَفَهُمْ حَتّٰى يَاْتِيَ اَمْرُ اللهِ وَهُمْ ظَاهِرُوْنَ عَلَى النَّاسِ. [بخاری]

ترجمه: دعمیربن هانی نه روایت دے وائی چه مادمعاویه رضی الله تعالی عنه نه واوریدل چه په ممبرباندے ئے وئیلو مااوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو، همیشه به یوګروپ ځمادامت دالله تعالی په حکم باندے قائم وی، څوك چه دهغوئ خرابول غواړی نودهغوئ به هیڅ نهٔ شی خرابولے، تردے پورے چه دالله تعالی حکم رااورسی، اوهغوئ به غالب وی په خلقوباندے۔

(۴۹۵۶) عَنْ مُعَاوِيَةَ ابْنِ اَبِيْ سُفْيَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ذَكَرَ حَدِيْثًا رَّوَاهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ اَسْمَعْهُ رَوٰى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى مِنْبَرِهٖ حَدِيْثًا غَيْرَهٗ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُّرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَلَاتَزَالُ عِصَابَةٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِيْنَ عَلٰى مَنْ نَاوَاَهُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ.

ترجمه: دمعاویه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، دچا چه الله تعالی دنیکئ اراده اولری هغوئ ته په دین کښے پوهه ورکری اوهمیشه به یوجماعت دمسلمانانو په حق باندے جنګیږی، اوغالب به وی په هغه چاباندے چه ددوئ سره جنګ کوی دقیامته پورے۔

(۴۸۵۷) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ شَمَاسَةَ الْمَهْرِيِّ قَالَ كُنْتُ عِنْدَمَسْلَمَةَ ابْنِ مُخَلَّدٍ وَّعِنْدَهٗ عَبْدُاللهِ ابْنُ

عَمرِو ابْنِ الْعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ عَبْدُاللّٰهِ لَاتَقُوْمُ السَّاعَةُ اِلَّاعَلٰی شَرَارِ الْخَلْقِ هُمْ شَرٌّمِّنْ اَهْلِ الْجَاهِلِیَّةِ لَایَدْعُوْنَ بِشَیْءٍ اِلَّارَدَّهُ عَلَیْهِمْ فَبَیْنَاهُمْ عَلٰی ذٰلِکَ اَقْبَلَ عُقْبَةُ ابْنُ عَامِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ لَهُ مَسْلَمَةُ یَاعُقْبَةُ اسْمَعْ مَایَقُوْلُ عَبْدُاللّٰهِ فَقَال عَبْدُاللّٰهِ فَقَالَ عُقْبَةُ هُوَ اَعْلَمُ وَاَمَّااَنَا فَسَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ لَاتَزَالُ عِصَابَةٌ مِّنْ اُمَّتِیْ یُقَاتِلُوْنَ عَلٰی اَمْرِاللّٰهِ قَاهِرِیْنَ لِعَدُوِّهِمْ لَایَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتّٰی تَاْتِیَهُمُ السَّاعَةُ وَهُمْ عَلٰی ذٰلِکَ فَقَالَ عَبْدُاللّٰهِ اَجَلْ ثُمَّ یَبْعَثُ اللّٰهُ رِیْحًا کَرِیْحِ الْمِسْکِ مَسُّهَا مَسُّ الْحَرِیْرِ فَلَاتَتْرُکُ نَفْسًا فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ اِیْمَانٍ اِلَّاقَبَضَتْهُ ثُمَّ یَبْقٰی شِرَارُ النَّاسِ عَلَیْهِمْ تَقُوْمُ السَّاعَةُ

ترجمه: دعبدالرحمن بن شماسه مهری نه روایت دے وائی چه زهٔ دمسلمه بن خلدونؓ په خواکښے ناست وم ،دهغویٔ سره عبدالله بن عمروبن العاصؓ هم وو، عبدالله رضی الله تعالی عنه اووے قیامت به نهٔ قائمیږی مګرپه بدترین مخلوق دالله باندے، چه هغه به بدتروی دجاهلیت والاؤ نه دالله تعالی نه چه دڅه خبرے دعا کوی الله جل جلاله به یے هغویٔ له ورکوی، خلق په دغه حال کښے وو چه عقبه بن عامرؓ مسلمه هغویٔ ته

اووے اے عقبه تاواوریده عبداللهؓ څه وائی عقبهؓ اووے هغه ځمانه زیات پو هه دے خو مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو ځمادامت یو ګروپ یایو جماعت به دالله تعالی په حکم باندے جنګیږی اوپه خپل دشمن باندے به غالب وی، اوڅوك چه دهغویٔ خلاف کوی هغویٔ ته څه نقصان نهٔ شی رسولے، تردے پورے چه قیامت به راشی اوهغه به په دغه حال کښے وی، عبدالله رضی الله تعالی عنه اووے بیشك (حضرت ﷺ دغه شان فرمائیلی دی) لیکن بیابه الله تعالی یو هوا رااولیږی چه په هغے کښے به دمشکوپشان بوئ وی، اودریښموپه شان به په بدن لګی هغه به نهٔ پریږدی هیڅ یو سړی لره چه دهغه په زړهٔ کښے ددانے برابر ایمان وی مګرمړبه ئے کړی، ددے نه پس به تول بد(کافر) خلق پاتے شی، اوپه هغویٔ به قیامت شروع شی۔

(۴۹۵۸) عَنْ سَعْدِابْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَایَزَالُ اَهْلُ الْغَرْبِ ظَاهِرِیْنَ عَلَی الْحَقِّ حَتّٰی تَقُوْمُ السَّاعَةُ

ترجمه: دسعدبن ابی وقاص رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی همیشه به مغرب والا (یعنی عرب یاشام والا) په حق باندے غالب وی تردے پورے چه قیامت به قائم شی.

بَابُ مُرَاعَاةِ مَصْلَحَةِ الدَّوَابِّ فِی السَّیْرِوَالنَّهْیِ عَنِ التَّعْرِیْسِ فِی الطَّرِیْقِ

دځناورو داصلاح خیال ساتل په سفرکښے اودشپے په لاره کښے دکوز یدلو ممانعت

(۴۹۵۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَاسَافَرْتُمْ فِی الْخِصْبِ فَاَعْطُوْا الْاِبِلَ حَظَّهَا مِنَ الْاَرْضِ وَاِذَا سَافَرْتُمْ فِی السَّنَةِ فَاَسْرِعُوْا عَلَیْهَا السَّیْرَوَاِذَا عَرَّسْتُمْ بِاللَّیْلِ فَاجْتَنِبُوْا الطَّرِیْقَ فَاِنَّهَا مَاْوَی الْهَوَامِ بِاللَّیْلِ.

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هرکله چه تاسو سفرکوئ دګیاه اوداوبوپه زمانه کښے (یعنی په ښه موسم کښے هرکله چه ځناوروته اوبه اوګیابیسیاره وی) نواوښانولره خپله حصه ورکوئ دزمکے نه اوهرکله چه سفرکوئ په قحط کښے نوپه تلوارځئ په هغوئ باندے، (چه دقحط زده ملك نه زراوځئ) اوهرکله چه دشپے تاسو کوزیږئ نودلارے نه په ډډه کوزیږئ.

فائده: ولے چه په لاره کښے اکثرځناورهم راځی اودشپے چینجی مینجی وغیره په لاره باندے تیریږی، دځه خوراك وغیره انړه ولودپاره.

(۴۹۶۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَاسَافَرْتُمْ فِی الْخِصْبِ فاَعْطُوْا الْاِبِلَ حَظَّهَا مِنَ الاَرْضِ وَاِذاسَافَرْتُمْ فِی السَّنَةِ فَبَادِرُوْا بِهَانِقْیَهَا وَاِذَاعَرَّسْتُمْ فَاجْتَنِبُوْا الطَّرِیْقَ فَاِنَّهَا طُرُقُ الدَّوَابِّ وَمَاْوَی الْهَوَامِ بِاللَّیْلِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دتیرشوے حدیث پشان ده په دے کښ دادی چه هرکله تاسوپه قحط کښ سفرکوئ نودځناورو دمغزتلونه مخکښ زرلاړشئ، ځکه چه که دقحط په ملك کښے زیات حصارشئ نو ځناوربه

دګیاه په نۀ موندوبالکل سقط شی اوپه هغوئ کښے به صرف هلوکی پاتے شی اوغوښه به پکښ پاتے نۀ شی.

بَابُ السَّفَرُ قِطعَةٌ مِّنَ الْعَذَابِ۔

سفر یو عذاب دے۔

(۴۹۶۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِّنَ الْعَذَابِ یَمْنَعُ اَحَدُکُمْ نَوْمَهُ وَطَعَامَهُ وَشَرَابَهُ فَاِذَا قَضٰی اَحَدُکُمْ نَهْمَتَهُ مِنْ وَّجْهِهٖ فَلْیُعَجِّلْ اِلٰی اَهْلِهٖ قَالَ نَعَمْ. [بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی سفر د عذاب یوه ټکړه ده منع کوی تاسو لره داوده کیدلو او خوړلو څښلو نه (یعنی په وخت داخیزونه نهٔ میلاویږی اکثر تکلیف وی) نو هر کله چه ستاسو نه په سفر کښے خپل کارپوره کړی، هغه دی زر خپل کور ته راځی۔

بَابُ کَرَاهَةِ الطُّرُوْقِ لَیْلًا

مسافر به خپل کور ته دشپے نهٔ واپس کیږی۔

(۴۹۶۲) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ لَا یَطْرُقُ اَهْلَهٗ لَیْلًا وَّکَانَ یَاْتِیْهِمْ غُدْوَةً اَوْعَشِیَّةً. [بخاری]

ترجمه: د انس رضی الله تعالی عنه روایت دے رسول الله ﷺ به دشپے خپل کور ته د سفر نه نهٔ راتلو، بلکه سحر یا ماښام به راتلو (ددے دپاره چه ښځے ته دځان ښائسته کولو موقعه پلاس ورشی۔

(۴۹۶۳) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ غَیْرَ اَنَّهٗ قَالَ کَانَ لَا یَدْخُلُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۴۹۶۴) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّهٗ قَالَ کُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ غَزَاةٍ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِیْنَةَ ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ اَمْهِلُوْا حَتّٰی نَدْخُلَ لَیْلًا اَیْ عِشَآءً کَیْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِیْبَةُ. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه مونږ په جهاد کښے

درسول الله ﷺ سره وو هرکله چه مدینې ته راهلونومونږ خپلوکورونو ته روان شولو حضرت ﷺ اوفرمائیل اودریږئ مونږه به شپې له کورونوته څو ځدے دپاره چه دکومې ښځې سربېروی چه هغه نے ګو منزکړی اودچاچه خاوند غائب وو هغه پاکی اوکړی. (یعنی ویښته واخلی.)

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه دشپې هم کورته تلل جائز دی. په دے شرط چه مخکښې کوروالا ته خبرشوے وی چه فلانے سړے نن راتلونکے اوناځاپه ورتلل مکروه دی.

(۴۹۶۵) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَاقَدِمَ اَحَدُكُمْ لَيْلًا فَلَايَاْتِيَنَّ اَهْلَهٗ طُرُوْقًا حَتّٰى تَسْتَحِدَّ الْمُغِيْبَةُ وَتَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هرکله چه ستاسو نه څوك دشپې راشی نوناځاپه دے کورته نهٔ ورځی (بلکه حصاردی شی)تردے پورے چه پاکی اوکړی هغه ښځه دکومے خاوند چه په سفرکښے وو، اوګومنزکړی ویښته هغه ښځه چه دهغې ویښته بېرشوی وی.

(۴۹۶۶) عَنْ سَيَّارٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث په شان ده.

(۴۹۶۷) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَاطَالَ الرَّجُلُ الْغَيْبَةَ اَنْ يَّاْتِيَ اَهْلَهٗ طُرُوْقًا. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ هرکله چه سړے دموده نه پس په سفرکښے وی، نوناځاپه دی یواځے خپل کورته دشپے نهٔ راځی، "اوکچرے دورځی دوونه نه غائب وی، نوپرواه نشته)

(۴۹۶۸) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ .

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده.

(۴۹۶۹) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّطْرُقَ الرَّجُلُ اَهْلَهٗ لَيْلًا يَتَخَوَّنُهُمْ اَوْيَطْلُبُ عَثَرَاتِهِمْ. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دجابر بن عبدالله ؓ نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ دشپے خپل کورته راتلونه،

په کوروالاکښې دغلا یاخیانت نیولوپه خیال یادهغویٔ دقصورتلاش کولو په خیال، (ولې چه په دې کښې خویوه بدګمانی ده چه په شریعت کښې منع ده، دویم دښځې دبې حوصلې کیدوباعث دی اوپه دې کښې په سوونو قباحتونه دی۔ دریم الله تعالی دی نۀ کړی که څه وی نودخپل مکرویره ده)

(۴۹۷۰) عَنْ سُفْيَانَ قَالَ لَاأَدْرِیْ هٰذَا فِیْ الْحَدِیْثِ اَمْ لَا یَعْنِی اَنْ یَّتَخَوَّنَهُمْ اَوْیَلْتَمِسَ عَثَرَاتِهِمْ.

ترجمه: ددې ترجمه هم دپورته پشان ده ۔

(۴۹۷۱) عَنْ جَابِرٍرَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِکَرَاهِیَةِ الطُّرُوْقِ وَلَمْ یَذْکُرْیَتَخَوَّنَهُمْ اَوْیَلْتَمِسَ عَثَرَاتِهِمْ.

ترجمه: ددې ترجمه هم دپورته پشان ده مګرپه دې کښې دخیانت نیولوذکرنشته دې۔

ختم شد کتاب الامارة.

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆

☆

﴿ كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَمَايُؤْكَلُ مِنَ الْحَيَوَانِ. ﴾

كتاب دښكاراوذبحوپه بيان كښې اودكوموځناوروغوښه چه حلاله ده.

بَابُ
الصَّيْدِبِالْكِلَابِ الْمُعَلَّمَةِ.
دتربيت شوؤسپودښكارڅولوبيان

(۴۹۷۲) عَنْ عَدِيِّ ابْنِ حَاتِمٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنِّيْ اُرْسِلُ الْكِلَابَ الْمُعَلَّمَةَ فَيُمْسِكْنَ عَلَيَّ وَاَذْكُرُاسْمَ اللهِ عَلَيْهِ فَقَالَ اِذَا اَرْسَلْتَ كَلْبَكَ الْمُعَلَّمَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ فَكُلْ قُلْتُ وَاِنْ قَتَلْنَ قَالَ وَاِنْ قَتَلْنَ مَالَمْ يَشْرَكْهَا كَلْبٌ لَيْسَ مَعَهَا قُلْتُ لَهُ فَاِنِّيْ اَرْمِيْ بِالْمِعْرَاضِ الصَّيْدَفَاُصِيْبُ فَقَالَ وَرَمَيْتَ بِالْمِعْرَاضِ فَخَرَقَ فَكُلْهُ وَاِنْ اَصَابَهُ بِعَرْضِهٖ فَلَاتَاْكُلْهُ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعدی بن حاتمؓ نه روايت دے وائی چه ماعرض اوكړو يارسول الله ﷺ زهٔ پريږدم خپلوتربيت يافته سپولره چه هغه ښكار اونيسی اوزهٔ دالله جل جلاله نوم واخلم په هغې باندے، حضرت ﷺ اوفرمائيل هركله چه ته خپل تربيت شوے سپے پريږدے اودالله تعالى نوم واخلے نوخوره بياچه هغه څه ښكار اوكړی، ماعرض اوكړو كه چرے هغه ئے مړكړی، حضرت ﷺ اوفرمائيل اگركه هغه ئے مړكړی خو هركله چه يوبل سپے دهغه سره شريك نهٔ وی، چه دهغه سره پريخودے شوے نهٔ وی، ماعرض اوكړو زهٔ غشے اولم په هغې ښكار وژنمه، حضرت ﷺ اوفرمائيل كه چرے غشے اوغوړځوے اوهغه ننوځی، (دسوكے دطرف نه) نوخوره هغې لره اوكه چرے اولگی معراض په پړهه باندے نومه خوره هغې لره.

فائده: نووی عليه الرحمة وئيلی دی دښكارپه اباحت باندے دعالمانو اتفاق دے، خوك چه ښكار كوی دكسب ياحاجت يامنفعت دپاره اوڅوك چه ئے بے ضرورته دلوبودپاره كوی نومكروه دی،دمالكؒ په نزد اوليثؒ اوابن عبدالحكيمؒ په نزد جائز دی، په دے شرط چه دذبح

کولو اودهغه نه دمنفعت اخستلو نیت ئے کړے وی، اوکه نیت ئے نه وی کړے نو حرام دی یے ضرورته روح اخستل اوفساد کول۔

نووی علیه الرحمة وئیلی دی، هرکله چه سپے په ښکار پسے پریږدئ یاځناورذبخ کوی نوصرب بسم الله وئیل بالاجماع وئیل پکار دی اوس دا واجب دی یاسنت په دے کښ اختلاف دے، دشافعیؒ په نزد سنت دی، اګرکه سهوا یاعمدا ئے پریږدی، نو هغه ځناور حلال دے اودغه روایت دمالكؒ اواحمدؒ نه۔

اوداهل ظاهرو په نزد کچرے بسم الله عمدا یاسهوا پریږدی نو هغه ځناور به حلال نه وی، لودغه صحیح روایت دے داحمدؒ نه اودغه مروی دے دابن سیرینؒ اوابوثورؒ نه اودغه صحیح دے، اودالله تعالی دکتاب موافق دے۔) اُودابو حنیفةؒ اومالك اوثوریؒ اودجمهورعلماؤ داقول دے چه کچرے سهوا ئے پریږدی

نوځناور حلال دے، اوکه قصدا ئے پریږدی نو حرام دے۔

اوددے حدیث نه دامعلومه شوه چه دهرښکاری سپی ښکارحلال دے اګرکه دهغه رنګ تور وی، اودغه قول دمالك اوشافعیؒ اوابو حنیفةؒ اودجمهورعلماؤ ،اودحسن بصریؒ اونخعی اوقتادةؒ اواحمدؒ اواسحقؒ په نزد تورسپی ښکار درست نهٔ دے، ولے چه هغه شیطان دے اوداضروری ده چه سپے به ښکاری یعنی تربیت یافته وی، کچرے تربیت نهٔ وی ورکړے شوے نودهغه ښکار بالاجماع حرام دے۔ اوکچرے تربیت والا وی مګردځانه ښکار اوکړی نودهغه ښکار حرام دے زمونږ په نزد اوداکثروعلماؤ په نزد، او دَ اصم په نزد هغه مباح دے۔ اوابن منذر دعطاءؒ اواوزاعیؒ نه دغه شان نقل کړے دے۔ اودویم سپے کچرے ددغه سپی سره ملګری وی نوکه هغه سپے صحرائے وی یادهغے پریخودلووالا مشرك وی یامجوس وی نو هغه ښکار حرام دے۔ ورنه حلال دے۔

لوصعراض وئیلے شی هغه لرګی ته چه دهغے په تیره سرباندے وسپنه لګیدلی وی، اوبعضووئیلی دی معراض هغه غشے دے بغیردغوتئ او وزرونه اوابن ورید وئیلی دی چه معراض یواوږد غشے دے۔ اوبعضووئیلی دی هغه یولرګے دے چه هغے دواړه غاړے نرئ

اودمینځ نه غټ وي، اودمکحول اواواوزاعي په نزد دمعراض ښکار په هرحال کښې درست دے اوداخلاف دے. ددے حدیث دغه شان هغه خلقو اوابن ابی لیلی وئیلی دي چه دلیندے ښکار هم درست دے. اودسعید بن المسیب اوجمهورعلماؤ نه منقول دے چه دګولئ ښکار یعنی دلیندے مطلقا درست نۀ دے دکومے پورے چه هغه ځناور ژوندے مونډلے اوذبحه شوے نۀ وي-

انتهی مختصرًا

(۴۹۷۳) عَنْ عَدِیِّ ابْنِ حَاتِمٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قُلْتُ اِنَّا قَوْمٌ نَصِیْدُ بِھٰذِہِ الْکِلَابِ فَقَالَ اِذَا اَرْسَلْتَ کِلَابَکَ الْمُعَلَّمَۃَ وَذَکَرْتَ اسْمَ اللّٰہِ عَلَیْھَا فَکُلْ مِمَّآ اَمْسَکْنَ عَلَیْکَ وَاِنْ قَتَلْنَ اِلَّا اَنْ یَّاْکُلَ الْکَلْبُ فَاِنْ اَکَلَ فَلَا تَاْکُلْ فَاِنِّیْٓ اَخَافُ اَنْ یَّکُوْنَ اِنَّمَآ اَمْسَکَ عَلٰی نَفْسِہٖ وَاِنْ خَالَطَھَا کِلَابٌ مِّنْ غَیْرِھَا فَلَا تَاْکُلْ. [بخاری، ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دعدی بن حاتمؓ نه روایت دے وائی چه مادرسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه مونږ خلق ښکار کولے شو په دے سپو سره، حضرت ﷺ اوفرمائیل هرکله چه تۀ خپل ښکاری سپو لره پریږدے، اوپریخودوسره دالله تعالی نوم واخلے نو خوره دهغه ځناورو نه کوم چه هغه اونیسی، اګرکه هغه ئے اووژنی، مګرپه داسے صورت کښے چه سپے هم دهغے نه اوخوری نو هغے لره مه خوره ولے چه زۀ ویریږم چه چرته سپی هغے لره دځان دپاره نیولی نۀ وی، دغه شان کچرے ددغه سپی سره یوبل سپے شریك وی نو هم ئے مه خوره-

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی په سنن ابوداؤد کښی داحدیث دے چه حضرت ﷺ اوفرمائیل چه خورئ دهغه ځناورنه اګرکه سپی هم دهغے نه خورلے وی، اوپه دے کښے دعالمانو اختلاف دے دشافعیؓ

لوابو حنیفهؓ اواحمدؓ اواسحقؓ داقول دے چه هغه حرام دی اودسعدؓ اوسلمانؓ اوابن عمرؓ اومالكؓ په نزد حلال دے، اودغه حکم دے دښکاری مرغئ هم، لیکن علاوه دشافعیؓ نه نوروتولو علماؤ دهغے خوړل جائز کړی دی- (انتهی مختصرًا.

(۴۹۷۴) عَنْ عَدِیِّ ابْنِ حَاتِمٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمِعْرَاضِ فَقَالَ اِذَا اَصَابَ بِحَدِّہٖ فَکُلْ وَاِذَا اَصَابَ بِعَرْضِہٖ فَقَتَلَ فَاِنَّہٗ وَقِیْذٌ فَلَا تَاْکُلْ وَسَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ

صلے اللہ علیہ وسلم عن الکلب فقال إذا أرسلت کلبک وذکرت اسم اللہ فکل فإن أکل منہ فلا تأکل فإنہ إنما أمسک علی نفسہ قلت فإن وجدت مع کلبی کلبا آخر فلا أدری أیھما أخذہ قال فلا تأکل فإنما سمیت علی کلبک ولا تسم علی غیرہ. [بخاری، ابو داود، نسائی]

ترجمہ: دعدی بن حاتمؓ نہ روایت دے وائی چہ ما د رسول اللہ ﷺ نہ د معراض د ښکار پہ بارہ کښے تپوس اوکړو حضرت ﷺ اوفرمائیل هرکله چه په تیره سوکه د معراض اولګی نو هغه خوره او هرکله چه په دوه اولګی او مړی شی نو هغه وقیذ دے. (یعنی موقوذه دے کوم چه په ګټه یا لرګی سره اووژلے شی او هغه په قران مجید کښے حرام دے) مهٔ خوره هغے لره. او ما د سپی په باره کښے د رسول اللہ ﷺ نه تپوس اوکړو، حضرت ﷺ اوفرمائیل هرکله چه ته د اللہ تعالی د نوم اخستو سره خپل سپے پریږدے نو خوره د هغه (ښکار) لره لیکن که سپے د دغه ښکار نه پخپله اوخوری نو مهٔ خوره هغے لره ولے چه هغه ښکار اوکړو (د ځان د پاره) ما اووے کچرے زهٔ د خپل سپی سره بل سپے اووینم او دا معلومه نهٔ وی چه کوم سپی (دا ښکار) نیولے دے، حضرت ﷺ اوفرمائیل مهٔ خوره هغے لره ځکه چه تا بسم اللہ وئیلی وه په خپل سپی باندے نه په بل سپی باندے۔

(۴۹۷۵) عن عدی ابن حاتم یقول سألت رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم عن المعراض فذکر مثلہ.

ترجمہ: ترجمه ددے هم د پورته حدیث په شان ده۔

(۴۹۷۶) عن عدی ابن حاتم رضی اللہ تعالی عنہ قال سألت رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم عن المعراض بمثل ذلک.

ترجمہ: ددے ترجمه هم د مخکښے ذکرشوی حدیث په شان ده۔

(۴۹۷۷) عن عدی ابن حاتم یقول سألت رسول اللہ صلے اللہ علیہ وسلم عن صید المعراض فقال ما أصاب بحدہ فکلہ وما أصاب بعرضہ فھو وقیذ وسألتہ عن صید الکلب فقال ما أمسک علیک ولم یأکل منہ فکلہ فإن ذکوتہ أخذہ فإن وجدت عندہ کلبا آخر فخشیت أن یکون أخذہ معہ وقد قتلہ فلا تأکل إنما ذکرت اسم اللہ علی کلبک ولم تذکرہ علی غیرہ. [بخاری، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دعدی بن حاتم رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو دمعراض دښکار په باره کښے، حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے په سوکه اولګیدو نو خوره هغے لره او کچرے په دوهـه اولـګـیـدو نـو هـغـه وقیذ دے (یعنی مردار دے) او ماتپوس اوکړو دحضرت ﷺ نه دسپی دښکار په

باره کښے، حضرت ﷺ اوفرمائیل کوم څناور چه سپے اونیسی اودهغے نه نے خوړلے نهٔ وی نو خوره هغے لره، څکه چه دهغے زکوة دغه دے دسپی نیول. کچرے تادهغه سره بل سپے اولیدو اوتاته داویره وی چه دے ل سپی به هم دده سره نیولے وی اووژلے به ئے وی، نو مه خوره هغے لره څکه چه تادالله تعالی نوم پخپل سپی باندے اخستے دے نهٔ په بل سپی باندے۔

(۴۹۷۸) عَنْ زَكَرِيَّا ابْنِ اَبِیْ زَائِدَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه: ترجمه ددے دتیرشوی حدیث په شان ده۔

(۴۹۷۹) عَنْ عَدِیِّ ابْنِ حَاتِمٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَكَانَ لَنَا جَارًا وَّدَخِیْلًا وَرَبِیْطًا بِالنَّهْرَیْنِ اَنَّهٗ سَاَلَ النَّبِیَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اُرْسِلُ كَلْبِیْ فَاَجِدُمَعَ كَلْبِیْ كَلْبًا قَدْاَخَذَ فَلَآاَدْرِیْ اَیُّهُمَآ اَخَذَقَالَاتَاْكُلْ فَاِنَّمَا سَمَّیْتَ عَلٰی كَلْبِكَ وَلَمْ تُسَمِّ عَلٰی غَیْرِهٖ. [نسائی]

ترجمه: دعدی بن حاتمؓ نه روایت دے (شعبے وائی) چه هغه په نهرین کښے زمونږ ګاونډی لوشریك. نوکر وو (نهرین دیو مقام نوم دے) هغویؓ تپوس اوکړو درسول الله ﷺ نه چه زهٔ خپل سپے په ښکار پسے پریږدم بیا دهغه سره دوئم سپے وینمه، بیانهٔ معلومیږی چه ښکار کوم یونیولے دے، حضرت ﷺ اوفرمائیل مهٔ خوره هغے لره ولے چه تابسم الله وئیلے ده په خپل سپی باندے نه په بل سپی باندے۔

(۴۹۸۰) عَنْ عَدِیِّ ابْنِ حَاتِمٍ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ. [نسائی،]

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۹۸۱) عَنْ عَدِیِّ ابْنِ حَاتِمٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَرْسَلْتَ كَلْبَكَ فَاذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ فَاِنْ اَمْسَكَ عَلَیْكَ فَاَدْرَكْتَهٗ حَیًّا فَاذْبَحْهُ وَاِنْ اَدْرَكْتَهٗ قَدْقَتَلَ وَلَمْ یَاْكُلْ مِنْهُ فَكُلْهُ وَاِنْ وَّجَدْتَ مَعَ كَلْبِكَ كَلْبًا غَیْرَهٗ وَقَدْقَتَلَ فَلَاتَاْكُلْ فَاِنَّكَ لَاتَدْرِیْ اَیُّهُمَا قَتَلَهٗ وَاِنْ

رَمَیْتَ سَهْمَکَ فَاذْکُرِ سْمَ اللّٰهِ فَاِنْ غَابَ عَنْکَ یَوْمًا فَلَمْ تَجِدْفِیْهِ اِلَّا اَثَرَ سَهْمِکَ فَکُلْ اِنْ شِئْتَ وَاِنْ وَّجَدْتَهٗ غَرِیْقًا فِی الْمَآءِ فَلَاتَاْکُلْ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دعدی بن حاتمؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل چه ته خپل سیے پریږدے نودالله جل جلاله نوم اخله، بیاکچرے هغه تاله ښکار اونیسی اوژوندے وی نوته ئیحه کره هغے لره اوکه مړنے کرولیکن خوړلے ئے نهٔ وو نو هم خوره هغے لره اوکچرے ستاد سپی سره بل سپے هم میلاؤ شی اوئخاورئے وژلے وی نو مهٔ خوره هغے لره ولے چه معلومه نهٔ ده چه کوم یووژلے دے دے لره، اوځه چه ته په غشی ولے نودالله جل جلاله نوم اخله، بیاکچرے ستاښکار(په غشی لگیدلے) دیوے ورځے پورے ورك شی اوبیاو موندے شی نوکه ستادغشی نه سیوا دبل زخم نشان پکښ نهٔ وی نوخوره هغے لره که زړهٔ دی غواړی، اوکچرے ته هغے لره په اوبوکښے ډوب اوموے نو مهٔ خوره هغے لره.

(۴۹۸۲) عَنْ عَدِیِّ ابْنِ حَاتِمٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّیْدِ قَالَ اِذَارَمَیْتَ بِسَهْمِکَ فَاذْکُرِ سْمَ اللّٰهِ فَاِنْ وَجَدْتَهٗ قَدْقُتِلَ فَکُلْ اِلَّا اَنْ تَجِدَهٗ قَدْوَقَعَ فِیْ مَآءٍ فَاِنَّکَ لَاتَدْرِیْ الْمَآءُ قَتَلَهٗ اَوْسَهْمُکَ.

ترجمه: دعدی بن حاتمؓ نه روایت دے وائی چه مادرسول الله ﷺ نه دښکار په باره کښے تپوس اوکړو، نو حضرت ﷺ اوفرمائیل هرکله چه ته غشے اولے نودالله جل جلاله نوم اخله، بیاکچرے ته هغه لره مړشوے اوموے نوخوره هغه لره، مګرپه داسے صورت کښے چه هغه په اوبوکښے پریوتے وی نو مهٔ خوره هغے لره ځکه چه معلومه نه ده چه ددوییدو نه مړدے یاستادغشی نه.

(۴۹۸۳) عَنْ اَبِیْ ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ اَتَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّابِاَرْضِ قَوْمٍ مِّنْ اَهْلِ الْکِتَابِ نَاْکُلُ فِیْ اٰنِیَتِهِمْ وَاَرْضِ صَیْدٍ اَصِیْدُ بِقَوْسِیْ اَصِیْدُ بِکَلْبِیَ الْمُعَلَّمِ اَوْبِکَلْبِیَ الَّذِیْ لَیْسَ بِمُعَلَّمٍ فَاَخْبِرْنِیْ مَاالَّذِیْ یَحِلُّ لَنَامِنْ ذٰلِکَ قَالَ اَمَّا مَاذَکَرْتَ اَنَّکُمْ بِاَرْضِ قَوْمٍ مِّنْ اَهْلِ الْکِتَابِ تَاْکُلُوْنَ فِیْ اٰنِیَتِهِمْ فَاِنْ وَجَدْتُّمْ غَیْرَاٰنِیَتِهِمْ فَلَاتَاْکُلُوْا فِیْهَا وَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاغْسِلُوْا هَا ثُمَّ کُلُوْفِیْهَا وَاَمَّامَا ذَکَرْتَ اَنَّکَ بِاَرْضِ صَیْدٍ فَمَآاَصَبْتَ بِقَوْسِکَ فَاذْکُرِاسْمَ اللّٰهِ ثُمَّ کُلْ وَمَا اَصَبْتَ بِکَلْبِکَ الْمُعَلَّمِ فَاذْکُرِاسْمَ اللّٰهِ ثُمَّ کُلْ وَمَااَصَبْتَ بِکَلْبِکَ الَّذِیْ لَیْسَ بِمُعَلَّمٍ فَاَدْرَکْتَ

ذَكَاتَهٗ فَكُلْ. [بخاري ، ترمذي ، ابن ماجه]

ترجمه : دابو ثعلبه خشني رضي الله تعالى عنه نه روايت دے وائي چه زۀ درسول الله ﷺ خواله راغلم اوعرض مې اوكړو يارسول الله ﷺ مونږ داهل كتاب (يعني ديهود نصارى) په ملك كښے اوسيږو دهغوئ په لوښو كښے غله خورو، اوزمونږ ملك دښكار ملك دے نوښكار كوم په خپله لينده سره اوښكار كوم په تربيت شوى سپى سره اوښكاركوم په غيرتربيت والاسپى سره پس بيان كړئ ماته څه چه حلال دى په دے كښې حضرت ﷺ اوفرمائيل تۀ وائے چه زۀ داهل كتابو په ملك كښے يم اودهغوئ په لوښو كښے خورم، نوكچرے تاته نورلوښى ميلاويږى نومۀ خوره دهغوئ په لوښوكښے ، اوكه لوښى نۀ ميلاويږى نووينځے هغے لره بياپكښې خوره، اوتاذكركړى دى چه تاسو په ښكارى زمكه كښے يئ، پس كومے ته چه غشے اورسى اوتا په هغے باندے دالله جل جلاله نوم اخستے وو نو هغه خوره، اوچه ته پخپل ښكارى سپى ښكار كوے نو په هغے باندے دالله جل جلاله نوم اخله اوخوره ئے، اوكه چرے دداسے سپى ښكار وى چه هغه ښكارى نۀ وى، اوتۀ ئے ورسره ژوندے اوموموے نو هغه ذبحه كوه بيائے خوره۔

فائده : نووى وئيلى دى دابوداؤدؒ په روايت كښے دومره زياته ده، چه هغوئ يعني اهل كتاب په خپلو كټوؤ كښے سورېخوى اوپه خپلو لوښو كښے شراب څښى څكه حضرت ﷺ داسے اوفرمائيل چه كه نورلوښى ميلاويږى نوددوئ په دے كښے خوراك سخاك مۀ كوئ، اوكه نه ميلاويږى نوددوئ دابنه وينځى هله پكښې خورل څښل كوئ۔

اوداحديث مخالف دے دفقهاؤ په قول كښے چه هغه وائى دمشركانو په لوښو كښے خوړل څښل روا دى دوينځلو نه پس پكښې څه كراهت نشته اگركه بل لوښے ميلاويږى، اوددے حديث نه چه بل لوښے

ميلاويږى نوددے داستعمال كراهت معلوميږى، اوپه وينځلو سره داكراهت نۀ ځى، ددے جواب چه په حديث كښے هغه لوښى مراد دى چه په هغے كښے دسورغوښه پخولے شى ياپكښے شراب څښلے شى، اودفقهاؤ مراد هغه لوښى دى چه په هغےكښې دپليتو استعمال نۀ كيږى۔ انتهى مختصراً

(۴۹۸۴) عَنْ حَيْوَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيْثِ ابْنِ الْمُبَارَكِ غَيْرَ اَنَّ حَدِيْثَ ابْنِ وَهْبٍ لَمْ يَذْكُرْ فِيْهِ صَيْدَ الْقَوْسِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۹۸۵) عَنْ اَبِىْ ثَعْلَبَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا رَمَيْتَ بِسَهْمِكَ فَغَابَ عَنْكَ فَاَدْرَكْتَهُ فَكُلْ مَالَمْ يُنْتِنْ. [ابو داود، نسائی]

ترجمه: دابو ثعلبه نه روایت دے وائی چه هرکله تاسو غشے اوولی: او ښکار درنه غائب شی، اوبیا ورستو میلاؤشی نو خوره هغے لره دکومے پورے چه بدبویه نۀ وی۔

(۴۹۸۶) عَنْ اَبِىْ ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى الَّذِىْ يُدْرِكُ صَيْدَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ فَكُلْهُ مَالَمْ يُنْتِنْ.

ترجمه: دابو ثعلبه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، کوم سړی چه خپل ښکار ددرے ورځونه پس اومومی نو خوری دی هغے لره که چرے بدبویه شوے نۀ وی۔

(۴۹۸۷) عَنْ اَبِىْ ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيْثَهُ فِى الصَّيْدِ بِمِثْلِ حَدِيْثِ الْعَلَاءِ غَيْرَ اَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ نَتُوْنَتَهُ وَقَالَ فِى الْكَلْبِ كُلْهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ اِلَّا اَنْ يُنْتِنَ فَدَعْهُ. [ترمذی]

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده په یو روایت کښے دسپی دښکار په حلقه هم دغسے دی چه دد رے ورځونه پس کچرے میلاؤشی نو خوره ئے مګر که بدبویه شوے وو نو بیائے پریږده۔

بَابُ تَحْرِيْمِ اَكْلِ كُلِّ ذِىْ نَابٍ مِّنَ السِّبَاعِ وَكُلِّ ذِىْ مِخْلَبٍ مِّنَ الطَّيْرِ.

دهر داړووالا ځناور او دهر پنجے والا مرغۍ دحرمت بیان

(۴۹۸۸) عَنْ اَبِىْ ثَعْلَبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَكْلِ كُلِّ ذِىْ

نَابٍ مِّنَ السُّبُعِ زَادَ إِسْحَاقُ وَابْنُ أَبِي عُمَرَ فِي حَدِيثِهِمَا قَالَ الزُّهْرِيُّ وَلَمْ نَسْمَعْ بِهٰذَا حَتّٰى قَدِمْنَا الشَّامَ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت ثعلبة نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دهردارو والا ځاروی دخوړلو نه، زهری وائی مونږ نۀ وو اوریدلے دے حدیث لره ترد ے پورے چه دشام ملك ته راغلو۔

(۴۹۸۹) عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِّنَ السِّبَاعِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَلَمْ أَسْمَعْ ذٰلِكَ مِنْ عُلَمَائِنَا بِالْحِجَازِ حَتّٰى حَدَّثَنِي أَبُو إِدْرِيْسَ وَكَانَ مِنْ فُقَهَآءِ أَهْلِ الشَّامِ.

ترجمه: دثعلبه خشنی نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ دهردارو والادرندے دخوړلو نه ابن شهاب وئیلی دی مونږ دا حدیث په حجاز کښے واؤریدو دخپلو علماؤنه مونږ وو اوریدلے ترد ے پورے چه ماته ابوادریس بیان کړو او هغه دشام دفقیهانو نه وو۔

(۴۹۹۰) عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ أَكْلِ كُلِّ ذِي نَابٍ مِّنَ السِّبَاعِ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته ذکرشوی حدیث پشان ده۔

(۴۹۹۱) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيْثِ يُوْنُسَ وَعَمْرٍو كُلُّهُمْ ذَكَرَ الْأَكْلَ إِلَّا صَالِحٌ وَيُوْسُفُ فَإِنَّ حَدِيْثَهُمَا نَهٰى عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ مِّنَ السُّبُعِ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته ذکرشوی حدیث پشان ده۔

(۴۹۹۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ ذِي نَابٍ مِّنَ السِّبَاعِ فَأَكْلُهُ حَرَامٌ. [نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، دهردارو والاځناور خوړل حرام دی۔

(۴۹۹۳) عَنْ مَالِكِ ابْنِ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۴۹۹۴) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ ذِي نَابٍ

مِنَ السِّبَاعِ وعَنْ كُلِّ ذِىْ مِخْلَبٍ مِّنَ الطَّيْرِ.

ترجمه: دعبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے منع فرمائیلی ده رسول الله ﷺ د هر غابنی والا ځناور او د هر پنجے والا مرغئ نه.

(۴۹۹۵) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ .

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده.

(۴۹۹۶) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ كُلِّ ذِىْ نَابٍ مِّنَ السِّبَاعِ وَعَنْ كُلِّ ذِىْ مِخْلَبٍ مِنَ الطَّيْرِ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث په شان ده.

(۴۹۹۷) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ شُعْبَةَ عَنِ الْحَكَمِ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث دپورته حدیث پشان ده.

فائده: نووی علیه الرحمة وائی دجمهور علماؤ لکه شافعیؒ او ابو حنیفةؒ لو احمدؒ لود دولوؤؒ مذهب دادے چه هر درنده په غابنو نو سره ښکار کونکے، دغه شان هره یوه مرغئ په پنجو سره ښکار کولو والا حرام یعنی مردار دی او دمالؒ په نزد مکروه دی حرام یعنی مردار نهٔ دی.

بَابُ اِبَاحَةِ مَيْتَانِ الْبَحْرِ

ددریاب د مړ شوی مباح کیدل

(۴۹۹۸) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَمَّرَ عَلَيْنَا اَبَا عُبَيْدَةَ نَتَلَقّٰى عِيْرًا لِّقُرَيْشٍ وَزَوَّدَنَا جِرَابًا مِّنْ تَمْرٍ لَّمْ يَجِدْ لَنَا غَيْرَهُ فَكَانَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ يُعْطِيْنَا تَمْرَةً تَمْرَةً قَالَ فَقُلْتُ كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُوْنَ بِهَا قَالَ نَمَصُّهَا كَمَا يَمَصُّ الصَّبِيُّ ثُمَّ نَشْرَبُ عَلَيْهَا مِنَ الْمَآءِ فَتَكْفِيْنَا يَوْمَنَا اِلَى اللَّيْلِ وَكُنَّا نَضْرِبُ بِعِصِيِّنَا الْخَبَطَ ثُمَّ نَبُلُّهُ بِالْمَآءِ فَنَاْكُلُهُ قَالَ وَانْطَلَقْنَا عَلٰى سَاحِلِ الْبَحْرِ فَرُفِعَ لَنَا عَلٰى سَاحِلِ الْبَحْرِ كَهَيْئَةِ الْكَثِيْبِ الضَّخْمِ فَاَتَيْنَاهُ فَاِذَا هِيَ دَابَّةٌ تُدْعَى الْعَنْبَرُ قَالَ قَالَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ مَيْتَةٌ ثُمَّ

قَالَ لَا بَلْ نَحْنُ رُسُلُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَقَدِ اضْطُرِرْتُمْ فَكُلُوْا قَالَ فَأَقَمْنَا عَلَيْهِ شَهْرًا وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةٍ حَتّٰى سَمِنَّا قَالَ وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا نَغْتَرِفُ مِنْ وَقْبِ عَيْنِهِ بِالْقِلَالِ الدُّهْنَ وَنَقْتَطِعُ مِنْهُ الْفِدَرَ كَالثَّوْرِ اَوْ كَقَدْرِ الثَّوْرِ فَلَقَدْ اَخَذَ مِنَّا اَبُوْ عُبَيْدَةَ ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا فَأَقْعَدَهُمْ فِيْ وَقْبِ عَيْنِهِ وَاَخَذَ ضِلَعًا مِنْ اَضْلَاعِهِ فَأَقَامَهَا ثُمَّ رَحَلَ اَعْظَمَ بَعِيْرٍ مَعَنَا فَمَرَّ مِنْ تَحْتِهَا وَتَزَوَّدْنَا مِنْ لَحْمِهِ وَشَائِقَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ اَتَيْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَا ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ هُوَ رِزْقٌ اَخْرَجَهُ اللهُ لَكُمْ فَهَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ فَتُطْعِمُوْنَا قَالَ فَأَرْسَلْنَا اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَكَلَهُ.

[ابو داود ،]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ مونږه ولیږلو اوزمونږ سردارئے ابوعبیده ابن الجراح مقرر کړو ددے دپاره چه مونږ دقریشو دقافلے سره میلاؤ شو، اوتوښے دپاره ئے مونږ له یوه تیلئ دکجورو راکړه، اونورڅه مونږ ته میلاؤ نۀ شو، نو ابوعبیدةؓ به مونږ ته یوه یوه کجوره (هره ورځ) راکوله، ابوالزبیرؓ وائی ما دجابرؓ نه تپوس اوکړو تاسو به په یوه کجوره کښے څه کولو؟ هغویؓ اووے هغه به مونږ دبچی پشان روله یعنی چوسله، بیا به مو ورپسے لړے شان اوبه اوڅښلے او هغه به زمونږ توله شپه اوورځ پوره کیدله، لو مونږ به دخپلو لرګو نه پاڼړے شوکولے او هغه به مو په اوبو کښے لوندولے لوخوړلے، جابرؓ وائی بیا مونږ ددریاب غاړے له لاړو، او هلته یو اوږد څورب غوندے څیز ښکاره شو مونږ دهغے خواله لاړو نو څه ګورو چه هغه یو ځناور دے چه ورته عنبروئیلے شی ابوعبیدةؓ اووے دا مردار دے بیائے اووے نۀ مونږ دالله جل جلاله رسول ﷺ رالیږلی یو اودالله جل جلاله په لاره کښے رلوتے یو او تاسو بے قراره یئ (دلوږے نه) نو خورئ دے لره جابرؓ وائی مونږ هلته یوه میاشت پاتے شو او مونږ درے سوه سړی وو، (دهغے غوښے مو خوړلے) تردے پورے چه مونږه څلربه شولو) جابرؓ وائی تاسو وینئ چه مونږ دهغے دسترګے دحلقے نه دچربئ منګی منګی ډکولو اودهغے دمو دغوښے برابر ټکړے پریکولے آخر ابوعبیدةؓ زمونږ نه دیارلس سړی واخستل، او هغه ټول دهغے دسترګے دحلقے دننه کیناستل اویوه پښتئ مو دهغے دپښتو نه اوچته اودرولے بیا مو دټولو نه په غټ اوښ باندے کجاوه کیښوده دهغه اوښانو نه کوم چه زمونږ سره وو هغه

د هغې دلاندې نۀ اووتو، اومونږ د هغه غوښې نه وشائق جوړول دتوښے دپاره (وشائق دوشیقه جمع ده وشیقه هغه جوشیدلې غوښه چه دسفردپاره اوېخودلے شی) هرکله چه مونږ مدینے ته راغلو نودرسول الله ﷺ خواله وراغلو اوداقصه موورته بیان کړه حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه دالله تعالی رزق وو چه ستاسودپاره ئے راویستلے وو، اوس که ستاسوسره د هغې څه غوښه وی نوپه مونږ ئے هم اوخوروی، جابرؓ وائی مونږ د هغې غوښه حضرت ﷺ له اولیږله اوحضرت ﷺ اوخوړه۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی ددے حدیث نه داصحابو زهد اوصبرمعلومیږی، اوداترے هم معلومه شوه چه سره ددیرتکلیف اولوږے هغوئ همت نۀ بائیللو په جنګ کنیے، په بل روایت کښے دی چه مونږ خپله توښه به په خپلو څټونوباندے اخستے وه، اوپه یوروایت کښے دی چه هرکله توښه ختمه شوه نوابوعبیدؓ باقی پاتے توښے تولے جمع کړے اوهره ورځ به ئے دهغې نه یوه کجوره مونږ له راکوله ۔

امام نووی علیه الرحمة وائی مخکښے ابوعبیدةؓ په خپل اجتهاد سره هغے ته مردار اووے، بیاده.غوئ اجتهاد بدل شولو اوهغوئ اووے دا حلال دے، کیدے شی مردار وو لیکن هغوئ دلوږے نۀ بے تابه وو اودے تابه دپاره مرداره حلاله ده، اوحضرت ﷺ چه څنګه دهغې غوښه طلب کړه دادهغوئ دزړۀ دخوشحالودپاره ،ولے چه هغه حلال وو، یاد هغوئ دپاره خاص الله تعالی رالیږلے وو، نوحضرت ﷺ اوفرمائیل چه دے لره تبرك اوګڼړئ، اوپه دے دلیل دے ددے خبرے چه یوسړی له دخپل دوست نه څه شے غوښتل درست دی، اوداسوال حرام نۀ دے اوداجتهاد جائز کیدودلیل دے تردے پورے چه درسول الله ﷺ په زمانه کښے هم، اوددے امردلیل دے چه ددریاب ځناور حلال دے خواه که پخپله مرشی یاپه ښکار سره مرشی۔

اواجماع کړے اهل اسلامو دمنی په حالت باندے، اوزمونږه ملګرو چیندخے ته حرامه وئیلے ده، اود چیندخے نه سوا په نورو دریابی ځناورو کښے درے قولونه دی، دټولو نه زیات صحیح دادے چه هغه حلال دی، اودامام مالكؓ په نزد چیندخے هم درسته ده، اودابو حنیفةؓ په نزد سوا دمنی نه نوردریابی خیزونه یعنی ځناور تول درست نۀ دی، دغه شان هغه مئے هم چه

هغه په خپله مرشي اوداوبو سرله راشي درست نۀ دے زمونږ په نزد اودجمهورو په نزد دغه مئے حلال دے، اودامام ابو حنیفۀ په نزد حرام دے، اودحرمت په دلیل کښے کوم چه دجابرؓ حدیث مروی دے هغه ضعیف دے اوددلیل نیولو لائق نۀ دے اوزمونږ دلیل داصحیح حدیث دے۔ انتهی مختصرًا۔

(۴۹۹۹) عَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُولُ بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةِ رَاكِبٍ وَأَمِيرُنَا أَبُوعُبَيْدَةَ ابْنُ الْجَرَّاحِ نَرْصُدُ عِيرًا لِقُرَيْشٍ فَأَقَمْنَا بِالسَّاحِلِ نِصْفَ شَهْرٍ فَأَصَابَنَا جُوعٌ شَدِيدٌ حَتّٰی أَكَلْنَا الْخَبَطَ فَسُمِّيَ جَيْشُ الْخَبَطِ فَأَلْقٰی لَنَا الْبَحْرُ دَابَّةً يُقَالُ لَهَا الْعَنْبَرُ فَأَكَلْنَا مِنْهَا نِصْفَ شَهْرٍ وَادَّهَنَّا مِنْ وَدَكِهَا حَتّٰی ثَابَتْ أَجْسَامُنَا قَالَ فَأَخَذَأَبُوعُبَيْدَةَ ضِلَعًا مِّنْ أَضْلَاعِهٖ فَنَصَبَهُ ثُمَّ نَظَرَإِلٰی أَطْوَلِ رَجُلٍ فِي الْجَيْشِ وَأَطْوَلِ جَمَلٍ فَحَمَلَهُ عَلَيْهِ فَمَرَّ تَحْتَهُ قَالَ جَلَسَ فِي حِجَاجِ عَيْنِهٖ نَفَرٌقَالَ وَأَخْرَجْنَا مِنْ وَّقْبِ عَيْنِهٖ كَذَا وَكَذَاقُلَّةً وَدَكٍ قَالَ وَكَانَ مَعَنَا جِرَابٌ مِّنْ تَمْرٍ فَكَانَ أَبُوعُبَيْدَةَ يُعْطِي كُلَّ رَجُلٍ مِّنَّا قَبْضَةً قَبْضَةً ثُمَّ أَعْطَانَا تَمْرَةً تَمْرَةً فَلَمَّا فَنِيَ وَجَدْنَا فَقْدَهُ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ رسول الله ﷺ اولیږلو مونږ درے سوه سواره وو، اوزمونږه سردار ابوعبیده ابن الجراح وو، مونږ دقریشو دقافلے په انتظار کښ، وو نودسمند په غاړه دنیمی میشاتے پورے پراته وو، اودومره دیروږی شوی وو تردے پورے چه پانړے خورل موشروع کړو، اوددے لښکرنوم هم دغه شولو دپانړولښکر، بیاسمند زمونږ دپاره یو ځناور را اوغورځوو په هغے ته به ئے عنبروئیلو، دهغے نه مونږ دنیمے میاشتے پورے خوراك اوکړو اودهغے چربی به موپه بدن لګوله تردے پورے چه زمونږ بدنونه طاقت ورشولو بیاابوعبیدۀ دهغے یوه پښتئ راواخسته اواودروله ئے، اوپه لښکرکښے ئے دتولونه زیات دنګ سړے تلاش کړو اوپه اوښانوکښے دتولونه دنګ اوښ، اوهغه سړے ئے ددغه اوښ دپاسه سورکړو اودهغه پښتئ دلاندے اووتو، اودهغے ځناور دسترګے په دائره کښے څوسړے کیښناستل، جابرؓ وائی مونږ دهغه دسترګے دحلقے نه څوڅومنګی دچربئ اوویستل، اوزمونږ سره یوه بوریٔ وه دکجورے (ددغه ځناور دمیلاویدونه مخکښے) نودهغے نه به ابوعبیدۀ زمونږه هریوکس ته

یو یو موتے کجورے راکولہ ،هرکله چه هغه هم ختمے شوے نو مونږ ته معلوم شو دهغې نۀ میلاویدل ، (یعنی په یوه کجوره څه کیږی، بیا چه هرکله هغه هم پاتے نۀ شوه نو مونږ ته معلومه شوه، چه یوه کجوره هم غنیمت وو)

(۵۰۰۰) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ فِيْ جَيْشِ الْخَبَطِ اَنَّ رَجُلًا نَحَرَ ثَلَاثَ جَزَآئِرَ ثُمَّ ثَلٰثًا ثُمَّ ثَلٰثًا ثُمَّ نَهَاهُ اَبُوْ عُبَيْدَةَ. [راجع: ۴۹۹۹]

ترجمه : دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دپاڼړو په لښکر کښے یو سړی یوه ورځ درے اوښان حلال کړو بیائے درے اوښان، بیا درے اوښان بیا ابو عبیدهؓ منع کړو داوښانو دحلالولو نه (په دے خیال سره چه چرته اوښان به تمام شی، او په جهاد کښے خلل واقع شی)۔

(۵۰۰۱) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ بَعَثَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةٍ نَحْمِلُ اَزْوَادَنَا عَلٰى رِقَابِنَا. [بخاری ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضی الله تعالٰی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ اولیږلو او مونږ درے سوه تنه سړی وو، او زمونږ توښه زمونږ په څټونو باندے وه۔

(۵۰۰۲) عَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً ثَلَاثَ مِائَةٍ وَاَمَّرَ عَلَيْهِمْ اَبَا عُبَيْدَةَ ابْنَ الْجَرَّاحِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَفَنِيَ زَادُهُمْ فِيْ مِزْوَدٍ فَكَانَ يَقُوْتُنَا حَتّٰى كَانَ يُصِيْبُنَا كُلَّ يَوْمٍ تَمْرَةٌ.

ترجمه : دجابر بن عبداللهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ددرے سوه کسانو یو لښکر اولیږو، او ابو عبیدهؓ ئے دهغوئ سردار کړو، دهغوئ توښه تمامه شوه، نو ابو عبیدهؓ دټولو توښے یو ځائے کړے او هره ورځ به ئے ترے مونږ له یوه کجوره راکوله۔

(۵۰۰۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً اَنَا فِيْهِمْ اِلٰى سَيْفِ الْبَحْرِ وَسَاقُوْا جَمِيْعًا بَقِيَّةَ الْحَدِيْثِ كَنَحْوِ حَدِيْثِ عَمْرِو ابْنِ دِيْنَارٍ وَاَبِي الزُّبَيْرِ غَيْرَ اَنَّ فِيْ حَدِيْثِ وَهْبِ ابْنِ كَيْسَانَ فَاَكَلَ مِنْهَا الْجَيْشُ ثَمَانِيَ عَشَرَةَ لَيْلَةً.

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضی الله تعالٰی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ یو لښکر اولیږو زۀ هم په هغے کښں وم دسمندر په غاړه بیائے بیان کړو حدیث لره په دغه طریقه په

دے کښې دادی چه خلقو داتلسو ورځو پورے ددغه ځناور غوښه اوخوړه۔

(۵۰۰۴) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْثًا إِلٰى أَرْضِ جُهَيْنَةَ وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ رَجُلًا وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ حَدِيْثِهِمْ.

ترجمه: ددے ترجمه دتیرشوی حدیث پشان ده۔

بَابُ تَحْرِيْمِ أَكْلِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ

دکورنی خرونوغوښه حرامه ده۔

فائده: دجمهور علماؤ په نزد اوابن عباسؓ وئیلی دی حرامه نۀ ده اودمالکؒ درے قولونه دی په تولو کښے مشهور دادے چه مکروه تنزیهی دے، اوصحیح ئے حرمت دے(نوویؒ مختصرًا)

(۵۰۰۵) عَنْ عَلِيِّ ابْنِ أَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ.

ترجمه: دامیرالمؤمنین حضرت علی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دښځوسره دمتعے کولو نه دخیبرپه ورځ، اودکورنی خرونودغوښے خوړلونه ئے هم منع فرمائیلے ده۔

(۵۰۰۶) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِيْ حَدِيْثِ يُوْنُسَ عَنْ أَكْلِ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۰۰۷) عَنْ أَبِيْ ثَعْلَبَةَؓ قَالَ حَرَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُحُوْمَ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ [بخاری]

ترجمه: دابی ثعلبهؓ نه روایت دے وائی چه حرامه کړے ده رسول الله ﷺ غوښه دهغه خرونو چه په کورونو کښے اوسیږی، (اودځنګل خریعنی ګورخربالاتفاق حلال دے)۔

(۵۰۰۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا أَنَّ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْحِمَارِ الْأَهْلِيِّ يَوْمَ خَيْبَرَ وَكَانَ النَّاسُ احْتَاجُوْا إِلَيْهَا.

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ دکورنی خردغوښے خوړلونه دخیبرپه ورځ حالانکه خلقوته حاجت وو۔

(۵۰۱۰) عَنِ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَاللهِ ابْنَ اَبِيْ اَوْفٰى رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ فَقَالَ اَصَابَتْنَا مَجَاعَةٌ يَوْمَ خَيْبَرَ وَنَحْنُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ اَصَبْنَا لِلْقَوْمِ حُمُرًا خَارِجَةً مِّنَ الْمَدِيْنَةِ فَنَحَرْنَاهَا فَاِنَّ قُدُوْرَنَا لَتَغْلِيْ اِذْ نَادٰى مُنَادِيْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنِ اكْفَؤُا الْقُدُوْرَ وَلَا تَطْعَمُوْا مِنَ اللُّحُوْمِ الْحُمُرِ شَيْئًا فَقُلْتُ حَرَّمَهَا تَحْرِيْمَ مَاذَا قَالَ تَحَدَّثْنَا بَيْنَنَا فَقُلْنَا حَرَّمَهَا الْبَتَّةَ اَوْ حَرَّمَهَا مِنْ اَجْلِ اَنَّهَا لَمْ تُخَمَّسْ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دشیبانیؒ نه روایت دے وائی چه ما دعبدالله بن ابی اوفی رضی الله تعالی عنه نه تپوس اوکړو؟ دکورنی خرونو دغوښے په باره کښے، هغویؓ اووے مونږه دخیبرپه ورځ ډیروږی شوی وو، اومونږ د رسول الله ﷺ سره وو، اومونږ دیهودو خرونه دښهرنه بهر چه کوم راوتلی وو لونیول اوحلال مو کړو اوزمونږ په کتوږ کښے دهغے غوښه وشیدله چه په دے کښں د رسول الله ﷺ منادی آواز اوکړو کټوئ وارویځ اودخرونو غوښے مهٔ خورئ ما اووے حضرت ﷺ دخرونو غوښه څنګه حرامه کړه، داخبرے مونږه په خپلو کښے کولے، څنو اووے حضرت ﷺ دے لره قطعی حرامه کړه څنو اووے ددے وجے نه چه دهغوئ خمس وتلے نۀ وو (یعنی دتقسیم نه مخکښے هغوئ خرونه حلال کړو ددے وجے نه حضرت ﷺ حرام اوکرځولو۔)

(۵۰۱۱) عَنْ سُلَيْمَانَ الشَّيْبَانِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَاللهِ ابْنَ اَبِيْ اَوْفٰى رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ اَصَابَتْنَا مَجَاعَةٌ لَيَالِيْ خَيْبَرَ قَالَ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ وَقَعْنَا فِي الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ فَانْتَحَرْنَاهَا فَلَمَّا غَلَتْ بِهَا الْقُدُوْرُ نَادٰى مُنَادِيْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنِ اكْفَؤُا الْقُدُوْرَ وَلَا تَاْكُلُوْا مِنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ شَيْئًا قَالَ فَقَالَ نَاسٌ اِنَّمَا نَهٰى عَنْهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَنَّهَا لَمْ تُخَمَّسْ وَقَالَ اٰخَرُوْنَ نَهٰى عَنْهَا اَلْبَتَّةَ.

ترجمه: دسلیمان شیبانیؒ نه روایت دے وائی چه ما دعبدالله بن اوفی نه اوریدلی دی چه وئیلی ئے وو، مونږ دخیبرپه شپو کښے وږی شو هرکله چه ورځ شوه نو مونږ په کورنو خرونو باندے راغللو او هغه مو حلال کړو هرکله چه دیګونه په جوش کښے راغلو نو د رسول الله ﷺ آواز کونکی آواز اوکړو التیه کړئ دیګونو لره اودخرونو دغوښونه هیڅ اونۀ خورئ په دغه وخت څنو اووے رسول الله ﷺ منع اوکړه ددے نه ددے دپاره چه خرونه په تقسیم کښں نۀ وو راغلی

اوخوراوو ےنۀ حضرت ﷺ دے لره حرام کړی دی.

(۵۰۱۲) عَنِ الْبَرَآءِ وَعَبْدِاللهِ ابْنِ اَبِیْ اَوْفٰی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلَانِ اَصَبْنَا حُمُرًا فَطَبَخْنَا فَنَادٰی مُنَادِیْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنِ اکْفَؤُا الْقُدُوْرَ. [بخاری]

ترجمه: دبراء اوعبدالله بن ابی اوفیؓ نه روایت دے چه مونږ خرونه رااونیول اوهغه موپاخه کړل بیادحضرت ﷺ آوازکونکی آواز اوکړو الټه کړئ کټوؤلره.

(۵۰۱۳) عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ قَالَ قَالَ الْبَرَآءُ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَصَبْنَا يَوْمَ خَيْبَرَ حُمُرًا فَنَادٰی مُنَادِیْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنِ اکْفَؤُا الْقُدُوْرَ.

ترجمه: دحضرت ابواسحق رضی الله تعالی عنه نه روایت دے براء وائی مونږ دخیبر په ورځ خرونه اونیول بیادرسول الله ﷺ آوازکونکی آواز اوکړوالټه کړئ خپلو کټوؤلره.

(۵۰۱۴) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلُ نُهِيْنَا عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ.

ترجمه: دبراء نه روایت دے وائی چه مونږه منع کړے شوی یودکورنی خرونودغوښونه.

(۵۰۱۵) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نُلْقِیَ لُحُوْمَ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ نِيْئَةً وَنَضِيْجَةً ثُمَّ لَمْ يَاْمُرْنَا بِاَکْلِهٖ.

ترجمه: دبراء بن عازب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه حکم اوکړومونږ ته رسول الله ﷺ دکورنی خرونودغوښوغورځولو که پخه غوښه وی یاکچه، بیائے حکم نۀ دے کړے مونږ ته دهغے دخوړلو.

(۵۰۱۶) عَنْ عَاصِمٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهٗ.

ترجمه: دعاصمؒ نه هم دپورته حدیث پشان روایت دے.

(۵۰۱۷) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَا اَدْرِیْ اِنَّمَا نَهٰی عَنْهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَجْلِ اَنَّهٗ کَانَ حَمُوْلَةَ النَّاسِ فَکَرِهَ اَنْ تَذْهَبَ حَمُوْلَتُهُمْ اَوْحَرَّمَهٗ فِیْ يَوْمِ خَيْبَرَ لُحُوْمَ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ. [بخاری]

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، هغویؓ وائی زۀ نه یم خبرچه رسول الله ﷺ منع کړے ده دخرودغوښے نه په دے وجه چه هغه دبارونوورلو په کار راځی

نو بد گنړل حضرت ﷺ د هغوئ تلف کول یا حرامه کړه د خیبر په ورځ دکورنی خرونو غوښو لره۔

(۵۰۱۸) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى خَيْبَرَ ثُمَّ اِنَّ اللهَ فَتَحَهَا عَلَيْهِمْ فَلَمَّا اَمْسَى النَّاسُ الْيَوْمَ الَّذِىْ فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ اَوْقَدُوْا نِيْرَانًا كَثِيْرَةً فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاهٰذِهِ النِّيْرَانُ عَلٰى اَىِّ شَىْءٍ تُوْقِدُوْنَ قَالُوْا عَلٰى لَحْمٍ قَالَ عَلٰى لَحْمِ حُمُرِ الْاِنْسِيَّةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَهْرِيْقُوْهَا وَاكْسِرُوْهَا فَقَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ اَوْنُهْرِيْقُهَا وَنَغْسِلُهَا قَالَ اَوْذَالِكَ :

ترجمه: د سلمه بن اکوع ؓ نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره اووتو د خیبر طرف پس الله تعالی فتح کړو خیبر لره، په کومه ورځ چه فتح شو نو په هغه ورځ خلقو دیر اور بل کړلو حضرت ﷺ اوفرمائیل دا اور د څه دے او څه شے پخولے شی خلقو عرض اوکړو غوښه پخولے شی، حضرت ﷺ اوفرمائیل د څه غوښه

خلقو اووے دکورنو خرونو، حضرت ﷺ اوفرمائیل غوښه توئ کړئ سری اووے مونږ به غوښه توئ کړو، او کټوئ به اووینځو حضرت ﷺ اوفرمائیل بنه ده داسے اوکړئ۔

(۵۰۱۹) عَنْ يَزِيْدَ ابْنِ اَبِىْ عُبَيْدٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم د پورته حدیث په شان ده۔

(۵۰۲۰) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَمَّا فَتَحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ اَصَبْنَا حُمُرًا خَارِجًا مِّنَ الْقَرْيَةِ فَطَبَخْنَا مِنْهَا فَنَادىٰ مُنَادِىْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا اِنَّ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْهَا فَاِنَّهَا رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاُكْفِئَتِ الْقُدُوْرُ بِمَا فِيْهَا وَاِنَّهَا لَتَفُوْرُ بِمَا فِيْهَا. [بخاری]

ترجمه: د انس ؓ نه روایت دے هرکله چه رسول الله ﷺ خیبر فتح کړو نو د کلی نه چه کوم خرونه راوتلی وو مونږ هغه اونیول او د هغوئ غوښه مو پخوله په دے کښی د رسول الله ﷺ آواز کونکی آواز اوکړو خبردار شئ الله تعالی او هغه رسول ﷺ دواړه تاسو لره منع کوی د خرونو د غوښو نه ولے چه هغه پلیت دے او ددے خوړل د شیطان کار دے بیا تو لے کټوئ الټه کړلے شوے او غوښه په هغے کښی جوشیدله۔

(۵۰۲۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ جَآءَ جَاءٍ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَكِلَتِ الْحُمُرُ ثُمَّ جَآءَ اٰخَرُ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اُفْنِيَتِ الْحُمُرُ فَاَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبَاطَلْحَةَ فَنَادٰى اِنَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ يَنْهَانِكُمْ عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ فَاِنَّهَا رِجْسٌ اَوْنَجِسٌ قَالَ فَاُكْفِئَتِ الْقُدُوْرُ بِمَافِيْهَا. [راجع: ۵۰۲۰]

ترجمه: دانس بن مالك نه روايت دے هركله چه دخيبرورځ اوشوه راتلونكے راغے اولوئے وئيل چه يارسول الله ﷺ خرونه اوخوړلے شول بيابل راغے اولوئے وئيل خرونه فناشول، پس حضرت ﷺ ابوطلحه ته حكم اوكړو هغوئ آواز اوكړو چه الله تعالى اودهغه رسول ﷺ منع فرمائيلى ده تاسولره دخرونودغوښے خوړلو نه ولے چه هغه پليت دى ناپاك دى. انس رضى الله تعالى عنه فرمائى بيا هغه كټوئ توئى كړے شوے۔

بَابُ اِبَاحَةِ اَكْلِ لَحْمِ الْخَيْلِ۔

داسونوغوښه حلاله ده۔

فائده: نووى عليه الرحمة وائى په دے كښ اختلاف دے، نودشافعی اوجمهورسلفواوخلقوداقول دے چه داس غوښه مباح ده بے دكراهت نه، اودامام مالك اوابوحنيفة په نزد مكروه ده۔

(۵۰۲۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ وَاَذِنَ فِيْ لُحُوْمِ الْخَيْلِ. [بخارى، ابوداود، ترمذى، نسائى]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده دخيبرپه ورځ دكورنى خرونو دغوښے اواجازت ئے وركړے دے داسونودغوښے دخوړلو۔

(۵۰۲۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ اَكَلْنَا زَمَنَ خَيْبَرَ الْخَيْلَ وَحُمُرَ الْوَحْشِ وَنَهَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحِمَارِ الْاَهْلِيِّ. [نسائى، ابن ماجه]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه مونږ به دخيبرپه زمانه كښے داسونواوګورخرونوغوښه خوړله اومنع كړى وو مونږ رسول الله ﷺ دكورنى خرونو

دغوبنو دخوړلونه۔

(۵۰۲۴) عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ........

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۵۰۲۵) عَنْ اَسْمَآءَ قَالَتْ نَحَرْنَا فَرَسًا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَكَلْنَاهُ. [بخاری، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: داسماء رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه مونږه یو اس حلال کړو درسول الله ﷺ په زمانه کښې او اوخوړلو مونږ هغے لره۔

(۵۰۲۶) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے نه دمخکښې حدیث پشان ده۔

بَابُ اِبَاحَةِ الضَّبِّ

دسمسرے غوښه حلاله ده۔

(۵۰۲۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الضَّبِّ فَقَالَ لَسْتُ بِاٰكِلِهِ وَلَا مُحَرِّمِهِ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه درسول الله ﷺ نه دسمسرے دغوښے په باره کښې تپوس اوشو، حضرت ﷺ اوفرمائیل نۀ زۀ هغے لره خورم او نۀ ورته حرام وایم۔

فائده: حضرت ﷺ اونۀ خوړه، ولے چه سمسره دهغوئ ﷺ په ملك کښې نۀ وه، نو حضرت ﷺ ته دهغے کرکه ورتله لکه څنګه چه بل روایات کښې دی چه صحابه ؓ اوخوړه دحضرت نه مخکښے ددے نه معلومه شوه چه سمسره حلاله ده، او په دے باندے اجماع ده دمسلمانانو خو دابو حنیفه ؒ نه منقول دی چه هغوئ ورته مکروه وائی۔ (نووی)

(۵۰۲۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَاَلَ رَجُلٌ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَكْلِ الضَّبِّ فَقَالَ لَا اٰكُلُهُ وَلَا اُحَرِّمُهُ.

ترجمه: دابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یو سړی درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو دسمسرے په باره کښے حضرت ﷺ اوفرمائیل نهٔ زهٔ هغے لره خورم اونهٔ ورته حرام وایم۔

(۵۰۲۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ عَنْ اَكْلِ الضَّبِّ فَقَالَ لَا اٰكُلُهٗ وَلَا اُحَرِّمُهٗ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث په شان ده، دومره زیاته ده چه حضرت ﷺ په منبروو۔

(۵۰۳۰) عَنْ عُبَيْدِاللّٰهِ بِمِثْلِهٖ فِيْ هٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه: ترجمه ایضا۔

(۵۰۳۱) عَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الضَّبِّ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ اللَّيْثِ عَنْ نَافِعٍ غَيْرَ اَنَّ حَدِيْثِ اَيُّوْبَ اُتِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضَبٍّ فَلَمْ يَاْكُلْهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهُ وَفِيْ حَدِيْثِ اُسَامَةَ قَالَ قَامَ رَجُلٌ فِي الْمَسْجِدِ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته تیرشوی حدیث پشان ده۔

(۵۰۳۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مَعَهٗ نَاسٌ مِنْ اَصْحَابِهٖ فِيْهِمْ سَعْدٌ وَاُتُوْا بِلَحْمِ ضَبٍّ فَنَادَتِ امْرَاَةٌ مِنْ النِّسَآءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ لَحْمُ ضَبٍّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُوْا فَاِنَّهٗ حَلَالٌ وَلٰكِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ طَعَامِيْ. [بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه: دابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه درسول الله ﷺ سره څوتنه اصحاب وو چه په دوئ کښے سعدؓ هم وو چه دسمسرے غوښه راوړے شوه، دحضرت ﷺ دبیبیانوؓ نه یوے بی بیؓ عرض اوکړو یارسول الله ﷺ دادسمسرے غوښه ده، حضرت ﷺ اصحابوؓ ته اوفرمائیل تاسوئے اوخورئ حلاله ده، لیکن ځما طعام نهٔ دے، (یعنی ځما ددے خوړلو اتفاق رانغے ددے وجے نه کراهت راځی)

(۵۰۳۳) عَنْ تَوْبَةَ الْعَنْبَرِيِّ قَالَ قَالَ لِيَ الشَّعْبِيُّ اَرَاَيْتَ حَدِيْثَ الْحَسَنِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَعَدْتُ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَرِيْبًا مِنْ سَنَتَيْنِ اَوْسَنَةٍ وَنِصْفٍ فَلَمْ اَسْمَعْهُ رَوٰى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ هٰذَا ق.ال كَانَ نَاسٌ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فِيهِمْ سَعْدٌ بِمِثْلِ حَدِيثِ مُعَاذٍ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده.

(۵۰۳۴) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ دَخَلْتُ اَنَا وَخَالِدُابْنُ الْوَلِيْدِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْتَ مَيْمُوْنَةَ فَاُتِيَ بِضَبٍّ مَحْنُوْذٍ فَاَهْوٰى اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ فَقَالَ بَعْضُ النِّسْوَةِ اللَّاتِيْ فِيْ بَيْتِ مَيْمُوْنَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا اَخْبِرُوْا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا يُرِيْدُ اَنْ يَّاْكُلَ فَرَفَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقُلْتُ اَحَرَامٌ هُوَ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ لَا وَلٰكِنَّهُ لَمْ يَكُنْ بِاَرْضِ قَوْمِيْ فَاَجِدُنِيْ اَعَافُهُ قَالَ خَالِدٌ فَاجْتَرَرْتُهُ فَاَكَلْتُهُ وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ.

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه زهٔ اوخالد بن ولیدؓ درسول الله ﷺ سره دمؤمنانو دموربی بی میمونے رضی الله تعالی عنها کورته لاړو هلته یوه وریته شوے سمسره راوړے شوه، رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك ورښکته کړو ځنو ښځو چه دمیمونے رضی الله تعالی عنها په کورکښے وے رسول الله ﷺ ته اوښودل هغه څه چه حضرت ﷺ ئے خوړلو والا وو. (یعنی اوئے وئیل ورته چه داسمسره ده) ددے په اوریدو حضرت ﷺ خپل لاس مبارك راښکودو، ماووے ولے داحرام دے یارسول الله ﷺ، حضرت ﷺ اوفرمائیل نهٔ دازمونږ په ملك کښے نهٔ وی ددے وجے نه ماته کراهت راځی، خالدؓ وائی ما هغې لره خپل طرفته راښکوده اوامې خوړه، اورسول الله ﷺ راته کتل.

(۵۰۳۵) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ اَنَّ خَالِدَ ابْنَ وَلِيْدِ الَّذِيْ يُقَالُ لَهُ سَيْفُ اللهِ اَخْبَرَهُ اَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى مَيْمُوْنَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ خَالَتُهُ وَخَالَةُ ابْنِ عَبَّاسٍ فَوَجَدَ عِنْدَهَا ضَبًّا مَحْنُوْذًا قَدِمَتْ بِهِ اُخْتُهَا حُفَيْدَةُ بِنْتُ الْحَارِثِ مِنْ نَجْدٍ فَقَدَّمَتِ الضَّبَّ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ قَلَّمَا يُقَدَّمُ اِلَيْهِ الطَّعَامُ حَتّٰى يُحَدَّثَ بِهٖ يُسَمّٰى لَهُ فَاَهْوٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ اِلَى الضَّبِّ فَقَالَتِ امْرَاَةٌ مِنَ النِّسْوَةِ الْحُضُوْرِ اَخْبِرْنَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قَدَّمْتُنَّ لَهُ قُلْنَ هُوَ الضَّبُّ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَرَفَعَ رَسُوْلُ اللهِ

صلّے اللہُ عَلَیْہِ وَسلَّم بِیَدِہٖ فَقَالَ خَالِدُ ابْنُ الْوَلِیْد رضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہُ اَحَرامٌ ن الضَّبُّ یَارَسُوْلَ اللہِ قَالَ لاوَلٰکِنَّہٗ لَمْ یَکُنْ بِاَرْضِ قَوْمِیْ فَاجِدُنِیْ اعافُہٗ قال خالدٌ فاجتررْتُہٗ فَاَکَلْتُہٗ وَرَسُوْلُ اللہِ صَلّے اللہُ عَلَیْہِ وَسلَّم یَنْظُرُ فَلَمْ یَنْھَنِیْ. [بخاری ، ابن ماجه ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله‌ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه خالد بن ولیدؓ چاته چه به ئے سیف الله وئیلو، هغه درسول الله ﷺ سره دمؤمنانو دموربی بی میمونے رضی الله تعالی عنها خواله لاړو چه درسول الله ﷺ بی بی وه، اودخالد اوابن عباسؓ ترور وه، دهغویؓ سره ئے یوه وریته شوے سمسره اوموندہ چه دمیمونےؓ خورحفیده بنت حارثؓ دنجد نه راوړے وه، بیاهغه سمسره درسول الله ﷺ په مخکښے کیښودے شوه، اوداسے به ډیره کمه پښیده چه حضرت ﷺ ته به چاپه مخکښے غله کیښوده اوبیان به ئے ورته اونۀ کړو اونوم به ئے ورته اونۀ ښودو(چه دادخــه غلــه ده) نورسول الله ﷺ خپل لاس دسمسرے په طرف ورښکته کړو هلته دحاضروښځونه یوه ښځه پاځیده اواوئے ښودل ورته چه څه دحضرت ﷺ مخے ته راوړے شوی وو هغے اووئیل دسمسرے ده یارسول الله ﷺ ددے په اوریدوحضرت ﷺ خپل لاس واپس رانښکوده خالد بن ولیدؓ اووے ولے سمسره حرامه ده یارسول الله ! حضرت ﷺ اوفرمائیل نۀ حرامه نۀ ده لیکن دازمونږ په ملك کښے نۀ وی ددے وجے نه ماله ترے نفرت راځی، خالدؓ وائی بیاماهغه خپل طرفته رانښکوده اواومی خوړه اورسول الله ﷺ راته کتل اوزۀ ئے دخوړلو نه منع نۀ کړمه۔

(۵۰۳۶) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اَنَّہٗ اَخْبَرَہٗ اَنَّ خَالِدَابْنَ الْوَلِیْدِرَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اَخْبَرَہٗ اَنَّہٗ دخل مع رَسُوْلِ اللہِ صَلّے اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ عَلٰے مَیْمُوْنَۃَ بِنْتِ الْحَارِثِ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْھَا وَھِیَ خالَتُہٗ فَقُدِّمَ الٰی رَسُوْلِ اللہِ صلّے اللہُ عَلَیْہِ وَسلَّمَ لَحْمُ ضَبٍّ جَآءَ تْ بِہٖ اُمُّ حُفَیْدٍ بِنْتُ الْحَارِثِ رَضِیَ اللہُ تعالٰی عنھا مِنْ نَّجْدٍ وَّکَانَتْ تَحْتَ رَجُلٍ مِّنْ بَنِیْ جَعْفَرٍ وَّکَانَ رَسُوْلُ اللہِ صَلّے اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ لَایَاْکُلُ شَیْئًا حَتّٰی یَعْلَمَ مَاھُوَ ثُمَّ ذَکَرَبِمِثْلِ حَدِیْثِ یُوْنُسَ وَزَادَ فِیْ اٰخِرِالْحَدِیْثِ وَحَدَّثَہٗ ابْنُ الْاَصَمِّ عَنْ مَیْمُوْنَۃَ وَکَانَ فِیْ حِجْرِھَا.

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه خالد بن ولید درسول الله

ﷺ سره دمیمونه بنت حارث کورته لاړو چه هغه دخالدؓ ترور وه، نودرسول الله ﷺ په مخکښې دسمسرې غوښه کیښودې شوه چه دغه غوښه ام حفید بنت حارثؓ دنجد نه راوړې وه اوهغهٔ دبنی جعفرونه دیوسړی په نکاح کښې وه، اورسول الله ﷺ به یوخیزنهٔ خوړلوترخو چه به هغوئ ﷺ ته معلومه شوې نهٔ وو چه داڅه شے دے، بیائے بیان اوکړو په دغه شان لکه چه پورته تیرشولو۔

(۵۰۳۷) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ اُتِیَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِیْ بَیْتِ مَیْمُوْنَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا بِضَبَّیْنِ مَشْوِیَّیْنِ بِمِثْلِ حَدِیْثِهِمْ وَلَمْ یَذْکُرْیَزِیْدُابْنُ الْاَصَمِّ عَنْ مَیْمُوْنَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده مګرپه دے کښې داسوا دی چه دوه سمسرے راوړے شوے وریتے کړے شوی۔

(۵۰۳۸) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اُتِیَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَفِیْ بَیْتِ مَیْمُوْنَةَ وَعِنْدَهٗ خَالِدُابْنُ الْوَلِیْدِبِلَحْمِ ضَبٍّ فَذَکَرَبِمَعْنٰی حَدِیْثِ الزُّهْرِیِّ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۰۳۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ اَهْدَتْ خَالَتِیْ اُمُّ حُفَیْدٍرَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ سَمْنًا وَّاَقِطًا وَاَضُبًّا فَاَکَلَ مِنَ السَّمْنِ وَالْاَقِطِ تَرَکَ الضَّبَّ تَقَذُّرًا وَّاُکِلَ عَلٰی مَآئِدَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْکَانَ حَرَامًا مَّااُکِلَ عَلٰی مَآئِدَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ. [بخاری، ابوداود، نسائی]

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه ځماترور ام حفیدؓ رسول الله ﷺ له غوړی، اوپنیر اوسمسره رااولیږل، حضرت ﷺ تری پنیراوغوړی اوخوړل اودسمسرے نه ئے نفرت اوکړو پریخوه ئے اوسمسره بیادحضرت ﷺ په دسترخوان باندے اوخوړے شوه نوکچرے داحرامه وے نودحضرت ﷺ په دسترخوان به نهٔ وه خوړلے شوے۔

(۵۰۴۰) عَنْ یَزِیْدَابْنِ الْاَصَمِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ دَعَانَا عُرُوْسٌ بِالْمَدِیْنَةِ فَقَرَّبَ اِلَیْنَا ثَلَاثَةَ عَشَرَضَبًّا فَاٰکِلٌ وَّتَارِکٌ فَلَقِیْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا مِنَ الْغَدِفَاَخْبَرْتُهٗ فَاَکْثَرَالْقَوْمُ حَوْلَهٗ

حَتّٰى قَالَ بَعْضُهُمْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَآ اٰكُلُهٗ وَلَآ اَنْهٰى عَنْهُ وَلَآ اُحَرِّمُهٗ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا بِئْسَمَا قُلْتُمْ مَابُعِثَ نَبِىُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَّامُحِلًّا وَّمُحَرِّمًا اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا هُوَ عِنْدَ مَيْمُوْنَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا وَعِنْدَهُ الْفَضْلُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَخَالِدُ ابْنُ الْوَلِيْدِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ وَامْرَاَةٌ اُخْرٰى اِذْقُرِّبَ اِلَيْهِمْ خِوَانٌ عَلَيْهِ لَحْمٌ فَلَمَّا اَرَادَ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّاْكُلَ قَالَتْ لَهٗ مَيْمُوْنَةُ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اِنَّهٗ لَحْمُ ضَبٍّ فَكَفَّ يَدَهٗ وَقَالَ هٰذَا لَحْمٌ لَمْ اٰكُلْهُ قَطُّ وَقَالَ لَهُمْ كُلُوْا فَاَكَلَ مِنْهُ الْفَضْلُ وَخَالِدُ ابْنُ الْوَلِيْدِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ وَالْمَرْاَةُ وَقَالَتْ مَيْمُوْنَةُ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا لَآ اٰكُلُ مِنْ شَىْءٍ اِلَّاشَيْئًا يَّاْكُلُ مِنْهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ترجمه: دیزید بن اصمؒ نه روایت دے وائی چه مونږ په یوه ښادئ کښے میلمانه وو په مدینه کښے، نو دیارلس سمسرے زمونږ په مخکښے کیښودے شوے څنواوخورے اوځنواونهٔ خورے، بیاپه صباله زهٔ دابن عباس رضی الله تعالی عنهما سره میلاؤ شوم اوهغوئ ته می داحال بیان کړو، خلقو دهغوئ په مخکښے ډیرے خبرے اوکړے بعضوتردے پورے اووے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، نهٔ زهٔ دے لره خورم نهٔ ترے څوك منع کوم اونهٔ ورته حرام وایم، حضرت ابن عباسؓ اووے تاسو بد وایئ، رسول الله ﷺ خو ددے دپاره رالیږلے شوے وو، چه هریو څیز ته حلال اوائی یاحرام، (چنانچه په قران کښے درسول الله ﷺ صفت هم راځی يُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰئِثَ) اوحضرت ﷺ یوه ورځ دمیمونے بی بیؓ سره وو، اوفضل بن عباسؓ اوخالد بن ولیدؓ هم وو، اویوه ښځه بله هم وه په دے کښے ددغه خلقو مخے ته یوه خوانچه راوړے شوه چه پکښې غوښه هم وه هرکله چه رسول الله ﷺ دهغے دخوړلو اراده اوکړه، نو میمونےؓ اووے دادسمسرے غوښه ده، ددے په اوریدو حضرت ﷺ لاس راښکودو اواوئے فرمائیل داغوښه خوزه چرته هم نهٔ خورم، اوهغه خلقو ته ئے اوفرمائیل تاسو خورئ، نو فضل اوخالد بن ولیدؓ اوهغے ښځے هغه اوخوړه، اومیمونےؓ اووے زهٔ نهٔ خورم هیڅ شے مګر هغه شے کوم نه چه رسول الله ﷺ خوری.

(۵۰۴۱) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ يَقُوْلُ اُتِىَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضَبٍّ فَاَبٰى اَنْ يَّاْكُلَ مِنْهُ وَقَالَ لَآاَدْرِىْ لَعَلَّهٗ مِنَ الْقُرُوْنِ الَّتِىْ مُسِخَتْ.

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ له یوه

سره راوړے شوه حضرت ﷺ دهغے دخوړو نه انکار اوکړو اواوئے فرمائیل ماته معلومه نهٔ ده چه داد هغه قومونو وی کوم چه مسخ شوی دی (لکه دعذاب شکل دے اګرکه داسمسره ځناور دے اوکم چه مسخ شوی وو هغه مړه دی)

(۵۰۴۲) عن ابی الزُّبَیر رضی اللّٰہ تعالٰی عنہ قال سالتُ جابرًا عن الضَّبِّ فقال لاتطعموہ وقذرہ وقال قال عمر ابن الخطاب رضی اللّٰہ تعالٰی عنہ ان النبیَّ صلَّی اللّٰہ علیہ وسلَّم یحرِّمہُ اِنَّ اللّٰہ عزوجل ینفع بہ غیر واحدٍ فاِنَّما طعام عامَّۃِ الرِّعاءِ منہ ولو کان عندی طعمتُہُ. [ابن ماجه]

ترجمه: دابوالزبیرؓ نه روایت دے وائی چه ماد جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه دسمسرے په باره کښے تپوس اوکړو هغوئ اووے مهٔ خوره هغے لره اوناپاکه ئے اوګڼړله هغے لره، اواوئے وئیل چه حضرت عمرؓ فرمائیلی دی، چه رسول الله ﷺ سمسره نهٔ ده حرامه کړے، اوالله تعالی فائده ورکوی په دے سره ډیرولره ولے چه اکثرشپونکی هغے لره خوری، اوکچرے ځماسره وے نومابه هم خوړلے وے۔

(۵۰۴۳) عن ابی سعید رضی اللّٰہ تعالٰی عنہ قال قال رجل یارسول اللّٰہ انّا بارض مضبَّۃٍ فماتامرنا اوفماتفتینا قال ذُکر لی ان امَّۃً من بنی اسرائیل مسخت فلم یامر ولم ینھی قال ابوسعید فلمّا کان بعد ذلک قال عمر رضی اللّٰہ تعالٰی عنہ اِنَّ اللّٰہ لینفع بہ غیر واحدٍ وَّاِنَّہ لطعام عامَّۃ ھٰذہ الرِّعاءِ ولو کان عندی لطعمتہ اِنَّما عافہ رسول اللّٰہ صلَّی اللّٰہ علیہ وسلَّم. [ابن ماجه]

ترجمه: دابوسعید رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یوسړی اووے یارسول الله ﷺ مونږ په داسے ملك کښے یو چه هلته سمسرے ډیرے دی نوتاسو ﷺ مونږ ته څه حکم کوی حضرت ﷺ اوفرمائیل دبنی اسرائیلو یوګروپ مسخ شوے وو، بیاحضرت ﷺ نه حکم ورکړو هغوئ ته اونهٔ ئے منع کړو دهغے نه، ابوسعید رضی الله تعالی عنه وائی ددے نه پس حضرت عمر رضی الله تعالی عنه اووے الله تعالی په دے سره فائده ورکوی ډیرولره اوهم دغه غله ده داکثروشپونکو اوکچرے ځماسره وے نومابه خوړلے وے لیکن رسول الله ﷺ به ددے نه نفرت کولو۔

(۵۰۴۴) عن ابی سعید رضی اللّٰہ تعالٰی عنہ انَّ اعرابیًّا اتی رسول اللّٰہ صلَّی اللّٰہ علیہ وسلَّم فقال انّی

فِیْ حَائِطٍ مُضِبَّةٍ وَاِنَّهُ عَامَّةُ طَعَامِ اَهْلِیْ قَالَ فَلَمْ یُجِبْهُ فَقُلْنَا عَاوِدْهُ فَعَاوَدَهُ فَلَمْ یُجِبْهُ ثَلَاثًا ثُمَّ نَادَاهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِی الثَّالِثَةِ فَقَالَ یَا اَعْرَابِیُّ اِنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ لَعَنَ اَوْ غَضِبَ عَلٰی سِبْطٍ مِّنْ بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ فَمَسَخَهُمْ دَوَابَّ یَدِبُّوْنَ فِی الْاَرْضِ فَلَا اَدْرِیْ لَعَلَّ هٰذَا مِنْهَا فَلَسْتُ اٰکُلُهَا وَلَا اَنْهٰی عَنْهَا.

ترجمه: دابوسعید رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یوبانډه چی درسول الله ﷺ خواله راغے اوعرض ئے اوکړو چه مونږ په داسے زمکه کښے اوسیږو چه هلته سمسرے ډیرے دی، اودغه خمادکوروالا اکثر خوراك دے. حضرت ﷺ هغه له جواب ورنۀ کړلو. مونږ اووے بیاترے تپوس اوکړه، هغه بیاتپوس اوکړو. حضرت ﷺ درے واره جواب ورنۀ کړو بیادریم ځل نه پس حضرت ﷺ هغه ته آواز اوکړو اواوئے فرمائیل اے اعرابی الله جل جلاله لعنت کړے دے یائے غصه کړے ده دبنی اسرائیلو په یوګروپ باندے نو هغه ئے ځناورکړی وو په زمکه به ګرځیدلو، پس زۀ نۀ پوهیږم چه سمسره دهغه ځناورو نۀ ده یابل څه ځکه زۀ دے لره نه خورم اونه ورته حرام وایم.

بَابُ اِبَاحَةِ الْجَرَادِ.

ملخ خوړل روادی

(۵۰۲۵) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ اَبِیْ اَوْفٰی قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ نَّاْکُلُ الْجَرَادَ. [بخاری، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن ابی اوفی نه روایت دے وائی چه مونږ درسول الله ﷺ سره په اوه غزاګانو کښے شریك وو اوملخان به موخوړل.

(۵۰۲۶) عَنْ اَبِیْ یَعْفُوْرٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ قَالَ اَبُوْبَکْرٍ فِیْ رِوَایَتِهٖ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَقَالَ اِسْحٰقُ سِتَّ وَقَالَ ابْنُ اَبِیْ عُمَرَ سِتَّ اَوْ سَبْعَ.

ترجمه: دابویعفورؒ نه هم دغسے روایت دے لکه چه پوته تیرشو اوابوبکرؒ اوه غزاګانے روایت کړے دی اواسحقؒ شپږ غزاګانے اوابن عمرؓ دشك سره شپږ یااوه غزاګانے روایت کړے دی.

فائده: نووی علیه الرحمة ونیلی دی دملخ په حلال والی باندے دمسلمانانو اجما

دہ،اوس دشافعیؒ اوابو حنیفہؒ اواحمد اودجمهورعلماؤ داقول دے چہ ملخ پہ هرحال کښے حلال دے کہ ذبح کړے شی یاذبح نۀ کړے شی، کہ مسلمان ئے ښکارکړی یامجوسی یاپخپلہ مړشی اومالکؒ وئیلی دی چہ هغه حلال نۀ دے کہ پخپله مړشی، البتہ کہ پہ څه سبب سره مړشی، مثلا څه ټکره ترے کټ شی، یادڅه دلاندے راشی، یاژوندے اورته اوغورځیږی یاوریت شی نوحلال دے۔ انتهی۔

(۵۰۴۷) عَنْ اَبِیْ یَعْفُوْرٍبِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان دہ۔

بَابُ اِبَاحَةِ الْاَرْنَبِ۔

سوه [خرگوش] حلاله ده۔

(۵۰۴۸) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ مَرَرْنَا فَاسْتَنْفَجْنَآ اَرْنَبًا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ فَسَعَوْعَلَیْهِ فَلَغَبُوْا فَسَعَیْتُ حَتّٰی اَدْرَكْتُهَا فَاَتَیْتُ بِهَآ اَبَاطَلْحَةَ فَذَبَحَهَا فَبَعَثَ بِوَرِكِهَا وَفَخِذَیْهَا اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَیْتُ بِهَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَبِلَهٗ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ روان وو نوپه مرالظهران کښے (چه دیو مقام نوم دے) په یو سوه وړپسے شو مخکښے خلقو په هغے پسے منډے اووهلے لیکن ستړی شو، باپسے مامنډے کړے اوراونیوه می، اودابو طلحةؓ خواله می راوړه. هغویؓ هغے لره ذبحه کړه، اودهغے ملا او دواړه ورنونه ئے رسول الله ﷺ له اولیږل، پس ماراوړل راغلم اوحضرت ﷺ واخستل هغے لره۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی خرگوش حلال دے، دمالكؒ اوشافعیؒ اوابو حنیفهؒ اواحمدؒ دجمهورعلماؤ په نزد، مګردعبدالله بن عمربن العاصؓ اوابن ابی لیلی نه دهغے کراهت منقول دے په بل یو حدیث کښ ددی ممانعت نشته دے۔ انتهی۔

(۵۰۴۹) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ فِیْ حَدِیْثِ یَحْیٰی بِوَرِكِهَا اَوْفَخِذَیْهَا.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم ددغه مخکښے حدیث پشان ده۔

باب اباحة مايستعان به على الاصطياد والعدو وكراهة الخذف

دښکاردپاره اودمنو دپاره چه دکوم سامان ضرورت وی هغه روا دی لیکن وړوکی کیتی ویشتل ناروا دی۔

(٥٠٥٠) عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ قَالَ رَاى عَبْدُاللهِ ابْنُ الْمُغَفَّلِ رَجُلًا مِّنْ اَصْحَابِهٖ يَخْذِفُ فَقَالَ لَهٗ لَاتَخْذِفْ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَكْرَهُ اَوْقَالَ يَنْهٰى عَنِ الْخَذْفِ فَاِنَّهٗ لَايُصَادُبِهِ الصَّيْدُ وَلَايُنْكَاُبِهِ الْعَدُوُّ وَلٰكِنَّهٗ يَكْسِرُ السِّنَّ وَيَفْقَأُالْعَيْنَ ثُمَّ رَاٰهُ بَعْدَذٰلِكَ يَخْذِفُ فَقَالَ لَهٗ اُخْبِرُكَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَكْرَهُ اَوْيَنْهٰى عَنِ الْخَذْفِ ثُمَّ اَرَاكَ تَخْذِفُ لَااُكَلِّمُكَ كَلِمَةً كَذَا وَكَذَا. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دابن بریدةؓ نه روایت دے وائی چه عبدالله بن مغفل یو سړے اولیدو دخپلو ملګرو په خذف کولو (خذف ګیټئ ویشتل یاددے په شان بل څه څیزویشتل چه ددوګوتو په مینځ کښے نے کیږدی یادمسواکے ګوتے اودغتے ګوتے په مینځ کښے نے کیږدی) عبداللهؓ هغه ته اووے تهٔ خذف مهٔ کوه، ځکه چه رسول الله ﷺ مکروه ګنړلو یابه ئے منع کوو خذف لره ولے چه نهٔ په دے سره ښکارکیږی نهٔ پرے دشمن مړکیږی، بلکه غاښ پرے ماتیږی سترګه پرے چوی (هرکله چه هغه په چاولږی) بیاعبداللهؓ هغه لره په خذف کولو اولیدونوورته ئے اووے، زهٔ تاته حدیث بیانوم چه رسول الله ﷺ به مکروه ګنړلویابه ئے منع کوله دخذف نه، اوبیازهٔ وینم تالره چه خذف په مخه کوے، اوس به زهٔ ستاسره خبره نهٔ کوم۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی ددے حدیث نه داثابتیږی چه دبدعتی اوفاسقانو ملاقات پریخودل پکار دی، دغه شان دهغه خلقو چه هغه په حدیث باندے عمل قصدا نهٔ کوی، اوداسے خلقو ملاقات همیشه دپاره پریخودل پکار دی، اوهغه چه کوم ددرے ورځونه زیات پریخودل منع دی، اوهغه هله دی چه دخپل ذات یادنیاوی کارونودپاره خبره بندے کړی، لیکن دبدعتیانوسره خو همیشه ملاقات پریخودل پکار دی، اوددے حدیث مؤید نورحدیثونه دی، لکه حدیث دکعب بن مالکؓ وغیره۔ انتهی۔

مترجم وائی چه په حدیث باندے عمل نه کول اودنفس په خواهش باندے چلیدل دومره لوے گناه ده چه دداسے سړی سره همیشه دپاره دملاقات پریخودل جائز دی، اوداخل دی په دے کښې هغه خلق چه هغه حدیث صحیح لره دچامجتهد یاعالم یادرویش یاپیریامرشد دقول یافعل په خلاف کښې واجب العمل اونهٔ گڼړی، بلکه ددے گناه سخته ده دهغه سړی دگناه نه چه هغه صرف دنفس دمجبورئ په وجه په حدیث عمل نهٔ کوی، لیکن په حدیث باندے عمل کول ښه اوغوره گڼړی۔ علامه وحید الزمانؒ

(۵۰۵۱) عَنْ كَهْمَسٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم ددغه حدیث پشان ده کوم چه مخکښے تیرشو۔

(۵۰۵۲) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَذْفِ قَالَ ابْنُ جَعْفَرٍ فِيْ حَدِيْثِهٖ وَقَالَ اِنَّهٗ لَايَنْكَأُ عَدُوًّا لَايَقْتُلُ الصَّيْدَوَلٰكِنَّهٗ يَكْسِرُ السِّنَّ وَيَفْقَأُ الْعَيْنَ وَقَالَ ابْنُ مَهْدِيٍّ اِنَّهَا لَاتَنْكَأُ الْعَدُوَّ وَلَمْ يَذْكُرْتَفْقَأُ الْعَيْنَ. [بخاری، ابو داود، ابن ماجه]

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته تیرشوی حدیث پشان ده۔

(۵۰۵۳) عَنْ سَعِيْدِابْنِ جُبَيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ قَرِيْبًا لِّعَبْدِاللهِ ابْنِ مُغَفَّلٍ حَذَفَ قَالَ فَنَهَاهُ وَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْخَذْفِ وَقَالَ اِنَّهَا لَاتَصِيْدُصَيْدًا وَّلَاتَنْكَأُ عَدُوًّا وَلَاكِنَّهَا تَكْسِرُ السِّنَّ وَتَفْقَأُ الْعَيْنَ قَالَ فَعَادَ فَقَالَ اُحَدِّثُكَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْهُ ثُمَّ تَخْذِفُ لَآاُكَلِّمُكَ اَبَدًا. [ابن ماجه]

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته ذکرشوے حدیث پشان ده، په دے دازیاته ده چه دعبدالله بن مغفلؓ یورشته دارخذف کړے وو۔

(۵۰۵۴) عَنْ اَيُّوْبَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

* * * * * * * * * *

* * * * *

* *

*

باب الامر باحسان الذبح والقتل وتحدید الشفرة۔

ذبح یا قتل په ښه شان سره کول پکار دي او چړه ورته ښه تیره کول پکار دي۔

(٥٠٥٥) عَنْ شَدَّادِ ابْنِ اَوْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ ثِنْتَانِ حَفِظْتُهُمَا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی کَتَبَ الْاِحْسَانَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ فَاِذَا قَتَلْتُمْ فَاَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَاِذَا ذَبَحْتُمْ فَاَحْسِنُوا الذَّبْحَةَ وَلْیُحِدَّ اَحَدُکُمْ شَفْرَتَهٗ فَلْیُرِحْ ذَبِیْحَتَهٗ۔ [ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دشداد بن اوس نه روایت دے وائی چه دوه خبرے ما د رسول الله ﷺ نه یادے کړے دی، حضرت ﷺ اوفرمائیل الله تعالی په هر کار کښے نیکی فرض کړی ده. هر کله چه تاسو قتل کوئ نو په ښه شان سره قتل کوئ او هر کله چه تاسو ذبح کوئ نو په ښه شان سره ذبح کوئ او پکار ده چه ستاسو نه څوك ذبحه کول غواړی هغه دے چاړه ښه تیره کوی، او خپل څناور له نی آرام ورکوی (اودغه مستحب دی چه دڅناور په مخکښے چړه نهٔ تیره کوی، لونهٔ دی یو څناور دبل په مخکښے ذبحه کوی، اونهٔ دی ئے دذبح کولو دپاره په راښکو سره بوځی)۔

(٥٠٥٢) عَنْ خَالِدِ الْحَذَّآءِ بِاِسْنَادِ حَدِیْثِ ابْنِ عُلَیَّةَ وَمَعْنٰی حَدِیْثِهٖ۔

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

بَابُ النَّهْیِ عَنْ صَبْرِ الْبَهَآئِمِ۔

څناورله تړل اوویشتل منع دی۔

(٥٠٥٣) عَنْ هِشَامِ ابْنِ زَیْدِ ابْنِ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ جَدِّیْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ دَارَ الْحَکَمِ ابْنِ اَیُّوْبَ فَاِذَا قَوْمٌ قَدْ نَصَبُوْا دَجَاجَةً یَرْمُوْنَهَا قَالَ فَقَالَ اَنَسٌ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ تُصْبَرَ الْبَهَآئِمُ۔ [بخاری، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دهشام بن زید بن انس بن مالك نه روایت دے وائی چه زهٔ دخپل نیکه انس بن مالك سره دحکم بن ایوب کور ته لاړم هلته څه خلقو یو چرګ لره نشانه کړے وو او په غشو ویشتلو پس انس رضی الله تعالی عنه اووے، رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دڅناورو دتړلو

او بیا دوی وشتلو نه۔

فائده: او دا ممانعت تحریمی دے ولے چه په دے کښے ځناورته تکلیف وی او مال تلف کیږی، نووی وائی په عربی کښے دغے ته صبر ونیلے شی، یعنی ځناور لره ترل او هغه ژوندے وی او بیا هغه لره په غشو وغیره سره ویشتل۔

(۵۰۵۸) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۵۰۵۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَتَّخِذُوْا شَيْئًا فِيْهِ الرُّوْحُ غَرَضًا. [نسائی]

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، هیڅ یو جاندار لره نشانه مهٔ جوړوئ۔

(۵۰۶۰) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۰۶۱) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ جُبَيْرٍ قَالَ مَرَّ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا بِنَفَرٍ قَدْ نَصَبُوْا دَجَاجَةً يَتَرَامَوْنَهَا فَلَمَّا رَأَوُا ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ تَفَرَّقُوْا عَنْهَا فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ مَنْ فَعَلَ هٰذَا اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ مَنْ فَعَلَ هٰذَا. [بخاری، نسائی]

ترجمه: د حضرت سعید بن جبیر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهما تیرشو په څه خلقو باندے چه هغوئ یو چرګ نشانه کړے وو او په غشو باندے ئے ویشتلو، هرکله چه دغه خلقو ابن عمر رضی الله تعالی عنه ته اوکتل نو د هغه ځائے نه لرے شول، ابن عمر رضی الله تعالی عنه اووے دا کار چا کولو رسول الله ﷺ خو لعنت کړے په هغه چا باندے چه څوک دا کار کوی۔

(۵۰۶۲) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ جُبَيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ مَرَّ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا بِفِتْيَانٍ مِّنْ قُرَيْشٍ قَدْ نَصَبُوْا طَيْرًا وَهُمْ يَرْمُوْنَهُ وَقَدْ جَعَلُوْا لِصَاحِبِ الطَّيْرِ كُلَّ خَاطِئَةٍ مِنْ نَبْلِهِمْ فَلَمَّا رَأَوُا ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا تَفَرَّقُوْا فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ مَنْ فَعَلَ هٰذَا لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ فَعَلَ هٰذَا اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى

اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ لَعَنَ مَنِ اتَّخَذَ شَیْئًا فِیْہِ الرُّوْحُ غَرَضًا۔

ترجمه: د سعید بن جبیر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما تیرشو دقریشو په یو څو ځوانانو باندے چه هغوی یوه مرغۍ نشانه کړے وه په غشونے ویشتله، اود چاچه مرغۍ وه د هغه سره ئے داخبره کړے وه چه کوم غشے په مرغۍ اونۀ لګیدو هغه غشے به ستاوی، هرکله چه دغه خلقو ابن عمرؓ اولیدونو جداجدا شول، پس ابن عمرؓ اووے چاکړے دے دے کارلره، لعنت پرے کړے دے الله

پاك څوك چه داسے کار کوی، اورسول الله ﷺ لعنت کړے دے په هغه سړی باندے څوك چه یوذی روح لره نشانه کوی۔

(۵۰۶۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰہِ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ یَقُوْلُ نَھٰی رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اَنْ یُّقْتَلَ شَیْءٌ مِّنَ الدَّوَآبِّ صَبْرًا۔ [ابن ماجه]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع فرمائیلی ده رسول الله ﷺ دیو څناور دتړلو اوویشتلو نه۔

تمت کتاب الصید والذبائح۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆

☆

كِتَابُ الْاَضَاحِىْ

کتاب دقربانوپه بیان کښې۔

بَابُ وَقْتِهَا۔

دقربانۍ د وخت بیان۔

(۵۰۶۳) عَنْ جُنْدُبِ ابْنِ سُفْيَانَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ شَهِدْتُ الْاَضْحٰى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَعْدُ اَنْ صَلّٰى وَفَرَغَ مِنْ صَلٰوتِهٖ سَلَّمَ فَاِذَا هُوَ يَرٰى لَحْمَ اَضَاحِيَّ قَدْ ذُبِحَتْ قَبْلَ اَنْ يَّفْرُغَ مِنْ صَلٰوتِهٖ فَقَالَ مَنْ كَانَ ذَبَحَ اُضْحِيَّتَهٗ قَبْلَ اَنْ يُّصَلِّيَ اَوْ نُصَلِّيَ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا اُخْرٰى وَمَنْ كَانَ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِسْمِ اللّٰهِ. [بخاری، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دجندب بن سفیان رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زۀ دقربانۍ په اخترکښے درسول الله ﷺ سره موجود وم، حضرت ﷺ لامونځ نۀ وو کړے اودمانځه نه فارغ شوے نۀ وو اوسلام ئے نۀ وو گرځولے چه اوئے لیدلے دَ قربانوغوښو لره چه دمانځه دفارغ کیدونه اول ذبحه شوے وه، نو حضرت ﷺ اوفرمائیل چاچه قرانی کړے ده دخپل مانځه نه مخکښے یازمونږ دمانځه نه مخکښے (دلته راوی ته شك دے) هغه دی دوئمه قربانی اوکړی، (ولے چه رومبۍ قربانی ئے نۀ ده شوے) اوچاچه قربانی نۀ ده کړی هغه دی الله نوم واخلی اوقربانی دی اوکړی۔

فائده: نووی ؒ وئیلی دی عالمانو اختلاف کړے دے چه په مالداربانده قربانی واجب ده یا نۀ ده، دجمهوروعلماؤ په نزد قربانی سنت ده که څوك ئے پریږدی نو گنهگارنۀ دے اونۀ پرے قضالازمیږی اودغه مذهب دے دمالكؒ اواحمدؒ اوابویوسفؒ، اسحقؒ، اوابوثورؒ اومزنیؒ وغیره نورو، اودربیعهؒ اواوزاعیؒ اوابوحنیفهؒ اودلیثؒ په نزد په مالداربانده قربانی واجب ده، په دے شرط چه هغه په منی کښے حاجی نۀ وی۔

اومحمد بن حسنؒ وئیلی دی چه ښهروالا بانده واجب ده، اووخت دقربانۍ دادے چه دامام سره دمونځ لوستلونه پس قربانی اوکړی، اواجماع ده په دے بانده چه دصبادختونه

مخکښې دلسم تاريخ قرباني صحيح نۀ ده، اوددے نه په بعد کښې اختلاف دے، نودشافعيؒ اوابوداؤدؒ اوابن منذرؒ رغيره مذهب دادے چه هرکله دلسم تاريخ نمرراوخيژی اوورپسے دومره وخت تيرشی چه داخترموځ اودوه خطبې چه په څومره وخت کښې کيږی، نودقربانۍ وخت ددے نه پس شروع شی، اوس که قرباني کوی نوصحيح ده، اګرکه دامام سره ئے داخترمونځ لوستلے وی يائے داخترمونځ هډونه وی لوستلے، خواه که ښهری وی يادېهاتی يامسافر، خواه که امام خپله قربانی دغه وخت کړے وی يانۀ وی۔

اوعطاءؒ اوابوحنيفهؒ وئيلی دی چه دکلواوځنګل والاؤ دپاره دقربانۍ وخت دلسم تاريخ دصبح صادق نه پس شروع کيږی اودښهروالاؤ دپاره چه دکومے پورے امام دمونځ اوخطبے نه فارغ شوے نۀ وی دهغه وخت پورے نۀ کيږی، نوددغے نه به مخکښې قرباني درسته نۀ وی، اوامام احمدؒ وئيلی دی چه دامام دمانځه نه مخکښې قرباني درسته نۀ ده، اودهغه دمانځه نه پس درسته ده اګرکه هغه اوس هم قرباني نۀ وی کړی، اوباندے والا اوښهروالا دهغویؒ په نزد برابر دی، اوثوریؒ وئيلی دی چه امام دکومے پورے دخطبې نه فارغ شوے نۀ وی دهغه وخته پورے قربانی درسته نۀ ده، اوربيعهؒ وئيلی دی چرته چه امام نۀ وی هلته دنمر دختونه مخکښې قربانی درسته نۀ ده، اودهغے نه پس درسته ده۔

اوس آخروخت دقربانۍ ددیارلسمے دمانښامه پورے دے اودغه قول دے دشافعیؒ، اودابوحنیفهؒ، اومالكؒ اواحمد په نزد ددولسمے دمانښامه پورے دے، اودشپے هم قربانی درسته ده خومکروه ده، اودمالكؒ په نزد درسته نۀ ده۔ انتهى مختصرا۔

(٥٠٦٥) عَنْ جُنْدُبِ ابْنِ سُفْيَانَ قَالَ شَهِدْتُ الْاَضْحٰى مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضٰى صَلٰوتَهٗ بِالنَّاسِ نَظَرَ اِلٰى غَنَمٍ قَدْذُبِحَتْ فَقَالَ مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلٰوةِ فَلْيَذْبَحْ شَاةً مَكَانَهَا وَمَنْ لَّمْ يَكُنْ ذَبَحَ فَلْيَذْبَحْ عَلٰى اِسْمِ اللهِ.

ترجمه : دجندب بن سفيانؓ نه روايت دے وائی چه زۀ دَ قربانۍ په اخترکښې درسول الله ﷺ سره وم، هرکله چه حضرت ﷺ مونځ اوکړو نوبزے ئے حلالے شوے اوليدے حضرت ﷺ اوفرمائيل چاچه دمانځه نه مخکښې ذبحه کړے ده هغه دی بله بزه ذبحه کړی، اوچاچه ذبحه

نۀ ده کړے هغه دې دالله دنوم اخستلو سره ذبحه اوکړی۔

(٥٠٦٦) عَنِ الْاَسْوَدِ ابْنِ قَيْسٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ فَالاعلٰے اسْمِ اللهِ كَحَدِيْثِ اَبِى الْاَحْوَصِ۔

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته ذکرشوی حدیث پشان ده۔

(٥٠٦٧) عَنْ جُنْدَبِ الْبَجَلِىِّ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ شَهِدْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى يَوْمَ اَضْحٰى ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ اَنْ يُّصَلِّىَ فَلْيُعِدْ مَكَانَهَا وَمَنْ لَّمْ يَكُنْ ذَبَحَ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللهِ۔

ترجمه: دجندب بجلی ؓ نه روایت دے وائی چه زۀ دقربانئ داختر په ورځ درسول الله ﷺ سره موجود وم، حضرت ﷺ مونځ اداکړو بیائے خطبه اولوسته بیائے اوفرمائیل چاچه دمانځه نه مخکښے قربانی کړے وی، هغه دې بیاقربانی اوکړی اوچاچه نۀ وی کړے هغه دې الله جل جلاله دنوم اخستلو سره قربانی اوکړی۔

(٥٠٦٨) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ۔

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(٥٠٦٩) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ ضَحّٰى خَالِىْ اَبُوْبُرْدَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَبْلَ الصَّلٰوةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ شَاةُ لَحْمٍ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّ عِنْدِىْ جَذَعَةً مِنَ الْمَعْزِ فَقَالَ ضَحِّ بِهَا وَلَاتَصْلُحُ لِغَيْرِكَ ثُمَّ قَالَ مَنْ ضَحّٰى قَبْلَ الصَّلٰوةِ فَاِنَّمَا ذَبَحَ لِنَفْسِهٖ وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَالصَّلٰوةِ فَقَدْتَمَّ نُسُكُهٗ وَاَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِيْنَ. [بخاری، زبوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دبراء ؓ نه روایت دے ځماماما ابوبردة ؓ دمانځه نه مخکښے قربانی اوکړه رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل داخودغوښے بزه شوله (یعنی دقربانئ ثواب ئے نشته دے، ابوبردة ؓ اووے یارسول الله ﷺ ځماسره دشپږومیاشتودبزے یوبچے دے حضرت ﷺ اوفرمائیل هم هغه قربانی کړه، اوستانه علاوه دبل چادپاره داروانۀ دی. (بلکه بزه دیوکال یادهغے نه زیاته ضروری ده) بیاحضرت ﷺ اوفرمائیل، څوك چه دمانځه نه مخکښے قربانی اوکړی، هغه دخپل ځان دپاره حلاله کړه، (یعنی دغوښے خوړلودپاره دقربانئ ثواب ورته نۀ میلاویږی) اوڅوك چه دمانځه نه پس ذبحه اوکړی دهغه قربانی اوشوله اوهغه دمسلمانانو سنتولره اوموندل۔

(٥٠٧٠) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ خَالَهٗ اَبَابُرْدَةَ ابْنَ نِيَارٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ذَبَحَ

قَبْلَ اَنْ يُّذْبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّ هٰذَا يَوْمٌ نِ الْحَمُ فِيْهِ مَكْرُوْهٌ وَاِنِّيْ عَجَّلْتُ نَسِيْكَتِيْ لِاُطْعِمَ اَهْلِيْ وَجِيْرَانِيْ وَاَهْلَ دَارِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعِدْنُسُكًا فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّ عِنْدِيْ عِنَاقُ لَبَنٍ هِيَ خَيْرٌ مِّنْ شَاتَيْ لَحْمٍ فَقَالَ هِيَ نَسِيْكَتُكَ وَلَاتَجْزِيْ جَذْعَةٌ عَنْ اَحَدٍ بَعْدَكَ :

ترجمه: دبراء بـن عـازؓ نـه روايت دے چه دهغویؓ ماما ابوبردهؓ بن نيار درسول الله ﷺ قربانی اوکړه نـواوئے ونيل يارسول الله ﷺ داهغه ورځ ده چه په دے کښې دغوښے خواهش کول بدوی، (يعنی قربانی نۀ کول اودخپل بال بچ په زړۀ کښے دغوښے خواهش باقی ساتل په دے ورځ بدوی اوپه څنـونسخوکښے دمکروه په بدله مقروم راغلے دے نوترجمه به داشی چه داهغه ورځ ده چه په دے کښے دغوښے طلب کيږی) اوماخپـلـه قربانی ددے دپاره زراوکړه چه پخپل بال بچ ئے اوخوروم اوپه ګاونډيانواوپه کوروالاؤو، رسول الله ﷺ

لوفرمائی، بياقربانی اوکړه، هغه اووے يارسول الله ﷺ ﷺ څماسره يوپيووالاکمسن دبزے بچے دے (ديوکال نـه دکم عـمـرچـه ورتـه په عربئ کښے عناق ونيلے شی) اوهغه څماپه نزد په غـوښـه کښے ددوه بـزونـه غـوره دے، حضـرت ﷺ اوفـرمـائيـل دغـه غـوره دے ستـاپـه دواړوقربانوکښے (اګرچه رومبئ بزه قربانی نۀ وه مګرابوبردهؓ هغے لره په نيت دنيکئ کښے هم ثـواب اوشـو) اواوس ستـانـه پـس بـه ديـوکـال نـه کـمـه بزه دهيچادپاره روانۀ وی، (البته ګډورے ديوکال نه کم روا دے) ۔

(۵۰۷۱) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَالَ لَايَذْبَحَنَّ اَحَدٌ حَتّٰى يُصَلِّيَ قَالَ فَقَالَ خَالِيْ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّ هٰذَا يَوْمٌ نِ اللَّحْمِ فِيْهِ مَكْرُوْهٌ ثُمَّ ذَكَرَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ هُشَيْمٍ.

ترجمه: دبراء بـن عـازب رضـی الله تـعـالی عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ مونږ ته دقربانئ دورځے پـه خطبـه کښے اوفـرمـائيـل څـوك دی دمـانځه نه مخکښے قربانی نۀ کوی، زماماما اووے يارسول الله (ﷺ) داهغه ورځ ده په کومے کښې چه دغوښے خواهش باقی ساتل بد دی، بيائے بيان اوکړوپه دغه شان لکه پورته چه تيرشو۔

(۵۰۷۲) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلّٰى صَلٰوتَنَا وَوَجَّهَ قِبْلَتَنَا وَنَسَكَ نُسُكَنَا فَلَايَذْبَحْ حَتّٰى نُصَلِّيْ فَقَالَ خَالِيْ يَارَسُوْلَ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) قَدْنَسَكْتُ عَنِ ابْنٍ لِّيْ فَقَالَ ذَاكَ شَيْءٌ عَجَّلْتَهُ لِاَهْلِكَ قَالَ اِنَّ عِنْدِيْ شَاةً خَيْرٌمِّنْ شَاتَيْنِ فَقَالَ ضَحِّ بِهَافَاِنَّهَا خَيْرُنَسِيْكَةٍ.

ترجمه: دبراء رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل، څوک چه زمونږ په شان مونځ کوی اوزمونږ قبلے ته مخ کوی اوزمونږ په شان قربانی کوی (یعنی مسلمان وی) هغه دی قربانی نهٔ کوی دکومے پورے چه مونږ مونځ نهٔ وی کړے، زماماما اووے یارسول الله ﷺ! ماخودخپل څوئ دطرفنه قربانی کړے ده، حضرت ﷺ اوفرمائیل په هغے کښں تادخپل کوروالاؤ دپاره تادی اوکړه، هغویؓ رسول الله ﷺ ته اووے څماسره یوه بزه ده چه ددوو بزونه غوره ده، (نووی علیه الرحمة وائی ددے نه معلومه شوه چه په قربانئ کښے دغوښے زیات والے غوره نهٔ دے بلکه دغوښے مزیدار والے کښں یوه څربه بزه د دوو بزوکمزورو نه غوره ده) حضرت ﷺ اوفرمائیل چه قربانی کړه هغے لره هغه ستاپه دواړوقربانوکښے غوره ده۔

(۵۰۷۳) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَوَّلَ مَانَبْدَأُ بِهٖ فِيْ يَوْمِنَا هٰذَا نُصَلِّيْ ثُمَّ نَرْجِعُ فَنَنْحَرُ فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْاَصَابَ سُنَّتَنَا وَمَنْ ذَبَحَ فَاِنَّمَا هُوَلَحْمٌ قَدَّمَهٗ لِاَهْلِهٖ لَيْسَ مِنْ نُسُكٍ فِيْ شَيْءٍ فَكَانَ اَبُوْبُرْدَةَ ابْنُ نِيَارٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَدْذَبَحَ فَقَالَ عِنْدِيْ جَذَعَةٌ خَيْرٌمِّنْ مُسِنَّةٍ فَقَالَ اذْبَحْهَا وَلَنْ تَجْزِيَ عَنْ اَحَدٍ بَعْدَكَ.

ترجمه: دبراء بن عازب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل دنولونه مخکښے چه کوم کار مونږ په دے ورځ کوؤ هغه داچه مونږ کوؤ (داخترپیاکورته) چه واپس شوقربانی کوؤ، نوڅوک چه داسے کوی هغه زمونږ په طریقه باندے روان دے، اوڅوک چه (دمانځه نه مخکښے) ذبح کوی نو هغه غوښه ده کومه چه ده دخپل کور والا دپاره تیاره کړے ده قربانی نهٔ ده، اوابوبرده بن نیارؓ ذبح کړے وه بیائے اووے څماسره یوه جذعه ده (دیو کال نه دکم عمر) حضرت ﷺ اوفرمائیل تهٔ ذبح کړه هغے لره اوستانه ورستوبل چالره روانهٔ دی۔

(۵۰۷۴) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۰۷۵) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ بَعْدَ الصَّلٰوةِ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِيْثِهِمْ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دتیرشوی حدیث په شان ده۔

(۵۰۷۶) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ يَوْمِ نَحْرٍ فَقَالَ لَايُضَحِّيَنَّ اَحَدٌ حَتّٰى يُصَلِّيَ قَالَ رَجُلٌ عِنْدِيْ عَنَاقُ لَبَنٍ هِيَ خَيْرٌ مِّنْ شَاتَيْ لَحْمٍ قَالَ فَضَحِّ بِهَا وَلَاتَجْزِيْ جَذَعَةٌ عَنْ اَحَدٍ بَعْدَكَ.

ترجمه: دبراء بن عازب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ دقربانئ په ورځ مونږ ته خطبه اوروله نواوئے فرمائیل چه هیڅوك دمانځه نه مخکښے قربانی نهٔ کوی یوسړی اووے ځماسره یو پیووالا (یعنی کم عمر چه اوس یئ خوری) دیوکال نه کم دبزے بچے دے چه په غوښه کښے د دوه بزونه غوره دے، حضرت ﷺ اوفرمائیل هم دغه قربانی کړه لوستانه پس به هیچاله هم دجذعے قربانی درسته نه وی (یعنی دبزے جذعه)

(۵۰۷۷) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ ذَبَحَ اَبُوْبُرْدَةَ قَبْلَ الصَّلٰوةِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبْدِلْهَا فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ لَيْسَ عِنْدِيْ اِلَّا جَذَعَةٌ قَالَ شُعْبَةُ وَاَظُنُّهُ قَالَ وَهِيَ خَيْرٌ مِّنْ مُسِنَّةٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِجْعَلْهَا مَكَانَهَا وَلَنْ يُجْزِيَ عَنْ اَحَدٍ بَعْدَكَ. [بخاری]

ترجمه: دبراء بن عازبؓ نه روایت دے وائی چه ابوبرده دمانځه نه مخکښے ذبح لوکړه نورسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه ددے په ځائے بله قربانی اوکړه هغویؓ اووے یارسول الله ﷺ! ځماسره خودجذعے نه سیوانور څه نشته دے، شعبهؒ وائی ځماګمان دے چه هغه دا هم اووے چه هغه جذعه دمسنے نه غوره ده رسول الله ﷺ اوفرمائیل بنه ده هغے له ذبح کړه لوستانه پس به دبل چاد پاره (جذعه) روانهٔ وی۔

(۵۰۷۸) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرِ الشَّكَّ فِيْ قَوْلِهِ هِيَ خَيْرٌ مِّنْ مُسِنَّةٍ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۰۷۹) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ مَنْ كَانَ

ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلٰوةِ فَلْيُعِدْ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ هٰذَا يَوْمٌ يُشْتَهٰى فِيْهِ اللَّحْمُ وَذَكَرَ هَنَةً مِّنْ جِيْرَانِهِ كَاَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَّقَهُ قَالَ وَعِنْدِيْ جَذَعَةٌ هِيَ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ شَاتَيْ لَحْمٍ اَفَاَذْبَحُهَا قَالَ فَرَخَّصَ لَهُ فَقَالَ لَا اَدْرِيْ اَبَلَغَتْ رُخْصَتُهُ مَنْ سِوَاهُ اَمْ لَا قَالَ وَانْكَفَأَ رَسُوْلُ اللهِ اِلٰى كَبْشَيْنِ فَذَبَحَهُمَا فَقَامَ النَّاسُ اِلٰى غُنَيْمَةٍ فَتَوَزَّعُوْهَا اَوْقَالَ فَتَجَزَّعُوْهَا. [بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه : دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه رسول الله ﷺ (په لسم تاريخ) ديوم النحراوفرمائيل، چاچه څمادمانځه نه مخکښے ذبح کړے وی هغه دی په دويم ځل ذبح اوکړی يو سړی اووے يارسول الله ﷺ ﷺ داهغه ورځ ده چه په دے کښے دغوښے خواهش وی، اودخپلو گاونډيانو دمحتاجئ حال ئے بيان کړو، کيدے شی رسول الله ﷺ هغه ته رښتونے اووے بياهغه سړی اووے څماسره ديو کال نه کمه يوه بزه ده (يعنی جذعه) چه په غوښه کښے د دوو بزونه زياته غوره ده، ايا زۀ هغے لره ذبح کړم حضرت ﷺ هغه له اجازت اوکړو راوی وائی اوس دانۀ ده معلومه چه دا اجازت نوروته هم شوے وو يانۀ، بياحضرت ﷺ ښکته شو په دوه پولوباندے ئے هغے لره ذبح کړو(ددے حديث نه معلومه شوه چه په خپل لاس قربانی کول غوره دی)بياخلق اودريدو اوبزولره ئے اوښلے۔

(۵۰۸۰) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى ثُمَّ خَطَبَ فَاَمَرَ مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلٰوةِ اَنْ يُّعِيْدَ ذِبْحًا ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ ابْنِ عُلَيَّةَ

ترجمه : ددے ترجمه هم ددغه کومه چه پورته تيره شوه۔

(۵۰۸۲) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اَضْحٰى قَالَ فَوَجَدَ رِيْحَ لَحْمٍ فَنَهَاهُمْ اَنْ يَّذْبَحُوْا قَالَ مَنْ كَانَ ضَحّٰى فَلْيُعِدْ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيْثِهِمَا.

ترجمه : دانس بن مالك رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ دلوئے اخترپه ورځ مونږ ته خطبه اوروله چه دغوښے بوئ اولګيدو اومنع ئے کړو هغوئ لره دذبح کولو نه (دمانځه نه مخکښے) اواوئے فرمائيل چاچه ذبحه کړے وی هغه دی بياذبح اوکړی،بيائے بيان کړو حديث لره په داسے شان لکه چه پورته تيرشولو۔

بَابُ سِنِّ الْاُضْحِيَةِ

دقربانئ د عمر بيان

(۵۰۸۲) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتَذْبَحُوْا اِلَّا مُسِنَّةً اِلَّااَنْ يُعْسَرَ عَلَيْكُمْ فَتَذْبَحُوْا جَذَعَةً مِّنَ الضَّاْنِ. [ابوداود ، نسائي ، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل مهٔ ذبح کوئ په قربانئ کښې مګر مسنه (چه دیو کال وی اودویم ئے شروع شوے وی) البته کچرے تاسوته داسے څناور میلاؤ نهٔ شی نودګډ جزعه کوئ (چه دهغې شپږ میاشتے شوے وی اواومه ئے شروع وی.)

فائده: نووی علیه الرحمة وائی ددے نه معلومه شوه چه دګډنه علاوه دبل څناور جذعه درسته نهٔ ده، اوپه دے باندے اجماع ده، مګرداوازعی دامنقول دی چه دهریو څناور جذعه روا ده اودګډ جذعه زمونږ اوداکثروعالمانوپه نزد درسته ده، اودابن عمرؓ اوزهریؒ په نزد درسته نهٔ ده، اودجمهورو مذهب دادے چه علاوه داوښ اوغوا اوبزے نه دبل یو څناورقربانی درسته نهٔ ده اودحسنؒ نه منقول دی چه (ځنګلی) غواهم ذ اوهٔ کسانو دطرفنه اوهوسئ دیو سری دطرفنه درسته ده، اودګډ جذعه داده چه هغه دی دیو کال وی، اوبعضو وئیلی دی چه دشپږو میاشتو، اوبعضو داوه میاشتو اوبعضو داته میاشتو، اوځنو دلسو میاشتوپورے وئیلی دی.

اودغورے قربانئ دپاره زمونږ په نزد اوښ دے بیاغوا غوایه بیاګډه اوګډورے بیابزه اودمالکؒ په نزد بزه غوره ده، اوغوره داده چه دقربانئ څناوربه څورب اوتندرست اومزیدار وی. انتهٰی مختصراً.

(۵۰۸۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ صَلّٰى بِنَاالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ بِالْمَدِيْنَةِ فَتَقَدَّمَ رِجَالٌ فَنَحَرُوْا وَظَنُّوْا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ نَحَرَ فَاَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ نَحَرَ قَبْلَهُ اَنْ يُعِيْدَ بِنَحْرٍ اٰخَرَ وَلَايَنْحَرُوْا حَتّٰى يَنْحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: دجابربن عبداللهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ ته مهنځ راکړو په مدینه منوره کښې نو څهٔ خلقو دراتلو سره قربانی اوکړه، اودائے ګمان وو چه حضرت ﷺ به هم قربانی کړے

وی چه حضرت ﷺ به هم قربانی کړے وی بیارسول الله ﷺ حکم اوکړو چه چا دهغوی ؓ نه مخکښے قربانی کړے ده هغه دی بیاقربانی اوکړی ،اوقربانی دی نه کوی ترهغے پورے ترڅو چه رسول الله ﷺ قربانی نۀ وی کړے (ددے نه دامام مالکؒ مذهب ثابتیږی چه دکومے پورے امام قربانی نۀ وی کړے خلق به هم نۀ کوی)

(۵۰۸۴) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْطَاهُ غَنَمًا يُقَسِّمُهَا عَلٰى اَصْحَابِهٖ ضَحَايَا فَبَقِيَ عَتُوْدٌ فَذَكَرَهُ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ضَحِّ بِهٖ اَنْتَ قَالَ قُتَيْبَةُ عَلٰى صِحَابَتِهٖ. [بخاری ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعقبه بن عامررضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ هغوی ؓ له بزے ورکړے په خپلو یارانو دویشلو دپاره دقربانئ دپاره ،پس په هغے کښې دیو کال بچے باقی پاتے شودبزے بچے، هغوی ؓ رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو حضرت ﷺ اوفرمائیل دغه تۀ قربانی کړه۔

(۵۰۸۵) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَسَمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْنَا ضَحَايَا فَاَصَابَنِيْ جَذَعٌ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّهٗ اَصَابَنِيْ جَذَعٌ فَقَالَ ضَحِّ بِهَا. [بخاری ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: دعقبه بن عامررضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په مونږ دقربانئ بزے اوویشلے نوځما په حصه کښې یو جذعه راغله (یعنی دیو کال بچے) ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ ځما په

حصه کښې یو جذعه راغله، حضرت ﷺ اوفرمائیل هم دغه قربانی کړه۔

(۵۰۸۶) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرِنِ الْجُهَنِيِّ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسَمَ ضَحَايَا بَيْنَ اَصْحَابِهٖ بِمِثْلِ مَعْنَاهُ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم هغه ده کومه چه پورته تیره شوه۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ الضَّحِيَّةِ وَذَبْحِهَا مُبَاشَرَةً بِلَاتَوْكِيْلٍ وَالتَّسْمِيَةِ وَالتَّكْبِيْرِ۔

قربانی په خپل لاس سره کول دغه شان بسم الله اوالله اکبر وئیل مستحب دی۔

(۵۰۸۷) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ ضَحَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ اَمْلَحَيْنِ اَقْرَنَيْنِ

ذَبَحَهُمَا وَسَمّٰى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلٰى صِفَاحِهِمَا. [بخاری، ترمذی، نسائی]

ترجمه: د حضرت انس نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ قربانی اوکړه د دوو ګډانو چه سپین وو یا سپین او تور ښکرو والا حضرت ﷺ ذبح کړل دواړه په خپل لاس سره او بسم الله او تکبیر نے اووے او خپله خپه ئے کیښوده د هغوئ په څټ باندے د حلالولو په وخت څکه چه څناور سر اونۀ خوزوی او تکلیف اونۀ مومی۔

فائده: نووی وئیلی دی چه اجماع ده د اهل اسلامو په دے باندے چه په قربانئ کښے په ښکرو څناور چه د هغه ښکرونه هډوراختلی نۀ وی درست دے، او د کوم چه ښکر مات شوے وی په هغے کښ اختلاف دے، نو د شافعی او ابو حنیفة او جمهور علماؤ په نزد درست ده او اجماع ده چه د بیمار او خورا او د شبکور . . . او د ګډ څناور قربانی درسته نۀ ده، او هم د غسے د روند یا ګنجی۔

او زمونږ ملګرو وئیلی دی چه غوره رنګ د قربانئ د څاروی سپین دے بیا زیړ یا خاکی بیا برګ بیا تور، او په خپل لاس سره قربانی کول مستحب دی، او جائز دی بل چالره وکیل کول په عذر سره او په هغه حالت کښے مستحب دی چه د ذبح په وخت په خپله هم موجود وی، او کچرے وکیل کړی چا یهودی یا نصرانی لره نو مکروه دی، او جائز دی وکیل جوړول هلك نابالغه لره یا حایضے ښځے لره۔ انتهی مختصراً۔

(۵۰۸۸) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ ضَحّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ اَمْلَحَيْنِ اَقْرَنَيْنِ قَالَ فَرَاَيْتُهُ يَذْبَحُهُمَا بِيَدِهِ قَالَ وَرَاَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلٰى صِفَاحِهِمَا قَالَ وَسَمّٰى وَكَبَّرَ. [بخاری، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: ددے ترجمه هم د پورته حدیث په شان ده۔

(۵۰۸۹) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ ضَحّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ قَالَ قُلْتُ اَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ اَنَسٍ قَالَ نَعَمْ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ يَقُوْلُ بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ. [نسائی]

ترجمه: ددے ترجمه هم د پورته حدیث پشان ده په دے کښې دادی چه حضرت ﷺ د حلالولو په وخت بسم الله او الله اکبر اووے۔

(۵۰۹۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ بِکَبْشٍ اَقْرَنَ یَطَأُ فِیْ سَوَادٍ وَیَبْرُکُ فِیْ سَوَادٍ وَیَنْظُرُ فِیْ سَوَادٍ فَاُتِیَ بِهٖ لِیُضَحِّیَ بِهٖ قَالَ لَهَا یَا عَائِشَةُ هَلُمِّی الْمُدْیَةَ ثُمَّ قَالَ اشْحَذِیْهَا بِحَجَرٍ فَفَعَلَتْ ثُمَّ اَخَذَهَا وَاَخَذَ الْکَبْشَ فَاَضْجَعَهٗ ثُمَّ ذَبَحَهٗ ثُمَّ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِ مُحَمَّدٍ وَّمِنْ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ ثُمَّ ضَحّٰی بِهٖ. [ابوداود]

ترجمه: دمؤمنانو دمورې بی بی حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو دیو ښکروالا ګډورې دراوستلو اوحکم ئے اوکړو چه هغه ځی په توروالی کښې اوکښینی په توروالی کښې اووینی په توروالی کښې، (یعنی چه دخپو اوګیډے اوسترګو نه چاپیره توروی) پس راوستے شو یو داسې ګډورے دقربانئ دپاره، حضرت ﷺ اوفرمائیل، اے عائشےؓ چاړۀ راوړه بیائے اوفرمائیل تیره کړه هغې لره په ګټه سره، ما هغې لره تیره کړه بیا حضرت ﷺ چاړۀ واخسته اوګډورے ئے اونیوۀ اوسملاؤ ئے، اوبیائے ذبح کړو بیائے اوفرمائیل بسم الله یاالله قبول کړه دے لره دمحمد ﷺ دطرفنه اودهغه ﷺ داولاد دطرفنه اودمحمد ﷺ دامت دطرفنه بیائے قربانی کړو هغې لره۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی اجماع ده په دے باندے چه څناوریه په ګسه پړه باندے سملوی ددے دپاره چه ذبح کونکی ته آسانی وی، چاړۀ به په ښی لاس کښې اونیسی اوپه ګس لاس به دقربانئ سراونیسی اودے حدیث نه دامعلومه شوه چه یو څناور دیو سړی اودهغه دکوروالاؤ دطرفنه کافی دے، اوټولو ته به ثواب میلاویږی، زمونږ اودجمهورو عالمانو دغه مذهب دے، اوثوریؒ اوابو حنیفهؒ دے ته مکروه وئیلی دی، اوطحاوی وئیلی دی چه داحدیث منسوخ دے یامخصوص اوعالمانو وئیلی دی چه دطحاوی قول غلط دے ولے چه نسخ اوتخصص صرف په دعوه سره نۀ شی کیدے۔ انتهی۔

بَابُ جَوَازِ الذَّبْحِ بِکُلِّ مَا اَنْهَرَ الدَّمَ اِلَّا السِّنَّ وَالظُّفُرَ وَسَائِرَ الْعِظَامِ۔

ذبح په هر څیز سره درسته ده خو چه وینه اوبیوی سوا دغاښ اونوک اوهډوکی نه۔

(۵۰۹۲) عَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِیْجٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّا لَاقُوا الْعَدُوِّ غَدًا وَلَیْسَتْ

مَعَنَا مُدًى قَالَ اَعْجِلْ اَوْاَرْنِیْ مَاأَنْهَرَفَكُلْ لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ وَسَاُحَدِّثُكَ اَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ وَاَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ قَالَ وَاَصَبْنَا نَهْبَ اِبِلٍ وَّغَنَمٍ فَنَدَّمِنْهَا بَعِيْرٌ فَرَمَاهُ رَجُلٌ بِسَهْمٍ فَحَبَسَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لِهٰذِهِ الْاِبِلِ اَوَابِدَكَاَوَابِدِ الْوَحْشِ فَاِذَاغَلَبَكُمْ مِنْهَا شَيْءٌ فَاصْنَعُوْا بِهٖ هٰكَذَا. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: درافع بن حدیج نه روایت دے وائی چه ماعرض لوکړو چه یارسول الله ﷺ !مونږ صباله ددشمن سره مخامخ کیږو اوز مونږ سره چړے نشته دے حضرت ﷺ اوفرمائیل تادی کوه یا هوښیاری کوه چه کله وینه اوبهیږی اودالله جل جلاله نوم پرے واخستے شی نوبیائے خوره، سوادغاښونو اونوکونونه دهغے وجه دده چه غاښ هډوکے دے، اونوکونه دحبشیانو چړے دی، راوی وائی مونږ ته په غنیمت کښے اوښ اوبزه میلاؤ شو، بیاپه هغوئ کښے یولوښ خراب شولو یوسړی هغه په غشی باندے اوویشتو، هغه اودریدو بیارسول الله ﷺ اوفرمائیل په دے اوښانو کښے هم څنے خرابیږی اوتیښته کوی لکه څنګه چه دځنګل ځناور تښتی، بیاچه هرکله یو ځناور داسے شی نودهغه سره هم داسے کوئ۔

فائده: یعنی په تیره غشی وغیره سره ئے هغه اوویشتو اودالله جل جلاله نوم ئے واخستو، نوکچرے هغه ددغه زخم نه مړشونو هغه خوره حلال دے،اوکه مړنه شی نوذبح ئے کړه دجمهورعلماؤ دغه مذهب دے ادغه صحیح دے۔

ددے حدیث نه معلومه شوه چه په نوکونو اوغاښونو اوهډوکوسره ذبح کول درست نهٔ دی باقی په هرتیرهٔ څیز سره لکه توره چاړهٔ ،نیزه ګټه، اوشیشه، لرګی ، کودری، اوتانبه، وغیره سره درست دے کچرے دهار والاوی، اودابو حنیفهؒ په نزد چه کوم غاښ دبدن نه جدا شوے وی دغه شان کوم هډوکے چه جدا شوے وی په هغے سره ذبح کول درست دی، اودمالكؒ په نزد په هډوکی سره ذبح درسته ده، اودا دواړه مذهبونه باطل دی په دے خبره کښے اودسننتوخلاف دی۔ (نووی مختصراً)

(۵۰۹۳) عَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذِىْ الْحُلَيْفَةِ مِنْ تِهَامَةَ فَاَصَبْنَا غَنَمًا وَاِبِلًا فَعَجَّلَ الْقَوْمُ فَاَغْلَوْا بِهَا الْقُدُوْرَ فَاَمَرَبِهَا فَكُفِئَتْ ثُمَّ عَدَلَ عَشْرًا

مِّنَ الْغَنَمِ بِجَزُوْرٍ وَذَكَرَ بَاقِيَ الْحَدِيْثِ كَنَحْوِ حَدِيْثِ يَحْيَى ابْنِ سَعِيْدٍ.

ترجمه : درافع بن خدیج نه روایت دے مونږ درسول الله ﷺ سره وو په ذوالحلیفه کښې چه په تهامه کښې ده، (دانوالحلیفه بل یو مقام دے دحاذه اوذات عرق په مینځ کښې اودا هغه ذوالحلیفه نۀ ده کوم چه دمدینے والاوو میقات دے) پس هلته مونږ ته بزے اواوښان میلاؤشو، خلقوتادی اوکړه او هغوئ له ئے په کټوؤ کښې جوش ورکړو (یعنی هغه ئے حلال کړل) حضرت ﷺ حکم اوکړو او هغه ټولے کټوئ واړولے شوے، بیائے لس بزے دیو اوښ برابر کینښودے، اوبیان ئے کړوحدیث لره دذغے پشان۔

فائده : حضرت ﷺ کټوؤ لره واړولے ولے چه دغنیمت مال دتقسیم نه مخکښے استعمالول درست نۀ دی هرکله چه دارالاسلام ته را اورسی، اوپه دارالحرب کښې دضرورت په وخت دخوړلو دخیز استعمال درست دے۔

(۵۰۹۴) عَنْ عَبَايَةَ ابْنِ رِفَاعَةَ ابْنِ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قُلْنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا لَاقُوْا الْعَدُوِّ غَدًا وَّلَيْسَ مَعَنَا مُدًا فَنُزَكِّيْ بِاللِّيْطِ وَذَكَرَ الْحَدِيْثَ بِقِصَّتِهِ قَالَ فَنَدَّعَلَيْنَا بَعِيْرٌمِّنْهَا فَرَمَيْنَاهُ بِالنَّبْلِ حَتّٰى وَهَضْنَاهُ.

ترجمه : درافع بن خدیج نه روایت دے مونږه اووے یارسول الله ﷺ صبا مونږ ددشمن سره میلاویدونکی یو اوزمونږ سره چړے نشته دے نو مونږ به ذبح کوؤ دکهی په پټو بیائے بیان کړو حدیث لره دقصے سره اواوئے وئیل چه زمونږ په اوښانو کښې یو اوښ په سرکشئ سره اوتښتیدو مونږ هغه لره په غشوسره اوویشتو تردے

پورے چه اومو غورځولو هغه لره۔

(۵۰۹۵) عَنْ سَعِيْدِابْنِ مَسْرُوْقٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ الْحَدِيْثَ إِلٰى اٰخِرِهٖ بِعَمَامِهٖ وَقَالَ فِيْهِ وَلَيْسَتْ مَعَنَا مُدًا اَفَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ.

ترجمه : ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۰۹۶) عَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّهٗ قَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا لَاقُوْا الْعَدُوِّ غَدًا وَّلَيْسَ مَعَنَا مُدًا وَسَاقَ الْحَدِيْثَ وَلَمْ يَذْكُرْفَعَجِلَ الْقَوْمُ فَاَغْلَوْا بِهَا الْقُدُوْرَ فَاَمَرَبِهَا فَكُفِئَتْ وَذَكَرَسَائِرَالْقِصَّةِ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دغه ده کومه چه پورته بیان شوله۔

بَابُ النَّهْيِ عَنْ أَكْلِ لُحُوْمِ الْأَضَاحِيْ بَعْدَ ثَلَاثٍ وَنَسْخِهٖ۔

ددریو ورځونه پس دقربانئ دغوښوخوړلونه ممانعت اودهغې دمنسوخ کیدلوبیان۔

(۵۰۹۷) عَنْ اَبِيْ عُبَيْدٍ قَالَ شَهِدْتُ الْعِيْدَمَعَ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَبَدَأَ بِالصَّلٰوةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ وَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَانَا اَنْ نَّاْكُلَ مِنَ اللُّحُوْمِ نُسُكِنَابَعْدَ ثَلَاثٍ.

ترجمه: دابوعبیدؒ نه روایت دے وائی چه زۀ داخترپه مانځه کښے دحضرت علی رضی الله تعالی عنه سره وم چه هغوئ مونځ مخکښے اوکړو اوخطبه ئے ورستودمانځه نه اولوسته، اووئے وئیل چه رسول الله ﷺ منع کړے ده ددرے ورځونه پس دقربانئ دغوښوخوړلونه۔

فائده: دعلماؤیوتولی په دے حدیث باندے عمل کړے دے اودقربانئ غوښه ئے ددرے ورځونه زیاته ایخودل حرام کړی دی اودجمهوروعلماؤ په نزد جائز دی،اوهغوئ وائی چه داحدیث منسوخ دے اودغه صحیح دی، (نووی مختصرا)

(۵۰۹۸) عَنْ اَبِيْ عُبَيْدٍ مَوْلَى ابْنِ اَزْهَرَ اَنَّهٗ شَهِدَالْعِيْدَ مَعَ عُمَرَابْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ قَالَ فَصَلّٰى لَنَا قَبْلَ الْخُطْبَةِ ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْنَهَاكُمْ اَنْ تَاْكُلُوْا لُحُوْمَ نُسُكِكُمْ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ فَلَاتَاْكُلُوْا.

ترجمه: دابوعبیدهؒ نه روایت دے چه هغوئ داخترمونځ دحضرت عمرؓ سره اوکړو بیا هغوئ اووے مامونځ اولوسوتو دحضرت علیؓ سره نو هغوئ دخطبے نه مخکښے مونځ ورکړو اوبیائے خلقوته خطبه واؤروله، اووئے وئیل چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده ددرے ورځونه زیات دقربانئ دغوښے خوړلو نه نو مۀ ئے خورئ (ددرے ورځونه پس بلکه ددرے ورځوپورے ئے خورئ اوخیرات کوئ ئے هم)۔

(۵۰۹۹) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۱۰۰) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ لَا يَاْكُلُ اَحَدُكُمْ مِنْ لَحْمِ اُضْحِيَّتِهٖ فَوْقَ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ.

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، ځوك چه ستاسونه خپلوقربانئ غوښه ددرے ورځونه زیاته نهٔ خوری۔

(۵۱۰۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ اللَّيْثِ

ترجمه: مذکوره بالا حدیث په دے سند سره هم مذکور دے ۔

(۵۱۰۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ تُؤْكَلَ لُحُوْمُ الْاَضَاحِیِّ بَعْدَ ثَلَاثٍ قَالَ سَالِمٌ فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ لَا يَاْكُلُ لُحُوْمَ الْاَضَاحِیِّ فَوْقَ ثَلَاثٍ وَقَالَ ابْنُ اَبِیْ عُمَرَ بَعْدَ ثَلَاثٍ.

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلی ده ددرے ورځونه پس دقربانئ دغوښے خوړلونه، سالمؒ وائی چه ابن عمرؓ به دقربانئ غوښه ددرے ورځونه زیاته نهٔ خوړله۔

(۵۱۰۳) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ وَاقِدٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَكْلِ لُحُوْمِ الضَّحَايَا بَعْدَ ثَلَاثٍ قَالَ عَبْدُاللّٰهِ ابْنُ اَبِیْ بَكْرٍ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِعَمْرَةَ فَقَالَتْ صَدَقَ سَمِعْتُ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا تَقُوْلُ دَفَّ اَهْلُ اَبْيَاتٍ مِّنْ اَهْلِ الْبَادِيَةِ حَضْرَةَ الْاَضْحٰی زَمَنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِدَّخِرُوْا ثَلَاثًا ثُمَّ تَصَدَّقُوْا بِمَابَقِیَ فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ النَّاسَ يَتَّخِذُوْنَ الْاَسْقِيَةَ مِنْ ضَحَايَاهُمْ وَيَحْمِلُوْنَ فِيْهَا الْوَدَكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَمَاذَاكَ قَالُوْا نَهَيْتَ اَنْ تُؤْكَلَ لُحُوْمُ الضَّحَايَا بَعْدَ ثَلَاثٍ فَقَالَ اِنَّمَا نَهَيْتُكُمْ مِنْ اَجْلِ الدَّآفَّةِ الَّتِیْ دَفَّتْ فَكُلُوْا وَادَّخِرُوْا وَتَصَدَّقُوْا. [نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن واقد نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ ددرے ورځونه پس دقربانئ دغوښے خوړلونه،عبدالله بن ابی بکرؓ وائی ماداحدیث عمرهؒ ته بیان کړو، هغویؒ اووے عبدالله ریښتیاوئیلی دی ماد حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه اوریدلی دی چه

هغوئ وئیلي وو څه خلقو دبانډونه په لوئے اخترکښې دشریکیدو دپاره درسول الله ﷺ په زمانه کښے راغلو(او هغه خلق محتاج وو) نو حضرت ﷺ اوفرمائیل ! دقربانئ غوښه ددرے ورځو موافق کیږدوئ، اوباقي خیراتي ورکړئ، (ځکه چه دامحتاج وړی پاتے نۀ شي اودوئ ته هم دخوراك دپاره غوښه میلاؤ شي) ددے نه پس خلقو عرض اوکړویارسول الله ﷺ !خلقو به دخپلو قربانونه مشکونه جوړول (یعني د هغے دڅرمنونه) اوپه هغے کښې به ئے چربي ویلي کوله، رسول الله ﷺ اوفرمائیل اوس څه اوشو؟ خلقو عرض اوکړو تاسو ﷺ منع اوفرمائیله، دقربانئ غوښے لره ددرے ورځونه پس دخوړلونه(اوددے نه دامعلومه شوه چه دقربانئ یوجز هم ددرے ورځوزیات ایخودل نۀ دي پکار) حضرت ﷺ اوفرمائیل ماتاسولره منع کړی وو دهغه محتاجانو دوجے نه چه هغه وخت راغلي وو، اوس خورئ اوورستوله ئے ساتئ اوخیراتي ئے ورکوئ۔

فائده : نووی علیه الرحمة وائي ددے نه معلومه شوه چه ددرے ورځونه زیات دقربانئ غوښه اوېخودل منع نۀ دی، اودا هم معلومه شوه چه دقربانئ نه صدقه ورکول پکار دی، اوخوړل ترے هم پکار دی بیاکچرے قرباني نفل وی نو صدقه ورکول ترے واجب دی، اوغوره داده چه زیات صدقه کړی، علماؤ وئیلي دی چه دریمه حصه به صدقه ورکړی، اودرئمه به دوستانوته هدیه کړی، اودریمه حصه به پخپله اوخوری، اوبوقول دادے چه نیمه به اوخوری اونیمه به خیرات کړی، اوخوړل دقربانئ نه مستحب دی واجب نۀ دی، اوډیرو سلفونه ددے وجوب منقول دے۔ (انتهى مختصراً)

(۵۱۰۴) عَنْ جَابِرٍعَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ نَهٰى عَنْ اَكْلِ لُحُوْمِ الضَّحَايَا بَعْدَثَلَاثٍ ثُمَّ قَالَ بَعْدُ كُلُوْا وَتَزَوَّدُوْا وَادَّخِرُوْا. [نسائی]

ترجمه: دجابر رضي الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے وه ددرے ورځونه زیات دقربانو دغوښو خوړلونه، بیائے دهغے نه پس اوفرمائیل خورئ ئے اوتوښه کوئ ئے اوږدئ ئے. (نو ممانعت منسوخ شولو)

(۵۱۰۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ كُنَّا لَانَاْكُلُ مِنْ لُحُوْمِ بُدْنِنَا فَوْقَ ثَلَاثٍ مِّنٰى

فَأَرْخَصَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كُلُوْا وَتَزَوَّدُوْا قُلْتُ لِعَطَاءٍ قَالَ جَابِرٌ حَتّٰى جِئْنَا الْمَدِيْنَةَ قَالَ نَعَمْ. [بخاری]

ترجمه: د حضرت جابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ به دخپلو قربانو غوښه ددرے ورځونه زیاته نۀ خوړله په منی کښے بیا رسول الله ﷺ اجازت راکړو اواوئے فرمائیل خوره اوتوښه جوړوه، (دلارے) ما عطاءؒ ته اووے، جابرؓ دا هم ونیلی دی چه مونږ راغلو مدینے ته هغویؒ اووے هاں!۔

(۵۱۰٦) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ كُنَّا لَانُمْسِكُ لُحُوْمَ الْأَضَاحِيْ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَأَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَّتَزَوَّدَ مِنْهَا وَنَأْكُلَ مِنْهَا يَعْنِيْ فَوْقَ ثَلَاثٍ.

ترجمه: جابرؓ وائی مونږ به دقربانئ غوښه ددرے ورځونه زیاته نۀ ساتله، بیا جناب رسول الله ﷺ مونږ ته حکم اوکړو دهغے نه دتوښے جوړلو اوددرے ورځونه زیات دخوړلو۔

(۵۱۰۷) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّا نَتَزَوَّدُهَا إِلَى الْمَدِيْنَةِ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [نسائی]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ به دقربانئ دغوښے توښه جوړوله دمدینے پورے درسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښے۔

(۵۱۰۸) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَهْلَ الْمَدِيْنَةِ لَا تَأْكُلُوْا لَحْمَ الْأَضَاحِيْ فَوْقَ ثَلَاثٍ وَقَالَ ابْنُ الْمُثَنّٰى ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَشَكَوْا إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ لَهُمْ عِيَالًا وَحَشَمًا وَخَدَمًا فَقَالَ كُلُوْا وَأَطْعِمُوْا وَاحْبِسُوْا أَوِ ادَّخِرُوْا قَالَ ابْنُ مُثَنّٰى شَكَّ عَبْدُالْأَعْلٰى.

ترجمه: دابوسعید خدریؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے دمدینے خلقو! مۀ کوئ دقربانو غوښو لره ددرے ورځونه زیاته، خلقو حضرت ﷺ ته شکایت اوکړو، چه حضرت ﷺ! زمونږ بال بچ اونوکران خدمتګاران دی، (ددے وجے نه مونږ ته دغوښے دایخودلو ضرورت پیښیږی) حضرت ﷺ اوفرمائیل خورئ اوخوروئ اوساتئ ئے یائے ذخیره کوئ ابن مثنیؒ وائی عبدالاعلی ته په دے کښے شک دے۔

(۵۱۰۹) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ ضَحّٰى مِنْكُمْ فَلَا يُصْبِحَنَّ فِيْ بَيْتِهٖ بَعْدَ ثَالِثَةٍ شَيْئًا فَلَمَّا كَانَ فِي الْعَامِ الْمُقْبِلِ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ نَفْعَلُ كَمَا فَعَلْنَا عَامَ اَوَّلَ فَقَالَ لَا اِنَّ ذَاكَ عَامٌ كَانَ النَّاسُ فِيْهِ بِجُهْدٍ فَاَرَدْتُ اَنْ يَّفْشُوَ فِيْهِمْ. [بخاری]

ترجمه: دسلمه بن اکوعؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه ستاسو نه قربانی کوی نو ددریمے ورځے نه پس دی دهغوی په کورکښے څه پاتے نه وی (یعنے دقربانئ دغوښے نه دے تول خرچه کوی) هرکله چه بل کال راغے نوخلقو عرض اوکړو یارسول الله ﷺ! مونږ به هم هغه شان کوو څنګه چه موپه مخکښې کال کړی وو، حضرت ﷺ لوفرمائیل نه هغه کال دمحتاجئ وو، نوماداغوښتله چه تولو خلقو ته غوښه میلاؤشی۔

(۵۱۱۰) عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ ذَبَحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِيَّتَهٗ ثُمَّ قَالَ يَاثَوْبَانُ اَصْلِحْ لَحْمَ هٰذِهٖ فَلَمْ اَزَلْ اُطْعِمُهٗ مِنْهَا حَتّٰى قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ. [ابوداود]

ترجمه: دثوبان رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ خپله قربانی ذبحه کړه اوبیائے اوفرمائیل اے ثوبانؓ ددے غوښه په حفاظت سره اوساته، مابه په هغوئ ﷺ باندے هغه غوښه خوروله تردے پورے چه مدینے منورے ته راغلو۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی، ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه په سفرکښے توښه ایخودل دتوکل خلاف نهٔ دی، اوداهم معلومه شوه چه مسافرلره قربانی رواده نلروانهٔ ده، لکه څنګه مقیم لره رواده اوزمونږ داکثرعلماؤدغه مذهب دے، اودنخعیؒ اوابوحنیفهؒ په نزد په مسافرباندے قربانی نشته دے، اومالكؒ وئیلی دی چه په مسافرباندے په منی اومکه کښے قربانی نشته دے۔

(۵۱۱۱) عَنْ مُعَاوِيَةَ ابْنِ صَالِحٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۱۱۲) عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ مَوْلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ اَصْلِحْ هٰذَا اللَّحْمَ قَالَ فَاَصْلَحْتُهٗ قَالَ فَلَمْ يَزَلْ يَاْكُلُ مِنْهُ حَتّٰى بَلَغَ الْمَدِيْنَةَ.

ترجمه: دثوبانؓ نه روایت دے چه درسول الله ﷺ ازاد کړے غلام وو، هغویؓ وائی ماته په حجة الوداع کښے

رسول الله ﷺ اوفرمائیل، چه یاثوبانؓ داغوښه ورته کړے کیږده ماورته کړله بیابه رسول الله ﷺ دهغے نه خوړله تردے پورے چه مدینے ته اورسیدو۔

(۵۱۱۳) عَنْ يَحْيَى ابْنِ حَمْزَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَقُلْ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۵۱۱۴) عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا وَنَهَيْتُكُمْ عَنْ لُحُوْمِ الْاَضَاحِيِّ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَاَمْسِكُوْا مَابَدَالَكُمْ وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيْذِ اِلَّا فِيْ سِقَآءٍ فَاشْرَبُوْا فِي الْاَسْقِيَةِ كُلِّهَا وَلَاتَشْرَبُوْا مُسْكِرًا.

ترجمه: دحضرت بریده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی چه ماتاسولره منع کړی وئ دقبرونو دزیارت کولو نه ،اوس دهغوئ زیارت کوئ، اوماتاسومنع کړی وئ دقربانئ غوښے لره ددرے ورځو نه زیات دایخودلونه اوس ئے ږدئ دکومے پورے چه غواړئ اوماتاسومنع کړی وئ دنبیذ دجوړولونه علاوه دمشك نه په نورو لوښو کښے، اوس چه په کوم لوښی کښے غواړئ جوړوئ، لیکن مئ خښئ نشے کولو والاخیزونه۔

فائده: نوویؒ وئیلی دی چه په دے حدیثونو کښے دناسخ اومنسوخ دواړوبیان دے، اونسخ کله په دغه شان معلومیږی کله داصحابیؓ دوینانه، لکه چه وائی آخرامردحضرت ﷺ اودس نه کول وو دهغه څیزونوپه خوړلوسره چه هغه په اورسره پاخه شوی وی، اوکله دتاریخ نه هرکله چه ممکن نۀ وی، اوکله په اجماع سره لکه نسخ دشراب سکونکی دقتل، اواجماع ناسخ نۀ ده، لیکن دناسخ دوجود دلیل دے۔ انتهی۔

(۵۱۱۵) عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ فَذَكَرَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ اَبِيْ سِنَانٍ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ الفَرَعِ وَالعَتِيرَةِ۔

دفرع او عتیره بیان

(۵۱۱۶) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَافَرَعَ وَلَاعَتِيْرَةَ زَادَ ابْنُ رَافِعٍ فِيْ رِوَايَتِهٖ وَالْفَرَعُ اَوَّلُ النِّتَاجِ يُنْتَجُ لَهُمْ فَيَذْبَحُوْنَهٗ. [بخاری ، ابوداود ، ترمی ، نسائی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نه فرع څه څیز دے نۀ عتیره ابن رافعؒ په خپل روایت کښے دومره زیاته کړے ده، چه فرع داوښے رومبے بچے دے چه هغه به مشرکانو ذبح کولو۔

فائده: او عتیره هغه ذبیحه ده، چه درجب دمیاشتے په اولولسو ورځو کښے به ئے کوله، هغے ته به ئے رجبی وئیلو، او څنو وئیلی دی چه فرع به هغه سړی کوله دچاچه به سل اوښان برابر شولو، نو هغه به داوښے رومبے بچے ذبح کولو دبتانو په نامه باندنے، اودادواړه دجاهلیت دزمانے رسمونه وو، حضرت ﷺ هغے له موقوف کړل، او اوئے فرمائیل چه ددے څه اصل نشته دے اوس کچرے څوک دالله تعالی دپاره داکار کوی نو جائز دے، او په نورو حدیثونو کښے ددے اجازت راغلے دے۔

بَابُ نَهْيِ دَخَلَ عَلَيْهِ عَشْرُذِي الْحَجَّةِ وَهُوَيُرِيْدُالتَّضْحِيَةَ اَنْ يَّاْخُذَ مِنْ شَعْرِهٖ اَوْاَظْفَارِهٖ شَيْئًا۔

څوک چه قربانی کوی هغه دی دذی الحجه درومبی تاریخ نه دقربانۍ پورے ویښته او نوکونه نۀ کټ کوی۔

(۵۱۱۷) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَادَخَلَتِ الْعَشْرُوَاَرَادَ اَحَدُكُمْ اَنْ يُضَحِّيَ فَلَايَمَسَّ مِنْ شَعْرِهٖ وَبَشَرِهٖ شَيْئًا قِيْلَ لِسُفْيَانَ فَاِنَّ بَعْضَهُمْ لَايَرْفَعُهٗ قَالَ لٰكِنِّيْ اَرْفَعُهٗ .

[ابوداود ، ترمذی ،نسئی ، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ

فرمائیلی دی . هرکله چه ذی الحجې لس ورځې راشي (یعنی رومبے تاریخ نے شروع شی) اوستاسونه دیوکس دقربانئ اراده وی، نو هغه دی دخپلو ویختواونوکونونه څه نهٔ اخلی.
سفیان (چه ددے حدیث راوی دے) ددے حدیث ه باره کښ هغوی ؒ ته چاووے، بعضے خلق دے حدیث لره مرفوع کوی نهٔ. هغوی اووے زهٔ خوئے مرفوع کوم.

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی ،دځنے علماؤ عمل په دغه حدیث باندے دے، اودهغوی په نزد دانهی دحرمت دپاره ده، داحمدؒ اواسحاقؒ اوداؤد دغه قول دے، اودشافعیؒ په نزد دانهی په طور دکراهت تنزیهی ده، اودابو حنیفهؒ په نزد کراهت تنزیهی هم نشته دے، اودمالكؒ نه دوه روایتونه دی انتهی مختصرا۔

(۵۱۱۸) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ تَرْفَعُهُ قَالَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ وَعِنْدَهُ أُضْحِيَّةٌ يُرِيْدُ أَنْ يُضَحِّيَ فَلَا يَأْخُذَنَّ شَعْرًا وَلَا يُقَلِّمَنَّ ظُفْرًا.

ترجمه: دحضرت ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ،هرکله چه ذی الحجے لس راشی، اوقربانی موجوده وی هغه.چاته چه هغه قربانی کول غواړی نوخپل ویښته دی نه اخلی اونوکونه دی نهٔ کټ کوی۔

(۵۱۱۹) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمْ هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلْيُمْسِكْ عَنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ.

ترجمه: دمؤمنانو مورحضرت ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه رویت دے ، چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، هرکله چه تاسو دلوئے اخترمیاشت اووینئ اوستاسونه څوك قربانی کول غواړی نوخپل ویښته اونوکونه دی هم دغسے پریږدی۔

(۵۱۲۰) عَنْ عُمَرَ أَوْ عَمْرِو ابْنِ مُسْلِمٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۵۱۲۱) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ لَهُ ذِبْحٌ يَذْبَحُهُ فَإِذَا أُهِلَّ هِلَالُ ذِي الْحِجَّةِ فَلَا يَأْخُذَنَّ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا أَظْفَارِهِ شَيْئًا حَتّٰى يُضَحِّيَ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی دچاسره چه څناور دی دذبح کولو دپاره، اودلوئے اختر میاشت را اوخیژی نوخپل ویښته اونوکونه به نهٔ اخلی، دکومے پورے چه ئے قربانی کړے نهٔ وی۔

(۵۱۲۲) عَنْ عَمْرِو ابْنِ مُسْلِمِ ابْنِ عَمَّارِ اللَّيْثِيِّ قَالَ كُنَّا فِي الْحِمَّامِ قُبَيْلَ الْاَضْحٰى فَاطَّلٰى فِيْهِ نَاسٌ فَقَالَ بَعْضُ اَهْلِ الْحَمَّامِ اَنَّ سَعِيْدَابْنَ الْمُسَيَّبِ يَكْرَهُ هٰذَا اَوْيَنْهٰى عَنْهُ فَلَقِيْتُ سَعِيْدَابْنَ الْمُسَيَّبِ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ يَابْنَ اَخِيْ هٰذَا حَدِيْثٌ قَدْنُسِيَ وَتُرِكَ حَدَّثَتْنِيْ اُمُّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ مُعَاذٍ عَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ عَمْرٍو.

ترجمه: دعمروبن مسلم بن عمار لیثیؓ نه روایت دے وائی چه مونږ په حمام کښے وو دلوئے اختر نه لږشان مخکښے نوځنو خلقونوره (یعني بال صفا) دارو اولګول ځنے حمام والاوو اووے چه سعیدابن المسیبؓ به دے ته مکروه وئیلو یاددے نه منع کوی بیازهٔ دسعید ابن المسیبؓ سره میلاؤ شوم اوهغویؓ ته می بیان اوکړو هغویؓ اووے اے ورارہ ځما! داخودحدیث مضمون دے، چه خلقو هیرکړے دے یائے پریخودے دے، اواوئے وئیل چه ماته ام سلمہؓ حدیث بیان کړے دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هم دغه کوم چه پورته تیرشو۔

(۵۱۲۳) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخْبَرَتْهُ وَذَكَرَالنَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِهِمْ:

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ تَحْرِيْمِ الذَّبْحِ لِغَيْرِاللّٰهِ تَعَالٰى وَلَعْنِ فَاعِلِهٖ۔

څوک چه دالله تعالی نه سوادبل چادتعظیم دپاره څناور ذبح کړی هغه ملعون دے اوذبحه ئے حرامه ده۔

(۵۱۲۴) عَنْ اَبِي الطُّفَيْلِ عَامِرِابْنِ وَاثِلَةَ قَالَ كُنْتُ عِنْدَعَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَاَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ مَاكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسِرُّ اِلَيْكَ قَالَ فَغَضِبَ وَقَالَ مَاكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسِرُّ إِلَيَّ شَيْئًا يَكْتُمُهُ النَّاسَ غَيْرَ أَنَّهُ قَدْ حَدَّثَنِي بِكَلِمَاتٍ أَرْبَعٍ قَالَ فَقَالَ مَا هُنَّ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ قَالَ لَعَنَ اللَّهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ وَلَعَنَ اللَّهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللَّهِ وَلَعَنَ اللَّهُ مَنْ آوَى مُحْدِثًا وَلَعَنَ اللَّهُ مَنْ غَيَّرَ مَنَارَ الْأَرْضِ. [نسائی]

ترجمه: دابو الطفیل بن عامربن واثله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ دحضرت علی رضی الله تعالی عنه سره ناست وم چه په دے کښے یو سړے راغے اواوئے وئیل چه رسول الله ﷺ به تاته دنورو خلقونه پټے خبرے ښودلے، ددے په اوریدو حضرت علی رضی الله تعالی عنه غصه شو اواوئے وئیل حضرت ﷺ ماته یو څیز داسے نهٔ دے ښودلے چه هغهٔ دنورو خلقونه پټ کړے وی، مگر حضرت ﷺ ماته څلور خبرے ښودلے دی، هغه سړی اووے هغه څه دی؟ یاامیرالمؤمنین! حضرت علی رضی الله تعالی عنه اوفرمائیل لعنت کړے دے الله تعالی په هغه سړی باندے چه هغه پخپل پلار لعنت کوی، لعنت دوی دالله پاك په هغه چاباندے چه هغه دالله جل جلاله نه سوا دبل چاپه نوم ذبحه اوکړی اولعنت دی وی دالله پاك په هغه چاباندے چه هغه بدعتی له ځائے ورکړی، اولعنت دی وی دالله جل جلاله په هغه چاباندے چه هغه دزمکے نشانونه بدلوی.

فائده: ولے چه حضرت ﷺ پیغمبر ﷺ وو اوهغویٌ ته دټول امت دخلقو تعظیم منظور وو. څه چه هغویٌ ښودل اوایزده کول هغه ئے ټولو ته ښودلو، دادرافضیانو غلط گمانی ده چه هغویٌ ﷺ حضرت علیؓ ته خاص خاص اومزیدارعلوم ښودلی دی اودامت خلقو ته ئے نهٔ دی ښودلی معاذ الله! په دے کښے دحضرت ﷺ په نبوت باندے یو الزام راځی. "لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّابِاللهِ"

داحدیث دکتاب الحج په آخرکښے تیرشوے دے نووی علیه الرحمة وئیلی دی چه دالله تعالی نه علاوه دبل چاد پاره ذبح کول دادی چه دالله جل جلاله نه علاوه دبل چانوم پرے واخلی اوذبح ئے کړی. لکه دبت یادصلیب یادموسے یادعیسی یادکعبے یاپښان ددے بل څه داټول حرام دی، اوهغه ذبحه شوے څیز مردار دے، خواه که ذبحه کونکے مسلمان وی یانصرانی وی یایهودی وی په دے باندے امام شافعیؒ نص کړے دے اوزمونږ دملگرو په دے باندے اتفاق دے،

بیا کچرے ددے سره ئے دغیرالله دتعظیم اوعبادت اراده وی نو هغه کفردے، اوکچرے ذبح کونکے ددے نه مخکښے مسلمان وی، نوپه دے فعل سره به مرتد شی۔

اوزمونږ داصحابونه شیخ ابراهیم مروزی داونیلی دی چه دبادشاه دسورلئ دراتلو په وخت چه کوم ځناورحلالولے شی، اهل بخارا دهغے دحرمت فتوی ورکوی ولے چه داپه "مَااُهِلَّ لِغَیْرِاللهِ" کښے داخل دی، اورافعی ؒ وئیلی دی چه دغه ځناور دبادشا دسورلئ په خوشحالئ کښے حلالولے شی نودا هم داسے شوه لکه

دعقیقے ذبحه اودحرام والی ئے څه وجه نشته دے۔

مترجم وائی چه درافعی ؒ قول به هغه وخت درست وی هرکله چه دذبحے نه دهغوئ نیت دغیرالله تعظیم نۀ وی بلکه ذبحه خاص دالله جل جلاله دپاره وی، اوکچرے دذبح نه دبادشاه عظمت اوتقرب الی غیرالله منظور وی، نو هغه ځاروے به حرام وی اګرکه په هغه باندے دالله تعالی نوم واخستے شی، اودامسئله اختلافی ده په دے کښے دفریقینو دطرفنه جدا جدا رسالے مرتب شوے دی، اودا احتیاط پکار دی، چه دداسے ځاروی نه چه دغیرالله دتعظیم دپاره حلال شوے وی مطلقا پرهیز اوشی اګرکه په هغه باندے دحلالولو په وخت دالله تعالی نوم اخستے شوے وی۔

(۵۱۲۵) عَنْ اَبِیْ طُفَیْلٍ قَالَ قُلْنَا لِعَلِیٍّ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَخْبِرْنَا بِشَیْءٍ اَسَرَّهٗ اِلَیْکَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَااَسَرَّاِلَیَّ شَیْئًا کَتَمَهُ النَّاسَ وَلٰکِنِّیْ سَمِعْتُهٗ یَقُوْلُ لَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَیْرِاللهِ وَلَعَنَ اللهُ مَنْ اٰوٰی مُحْدِثًا وَلَعَنَ اللهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَیْهِ وَلَعَنَ اللهُ مَنْ غَیَّرَالْمَنَارَ۔

ترجمه: دابوالطفیل نه روایت دے وائی چه مونږ حضرت علی رضی الله تعالی عنه ته اووے هغه خبره مونږ ته اوبنایه کومه چه رسول الله ﷺ تاته پټه بنودلے ده، هغوئ ؓ اووے حضرت ﷺ یوه خبره ماته دخلقو نه پټه نۀ ده بنودلے، لیکن ما دحضرت ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو لعنت کړے دے الله پاك په هغه سړی باندے چه هغه ځاروے حلال کړی علاوه دالله جل جلاله نه دبل چادپاره، اولعنت کړے دے الله پاك په هغه چاباندے چه هغه ځائے ورکړی بدعتی لره، اولعنت کړے دے الله تعالی په هغه چاباندے چه هغه لعنت کوی په خپل پلار

موربانده، اولعنت کړے دے الله تعالی په هغه چاباندے چه بدل کړی دزمکے نشانونولره. (ولے چه په دے کښے مسافروته تکلیف وی)

(۵۱۲۶) عَنْ اَبِی الطُّفَیْلِ قَالَ سُئِلَ عَلِیٌّ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَخَصَّکُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِشَیْءٍ فَقَالَ مَاخَصَّنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِشَیْءٍ لَمْ یَعُمَّ بِهِ النَّاسَ کَآفَّةً اِلَّامَاکَانَ فِیْ قِرَابِ سَیْفِیْ هٰذَا قَالَ فَاَخْرَجَ صَحِیْفَةً مَّکْتُوْبٌ فِیْهَا لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَیْرِ اللّٰهِ وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ سَرَقَ مَنَارَ الْاَرْضِ وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَهُ وَلَعَنَ مَنْ اٰوٰی مُحْدِثًا.

ترجمه: دابوالطفیل نه روایت دے وائی چه دحضرت علی کرم الله وجهه نه تپوس اوکړے شو چه ایا خاص کړے دے رسول الله ﷺ تاسو په یوه خبره سره هغویٔ اووے زۀ ئے په یوه داسے خبره نه یم خاص کړے چه هغه ئے نوروخلقو ته نۀ وی فرمائیلی، البته څوخبرے دی چه څمادتورے په غلاف کښے دی، بیا هغویٔ وائی چه یو کاغذ ئے راوویستو چه په هغے کښے لیکلی وو لعنت کړے دے الله پاك په هغه چاباندے چه هغه ذبح کړی څاروی لره دالله تعالی نه سوا دبل چادپاره، اولعنت کړے دے الله تعالی په هغه چاباندے چه دزمکے نښے پټوی، اولعنت کړے دے الله تعالی په هغه کس باندے چه هغه لعنت وائی پخپل پلار باندے،

اولعنت کړے دے الله تعالی په هغه چاباندے چه هغه ځائے ورکړی بدعتی لره، (یعنی بدعتی لره خپل کورته پریږدی یا دهغه مدد اوکړی معاذ الله بدعت یعنی په دین کښے نوے خبره راویستل چه دهغے دلیل دکتاب اوسنت نه ثابت نۀ وی څومره لوئے گناه ده، چه دبدعتی په مددگارباندے لعنت شوے دے نوپه بدعت راویستونکی باندے، به څومره تکلیف وی الله جل جلاله دی امان راکړی۔)

ختم شد کتاب الاضاحی.

☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆

﴿ كِتَابُ الْاَشْرِبَةِ. ﴾

كتاب :. دشرابو په بيان كښې

بَابُ تَحْرِيْمِ الْخَمْرِ.

دشرابو دحرام والی بیان

(۵۱۲۷) عَنْ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَصَبْتُ شَارِفًا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ مَغْنَمٍ يَوْمَ بَدْرٍ وَاَعْطَانِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَارِفًا اُخْرٰى فَاَنَخْتُهُمَا يَوْمًا عِنْدَبَابِ رَجُلٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ وَاَنَااُرِيْدُ اَنْ اَحْمِلَ عَلَيْهِمَا اِذْخِرًا لِّاَبِيْعَهُ وَمَعِيَ صَائِغٌ مِّنْ بَنِيْ قَيْنُقَاعَ فَاسْتَعِيْنَ بِهٖ عَلٰى وَلِيْمَةِ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا وَحَمْزَةُ عَبْدِالْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَشْرَبُ فِيْ ذٰلِكَ الْبَيْتِ مَعَهُ قَيْنَةٌ تُغَنِّيْهِ فَقَالَتْ اَلَايَاحَمْزُلِلشُّرُفِ النِّوَآءِ فَثَارَ اِلَيْهِمَا حَمْزَةُ بِالسَّيْفِ فَجَبَّ اَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَخَوَاصِرَهُمَا ثُمَّ اَخَذَ مِنْ اَكْبَادِهِمَا قُلْتُ لِابْنِ شِهَابٍ وَمِنَ السَّنَامِ قَالَ قَدْجَبَّ اَسْنِمَتَهُمَا فَذَهَبَ بِهَاقَالَ ابْنُ شِهَابٍ قَالَ عَلِيٌّ فَنَظَرْتُ اِلٰى مَنْظَرٍ اَفْظَعَنِيْ فَاَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ زَيْدُابْنُ حَارِثَةَ فَاَخْبَرْتُهُ الْخَبَرَفَخَرَجَ وَمَعَهُ زَيْدٌوَّانْطَلَقْتُ مَعَهُ فَدَخَلَ عَلٰى حَمْزَةَ فَتَغَيَّظَ عَلَيْهِ فَرَفَعَ حَمْزَةُ بَصَرَهُ فَقَالَ هَلْ اَنْتُمْ اِلَّاعَبِيْدٌلِّاٰبَآئِيْ فَرَجَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَهْقِرُحَتّٰى خَرَجَ عَنْهُمْ. بخاری ، ابوداود]

ترجمه : دحضرت علی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ماته یوه اوښه میلاؤ شوه درسول الله ﷺ سره دبدرپه مال غنیمت کښې، اوحضرت ﷺ ماته یوه اوښه بله راکړه، ماهغه دواړه دیوانصاری ؓ په دروازه کښې کینښنولې، اوزماراده داوه چه په دوئ باندے اذخر(چه یوقسم خوشبودار واښه دی) بارکړم اوخرڅ ئے کړم، اوځماسره یوزرګرهم وو دبنی قینقاع دقبیلے نه، (چه دیهودویوه قبیله وه) اوماته مدد میلاؤ شو دحضرت فاطمے رضی الله تعالی عنها دولیمے دپاره (یعنې دهغے سره دنکاح کولو په موقع ماولیمه نه

ٔ وه کړے نوزما اراده داوه چه اذخر به خرڅ کړم څه پیسے به اوګټم اوو یلمه به اوکړم) اوبه دغه کور کښے (چه دکوم په دروازه کښے ماا وښے کینولے وے) حمزهؓ بن عبدالمطلب (دحضرت ﷺ تره سیدالشهداء رضی الله تعالی عنه) شراب څښلي وو (دهغه وخته پورے شراب حرام شوی نۀ وو) دهغویؓ سره یوه وینځه وه چه هغے سندرے وئیلے، آخر هغے داسندره اووے، "الاياحمزه للشرف النواء ددے پـه اوریدو حمزه توره را واخسته اومنډے ئے کړے اودهغه (اوښانو) قبونه ئے کټ کړل اوواخستل ئے اودهغوئ تشی ئے اوشلول اوکلیجه ئے ترے واخسته، ابن جریج وائی ماابن شهابؓ ته اووے چه قب ئے هم واخستو یانۀ هغوئ اووے چه قب خوئے پریکړے ددے دپاره وو حضرت علیؓ وائی ما چه (دخپلو اوښانو داحال اولیدو، نو ډیر خفه شوم اودرسول الله ﷺ خواله راغلم اودحضرت ﷺ سره زید بن حارث هم وو اوما ورته ټوله قصه اوکړه حضرت ﷺ دزیدؓ سره را اووتو اوزۀ ورسره هم لاړم تردے پورے چه دحمزهؓ خواته اورسیدو، حضرت ﷺ حمزهؓ تـه پـه غـصـه شولو، حمزهؓ سترګے اوچتے کړے اوئے لیدواواوئے وئیل تۀ ئے څه تـه خو څماپلار نیکه غلام ئے، ددے په اوریدو جناب رسول الله ﷺ په التهٔ خپو واپس شولو تردے پورے چه دهغه ځائے نه اووتو، (ولے چه حضرت ﷺ ته دامعلومه شوه چه حمزهؓ په نشه کښے دے حصاریدل بنه نۀ دی۔

فائده : وَهُنَّ مُعَقَّلَاتٌ بِالْفِنَآءِ ــ ضَعِ السِّكِّيْنَ فِي اللَّبَّاتِ مِنْهَا

وَضَرِّجْهُنَّ حَمْزَةُ بِالدِّمَآءِ ــ وَعَجِّلْ مِنْ اَطَآئِبِهَا لِشَرْبٍ قَدِيْدًا مِنْ طَبِيْخٍ اَوْشَوَآءٍ.

دا اشعاردی چه ددے ترجمه په نثرکښے داسے ده :

څه حمزهؓ په خړبو اوښو پسے، چه ستا په غولی کښے تړلی یو ځائے۔

ددوئ پـه غـاړه چـاړۀ راکـاږه تـه، اوبـه وینـو کښـے ئـے میـلاؤ کـړه، اوتـکـړے ئـے ورتـے کـړه، دشرابو څښلونه پس دخلے دخوندبنه کولو دپاره غوښه ورته شوے یاپخه شوے ډیره مزیداره وی۔

نووی علیه الرحمة وئیلی دی حضرت سیدالشهداء امیرحمزه رضی الله تعالی عنه چه کوم کار اوکړو یعنی دشرابو څښل، اوداوښانو نه قبونه کټ کول، اودهغوئ تشی څیرل،

او د هغوی غوښه خوړل په دې کښې دیو کار ګنه په هغوی بندې نشته دې. ولې چه شراب څښل خو په هغه زمانه کښې مباح وو. او کوم سړې چه دا وائي چه متوالا کیدل همیشه حرام راغلي دي، هغه غلط وائي دهغې څه اصل نشته دې. او س پاتې شو باقي کړ هغه په نشه کښې سرزد شولو نو د هغه وخت پرې څه تکلیف نه دې پاتې. لکه چه څوك په ضرورت سره دوائي اوڅښي او بیا دهغه عقل لاړشي، یا په غلطي سره دسرکې په ځائې شراب اوڅښي، یا په زورېږې څوك شراب اوڅښوي. او بیا په نشه کښې څه کار دګناه اوکړي نو په ده بندې به څه ګناه نۀ وي البته که دچامال نقصان کړي نو تاوان پرې لازم دې.

اوکیدې شي امیرحمزهؓ هغه تاوان حضرت علیؓ ته ورکړې وي یا حضرت علیؓ معاف کړې وي، یا حضرت ﷺ دحمزهؓ دطرفنه اداکړې وي، او دعمربن شبیه په کتاب کښې شي چه حضرت ﷺ دحمزهؓ نه دهغه دواړو اوښانو تاوان اخستې وو.

او اجماع ده دعالمانو په دې باندې چه متوالا یاګل دچامال تلف کړي نو تاوان به پرې لازم وي، او دا چه کوم قب حمزهؓ داوښونه کټ کړو کچرې دحلالولو نه پس ئې کټ کړې وي نو حلال وو، اوکه دحلالولو نه مخکښې ئې کټ کړې وي نو حرام وو په اجماع سره، لیکن دهغې په خوراك باندې په حمزهؓ څه ګناه نشته دې ولې چه هغهؓ دنشې په حالت کښې وو او په دغه حالت کښې تکلیف نشته دې۔ انتهی مختصراً.

داحمزهؓ دحضرت علیؓ او دزیدؓ په لیدو سره په نشه کښې لووې زیدؓ خو واقعي درسول الله ﷺ غلام وو، اوحضرت علیؓ دحمزهؓ وروکې اودبچي پشان وو، هغهؓ هم یوقسم غلام شولو. اوخطاب ئې درسول الله ﷺ طرف ته نۀ وو، اوکچرې دهغوی ﷺ په طرف هم وو نو په نشه کښې داخبره دهغه دخلې نه اوونه. او په داسې حالت کښې پرې څه تکلیف نشته دې، ددې نه علاوه حمزهؓ درسول الله ﷺ تره هم وو۔ او په اعتبار دخپلولۍ درشتې ئې مشر هم وو۔ دوئم دا چه حمزهؓ دخپل پلار اونیکه غلام اووې نۀ خپل اودحمزهؓ پلار عبدالمطلب وو، او عبدالمطلب دجناب رسول الله ﷺ نیکه وو۔

(۵۱۲۸) عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۱۲۹) عَنْ حُسَيْنِ ابْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَخْبَرَهُ اَنَّ عَلِيًّا رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَتْ لِيْ شَارِفٌ مِّنْ نَّصِيْبِيْ مِنَ الْمَغْنَمِ يَوْمَ بَدْرٍ وَّكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْطَانِيْ شَارِفًا مِّنَ الْخُمُسِ يَوْمَئِذٍ فَلَمَّا اَرَدْتُّ اَنْ اَبْتَنِيَ بِفَاطِمَةَ بِنْتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاعَدْتُّ رَجُلًا صَوَّاغًا مِنْ بَنِيْ قَيْنُقَاعَ يَرْتَحِلُ مَعِيَ فَنَاْتِيْ بِاِذْخِرٍ اَرَدْتُّ اَنْ اَبِيْعَهُ مِنَ الصَّوَّاغِيْنَ فَاسْتَعِيْنَ بِهٖ فِيْ وَلِيْمَةِ عُرُسِيْ فَبَيْنَا اَنَا اَجْمَعُ لِشَارِفَيَّ مَتَاعًا مِّنَ الْاَقْتَابِ وَالْغَرَآئِرِ وَالْحِبَالِ وَشَارِفَايَ مُنَاخَتَانِ اِلٰى جَنْبِ حُجْرَةِ رَجُلٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ وَجَمَعْتُ حِيْنَ جَمَعْتُ مَا جَمَعْتُ فَاِذَا شَارِفَايَ قَدِ اجْتُبَّتْ اَسْنِمَتُهُمَا وَبُقِرَتْ خَوَاصِرُهُمَا وَاُخِذَ مِنْ اَكْبَادِهِمَا فَلَمْ اَمْلِكْ عَيْنَيَّ حِيْنَ رَاَيْتُ ذٰلِكَ الْمَنْظَرَ مِنْهُمَا قُلْتُ مَنْ فَعَلَ هٰذَا قَالُوْا فَعَلَهٗ حَمْزَةُ ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهُوَ فِيْ هٰذَا الْبَيْتِ فِيْ شَرْبٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ غَنَّتْهُ قَيْنَةٌ وَاَصْحَابُهٗ فَقَالَتْ فِيْ غِنَآئِهَا اَلَا يَا حَمْزَةُ لِلشُّرُفِ النِّوَآءِ فَقَامَ حَمْزَةُ بِالسَّيْفِ فَاجْتَبَّ اَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا وَاَخَذَ مِنْ اَكْبَادِهِمَا فَقَالَ عَلِيٌّ فَانْطَلَقْتُ حَتّٰى اَدْخُلَ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهٗ زَيْدُ ابْنُ حَارِثَةَ قَالَ فَعَرَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ وَجْهِيَ الَّذِيْ لَقِيْتُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَكَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَاللّٰهِ مَا رَاَيْتُ كَالْيَوْمِ قَطُّ عَدَا حَمْزَةُ عَلٰى نَاقَتَيَّ فَاجْتَبَّ اَسْنِمَتَهُمَا وَبَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا وَهَا هُوَ ذَا فِيْ بَيْتٍ مَّعَهٗ شَرْبٌ قَالَ فَدَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرِدَآئِهٖ فَارْتَدَاهُ ثُمَّ انْطَلَقَ يَمْشِيْ فَاتَّبَعْتُهٗ اَنَا وَزَيْدُ ابْنُ حَارِثَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ حَتّٰى جَآءَ الْبَابَ الَّذِيْ فِيْهِ حَمْزَةُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَاسْتَاْذَنَ فَاَذِنُوْا لَهٗ فَاِذَا هُمْ شَرْبٌ فَطَفِقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلُوْمُ حَمْزَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فِيْمَا فَعَلَ فَاِذَا حَمْزَةُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ مُحْمَرَّةٌ عَيْنَاهُ فَنَظَرَ حَمْزَةُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ اِلٰى سُرَّتِهٖ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ اِلٰى وَجْهِهٖ فَقَالَ حَمْزَةُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهَلْ اَنْتُمْ اِلَّا عَبِيْدًا لِّاَبِيْ فَعَرَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ ثَمِلٌ فَنَكَصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى عَقِبَيْهِ الْقَهْقَرٰى وَخَرَجَ وَخَرَجْنَا مَعَهٗ. [راجع: ۵۱۲۷]

ترجمه: امام همام حضرت حسین بن علی رضی الله تعالی عنه محبوب رسول الله ﷺ نه

روایت دے چه حضرت علیؓ وئیلی دی چه ماته دبدر دمال غنیمت نه یوه اوښه میلاؤ شوه، اوپه
دغه ورځ رسول الله ﷺ دخمس نه یوه اوښه ماته راکړه، پس ماغوښتل چه صحبت کوم
دحضرت فاطمة الزهراء رضی الله تعالی عنها سره چه درسول الله ﷺ لوره ده، نومادبنی
قینقاع قبیلے دیوزرګرسره وعده اوکړه چه هغه به ځماسره ملګرے لاړشی اومونږ به په یوڅائے
اذخرراوړو اوپه زرګرانوبه ئے خرڅ کړو اوپه هغے سره به زۀ دخپل واده ولیمه اوکړم،
نومادخپلو دواړو اوښو سامان جمع کولو، پالان، رکابونه، رسیٔ، اوهغه دواړه ناستے وے
دیوانصاریؓ دکوټهړیٔ په یوطرف کښے څه وخت چه مادا سامان جمع کولو چه جمع می کړو
نوڅه ګورم چه ددواړو اوښو قبونه کټ شوی دی اوتشی ئے څیرے شوی دی ماچه دا اولیدل
نوپاتے کیدے نۀ شوم اوزماسترګے نه وچیدے (یعنی زۀ په ژړا شوم اوداژړل ددنیاپه طمع نۀ وو
بلکه دفاطمه زهراءؓ اورسول الله ﷺ په حق کښے چه کوم تقصیرراغے په دے خیال سره وو)
ماتپوس اوکړو چه داکارچا اوکړو؟ خلقو اووے حمزه بن عبدالمطلبؓ اوهغویؓ په دے کورکښے
دی دانصاروؓ دیو جماعت سره چه هغویٔ شراب څښی، دهغویٔ په مخکښے یوسندره ویونکی
سندرے وائی اودهغویٔ ملګروخوپه سندره کښے دا اووے اے حمزهؓ پاڅه اودغه څرے اوښے
واخله، په دغه وخت حمزهؓ توره واخسته اوپاڅیدو اودهغویٔ قبونه ئے کټ کړل، اوسینه ئے ورله
اوشلوله اوجګر(یعنی کلیجه) ئے تری را اوویسته، حضرت علیؓ وائی ددے په اوریدوزه روان
شوم اودرسول الله ﷺ خواله لاړم، هلته زید بن حارثؓ ناست وو پس رسول الله ﷺ زۀ
دلیدوسره اوپیژندم چه زماپه مخ باندے دخفګان اثروو، اوائے فرمائیل څه شوی دی تالره
ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ! دنن په شان ورځ ماچرته نۀ ده لیدلے، حمزهؓ ځماپه دواړو
اوښو باندے ظلم کړے دے دهغویٔ قبونه ئے کټ کړی دی اوتشی ئے ورله شلولی دی، اوهغویؓ
په هغه کورکښے دے دخوشرابیانوسره، ددے په اوریدورسول الله ﷺ خپل څادر اوغوښتو
اوهغه ئے پسرکړو بیاپیاده روان شولو زۀ اوحارث بن زیدؓ دواړه پسے ورستووو تردے پورے چه
حضرت ﷺ هغه دروازے له راغے چرته چه حمزهؓ وو، اوددنه راتلو اجازت ئے اوغوښتو
خلقو اجازت ورکړو، چه اوئے کتل نو هغه شراب څښلی وو، رسول الله ﷺ حمزهؓ ته په دغه

کاربانددے ملامته وئیل شروع کړو اودحمزة ستر ګے سرے وے (دنشے نه) هغوی رسول الله ﷺ لره اولیدو بیائے دحضرت ﷺ زنګونانوته اوکتل بیا چه ئے ستر ګے اوچتے کړے نودنوم پورے ئے اوکتل بیا چه ئے ستر ګے اوچتے کړے نو مخ مبارك ئے ورله اولیدو، بیائے اووے نه یئ تاسو مګر څمادپلارنیکه غلام ئے، بیارسول الله ﷺ اوپیژندو چه هغهٔ په نشه کنیے مست دے حضرت ﷺ په التهٔ خپو واپس شو او بهررا اووتو او مونږ هم دهغوی ﷺ سره را اووتو۔

(۵۱۳۰) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۱۳۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنْتُ سَاقِيَ الْقَوْمِ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ فِيْ بَيْتِ اَبِيْ طَلْحَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَمَاشَرَابُهُمْ اِلَّا الْفَضِيْخُ الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ فَاِذَامُنَادٍيُّنَادِيْ اَلَآ اِنَّ الْخَمْرَقَدْحُرِّمَتْ قَالَ فَجَرَتْ فِيْ سِكَكِ الْمَدِيْنَةِ فَقَالَ لِيْ اَبُوْطَلْحَةُ اُخْرُجْ فَاهْرِقْهَا فَهَرَقْتُهَا فَقَالُوْا اَوْقَالَ بَعْضُهُمْ قُتِلَ فُلَانٌ قُتِلَ فُلَانٌ وَهِيَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ قَالَ فَلَااَدْرِيْ هُوَمِنْ حَدِيْثِ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَزَّوَجَلَّ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَاطَعِمُوْٓا اِذَا مَااتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ. [بخاری ، ابو داود ، وانظر فی مسلم : ۵۱۳۸]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه په کومه ورځ چه شراب حرام شولونوزهٔ دابوطلحهٔ په کورکنیے دخلقو ساقی وم، اودهغوی شراب نهٔ وومګردلوندوکجوروبادوچوکجوروچه ناځاپه مونږ دیوسړی چغے وهل واوریدو ابوطلحهٔ اووے بهراوځه اواوګوره (چه څه دی) زه بهررا اووتم، نو هغه داسے آواز کولو خبردارشئ شراب حرام شوی دی، بیادتمامے مدینے په لاروکنیے دا آوازونه اوشولو، ابو طلحهٔ ماته اووے پاسه اوتوئ کړه شرابو لره، (کوم چه باقی دی) اومات ئے کړل، بیاځینو اووے فلانے اوفلانے تباه شول دهغوی په ګیډو کنیں شراب دی، (یعنی هغوی دحرام والی نه مخکنیے څښلی وو) ددے په موقع داایت نازل شولو، "لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا" داخره پورے۔

فائده: یعنی کوم خلق چه ایمانداردی اونیك کارکوی په هغوی باندے څه وبال نشته دهغه عمل چه مخکنیے ئے کړے وی (دجهالت په وجه) هرکله چه دائنده نه پرهیزاوکړی

اوایمان دار دی اونیک کار کوی۔

نووی ؒ ونیلی دی امام مسلم چه په دے مقام باندے کوم حدیثونه نقل کړی دی ددے نه معلومیږی چه تمام هغه شرابونه چه په هغے کښے نشه وی حرام دی اودغه تولو ته خمرونیلے شی، خواه که دکجورو وی، یادانګورو یادوربشو یادجوارو یادګبین دبل څه څیزداتول حرام دی اوخمردی، زمونږ دغه مذهب دے، اودغه قول دے دمالک ؒ اواحمد ؒ اودجمهورسلفو خلفو۔

اوبصرے والاڅه خلق داسے وائی چه دتازه انګوروشیره حرامه ده، دغه شان دوچوانګوروخوشتوشوؤ یاکچه شربت لیکن دپخوانګورو، اودکچه اوپخوانګورونه علاوه دنورو څیزونودرست دے دکومے پورے چه په هغے کښے نشه نۀ وی، اوابوحنیفة ؒ ونیلی دی چه دکجورو اوانګوروشیره حرامه ده، لیکن دتازه انګوروکچه اوبه هغه خولږے اوډیرے حرامے دی، خو چه هرکله ئے پخے کړی اودوه حصے په دریوؤ کښے غائبے شی اویوه حصه پاتے شی نو حلال دی، اونبیذ دوچو کجورو اوانګورودرست دے کچرے هغے لره لږ شان پوخ کړی، اودپخولو نه بغیرد‌لږ‌وانګوروحرامه ده خوپه څکونکو ئے حد نه پریوزی دکومے پورے چه نشه شوے نۀ وی، اودتازه انګوروشیره مطلقاحرامه ده ، اواختلاف دعالمانو په هغه شرابوکښے دے چه په هغے کښے نشه نۀ وی لیکن که په هغے کښں نشه وی نو هغه حرام دی بالاجماع داهل اسلامو (انتهی مختصرا۔)

(۵۱۳۲) عَنْ عَبْدِالْعَزِيزِابْنِ صُهَيْبٍ قَالَ سَأَلُوْا اَنَسَ ابْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ الْفَضِيْخِ فَقَالَ مَاكَانَتْ لَنَا خَمْرٌ غَيْرَ فَضِيْخِكُمْ هٰذَا الَّذِىْ تُسَمُّوْنَهُ الْفَضِيْخَ اِنِّىْ لَقَائِمٌ اَسْقِيْهَا اَبَاطَلْحَةَ وَاَبَااَيُّوْب رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا وَرِجَالًا مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِىْ بَيْتِنَا اِذْجَآءَ رَجُلٌ فَقَالَ هَلْ بَلَغَكُمُ الْخَبَرُ قُلْنَا لَاقَالَ فَاِنَّ الْخَمْرَ قَدْحُرِّمَتْ فَقَالَ يَااَنَسُ اَرِقْ هٰذِهِ الْقِلَالَ قَالَ فَمَارَاجَعُوْاهَا وَلَاسَأَلُوْا عَنْهَا بَعْدَخَبَرِ الرَّجُلِ.

ترجمه: دعبدالعزیزبن صهیب نه روایت دے وائی چه دانس بن مالک ؓ نه خلقوتپوس اوکړو دفضیخ په باره کښے (فضیخ هغه شراب دی چه دنیم پخته کجورو نه جوړیږی هغه رااوشوکوی اوپه اوبو کښے ئے واچوی اوپکښں پرتے وی تردے پورے چه زګ اونیسی، هغوی ؓ

وائي دفضيخ نه علاوه زمونږ بل څه خمرنۀ وو) اوزۀ اودريدم دغه فضيخ مې په ابوطلحهؓ اوابوايوبؓ اودانصارو په څوسړوباندې څکولوپه خپل كوركښې چه په دې كښې يوسړې راغې اواوئې وئيل چه څه خبررارسيدلې دې، مونږه اووې نه دې رارسيدلې، هغه اووې شراب حرام شولو، ابوطلحهؓ اووې اې انسؓ توئ كړه دګه منګولره، بياچرته هم هغوئ شراب نۀ څښلو نې دهغې دحال تپوس كولو ددې خبرنه پس۔

(۵۱۳۳) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ إِنِّيْ لَقَائِمٌ عَلَى الْحَيِّ عَلٰى عُمُوْمَتِيْ أَسْقِيْهِمْ مِنْ فَضِيْخٍ لَهُمْ وَأَنَا أَصْغَرُهُمْ سِنًّا فَجَآءَ رَجُلٌ فَقَالَ إِنَّهَا قَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ فَقَالُوْا اكْفِئْهَا يَاأَنَسُ فَكَفَأْتُهَا قَالَ قُلْتُ لِأَنَسٍ مَاهُوَ قَالَ بُسْرٌ وَرُطَبٌ قَالَ فَقَالَ أَبُوْبَكْرِ ابْنُ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ كَانَتْ خَمْرَهُمْ يَوْمَئِذٍ قَالَ سُلَيْمَانُ وَحَدَّثَنِيْ رَجُلٌ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ ذٰلِكَ أَيْضًا. [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالكؓ نه روايت دې وائي چه زۀ ولاړوم اودخپلې قبيلې په ترونو مې فضيخ څكولو، اوپه عمركښې دتولونه وروكې وم چه په دې كښې يوسړې راګې اواوئې وئيل شراب حرام شولو، هغوئ اووې توئ كړه اې انسؓ شرابولره بياماتوئ كړلو، سليمان تيمي وائي چه مادانس نه تپوس اوكړو هغه شراب دڅه وو هغوئ اووې دنيم پخته اوپخو كجورو، ابوبكربن انسؓ وئيلي دي په دغه ورځو خمردهغوئ دغه وو سليمان وائي ماته يوسړي بيان اوكړو هغه دانس رضى الله تعالى عنه نه اوريدلي وو هغه دغه وئيلو۔

(۵۱۳۴) عَنِ الْمُعْتَمِرِ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ قَالَ أَنَسٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ كُنْتُ قَائِمًا عَلَى الْحَيِّ أَسْقِيْهِمْ بِمِثْلِ حَدِيْثِ ابْنِ عُلَيَّةَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقَالَ أَبُوْبَكْرِ ابْنُ أَنَسٍ كَانَ خَمْرَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَأَنَسٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ شَاهِدٌ فَلَمْ يُنْكِرْ أَنَسٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ذٰلِكَ وَقَالَ ابْنُ عَبْدِالْأَعْلٰى حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ حَدَّثَنِيْ بَعْضُ مَنْ كَانَ مَعِيْ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ يَقُوْلُ كَانَ خَمْرَهُمْ يَوْمَئِذٍ.

ترجمه: ددې حديث ترجمه هم ددې نه مخكښې په شان ده۔

(۵۱۳۵) عَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنْتُ أَسْقِيْ أَبَاطَلْحَةَ وَأَبَوْدُجَانَةَ وَمُعَاذَابْنَ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فِيْ رَهْطٍ مِّنَ الْأَنْصَارِ فَدَخَلَ عَلَيْنَا دَاخِلٌ فَقَالَ حَدَثَ خَبَرٌ نَزَلَ تَحْرِيْمُ الْخَمْرِ قَالَ فَأَكْفَأْنَاهَا يَوْمَئِذٍ وَإِنَّهَا لَخَلِيْطُ الْبُسْرِ وَالتَّمْرِ قَالَ قَتَادَةُ وَقَالَ أَنَسُ ابْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ

تَعَالٰی عَنْهُ لَقَدْحُرِّمَتِ الْخَمْرُ وَكَانَتْ عَامَّةُ خُمُوْرِ هِمْ يَوْمَئِذٍ خَلِيْطَ الْبُسْرِ وَالتَّمْرِ. [نسائی]

ترجمه: دانس بن مالكؓ نه روايت دے، وائی چه مااوابو طلحهؓ اوابو دجانهؓ اومعاذ بن جبلؓ دانصاروؓ په يو جماعت باندے شراب څكولو چه په دے كښے يو سړے دننه راغے اواوئے وئيل چه يونوے خبر دے شراب حرام شولو، بيامونږ په دغه ورځ شراب توئ كړل اوهغه شراب دنيم پخته اودوچو كجوررو وو، انس رضى الله تعالى عنه وائی شراب چه كله حرام شولو نو اكثر شراب دهغوئ دغه وو خليط يعنى نيم پخته كجورے اواوچے كجورے ميلاؤ شوے۔

(۵۱۳۶) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اِنِّیْ لَاَسْقِیْ اَبَا طَلْحَةَ وَاَبَادُجَانَةَ وَسُهَيْلَ ابْنَ بَيْضَآءَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمْ مِنْ مُّزَادَةٍ فِيْهَا خَلِيْطُ بُسْرٍ وَّتَمْرٍ بِنَحْوِ حَدِيْثِ سَعِيْدٍ. [بخاری]

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دپورته حديث پشان ده۔

(۵۱۳۷) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى اَنْ يُّخْلَطَ التَّمْرُ وَالزَّهْوُثُمَّ يُشْرَبَ وَاِنَّ ذٰلِكَ كَانَ عَامَّةَ خُمُوْرِهِمْ يَوْمَ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ.

ترجمه: دحضرت انس بن مالك رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده دوچو اونيم پخته كجورو ديو ځائے شريكولو نه، اودهغے دڅښلو نه اواكثر شراب دهغه خلقو دغه وو هر كله چه شراب حرام شولو۔

(۵۱۳۸) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ قَالَ كُنْتُ اَسْقِیْ اَبَاعُبَيْدَةَ ابْنَ الْجَرَّاحِ وَاَبَاطَلْحَةَ وَاُبَىَّ ابْنَ كَعْبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمْ شَرَابًا مِّنْ فَضِيْخٍ وَّتَمْرٍ فَاَتَاهُمْ اٰتٍ فَقَالَ اِنَّ الْخَمْرَ قَدْحُرِّمَتْ فَقَالَ اَبُوْطَلْحَةَ يَااَنَسُ قُمْ اِلٰى هٰذِهِ الْجَرَّةِ فَاكْسِرْهَا فَقُمْتُ اِلٰى مِهْرَاسٍ لَّنَافَضَرَبْتُهَا بِاَسْفَلِهٖ حَتّٰى تَكَسَّرَتْ. [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالك رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائی چه ماپه ابو عبيدةؓ اوابو طلحهؓ اوابى بن كعبؓ دفضيخ اوكجورو شراب څكولو چه په دے كښے يو راتلونكے راغے اواوئے وئيل شراب حرام شول ابو طلحهؓ اووے اے انسؓ پاسه اودامنګے مات كړه پس مادګتے يو چتولره اوچت كړو، اوهغه منګے مى پرے دلاندے نه اووهو هغه منګے مات شولو۔

(۵۱۳۹) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلُ لَقَدْاَنْزَلَ اللّٰهُ الْاٰيَةَ الَّتِیْ حَرَّمَ اللّٰهُ فِيْهَا

الْخَمْرُ وَمَا بِالْمَدِيْنَةِ شَرَابٌ يُشْرَبُ اِلَّا مِنْ تَمْرٍ.

ترجمه: دحضرت انس بن مالک رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه الله تعالی هغه ایات نازل کړو چه په هغې کښې ئے شراب حرام کړو، اوپه دغه وخت په مدینه کښې دخه قسم شراب نۀ وو چه څښلے به شو سوادکجورو نه.

بَابُ تَحْرِيْمِ تَخْلِيْلِ الْخَمْرِ.

دشرابو سرکه جوړول حرام دی.

(۵۱۴۰) عَنْ اَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْخَمْرِ تُتَّخَذُ خَلًّا فَقَالَ لَا. [ابو داود، ترمذی]

ترجمه: دانسؓ نه روایت دے چه درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړے شو چه دشرابو نه سرکه جوړولے شو، حضرت ﷺ اوفرمائیل نه.

فائده: نووی علیه الرحمة وائی چه دامام شافعیؒ اوجمهورو علماؤ دغه دلیل دے چه دشرابو سرکه جوړول، درست نۀ دی اونه هغه په سرکه کیدوسره پاکیږی، اوداوزاعیؒ اولیثؒ اوابو حنیفهؒ په نزد پاکیږی. (انتهی مختصراً)

بَابُ تَحْرِيْمِ التَّدَاوِيْ بِالْخَمْرِ وَبَيَانِ اَنَّهَا لَيْسَتْ بِدَوَآءٍ.

په شرابو سره علاج کول حرام دی اوهغه دوائی نۀ ده.

(۵۱۴۱) عَنْ طَارِقِ ابْنِ سُوَيْدِ نِ الْجُعْفِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ سَاَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَمْرِ فَنَهَاهُ اَوْكَرِهَ اَنْ يَّصْنَعَهَا فَقَالَ اِنَّمَا اَصْنَعُهَا لِلدَّوَآءِ فَقَالَ اِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَآءٍ وَلٰكِنَّهُ دَاءٌ. [ترمذی]

ترجمه: طارق بن سوید جعفیؓ درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو دشرابو په باره کښې حضرت ﷺ منع کړویائے ناخوښه کړود هغې جوړولو له، هغه اووے زۀ ئے ددوایئ دپاره جوړوم، حضرت ﷺ اوفرمائیل دوائی نۀ ده بلکه بیماری ده.

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی ددے حدیث نه معلومه شوه چه په شرابو سره دوائی کول یا هغه دوائی استعمالول چه په هغې کښې شراب وی حرام دی، اودغه صحیح دے

زمونږ دملګرو په نزد، دغه شان شراب څښل حرام دی دتندې په حالت کښې، ليکن کچرې نمړۍ په حلق کښې اونخلي اود هغې دتيره ولو دپاره اوبه نۀ ميلاويږي، اودهلاکت يقين ئې راشي نو دشرابو په يو ګوټ سره ئې تيره ولې شي. انتهى مع زيادة.

باب بيان جميع ماينبذ ممايتخذ من النخل والعنب يسمى خمرا۔

باب: دکجوروشراب هم خمردی۔

(۵۱۴۲) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَلْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ النَّخْلَةِ وَالْعِنَبَةِ. [ابو داود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی شراب ددے دواړو ونونه کيږی دکجورو اودانګورو دونے نه۔

(۵۱۴۳) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَلْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ النَّخْلَةِ وَالْعِنَبَةِ.

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم ددے پورته حديث پشان ده۔

(۵۱۴۴) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ الْكَرْمَةِ وَالنَّخْلَةِ وَفِیْ رِوَايَةِ اَبِیْ كُرَيْبٍ الْكَرْمِ وَالنَّخْلِ.

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دپورته ذکرشوے حديث پشان ده۔

فائده: نووی عليه الرحمة وائی ددے حديثونه دامعلومه شوه چه کوم شراب جوړکړے شی دنيم پخته کجورونه يادانګورونه هغه خمر دی اوحرام دی په دے شرط چه نشه کوی، اودغه مذهب دے دجمهوروعلماؤ. اوددے حديثونو دامطلب نۀ دے چه دجوارو ياکبين ياوريشو هغه به خمرنه وی ولے چه په نوروحديثونو کښے صفاموجود دی چه ددے نه هم خمرجوړيږی۔

باب كراهة انتباذ التمروالزبيب مخلوطين۔

کجورے اوانګور يوځائی خوشتول مکروه دی۔

(۵۱۴۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ یُّخْلَطَ الزَّبِیْبُ وَالتَّمْرُ وَالْبُسْرُ وَالتَّمْرُ.

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دانګورو او کجهورو یادانیم پخته کجورو او او چو کجورو دیو ځائے خوشتولو نه۔ (ولے چه دلیے په نبیذ کښے زر نشه راځی او څښلو والا تړے خبر نۀ وی او دا کراهت تنزیهی دے او نبیذ حرام نۀ دی دکومے پورے چه په هغے کښے نشه نۀ وی او دغه قول دے دجمهور علماؤ، او دځنے مالکیه وُ په نزد باندے حرام دی، او دابو حنیفهؒ او ابو یوسفؒ په نزد په دے کښے کراهت هم نشته دے، او دا قول (داحادیث) خلاف دی۔

(۵۱۴۶) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ نَهٰی اَنْ یُّنْبَذَ التَّمْرُ وَالزَّبِیْبُ جَمِیْعًا وَّنَهٰی اَنْ یُّنْبَذَ الرُّطَبُ وَالْبُسْرُ جَمِیْعًا[ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دجابر بن عبدالله انصاری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے منع فرمائیلے ده حضرت ﷺ کجورو او انګورو یا دپخو او کچه کجورو دیو ځائے خوشتولو نه۔

(۵۱۴۷) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَاتَجْمَعُوْا بَیْنَ الرُّطَبِ وَالْبُسْرِ وَبَیْنَ الزَّبِیْبِ وَالتَّمْرِ نَبِیْذًا. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دحضرت جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل یو ځائے مۀ خوشتوئ پښو او کچه کجورو له، او انګورو او کجورو له۔

(۵۱۴۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ نَهٰی اَنْ یُّنْبَذَ الزَّبِیْبُ وَالتَّمْرُ جَمِیْعًا وَّنَهٰی اَنْ یُّنْبَذَ الْبُسْرُ وَالرُّطَبُ جَمِیْعًا. [نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دانګورو او کجورو دیو ځائے خوشتولو نه، او منع ئے فرمائیلے ده دکچه کجورو او پخو کجورو دیو ځائے خوشتولو نه۔

(۵۱۴۹) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ التَّمْرِ وَالزَّبِیْبِ اَنْ یُّخْلَطَ بَیْنَهُمَا عَنِ التَّمْرِ وَالْبُسْرِ اَنْ یُّخْلَطَ بَیْنَهُمَا. [ترمذی]

ترجمه: دحضرت ابوسعيد رضى الله تعالى عنه نه هم دغه شان روايت دے۔

(۵۱۵۰) عَنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ رَّضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نَّخْلِطَ بَيْنَ الزَّبِيْبِ وَالتَّمْرِ وَاَنْ نَّخْلِطَ الْبُسْرَ وَالتَّمْرَ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته تيرشوى حديث پشان ده۔

(۵۱۵۱) عَنْ اَبِىْ سَلَمَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۱۵۲) عَنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ رَّضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَرِبَ النَّبِيْذَ مِنْكُمْ فَلْيَشْرَبْهُ زَبِيْبًا فَرْدًا اَوْتَمْرًا فَرْدًا اَوْبُسْرًا فَرْدًا. [نسائى]

ترجمه: دابوسعيد خدرى رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى څوك چه ستاسونه نبيذ (شربت دكجوروياد انګورو) څښى نو صرف دانګورودى څښى ياصرف دكجورو ياصرف دكچه كجورو دى څښى۔

(۵۱۵۳) عَنْ اِسْمٰعِيْلَ ابْنِ مُسْلِمٍ الْعَبْدِىِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ قَالَ نَهَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نَّخْلِطَ بُسْرًا بِتَمْرٍ اَوْزَبِيْبًا بِبُسْرٍ قَالَ مَنْ شَرِبَهُ مِنْكُمْ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ وَكِيْعٍ.

ترجمه: ددے حديث ترجمه هم ددے نه دپورته حديث پشان ده۔

(۵۱۵۴) عَنْ اَبِىْ قَتَادَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتَنْتَبِذُوْا الزَّهْوَ وَالرُّطَبَ جَمِيْعًا وَّلَاتَنْتَبِذُوْا الزَّبِيْبَ وَالتَّمْرَ جَمِيْعًا وَانْتَبِذُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا عَلٰى حِدَتِهٖ.

ترجمه: دابوقتاده رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل مه خوشتوئ كچه كجوورولره دپخو كجوروسره يو ځائے، اومه خوشتوئ انګورو لوكجوورولره يو ځائے بلكه جدا جدا خوشتوئ هريولره۔

(۵۱۵۵) عَنْ يَحْيَى ابْنِ اَبِىْ كَثِيْرٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۱۵۶) عَنْ اَبِىْ قَتَادَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاتَنْتَبِذُوْا الزَّهْوَ وَالرُّطَبَ جَمِيْعًا وَّلَاتَنْتَبِذُوْا الرُّطَبَ وَالزَّبِيْبَ جَمِيْعًا وَّلٰكِنِ انْتَبِذُوْا كُلَّ وَاحِدٍ عَلٰى حِدَتِهٖ وَزَعَمَ

يَحْيٰى اَنَّهُ لَقِيَ عَبْدَاللّٰهِ ابْنَ اَبِيْ قَتَادَةَ فَحَدَّثَهُ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۱۵۷) عَنْ يَحْيٰى ابْنِ اَبِيْ كَثِيْرٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ الرُّطَبَ وَالزَّهْوَ وَالتَّمْرَ وَالزَّبِيْبَ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۱۵۸) عَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ خَلِيْطِ التَّمْرِ وَالْبُسْرِ وَعَنْ خَلِيْطِ الزَّبِيْبِ وَالتَّمْرِ وَعَنْ خَلِيْطِ الزَّهْوِ وَالرُّطَبِ وَقَالَ انْتَبِذُوْا كُلَّ وَاحِدٍ عَلٰى حِدَتِهِ:

ترجمه: حضرت عبد الله بن قتادة دَ خپل پلار نه روایت کوی چه دَ الله نبی ﷺ دَ کچه کجورو دَ پخو کجورو سره دَ یو ځاکیدو نه او دَ پخو کجورو دَ انګورو سره دَ یو ځائے کیدو نه منع فرمائیلے ده او حضور ﷺ فرمائیلی دی چه تاسو ددے نه ځانله ځانله نبیذ جوړوی۔

(۵۱۵۹) قَالَ وَحَدَّثَنِيْ اَبُوْ سَلَمَةَ ابْنُ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ اَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ هٰذَا الْحَدِيْثِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۵۱۶۰) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الزَّبِيْبِ وَالتَّمْرِ وَالْبُسْرِ وَالتَّمْرِ وَقَالَ يُنْبَذُ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا عَلٰى حِدَتِهِ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه هم دغه شان روایت دے۔

(۵۱۶۱) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۱۶۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُخْلَطَ التَّمْرُ وَالزَّبِيْبُ جَمِيْعًا وَاَنْ يُخْلَطَ الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ جَمِيْعًا وَكَتَبَ اِلٰى اَهْلِ جُرَشٍ يَنْهَاهُمْ عَنْ خَلِيْطِ التَّمْرِ وَالزَّبِيْبِ

ترجمه: ددے حدیث ترجمه دپورته پشان ده دومره زیاته چه حضرت ﷺ جرش والاؤ ته اولیکل

(چرش په یمن کښې یو ښار دے) او منع ئې کړو هغوئ لره دکجورو او انګورو دیو ځائے کولو نه۔

(٥١٦٣) عَنِ الشَّيْبَانِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ فِي التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ وَلَمْ يَذْكُرِ الْبُسْرَ وَالتَّمْرَ.

په دے سند سره هم مذکوره بالا حدیث منقول دے۔

(٥١٦٤) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ قَدْ نُهِيَ أَنْ يُنْبَذَ الْبُسْرُ وَالرُّطَبُ جَمِيْعًا وَالتَّمْرُ وَالزَّبِيْبُ جَمِيْعًا.

ترجمه: دابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع شوے ده دکچه او پخو کجورو یو ځائے کولو نه یا دکجورو او انګورو دیو ځائے خوشتولو نه۔

(٥١٦٥) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ قَدْ نُهِيَ أَنْ يُنْبَذَ الْبُسْرُ وَالرُّطَبُ جَمِيْعًا وَالتَّمْرُ وَالزَّبِيْبُ جَمِيْعًا.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث په شان ده۔

﴿بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْإِنْتِبَاذِ فِي الْمُزَفَّتِ وَالدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيْرِ وَبَيَانِ نَسْخِهٖ.﴾

په مرتبان او تونبے (یعنی وچ تش کړے شوے کدو) او دشنو لاکھو په لوښی کښې او دلرګی په لوښی کښې دنبیذ جوړولو ممانعت او دهغے دمنسوخ کیدو بیان۔

(٥١٦٦) عَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ أَنْ يُنْبَذَ فِيْهِ. [نسائی]

ترجمه: دحضرت انس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلی ده په تونبی او مرتبان (دلاکھو په لوښی کښې) دنبیذ جوړولو نه۔

فائده: ددے حدیث بیان په کتاب الایمان کښې په تفصیل سره تیر شوے دے، او خلاصه ئې داده چه هرکله شراب حرام شولو، نو دځه مودے پورے چه به په کومو لوښو کښې شراب جوړیدل نو حضرت ﷺ په هغه لوخوکښې نبیذ جوړول منع کړو په دے خیال سره چه چرته په دے کښې که نشه راشی او خلق ترے خبر نۀ وی، بیا دغه ممانعت ختم شولو۔

(۵۱۶۷) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ اَنْ یُّنْتَبَذَ فِیْهِ :

ترجمه : د حضرت انس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلی ده په تونبی اومرتبان کښے دنبیذ جوړولو نه۔

(۵۱۶۸) قَالَ وَاَخْبَرَهُ اَبُوْسَلَمَةَ اَنَّهٗ سَمِعَ اَبَاهُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَاتَنْتَبِذُوْا فِی الدُّبَّاءِ وَلَافِی الْمُزَفَّتِ ثُمَّ یَقُوْلُ اَبُوْهُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَاجْتَنِبُوْا الْحَنَاتِمَ.

ترجمه :ابوسلمهؒ سفیانؒ نه ته بیان کړے دے هغویؒ اوریدلی دی دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مهٔ جوړوئ نبیذ په تونبی اومرتبان کښے، بیابه حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه وئیل ځان اوساتئ دشنولاکهودلو نه۔

(۵۱۶۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ نَهٰی عَنِ الْمُزَفَّتِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِیْرِ قَالَ قِیْلَ لِاَبِیْ هُرَیْرَةَ مَالْحَنْتَمُ قَالَ الْجِرَارُ الْخُضْرُ.

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دلاکهو او حنتم اولرګی دلوښونه) چه ورته نقیر وئیلے شی دکجورے دلرګی نه په کرولوسره جوړولے شی) چادابو هریره رضی الله تعالی عنه نه تپوس اوکړو چه حنتم څه دے، هغویؓ اووے شین منګے۔

(۵۱۷۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِوَفْدِ عَبْدِالْقَیْسِ اَنْهَاکُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِیْرِ وَالْمُقَیَّرِوَالْحَنْتَمُ الْمَزَادَةُ الْمَجْبُوْبَةُ وَلٰکِنِ اشْرَبْ فِیْ سِقَاءِكَ وَلَوْکِهٖ. [ابوداود]

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه حضرت ﷺ دعبدالقیس ګروپ ته اوفرمائیل بزهٔ تاسو لره منع کوم دتونبے لودشین منګوتی لونقیر لومقیر (روغن دلر لوښی نه اودحنتم سرکتی مشك نه لیکن څښئ دخپل بتکی نه، اوسختوئ هغے لره (ددے د پاره چه چینجی وغیره ورته لارنهٔ دی۔

فائده : نووی علیه الرحمة وئیلی دی داوهم دے دراوی، اوصحیح داده چه منع نهٔ

فرمائیلي ده دحنتم اوسرکتی مشك نه چه هغه په مثل دمټکی وی۔

(۵۱۷۱) عَنْ عَلِیٍّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ یُّنْبَذَ فِی الدُّبَّآءِ وَالْمُزَفَّتِ هٰذَا حَدِیْثُ جَرِیْرٍ وَفِیْ حَدِیْثِ عَبْثَرٍ وَّشُعْبَةَ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الدُّبَّآءِ وَالْمُزَفَّتِ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دحضرت علی نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دتونبے اوپه لاکهی لوښی کښے دنبیذ جوړولو نه۔

(۵۱۷۲) عَنْ اِبْرَاهِیْمَ قَالَ قُلْتُ لِلْاَسْوَدِ هَلْ سَاَلْتَ اُمَّ الْمُؤْمِنِیْنَ عَمَّا یُکْرَهُ اَنْ یُّنْتَبَذَ فِیْهِ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ یَااُمَّ الْمُؤْمِنِیْنَ اَخْبِرِیْنِیْ عَنْ مَّانَهٰی عَنْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ یُّنْتَبَذَ فِیْهِ قَالَتْ نَهَانَا اَهْلَ الْبَیْتِ اَنْ نَّنْتَبِذَ فِی الدُّبَّآءِ وَالْمُزَفَّتِ قَالَ قُلْتُ لَهٗ اَمَاذَکَرَتِ الْحَنْتَمِ وَالْجَرَّ قَالَ اِنَّمَا اُحَدِّثُکَ بِمَاسَمِعْتُ اُحَدِّثُکَ مَالَمْ اَسْمَعْ. [بخاری]

ترجمه: دابراهیم نه روایت دے وائی چه مااسود ته اووے تادمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه تپوس کړے دے چه په کومولوښو کښے نبیذ جوړول مکروه دی هغوی اووے هاں، مااووے اے دمؤمنانو مورماته اوښایئ چه په کومولوخوکښ رسول الله ﷺ نبیذ جوړول منع کړی دی، هغوی اووے مونږ اهل بیتولره منع کړی دی حضرت ﷺ دنبیذ جوړولو نه په تونبے اولاکهی لوښی کښے، ماهغوی ته اووے تاسو دحنتم اومنګوټی ذکر اونۀ کړو) هغوی اووے زۀ خو هغه یانوم څه چه مااوریدلی دی، ولے زۀ هغه بیان کړم کوم چه مااوریدلی نۀ وی۔

(۵۱۷۳) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الدُّبَّآءِ وَالْمُزَفَّتِ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دتونبے اولاکهی لوښونه۔

(۵۱۷۴) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ.

ترجمه: ددے حدیث هم ددے نه دمخکښے حدیث پشان ترجمه ده۔

(۵۱۷۵) عَنْ ثُمَامَةَ ابْنِ حَزْنٍ الْقُشَیْرِیِّ قَالَ لَقِیْتُ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا فَسَاَلْتُهَا عَنِ النَّبِیْذِ

فَحَدَّثَتْنِیْ اَنَّ وَفْدَعَبْدِالْقَیْسِ قَدِمُوْا عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلُوْا النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّبِیْذِ فَنَهَاهُمْ اَنْ یَّنْتَبِذُوْا فِی الدُّبَآءِ وَالنَّقِیْرِ وَالْمُزَفَّةِ وَالْحَنْتَمِ. [نسائی]

ترجمه: دثمامه بن حزن قشیریؒ نه روایت دے وائی چه زۀ دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنهاسره میلاؤشوم اودهغویؒ نه مے تپوس اوکړو دنبیذ په باره کښے، هغویؓ اووے دعبدالقیس خلق درسول الله ﷺ خواله راغلواوهغوئ درسول الله ﷺ نه دنبیذ په باره کښے تپوس اوکړو حضرت ﷺ منع کړو هغوئ لره دتونبے، اوچوبین اولاکهی شین لوښی نه.

(۵۱۷۶) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا عَنْهَا قَالَتْ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدُّبَآءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِیْرِ وَالْمُزَفَّتِ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دتونبے اوشین اوچوبین اولاکهی لوښی نه.

(۵۱۷۷) عَنْ اِسْحٰقَ ابْنِ سُوَیْدٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ اِلَّا اَنَّهٗ جَعَلَ مَکَانَ الْمُزَفَّةِ الْمُقَیَّرَ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته پشان ده په دے کښې دلاکهی په ځائے دروغنی لوښی ذکردے.

(۵۱۷۸) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ قَدِمَ وَفْدُعَبْدِالْقَیْسِ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِیُّ اَنْهَاکُمْ عَنِ الدُّبَآءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِیْرِ وَالْمُقَیَّرِ وَفِیْ حَدِیْثِ حَمَّادٍ جَعَلَ مَکَانَ الْمُقَیَّرِ الْمُزَفَّتِ.

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه دعبدالقیس خلق درسول الله ﷺ خواله راغلوپس حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل زۀ تاسولره منع کوم دتونبے اوشین لوښی لوچوبین اوروغنی نه یادلاکهی نه.

(۵۱۷۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدُّبَآءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّةِ وَالنَّقِیْرِ. [نسائی]

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ دتونبه اودشین لوخی لولاکهی لوچوبین نه.

(۵۱۸۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيْرِ وَاَنْ يُخْلَطَ الْبَلَحُ بِالزَّهْوِ.

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ دتونبے اوشین اولاکھی اوروغنی لوخی نه، دکچه اوپخو کجورو دمیلاو هلواوخوشتولو نه۔

(۵۱۸۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيْرِ وَالْمُزَفَّتِ.

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دتونبے اوچوبین لولاکھی لوښی نه۔

(۵۱۸۲) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْجَرِّ اَنْ يُنْبَذَ فِيْهِ.

ترجمه: دابو سعید رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده په منګوټی کښې دنبیذ جوړولو نه۔

(۵۱۸۳) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالنَّقِيْرِ وَالْمُزَفَّتِ.

ترجمه: دابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده، دتونبے اوشین اوچوبین اولاکھی لوښی نه۔

(۵۱۸۴) عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى اَنْ يُنْتَبَذَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ.

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده۔

(۵۱۸۵) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشُّرْبِ فِي الْحَنْتَمَةِ وَالدُّبَّاءِ وَالنَّقِيْرِ. [نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابو سعید نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ په شین لوښی اوپه تونبے اوچوبین کښے دڅښلو نه۔

(۵۱۸۶) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ جُبَيْرٍ قَالَ اَشْهَدُ عَلٰى ابْنِ عُمَرَ وَابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُمَا شَهِدَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيْرِ.

ترجمه: دسعید بن جبیر رضی الله تعالی نه نه روایت دے وائی چه زهٔ گواهی ورکوم په ابن عمرؓ اوابن عباسؓ باندے، هغوئؓ گواهی ورکړے ده چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دتوبی اوشین لوښی اولاکهی اوچوبین نه.

(۵۱۸۷) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ جُبَيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ نَبِيْذِ الْجَرِّ فَقَالَ حَرَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيْذَ الْجَرِّ فَاَتَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فَقُلْتُ اَلَا تَسْمَعُ مَايَقُوْلُ ابْنُ عُمَرَ قَالَ وَمَا يَقُوْلُ قُلْتُ قَالَ حَرَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيْذَ الْجَرِّ فَقَالَ صَدَقَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا حَرَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيْذَ الْجَرِّ فَقُلْتُ وَاَىُّ شَيْءٍ نَبِيْذُ الْجَرِّ فَقَالَ كُلُّ شَيْءٍ يُصْنَعُ مِنَ الْمَدَرِ. [ابوداود]

ترجمه: دسعید بن جبیرؓ نه روایت دے وائی چه مادعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنه نه دمنگوتی دنبیذ په باره کښے تپوس اوکړو هغویؓ اووے حرام کړی دی رسول الله ﷺ دمنگوتی نبیذ لره، بیازهٔ دابن عباسؓ خواله راغلم اوهغویؓ ته می اووے تاته دی اوریدلی ابن عمرؓ چه څه وائی، هغویٔ اووے څه وائی مااووے هغویؓ وائی چه رسول الله ﷺ منگوتی نبیذ حرام کړی دی هغویٔ اووے ابن عمرؓ رښتیا وائی رسول الله ﷺ حرام کړی دی منگوتی نبیذ لره، ماووے څه دی نبیذ الجر؟ هغویؓ اووے هریوشے چه هغه دخاورے نه جوړشی هغه دمنگوتی په مثل دے.

(۵۱۸۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ فِيْ بَعْضِ مَغَازِيْهِ قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَاَقْبَلْتُ نَحْوَهُ فَانْصَرَفَ قَبْلَ اَنْ اَبْلُغَهُ فَسَاَلْتُ مَاذَا قَالَ قَالُوْا نَهَى اَنْ يُنْتَبَذَ فِي الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ.

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه وسول الله ﷺ په یو جهاد کښے خلقوته خطبه اوروله زهٔ هلته روان شوم، (دخطبے اوریدودپاره) حضرت ﷺ زمادرسیدونه مخکښے فارغ شولو مادخلقونه تپوس اوکړو چه حضرت ﷺ څه اوفرمائیل هغویٔ اووے منع اوفرمائیله حضرت ﷺ دنبیذ دجوړولونه په تونبے اولاکهی لوښی کښے.

(۵۱۸۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا بِمِثْلِ حَدِیْثِ مَالِکٍ وَلَمْ یَذْکُرُوْا فِیْ بَعْضِ مَغَازِیْهِ اِلَّا مَالِکٌ وَّاُسَامَةُ. [ابن ماجه]

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے نه ددے پورته حدیث پشان ده۔

(۵۱۹۰) عَنْ ثَابِتٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَبِیْذِ الْجَرِّ قَالَ فَقَالَ قَدْزَعَمُوْا ذَاکَ قُلْتُ اَنَهٰی عَنْهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَدْزَعَمُوْا ذَاکَ. :

ترجمه: دثابت نه روایت دے وائی چه ما عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه ته لووے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دمنکوتی دنبیذ نه، هغویؓ اووے خلق داسے وائی، مالووے اے حضرت منع فرمائیلے ده؟ هغویؓ اووے خلق داسے وائی۔

(۵۱۹۱) عَنْ طَاؤُسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِّابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَهٰی نَبِیُّ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَبِیْذِ الْجَرِّ قَالَ نَعَمْ ثُمَّ قَالَ طَاؤُسٌ وَاللهِ اِنِّیْ سَمِعْتُهُ مِنْهُ.

ترجمه: دطاؤس رضی الله تعالی نه نه روایت دے یو سړی ابن عمر رضی الله تعالی عنه ته اووے اے رسول الله ﷺ منع کړے ده منکوتی دنبیذ نه؟ هغویؓ اووے هاں طاؤس اووے قسم په الله تعالی چه ما داسے اوریدلی دی دابن عمر رضی الله تعالی عنه نه۔

(۵۱۹۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا جَآءَ فَقَالَ اَنَهٰی النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ یُّنْبَذَ فِی الْجَرِّ وَالدُّبَّاءِ قَالَ نَعَمْ.

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو سړی دهغویؓ خواله راغے اواوئے فرمائیل اے رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده په منکوتی لوتونبی کښے دنبیذ جوړولو نه، هغویؓ اووے هاں

(۵۱۹۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الْجَرِّ وَالدُّبَّاءِ.

ترجمه: دابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دمنکوتی اوتونبے نه۔

(۵۱۹۴) عَنْ طَاؤُسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ کُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَجَآءَهُ

رَجُلٌ فَقَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَبِيْذِ الْجَرِّ وَالدُّبَّآءِ وَالْمُزَفَّةِ قَالَ نَعَمْ.

ترجمه: دطاوس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زه دابن عمررضی الله تعالی عنه سره ناست وم چه په دے کښے یو سړے راغے اواوئے وئیل، ایا رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دنبیذنه لودتونے نه اودمرتبان نه، هغوئ اووے هان،منع ئے کړے ده۔

(۵۱۹۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ يَقُوْلُ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحَنْتَمِ وَالدُّبَّآءِ وَالْمُزَفَّتِ قَالَ سَمِعْتُهُ غَيْرَمَرَّةٍ.

ترجمه: دحضرت ابن عمررضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ دشین لوخی، اودتونبے، اودلاکهی نه، محارب وائی مادا د ابن عمررضی الله تعالی عنه څو ځله اوریدلی دی۔

(۵۱۹۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ قَالَ وَأُرَاهُ وَالنَّقِيْرِ.

ترجمه: ترجمه هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه۔

(۵۱۹۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا يَقُوْلُ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَرِّ وَالدُّبَّآءِ وَالْمُزَفَّةِ وَقَالَ انْتَبِذُوْا فِي الْاَسْقِيَةِ.

ترجمه: دابن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے منع کړے ده رسول الله ﷺ دمنګوتی اوتونبی، لولاکهی لوښی نه اوفرمائیلی ئے دی نبیذ جوروئ په مشکیزوکښے۔

(۵۱۹۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا يُحَدِّثُ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحَنْتَمَةِ فَقُلْتُ مَاالْحَنْتَمَةُ قَالَ الْجَرَّةُ. [نسائی]

ترجمه: دابن عمررضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دحنتمے نه ماووے حنتمه څه دے هغوئ اووے وروکے منګوټے دے۔

(۵۱۹۹) عَنْ زَاذَانَ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا حَدِّثْنِيْ بِمَانَهَى عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْاَشْرِبَةِ بِلُغَتِكَ وَفَسِّرْهُ لِيْ بِلُغَتِنَا فَاِنَّ لَكُمْ لُغَةً سِوٰى لُغَتِنَا فَقَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحَنْتَمِ وَهِيَ الْجَرَّةُ وَعَنِ الدُّبَّآءِ وَهِيَ الْقَرْعَةُ وَعَنِ الْمُزَفَّةِ وَهُوَالْمُقَيَّرُ وَعَنِ النَّقِيْرِ وَهِيَ النَّخْلَةُ تُنْسَحُ نَسْحًا وَتُنْقَرُنَقْرًا وَاَمَرَاَنْ يُّنْتَبَذَ فِي الْاَسْقِيَةِ. [ترمذی ،نسائی]

ترجمه: دزاذانؒ نه روایت دے وائی چه ما حضرت ابن عمررضی الله تعالی عنهما ته اووے چه حدیث بیان کړه ماته دهغه شرابو په باره کښے چه دهغے نه جناب رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده په خپله ژبه کښے او ترجمه اوکړه دهغے زمونږ په ژبه کښے ولے چه ستاسو ژبه زمونږ دژبے نه جدا ده، هغویؓ اووے منع کړے ده حضرت ﷺ دحنتم نه او هغه منګوټے دے، اودبا، نه او هغه تونبه ده، اودمزفت نه او هغه روغنی دے اودنقیر نه هغه دکهجورے لرګے دے چه دیټ توګلونه پس په ګروولوګرولو سره جوړ پرې، اوحکم کړے دے حضرت ﷺ دنبیذ جوړولو په مشکونو کښے۔

(۵۲۰۱) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ الْمُسَيِّبِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ عَبْدَاللهِ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ عِنْدَهٰذَا الْمِنْبَرِ وَاَشَارَ اِلٰى مِنْبَرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ وَفْدُعَبْدِالْقَيْسِ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلُوْهُ عَنِ الْاَشْرِبَةِ فَنَهَاهُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيْرِ وَالْحَنْتَمِ فَقُلْتُ يَااَبَامُحَمَّدٍ وَالْمُزَفَّتِ وَظَنَنَّا اَنَّهُ نَسِيَهُ فَقَالَ لَمْ اَسْمَعْهُ يَوْمَئِذٍ مِّنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا وَقَدْكَانَ يَكْرَهُ. [نسائی]

ترجمه: دسعیدبن المسیبؒ نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه ددے منبر په خواه کښے او اشاره ئے اوکړه درسول الله ﷺ دمنبر په طرف، چه دعبدالقیس خلق راغلو درسول الله ﷺ خواله، اوحضرت ﷺ ته ئے دشرابو په باره کښے تپوس اوکړو نو حضرت ﷺ منع کړو خو هغوئ لره دتونبے اوچوبین اوحنتم نه، ما اووے اے ابومحمد اودلاکهی نه، زمونږ داخیال وو چه دده به هیرشوی وی، هغویؓ اووے په دغه ورځ مادلاکهی لفظ دعبدالله بن عمرؓ نه نهٔ دے اوریدلے، لیکن هغویؓ به لاکهی لره هم مکروه ګنړلو۔

(۵۲۰۲) عَنْ جَابِرٍ وَّابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ النَّقِيْرِ وَالْمُزَفَّتِ وَالدُّبَّاءِ. [نسائی]

ترجمه: دجابر اوابن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دچوبین اولاکهی اوتونبے دلوښی نه۔

(۵۲۰۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهٰى عَنِ

الْجَرِّ وَالدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ :

ترجمه : دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه منع ئے فرمائیله، دتنبا (وروکے منگوټی) اوتونبی اولاکھی نه۔

(۵۲۰۴) قَالَ اَبُوالزُّبَيْرِ وَسَمِعْتُ جَابِرَابْنِ عَبْدِاللهِ يَقُوْلُ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَرِّ وَالْمُزَفَّةِ وَالنَّقِيْرِ وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَالَمْ يَجِدْشَيْئًا يُنْتَبَذُ لَهُ فِيْهِ نُبِذَ لَهُ فِيْ تَوْرٍ مِّنْ حِجَارَةٍ.

ترجمه : ابوالزبیرؓ وائی مادجابر رضی الله تعالی عنه نه اوریدلی دی چه منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ دمنگوټی نه اولاکھی نه اوچوبین لوښی نه اوحضرت ﷺ ته چه به هرکله څه لوښی میلاؤ نهٔ شو دنبیذ جوړولودپاره نونبیذ به جوړولے شو دحضرت ﷺ دپاره دګټے په بغری کښے۔

(۵۲۰۵) عَنْ جَابِرٍرَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُنْتَبَذُ لَهُ فِيْ تَوْرٍ مِّنْ حِجَارَةٍ. [نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دجابرؓ نه روایت دے چه درسول الله ﷺ دپاره به نبیذ جوړولے شو دګټے په بغری کښے۔

(۵۲۰۶) عَنْ جَابِرٍرَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ يُنْبَذُلِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سِقَآءٍ فَاِذَالَمْ يَجِدُوْا سِقَآءً نُبِذَلَهُ فِيْ تَوْرٍ مِّنْ حِجَارَةٍ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ وَاَنَااَسْمَعُ لِاَبِيْ الزُّبَيْرِ قَالَ مِنْ بَرَامٍ قَالَ مِنْ بَرَامٍ. [ابوداود]

ترجمه : دجابررضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه درسول الله ﷺ دپاره به نبیذ جوړولے شو په یو مشك کښے هرکله چه به مشك میلاؤ نهٔ شو نودګټے په بغری کښے به ئے جوړول، بعضو نیلی دی او ما دا ابوالزبیرؓ نه اوریدلی دی هغهٔ وئیلو هغه بغریٔ دابرلم وه یعنی دګټے۔

(۵۲۰۷) عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيْذِ اِلَّافِيْ سِقَآءٍ فَاشْرَبُوْا فِي الْاَسْقِيَةِ كُلِّهَا وَلَاتَشْرَبُوْا مُسْكِرًا.

ترجمه : دبریده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ماتاسو له منع کړی وهٔ دنبیذ جوړولو نه سوا د مشك نه اوپه لوښو کښے اوس په ټولو لوښو کښے جوړوئ

لیکن مهٔ څښئ: هغه شراب چه په هغې کښې نشه وی.

(۵۲۰۸) عَنْ بُرَيْدَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَهَيْتُكُمْ عَنِ الظُّرُوْفِ وَاِنَّ الظُّرُوْفَ اَوْظَرْفًا لَا يُحِلُّ شَيْئًا وَلَا يُحَرِّمُهٗ وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ.

ترجمه: دحضرت بریده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ لوفرمائیل ما تاسو منع کړی وئ دلوښونه ،لیکن په لوښو سره څه څیز حلال یاحرام شوے نهٔ دے، او هریونشه کونکے څیز حرام دے.

(۵۲۰۹) عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنِ الْاَشْرِبَةِ فِيْ ظُرُوْفِ الْاَدَمِ فَاشْرَبُوْا فِيْ كُلِّ وِعَاءٍ غَيْرَ اَنْ لَا تَشْرَبُوْا مُسْكِرًا.

ترجمه: دبریدهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ما تاسو لره منع کړی وئ دچمړے په لوښو کښے دڅښلو نه اوس څښئ په هر یو لوښی کښې خو مهٔ څښئ نشه راوستونکی څیزونه.

(۵۲۱۰) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّبِيْذِ فِي الْاَوْعِيَةِ قَالُوْا لَيْسَ كُلُّ النَّاسِ يَجِدُ فَاَرْخَصَ لَهُمْ فِي الْجَرِّ غَيْرَ الْمُزَفَّتِ. [بخاری ، ابو داود ، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمروؓ نه روایت دے وائی چه هرکله منع کړو رسول الله ﷺ په لوښو کښے نبیذ جوړولو لره، نو خلقو اووے دهرسړی سره دچمړے مشك نهٔ وی، بیا حضرت ﷺ دمنګی اجازت ورکړو خو چه لاکهی نهٔ وی.

بَابُ بَيَانِ اَنَّ كُلَّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَاَنَّ كُلَّ خَمْرٍ حَرَامٌ.

هر نشه کونکے شراب خمر دے او هر خمر حرام دے.

(۵۲۱۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِتْعِ فَقَالَ كُلُّ شَرَابٍ اَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ. [بخاری ، ترمذی ، نسائی ،]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه درسول الله

ﷺ نه خلقو دبتع په باره کښې تپوس اوکړو (بتع دشهد شرابو ته وائی) حضرت ﷺ اوفرمايل چه کوم څيزونو کښې چه نشه وی هغه حرام دی۔

(۵۲۱۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا تَقُولُ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِتْعِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ.

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دپورته حديث پشان ده۔

(۵۲۱۳) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ سُفْيَانَ وَصَالِحٍ سُئِلَ عَنِ الْبِتْعِ وَهُوَ فِي حَدِيثِ مَعْمَرٍ وَهُوَ فِي حَدِيثِ صَالِحٍ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ شَرَابٍ مُسْكِرٍ حَرَامٌ.

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دپورته حديث پشان ده۔

(۵۲۱۴) عَنْ أَبِي مُوسٰى قَالَ بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَمُعَاذَ ابْنَ جَبَلٍ إِلَى الْيَمَنِ فَقُلْتُ يَارَسُولَ اللهِ إِنَّ شَرَابًا يُصْنَعُ بِأَرْضِنَا يُقَالُ لَهُ الْمِزْرُ مِنَ الشَّعِيرِ وَشَرَابًا يُقَالُ لَهُ الْبِتْعُ مِنَ الْعَسَلِ فَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ.

ترجمه: دابو موسى رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ زهٔ اومعاذ ؓ ديمن په طرف ليږلو ما اووے، يارسول الله ﷺ زمونږ په ملك كښې يو قسم شراب څښلے شی چه ورته مزر وائی او هغه دوربشو نه جوړيږی، په انګريزئ كښې هغے ته (بير) وئيلے شی، او يو قسم شراب دګبين نه جوړيږی چه ورته بتع وئيلے شی، حضرت ﷺ اوفرمائيل هر نشه كونكی شراب حرام دی۔

(۵۲۱۵) عَنْ أَبِي مُوسٰى رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ وَمُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ لَهُمَا بَشِّرَا وَيَسِّرَا وَعَلِّمَا وَلَا تُنَفِّرَا وَأُرَاهُ قَالَ وَتَطَاوَعَا قَالَ فَلَمَّا وَلّٰى رَجَعَ أَبُو مُوسٰى رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) إِنَّ لَهُمْ شَرَابًا مِنَ الْعَسَلِ يُطْبَخُ حَتّٰى يَعْقِدَ وَالْمِزْرُ يُصْنَعُ مِنَ الشَّعِيرِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَسْكَرَ عَنِ الصَّلٰوةِ فَهُوَ حَرَامٌ.

ترجمه: دابو موسى رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ هغوئ ؓ لره اومعاذ ؓ لره ديمن په طرف ليږلو، او هغوئ ؓ دواړو ته ئے اوفرمائيل خلق خوشحاله ساتئ او آسانی پيدا كوئ او ددين خبرے ورته ښايئ اونفرت مهٔ غورځوئ او دواړه په اتفاق سره اوسيږئ هر كله چه

دهغوئ شاشوه روان شونو حضرت ابوموسیٰ راؤگرځیدو اوعرض ئے اوکړو یارسول الله ﷺ دیمن والاؤ سره یوقسم شراب وی چه هغه دشهد نه پخولے شی تردے پورے چه جم شی، اویوقسم دمزر شراب وی چه هغه دوربشونه جوړولے شی حضرت ﷺ اوفرمائیل کوم شراب چه دمانځه نه بنده غافله کوی هغه حرام دی۔

(۵۲۱۶) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ بَعَثَنِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَمُعَاذًا اِلَی الْیَمَنِ فَقَالَ ادْعُوَا النَّاسَ وَبَشِّرَا وَلَاتُنَفِّرَا وَیَسِّرَا وَلَاتُعَسِّرَا فَقُلْتُ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَفْتِنَا فِیْ شَرَابَیْنِ کُنَّا نَصْنَعُهُمَا بِالْیَمَنِ الْبِتْعُ وَهُوَمِنَ الْعَسَلِ یُنْبَذُ حَتّٰی یَشْتَدَّ وَالْمِزْرُ وَهُوَمِنَ الذُّرَةِ وَالشَّعِیْرِ یُنْبَذُ حَتّٰی یَشْتَدَّ قَالَ وَکَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَدْاُعْطِیَ جَوَامِعَ الْکَلِمِ بِخَوَاتِمِهٖ فَقَالَ اَنْهٰی عَنْ کُلِّ مُسْکِرٍ اَسْکَرَعَنِ الصَّلٰوةِ.

ترجمه: دابوموسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ماله اومعاذؓ دیمن په طرف لیږلو نواوئے فرمائیل راغواړئ خلقولره (داسلام په طرف) اوخوشحاله ئے ساتئ اونفرت پکښے مهٔ اچوئ اوآسانی ورسره کوئ اوپه تکلیف کښے ئے مهٔ غورځوئ، ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ مونږ له فتوی راکړه ددوو شرابوپه باره کښے چه هغے لره مونږ جوړوو په یمن کښے یوخوبتع دے چه دشهد نه جوړیږی هرکله چه هغه اوویشولے شی - دویم قسم مزر چه دجوارو یادوربشوی داخوشتوی ترهغے پورے چه تیزشی، اورسول الله ﷺ هغه خبرے ورکړے وے چه په هغے کښے الفاظ لږ اومعنے زیاتے وی حضرت ﷺ اوفرمائیل چه زهٔ منع کوم هرنشه راوستونکو شراب لره چه هغه بنده دمانځه نه غافله کوی۔

(۵۲۱۷) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا قَدِمَ مِنْ جَیْشَانَ وَجَیْشَانُ مِنَ الْیَمَنِ فَسَئَلَ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَرَابٍ یَشْرَبُوْنَهٗ بِاَرْضِهِمْ مِنَ الذُّرَةِ یُقَالُ لَهُ الْمِزْرُ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَوَمُسْکِرٌ هُوَقَالَ نَعَمْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کُلُّ مُسْکِرٍ حَرَامٌ اِنَّ عَلَی اللّٰهِ عَهْدًا لِمَنْ یَشْرَبُ الْمُسْکِرَ اَنْ یَسْقِیَهٗ مِنْ طِیْنَةِ الْخَبَالِ قَالَ عَرَقُ اَهْلِ النَّارِ اَوْعُصَارَةُ اَهْلِ النَّارِ. [نسائی]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یوسړے دجیشان نه راغے لوجیشان یوښهر دے په یمن کښے، هغه تپوس لوکړو دهغه شرابوپه باره کښے چه دهغوئ په

ملك كښې څښلې شو او هغه به دجو ارونه جوړيدو او هغې ته به ئې مزر وئيلو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل په هغې كښې نشه شته دے هغه اووے هاں حضرت ﷺ اوفرمائيل څه چه نشه كوى هغه حرام دى، اوالله تعالى وعده كړے دے څوك چه نشه كوى يعنى څښى په هغه به "طينة الخبال" څكولے شى (په آخرت كښې) خلقو عرض اوكړو چه طينة الخبال څه شے دے؟ يارسول الله ﷺ حضرت ﷺ اوفرمائيل دا دجهنم يانو خوله ده۔

(۵۲۱۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَمَاتَ وَهُوَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ.

[ابوداود ، ترمذى ، نسائى]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنهما نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دى هر نشه كونكے څكاك خمر دى او هر نشه كونكى شراب حرام دى لوكوم بنده چه په دنيا كښې شراب وڅښى او پياد څښلو څښلو په دوران كښې مړشى اوتوبه كړے ئې نۀ وى، نو هغه ته به په آخرت كښې شراب نۀ شى وركولے۔

(۵۲۱۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ.

ترجمه : دابن عمر رضى الله تعالى عنهما نه روايت چه جناب رسول الله ﷺ فرمائيلى دى، هر يو نشه كونكے څيز خمر دے او نشه كونكى شراب حرام دى۔

(۵۲۲۰) عَنْ مُوْسَى ابْنِ عُقْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته حديث پشان ده۔

(۵۲۲۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ وَلَآ اَعْلَمُهٗ اِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَ كُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ.

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنهما نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلى دى، هر نشه كونكے څيز خمر دے او هر خمر حرام دے۔

فائده : دا داول شكل رومبے ضرب دے، لو دهغے نتيجه دا ده چه هر يو نشه راوستونكے

ځیز حرام دی، په دې کښې څه خصوصیت نشته دې چه هغه دې دانګورو وی یادورېشو یادجوارو خو چه نشه کوی هغه حرام دی، اوس ځنې خلق داوائی چه دحدیث نه دهغه مقدار حرمت وتلې دې چه په کوم سره نشه راځی اودلږ حرمت ترې نۀ دې وتلې ددې جواب دادې چه په بل حدیث کښې صفاموجود دی چه دکوموشرابو زیات مقدار نشه کوی دهغې لږ مقدار هم حرام دې نواوس هیڅ شك وشبهه باقی پاتې نۀ شوه۔

(۵۲۲۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا حُرِمَهَا فِي الْاٰخِرَةِ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه په دنیاکښې شراب څښی هغه به په آخرت کښې دشرابونه محرومه وی۔

(۵۲۲۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَلَمْ يَتُبْ مِنْهَا حُرِمَهَا فِي الْاٰخِرَةِ فَلَمْ يُسْقَهَا قِيْلَ لِمَالِكٍ رَّفَعَهُ قَالَ نَعَمْ.

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دې وائی څوك چه په دنیاکښې شراب څښی اوتوبه ترې اونه باسی، نو هغه به په آخرت کښې دشرابونه محرومه وی اوهغه به نه شی څښلې، دامام مالكؒ نه تپوس اوکړو چه عبدالله دې حدیث لره مرفوع کړې دې هغویؒ اووې هاں۔

(۵۲۲۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا اَنْ يَّتُوْبَ. [ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه په دنیاکښې شراب څښی هغه به په آخرت کښې نۀ څښی مګرهله چه (په دنیاکښې) توبه اوباسی۔

(۵۲۲۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ عُبَيْدِاللّٰهِ.

ترجمه: ترجمه ددې هم دپورته حدیث پشان ده۔

﴿ بَابُ اِبَاحَةِ النَّبِيْذِ الَّذِیْ لَمْ يَشْتَدَّ وَلَمْ يَصِرْ مُسْكِرًا. ﴾

په هغوم نبیذ څښل چه تیزی راغلی نه وی اونشه په هغی څښل نشه وی هغه حلال دی.

(۵۲۲۶) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا يَقُوْلُ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْتَبَذُ لَهُ اَوَّلَ اللَّيْلِ فَيَشْرَبُهُ اِذَا اَصْبَحَ يَوْمَهُ ذٰلِكَ وَاللَّيْلَةَ الَّتِیْ تَجِیْءُ وَالْغَدَ وَاللَّيْلَةَ الْاُخْرٰی وَالْغَدَ اِلَی الْعَصْرِ فَاِنْ بَقِیَ شَیْءٌ سَقَاهُ الْخَادِمَ اَوْ اَمَرَ بِهٖ فَصُبَّ. [ابو داود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ دپاره چه به نبیذ به اوله شپه کښے خوشته (یعنی نچوړ) کړل او حضرت ﷺ به سحر او ځښل بیابه ئے سحر او ځښل او بیائے په دریمه شپه او سحر او ځښل د ماز یګر پورے ددے نه پس چه به کوم بچ پاتے شول نو هغه به ئے په خادم او ځښل یا به ئے حکم اوکړو نو هغه به ئے توئ کړل۔

فائده: کچرے په هغے کښے به تیزی نۀ وه راغلی اودنشے څه نښه به پکښے ظاهر شوے نۀ وه، نو خادم ته به ئے ورکولو ورنه توئ به ئے کړو، غرض دا چه حضرت ﷺ دریمے ورځ پورے ځښلو لے چه په دومره موده کښے به تیزی نۀ راتله او هغه به په شان د شربت وو۔

(۵۲۲۷) عَنْ يَحْيَی الْبَهْرَانِیِّ قَالَ ذَكَرُوا النَّبِيْذَ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْتَبَذُ لَهُ فِیْ سِقَاءٍ قَالَ شُعْبَةُ مِنْ لَيْلَةِ الْاِثْنَيْنِ فَيَشْرَبُهُ يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ وَالثُّلَاثَاءِ اِلَی الْعَصْرِ فَاِنْ فَضَلَ مِنْهُ شَیْءٌ سَقَاهُ الْخَادِمَ اَوْ صَبَّهُ.

ترجمه: د یحیی بهرانیؒ نه روایت دے وائی چه خلقو د عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه په مخکښے د نبیذ ذکر اوکړو، هغویؒ اووے د رسول الله ﷺ دپاره به نبیذ جوړولے شو په مشك کښے شعبهؒ وائی د ګل په شپه بیا به حضرت ﷺ ځښلو هغے لره د ګل په ورځ اودنهه (منګل) په ورځ د ماز یګره پورے ددے نه پس چه به څه باقی پاتے شو هغه به ئے په خادم او ځښل یا به ئے توئ کړل۔

(۵۲۲۸) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْقَعُ لَهُ الزَّبِيْبُ فَيَشْرِبُهُ الْيَوْمَ وَالْغَدَوَ بَعْدَ الْغَدِ اِلٰى مَسَآءِ الثَّالِثَةِ ثُمَّ يَاْمُرُبِهٖ فَيُسْقٰى اَوْيُهْرَاقُ.

ترجمه: دابـن عباس رضـى الله تـعالى عـنهـما نه روايت دے واثى چه رسول الله ﷺ دپاره به انگورنچوړكړے شو حضرت ﷺ به دهغے نه په هغه اوڅښلو بیاپه دویمه ورځ بیاپه دریمه ورځ به ئے دمابنامه پورے څښلو. بیابه حضرت ﷺ حكم اوكړو دهغے دڅښلو(هركله چه به پكښے تيزى نه وه راغلے) يابه ئے دغورځولو حكم اوكړو (هركله چه به پكښے تيزى راغلے وه)

(۵۲۲۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْبَذُ لَهُ الزَّبِيْبُ فِي السِّقَآءِ فَيَشْرَبُهُ يَوْمَهُ وَالْغَدَوَ بَعْدَ الْغَدِفَاِذَا كَانَ مَسَآءُ الثَّالِثَةِ شَرِبَهُ وَسَقَاهُ فَاِنْ فَضَلَ شَيْءٌ اَهْرَاقَهُ.

ترجمه: دحضرت ابـن عباس رضى الله تعالى عنهما نه روايت دے واثى چه درسول الله ﷺ دپاره بـه انگـورنـچـوړولے شوپه مشك كښے حضرت ﷺ به په هغه ورځ اوڅښلوبیاپه دوئمه ورځ بيـاپـه دريـمـه ورځ به ئے مابنام اوڅښلواونوروته به ئے هم وركړواوڅه چه به بچ پاتے شو هغه به ئے توئ كړلو.

(۵۲۳۰) عَنْ يَحْيَى النَّخَعِيِّ قَالَ سَاَلَ قَوْمٌ نِ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ بَيْعِ الْخَمْرِ وَشِرَآئِهَا وَالتِّجَارَةِ فِيْهَا فَقَالَ اَمُسْلِمُوْنَ اَنْتُمْ قَالُوْا نَعَمْ قَالَ فَاِنَّهُ لَايَصْلُحُ بَيْعُهَا وَلَاشِرَاؤُهَا وَلَاالتِّجَارَةُ فِيْهَا قَالَ فَسَئَلُوْهُ عَنِ النَّبِيْذِ فَقَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ ثُمَّ رَجَعَ وَقَلْنَبَذَ نَاسٌ مِّنْ اَصْحَابِهٖ فِيْ حَنَاتِمَ وَنَقِيْرٍ وَّدُبَّاءٍ فَاَمَرَبِهٖ فَاُهْرِيْقَ ثُمَّ اَمَرَبِسِقَآءٍ فَجُعِلَ فِيْهِ زَبِيْبٌ وَّمَآءٌ فَجُعِلَ مِنَ اللَّيْلِ فَاَصْبَحَ فَشَرِبَ مِنْهُ يَوْمَهُ ذٰلِكَ وَلَيْلَةَ الْمُسْتَقْبِلَةَ وَمِنَ الْغَدِ حَتّٰى اَمْسٰى فَشَرِبَهُ وَسَقٰى فَلَمَّا اَصْبَحَ اَمَرَبِمَابَقِيَ مِنْهُ فَاُهْرِيْقَ.

ترجمه: ديـحيـى نـخـعىؒ نـه روايت دے څه خلقودابن عباس رضى الله تعالى عنهما نه تپوس اوكړو دشرابودبيعے اوتجارت په باره كښے، هغوئؓ اووے تاسو مسلمان يئ، هغوئ اووے هاں ابن عباس رضى الله تـعالى عـنهـما اووے نونـهٔ ددے بيعه درسته ده نـهٔ خريدنـهٔ تجارت دهغے، بيـاخلقـودنبيـذ پـه بـاره كښے دهـغوئ نـه تپوس اوكړو ؟ هغوئؓ اووے رسول الله ﷺ په

سفرلووو تو لوبیا واپس شو نو خلقو دهغوی ﷺ داصحابو نه نبیذ جوړ کړی وو په شنو منګو کښے اوپه چوبین لوښی کښے اوپه تونبے کښے حضرت ﷺ حکم اوکړو هغه تویٔ کړے شو بیا حضرت ﷺ حکم اوکړو اوپه یو مشك کښے انګوراواوبه واچولے شو اوبیا تو له شپه دغه شان پراته وو سحر حضرت ﷺ دهغے نه اوڅښلو اوبیا دویمے شپے لره اودویمے ورځی دسحر نه دمابنامه پورے ئے اوڅکلو اوئے څکولو بیا په دریمه ورځ چه کوم پاتے شو حضرت ﷺ حکم اوکړو هغه تویٔ کړے شو۔

(۵۲۳۱) عَنْ ثُمَامَةَ يَعْنِي ابْنَ حَزْنِ نِ الْقُشَيْرِيِّ قَالَ لَقِيتُ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَسَأَلْتُهَا عَنِ النَّبِيْذِ فَدَعَتْ عَائِشَةُ جَارِيَةً حَبَشَةً فَقَالَتْ سَلْ هٰذِهٖ إِنَّهَا كَانَتْ تُنْبِذُ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتِ الْحَبَشِيَّةُ كُنْتُ اَنْبِذُلَهٗ فِي سِقَآءٍ مِّنَ اللَّيْلِ وَاُوْكِيْهِ وَاُعَلِّقُهٗ فَاِذَا اَصْبَحَ شَرِبَ مِنْهُ.

ترجمه: دثمامه بن حزن قشیریؒ نه روایت دے وائی چه زهٔ دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها سره میلاؤ شوم دهغویؓ نه می دنبیذ په باره کښے تپوس اوکړو هغویؓ یوه حبشی وینځه رااوغوښته اوائے وئیل ددے نه تپوس اوکړه، هغے به درسول الله ﷺ دپاره نبیذ جوړولو، هغے اووے مابه دحضرت ﷺ دپاره په مشك کښے دشپے نبیذ خوشتولو اوبنه به می اوزوړلو اوبیابه می موړی ته زوړند کړو سحربه حضرت ﷺ دهغے نه څښلو۔

(۵۲۳۲) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ كُنَّا نَنْبِذُ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سِقَآءٍ يُوْكٰى اَعْلَاهُ وَلَهٗ عَزْلَاءُ نَنْبِذُهٗ غُدْوَةً فَيَشْرَبُهٗ عِشَآءً وَنَنْبِذُهٗ عِشَآءً فَيَشْرَبُهٗ غُدْوَةً. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه مونږ به درسول الله ﷺ دپاره په یو مشك کښے نبیذ خوشتولو اوبنه به مومړلو، په هغے کښے سورے وو سحربه مو خوشته کړل اوماښام به حضرت ﷺ اوڅښل اوماښام به مو خوشته کړل نو سحربه حضرت ﷺ اوڅکل۔

(۵۲۳۳) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ دَعَا اَبُوْا سَعِيْدِ نِ السَّاعِدِيُّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عُرْسِهٖ فَكَانَتِ امْرَاَتُهٗ يَوْمَئِذٍ خَادِمَهُمْ وَهِيَ الْعَرُوْسُ قَالَ سَهْلٌ تَدْرُوْنَ مَاسَقَتْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْقَعَتْ لَهٗ تَمَرَاتٍ مِّنَ اللَّيْلِ فِي تَوْرٍ فَلَمَّا اَكَلَ سَقَتْهُ

اِیَّاهُ. [بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه: د سهل بن سعد رضي الله عنه نه روایت دے وائی چه ابو اسید ساعدی رضي الله عنه په خپل واده کښے رسول الله ﷺ له دعوت ورکړو، او د هغوی رضي الله عنها ښځے په دغه ورځ کار کولو او هغه ناوے هم وه، سهل رضي الله عنه اووے ته خبرنے دی په رسول الله ﷺ د شپے څه څښلی وو دی یو څو کهجورے خوشتے کړے وے په منګی کښے، هرکله چه حضرت ﷺ غله او خوړه نو د هغے شربت ئے په حضرت ﷺ او څښلو۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه کوربه د ځنے میلمنو تخصیص کولے شی په ښه خوراك سره یا شربت سره، په دے شرط چه نور ملګری ئے نهٔ خفه کیږی او صحابه کرامو خوبه د رسول الله ﷺ په زیات قدر او خاطر کولو سره خوشحالیدلو۔

(۵۲۳۴) عَنْ سَهْلٍ يَقُوْلُ اَتٰى اَبُوْ اُسَيْدِ السَّاعِدِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ وَلَمْ يَقُلْ فَلَمَّا اَكَلَ سَقَتْهُ اِيَّاهُ. [بخاری]

ترجمه: د دے حدیث ترجمه هم د دے نه د پورته حدیث پشان ده۔

(۵۲۳۵) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ وَقَالَ فِيْ تَوْرٍ مِّنْ حِجَارَةٍ فَلَمَّا فَرَغَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الطَّعَامِ فَسَقَتْهُ تَخُصُّهُ بِذٰلِكَ. [بخاری]

ترجمه: ترجمه د دے هم د پورته پشان ده، په دے کښے دادی چه حضرت ﷺ د طعام خوړلو نه فارغ شولو نو دغے ښځے میلاؤ کړے هغه کجورے لره او صرف په حضرت ﷺ ئے هغه اوڅکولے۔

(۵۲۳٦) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ ذُكِرَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَاَةٌ مِّنَ الْعَرَبِ فَاَمَرَ اَبَا اُسَيْدٍ اَنْ يُّرْسِلَ اِلَيْهَا فَاَرْسَلَ اِلَيْهَا فَقَدِمَتْ فَنَزَلَتْ فِيْ اُجُمِ بَنِيْ سَاعِدَةَ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى جَآءَهَا فَدَخَلَ عَلَيْهَا فَاِذَا امْرَاَةٌ مُّنَكِّسَةٌ رَّاْسَهَا فَلَمَّا كَلَّمَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْكَ قَالَ قَدْ اَعَذْتُكِ مِنِّيْ فَقَالُوْا لَهَا اَتَدْرِيْنَ مَنْ هٰذَا فَقَالَتْ لَا فَقَالُوْا هٰذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَآءَكِ لِيَخْطُبَكِ فَقَالَتْ اَنَا كُنْتُ اَشْقٰى مِنْ ذٰلِكَ قَالَ سَهْلٌ فَاَقْبَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ حَتّٰى جَلَسَ فِيْ سَقِيْفَةِ بَنِيْ سَاعِدَةَ هُوَ وَاَصْحَابُهٗ ثُمَّ قَالَ

اَسْقِنَا لِسَهْلٍ قَالَ فَاَخْرَجْتُ لَهُمْ هٰذَا الْقَدَحَ فَاَسْقَيْتُهُمْ فِيْهِ قَالَ اَبُوْحَازِمٍ فَاَخْرَجَ لَنَاسَهْلٌ ذٰلِكَ الْقَدَحَ فَشَرِبْنَا فِيْهِ ثُمَّ اسْتَوْهَبَهُ بَعْدَذٰلِكَ عُمَرُ وَابْنُ عَبْدِالْعَزِيْزِ فَوَهَبَهُ لَهُ وَفِيْ رِوَايَةِ اَبِيْ بَكْرِ ابْنِ اِسْحَاقَ قَالَ اَسْقِنَا يَاسَهْلُ. [بخاری]

ترجمه: د سهل بن سعدؓ نه روایت دے وائی چه درسول الله ﷺ په مخکښے دعربودیوے ښځے ذکراوشو حضرت ﷺ ابواسیدؓ ته حکم اوکړودپیغام ورکولو. هغوئؓ پیغام ورکړو اوهغه راغله اودبنی ساعده په قلعه ګانو کښے کوزه شوه. رسول الله ﷺ راااووتو اودهغے خوا له ئے تشریف یوړلو، هرکله چه هلته اورسیدونو څه ګوری چه یوه ښځه ئے سرښکته کړے لولیده حضرت ﷺ دهغے سره خبره اوکړه. هغے اووے زهٔ په الله تعالی سره پناه غوارم ستانه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاځپل ځان بچ کړلوزمانه (یعنی اوس زهٔ ستاسره څه نهٔ کوم) خلقو هغے ته لووے تاوپیژندو چه داڅوك دے؟ هغے اووے زهٔ ئے نهٔ پیژنم خلقو اووے داالله تعالی رسول ﷺ دے رحمت اوسلام دی وی په ده باندے هغوئ ﷺ تشریف راوړے وو ستاسره دنسبت کولو دپاره، هغے اووے زهٔ ډیره بدقسمته وم (ځکه چه ماپناه اوغوښته دهغوئ ﷺ نه، (ددے حدیث نه معلومه شوه چه دکوژدن کونکے ښځے طرفته کتل درست دی) سهلؓ وائی بیارسول الله ﷺ په دغه ورځ راغے اودبنی ساعده په محفل کښے کیناستو حضرت ﷺ اودهغوئ ﷺ ملګری، بیاحضرت ﷺ اوفرمائیل اے سهلؓ په مونږه باندے اوڅکوه، سهلؓ وائی ماداپیاله راواخسته اوپه تهولومی اوڅکله ابوحازمؓ وائی سهلؓ هغه پیاله وواخسته مونږ خلقوهم په هغے کښے اوڅکل (د برکت دپاره) بیاعمربن عبدالعزیز (دخپل خلافت په زمانه کښے) هغه پیاله دسهلؓ نه اوغوښته اوسهلؓ ورته ورکړه.

فائده: نوویؒ وائی ددے حدیث نه دااووتل چه درسول الله ﷺ دآثار مقدسه نه برکت اخستل جائز دی اوکوم خیز چه حضرت ﷺ مسحه کړے وی یائے اغوستلے وی هغه تول متبرك دی اودسلفو خلقو په دے باندے اجماع ده چه په کوم ځائے کښے حضرت ﷺ مونځ لوستلے دے په روضه مبارکه کښے هلته مونځ لوستل، دبرکت دپاره دغه شان هغه غارته تلل چه په کوم غار کښے حضرت ﷺ استوګنه کړے وه، اوداپه دغه قسم کښے دی لکه څنګه چه

حضرت ﷺ ابو طلحة ته خپل وبنسته ورکړی وو په خلقو کښې دوښلو دپاره او خپل کپړه نے ورکړے وه دلورد کفن دپاره ،او په قبر باندے نے خانګی لګولی وے. اودملحان لور حضرت ﷺ خوله جمع کړے وه. اود حضرت ﷺ داودس مبارك اوبه اصحابو په بدن باندے لګولی، او حضرت ﷺ لاړے به نے په مخ باندے لګولې. اوددے نظائر ډیردی په صحیح حدیثو کښے لودا واضح دے په دے کښے څه شك نشته. انتهی.

(۵۲۳۷) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَقَدْسَقَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحِیْ هٰذَا الشَّرَابَ كُلَّهُ الْعَسَلَ وَالنَّبِیْذَ وَالْمَآءَ وَاللَّبَنَ.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ماددغه پیالی نه په رسول الله ﷺ باندے شهد لونبیذ لواوبه اوپیٔ څکولی دی.

بَابُ جَوَازِ شُرْبِ اللَّبَنِ۔

دپیو څښلو بیان

(۵۲۳۸) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ اَبُوْبَكْرِ نِ الصِّدِّیْقُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ لَمَّاخَرَجْنَا مَعَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلَی الْمَدِیْنَةِ مَرَرْنَا بِرَاعٍ وَقَدْعَطِشَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَحَلَبْتُ لَهُ كُثْبَةً مِنْ لَّبَنٍ فَاَتَیْتُهُ بِهَافَشَرِبَ حَتّٰی رَضِیْتُ. [بخاری ، وانظر فی مسلم : ۷۵۲۱]

ترجمه: دبراءؓ نه روایت دے وائی چه ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه وئیلی دی هرکله چه مونږ درسول الله ﷺ سره اووتو دمکے نه مدینے ته نویو شپونکے میلاو شو اوحضرت ﷺ تږے وو. وائی چه مالږ شان پیٔ اولوشل اوراوړل می راغلم حضرت ﷺ اوڅښل تردے پورے چه زهٔ پو هه شوم چه بس حضرت ﷺ ته پوره شولو.

فائده: نووی علیه الرحمة وائی ددغه څناورو مالك كافر حربی وو اودهغه مال اخستل درست دی یابه دهغے مالك په څښلو سره خفه نهٔ وو. یابه دعربو په ملك کښے داسے كار ددستور خلاف نهٔ وو.

(۵۲۳۹) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ لَمَّااَقْبَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ اِلَی

الْمَدِينَةَ قَالَ فَاتَّبَعَهُ سُرَاقَةُ ابْنُ مَالِكِ ابْنِ جُعْشُمٍ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاخَتْ فَرَسُهُ فَقَالَ ادْعُ اللهَ لِيْ وَلَا أَضُرُّكَ قَالَ فَدَعَا اللهَ قَالَ فَعَطِشَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَرُّوْا بِرَاعِيْ غَنَمٍ قَالَ أَبُوْبَكْرٍ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ فَأَخَذْتُ قَدَحًا فَحَلَبْتُ فِيْهِ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُثْبَةً مِّنْ لَبَنٍ فَأَتَيْتُهُ بِهِ فَشَرِبَ حَتَّى رَضِيْتُ.

ترجمه: دبراءؓ نه روایت دے وائی چه هرکله رسول الله ﷺ دمکے نه مدینے ته راتلو نو سراقه بن مالك وریسے ورستوراروان وو (دمشرکانو دطرفنه) حضرت ﷺ دهغه دپاره بددعا اوکړه دهغه اس خخ شولو، (یعنی زمکے هغه لره اونیؤو) نو هغه اووے تاسوزما دپاره دعا اوکړئ نوزۀ به تاسوته نقصان نۀ رسوم، حضرت ﷺ دعا اوکړه (هغه ته نجات میلاؤشو) بیا حضرت ﷺ تږے شولو اودبزوبو ښرونکے ورته میلاؤشولو، ابوبکرؓ وائی ماپیاله واخسته اولږ شان پئ می دحضرت ﷺ دپاره اولوشل اوهغه می راوړو راغلم حضرت ﷺ اوڅښل تردے پورے چه زۀ پوهه شوم چه بس حضرت ﷺ ته کافی شولو۔

(۵۲۴۰) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ بِإِيْلِيَاءَ بِقَدَحَيْنِ مِنْ خَمْرٍ وَّلَبَنٍ فَنَظَرَ إِلَيْهِمَا فَأَخَذَ اللَّبَنَ فَقَالَ لَهُ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدَاكَ لِلْفِطْرَةِ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه په کومه شپه رسول الله ﷺ بیت المقدس ته راوستے شو، نو هغوئ ﷺ له دوه پیالئ راوړے شوے، په یوه کښے شراب وو او په بله کښے پئ. حضرت ﷺ دواړوته اوکتل اودپیوپیاله ئے واخسته حضرت جبرائیل علیه السلام اووے قسم دے په هغه الله جل جلاله چاچه تاته دفطرت هدایت کړے دے. (یعنی داسلام او استقامت) کچرے تاشراب اخستے وے نوستاامت به گمراه شوے وو، ددے حدیث بیان په کتاب الایمان کښے تیرشوے دے۔

(۵۲۴۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ يَقُوْلُ أُتِيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ بِإِيْلِيَاءَ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَخْمِيْرِ الْإِنَاءِ وَغَيْرِهٖ

دلوښو ديټولو اوډنوروخبروبيان

(۵۲۴۲) عَنْ اَبِىْ حُمَيْدِنِ السَّاعِدِىِّ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَتَيْتُ النَّبِىَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحِ لَبَنٍ مِّنَ النَّقِيْعِ لَيْسَ مُخَمَّرًا فَقَالَ اَلَّا خَمَّرْتَهٗ وَلَوْتَعْرُضُ عَلَيْهِ عُوْدًا قَالَ اَبُوْحُمَيْدٍ اِنَّمَا اُمِرَ بِالْاَسْقِيَةِ اَنْ تُوْكَأَ لَيْلًا وَّبِالْاَبْوَابِ اَنْ تُغْلَقَ لَيْلًا.

ترجمه: دابو حميد ساعدیؓ نه روايت دے وائی چه مارسول الله ﷺ له دنقيع نه دپيويوه پياله راوړه (نقيع په وادی عقيق کښے يو مقام دے) چه هغه مي پټه کړے نۀ وه حضرت ﷺ اوفرمائيل تاداپياله پټوله ولے نه ديولرگی پرده به دی په دے باندے ايخودے وه (که ديټولونور څه نۀ وو) ابو حميدؓ وائی حضرت ﷺ حکم اوکړو دشپے دمشک پټولو اود دروازو بندولو.

(۵۲۴۳) عَنْ اَبِىْ حُمَيْدِنِ السَّاعِدِىِّ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَتَى النَّبِىَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحِ لَبَنٍ بِمِثْلِهٖ قَالَ وَلَمْ يَذْكُرْزَكَرِيَّا قَوْلَ اَبِىْ حُمَيْدٍ بِاللَّيْلِ.

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دمخکښے تيرشوی حديث په شان ده.

(۵۲۴۴) عَنْ جَابِرِابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّامَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَسْقٰى فَقَالَ رَجُلٌ يَّارَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَانَسْقِيْكَ نَبِيْذًا فَقَالَ بَلٰى فَخَرَجَ الرَّجُلُ يَسْعٰى فَجَآءَ بِقَدَحٍ فِيْهِ نَبِيْذٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَاخَمَّرْتَهٗ وَلَوْتَعْرُضُ عَلَيْهِ عُوْدًا قَالَ فَشَرِبَ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روايت دے وائی چه مونږ درسول الله ﷺ سره وو، حضرت ﷺ اوبه اوغوښتلے يو سړی اووے يارسول الله ﷺ! زۀ پتاسو ﷺ باندے نبيذ څکوم، حضرت ﷺ اوو ے ډيره ښه ده، هغویؓ منډے کړے اويوه پياله دنبيذ ئے راوړه حضرت ﷺ اوفرمائيل تاسو داپټوله ولے نه، ديولرگی پرده به دی پرے کړے وه، بيا حضرت ﷺ هغه اوڅښله.

(۵۲۴۵) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ يُّقَالُ لَهُ اَبُوْ حُمَيْدٍ بِقَدَحٍ مِنْ لَّبَنٍ مِّنَ النَّقِيْعِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَّا خَمَّرْتَهُ وَلَوْ تَعْرُضُ عَلَيْهِ عُوْدًا. [بخاری]

ترجمه: د جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یو سړے راغے چه هغه ته به ئے ابو حمیدؓ وئیلو اودنقیع نه ئے د پیو یو پیاله راوړه، حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل تا داپټه کړے ولے نۀ ده؟ کاش چه دلرګی یو لخته دی پرے پرده ایخودے وے.

(۵۲۴۶) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ غَطُّوا الْاِنَاءَ وَاَوْكُوا السِّقَآءَ وَاَغْلِقُوا الْبَابَ وَاَطْفِئُوا السِّرَاجَ فَاِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَحُلُّ سِقَآءً وَّلَا يَفْتَحُ بَابًا وَّلَا يَكْشِفُ اِنَاءً فَاِنْ لَّمْ يَجِدْ اَحَدُكُمْ اِلَّا اَنْ يَّعْرُضَ عَلٰى اِنَائِهٖ عُوْدًا وَيَذْكُرَ اسْمَ اللهِ فَلْيَفْعَلْ فَاِنَّ الْفُوَيْسِقَةَ تُضْرِمُ عَلٰى اَهْلِ الْبَيْتِ بَيْتَهُمْ وَلَمْ يَذْكُرْ قُتَيْبَةُ فِيْ حَدِيْثِهٖ وَاَغْلِقُوا الْبَابَ. [ابن ماجه]

ترجمه: د جابرؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی پټوئ لوښی لره اوکلکوئ مشك لره اوبندوئ دروازو لره، اومړه کوئ رڼا لره ولے چه شیطان مشك نۀ شی پرانستلے اودروازه نۀ شی کولاوه ولے اولوښے نۀ شی ښکاره کولے، پس کچرے ستاسو نه یو کس ته څه نۀ میلاویږی سوا دیو لرګی نه نو هغه دی پرے پرده کړی اود الله تعالی نوم دی واخلی ځکه چه منګګن دخلقو کورونه سیزی (دیو بتی راکاږی اوآبادئ ته اوراولګوی) دقتیبهؓ په روایت کښے ددروازے دبندولو ذکرنشته دے.

(۵۲۴۷) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ وَاَكْفِئُوا الْاِنَاءَ اَوْ خَمِّرُوا الْاِنَاءَ وَلَمْ يَذْكُرْ تَعْرِيْضَ الْعُوْدِ عَلَى الْاِنَاءِ. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده، خو په دے روایت کښے دپردے دلرګی ایخودلو ذکرنشته دے.

(۵۲۴۸) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَغْلِقُوا الْبَابَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ اللَّيْثِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ وَخَمِّرُوا الْاٰنِيَةَ وَقَالَ تُضْرِمُ عَلٰى اَهْلِ الْبَيْتِ ثِيَابَهُمْ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده کوم چه مخکښے ذکرشولو.

(۵۲۴۹) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِهِمْ وَقَالَ

والفويسقة تضرم البيت على اهله.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۲۵۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ اَوْ اَمْسَيْتُمْ فَكُفُّوْا صِبْيَانَكُمْ فَاِنَّ الشَّيْطٰنَ يَنْتَشِرُ حِيْنَئِذٍ فَاِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِّنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوْهُمْ وَاَغْلِقُوْا الْاَبْوَابَ وَذْكُرُوْا اسْمَ اللهِ فَاِنَّ الشَّيْطٰنَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا وَاَوْكُوْا قِرَبَكُمْ وَذْكُرُوْا اسْمَ اللهِ وَخَمِّرُوْا آنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوْا اسْمَ اللهِ وَلَوْ اَنْ تَعْرُضُوْا عَلَيْهَا شَيْئًا وَّاَطْفِئُوْا مَصَابِيْحَكُمْ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هرکله چه دشپے تیره شی یاماښام وی نو خپل بچی (دکورته بهر) وتلوته مه پریږدئ ځکه چه شیطان دغه وخت رااوځی خوریږی، پس هرکله چه یوه کهنته شپه تیره شی نو هغوئ پریږدئ اودروازے بندے کړئ اودالله تعالی نوم واخلئ ځکه چه شیطان بندے دروازے نۀ شی کهولاوه ولے، اومشکونه کلك اوتړئ اودالله تعالی نوم واخلئ، اوخپل لوښی پټ کړئ اودالله تعالی نوم واخلئ، اوکچرے دیولوښی دپټولو څه میلاؤنۀ شی نوپه هغے باندے پروه څه کیږدئ لوخپلے رنړاگانے مړے کړئ۔

(۵۲۵۱) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلُ نَحْوًا مِّمَّا اَخْبَرَ عَطَاءٌ اِلَّا اَنَّهُ لَا يَقُوْلُ اذْكُرُوْا اسْمَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۲۵۲) عن ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ عَنْ عَطَاءٍ وَّعَمْرِو ابْنِ دِيْنَارٍ كَرِوَايَةِ رَوْحٍ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۲۵۳) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُرْسِلُوْا فَوَاشِيَكُمْ وَصِبْيَانَكُمْ اِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتّٰی تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ فَاِنَّ الشَّيَاطِيْنَ تُبْعَثُ اِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتّٰی تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ.

ترجمه: دجابررضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی

خپلو ځناورو اوبچولره مهٔ پریږدئ هرکله چه نمرپریوځی ترڅو پورې چه دماسختن تلریکی یعنی تیارهٔ لاړه شی ولې چه شیطان رالیږلے شی دماسختن دتیرے ختمیدوپورے۔

(۵۲۵۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ غَطُّوْا الْاِنَآءَ وَاَوْکُوْا السِّقَآءَ فَاِنَّ فِی السَّنَةِ لَیْلَةً یَنْزِلُ فِیْهَا وَبَآءٌ لَایَمُرُّ بِاِنَآءٍ لَیْسَ عَلَیْهِ غِطَآءٌ اَوْسِقَآءٍ لَیْسَ عَلَیْهِ وِکَآءٌ اِلَّانَزَلَ فِیْهِ مِنْ ذٰلِکَ الْوَبَآءِ.

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو لوښے پټوئ اومشك لره بندوئ ځکه چه په کال کښے یوه شپه داسے وی چه په هغے کښں وباناز لیږی، بیا هغه وبا چه کوم لوښے بنکاره پاتے شی یامشك کوللاؤ پاتے شی په هغے کښے پریوزی۔

فائده: اوځوك چه ددغه لوښی نه خوراك خوری یادهغے نه اوبه اوڅکی نو هغه ته وباء جوړیږی، اودغه شان په خلقوکښے هغه وبآء خوریږی، ددے حدیث نه معلومه شوه چه وباء حکلم الهی دے داوبویاهوا دفساد نه وباء نهٔ راځی، اوددے دلیل دادے چه هم دغه یوه هوا اوبوشلن اوبه ډیرخلق استعمالوی نوپه ځنوباء راځی اوپه ځنونه راځی، دیوے مدے نه ډاکټراوحکیم دوباء علت معلوموی اوددے دپاره هرقسم خاړرے الوزوی، خودنن ورځ پورے چاداسے علت معلوم نهٔ کړلو چه په هغے باندے کللك یقین پیداشی۔

ځنے وائی دوباء علت داوبوفساد دے، اوهمیشه اوبولره گرمے شوے اوبخ شوے ځکل پکار دی، ځنے وائی دادهوا فساد دے اوددے نه خلاصے نشته دے، سوا ددے نه چه دچونے یوډیرے یاکوټلے لره په کورکښے اوساتی، سرکه په دیوالونوباندے سپری کړی اوپلیتی لرے کړی اوگندگی دباؤکړی دڈامرگند هك لوگے به اوکړی اوکافوردی بویه وی۔

ځنے وائی دادغوښے دفساد نه پیداکیږی، ځنے وائی دترکارو دفساد نه ،ځنے وائی دهرپینیادم په بدن کښے دا زهروی خو هرکله چه خواره شی اوپه وینه کښے شریك شی نودغه وخت مرض پیداکیږی ۔ والله اعلم بالصواب.

(۵۲۵۶) عَنْ لَیْثِ ابْنِ سَعْدٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ غَیْرَ اَنَّهٗ قَالَ فَاِنَّ فِی السَّنَةِ یَوْمًا یَنْزِلُ فِیْهِ وَبَآءٌ وَزَادَ فِی

اخر الحديث قال الليث فالاعاجم عندنا يتقون ذلك في كانون الاول.

ترجمه: دليث بن سعدؒ نه هم دپورته پشان روايت دے، خو په دے کښے دادی چه په کال کښے يوه ورځ بلا نازليږی، اوليثؒ وئيلی دی چه زمونږ په ملك کښے دعجم خلق په کانون اول کښے ددے نه بچ کيږی، (کانون اول په شامی ژبه کښے دسمبر مياشت ته وائی اوکانون ثانی جنوری ته وئيلے شی، په عربئ کښے دے مياشتو ته فصول الشتاء وئيلی شی).

(٥٢٥٧) عن ابن عمر رضی الله تعالٰی عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال لاتتركوا النار فی بیوتكم حین تنامون. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی، مه پريږدئ انګارلره په خپلو کورونو کښے هرکله چه اوده کيږئ.

(٥٢٥٨) عن ابی موسی رضی الله تعالٰی عنه قال احترق بیت علی اهله بالمدینة من اللیل فلما حدث رسول الله صلی الله علیه وسلم بشانهم قال ان هذه النار انما هی عدو لكم فاذانمتم فاطفؤها عنكم. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: دابو موسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه دشپے په مدینه منوره کښے دچاکور اوسيزلے شو رسول الله ﷺ چه هرکله خبرشو، نو اوئے فرمائيل دا اور ستاسو دشمن دے هرکله چه اوده کيږئ نو دے لره مړکوئ.

باب اٰداب الطعام والشراب.

دخوړلو څښلو اواوده کيدلو دآدابو بيان.

(٥٢٥٩) عن حذیفة رضی الله تعالٰی عنه قال كنا اذاحضرنا مع النبی صلی الله علیه وسلم طعاما لم نضع ایدینا حتی یبدأ رسول الله صلی الله علیه وسلم فیضع یده وانا حضرنا معه مرة طعاما فجاءت جاریة كانها تدفع فذهبت لتضع یدها فی الطعام فاخذ رسول الله صلی الله علیه وسلم بیدها ثم جاء اعرابی كانما یدفع فاخذ بیده فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الشیطان یستحل الطعام ان لایذكر اسم الله علیه وانه جاء بهذه الجاریة لیستحل بها فاخذت بیدها فجاء بهذا الاعرابی لیستحل

به فَاحذتُ بِيَدِهٖ وَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِهٖ اِنَّ يَدَهٗ فِىْ يَدِىْ مَعَ يَدِهِمَا. [ابو داود]

ترجمه: دحذيفه رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه مونږ چه به هركله درسول الله ﷺ سره غله خوړله، نو لاس به مونږ ور وړوتر هغے پورے چه حضرت ﷺ به شروع نۀ وه كړے، نو مونږ به خوراك له لاس نۀ ور وړو، يو ځل مونږ دحضرت ﷺ سره په خوراك باندے موجود وو چه يوه جينۍ په منډه راغله لكه چه چاراز غلولى وى، او هغے خپل لاس خوراك له ور وړل غوښتلو، حضرت ﷺ دهغے لاس اونيولو، بيا يو بانډه چى په منډه راغے حضرت ﷺ دهغه لاس هم اونيوۀ، بيائے اوفرمائيل چه شيطان په هغه خوراك باندے قدرت مومى چه په هغے بندے دالله جل جلاله نوم وانۀ خستے شى، او هغه يوه جينۍ راوسته په دے غله باندے دقدرت حاصلولو دپاره، ما دهغے لاس اونيولو، بيائے دابانډه چى راوستو هم په دغه غرض سره ما دهغه لاس هم اونيوۀ، قسم دے په هغه ذات دچا په لاس كښے چه دمحمد ﷺ روح دے چه دشيطان لاس هم زما په لاس كښے ددے جينۍ دلاس سره دے.

فائده: نووى عليه الرحمة وئيلى دى ددے حديث نه دامعلومه شوه چه دخوراك شروع كولو نه مخكښے بسم الله الخ وئيل پكار دى، او غوره داده چه په زوره ئے اووائى، ځكه چه دچا نه هيرشوى وى هغه به ئے هم واورى نو اوبه وائى.

اودچا چه په شروع كښے بسم الله وئيل هيرشى، او په خوراك كښے ورته رايادشى، نو "بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَآخِرَهٗ" دى اووائى او حالت دجنابت يا دحيض دبسم الله وئيلو مانع نۀ دے، او س صحيح مذهب چه په هغے باندے جمهور علماء دسلف او خلف محدثين او فقهاء او متكلمين روان دى هغه دادے چه دا حديث او نور گوم حديث چه دشيطان دخوراك په باره كښے راغلى دى، هغه ټول په خپل ظاهر باندے محمول دى او شيطان په حقيقت كښے خوراك كوى ځكه چه عقلا دامحال نۀ دے، او شرع ددے نه انكار نۀ دے كړے، بلكه ثابته كړے ئے ده نو واجب دى قبلول ددے او اعتقاد يعنى عقيده ساتل په دے باندے. انتهى مختصراً.

((۵۲٦۰) عَنْ حُذَيْفَةَ ابْنِ الْيَمَانِ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّا اِذَادُعِيْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى طَعَامٍ فَذَكَرَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ اَبِىْ مُعَاوِيَةَ وَقَالَ كَاَنَّمَا يُطْرَدُ وَفِى الْجَارِيَةِ كَاَنَّهَا تُطْرَدُ وَقَدَّمَ

مَجِيْئَ الْاَعْرَابِيِّ فِيْ حَدِيْثِهٖ قَبْلَ مَجِيْئَ الْجَارِيَةِ وَزَادَ فِيْ اٰخِرِ الْحَدِيْثِ ثُمَّ ذَكَرَاسْمَ اللهِ وَاَكَلَ.
ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دپورته حديث پشان ده. په دے كښے مخښے دباندچى دراتلوځه ذكرنشته دے، اودحديث په آخركښے دومره زياته ده، چه بيا حضرت ﷺ دالله جل جلاله نوم واخستو، اوغله ئے اوخوړه.
(۵۲۶۱) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَدَّمَ مَجِيْئَ الْجَارِيَةِ عَلٰى مَجِيْئَ الْاَعْرَابِيِّ.
ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دپورته تيرشوى حديث پشان ده.
(۵۲۶۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِذَادَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهٗ فَذَكَرَاللهَ عَزَّوَجَلَّ عِنْدَدُخُوْلِهٖ وَعِنْدَطَعَامِهٖ قَالَ قَالَ الشَّيْطٰنُ لَامَبِيْتَ لَكُمْ وَلَاعَشَآءَ وَاِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرَاللهَ عِنْدَدُخُوْلِهٖ قَالَ الشَّيْطٰنُ اَدْرَكْتُمُ الْمَبِيْتَ وَاِذَالَمْ يَذْكُرِاللهَ عِنْدَطَعَامِهٖ قَالَ اَدْرَكْتُمُ الْمَبِيْتَ وَالْعَشَآءَ. [ابوداود]
ترجمه: دجابر رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى هركله چه يوبنده خپل كورته ځى اودننوتوپه وخت اودخوراك په وخت دالله عزوجل نوم واخلى نوشيطان (خپلوملګرو اونوروتابعداروته) اووائى چه نۀ دلته ستاسودپاتے كيدوځائے شته اونه خوراك شته، اوهركله چه كورته داخليدوپه وخت دالله نوم وانۀ خلى نوشيطان اووائى ستاسوداسيدو ځائے خوميلاؤ شو، اوهركله چه دخوراك په وخت هم دالله جل جلاله نوم وانۀ خلى نوشيطان اووائى ستاسوداوسيدو ځائے هم اوشو اوخوراك درته هم ميلاؤ شو.
(۵۲۶۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ اَنَّهٗ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ بِمِثْلِ حَدِيْثِ عَاصِمٍ اِلَّا اَنَّهٗ قَالَ وَاِنْ لَّمْ يَذْكُرِاسْمَ اللهِ عِنْدَطَعَامِهٖ وَاِنْ لَّمْ يَذْكُرِسْمَ اللهِ عِنْدَدُخُوْلِهٖ.
ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دپورته حديث پشان ده.
(۵۲۶۴) عَنْ جَابِرٍرَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاتَاْكُلُوْا بِالشِّمَالِ فَاِنَّ الشَّيْطٰنَ يَاْكُلُ بِالشِّمَالِ. [ابن ماجه]
ترجمه: دحضرت جابر رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى تاسوپه ګس لاس خوراك مۀ كوئ ځكه چه شيطان په ګس لاس خوراك خورى.

(۵۲۶۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اَكَلَ اَحَدُكُمْ فَلْيَاْكُلْ بِيَمِيْنِهٖ وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِيْنِهٖ فَاِنَّ الشَّيْطٰنَ يَاْكُلُ بِشِمَالِهٖ وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهٖ. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی .هرکله چه ستاسونه یوکس خوراك کوی نوپه ښی لاس سره دی خوری اوهرکله چه څه څښی نوپه ښی لاس دی څښی ځکه چه شیطان په گس لاس سره خوری اوپه گس لاس سره څښی)۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه په ښی لاس سره خوړل څښل مستحب دی اوپه گس لاس سره مکروه دی، کچرے عذر وی نوپه گس لاس سره هم درست دی۔

(۵۲۶۶) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ سُفْيَانَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۲۶۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَاْكُلَنَّ اَحَدٌ مِّنْكُمْ بِشِمَالِهٖ وَلَا يَشْرَبَنَّ بِهَا فَاِنَّ الشَّيْطٰنَ يَاْكُلُ بِشِمَالِهٖ وَيَشْرَبُ بِهَا قَالَ وَكَانَ نَافِعٌ يَزِيْدُ فِيْهَا وَلَا يَاْخُذُ بِهَا وَلَا يُعْطِيْ بِهَا وَفِيْ رِوَايَةِ اَبِي الطَّاهِرِ لَا يَاْكُلَنَّ اَحَدُكُمْ.

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ستاسونه دی څوك په گس لاس سره نۀ خوری اونۀ دی څښی په گس لاس سره، ولے چه شیطان په گس لاس سره خوری اوڅښی، دنافعؒ په روایت کښے دومره زیاته ده چه مۀ اخلئ اومۀ ورکوئ په گس لاس سره۔

(۵۲۶۸) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اَكَلَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِمَالِهٖ فَقَالَ كُلْ بِيَمِيْنِكَ قَالَ لَا اَسْتَطِيْعُ قَالَ لَا اسْتَطَعْتَ مَا مَنَعَهٗ اِلَّا الْكِبْرُ قَالَ فَمَا رَفَعَهَا اِلٰى فِيْهِ.

ترجمه: دسلمه بن الاکوعؓ نه روایت دے چه یوسړی درسول الله ﷺ په مخکښے په گس لاس سره خوراك خوړلو، حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل په ښی لاس سره خوره، هغه اووے ځمانه نۀ

شي کيدے، حضرت ﷺ اوفرمائيل الله جل جلاله دى اوکړى چه ستانه اونۀ شي. او هغه دغرور په وجه سره داسے کړى وو) او هغه هغه خپل لاس لره دخلے پورے اوچت نۀ کړے شو (جرنه هم)

فائده: د هغه لاس هم هغسے پاتے شو. داسزاء ده، دالله تعالى او دهغه درسول الله ﷺ دمخالفت، څنوونيلى دى چه دغه سړے منافق وو او دهغه نوم بسربن راعى العيرو، ددے حديث نه دامعلومه شوه چه څوك ے دعذرنه دشريعت مخالفت اوكړى هغه ته بددعا كول روا دى.

(۵۲۶۹) عَنْ عُمَرَابْنِ اَبِىْ سَلَمَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنْتُ فِىْ حِجْرِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ يَدِىْ تَطِيْشُ فِى الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِىْ يَاغُلَامُ سَمِّ اللهَ وَكُلْ بِيَمِيْنِكَ وَكُلْ مِمَّايَلِيْكَ.
[بخارى، ابن ماجه]

ترجمه: دعمربن ابى سلمةؓ نه روايت دے وائى چه زۀ درسول الله ﷺ په غيږه كښے وم (ولے چه حضرت ﷺ دعمردمورام سلمةؓ سره نكاح كړے وه) او مابه خپل لاس په تالى كښے هر طرفته گرځولو. حضرت
ﷺ اوفرمائيل اے هلكه دالله تعالى نوم واخله او په ښى لاس سره خوره، او څه چه دى په مخكښے وى د هغے نه خوره.

(۵۲۷۰) عَنْ عُمَرَابْنِ اَبِىْ سَلَمَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّهُ قَالَ اَكَلْتُ يَوْمًا مَّعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلْتُ اٰخُذُ مِنْ لَحْمٍ حَوْلَ الصَّحْفَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلْ مِمَّايَلِيْكَ.

ترجمه: دعمربن ابى سلمةؓ نه روايت دے وائى چه مايوه ورځ درسول الله ﷺ سره غله خوړله نومادلوښى د هر طرفنه غوښه اخستل شروع كړو حضرت ﷺ راته اوفرمائيل دخپل طرف نه خوره.

(۵۲۷۱) عَنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهَى النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اخْتِنَاثِ الْاَسْقِيَةِ. [بخارى، ابوداود، ترمذى]

ترجمه: دحضرت ابوسعيد رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه منع فرمائيلے ده رسول

الله ﷺ دمشك خولې لره په الټه کولو سره دڅښلو نه (داسې نۀ وی چه چرته چینجی وغیره خلې ته لاړشی).

(۵۲۷۲) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهٗ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اخْتِنَاثِ الْاَسْقِیَةِ اَنْ یُّشْرَبَ مِنْ اَفْوَاهِهَا.

ترجمه: دابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ دمشك الټه کولو اودهغے دخلے نه داوبو څښلو نه.

(۵۲۷۳) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ غَیْرَ اَنَّهٗ قَالَ وَاخْتِنَاثُهَا اَنْ یُّقْلَبَ رَاْسُهَا ثُمَّ یُشْرَبُ مِنْهُ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورنه حدیث پشان ده.

بَابٌ فِی الشُّرْبِ قَآئِمًا

په ولاړے داوبو څښلو بیان.

(۵۲۷۴) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ زَجَرَ عَنِ الشُّرْبِ قَآئِمًا.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده په ولاړے داوبو څښلو نه.

(۵۲۷۵) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ یَّشْرَبَ الرَّجُلُ قَآئِمًا قَالَ قَتَادَةُ فَقُلْنَا فَالْاَکْلُ فَقَالَ ذَاکَ اَشَرُّ وَاَخْبَثُ. [ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده په ولاړے داوبووغیره څښلو نه، قتادة وائی مونږه اووے، په ولاړے غله خوړل څنګه دی؟ انس اووے داخو نور هم زیات بددی.

فائده: دابن عباس نه روایات دے چه حضرت ﷺ دزم زم اوبه په ولاړے څښلی دی نو دانهی تنزیهی ده، اوبه ولاړے څښل نے هم جائز دی۔ (نووی)

(۵۲۷۶) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ یَذْکُرْ قَوْلَ قَتَادَةَ.

[ابوداود]

ترجمه: ترجمه ددې هم دپورته پشان ده، خو په دې کښې دقتادهؒ قول مذکور نۀ دی۔

(۵۲۷۷) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ زَجَرَعَنِ الشُّرْبِ قَآئِمًا.

ترجمه: دحضرت ابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه منع کړې ده رسول الله ﷺ په ولاړې دڅښلو نه۔

(۵۲۷۸) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الشُّرْبِ قَائِمًا.

ترجمه: ترجمه ددې حدیث دتیرشوی حدیث پشان ده۔

(۵۲۷۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَایَشْرَبَنَّ اَحَدُکُمْ قَآئِمًا فَمَنْ نَسِیَ فَلْیَسْتَقِیْ .

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک دی ستاسو نه په ولاړې اوبه نۀ څښي اوکچرې په هیره سره ترې اوڅښي نوقې دې ئې کړي۔

(۵۲۸۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ سَقَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَمْزَمَ فَشَرِبَ وَهُوَقَآئِمٌ. [بخاری، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دې وائي چه ماپه رسول الله ﷺ باندې دزمزم اوبه اوڅښلې او هغوئ ﷺ ولاړ وو۔

(۵۲۸۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ شَرِبَ مِنْ زَمْزَمَ مِنْ دَلْوٍ مِّنْهَا وَهُوَقَآئِمٌ.

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ دزمزم اوبه دیوې بوقې نه څښلې اوولاړ وو۔

(۵۲۸۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ شَرِبَ مِنْ زَمْزَمَ وَهُوَقَآئِمٌ.

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ دزمزم نه اوبه څښلې اوولاړ وو۔

(۵۲۸۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ سَقَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَمْزَمَ فَشَرِبَ قَائِمًا وَاسْتَسْقٰى وَهُوَ عِنْدَ الْبَيْتِ.

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه ماپه رسول الله ﷺ بلندے دزمزم اوبه څکولے اوحضرت ﷺ څښلے په ولاړے باندے اواوبه ئے غوښتلے دکعبے په خواه کښے۔

(۵۲۸۴) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَفِيْ حَدِيْثِهِمَا فَاَتَيْتُهُ بِدَلْوٍ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته په شان ده۔

بَابُ: كَرَاهَةِ التَّنَفُّسِ فِيْ نَفْسِ الْاِنَاءِ وَاسْتِحْبَابِ التَّنَفُّسِ ثَلٰثًا خَارِجَ الْاِنَاءِ۔

په اوبوڅښلوکښے دلوښی دننه ساه اخستل مکروه دی اودلوښی نه بهردرے ځله اخستل مستحب دی۔

(۵۲۸۵) عَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى اَنْ يُّتَنَفَّسَ فِي الْاِنَاءِ.

ترجمه: دابو قتاده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده په لوښی کښے دننه دساه اخستلو نه۔

(۵۲۸۶) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَنَفَّسُ فِي الْاِنَاءِ ثَلٰثًا [بخاری، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ به درے ځله ساه اخستو په لوښی کښں (یعنی په څښلوکښے دلوښی نه بریعنی درے گوټه به ئے څښلو۔

(۵۲۸۷) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا وَيَقُوْلُ اِنَّهٗ اَرْوٰى وَاَبْرَاُ وَاَمْرَاُ قَالَ اَنَسٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَا اَتَنَفَّسُ فِي الشَّرَابِ ثَلَاثًا. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به په

څښلو کښې درې ځله ساه اخستلو اوفرمائیل به ئې په داسې کولو سره بنه مړیدل کیږي اود تندې نه پرې بنده صحت مومي، اواوبه په بنه شان سره هضمیږي انس رضی الله تعالی عنه وائي زۀ هم په اوبو څښلو کښې درې ځله ساه اخلمه۔

(۵۲۸۸) عَنْ اَنسٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعالٰی عَنْہُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِہٖ وَقَالَ فِی الْاِنَاءِ۔

ترجمه: ددې حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ اِدَارَةِ الْمَاءِ وَاللَّبَنِ وَنَحْوِهَا عَلٰی يَمِيْنِ الْمُبْتَدِئِ۔

دپیو،اوبو،اودې پشان دبل څیز دشروع کولو اودښي طرفنه دتقسیمولو غوره والے۔

(۵۲۸۹) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اُتِیَ بِلَبَنٍ قَدْ شِیْبَ بِمَآءٍ وَعَنْ یَّمِیْنِہٖ اَعْرَابِیٌّ وَعَنْ یَّسَارِہٖ اَبُوْبَکْرٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فَشَرِبَ ثُمَّ اَعْطَی الْاَعْرَابِیَّ وَقَالَ الْاَیْمَنَ فَالْاَیْمَنَ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له پئ راوړے شو چه پکښې اوبه هم وې. دحضرت ﷺ ښي طرفته یوبانډه چي سړے وو، اوګس طرفته ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه وو، حضرت ﷺ پئ اوڅښل اوبیائے هغه دیهاتي سړي ته ورکړل، اواوئے فرمائیل، دښي طرفنه شروع
کول پکار دي. (اګرکه ښي طرفته هغه سړے وي چه هغه دګس طرف والانه په مرتبه کښې کم وي).

(۵۲۹۰) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ قَدِمَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ الْمَدِیْنَةَ وَاَنَا بْنُ عَشْرٍ وَمَاتَ وَاَنَا بْنُ عِشْرِیْنَ وَکُنَّ اُمَّهَاتِیْ یُحَثِّثْنَنِیْ عَلٰی خِدْمَتِہٖ فَدَخَلَ عَلَیْنَا دَارَنَا فَحَلَبْنَا لَہٗ مِنْ شَاةٍ دَاجِنٍ وَشِیْبَ لَہٗ مِنْ بِئْرٍ فِی الدَّارِ فَشَرِبَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَہٗ عُمَرُ وَاَبُوْبَکْرٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنْ شِمَالِہٖ یَارَسُوْلَ اللّٰہِ اَعْطِ اَبَابَکْرٍ فَاَعْطَاہُ اَعْرَابِیًّا عَنْ یَّمِیْنِہٖ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ الْاَیْمَنَ فَالْاَیْمَنَ۔

ترجمه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی هرکله چه رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راوړو په دغه وخت زۀ دلسو کالو وم، اوهرکله چه حضرت ﷺ وفات شو هغه وخت زۀ دشلو کالو وم، اوځماميانديه ماته دحضرت ﷺ دخدمت کولو رغبت راکوو، حضرت ﷺ زمونږ کورته راغے، مونږ دحضرت ﷺ دپاره ديوے ترلے شوے بزے نه پئ اولوشل اوپه کورکښے يوکوهے وو، دهغے اوبه مودهغه پيوسره ميلاؤ کړے، اوجناب رسول الله ﷺ هغه اوڅښل، حضرت عمررضی الله تعالی عنه اووے اوس ابوبکرؓ ته ورکړه چه هغویؓ دحضرت ﷺ نه ګس طرفته ناست وو، خوحضرت ﷺ نه ګس طرفته ناست وو، خوحضرت ﷺ يوباندیچی ته ورکړل چه دحضرت ﷺ نه ښی طرفته ناست وو اواوئے فرمائيل دښی طرفنه شروع کول پکار دی۔

(۵۲۹۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يُحَدِّثُ قَالَ اَتَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ دَارِنَا فَاسْتَسْقٰى فَحَلَبْنَالَهُ شَاةً ثُمَّ شُبْتُهُ مِنْ مَّاءِ بِئْرِيْ هٰذِهٖ قَالَ فَاَعْطَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَرِبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبُوْبَكْرٍ عَنْ يَّسَارِهٖ وَعُمَرُ وِجَاهَهٗ وَاَعْرَابِيٌّ عَنْ يَّمِيْنِهٖ قَالَ فَلَمَّا فَرَغَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ شُرْبِهٖ قَالَ عُمَرُ هٰذَا اَبُوْبَكْرٍ يَّارَسُوْلَ اللهِ يُرِيْهِ اِيَّاهُ فَاَعْطَاهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْاَعْرَابِيَّ وَتَرَكَ اَبَابَكْرٍ وَّعُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْاَيْمَنُوْنَ الْاَيْمَنُوْنَ قَالَ اَنَسٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَهِيَ سُنَّةٌ فَهِيَ سُنَّةٌ فَهِيَ سُنَّةٌ۔ [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه رسول الله ﷺ زمونږ کورته راغے اواوبه ئے اوغوښتے، مونږ دبزے نه پئ اولوشل اواوبه موپکښې ميلاؤ کړے دهغه کوهی نه اورسول الله ﷺ ته موورکړے حضرت ﷺ اوڅښلے اوابوبکرؓ دحضرت ﷺ نه ګس طرفته ناست وو، اوعمرؓ ئے مخے ته، اوښی طرفته يوبانده چی ناست وو، حضرت ﷺ هغه اعرابی ته ورکړو اوابوبکرؓ اوعمرؓ ته ئے ورنکړو اواوئے فرمائيل ښی طرف والا رومبی دی ښی طرف والا، انس رضی الله تعالی عنه اووے داخوسنت دی سنت دی۔

(۵۲۹۲) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدِنِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُتِيَ

بشراب فشرب منهُ وعن يمينه غلامٌ وعن يسارِه اشياخٌ فقال للغلام اتأذنُ لي ان اعطي هؤلاءِ فقال الغلام لا والله لا اوثر بنصيبي منك احدًا فقال فتله رسولُ الله صلى الله عليه وسلم في يدِهِ. [بخاری]

ترجمه: دسهل بن سعد ساعدی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له دځښلو څه څیز راوړے شو، حضرت ﷺ اوځښلو اوښی طرفته دحضرت ﷺ نه یو هلك وو اوګس طرفته مشران خلق وو حضرت ﷺ هلك ته اوفرمائیل چه ته ماته اجازت راکوے رومبے دغه خلقوته دورکولو دپاره، هغه اووے نه، قسم په الله تعالی چه زۀ خپله حصه بل هیچاته ورکول نۀ غوارم، ددے په اوریدو حضرت ﷺ (دځښلو هغه څیز) دهغه هلك په لاس کښ ورکړو.

فائده: بعضے وائی چه هغه هلك عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنه وو، اوپه مشرانو کښے خالد بن ولیدؓ وو، اوحضرت ﷺ دهلك نه اجازت اوغوښتو ددے دپاره چه دهغه دخفګان ویره نۀ وه، اودباندې چې نه ئے اجازت اونۀ غوښتو ددے ویرے نه چه هغه به خفه شی لوتباه به شی، اودښی طرفنه څکول وغیره مسنون دی بلا خلاف، اودمالكؒ نه ددے تخصیص دڅکولو سره منقول دے۔ (نوویؒ)

(۵۲۹۳) عن سهلِ ابنِ سعدٍ رضي الله تعالى عنهُ عنِ النبيِّ صلى الله عليه وسلم بمثله ولم يقولا فتله ولكن في رواية يعقوب فاعطاهُ اياهُ. [بخاری]

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

باب استحباب لعق الاصابع۔

دخوړلونه پس ګوتې څټل مستحب دی.

(۵۲۹۴) عن ابن عباسٍ رضي الله تعالى عنهما قال قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم اذا اكل احدكم طعامًا فلا يمسح يدهُ حتى يلعقها او يلعقها. [بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هرکله چه څوك ستاسو نه طعام خوری، نو خپل لاس دی نۀ پاکوی دکومے پورے چه ئے څټلی نۀ وی یائے څټلو ته ورکړی نۀ وی، (خپلے بی بی ته یابچی ته یاوینځی ته چه هغه ئے بدنۀ ګنړی

بلکه خوشحالیږی)۔

(۵۲۹۵) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَکَلَ احدُکُمْ مِنَ الطَّعَامِ فَلَایَمْسَحْ یَدَهٗ حَتّٰی یَلْعَقَهَا اَوْیُلْعِقَهَا. [ابو داود]

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه هم دپورته پشان روایت دے۔

(۵۲۹۶) عَنْ کَعْبِ بْنِ مَالِکٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ رَأَیْتُ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَلْعَقُ اَصَابِعَهٗ الثَّلَاثَ مِنَ الطَّعَامِ وَلَمْ یَذْکُرِ ابْنُ حَاتِمٍ نِ الثَّلَاثَ وَقَالَ ابْنُ اَبِیْ شَیْبَةَ فِیْ رِوَایَتِهٖ عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ اَبِیْ کَعْبٍ عَنْ اَبِیْهِ. [ابو داود]

ترجمه: دکعب بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما رسول الله لره په خپلو دریوګوتو څټلو لیدلے دے دغلے دخوړلو نه پس۔

(۵۲۹۷) عَنْ کَعْبِ ابْنِ مَالِکٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَاْکُلُ بِثَلَاثِ اَصَابِعَ وَیَلْعَقُ یَدَهٗ قَبْلَ اَنْ یَمْسَحَهَا.

ترجمه: دکعب بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به په خپلو درے ګوتو سره خوراك کوؤ. اودلاس صفاکولو نه مخکښی به ئے ګوتو لره څټلے۔

(۵۲۹۸) عَنْ کَعْبٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ یَاْکُلُ بِثَلَاثِ اَصَابِعَ فَاِذَا فَرَغَ لَعِقَهَا.

ترجمه: دکعبؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په درے ګوتوسره خوراك کولو، اوهرکله چه به فارغ شولو نوګوتے مبارکے به ئے اوڅټلے۔

(۵۲۹۹) عَنْ کَعْبِ ابْنِ مَالِکٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ بِمِثْلِهٖ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۳۰۰) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ بِلَعْقِ الْاَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ وَقَالَ اِنَّکُمْ لَاتَدْرُوْنَ فِیْ اَیِّهِ الْبَرَکَةُ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ حکم اوکړو دګوتو اولوښی دڅټلو اوصفاکولو، اولوئے فرمائیل چه تاسونه یئ خبرچه برکت په څه کښ

دی۔

(۵۳۰۱) عن جابر رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا وقعت لقمة احدکم فلیاخذها فلیمط ماکان بها من اذی ؤلیاکلها ولایدعها للشیطان ولایمسح یده بالمندیل حتی یلعق اصابعه فانه لایدری فی ای طعامه البرکة : [ابن ماجه]

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هرکله چه ستاسونه دچادلاسونو نه نمړئ پریوځی (اوهغه ځائے پلیت نهٔ وی) نو هغه اوچته کړئ، اوکه څه ګندګی وغیره پرے لګیدلے وی هغه ترے صفا کړئ اوائے خورئ اودشیطان دپاره نے مه پریږدئ اوخپل لاس په رومال سره مهٔ پاکوئ دکومے پورے چه ګوتے څټلے نهٔ وی، ولے چه دوئ ته معلومه نهٔ ده چه په کوم خوراك کښی برکت دے۔

(۵۳۰۲) عن سفیان بهذا الاسناد مثله فی حدیثهما ولایمسح یده بالمندیل حتی یلعقها اویلعقها ومابعده.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته پشان ده، په دے کښے دادی دکومے پورے چه نے څټلے نه وی یائے څټلو له ورکړے نهٔ وی۔

(۵۳۰۳) عن جابر رضی الله تعالی عنه قال سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول ان الشیطان یحضر احدکم عند کل شیء من شان حتی یحضره عند طعامه فاذا سقطت من احدکم اللقمة فلیمط ماکان به من اذی ثم لیاکلها ولایدعها للشیطان فاذا فرغ فلیلعق اصابعه فانه لایدری فی ای طعامه تکون البرکة. [ابن ماجه]

ترجمه : دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو چه شیطان ستاسو نه دیو کس سره دهرکار په وخت موجود وی تردے پورے چه دخوراك په وخت هم. پس هرکله چه ستاسونه دچادلاس نه نمړئ اوغورزیږی نو هغه دی صفا کړی کچرے څه ګندګی وغیره پرے لګیدلی وی اوبیادی ئے اوخوری، اودشیطان دپاره دی نے نهٔ پریږدی. هرکله چه دخوراك نه فارغ شی نوګوتے دی اوڅټی ولے چه دے نهٔ پوهیږی، چه دده په کوم یو خوراك کښے برکت دے۔

(۵۳۰۴) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ اِذَاسَقَطَتْ لُقْمَةُ اَحَدِكُمْ اِلٰى اٰخِرِ الْحَدِيْثِ وَلَمْ يَذْكُرْاَوَّلَ الْحَدِيْثِ اِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُاَحَدَكُمْ.

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده.

(۵۳۰۵) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ ذِكْرِ اللَّعْقِ وَعَنْ اَبِيْ سُفْيَانَ عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ اللُّقْمَةَ نَحْوَ حَدِيْثِهِمَا.

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده.

(۵۳۰۶) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ اَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ قَالَ وَقَالَ اِذَاسَقَطَتْ لُقْمَةُ اَحَدِكُمْ فَلْيُمِطْ عَنْهَا الْاَذٰى وَلْيَاْكُلْهَا وَلَايَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ وَاَمَرَنَا اَنْ نَّسْلُتَ الْقَصْعَةَ قَالَ فَاِنَّكُمْ لَاتَدْرُوْنَ فِيْ اَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ. [ابو داود، ترمذی]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ چه به هرکله طعام اوخوړلو نو خپلے درے واړه ګوتے به ئے اوڅټلے، اوفرمائیلی ئے دی ستاسو نه که دچا دلاس نه نمرئ اوغورځیږی نو هغه دی صفا کړی اودی ئے خوری، اودشیطان دپاره دی ئے نه پریږدی اوحکم ئے کړے دے مونږ ته دلوښی دصفاکولو، اوفرمائیلی ئے دی تاسو ته معلومه نۀ ده، چه په کوم یو طعام کښے برکت دے.

(۵۳۰۷) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا اَكَلَ اَحَدُكُمْ فَلْيَلْعَقْ اَصَابِعَهُ فَاِنَّهُ لَايَدْرِيْ فِيْ اَيَّتِهِنَّ الْبَرَكَةُ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هرکله چه ستاسو نه څوك طعام اوخوری نو خپلے ګوتے دی اوڅټی ولے چه معلومه نۀ ده چه په کومه ګوته کښے برکت دے.

(۵۳۰۸) عَنْ حَمَّادٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ وَلْيَسْلُتْ اَحَدُكُمُ الصَّحْفَةَ وَقَالَ فِيْ اَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ اَوْيُبَارَكُ لَكُمْ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده په دے کښ دومره زیاته ده چه صفاکوی دی یودتاسو نه لوښی لره اوفرمائیلی دی چه په کوم خوراك کښے برکت دے، یابرکت وی ستاسو دپاره.

بَابُ مَا يَفْعَلُ الضَّيْفُ إِذَا تَبِعَهُ غَيْرُ مَنْ دَعَاهُ صَاحِبُ الطَّعَامِ۔
هغه چرې دمیلمه سره خوك ملګرې شي نوڅه به کوي.

(۵۳۰۹) عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدِ نِ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ يُقَالُ لَهٗ اَبُوْشُعَيْبٍ وَّكَانَ لَهٗ غُلَامٌ لَّحَّامٌ فَرَاٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَرَفَ فِيْ وَجْهِهِ الْجُوْعَ فَقَالَ لِغُلَامِهٖ وَيْحَكَ اصْنَعْ لَنَا طَعَامًا لِخَمْسَةِ نَفَرٍ فَاِنِّيْ اُرِيْدُ اَنْ اَدْعُوَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَامِسَ خَمْسَةٍ قَالَ فَصَنَعَ ثُمَّ اَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَاهُ خَامِسَ خَمْسَةٍ وَاتَّبَعَهُمْ رَجُلٌ فَلَمَّا بَلَغَ الْبَابَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ هٰذَا اتَّبَعَنَا فَاِنْ شِئْتَ اَنْ تَاْذَنَ لَهٗ وَاِنْ شِئْتَ رَجَعَ قَالَ لَا بَلْ اٰذَنُ لَهٗ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ. [بخاري، ترمذی]

ترجمه: دابو مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی په انصاروکښې یو سړے وو چه نوم ئې ابوشعیبؓ وو دهغه یو غلام وو چه غوښه به ئې خرڅوله، هغه سړی رسول الله ﷺ اولیدو چه په مخ مبارك ئې دلوږے اثر معلومیدو، هغه خپل غلام ته اووے شابه زمونږ دپنځه کسانو دپاره طعام تیارکړه ولے چه زۀ رسول الله ﷺ میلمه کول غواړم اوحضرت ﷺ پنځم دے په پنځه ؤ کښې، بیا هغه طعام تیارکړو او هغه سړے په رسول الله ﷺ پسے راغے اوحضرت ﷺ ته ئې دعوت ورکړو. حضرت ﷺ پنځم وو دپنځوؤ نه اودهغوئ ﷺ سره یو بل سړے ملګرے شو. هرکله چه دروازے ته اورسیدو نو (حضرت ﷺ) اوفرمائیل (دکورمالك ته) داسړے زمونږ سره راغلے دے کچرے تۀ غواړې نوده ته اجازت ورکړه ورنه واپس به لاړشي، هغه اووے نه زۀ ده ته اجازت ورکوم یارسول الله ﷺ!۔

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه دمیلمه سره کچرے یو سړے په ملګرتیاکښې لاړشي نودکورمالك به خبروی هرکله چه دهغوئ دروازے ته اورسی، اودکوردخاوند دپاره مستحب دی چه اجازت ورکړی، کچرے په هغې کښې څه ضررنۀ وی۔

(۵۳۱۰) عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيْثِ جَرِيْرٍ قَالَ نَصْرُ ابْنُ عَلِيٍّ فِيْ رِوَايَتِهٖ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ حَدَّثَنَا اَبُوْاُسَامَةَ قَالَ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ

قَالَ حَدَّثَنَا شَقِیْقُ ابْنُ سَلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنَا اَبُوْمَسْعُوْدٍ نِ الْاَنْصَارِیُّ وَسَاقَ الْحَدِیْثَ.

ترجمه : ترجمه ددے حدیث دپورته تیرشوی حدیث پشان ده۔

(۵۳۱۱) عَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَعَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِیْ سُفْیَانَ عَنْ جَابِرٍ بِهٰذَا الْحَدِیْثِ.

ترجمه : ددے حدیث ترجمه هم دمخکښے تیرشوی حدیث پشان ده۔

(۵۳۱۲) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ جَارًا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَارِسِیًّا کَانَ طَیِّبَ الْمَرَقِ فَصَنَعَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ جَآءَ یَدْعُوْهُ فَقَالَ وَهٰذِهٖ لِعَآئِشَةَ فَقَالَ لَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا فَعَادَ یَدْعُوْهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهٰذِهٖ قَالَ لَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا ثُمَّ عَادَ یَدْعُوْهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهٰذِهٖ قَالَ نَعَمْ فِی الثَّالِثَةِ فَقَامَا یَتَدَافَعَانِ حَتّٰی اَتَیَامَنْزِلَهٗ. [نسائی]

ترجمه : دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه درسول الله ﷺ یوګاونډی به مزیداره شوروا جوړوله، اوهغه دفارس وو هغه یوځل درسول الله ﷺ دپاره شوروا جوړه کړه اوحضرت ﷺ له ددعوت دپاره راغے ،حضرت ﷺ اوفرمائیل عائشے ته هم دعوت دے، هغه اووے نۀ، حضرت ﷺ اوفرمائیل نوزۀ هم نۀ شم درتلے، بیا هغه دوباره ددعوت دپاره راغے، حضرت ﷺ اوفرمائیل عائشے ته هم دعوت دے، هغه اووے نۀ حضرت ﷺ اوفرمائیل نوزه هم نۀ شم درتلے، بیا هغه په دریم ځل ددعوت دپاره راغے، حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل عائشے ته هم دعوت دے. هغه په دریم ځل اووے هاں بیادواړه روان شو دیوبل نۀ ورستو، (یعنی رسول الله ﷺ اوجناب عائشه صدیقه) تردے پورے چه د هغه کورته لاړو۔)

فائده : امام نووی علیه الرحمة وائی چه حضرت ﷺ دعوت قبول نه کړو به عذر سره، اوحضرت ﷺ ته اختیار وو ددعوت دقبلولو اودنۀ قبلولو، نو حضرت ﷺ بغیر دعائشے نه قبول نۀ کړو ددے وجے نه چه هغه به هم وږی وی نو حضرت ﷺ یواځے خوراك منظور نۀ کړو اوداحسن معاشرت دے، اوبعضے علماؤ مذهب دادے چه سوا دولیمے نه بل یودعوت قبلول واجب نۀ دی۔

باب جواز استتباعه غیرهٔ الی دار من یثق برضاه بذلک۔

څوک چه د میلمه د اېلین وي چه څوک به دبل څښتن دځان سره به بوتلو نه خفه کیږي نو دځان سره بوتللی شي.

(۵۳۱۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ یَوْمٍ وَلَیْلَةٍ فَاِذَاهُوَ بِاَبِیْ بَکْرٍ وَّعُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فَقَالَ مَااَخْرَجَکُمَا مِنْ بُیُوْتِکُمَا هٰذِهِ السَّاعَةَ قَالَ الْجُوْعُ یَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ وَاَنَا وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَاَخْرَجَنِیَ الَّذِیْ اَخْرَجَکُمَا قُوْمُوْا فَقَامُوْا مَعَهٗ فَاَتٰی رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ فَاِذَاهُوَلَیْسَ فِیْ بَیْتِهٖ فَلَمَّا رَاَتْهُ الْمَرْاَةُ قَالَتْ مَرْحَبًا وَّاَهْلًا فَقَالَ لَهَارَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَیْنَ فُلَانٌ قَالَتْ ذَهَبَ یَسْتَعْذِبُ لَنَامِنَ الْمَآءِ اِذْجَآءَ الْاَنْصَارِیُّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَنَظَرَ اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَیْهِ ثُمَّ قَالَ اَلْحَمْدُلِلّٰهِ مَااَحَدٌ نِ الْیَوْمَ اَکْرَمَ اَضْیَافًا مِنِّیْ فَانْطَلَقَ فَجَآءَ هُمْ بِعِذْقٍ فِیْهِ بُسْرٌ وَّتَمْرٌ وَّرُطَبٌ فَقَالَ کُلُوْا مِنْ هٰذِهٖ وَاَخَذَ الْمُدْیَةَ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِیَّاکَ وَالْحَلُوْبَ فَذَبَحَ لَهُمْ فَاَکَلُوْا مِنَ الشَّاةِ وَمِنْ ذٰلِکَ الْعِذْقِ وَشَرِبُوْا فَلَمَّا اَنْ شَبِعُوْا وَرَوُوْا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِاَبِیْ بَکْرٍ وَّعُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَتُسْئَلُنَّ عَنْ هٰذَا النَّعِیْمِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ اَخْرَجَکُمْ مِنْ بُیُوْتِکُمُ الْجُوْعُ ثُمَّ لَمْ تَرْجِعُوْا حَتّٰی اَصَابَکُمْ هٰذَا النَّعِیْمُ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ یوه شپه بهر را اووتو نو حضرت ابوبکر او عمر رضی الله تعالی عنهما ئے اولیدو اوتپوس ئے ترے اوکړو چه تاسو ولے په دے وخت راوتلی یئ. هغوئ اووے دلوږے دوجے نه راوتلی یو یارسول الله ﷺ، حضرت ﷺ اوفرمائیل قسم دے په هغه ذات دچاپه لاس کښے چه څما روح دے زهٔ هم دلوږے دوجے نه راوتلے یم څئ چه څو. پس هغوئ دحضرت ﷺ سره روان شو. حضرت ﷺ دیوانصاریٰ دروازے له ورغے، نو هغهٔ په کور کښے نهٔ وو. اودهغهٔ ښځه دحضرت ﷺ په لیدو سره اووے مرحبا هر کله راشی. حضرت ﷺ اوفرمائیل فلانے سړے (یعنی ستاخاوند) چیرته تلے دے هغے اووے زمونږ دپاره دخوږو اوبو راوړو دپاره تلے دے)ددے حدیث نه معلومه شوه چه

دنااشنا ښځے سره خبرے کول اودهغے له جواب ورکول درست دی په عذر سره، دغه شان ښځه هغه سرے کورته دننه کولے شی دچاپه راتلو سره چه دخاوند رضا وی) په دے کښے هغه انصاریؓ سرے راغے، هغه چه رسول الله ﷺ اودهغوی ﷺ دواړه ملګری اولیدل نو اووئے وئیل دالله جل جلاله شکر دے چه نن ورځ دهیچاسره داسے عزتمند میلمانه نشته لکه چه زمونږ سره دی بیالاړو اودکجورو یوه غنچه ئے راوړه چه په هغے کښے کچه اوو چے اوتازه کجورے وے اواوئے وئیل ددے نه خورئ بیا هغویؓ چاړه واخسته، حضرت ﷺ ورته اووئیل دپیوبزه مهٔ حلالوه، بیا هغه یوه بزه حلاله کړه، اوتولو دهغے غوښه اوخوړه، اوکجورے ئے هم اوخوړے اواوبه ئے اوڅښلے. هرکله چه دخوړلواوڅښلونه ماړه شول نو حضرت ﷺ ابوبکرؓ اوعمرؓ ته اوفرمائیل قسم دے په هغه رب جل جلاله دچاپه لاس کښے چه ځماروح دے چه خامخا به ستاسونه تپوس کیږی دقیامت په ورځ چه تاسو دخپلو کورونو نه را اووتئ دلوږے نه اوبیانهٔ واپس کیدئ تردے پورے چه تاسوته دانعمت میلاؤشو۔

فائده : ددے حدیث مبارك نه معلومیږی چه دحضرت ﷺ اودهغه داصحابوؓ ژوند په څه طریقه تیرشوے دے، په یو حدیث کښے دی چه حضرت ﷺ ددنیانه تشریف یوړلو خودوریشو روټئ ئے په مړه ګیډه نه ده خوړلے، اودوفات په وخت ترے زغره چاپیره وه، ددے حدیث نه داهم معلومه شوه، چه دلوږے په حالت کښے دخپل یودوست خواله تلل روا دی، کچرے هغه ته تکلیف نه وی اوپردئ ښځے سره دضرورت په وخت خبرے کول روا دی۔

(۵۳۱۴) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ بَیْنَا اَبُوْبَکْرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَاعِدٌ وَّعُمَرُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ مَعَهٗ اِذْاَتَاهُمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَااَقْعَدَکُمَا هٰهُنَا قَالَا اَخْرَجَنَا الْجُوْعُ مِنْ بُیُوْتِنَا وَالَّذِیْ بَعَثَکَ بِالْحَقِّ ثُمَّ ذَکَرَنَحْوَحَدِیْثِ خَلَفِ ابْنِ خَلِیْفَةَ.

ترجمه : ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده۔

(۵۳۱۵) عَنْ جَابِرِابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ لَمَّاحُفِرَالْخَنْدَقُ رَاَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا فَانْکَفَاْتُ اِلٰی امْرَاَتِیْ فَقُلْتُ لَهَاهَلْ عِنْدَکِ شَیْءٌ فَاِنِّیْ رَاَیْتُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِیْدًا فَاَخْرَجَتْ لِیْ جِرَابًا فِیْهِ صَاعٌ مِّنْ شَعِیْرٍ وَلَنَابُهَیْمَةٌ دَاجِنٌ قَالَ فَذَبَحْتُهَا

وَطَحَنَتْ فَفَرَغَتْ إِلَى فَرَاغِيْ فَقَطَّعْتُهَا فِيْ بُرْمَتِهَا ثُمَّ وَلَّيْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَاتَفْضَحْنِيْ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ مَعَهُ قَالَ فَجِئْتُهُ فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّاقَدْذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَّنَا وَطَحَنَتْ صَاعًا مِّنْ شَعِيْرٍ كَانَ عِنْدَنَا فَتَعَالَ أَنْتَ فِيْ نَفَرٍ مَّعَكَ فَصَاحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ يَآأَهْلَ الْخَنْدَقِ إِنَّ جَابِرًا قَدْصَنَعَ لَكُمْ سُوْرًا فَحَيَّ هَلًا بِكُمْ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَاتَخْبِزُنَّ عَجِيْنَكُمْ حَتَّى أَجِيْئَ فَجِئْتُ وَجَآءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْدُمُ النَّاسَ حَتَّى جِئْتُ امْرَأَتِيْ فَقَالَتْ بِكَ وَبِكَ فَقُلْتُ قَدْفَعَلْتُ الَّذِيْ قُلْتِ لِيْ فَأَخْرَجْتُ لَهُ عَجِيْنَتَنَا فَبَصَقَ فِيْهَاوَبَارَكَ ثُمَّ عَمَدَإِلَى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ فِيْهَاوَبَارَكَ ثُمَّ قَالَ ادْعِيْ خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ مَعَكِ وَاقْدَحِيْ مِنْ بُرْمَتِكُمْ لَاتُنْزِلُوْهَا وَهُمْ أَلْفٌ فَأُقْسِمُ بِاللهِ لَاَكَلُوْا حَتَّى تَرَكُوْهُ وَانْحَرَفُوْا وَإِنَّ بُرْمَتَنَا لَتَغِطُّ كَمَاهِيَ وَإِنَّ عَجِيْنَتَنَآ أَوْكَمَا قَالَ الضَّحَّاكُ لَتُخْبَزُ كَمَاهُوَ. [بخاری]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی هرکله چه خندق اوکنستلے شو (دمدینے نه چاپیره) نو مادرسول الله ﷺ په مخ مبارك دلوږے اثر اوليدو زۀ دخپلے بی بی خواته واپس شوم اوورته می اووے، ستاسره څه شته؟ ولے چه مارسول الله ﷺ ډیرزیات اوږے لیدلے دے هغې یوه تهیلئ را اوویسته چه په هغے کښے یواوګے وربشے وے، اوزمونږ سره دبزے یوپئ خورونکے بچے وو، ماهغه ذبح کړو اوزمانښځے اوړه واغږل هغه هم څماسره یوشان فارغه شوه مادهغه غوښه وړه کړه اوپه کټوئ کښے می واچوله اودرسول الله ﷺ خواله روان شوم ښځے می اووے درسول الله ﷺ اودهغه دملګروپه مخکښے مارسوا نۀ کړے، (یعنی خوراك لږ دے چرته ډیرو خلقوته دعوت ورنۀ کړے) هرکله چه زۀ دهغوئ ﷺ خواله راغلم نورو غوندی می ورته عرض اوکړو چه یارسول الله مونږ دبزے یوبچے ذبح کړے دے، اویواوږے دوربشو اوړه چه زمونږ سره وے مونږ تیارکړی دی، نوتاسو دڅو ملګرو سره تشریف راوړئ ددے په اوریدو رسول الله ﷺ آواز اوکړو اواوئے فرمائیل اے دخندق خلقو! جابرتاسولره دعوت کړے دے، څئ چه لاړشو، اوحضرت ﷺ اوفرمائیل خپله کټوئ مۀ کوزوئ اوداورونه ډوډئ مۀ پخوئ دکومے پورے چه زۀ درغلے نه یم، بیازه کورته راغلم اوجناب رسول الله ﷺ هم تشریف راوړو، حضرت ﷺ مخکښے وو اوخلق په هغه وروسته وو، زۀ دخپلے ښځے خواله راغلم هغے

اووے ته به ذلیله شے اوتاته به خلق بد اوذلیله وائی، مااووے ماخو هغسے کړی ووځنګه چه تاراته وئیلی وو(خورسول الله ﷺ ظاهره کړه اوتهولوته ئے دعوت ورکړو) آخرهغوئ هغه اوړه رابهرکړل اورسول الله ﷺ خپلے لاړے مبارکے په هغے کښں میلاؤ کړے اودبرکت دعائے اوکړه ،بیازمونږ دکټوئ په طرف راغے اوپه هغے کښں ئے هم لاړے مبارکے واچولے، اودبرکت دعائے اوکړه، ددے نه پس حضرت ﷺ اوفرمائیل (زمابنځے ته) چه یوه ډوډئ پخونکے ښځه بله راواوغواړه چه ستا سره ډوډئ پخے کړی، اوپه کټوئ کښے ئے څمڅئ اومنډله چه څئ په دے سره را اوباسئ اوکوزه وئ ئے مه، جابر رضی الله تعالی عنه وائی دحضرت ﷺ سره زرتنه سړی وو اوزۀ قسم خورم چه ټولو اوخوړه تردے پورے چه پاتے ترے هم شوه، اوواپس شولو، اودکټوئ هم هغه حال وو ختهکیدله اواوړه هم هغه شان وو ډوډئ ترے پخیدلے۔

فائده: امام نوویؒ وئیلی دی په دے حدیث کښے دحضرت ﷺ دوه معجزے دی، یوه خولړه غله ډیره کیدل، دویم حضرت ﷺ ته دمخکښے نه دامعلومیدل چه داغله به ټولو ته پوره کیږی په بل روایت کښے دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه هم دغه شان معجزه مذکوره ده، هرکله چه یو څوروټئ دورښو اویا یااتیاؤ سړوته پوره شولے ددے قصه مخکښے راځی۔

(۵۳۱۶) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ یَقُوْلُ قَالَ اَبُوْطَلْحَةَ لِاُمِّ سُلَیْمٍ قَدْسَمِعْتُ صَوْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ضَعِیْفًا اَعْرِفُ فِیْهِ الْجُوْعَ فَهَلْ عِنْدَکِ مِنْ شَیْءٍ فَقَالَتْ نَعَمْ فَاَخْرَجَتْ اَقْرَاصًا مِّنْ شَعِیْرٍ ثُمَّ اَخَذَتْ خمارًا لَّهَا فَلَفَّتِ الْخُبْزَ بِبَعْضِهٖ ثُمَّ دَسَّتْهُ تَحْتَ ثَوْبِیْ وَرَدَّتْنِیْ بِبَعْضِهٖ ثُمَّ اَرْسَلَتْنِیْ اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ صلے اللهُ علیهِ وسلّم قَالَ فَذَهَبْتُ بِهٖ فَوَجَدْتُّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا فِی الْمَسْجِدِ ومعهُ النَّاسُ فَقُمْتُ عَلَیْهِمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَرْسَلَکَ اَبُوْطَلْحَةَ فَقُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ لِطَعَامٍ فَقُلْتُ نعم فقال رَسُوْلُ اللهِ صلّے اللهُ علیهِ وسلّم لِمَنْ مَّعَهٗ قُوْمُوْا قَالَ فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقْتُ بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ حَتّٰی جِئْتُ اَبَاطَلْحَةَ فَاَخْبَرْتُهٗ فَقَالَ اَبُوْطَلْحَةَ یَااُمَّ سُلَیْمٍ قَدْجَآءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ ولَیْسَ عِنْدَنَا مَانُطْعِمُهُمْ فَقَالَتِ اللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ قَالَ فَانْطَلَقَ اَبُوْطَلْحَةَ حَتّٰی لَقِیَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَقْبَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَعَهٗ حَتّٰی دَخَلَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ

عليه وسلّم هلمّي ماعندك يَآاُمّ سُلَيم فاتت بذلك الخبز فامربه رسول الله صلّى الله عليه وسلّم ففتّ وعصرت عليه امّ سُلَيم عكّة لها فادمته ثمّ قال فيه رسول الله صلّى الله عليه وسلّم بماشاء الله أن يقول ثمّ قال ائذن لعشرة فاذن لهم فاكلوا حتّى شبعوا ثمّ خرجوا ثمّ قال ائذن لعشرة فاذن لهم فاكلوا حتّى شبعوا ثمّ خرجوا ثمّ قال ائذن لعشرة حتّى اكل القوم كلّهم وشبعوا والقوم سبعون رجلا اوثمانون. [بخاری ، ترمذی]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه ابوطلحهؓ ام سلیمؓ ته اووے مادرسول الله ﷺ په آواز مبارك کښې کمزوری محسوس کړے ده زماخیال دے چه حضرت ﷺ اوږے شوے نوستاسره دخوراك څه شته دے؟ هغېؓ اووے هاں شته دے، بیا هغېؓ دوړشو څو ډوډۍ را اوویستے اوخپل څپوټکے ئے راواخستو په هغے کښې ئے اونغښتے، لوزماپه کپړه کښې ئے پټے کړے اوڅه ئے ماته پسر کړله (یعنی ددغې یوے کپړے نه ئے څه ماته راپسر کړلبنه اوپه څه کپړه کښې ئے ډوډۍ پټے کړلے) بیائے زه اولیږلم درسول الله ﷺ په خدمت کښې ما هغه واخستے لاړم اوحضرت ﷺ می په جماعت کښې ناست اوموندو، دحضرت ﷺ سره خلق وو نوزۀ ولاړ پاتے شوم، بیارسول الله ﷺ راته اووے تۀ ابوطلحهؓ رالیږلے ئے مااووے هاں، حضرت ﷺ اوفرمائیل غله ده مااووے هاں، حضرت ﷺ خپلو ملګروته اوفرمائیل پاځئ اوحضرت ﷺ راروان شو اوزه هم دټولو مخکښې راروان وم تردے پورے چه دابوطلحهؓ خواله راغلم اوهغهؓ می خبر کړو، ابوطلحهؓ اووے، اے ام سلیمؓ رسول الله ﷺ سره دخلقو تشریف راوړو. اوزمونږ سره دهغوئ دخوراك دپاره څه نشته دے. ام سلیمؓ اووے الله جل جلاله اودهغه رسول ﷺ ښه پوهیږی. بیاابوطلحهؓ درسول الله ﷺ مخې له دملاقات دپاره لاړو ددے نه پس حضرت ﷺ تشریف راوړو اوابوطلحهؓ هم ورسره وو، حضرت ﷺ اوفرمائیل اے ام سلیمؓ ستاسره څه دے هغېؓ هغه ډوډۍ راواخستے راغله حضرت ﷺ حکم اوکړو هغه ټولے ډوډۍ ماتے کړے شوے، بیاام سلیمؓ لږشان غوړی په هغې کښې واچول هغه ئے لکه سالن شولو ، بیاڅه چه الله جل جلاله ته منظوره وه حضرت ﷺ اوفرمائیل (یعنی دعائے اوکړه) ددے نه پس ئے اوفرمائیل لس سړی را اوغواړئ، بیاهغوئ په ډکه ګیډه اوخوړه اورا اووتل ، بیائے اوفرمائیل

لس نور راولیٔ، هغوئ هم اوخوړه په مړه ګیده اولاړل بیائے اوفرمائیل لس نور را ولیٔ تردے پورے چه تولو په مړه ګیده سره اوخوړه، اوتول اویایا اتیا تنه سړی وو۔

فائده: حضرت ﷺ لس لس څکه راغوښتل چه لوښے به وړوکے وو اودلسو نه زیات به تربے چاپیره نهٔ شو ځائے کیدے. ددے حدیث نه دام سلیمؓ لویه هښیارتیا اودینداری ثابته شوله، چه ابو طلحهؓ ګهبراؤ شو خو هغهؓ پریشانه نهٔ شوله۔

(۵۳۱۷) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ بَعَثَنِىْ اَبُوْ طَلْحَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَدْعُوَهُ وَقَدْ جَعَلَ طَعَامًا قَالَ فَاَقْبَلْتُ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ النَّاسِ فَنَظَرَ اِلَىَّ فَاسْتَحْيَيْتُ فَقُلْتُ اَجِبْ اَبَا طَلْحَةَ فَقَالَ لِلنَّاسِ قُوْمُوْا فَقَالَ اَبُوْ طَلْحَةَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّمَا صَنَعْتُ لَكَ شَيْئًا قَالَ فَمَسَّهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدَعَا فِيْهَا بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ قَالَ اَدْخِلْ نَفَرًا مِّنْ اَصْحَابِىْ عَشَرَةً وَّقَالَ كُلُوْا وَاَخْرَجَ لَهُمْ شَيْئًا مِّنْ بَيْنِ اَصَابِعِهٖ فَاَكَلُوْا حَتّٰى شَبِعُوْا فَخَرَجُوْا فَقَالَ اَدْخِلْ عَشَرَةً فَاَكَلُوْا حَتّٰى خَرَجُوْا فَمَا زَالَ يُدْخِلُ عَشَرَةً وَّيُخْرِجُ عَشَرَةً حَتّٰى لَمْ يَبْقَ مِنْهُمْ اَحَدٌ اِلَّا دَخَلَ فَاَكَلَ حَتّٰى شَبِعَ ثُمَّ هَيَّاَهَا فَاِذَا هِىَ مِثْلُهَا حِيْنَ اَكَلُوْا مِنْهَا۔

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ ابو طلحهؓ اولیږلم رسول الله ﷺ ته ددعوت ورکولو دپاره اوخوراك هغوئؓ تیار کړے وو، زهٔ چه راغلم نودغه وخت حضرت ﷺ دخلقو سره ناست وو، حضرت ﷺ چه ماته اوکتل نو ماله شرم راغے، پس ماعرض اوکړو دابوطلحهؓ دعوت قبول کړئ، حضرت ﷺ خلقوته اوفرمائیل ځئ چه ځو، ابو طلحهؓ اووے یارسول الله ﷺ ماخوستاسو دپاره لږه غوندی غله تیاره کړے وه، رسول الله ﷺ هغه غله مسه کړه اوپه هغے کښے دبرکت دعائے اوکړه، بیا حضرت ﷺ اوفرمائیل ځمادملګرو نه لس سړی راؤغواړئ، حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل خورئ، اودخپلو ګوتو دمینځ نه ئے څه را اوویستل هغوئؓ اوخوړه اوماړه شول اولاړو، بیاحضرت ﷺ اوفرمائیل نورلس تنه را اوغواړئ، هغوئؓ هم اوخوړه اولاړو، بیائے په دے شان لس لس تنه کورته دننه غوښتل اولسو لسو به خوړه هغوئؓ به راوتل، تردے پورے چه یو هم په هغوئؓ کښے داسے پاتے نهٔ شو چه هغه بنه موړشوے نه وو، بیاحضرت ﷺ هغه غله یو ځائے کړه

نو هغه دومره پاتې وه لکه څومره چه دخوراك شروع كولو په وخت وه۔

(۵۳۱۸) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ بَعَثَنِيْ اَبُوْطَلْحَةَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ حَدِيْثِ ابْنِ نُمَيْرٍ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ فِيْ اٰخِرِهٖ ثُمَّ اَخَذَمَابَقِيَ فَجَمَعَهُ ثُمَّ دَعَا فِيْهِ بِالْبَرَكَةِ قَالَ فَعَادَ كَمَا كَانَ فَقَالَ دُوْنَكُمْ هٰذَا.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده، په دے كښے دادى بيا چه كومه غله بچ پاتے شوه حضرت ﷺ هغه يو ځائے كړه اوپه هغے كښے ئے دبركت دپاره دعا اوكړه نو هغه دومره شوه لكه څومره چه مخكښے وه بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل چه واخلئ دے لره۔

(۵۳۱۹) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَمَرَ اَبُوْطَلْحَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اُمَّ سُلَيْمٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنْ تَصْنَعَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا لِنَفْسِهٖ خَاصَّةً ثُمَّ اَرْسَلَنِيْ اِلَيْهِ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ وَقَالَ فِيْهِ فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ وَسَمَّى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ فَاَذِنَ لَهُمْ فَدَخَلُوْا فَقَالَ كُلُوْا وَسَمُّوْا اللّٰهَ فَاَكَلُوْا حَتّٰى فَعَلَ ذٰلِكَ بِثَمَانِيْنَ رَجُلًا ثُمَّ اَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ وَاَهْلُ الْبَيْتِ وَتَرَكُوْا سُؤْرًا.

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم ددے نه دمخكښے حديث پشان ده، په دے كښې دادى چه حضرت ﷺ خپل لاس مبارك په هغه غله باندے كيښودو اودالله جل جلاله نوم ئے واخستو، اوبيائے اوفرمائيل لسو سړولره راپريږدوئ، هغوئ لسو كسانو ته اجازت وركړو هغوئ دننه راغلو، حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل خورئ اودالله جل جلاله نوم اخلئ، هغوئ اوخوړه تردے پورے چه اتياؤ سړولره ئے په دے شان را اوغوښتو بيا رسول الله ﷺ اودكورنورو خلقودتولو نه ورستو اوخوړه، خو بيا هم غله بچ پاتے شوه۔

(۵۳۲۰) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِهٰذِهِ الْقِصَّةِ فِيْ طَعَامِ اَبِيْ طَلْحَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ فِيْهِ فَقَامَ اَبُوْطَلْحَةَ عَلَى الْبَابِ حَتّٰى اَتٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّمَا كَانَ شَيْءٌ يَسِيْرٌ قَالَ هَلُمَّهُ فَاِنَّ اللّٰهَ سَيَجْعَلُ فِيْهِ الْبَرَكَةَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حديث پشان ده، په دے كښې دادى چه ابوطلحهؓ په دروازه كښے او دريدلو تردے پورے چه رسول الله ﷺ ئے خواله راغے هغهؓ عرض اوكړو يارسول الله ﷺ

خماسره لږ شانته خوراك دے، حضرت ﷺ اوفرمائيل هغه راؤړه الله جل جلاله به په هغے کښے برکت واچوی۔

(۵۳۲۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ وَقَالَ فِيْهِ ثُمَّ اَكَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَكَلَ اَهْلُ الْبَيْتِ وَاَفْضَلُوْا مَااَبْلَغُوْا جِيْرَانَهُمْ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده، په دے کښں دادی چه بیارسول الله ﷺ لوکوروالاؤ اوخوړه، اودومره زیاته غله باقی پاتے شوه چه دخپلو گاونډیانو کورونو ته ئے اولیږله۔

(۵۳۲۲) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ رَاٰى اَبُوْطَلْحَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُضْطَجِعًا فِي الْمَسْجِدِ يَتَقَلَّبُ ظَهْرًا لِّبَطْنٍ فَاَتٰى اُمَّ سُلَيْمٍ فَقَالَ اِنِّيْ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُضْطَجِعًا فِي الْمَسْجِدِ يَتَقَلَّبُ ظَهْرًا لِّبَطْنٍ وَاَظُنُّهُ جَائِعًا وَسَاقَ الْحَدِيْثَ وَقَالَ فِيْهِ ثُمَّ اَكَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبُوْطَلْحَةَ وَاُمُّ سُلَيْمٍ وَاَنَسٌ وَفَضَلَتْ فَضْلَةٌ فَاَهْدَيْنَاهُ لِجِيْرَانِنَا.

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ابو طلحهؓ رسول الله ﷺ لره اولیدو په جماعت کښے په ملاستے باندے، اوگیدے نه ئے شاجورکړے وه(یعنی گیډه ئے دزمکے سره لگوله) پس دام سلیمؓ خواله راغے، اواوئے وئیل چه مارسول الله ﷺ لره په جماعت کښے ملاست لیدلے دے اوگیدے نه ئے شاجوړوله، نو ځما خیال دے چه حضرت ﷺ وږے شوے دے. بیانے بیان کړوحدیث لره په دے کښے دادی چه بیارسول الله ﷺ اوخوړه، اوابو طلحهؓ اوام سلیمؓ اوانسؓ اوخوړه، اوڅه باقی پاتے شوه نو مونږه خپلو گاونډیانو ته حصه اولیږله۔

(۵۳۲۳) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ جِئْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَوَجَدْتُّهُ جَالِسًا مَعَ اَصْحَابِهٖ يُحَدِّثُهُمْ وَقَدْعَصَبَ بَطْنَهُ بِعِصَابَةٍ قَالَ اُسَامَةُ وَاَنَااَشُكُّ عَلٰى حَجَرٍ فَقُلْتُ لِبَعْضِ اَصْحَابِهٖ لِمَ عَصَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَطْنَهُ فَقَالُوْا مِنَ الْجُوْعِ فَذَهَبْتُ اِلٰى اَبِيْ طَلْحَةَ وَهُوَزَوْجُ اُمِّ سُلَيْمٍ بِنْتِ مِلْحَانَ فَقُلْتُ يَااَبَتَاهُ قَدْرَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَصَبَ بَطْنَهُ بِعِصَابَةٍ فَسَئَلْتُ بَعْضَ اَصْحَابِهٖ فَقَالُوْا مِنَ الْجُوْعِ فَدَخَلَ اَبُوْطَلْحَةَ عَلٰى اُمِّيْ فَقَالَ هَلْ مِنْ شَيْءٍ

فَقَالَتْ نَعَمْ عِنْدِیْ کِسَرٌ مِّنْ خُبْزٍ وَّتَمَرَاتٌ فَاِنْ جَآءَ نَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحْدَهٗ اَشْبَعْنَاهُ وَاِنْ جَآءَ اٰخَرُ مَعَهٗ قَلَّ عَنْهُمْ ثُمَّ ذَكَرَ سَآئِرَ الْحَدِيْثِ بِقِصَّتِهٖ.

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ یوه ورځ درسول الله ﷺ خواله راغلـم ما اولیدو چه حضرت ﷺ داصحابو سره ناست وو اوپه ګیډه باندے ئے یوه پټئ ترلے وه، اسامهٔ وائی ماته شك دے چه دګټے ئے هم ذکر کړے وو اوکه نهٔ ، ماد حضرت ﷺ دیو اصحابی نه تپوس اوکړو چه داپټئ حضرت ﷺ ولے ترلے ده، هغه اووے دلوږے دوجے نه، زهٔ دابو طلحهٔ خواله لاړم او هغهٔ دام سلیمٔ خاوند وو چه دملحان لور وه، او ما اووے بابا ما رسول الله ﷺ اولیدو چه هغوی ﷺ په خپله ګیډه باندے پټئ ترلے وه ما د حضرت ﷺ دیو اصحابیٔ نه تپوس اوکړو نو هغه اووے دلوږے دوجے نه ئے ترلے ده، ددے په اوریدو ابو طلحهٔ ځما مور خواله لاړو، او تپوس ئے ترے اوکړو ستاسره دخوراك څه شته، هغۓ اووے هاں، دوډئ څه ټکړے دی اوڅه کجورے دی کچرے رسول الله ﷺ یو اځی تشریف راوړی نو مونږ ئے په حضرت ﷺ په ډکه ګیډه خوره ولے شو، اوکچرے بل څوك هم دحضرت ﷺ سره راشی نو خوراك به کم پریوځی، بیائے بیان کړلو حدیث لره دپورته قصے سره۔

(۵۳۲۴) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ طَعَامِ اَبِيْ طَلْحَةَ نَحْوَ حَدِيْثِهِمْ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ جَوَازِ اَكْلِ الْمَرَقِ وَاسْتِحْبَابِ اَكْلِ الْيَقْطِيْنِ۔

دشوروا اودکدو خوړلو دفضیلت بیان

(۵۳۲۵) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ اِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَهٗ قَالَ اَنَسُ ابْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَذَهَبْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى ذٰلِكَ الطَّعَامِ فَقَرَّبَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُبْزًا مِّنْ شَعِيْرٍ وَّمَرَقًا فِيْهِ دُبَّآءٌ وَّقَدِيْدٌ قَالَ اَنَسٌ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَرَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَتَبَّعُ الدُّبَّآءَ مِنْ حَوَالَيِ

الصَّحْفَةِ فَلَمْ اَزَلْ اُحِبُّ الدُّبَّآءَ مُنْذُ يَوْمَئِذٍ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یو درزی رسول الله ﷺ له میلمه کړلو څه غله ئے پخه کړله، انس وائی زۀ هم په دغه دعوت کښے دحضرت ﷺ سره لاړم، بیا دحضرت ﷺ مخے ته دوریشو ډوډئ راوړے شوه اوشوروا راوړے شوه چه په هغے کښ کدو اووریته کړے غوښه وه، حضرت انس وائی ما اولیدو چه رسول الله ﷺ به دلوښی په غاړوسره کدو تلاش کوؤ اوخوړلو به ئے، دهغه ورځی نه څما هم دکدوسره محبت دے۔

فائده: ددے نه معلومه شوه چه دعوت قبلول روا دی، اودرزی ګټه حلاله ده، اوشوروا درسته ده، اودکدو فضیلت ترے هم معلوم شولو، اودا هم معلومه شوه چه دکدو سره مینه ساتل پکار دی، دغه شان هرځیزلره چه هغه درسول الله ﷺ خوښ وو، اوحرص کول پکار دی، دهغے په حاصلولو باندے اودسترخوان خوړلو والاله مستحب دی، بنه ځیز په بل خوړول کچرے په کوربه بدنۀ لږی۔

اودا چه کوم په دے روایت کښے دی چه حضرت ﷺ دلوښی دډډ هونه دکدوټکړے راغونډولے نۀ دنورو طرفو نونه، بله دا چه ممانعت ددے وجے نه دے چه نورو خوړونکو ته کراهت وی، اودرسول الله ﷺ دجوتے نه هیڅ یو چالره کراهت نۀ وو بلکه دهغوئ دشریفانه آثار نه به ئے برکت حاصلولو، تردے پورے چه دحضرت ﷺ لاړے اوبلغم به ئے په خپلو شونډو پورے مږل۔ (نووی)

(۵۳۲۶) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ دَعَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ فَجِيْئَ بِمَرَقَةٍ فِيْهَا دُبَّآءٌ فَجَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ مِنْ ذٰلِكَ الدُّبَّآءِ وَيُعْجِبُهُ قَالَ فَلَمَّا رَأَيْتُ ذٰلِكَ جَعَلْتُ اُلْقِيْهِ اِلَيْهِ وَلَا اَطْعَمُهُ قَالَ فَقَالَ اَنَسٌ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَمَازِلْتُ بَعْدُ يُعْجِبُنِی الدُّبَّآءُ.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ له یو سړی دعوت ورکړو، زۀ هم دحضرت ﷺ سره لاړم هلته شوروا راغله چه په هغے کښے کدو وو، رسول الله ﷺ کدو خوړل شروع کړو په ډیره مزه سره هرکله چه ما دا اولیدل نو ما به دکدو ټکړے هغوئ

ﷺ نه نزدے کولے، او پخپله به مې نۀ خوړلے، انس رضی الله تعالی عنه وائی دغه ورځې نه ځما دکدو سره مینه پیداشوله۔

(۵۳۲۷) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا خَيَّاطًا دَعَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَزَادَ قَالَ ثَابِتٌ فَسَمِعْتُ اَنَسًا رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ فَمَاصُنِعَ لِيْ طَعَامٌ بَعْدُ اَقْدِرُ عَلٰى اَنْ يُصْنَعَ فِيْهِ دُبَّآءٌ اِلَّا صُنِعَ.

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یو درزی جناب رسول الله ﷺ له دعوت ورکړو، دومره زیاته ده په دے روایت کښے چه انس رضی الله تعالی عنه وائی بیا چه به څه خوراك ددے نه پس ځمادپاره تیاره ولے شو او ځمابه دوس لاندے وو نو کدوبه پکښې خامخا شریك کولے شو۔

فائده: کدو ډیره فائده منه ترکاری ده او خصوصا په عربو کښے هندګرمو ملکونو کښے دغوښے سره دکدوخوړل ضروری دی، ددے دپاره چه دغوښے ګرمی نقصان اونۀ کړی، او کدو دزیړی ګرمئ لره سره وی او تنده دفع کوی، اودماء القرع صفرا وی دبخار یعنی دتبے او تپ دق دپاره زیات فائده مند دے۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ وَضْعِ النَّوٰى خَارِجَ التَّمْرِ۔

دکجورے خوړلو په وخت هډوکی جدا ساتل مستحب دی۔

(۵۳۲۸) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ بُسْرٍ قَالَ نَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى اَبِيْ فَقَالَ فَقَرَّبْنَا اِلَيْهِ طَعَامًا وَوَطْبَةً فَاَكَلَ مِنْهَا ثُمَّ اُتِيَ بِتَمْرٍ فَكَانَ يَاْكُلُهُ وَيُلْقِي النَّوٰى بَيْنَ اِصْبَعَيْهِ وَيَجْمَعُ السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطٰى قَالَ شُعْبَةُ هُوَظَنِّيْ وَهُوَفِيْهِ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اِلْقَاءُ النَّوٰى بَيْنَ الْاِصْبَعَيْنِ ثُمَّ اُتِيَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَهُ ثُمَّ نَاوَلَهُ الَّذِيْ عَنْ يَمِيْنِهٖ قَالَ فَقَالَ اَبِيْ وَاَخَذَ بِلِجَامِ دَآبَّةٍ اُدْعُ لَنَا فَقَالَ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيْمَا رَزَقْتَهُمْ فَاغْفِرْلَهُمْ فَارْحَمْهُمْ. [ابو داود، ترمذی]

ترجمه: دعبدالله بن بسر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه رسول الله ﷺ ځمادپلار سره کوزشو مونږ ورته طعام پیش کړو او وطبه، (وطبه یو طعام دے، چه دکجورو او پنیر او غوړو

یو ځائے کولو نه جوړیږی) حضرت ﷺ اوخوړو، بیا وچې کجورے راغلے حضرت ﷺ به هغه خوړلے، او هډوکی به ئے دمسواکے اودمینځ دګوتے په مینځ کښے ایخودلو، شعبهؒ وائی ځما داسے خیال دے اوزه داګنړم چه په دے حدیث کښے داسے دی چه هډوکی ددوارو ګوتو په مینځ کښے غورځول، (غرض دا چه هډوکی به ئے دکجوروسره نه یو ځائے کول جدا به ئے ایخودلو) بیادخنبلو دپاره څه راغلو حضرت ﷺ اوخنبل اوبیادځانه ښی طرفته چه څوك وو هغوئ ته ورکړل، بیاځما پلار دحضرت ﷺ دسورلئ واګے اونیولے اوعرض ئے اوکړو دعا اوکړئ زمونږ دپاره، حضرت ﷺ اوفرمائیل یاالله ددوئ په رزق کښے برکت کړے اواوبخښے دوئ لره اورحم اوکړے په دوئ باندے۔

(۵۳۲۹) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَلَمْ یَشُکَّ فِیْ اِلْقَاءِ النَّوٰی بَیْنَ الْاِصْبَعَیْنِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته پشان ده۔

بَابُ اَکْلِ الْقِثَّآءِ بِالرُّطَبِ۔

دکجورے سره دترے خوړلو بیان۔

(۵۳۳۰) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ جَعْفَرٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ رَاَیْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَاْکُلُ الْقِثَّآءَ بِالرُّطَبِ.

ترجمه: دعبدالله بن جعفر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما لیدلے دے رسول الله ﷺ لره دکجورے سره په تره خوړلو۔

فائده: په دے کښے هم لوئے مصلحت دی چه دکجورے ګرمی اودترے یخ والے یو ځائے کړے نو معتدله شی اوپه کجوره کښ چه کومه صفرا وی، سختی وی هغه نه کیږی۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَوَاضُعِ الْاَکْلِ وَصِفَةِ قُعُوْدِهٖ۔

په ځنګه هیناستو سره طعام خوړل غوره دی۔

(۵۳۳۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ رَاَیْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مُقْعِیًا یَاْکُلُ تَمْرًا. [ابوداود]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما رسول الله ﷺ اولیدو چه داقعاء په طور ناست وو اوکجورے ئے خوړلے۔

فائده: داقعاء کیښناستل دادی چه کناتی دزمکے سره اولګوی اودواړه پندئ اودروی۔

(۵۳۳۲) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اُتِیَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ فَجَعَلَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقْسِمُهُ وَهُوَ مُحْتَفِزٌ یَاْکُلُ مِنْهُ اَکْلًا ذَرِیْعًا وَفِیْ رِوَایَةٍ زُهَیْرٍ اَکْلًا حَثِیْثًا.

ترجمه: دحضرت انس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ له کجورے راوړے شوے حضرت ﷺ هغے له ویشلے نو په داسے شان ناست وو لکه څوك چه په تندئ کنبے کیښنی، (یعنی په ماتو خپو اوزر زرئے دهغے نه خوړلے، (ولے چه حضرت ﷺ ته به بل څه کار پیښ شوے وو۔)

بَابُ النَّهْیِ عَنِ الْقِرَانِ فِیْ جَمَاعَةٍ

هرکله چه دخلقو سره طعام خورئ نودوه دوه نمرئ یادوه دوه کجورے په یوځائے مه خورئ.

(۵۳۳۳) عَنْ جَبَلَةَ ابْنِ سُحَیْمٍ قَالَ کَانَ ابْنُ الزُّبَیْرِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَرْزُقُنَا التَّمْرَ قَالَ وَقَدْ کَانَ اَصَابَ النَّاسَ یَوْمَئِذٍ جُهْدٌ فَکُنَّا نَاْکُلُ فَیَمُرُّ عَلَیْنَا ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَنَحْنُ نَاْکُلُ فَیَقُوْلُ لَاتُقَارِنُوْا فَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الْاِقْرَانِ اِلَّا اَنْ یَّسْتَاْذِنَ الرَّجُلُ اَخَاهُ قَالَ شُعْبَةُ لَااُرٰی هٰذِهِ الْکَلِمَةَ اِلَّا مِنْ کَلِمَةِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَعْنِیْ الْاِسْتِیْذَان. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دجبله بن سحیم رضی لله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه عبدالله ابن الزبیر په مونږ باندے کجورے خوړلے په دغه ورځو کښې په خلقو باندے تکلیف وو (دخوړلو) مونږ خوړلے چه عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه دمخے نه اووتو، او هغوئ اووے، دوه دوه نمرئ، (په یو ځائے) مه خورئ، ولے چه رسول الله ﷺ ددے نه منع کړے ده، مګر هرکله چه دخپل رورنه اجازت

واخلي، شعبهؒ وائي دا اجازت اخستل زۀ داګنړم چه دابن عمررضی الله تعالی عنه قول دے۔

(۵۳۳۴) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَيْسَ فِي حَدِيْثِهِمَا قَوْلُ شُعْبَةَ وَلَا قَوْلُهُ وَقَدْ كَانَ اَصَابَ النَّاسَ يَوْمَئِذٍ جَهْدٌ.

ترجمه: ددے هم ترجمه دپورته پشان ده خو په دے کښے نۀ دشعبهؒ قول شته نۀ په خلقو باندے دتکليف کيدوذکردے۔

(۵۳۳۵) عَنْ جَبَلَةَ ابْنِ سُحَيْمٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّقْرِنَ الرَّجُلُ بَيْنَ التَّمْرَتَيْنِ حَتّٰى يَسْتَاْذِنَ اَصْحَابَهٗ.

ترجمه: دجبله بن سحيمؒ نه روايت دے وائي چه مادعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنه نه اوريدلی دی چه وئيلی ئے وو منع کړے ده رسول الله ﷺ د دوه کجورو په يوځائے دخوړلونه دکومے پورے چه دخپلو ملګرونه ئے اجازت اخستے نۀ وی۔

فائده: دوه نمرئ يادوه کجورے يادرے يازياتے په يوځائے اوچتول اوخوړل منع دی، ځکه چه په جمع کښے به نورو ته ناخوښه وی، بله داچه په طعام کښے دهرچاحق دی، پس دنورونه زيات اخستل دمروت نه خلاف دی، اودانهی تحريمی ده يا په طور دکراهت او ادب ده، اوصحيح داده چه کچرے طعام مشترك وی نو حرام دی بغير داجازت دنورو شرکاؤ نه، اوکچرے ديوسړی وی نودهغه رضا مندئ نه بغير حرام دی کچرے طعام لږوی اوکچرے طعام ډيروی بياهم دادب نه خلاف اومکروهه دی۔ (نووی مختصرا)

بَابٌ فِي ادِّخَارِ التَّمْرِ وَنَحْوِهٖ مِنَ الْاَقْوَاتِ لِلْعِيَالِ۔

دکجورے يانورے وغيره دبال بچ دپاره دجمع کولو ايخودلو بيان۔

(۵۳۳۶) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَجُوْعُ اَهْلُ بَيْتٍ عِنْدَهُمُ التَّمْرُ . [ابو داود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی، هغه کوروالا به وږی نۀ شی دچاکره چه کجورے وی۔

(۵۳۳۷) عن عائشة رضی الله تعالی عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یاعائشة بیت لاتمر فیه جیاعٌ اهله او جاع اهله قالها مرتین او ثلاثا.

ترجمه: د حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے عائشے په کوم کورکښے چه کجورے نشته دے، هغه کوروالا وږی دی، دوه ځله نے دغسے اوفرمائیل یادرے ځله.

باب فضل تمر المدینة

دمدینے دکجورو فضیلت

(۵۳۳۸) عَنْ سَعْدِ ابْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَکَلَ سَبْعَ تَمَرَاتٍ مِمَّابَیْنَ لَابَتَیْهَا حِیْنَ یُصْبِحُ لَمْ یَضُرَّهُ سَمٌّ حَتّٰی یُمْسِیَ.

ترجمه: دسعد بن ابی وقاص رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خوك چه اووه كجورے دمدینے ددوارو میدانونو د دننه حصے اوخوری دسحرپه وخت کښے نو هغه له به دماښامه پورے هیڅ قسم زهر نقصان نۀ شی ورکولے.

(۵۳۳۹) عَنْ سَعْدٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ مَنْ تَصَبَّحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً لَمْ یَضُرَّهُ ذٰلِکَ الْیَوْمِ سَمٌّ وَّلَاسِحْرٌ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دسعد رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ماواوریدل چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل خوك چه اووه كجورے دمدینے ددوارو میدانونو د دننه حصے دسحرپه وخت اوخوری. هغه ته به دماښامه پورے هیڅ قسم زهر نقصان نۀ شی ورکولے نۀ جادو.

(۵۳۴۰) عَنْ هَاشِمِ ابْنِ هَاشِمٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهٗ وَلَایَقُوْلَانِ سَمِعْتُ النَّبِیَّ صلی الله علیه وسلم.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده.

(۵۳۴۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ فِیْ عَجْوَةِ الْعَالِیَةِ شِفَآءً اَوْاِنَّهَا تِرْیَاقٌ اَوَّلَ الْبُکْرَةِ.

ترجمه : دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی اللہ تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، دعالیه (دمدینے هغه حصه چه دنجد په طرف ده، ددرے یاته میلو پورے) په عجوه کښے شفا ده یاهغه تریاق دی په سحر کښے۔

بَابُ فَضْلِ الْكَمْأَةِ وَمُدَاوَةِ الْعَيْنِ بِهَا۔

دخربرې فضیلت اودسترګو علاج۔

(۵۳۴۲) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدِ ابْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَآءٌ لِّلْعَيْنِ۔ [بخاری ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه : دسعید بن زید نه روایت دے وائی چه ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو خربرے د" من" نه دے (یعنی هغه من کوم چه په بنی اسرائیلو باندے نازلیدلو اګرچه هغه په مثل دترنجبین وو مګردا هم خودرودے نوګویا دمن پشان شو) اوددے لوبه دسترګو دوائی ده۔

(۵۳۴۳) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَآءٌ لِّلْعَيْنِ۔

ترجمه : ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده۔

(۵۳۴۴) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ شُعْبَةُ لَمَّا حَدَّثَنِيْ بِهِ الْحَكَمُ لَمْ اُنْكِرْهُ مِنْ حَدِيْثِ عَبْدِالْمَلِكِ۔

ترجمه : ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده۔

(۵۳۴۵) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ الَّذِيْ اَنْزَلَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ وَمَاؤُهَا شِفَآءٌ لِّلْعَيْنِ۔

ترجمه : دسعید بن زید رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، خربرے دهغه من نه دے چه هغه الله تعالی په بنی اسرائیلو باندے نازل کړی وو، اودهغے اوبه دسترګو دپاره دوائی ده۔

(۵۳۴۶) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ الَّذِيْ اَنْزَلَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ عَلٰى مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِّلْعَيْنِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده.

(۵۳۴۷) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدٍ يَقُوْلُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ الَّذِيْ اَنْزَلَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ عَلٰى بَنِيْ اِسْرَآئِيْلَ وَمَاهُوَ شِفَاءٌ لِّلْعَيْنِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته حدیث شریف پشان ده.

(۵۳۴۸) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَآؤُهَا شِفَاءٌ لِّلْعَيْنِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده.

بَابُ فَضِيْلَةِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْكَبَاثِ

دراک دتورے میوے فضیلت

(۵۳۴۹) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْـهُ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَرِّ الظَّهْرَانِ وَنَحْنُ نَجْنِيْ الْكَبَاثَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالْاَسْوَدِ مِنْهُ قَالَ فَقُلْنَا يَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَاَنَّكَ رَعَيْتَ الْغَنَمَ قَالَ نَعَمْ هَلْ مِنْ نَبِيٍّ اِلَّا وَقَدْ رَعَاهَا اَوْنَحْوَهٰذَا مِنْ قَوْلٍ. [بخاری]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ درسول الله ﷺ سره وو په مرالظهران کښے (چه دمکے نه دیو منزل په فاصله باندے دے) لومونږ کباث تولولو، (کباث وائی دراك میوے ته اوراك یوه ځنګلی ونه ده) رسول الله ﷺ اوفرمائیل توره ګوړئ لوانړوئ، مونږ عرض اوکړو یارسول الله ﷺ داسے معلومیږی لکه چه تابزے څرولی دی (ځکه خودرته دځنګل حال معلوم دے) حضرت ﷺ اوفرمائیل هاں! یونبی داسے نۀ دے راغلے چه هغه بزے څرولی نۀ وی یادغه شان نے څه اوفرمائیل.

فائده: ولے چه په بزوڅرولو سره تواضع یعنی عاجزے پیداکیږی، دخلوت په وجه سره

زړۀ صفاکيږي، دبزوېه خرولو سره بيادبنيادمو دخرولو لياقت پيداکيږي، (نوويؒ)۔

بَابُ فَضِيلَةِ الْخَلِّ۔

دسرکې فضيلت۔

(۵۳۵۰) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نِعْمَ الْاُدُمُ اَوِالْاِدَامُ الْخَلُّ. [ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمورحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی ښه سالن دے سرکه۔

(۵۳۵۱) عَنْ سُلَيْمَانَ ابْنِ بِلَالٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ نِعْمَ الْاُدُمُ وَلَمْ يَشُكَّ.

ترجمه: ددې حديث ترجمه هم دپورته حديث پشان ده۔

(۵۳۵۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاَلَ اَهْلَهُ الْاُدُمَ فَقَالُوْا مَاعِنْدَنَا اِلَّا خَلٌّ فَدَعَابِهٖ فَجَعَلَ يَاْكُلُ بِهٖ وَيَقُوْلُ نِعْمَ الْاُدُمُ الْخَلُّ نِعْمَ الْاُدُمُ الْخَلُّ.

ترجمه: دجابربن عبد الله رضی الله تعالی عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ دخپل کور والانه سالن اوغوښتو، هغوئ اووې زمونږ سره هيڅ نشته سوا دسرکې نه، حضرت ﷺ سرکه اوغوښته اوبيائے دهغې سره ډوډئ اوخوړه اوائے فرمائيل چه سرکه ښه سالن دے سرکه ښه سالن دے۔

(۵۳۵۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ اَخَذَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِيْ ذَاتَ يَوْمٍ اِلٰى مَنْزِلِهٖ فَاَخْرَجَ اِلَيْهِ فِلَقًا مِّنْ خُبْزٍ فَقَالَ مَامِنْ اُدُمٍ، فَقَالُوْا لَا اِلَّا شَيْءٌ مِّنْ خَلٍّ قَالَ فَاِنَّ الْخَلَّ نِعْمَ الْاُدُمُ قَالَ جَابِرٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَمَازِلْتُ اُحِبُّ الْخَلَّ مُنْذُ سَمِعْتُهَا مِنْ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ طَلْحَةُ مَازِلْتُ اُحِبُّ الْخَلَّ مُنْذُ سَمِعْتُهَا مِنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ. [ابو داود، نسائی]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روايت دے، وائی چه رسول الله ﷺ زما دلاسه نيولے خپل کورته بوتلمه، بيا خوټکړے ددوډئ حضرت ﷺ له راوړے شوے حضرت ﷺ اوفرمائيل سالن نشته دے خلقو اووے نۀ مګرسرکه شته دے، حضرت ﷺ اوفرمائيل سرکه

خوښه سالن دے، جابرؓ وائی دهغه ورځې نه څما د سرکې سره محبت شولو په کوم ورځ چه مې دحضرت ﷺ نه داواؤریدل اوطلحهؓ وائی (چه هغه دے حدیث لره روایت کوی دجابر رضی الله تعالی عنه نه) دکله نه چه ما دا حدیث دجابر رضی الله تعالی عنه نه واؤریدو نوزما هم دسرکې سره مینه پیداشوله۔

(۵۳۵۴) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَخَذَبِیَدِهٖ اِلٰی مَنْزِلِهٖ بِمِثْلِ حَدِیْثِ ابْنِ عُلَیَّةَ اِلٰی قَوْلِهٖ فَنِعْمَ الْاُدْمُ الْخَلُّ وَلَمْ یَذْکُرْمَابَعْدَهٗ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۳۵۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنْتُ جَالِسًا فِیْ دَارِیْ فَمَرَّرَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وسلَّم فَاشَارَ اِلَیَّ فَقُمْتُ اِلَیْهِ فَاَخَذَ بِیَدِیْ فَانْطَلَقْنَا حَتّٰی اَتٰی بَعْضَ حُجَرِنِسَآئِهٖ فَدَخَلَ ثُمَّ اَذِنَ لِیْ فَدَخَلْتُ الْحِجَابَ عَلَیْهَا فَقَالَ هَلْ مِنْ غَدَآءٍ فَقَالُوْا نَعَمْ فَاُتِیَ بِثَلَاثَةِ اَقْرِصَةٍ فَوُضِعْنَ عَلٰی نَبِیٍّ فَاَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قُرْصًا فَوَضَعَهٗ بَیْنَ یَدَیْهِ وَاَخَذَ قُرْصًا اٰخَرَفَوَضَعَهٗ یَدَیَّ ثُمَّ اَخَذَ الثَّالِثَ فَکَسَرَهٗ بِاثْنَیْنِ فَجَعَلَ نِصْفَهٗ بَیْنَ یَدَیْهِ وَنِصْفَهٗ بَیْنَ یَدَیَّ ثُمَّ قَالَ هَلْ مِنْ اُدْمٍ فَقَالَ لَااِلَّا شَیْءٌ مِنْ خَلٍّ قَالَ هَاتُوْهُ فَنِعْمَ الْاُدْمُ هُوَ.

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ په خپل کورکښې ناست وم پس رسول الله ﷺ څما په طرف تیریدو اوما ته ئې اشاره اوکړه زهٔ دهغویٔ ﷺ خواله لاړم، حضرت ﷺ زما لاس اونیوو اومونږ لاړو تردے پورے چه دحضرت ﷺ دیوے بی بی حجرے ته اورسیدو اوحضرت ﷺ دننه لاړو، بیائې ماته اجازت اوکړو اوهغې بی بیؓ پرده اوکړه، حضرت ﷺ تپوس اوکړو څه دخوراك شته ؟ هغویٔ اووے هاں بیادرے ډوډئ دحضرت ﷺ مخې ته راوړے شوے، اودکجورے دپاڼرو په یودسترخوان باندے کینبودے شوے، رسول الله ﷺ یوه ډوډئ راواخسته خپلې مخې ته ئې کینبوده بیائې بله راواخسته اوڅما مخې ته ئې کینبوده، بیائې دریمه ډوډئ راواخسته اوهغه ئې دوه ټکرے کړه نیمه ئې په خپل مخکښې کینبوده اونیمه ئې زما په مخکښې کینبوده، بیائې اوفرمائیل سالن شته ؟ هغویٔ اووے نهٔ مگرسرکه شته، حضرت ﷺ اوفرمائیل سرکه راوړئ سرکه خودیر غوره سالن دے۔

بَابُ اِبَاحَةِ اَكْلِ الثُّوْمِ

اوږه خوړل روا دي.

(۵۳۵۶) عَنْ اَبِىْ اَيُّوْبَ الْاَنْصَارِىِّ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اُتِىَ بِطَعَامٍ اَكَلَ مِنْهُ فَبَعَثَ بِفَضْلِهٖ اِلَىَّ وَاِنَّهٗ بَعَثَ اِلَىَّ يَوْمًا بِفَضْلَةٍ لَمْ يَاْكُلْ مِنْهَا لِاَنَّ فِيْهَا ثُوْمًا فَسَاَلْتُهٗ اَحَرَامٌ هُوَ قَالَ لَا وَلٰكِنِّىْ اَكْرَهُهٗ مِنْ اَجْلِ رِيْحِهٖ قَالَ فَاِنِّىْ اَكْرَهُ مَا كَرِهْتَ.

ترجمه : دابو ایوب انصاری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ له چه به کله طعام راغے نو حضرت ﷺ به ترے اوخوړو او څه چه بچ پاتے شو هغه به نے ماته را اولیږو یو ځل حضرت ﷺ طعام رااولیږو اودهغے نه ئے نۀ وو خوړلے ولے چه په هغے کښے اوږه وه، ما دحضرت ﷺ نه تپوس اوکړو چه (یارسول الله) اوږه حرامه ده ، حضرت ﷺ اوفرمائیل نه لیکن دبوئ په وجه ماته بد معلومیږی، ما اووے کوم څیز چه تاته بد معلومیږی هغه په ماهم بدلګی .

(۵۳۵۷) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه : دشعبهؒ نه هم په دغه اسناد سره هم دغه شان روایت دی۔

(۵۳۵۸) عَنْ اَبِىْ اَيُّوْبَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِىَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ عَلَيْهِ فَنَزَلَ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى السُّفْلِ وَاَبُوْ اَيُّوْبَ فِى الْعُلْوِ فَانْتَبَهَ اَبُوْ اَيُّوْبَ لَيْلَةً فَقَالَ نَمْشِىْ فَوْقَ رَاْسِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَنَحَّوْا فَبَاتُوْا فِىْ جَانِبٍ ثُمَّ قَالَ لِلنَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ نَبِىُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّفْلُ اَرْفَقُ فَقَالَ لَا اَعْلُوْا سَقِيْفَةً اَنْتَ تَحْتَهَا فَتَحَوَّلَ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى الْعُلُوِّ وَاَبُوْ اَيُّوْبَ فِى السُّفْلِ فَكَانَ يَصْنَعُ لِلنَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا فَاِذَا جِىْءَ بِهٖ اِلَيْهِ سَاَلَ عَنْ مَوْضِعِ اَصَابِعِهٖ فَيَتَتَبَّعُ مَوْضِعَ اَصَابِعِهٖ فَصَنَعَ لَهٗ طَعَامًا فِيْهِ ثُوْمٌ فَلَمَّا رُدَّ اِلَيْهِ سَاَلَ عَنْ مَوْضِعِ اَصَابِعِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيْلَ لَهٗ لَمْ يَاْكُلْ فَفَزِعَ وَصَعِدَ اِلَيْهِ فَقَالَ اَحَرَامٌ هُوَ فَقَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا وَلٰكِنِّىْ اَكْرَهُهٗ فَقَالَ فَاِنِّىْ اَكْرَهُ مَا تَكْرَهُ اَوْ مَا كَرِهْتَ قَالَ وَكَانَ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتٰى بِالْوَحْىِ.

ترجمه: دابو ایوب انصاری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه هرکله رسول الله ﷺ ددوئ سره کوز شو، نو حضرت ﷺ په لاندے کور کښې اوسیدو او حضرت ابو ایوب انصاریؓ په دویم چت کښې اوسیدو، یو ځل ابو ایوبؓ دشپے راویښ شو او اوئے وئیل مونږ درسول الله ﷺ دسر دپاسه ګرځو، پس واپس شو، اوشپه ئے په یو کټ کښې تیره کړه، دشپے نه پس ابو ایوبؓ حضرت ﷺ ته دپورته اوسیدو دپاره اووے، حضرت ﷺ اوفرمائیل دالاندے کور دآرام دے، (داوسیدونکو اودراتلونکو دپاره او هم په دغه وجه حضرت ﷺ په لاندے والا کور کښې اوسیدلو) ابو ایوبؓ اووے زۀ په هغه چت دپاسه نۀ اوسیږم دکومے دلاندے چه تاسو یئ ددے خبرے په اوریدو سره حضرت ﷺ پورته درجے ته تشریف یوړلو او ابو ایوبؓ دلاندے درجے ته راغے، ابو ایوبؓ به دحضرت ﷺ دپاره طعام تیارولو، پس هرکله چه به طعام حضرت ﷺ له راغے، (او هغوئ ﷺ به اوخوړو اوپاتے چه به واپس لاړو) نو ابو ایوبؓ به (دهغه سړی نه) تپوس اوکړو چه دحضرت ﷺ ګوتے مبارکے دطعام په کوم ځائے لګیدلے دے، دهغه نه به هغوئؓ خوړه، (دبرکت دپاره) یو ځل ابو ایوبؓ طعام پوخ کړلو چه په هغے کښې اوږه وه، هرکله چه طعام واپس لاړو نو ابو ایوبؓ تپوس اوکړو دحضرت ﷺ ګوتے مبارکے کوم ځائے لګیدلے وے، هغوئؓ اووے حضرت ﷺ اونۀ خوړه ددے په اوریدو ابو ایوبؓ ګهبراؤ شو اوپورته لاړو اوتپوس نے اوکړو چه اوږه حرامه ده؟ حضرت ﷺ اووے نۀ لیکن ماته بده معلومیږی، ابو ایوبؓ اووے کوم شے چه تاته بد معلومیږی، هغه ماته هم بد معلومیږی، ابو ایوبؓ وائی دحضرت ﷺ خواله به فرښتے راتلے، (اوفرښتو ته داوګے دبوئ نه تکلیف وی ددے وجے نه به حضرت ﷺ نه خوړه).

بَابُ اِكْرَامِ الضَّيْفِ

دمیلمه خاطرداری کول پکار دی.

(۵۳۵۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنِّیْ مَجْهُوْدٌ فَاَرْسَلَ اِلٰی بَعْضِ نِسَآئِهٖ فَقَالَتْ وَالَّذِیْ بَعَثَکَ بِالْحَقِّ مَاعِنْدِیْ اِلَّا مَآءٌ ثُمَّ اَرْسَلَ اِلٰی اُخْرٰی فَقَالَتْ مِثْلَ ذٰلِکَ حَتّٰی قُلْنَ کُلُّهُنَّ مِثْلَ ذٰلِکَ لَاوَالَّذِیْ بَعَثَکَ بِالْحَقِّ مَاعِنْدِیْ اِلَّا مَآءٌ فَقَالَ مَنْ یُّضِیْفُ هٰذَا اللَّیْلَةَ

رَحِمَهُ اللهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ اَنَا يَارَسُوْلَ اللهِ فَانْطَلَقَ بِهٖ اِلٰى رَحْلِهٖ فَقَالَ لِامْرَاَتِهٖ هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ قَالَتْ لَا اِلَّا قُوْتُ صِبْيَانِيْ قَالَ فَعَلِّلِيْهِمْ بِشَيْءٍ فَاِذَا دَخَلَ ضَيْفُنَا فَاَطْفِئِي السِّرَاجَ وَاَرِيْهِ اَنَّا نَاْكُلُ فَاِذَا اَهْوٰى لِيَاْكُلَ فَقُوْمِيْ اِلَى السِّرَاجِ حَتّٰى تُطْفِئِيْهِ قَالَ فَلَمَّا اَصْبَحَ غَدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ قَدْ عَجِبَ اللهُ مِنْ صَنِيْعِكُمَا بِضَيْفِكُمَا اللَّيْلَةَ. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: دابو هريره رضی لله تعالی عنه نه روايت دے واتی چه يو سړی درسول الله ﷺ خواله راغے او عرض ئے اوکړو چه ماته (دخوړلو څښلو) ډير تکليف دے، حضرت ﷺ په خپلے يوے بی بی پسے قاصد اوليږو هغے اووے قسم دے په هغه ذات چا چه تۀ په رښتيا سره راليږلے ئے چه څماسره داوبو نه سيوا څه نشته دے، بيا حضرت ﷺ دبلے بی بی کورته اوليږو هغے هم دغه شان اووے. تردے پورے چه ټولو بيبيانو دغه جواب ورکړو چه زمونږ سره علاوه داوبو نه نورڅه نشته دے. بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل څوك به ده لره نن شپه ميلمه کړی الله جل جلاله دی پرے رحم اوکړی يو انصاری پاڅيدو او اوئے وئيل زۀ به ئے ميلمه کړم اے دالله جل جلاله رسوله! بيا هغوی هغه لره خپل کورته بوتلو او خپلے بی بی ته ئے اووے ستاسره څه شته؟ هغے اووے نۀ البته دبچو دپاره لږ طعام شته دے، انصاری اووے دبچو دپاره څه بهانه اوکړه او هرکله چه څما ميلمه دننه راشی نو رنړا مړه کړه، هغے هم دغسے اوکړو او بنځه خاوند وږی پاتے شو او ميلمه طعام اوخوړو، هرکله چه سحر شو نو هغه انصاری دحضرت ﷺ خواله راغے، حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل، الله تعالی تعجب اوکړو په دے سره څه چه تاسو دخپل ميلمه سره اوکړو، په نن شپه کښں.

فائده: ستاسو سوزيدل غيرته مزه، په عربی کښے دے ته ايثار وئيلے شی دادلويو بزرګانو کار دے په قرآن کريم کښے دداسے خلقو فضيلت راغلے دے، "وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ" اوپه بچو باندے ايثار په هغه وخت کښے جائز دے، هرکله چه دلوږے دوجے نه هغوی ته دتکليف رسيدو ويره نۀ وی، ورنه ماشومان دميلمه په ميلمستابانديے رومبی دی.

(۵۳۶۰) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ بَاتَ بِهٖ ضَيْفٌ فَلَمْ يَكُنْ عِنْدَهٗ اِلَّا قُوْتُهٗ وَقُوْتُ صِبْيَانِهٖ فَقَالَ لِامْرَاَتِهٖ نَوِّمِی الصِّبْيَةَ وَاَطْفِئِی السِّرَاجَ وَقَرِّبِیْ لِلضَّيْفِ مَاعِنْدَكِ قَالَ

فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دیو انصاری کورته میلمه راغی، او دهغوی په کورکښے څه نۀ وو علاوه دهغه او دهغه دماشومانو دطعام نه، هغوی خپلے بی بی ته اووے بچی اوده کړه او ډیوه مړه کړه، او څه چه ستاسره دی هغه دمیلمه مخکښے کیږده هغے هم دغسے اوکړو، پس داآیات نازل شو "وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ" یعنی په خپل راحت باندے دبل آرام لره مخکښے کوی اګرکه په خپله محتاج وی.

(۵۳۶۱) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُضِيْفَهُ فَقَالَ اَلَا رَجُلٌ يُضِيْفُ هٰذَا رَحِمَهُ اللّٰهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ اَبُوْطَلْحَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَانْطَلَقَ بِهٖ اِلٰى رَحْلِهٖ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ حَدِيْثِ جَرِيْرٍ وَّذَكَرَ فِيْهِ نُزُوْلَ الْاٰيَةِ كَمَاذَكَرَ وَكِيْعٌ.

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یو سړے درسول الله ﷺ خواله راغی میلمه وو، دحضرت ﷺ سره دهغه دمیلمستیا څه نۀ وو، حضرت ﷺ اوفرمائیل چاچه دده میلمستیا اوکړه الله جل جلاله دی په هغه باندے رحم اوکړی، یو انصاری اووے چه هغه ته ئے ابو طلحه وئیلو چه زۀ به ئے میلمه کړمه، بیا هغوی هغه لره خپل کورته بوتلو.......دآخر حدیث پورے.

(۵۳۶۲) عَنِ الْمِقْدَادِ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَقْبَلْتُ اَنَا وَصَاحِبَانِ لِىْ وَقَدْ ذَهَبَتْ اَسْمَاعُنَا وَاَبْصَارُنَا مِنَ الْجَهْدِ فَجَعَلْنَا نَعْرِضُ اَنْفُسَنَا عَلٰى اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَيْسَ اَحَدٌ مِّنْهُمْ يَقْبَلُنَا فَاَتَيْنَا النَّبِىَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقَ بِنَا اِلٰى اَهْلِهٖ فَاِذَا ثَلَاثَةُ اَعْنُزٍ فَقَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَلِبُوْا هٰذَا اللَّبَنَ بَيْنَنَا قَالَ فَكُنَّا نَحْتَلِبُ فَيَشْرَبُ كُلُّ اِنْسَانٍ مِّنَّا نَصِيْبَهٗ وَنَرْفَعُ لِلنَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصِيْبَهٗ قَالَ فَيَجِىْءُ مِنَ اللَّيْلِ فَيُسَلِّمُ تَسْلِيْمًا لَّا يُوْقِظُ نَائِمًا وَيُسْمِعُ الْيَقْظَانَ قَالَ ثُمَّ يَاْتِى الْمَسْجِدَ فَيُصَلِّىْ ثُمَّ يَاْتِىْ شَرَابَهٗ فَيَشْرَبُ فَاَتَانِى الشَّيْطَانُ ذَاتَ لَيْلَةٍ وَقَدْ شَرِبْتُ نَصِيْبِىْ فَقَالَ مُحَمَّدٌ يَاْتِى الْاَنْصَارَ فَيُتْحِفُوْنَهٗ وَيُصِيْبُ عِنْدَهُمْ مَابِهٖ حَاجَةٌ اِلٰى هٰذِهِ الْجُرْعَةِ فَاَتَيْتُهَا فَشَرِبْتُهَا فَلَمَّا اَنْ وَغَلَتْ فِىْ بَطْنِىْ وَعَلِمْتُ اَنَّهٗ لَيْسَ اِلَيْهِ سَبِيْلٌ قَالَ نَدَّمَنِى الشَّيْطَانُ فَقَالَ وَيْحَكَ مَاصَنَعْتَ اَشَرِبْتَ شَرَابَ

مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَجِيْئُ فَلَايَجِدُهُ فَيَدْعُوْا عَلَيْكَ فَتَهْلِكُ فَتَذْهَبُ دُنْيَاكَ وَاٰخِرَتُكَ وَعَلَيَّ شَمْلَةٌ اِذَاوَضَعْتُهَا عَلٰى قَدَمَيَّ خَرَجَ رَأْسِيْ وَاِذَا وَضَعْتُهَا عَلٰى رَأْسِيْ خَرَجَ قَدَمَايَ وَجَعَلَ لَايَجِيْئُنِيْ النَّوْمُ وَاَمَّا صَاحِبَايَ فَنَامَا وَلَمْ يَصْنَعَا مَاصَنَعْتُ قَالَ فَجَآءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ كَمَا كَانَ يُسَلِّمُ ثُمَّ اَتَى الْمَسْجِدَ فَصَلّٰى ثُمَّ اَتٰى شَرَابَهُ فَكَشَفَ عَنْهُ فَلَمْ يَجِدْفِيْهِ شَيْئًا فَرَفَعَ رَأْسَهُ اِلَى السَّمَآءِ فَقُلْتُ الْاٰنَ يَدْعُوْا عَلَيَّ فَاَهْلِكُ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِيْ وَاَسْقِ مَنْ سَقَانِيْ قَالَ فَعَمَدْتُ اِلَى الشَّمْلَةِ فَشَدَدْتُهَا عَلَيَّ وَاَخَذْتُ اِلَى الْاَعْنُزِ اَيُّهَا اَسْمَنُ فَاَذْبَحُهَا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِذَاهِيَ حَافِلَةٌ وَّاِذَاهُنَّ حُفَّلٌ كُلُّهُنَّ فَعَمَدْتُ اِلٰى اِنَآءٍ لِّاٰلِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاكَانُوْا يَطْمَعُوْنَ اَنْ يَّحْتَلِبُوْا فِيْهِ قَالَ فَحَلَبْتُ فِيْهِ حَتّٰى عَلَتْهُ رَغْوَةٌ فَجِئْتُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَشَرِبْتُمْ شَرَابَكُمُ اللَّيْلَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اشْرَبْ فَشَرِبَ ثُمَّ نَاوَلَنِيْ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اشْرَبْ فَشَرِبَ ثُمَّ نَاوَلَنِيْ فَلَمَّاعَرَفْتُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْرَوِيَ وَاَصَبْتُ دَعْوَتَهُ ضَحِكْتُ حَتّٰى اُلْقِيْتُ اِلَى الْاَرْضِ قَالَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِحْدٰى سَوْاٰتِكَ يَامِقْدَادُ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ كَانَ مِنْ اَمْرِيْ كَذَا وَكَذَا وَفَعَلْتُ كَذَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاهٰذِهٖ اِلَّا رَحْمَةٌ مِّنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ اَفَلَاكُنْتَ اٰذَنْتَنِيْ فَنُوْقِظُ صَاحِبَيْنَا فَيُصِيْبَانِ مِنْهَا قَالَ فَقُلْتُ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَآاُبَالِيْ اِذَا اَصَبْتَهَا اَوْاَصَبْتُهَا مَعَكَ مَنْ اَصَابَهَا مِنَ النَّاسِ. [ترمذی]

ترجمه: دمقداد بن اسود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زۀ او څما دواړه ملګری راغلو او څمادغوږونو اوسترګو قوت تلے وو (دلوږے وغیره نه) مونږ به خپل ځان پیش کوو دحضرت ﷺ په اصحابوّ باندے خو چابه هم مونږ نۀ قبلولو، آخر مونږ درسول الله ﷺ خواله راغلو، حضرت ﷺ مونږ له خپل کورته بوتلو هلته درے بزے وے حضرت ﷺ اوفرمائیل ددوئ نه پئ اولشئ مونږ تاسو ټول به ئے اوڅښو، پس مونږ به دهغوئ نه پئ لوشل او هریو به زمونږ نه خپله حصه څښله، اوحضرت ﷺ حصه به مونږ او چته کیښودله، حضرت ﷺ به دشپے تشریف راوړو اوپه داسے آواز سره به ئے سلام اوکړو چه به هغے سره به اوده بنده نۀ ویښیدو، اوویښ به واوریدو بیابه حضرت ﷺ جماعت ته راغے اومونځ به ئے اداکړو بیابه

خپلو پیو لـه راغـے او هغه به ئے اوڅښل، یوه شپه شیطان ماله دهوکه راکړه، ماخپله حصه پئ ښنلی وو، شیطان دا اووے چه حضرت محمد ﷺ خودانصارو خواله ځی، هغوئ حضرت ﷺ ته تحفے ورکوی او څه ته چه دحضرت ﷺ حاجت وی هغه ورته میلاویږی، حضرت ﷺ ته ددے یو ګټ پیو څه حاجت دے، آخر زهٔ راغلم او هغه پئ می اوڅښل، هرکله چه هغه پئ ځماګیدے ته لاړو او ځمایقین راغے چه اوس پئ نهٔ شی میلاویدے، دغه وخت شیطان زهٔ ستومانه کړم اوراته ئے اووے هلاکت دی وی تـالره داتا څه کار اوکړو تادحضرت ﷺ حصه اوڅښله چه حضرت ﷺ اوس راشی اوپئ نهٔ وی تاته به آزار اوکړی اوستادنیا اوآخرت دواړه به تباه شی ، مایو څادر اغوستے وو هرکله چه به می په خپو اچوؤ نوسربه می ښکاره کیدو او چه سرمی پټوؤ نو خپے به می ښکاره کیدے، اوخوب هم ماله نهٔ راتلو اوځماملګری اوده شوی وو، هغوئ داکار نهٔ وو کړے کوم چه ماکړے وو، آخررسول الله ﷺ راغے اودمعمول مطابق ئے سلام اوکړو، بیاجماعت ته راغے اومونځ ئے اوکړو، ددے نه پس حضرت ﷺ دپیو خواله راغے لولوښے چه ئے کهولاؤ کړو نوپه هغے کښې څه نهٔ وو، حضرت ﷺ خپل سرداسمان په طرف پورته کړو، مادااوګڼړلـه چه اوس حضرت بددعا کوی اوزه تباه کیږم، حضرت اوفرمائیل یاالله جل جلاله اوخورے پـه هغوئ ځوك چه په ماخوروی او اوڅکوے په هغوئ چه ځوك په ماڅکوی، ددے په اوریدو ماخپل څادر مضبوط اوتړو اوچاړهٔ می واخسته اوپه بزویے لاړم چه کومه په هغوئ کښے څربـه وی چه درسول الله ﷺ دپاره ئے ذبحه کړم ، څه ګورم چه دهغوئ غلانزے دپیونه ډکے شوے دی، بیا څه ګورم چه دنوروبزو غلانزے هم دپیونه ډکے شوے دی، مادحضرت ﷺ دکوروالاؤ نه یولوښے واخستو چه په هغے کښې به هغوئ پئ نهٔ لوشلو، (یعنی په هغے کښې به ئے دلوشلو خواهش نهٔ کولو) په هغے کښې ماپئ اولوشل تردے پورے چه زګ ئے پورته راغے، (دومره ډیرپئ ئے اوکړل) ماهغـه راواخستـل اودحضرت ﷺ خوالـه راغلم، حضرت ﷺ اوفرمائیل تا خپله حصه پئ دشپے ښنلی دی یانهٔ دی، ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ تاسوپئ اوښبئ، حضرت ﷺ اوښبل بیائے ماته راکړو ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ نوراوښبئ پس حضرت ﷺ نوراوښبل بیائے ماته راکړو هرکله چه ماته معلومه شوه چه حضرت ﷺ

مور شولو، اودعائے ماواخستہ، دغہ وخت ماواوخندل تردے پورے چہ پہ زمکہ باندے پریوتم، رسول اللہ ﷺ اوفرمائیل اے مقداد تاخہ بدہ خبرہ کرے دہ ھغہ څہ دہ ماعرض اوکړو یارسول اللہ ﷺ زما حال داسے شو اوما داسے قصور کرے وو حضرت ﷺ اوفرمائیل دھغہ وخت یئ (کوم چہ دمعمول خلاف زیات شو) داللہ جل جلالہ رحمت وو تاماتہ مخکښے ولے نۂ وے ووئیلی مونږ بہ خپل دواړہ ملگری ھم راویښ کړی وو ھغوی بہ ھم داپئ: څښلی ووماعرض اوکړو قسم دے پہ ھغہ ذات چاچہ تاتہ رښتونے کلام درکړے دے اورالیږلے ئے، اوس څماڅہ پرواہ نشتہ چہ اللہ جل جلالہ رحمت ماحاصل کړو، اوستاسرہ می حاصل کړو چہ څوک بہ ھم دے لرہ حاصل کړی۔

(۵۳۶۳) عَنْ سُلَيْمٰنَ ابْنِ الْمُغِيْرَةِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ.

ترجمہ: ترجمہ ددے ھم دپورتہ حدیث پشان دہ۔

(۵۳۶۴) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ اَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثِيْنَ وَمِائَةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ مَعَ اَحَدٍ مِّنْكُمْ طَعَامٌ فَاِذَامَعَ رَجُلٍ صَاعٌ مِّنْ طَعَامٍ اَوْنَحْوُهٗ فَعُجِنَ ثُمَّ جَآءَ رَجُلٌ مُشْرِكٌ مُشْعَآنٌّ طَوِيْلٌ بِغَنَمٍ يَّسُوْقُهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبَيْعٌ اَمْ عَطِيَّةٌ اَوْقَالَ اَمْ هِبَةٌ قَالَ لَابَلْ بَيْعٌ فَاشْتَرىٰ مِنْهُ شَاةً فَصُنِعَتْ وَاَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَوَادِ الْبَطْنِ اَنْ يُّشْوىٰ قَالَ وَاَيْمُ اللّٰهِ مَامِنَ الثَّلَاثِيْنَ وَمِائَةٍ اِلَّا حَزَّلَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُزَّةً مِّنْ سَوَادِ بَطْنِهَا اِنْ كَانَ شَاهِدًا اَعْطَاهُ وَاِنْ كَانَ غَائِبًا خَبَّأَلَهٗ قَالَ وَجَعَلَ قَصْعَتَيْنِ فَاَكَلْنَا مِنْهُمَا اَجْمَعُوْنَ وَشَبِعْنَا وَفَضَلَ فِي الْقَصْعَتَيْنِ فَحَمَلْتُهٗ عَلَى الْبَعِيْرِ اَوْكَمَا قَالَ. [بخاری]

ترجمہ: دعبدالرحمن بن ابی بکر رضی اللہ تعالی عنہ نہ روایت دے وائی چہ مونږ درسول اللہ ﷺ سرہ وو یوسل دیرش کسان حضرت ﷺ اوفرمائیل ستاسو سرہ طعام شتہ؟ نو دیو سړی سرہ یو اوگے غلہ پیداشوہ یاپشان دھغے، بیائے ھغہ تولہ واغړلہ ددے نہ پس یو مشرك راغے چہ ویښتہ ببر اواوگدہ وو، بزے ئے پہ رسئ: سرہ راښکودلے، رسول اللہ ﷺ ورتہ اوفرمائیل داخرڅوے، یائے دغسے ورکوے یائے اووے کہ ھبہ کوے ئے، ھغہ اووے نۂ بلکہ خرڅوم ئے، حضرت ﷺ یوہ بزہ دھغہ نہ واخستہ، دھغے غوښہ تیارہ کړے شوہ، اوحضرت ﷺ دھغے

دکلیجئ دوریتـولـو حـکـم اوکـړو راوی وائـی پـه الله تـعـالـی قسـم دے چـه پـه دغـه یوسل دریشو سړوکښے یو کس داسے نۀ وو چه دهغه دپاره حضرت ﷺ څه حصه دکلیجئ نه جداکړے نه وی، کـه هـغـه به موجود وو نوخپله حصه به ئے ورته اورکړه ورنه دهغه حصه به ئے کیښوده، اوپـه دوو لـوښـو کښـے ئـے غـوښـه راوېستله بیامونږ تولودهغے نه اوخوړه اوماړه شولو، بلکه په لـوښـو کښـے څـه بچ پاتے شوه، هغے لره مابارکړه په اوښ باندے پاتے هم دغسے وئیلی دی، (په دے حدیث کښے دحضرت ﷺ دوه معجزے دی یو په کلیجئ کښے برکت اودویم په بزه کښے برکت)۔

(۵۳٦۵) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ اَبِیْ بَکْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ اَصْحَابَ الصُّفَّةِ کَانُوْا نَاسًا فُقَرَآءَ وَاَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَرَّةً مَنْ کَانَ عِنْدَهٗ طَعَامُ اثْنَیْنِ فَلْیَذْهَبْ بِثَلَاثَةٍ وَمَنْ کَانَ عِنْدَهٗ طَعَامُ اَرْبَعَةٍ فَلْیَذْهَبْ بِخَامِسٍ بِسَادِسٍ اَوْکَمَا قَالَ وَاَنَّ اَبَابَکْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ جَآءَ بِثَلَاثَةٍ وَّانْطَلَقَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِعَشَرَةٍ وَاَبُوْبَکْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ بِثَلَاثَةٍ قَالَ فَهُوَ اَنَا وَاَبِیْ وَاُمِّیْ وَلَا اَدْرِیْ هَلْ قَالَ وَامْرَاَتِیْ وَخَادِمٌ بَیْنَ بَیْتِنَا وَبَیْتِ اَبِیْ بَکْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ تَعَشّٰی عِنْدَالنَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ لَبِثَ حَتّٰی صُلِّیَتِ الْعِشَآءُ ثُمَّ رَجَعَ فَلَبِثَ حَتّٰی نَعَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَجَآءَ بَعْدَمَامَضٰی مِنَ اللَّیْلِ مَاشَآءَ اللّٰهُ قَالَتْ لَهٗ امْرَاَتُهٗ مَاحَبَسَکَ عَنْ اَضْیَافِکَ اَوْقَالَتْ ضَیْفِکَ قَالَ اَوَمَاعَشَّیْتِهِمْ قَالَتْ اَبَوْا حَتّٰی تَجِیْئَ قَدْعَرَضُوْا عَلَیْهِمْ فَغَلَبُوْهُمْ قَالَ فَذَهَبْتُ اَنَافَاخْتَبَاْتُ وَقَالَ یَاغُنْثَرُ فَجَدَّعَ وَسَبَّ وَقَالُوْا کُلُوْا لَاهَنِیْئًا وَقَالَ وَاللّٰهِ لَا اَطْعَمُهٗ اَبَدًا قَالَ فَاَیْمُ اللّٰهِ مَاکُنَّا نَاْخُذُ مِنْ لُقْمَةٍ اِلَّا رَبَا مِنْ اَسْفَلِهَا اَکْثَرُ مِنْهَا قَالَ حَتّٰی شَبِعْنَا وَصَارَتْ اَکْثَرَ مِمَّا کَانَتْ قَبْلَ ذٰلِکَ فَنَظَرَ اِلَیْهَا اَبُوْبَکْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَاِذَا هِیَ کَمَاهِیَ اَوْاَکْثَرُ قَالَ لِامْرَاَتِهٖ یَااُخْتَ بَنِیْ فِرَاسٍ مَاهٰذَا قَالَتْ وَقُرَّةِ عَیْنِیْ لَهِیَ الْاٰنَ اَکْثَرُ مِنْهَا قَبْلَ ذٰلِکَ بِثَلَاثِ مِرَارٍ قَالَ فَاَکَلَ مِنْهَا اَبُوْبَکْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَقَالَ اِنَّمَا کَانَ ذٰلِکَ مِنَ الشَّیْطَانِ یَعْنِیْ یَمِیْنَهٗ ثُمَّ اَکَلَ مِنْهَا لُقْمَةً ثُمَّ حَمَلَهَا اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَصْبَحَتْ عِنْدَهٗ قَالَ وَکَانَ بَیْنَنَا وَبَیْنَ قَوْمٍ عَقْدٌ فَمَضَی الْاَجَلُ فَعَرَّفْنَا اثْنَاعَشَرَرَجُلًا مَّعَ کُلِّ رَجُلٍ مِّنْهُمْ اُنَاسٌ اَللّٰهُ اَعْلَمُ کَمْ مَّعَ کُلِّ رَجُلٍ قَالَ اِلَّا اَنَّهٗ بَعَثَ مَعَهُمْ فَاَکَلُوْا مِنْهَا اَجْمَعُوْنَ اَوْکَمَا قَالَ. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دعبدالرحمن بن ابی بکررضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه اصحاب صفه

محتاج خلق وو اورسول الله ﷺ یو ځل اوفرمائیل، دچاسره چه ددوه تنو طعام وی هغه دی درے کسان بوځی اودچاسره چه دڅلورتنو طعام وی هغه دے پنځه یاشپږ تنه بوځی، حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه د درے سړو سره راغے اورسول الله ﷺ لسوسړولره بوتلو(دحضرت ﷺ اهل عیال هم لسوته نزدے وو نولکه نیمه غله دمیلمنودپاره شوه) عبدالرحمن وائی زمونږ په کورکښے زۀ وم اوځماپلار اوځمامور، راوی وائی کیدے شی خپله بی بی ئے هم ونیلی وی، اویو خادم چه ځما اودابوبکرؓ دواړوپه کورکښے وو، عبدالرحمنؓ وائی ابوبکرؓ دشپے طعام درسول الله ﷺ سره اوخوړو بیا هلته دماسختن دمانځه پورے حصار وو، دمانځه اداکولو نه پس بیادرسول الله ﷺ سره واپس لاړو او هلته اوده شو، غرض داچه ددیرے شپے تیریدو نه پس خومره چه الله ته منظوره وه ابوبکرؓ کورته راغے دهغه بی بی هغویؓ ته اووے تاخپل میلمانه پریښوده چرته پاتے شوے حضرت ابوبکررضی الله تعالی عنه اووے تاسوپه هغویؓ غله نه ده خورولے هغوئ اووے میلمنوئ خوړه ستاسودراتلوپورے، اوهغوئ دمیلمنو مخے ته غله ایخودے وه لیکن هغویؓ په نۀ خوړلو کښے په دوئ باندے غالب شوعبدالرحمن وائی زه (دابوبکررضی الله تعالی عنه دخفګان دویرے نه) پټ شوم، هغویؓ ماته آواز اوکړو اے سست مجهول یااحمق ستاپوزه کټ شه، اوبدئے اونیل ماته اومیلمنوته ئے اووے تاسوخورئ هیڅکله دابنه خوراك نۀ دے (ولے چه بے وخته دے) اوابوبکر رضی الله تعالی عنه اووے قسم په الله تعالی چه زۀ دے لره چرته هم نۀ خورم، عبدالرحمن وائی قسم په الله مونږ چه به کومه نمرئ اوچتوله دلاندے نه به هغه غله دومره نوره زیاتیده تردے پورے چه مونږ ماړه شولو، اوطعام خومره چه مخکښے وو دهغے نه هم زیات شولو ابوبکر رضی الله تعالی عنه چه هغه غلے ته اوکتل چه هغه دومره ده یازیاته شویده، نو هغویؓ خپلے بی بیؓ ته اووے اے دبنی فراس خور(چه نوم ئے ام رومان وو اوبنی فراس دهغویؓ قبیله وه) داڅۀ دی ؟ هغےؓ اووے قسم دے ځمادسترګوپه یخ والی (یعنی په رسول الله ﷺ) چه داخودمخکښے نه هم درے حصے زیاته ده، (داحضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه کرامات وو ددے نه معلومه شوه چه داولیاؤکرامت حق دی) بیاحضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه دهغے نه اوخوړه ، اواوئے ونیل

داکوم قسم چه ماخوړلے وو دادشیطان دطرف نه وو (په غصه کښے) پس یوه نمړئ ئے دهغے نه اوخوړه اوبیائے هغه نوره غله درسول الله ﷺ حضور ته یوړه، زهٔ هم سحرهلته وم، اوزمونږ اودیوقوم په مینځ کښے عقد شوے وو، (یعنی اقرار وو دصلح) نومده داقرار تیره شوله حضرت ﷺ زمونږ افسران دولس سړی کړل، اودهریوسره خلق وو الله جل جلاله پوهه دے چه دهریوسره څومره خلق وو، بیا هغه طعام ئے دهغوئ سره کړو اوټولو خلقودهغے نه اوخوړو.

(۵۳۶۲) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ اَبِیْ بَکْرٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَقَالَ نَزَلَ عَلَیْنَا اَضْیَافٌ لَّنَا وَقَالَ وَکَانَ اَبِیْ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَتَحَدَّثُ اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّیْلِ قَالَ انْطَلَقَ وَقَالَ یَاعَبْدَالرَّحْمٰنِ افْرُغْ مِنْ اَضْیَافِکَ قَالَ فَلَمَّا اَمْسَیْتُ جِئْنَا بِقِرَاهُمْ قَالَ فَاَبَوْا فَقَالُوْا حَتّٰی یَجِیْئَ اَبُوْمَنْزِلِنَا فَیَطْعَمَ مَعَنَا قَالَ فَقُلْتُ لَهُمْ اِنَّهٗ رَجُلٌ حَدِیْدٌ وَّاِنَّکُمْ اِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا خِفْتُ اَنْ یُّصِیْبَنِیْ مِنْهُ اَذًی قَالَ فَاَبَوْا فَلَمَّا جَآءَ لَمْ یَبْدَأْ بِشَیْئٍ اَوَّلَ مِنْهُمْ فَقَالَ اَفَرَغْتُمْ مِّنْ اَضْیَافِکُمْ قَالَ قَالُوْا لَاوَاللهِ مَافَرَغْنَا قَالَ اَلَمْ اٰمُرْعَبْدَالرَّحْمٰنِ قَالَ وَتَنَحَّیْتُ عَنْهُ فَقَالَ یَاعَبْدَالرَّحْمٰنِ قَالَ فَتَنَحَّیْتُ عَنْهُ قَالَ فَقَالَ یَاغُنْثَرُ اَقْسَمْتُ عَلَیْکَ اِنْ کُنْتَ تَسْمَعُ صَوْتِیْ اِلَّاجِئْتَ قَالَ فَجِئْتُ قَالَ فَقُلْتُ وَاللهِ مَالِیْ ذَنْبٌ هٰؤُلَآءِ اَضْیَافُکَ فَسَلْهُمْ قَدْاَتَیْتُهُمْ بِقِرَاهُمْ فَاَبَوْا اَنْ یَّطْعَمُوْا حَتّٰی تَجِیْئَ قَالَ فَقَالَ مَالَکُمْ قَالَ فَقَالَ اَبُوْبَکْرٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَوَاللهِ لَآاَطْعَمُهُ اللَّیْلَةَ قَالَ فَقَالُوْا فَوَاللهِ لَانَطْعَمُهٗ حَتّٰی تَطْعَمَهٗ قَالَ فَقَالَ مَارَاَیْتُ کَالشَّرِّ کَاللَّیْلَةِ قَطُّ وَیْلَکُمْ مَالَکُمْ اَلَاتَقْبَلُوْا عَنَّا قِرَاکُمْ قَالَ ثُمَّ قَالَ اَمَّا الْاُوْلٰی فَمِنَ الشَّیْطَانِ هَلُمُّوْا قِرَاکُمْ قَالَ فَجِیْئَ بِالطَّعَامِ فَسَمّٰی فَاَکَلَ فَاَکَلُوْا قَالَ فَلَمَّا اَصْبَحَ غَدَا عَلَی النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللهِ بَرُّوْا وَحَنِثْتُ قَالَ فَاَخْبَرَهٗ فَقَالَ بَلْ اَنْتَ اَبَرُّهُمْ وَاَخْیَرُهُمْ وَلَمْ تَبْلُغْنِیْ کَفَّارَةٌ.

ترجمه: دعبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه زمونږ کره میلمانه راغلو اوځماپلار درسول الله ﷺ سره دشپے خبرے کولے. هغه لاړو اوماته ئے اووے اے عبدالرحمن ته دمیلمنو خدمت اوکړه، هرکله چه مابنام مونږ هغوئ له طعام راوړو نو هغوئ ئے دخوړلو نه انکار اوکړو اواوئے وئیل دکومے پورے چه دکورخاوند نهٔ وی راغلے اوزمونږ سره په طعام ناست نهٔ وی نو مونږ هم نهٔ خورو، ماهغوئ ته اووے (زمادپلار) مزاج تیز دے کچرے تاسو اونهٔ خوړئ نو ماته دهغوئ نه دتکلیف رارسیدو ویره ده، خو هغوئ اونهٔ منل، هرکله چه

ابوبکرؓ راغے نورومبیٔ خبره ئے دا اوکړه چه تاسو دمیلمنو خدمت کړے دے، خلقو اووے نۀ، هغویٔ اووے ماخو عبدالرحمن ته وئیلی وو، (عبدالرحمن وائی زۀ پټ شوے وم دهغویؓ دمخے نه) هغویؓ آواز اوکړو عبدالرحمانه! زۀ پټ شوے وم، بیائے اووے اے نالائق زۀ تاته قسم درکوم کچرے تۀ زما آواز اورے نوراشه، پس زۀ راغلم اوما اووے قسم په الله جل جلاله چه څماخه قصور نشته تاسو دخپلو میلمنو نه تپوس اوکړئ، ماخو هغویٔ له طعام ورے وو، خو هغویٔ اووے مونږ نۀ خورو دکومے پورے چه تاسو راغلی نۀ یئ، ابوبکر رضی الله تعالی عنه هغویؓ ته اووے تاسو غله ولے نۀ خوره، بیا ابوبکرؓ اووے قسم په الله تعالی چه زۀ خونن شپه هډو غله نۀ خورمه میلمنو اووے قسم په الله تعالی مونږ نه خورو دکومے پورے چه ته نه خورے، ابوبکرؓ اووے ما داسے بده شپه چرته لیدلی نۀ ده، افسوس دے چه تاسو خپله میلمستیا نۀ قبلوئ بیا ابوبکرؓ اووے ما چه کوم قسم خوړلے هغه دشیطان دطرفنه وو راوړئ غله راوړئ، آخر طعام راوړے شو، ابوبکرؓ بسم الله اووے اواوئے خوړو میلمنو هم اوخوړو، هرکله چه سحر شو نو حضرت ابوبکرؓ درسول الله ﷺ خواله راغے، اوعرض ئے اوکړو یارسول الله ﷺ دمیلمنو قسم خو په ځائے شو او څماقسم دروغ شولو، حضرت ﷺ اوفرمائیل ته دهغویٔ تولو نه رښتونے ئے اودتولو نه بنه ئے، عبدالرحمنؓ وائی نه یم خبر زۀ چه ابوبکرؓ کفاره ورکړے وی (یعنے دقسم دماتولو نه محکښے لیکن وروسته کفاره ورکول ضروری دی)۔

بَابُ فَضِيْلَةِ الْمُوَاسَاتِ فِى الطَّعَامِ الْقَلِيْلِ

په لږه غله کښې دمیلمستیا کولو فضیلت۔

(۵۳۶۷) عن ابى هريرة رضى الله تعالى عنه انه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم طَعَامُ الْاِثْنَيْنِ كَافِىُ الثَّلَاثَةِ وَطَعَامُ الثَّلَاثَةِ كَافِىُ الْاَرْبَعَةِ. [بخاری]

ترجمه: د بو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، ددوو سړو طعام دریو ته پوره کیږی، اود دریو څلورو ته پوره کیږی۔

(۵۳۶۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ طَعَامُ الْوَاحِدِ يَكْفِى الْاِثْنَيْنِ وَطَعَامُ الْاِثْنَيْنِ يَكْفِى الْاَرْبَعَةَ وَطَعَامُ الْاَرْبَعَةِ يَكْفِى الثَّمَانِيَةَ وَفِى

روایة اسحٰق قَال رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَمْ یَذْکُرْ سَمِعْتُ. [ابن ماجه]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، دیو طعام دَ دوه کسانو دپاره پوره دے اودوو طعام دخلورو دپاره پوره دے، اودخلورو طعام دَ اتهٔ کسانو دپاره پوره دے۔

(۵۳۶۹) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِیْثِ ابْنِ جُرَیْجٍ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۳۷۰) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ طَعَامُ الْوَاحِدِ یَکْفِیُ الْاِثْنَیْنِ وَطَعَامُ الْاِثْنَیْنِ یَکْفِیُ الْاَرْبَعَةَ. [ترمذی]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دیو طعام د دوو دپاره پوره دے، اود دوو طعام څلورو کسانودپاره پوره دے۔

(۵۳۷۱) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ طَعَامُ الرَّجُلِ یَکْفِیُ رَجُلَیْنِ وَطَعَامُ رَجُلَیْنِ یَکْفِیُ الْاَرْبَعَةَ وَطَعَامُ الْاَرْبَعَةِ یَکْفِیُ ثَمَانِیَةً.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دیو طعام د دوو دپاره کافی دے، اوطعام د دوو دخلورو دپاره کافی دے، اوطعام دخلورو داتو دپاره کافی دے۔

بَابُ الْمُؤْمِنُ یَأْکُلُ فِیْ مِعًی وَّاحِدٍ وَّالْکَافِرُ یَأْکُلُ فِیْ سَبْعَةِ اَمْعَاءٍ

مؤمن په یوه کلمه ګلمه کښې خوری اوکافر په اووه (۷) ګلموکښې

(۵۳۷۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْکَافِرُ یَأْکُلُ فِیْ سَبْعَةِ اَمْعَاءٍ وَالْمُؤْمِنُ یَأْکُلُ فِیْ مِعًی وَّاحِدٍ. [ترمذی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کافر په اوهٔ کلمو کښے خوری اومؤمن په یوه کلمه کښے خوری۔

فائده: نووی علیه الرحمة چه داحدیث حضرت ﷺ هغه وخت فرمائیلے وو هرکله چه

حضرت ﷺ یو کافر میلمه کړے وو، او هغه ذاووه بزوپی او څښل. بیائے په بله ورځ مسلمان میلمه شولو نو دیوے بزے پی ئے اوڅښل او دبلے بزے پی ئے پوره اونۀ څښل۔

قاضی عیاضؒ وائی څنو وئیلی دی چه داحدیث ددغه معین سړی په باب کښے دے اوطبیبانو وئیلی دی چه دهرښنده اوه کلمے دی یوه معده اودرے نرۍ کلمے اودرے غټے کلمے نو کافر دحرص دوجے نه تولولره ډکول غواړی ،اومؤمن له یوه ډکول کافی دی، اوځنو وئیلی دی چه داوه کلمونه اوه بدصفتونه مراد دی، ۱۔ حرص ، ۲۔ طمع، ۳۔ امید، ۴۔ فساد ، ۵۔ حسد، ۶۔ موټاپا ،۷۔ لالچ دغسے نور۔ انتهی مختصرا۔

(۵۳۷۳) عَنْ نَافِعٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ رَاٰی ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا مِسْکِیْنًا فَجَعَلَ یَضَعُ وَیَضَعُ بَیْنَ یَدَیْهِ قَالَ فَجَعَلَ یَأْکُلُ اَکْلًا کَثِیْرًا قَالَ لَایَدْخُلَنَّ هٰذَا عَلَیَّ فَاِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اِنَّ الْکَافِرَ یَاْکُلُ فِیْ سَبْعَةِ اَمْعَآءٍ. [بخاری]

ترجمه : دنافعؒ نه روایت دے وائی چه عبدالله بن عمر یو مسکین لره اولیدو، نو دهغه مخے ته به غله اوپخودلے شوه او هغه به خوره ډیره زیاته ئے اوخوره، بیا هغویؓ اووے دے څما مخے ته مۀ راپریږدئ ولے چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو کافر په اوه کلمو کښے خوری۔

(۵۳۷۵) عَنْ جَابِرٍ وَّابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَآ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ یَاْکُلُ فِیْ مِعًی وَّاحِدٍ وَالْکَافِرُ یَاْکُلُ فِیْ سَبْعَةِ اَمْعَآءٍ.

ترجمه : دجابرؓ اوابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مؤمن په یوه کلمه کښے خوری اوکافر په اوه کلمو کښے ۔

(۵۳۷۶) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ وَلَمْ یَذْکُرِ ابْنَ عُمَرَ.

ترجمه : دجابرؓ نه پشان دپورته روایت دے خو په دے کښے دابن عمرؓ ذکر نشته دے۔

(۵۳۷۷) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ یَاْکُلُ فِیْ مِعًی وَّاحِدٍ وَّالْکَافِرُ یَاْکُلُ فِیْ سَبْعَةِ اَمْعَآءٍ. [ابن ماجه]

ترجمه : ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۳۷۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِیْثِهِمْ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته پشان ده.

(۵۳۷۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ضَافَهُ ضَیْفٌ وَّهُوَ کَافِرٌ فَاَمَرَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ فَحُلِبَتْ فَشَرِبَ حِلَابَهَا ثُمَّ اُخْرٰی فَشَرِبَهُ ثُمَّ اُخْرٰی فَشَرِبَهُ حَتّٰی شَرِبَ حِلَابَ سَبْعِ شِیَاهٍ ثُمَّ اِنَّهُ اَصْبَحَ فَاَسْلَمَ فَاَمَرَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ فَشَرِبَ حِلَابَهَا ثُمَّ اَمَرَ بِاُخْرٰی فَلَمْ یَسْتَتِمَّهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُ یَشْرَبُ فِیْ مِعًی وَّاحِدٍ وَّالْکَافِرُ یَشْرَبُ فِیْ سَبْعَةِ اَمْعَآءٍ. [ترمذی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه درسول الله ﷺ خواله یو کافر راغے اوحضرت ﷺ هغه له میلمه کړو، حضرت ﷺ حکم اوکړو اودیوے بزے پئ اولوشلے شو هغه ئے اوخښل بیا دبلے بزے هغه ئے هم اوخښلو، بیائے درئیمے بزے هغه ئے هم اوخښل تردے پورے چه داوه بزوپئ ئے اوخښل، په صبا سحر له هغه مسلمان شولو، بیاحضرت ﷺ حکم دیوے بزے پئ اولوشلے شو هغه هغه پئ اوخښل بیائے ددوئیمے بزے پئ اولوشل خو هغه ئے پوره هم اونۀ خښل، پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل مؤمن په یوه کلمه کښے خوری اوکافر په اووه کلمو کښے خوری.

بَابٌ لَا یُعِیْبُ الطَّعَامَ

دطعام عیب بیانول نه دی پکار.

(۵۳۸۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ مَاعَابَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ کَانَ اِذَا اشْتَهٰی شَیْئًا اَکَلَهُ وَاِنْ کَرِهَهُ تَرَکَهُ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به په هیڅ یو طعام عیب نۀ وے، خو که زړه مبارك به ئے غوښته نو اوبه ئے خوړه اوکه زړه به ئے نۀ غوښته نو پریخوده به ئے.

(۵۳۸۱) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه . ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۳۸۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ مَارَأَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَابَ طَعَامًا قَطُّ كَانَ اِذَا اشْتَهَاهُ اَكَلَهُ وَاِنْ لَّمْ یَشْتَهِهٖ سَكَتَ. [ابن ماجه]

ترجمه : دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مارسول الله ﷺ دهیڅ یو طعام په عیب وئیلو نه دے لیدلے، دحضرت ﷺ زړۀ چه به غوښته نو خوړه به ئے او که زړۀ به ئے نۀ غوښته نو چپ به ...

(۵۳۸۴) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ.

ترجمه : دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه داحدیث هم دپورته پشان دے۔

﴿كِتَابُ اللِّبَاسِ وَالزِّیْنَةِ﴾

کتاب دے په بیان دجامو اوزینت کښے

بَابُ تَحْرِیْمِ اِسْتِعْمَالِ اَوَانِی الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ فِی الشُّرْبِ وَغَیْرِهٖ عَلَی الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ

سړی یاښځې هیڅ یو کس لره دسپینو زرو یا سروزرو په لوښو کښې خوراك څښل درست نۀ دی۔

(۵۳۸۵) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الَّذِیْ یَشْرَبُ فِیْ اٰنِیَةِ الْفِضَّةِ اِنَّمَا یُجَرْجِرُ فِیْ بَطْنِهٖ نَارَ جَهَنَّمَ.

ترجمه : دمؤمنانو دمور ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ،څوك چه دسونے اوچاندئ په لوښو کښے څکی هغه خپلے کیدے ته دجهنم اورپه غرپ غرپ غور څوی۔

(۵۳۸۶) عَنْ نَافِعٍ بِمِثْلِ حَدِیْثِ مَالِكِ ابْنِ اَنَسٍ بِاِسْنَادٍ عَنْ نَافِعٍ وَزَادَ فِیْ حَدِیْثِ عَلِیِّ ابْنِ مُسْهِرٍ عَنْ عُبَیْدِاللّٰهِ اِنَّ الَّذِیْ یَاْكُلُ اَوْیَشْرَبُ فِیْ اٰنِیَةِ الْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ وَلَیْسَ فِیْ حَدِیْثِ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ذِكْرُ الْاَكْلِ وَالذَّهَبِ اِلَّا فِیْ حَدِیْثِ ابْنِ مُسْهِرٍ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته پشان ده دومره قدرے زیاته ده چه څوك خوری یاڅکی دسرو زرو یا دَ سپینوزرو په لوښی کښے۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی دعلماؤ اجماع دے چه دسپینوزرو اوسرو زرو په لوښوکښے خوړل څکل حرام دی، اوشافعی رحمه الله نه یوقول منقول دے چه مکروه دی حرام نۀ دی، اودا داؤد ظاهریؒ په نزد صرف څکل پکښے حرام دی اوخوړل پکښی درست دی، اودا دواړه قولونه باطل دی۔ انتهی مختصرا۔

(۵۳۸۷) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعالٰی عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَرِبَ فِیْ اِنَآءٍ مِّنْ ذَهَبٍ اَوْفِضَّةٍ فَاِنَّمَا یُجَرْجِرُفِیْ بَطْنِهٖ نَارًا مِّنْ جَهَنَّمَ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه دسرواوسپینو زرو په لوښو کښے څکی هغه خپلے گیډے ته دجهنم اور په غړپ غړپ غورځوی۔

بَابُ تَحْرِیْمِ اِسْتِعْمَالِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ۔

دسرو اوسپینوزرو داستعمال بیان

(۵۳۸۸) عَنْ مُعَاوِیَةَ ابْنِ سُوَیْدِ ابْنِ مُقَرِّنٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَے الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَسَمِعْتُهٗ یَقُوْلُ اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ وَّنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ اَمَرَنَا بِعِیَادَةِ الْمَرِیْضِ وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ وَتَشْمِیْتِ الْعَاطِسِ وَاِبْرَارِ الْقَسَمِ اَوِ الْمُقْسِمِ وَنَصْرِ الْمَظْلُوْمِ وَاِجَابَةِ الدَّاعِیْ وَاِفْشَآءِ السَّلَامِ وَنَهَانَا عَنْ خَوَاتِیْمِ اَوْعَنْ تَخَتُّمٍ بِالذَّهَبِ وَعَنْ شُرْبٍ بِالْفِضَّةِ وَعَنِ الْمَیَاثِرِ وَعَنِ الْقَسِّیِّ وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِیْرِ وَالْاِسْتَبْرَقِ وَالدِّیْبَاجِ. [بخاری، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دمعاویه بن سوید بن مقرن نه روایت دے وائی چه زۀ دبراء عازب خواله لاړم ما دهغویؓ نه واورېدل چه وئیلوئے مونږ ته رسول الله ﷺ داوه خبرو حکم کړے دے، اومنع کړی ئے یو داوه خبرونه، حکم ئے کړے دے دبیمار دتپوس کولو، اودجنازے سره دتللو (دقبرپورے) اودپرنجی دجواب ورکولو اودقسم پوره کولو یادمقسم اودمظلوم سره دامداد، اوددعوت دقبلولو، اودسلام دجواب ورکولو، اومنع کړی ئے یو مونږه دسرو زرو دگوتئ اچولونه، اودسپینو زرو په لوښی

کنبے دځکلو نه، اودریښمو دزین پوشونو نه (اوکه ریښمی نۀ وی نو منع نۀ دے،) اودقسی اغوستلو نه) چه دایوه ریښمی کپړه ده دقس جوړه شوے اوقس یوکلے دے دمصرپه کلوکنبے) اودریښمی کپړے داغوستلو نه اوداستبرق ، اودیباج ،نه (دا دواړه هم دغه ریښمی کپړے دے۔

(۵۳۸۹) عَنْ اَشْعَثَ ابْنِ سُلَيْمٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ اِلَّا قَوْلَهُ وَاِبْرَارِ الْقَسَمِ وَالْمُقْسِمِ فَاِنَّهُ لَمْ يَذْكُرْهٰذَا الْحَرْفَ فِي الْحَدِيْثِ وَجَعَلَ مَكَانَهُ وَاِنْشَادِ الضَّالِ .

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته پشان ده، خوپه دے کنبے دقسم پوره کولو ذکرنشته دے، ددے په ځائے دورك شوی څیز دتلاش کولو ذکر دے۔

(۵۳۹۰) عَنْ اَشْعَثَ ابْنِ اَبِي الشَّعْثَآءِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيْثِ زُهَيْرٍ وَقَالَ اِبْرَارِ الْمُقْسِمِ مِنْ غَيْرِ شَكٍّ وَّزَادَ فِي الْحَدِيْثِ وَعَنِ الشُّرْبِ فِي الْفِضَّةِ فَاِنَّهُ مَنْ شَرِبَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَشْرَبْ فِيْهَا فِي الْاٰخِرَةِ.

ترجمه : ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده، په دے کنبے دومره زیاته ده، چه څوك په دنیاکنبے دسپینوزرو په لوښوکنبے اوڅکی هغوئ به په آخرت کنبے په هغے کنبے نه څکی۔

(۵۳۹۱) عَنْ اَشْعَثَ ابْنِ اَبِي الشَّعْثَآءِ بِاِسْنَادِهِمْ وَلَمْ يَذْكُرْزِيَادَةَ جَرِيْرٍ وَابْنِ مُسْهِرٍ.

ترجمه : ترجمه ددے حدیث هم دپورته پشان ده۔

(۵۳۹۲) عَنْ اَشْعَثَ ابْنِ سُلَيْمٍ بِاِسْنَادِهِمْ وَمَعْنَاحَدِيْثِهِمْ اِلَّا قَوْلَهُ اِفْشَآءِ السَّلَامِ فَاِنَّهُ قَالَ بَدَلَهَا وَرَدَّ السَّلَامِ وَقَالَ نَهَانَا عَنْ خَاتِمِ الذَّهَبِ اَوْحَلْقَةِ الذَّهَبِ.

ترجمه : ترجمه ددے حدیث هم دپورته پشان ده په دے کنبے دسلام فاش کولو په بدله دسلام جواب ورکول دی، اودادی چه منع کړی یو مونږه دسروزرو دګوتئ نه اودسروزرودکړئ نۀ۔

(۵۳۹۳) عَنْ اَشْعَثَ ابْنِ اَبِي الشَّعْثَآءِ بِاِسْنَادِهِمْ وَقَالَ وَاِفْشَآءِ السَّلَامِ وَخَاتِمِ الذَّهَبِ مِنْ غَيْرِ شَكٍّ.

ترجمه : ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۳۹۴) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُكَيْمٍ قَالَ كُنَّا مَعَ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِالْمَدَآئِنِ فَاسْتَسْقٰى حُذَيْفَةُ فَجَآءَهُ دِهْقَانٌ بِشَرَابٍ فِي اِنَآءٍ مِّنْ فِضَّةٍ فَرَمَاهُ وَقَالَ اِنِّي اُخْبِرُكُمْ اَنِّي اَذَا اَمَرْتُهُ اَنْ لَّايَسْقِيَنِي فِيْهِ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا لَاتَشْرَبُوْا فِي اِنَآءِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَاتَلْبَسُوا الدِّيْبَاجَ وَالْحَرِيْرَ

فَاِنَّهُ لَهُمْ فِی الدُّنْیَا وَهُوَلَکُمْ فِی الْاٰخِرَةِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عکیم نه روایت دے وائی چه مونږ دحذیفهؓ سره وو، په مدائن کښے، هغوئ اوبه اوغوښتے یو کلی والا دسپینوزرو په لوښی کښے اوبه راوړے، هغوئ اوغورځولے، اواوئے ونیل زۀ تاسوته وایم اوماده ته وئیلی وو چه په دغه لوښی کښے به په مااوبه نۀ څکوے ولے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، مۀ څښئ دسرو زرو په لوښوکښے اومۀ اغوندئ، دیباج اوحریر لره ولے چه داد کافرانو دپاره دی په دنیاکښے اوستاسو دپاره دی په آخرت کښے دقیامت په ورځ۔

(۵۳۹۵) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُکَیْمٍ یَقُوْلُ کُنَّا عِنْدَحُذَیْفَةَ بِالْمَدَآئِنِ فَذَکَرَهُ نَحْوَهُ وَلَمْ یَذْکُرْفِی الْحَدِیْثِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۳۹۶) عَنِ ابْنِ عُکَیْمٍ قَالَ کُنَّا مَعَ حُذَیْفَةَ بِالْمَدَآئِنِ فَذَکَرَنَحْوَهُ وَلَمْ یَقُلْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے پورته پشان ده۔

(۵۳۹۷) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ اَبِیْ لَیْلٰی قَالَ شَهِدْتُ حُذَیْفَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اسْتَسْقٰی بِالْمَدَآئِنِ فَاَتَاهُ اِنْسَانٌ بِاِنَآءٍ مِّنْ فِضَّةٍ فَذَکَرَ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ ابْنِ عُکَیْمٍ عَنْ حُذَیْفَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ.

ترجمه: داترجمه هم ددے پورته پشان ده۔

(۵۳۹۸) عَنْ شُعْبَةَ بِمِثْلِ حَدِیْثِ مُعَاذٍ وَّاِسْنَادِهٖ وَلَمْ یَذْکُرْ اَحَدٌ مِّنْهُمْ فِی الْحَدِیْثِ شَهِدْتُ حُذَیْفَةَ غَیْرُ مُعَاذٍ وَحْدَهٗ اِنَّمَا قَالُوْا اِنَّ حُذَیْفَةَ اسْتَسْقٰی.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دتیرشوی حدیث پشان ده۔

(۵۳۹۹) عَنْ حُذَیْفَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ مَنْ ذَکَرْنَا.

ترجمه: ددے ترجمه هم دتیرشوی حدیث پشان ده۔

(۵۴۰۰) عَنِ ابْنِ اَبِیْ لَیْلٰی قَالَ اسْتَسْقٰی حُذَیْفَةُ فَسَقَاهُ مَجُوْسِیٌّ فِیْ اِنَآءٍ مِّنْ فِضَّةٍ فَقَالَ اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ لَاتَلْبَسُوْا الْحَرِیْرَ وَالدِّیْبَاجَ وَلَاتَشْرَبُوْا فِیْ اٰنِیَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَاتَاْکُلُوْا فِیْ صِحَافِهَا فَاِنَّهَا لَهُمْ فِی الدُّنْیَا.

ترجمه: دعبدالرحمن بن ابی لیلیٰؒ نه نه روایت دے وائی چه حذیفهؓ اوبه اوغوښتے یو مجوسی ورلـه راوړے دسپینـوزرو په لـوښـی کښے هـغویؓ اووے مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو، مه اغوندئ حریر اودیباج لره، اومه څښئ دسرو اوسپینو زرو په لوخو کښے ولے چه داخیزونه دکافرو دپاره دی په دنیاکښے۔

(۵۴۰۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ رَاٰى حُلَّةً سِيَرَاۤءَ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ لَوِاشْتَرَيْتَ هٰذِهٖ فَلَبِسْتَهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلِلْوَفْدِ إِذَاقَدِمُوْا عَلَيْكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا يَلْبَسُ هٰذِهٖ مَنْ لَّاخَلَاقَ لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ ثُمَّ جَآءَتْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا حُلَلٌ فَاَعْطٰى عُمَرَمِنْهَا حُلَّةً فَقَالَ عُمَرُرَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَارَسُوْلَ اللهِ كَسَوْتَنِيْهَا وَقَدْقُلْتَ فِيْ حُلَّةِ عُطَارِدٍ مَاقُلْتَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ لَمْ اَكْسُكَهَا لِتَلْبَسَهَا فَكَسَاهَا عُمَرُاَخًالَّهٗ مُشْرِكًا بِمَكَّةَ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه یو جوړه اولیده دجماعت په دروازه باندے ، نو اوئے وئیل یارسول الله ﷺ! تاسو دے لره اخستے وے، اواغوستے وے دجمعے په ورځ په خلقو کښے اوهر کله چه دبهر نه خلق راتلے نو غوره به وه، حضرت ﷺ اوفرمائیل داخوبه هغه خلق اغوندی دچاچه په آخرت کښے حصه نشته دے، روستو ددے نه رسول الله ﷺ لـه هم هـغسے څوجوړے راغلے، حضرت ﷺ یوه جوړه دهغے نه حضرت عمرؓ لـه ورکړه، هـغویؓ عرض اوکړو یارسول الله ﷺ تاسو دامانه اغوندئ، اوتاسو دعطارد په جوړه کښے داسے فرمائیلی وو (عطارد دهغه جوړے دخرڅونکے نوم وو) حضرت ﷺ اوفرمائیل ماخوتاته داغستو دپاره نۀ ده درکړے، بیا حضرت ﷺ عمرؓ هغه جوړا خپل یو مشرك رور چه په مکه کښے وو داغستو دپاره له ورکړه۔

فائده: نـوویؒ وائی داجوړه به خالص ریښمو وه ولے چه هغه حرام دی، اوپه کومے کښے چه ریښم اوسوت میلاؤوی اوریښم پکښی زیات نۀ وی دهغے اغوستل حرام نۀ دی، البته ښځو لره خالص د ریښمو کپړے اغوستل روا دی، ددے حدیث نه داهم معلومه شوه چه دکافر عزیز سره هم احسان کول اوهدیه ورکول روا دی۔

(۵۴۰۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيْثِ مَالِكٍ.

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم دپورته حديث پشان ده۔

(۵۴۰۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عُطَارِدًا التَّمِيْمِيَّ يُقِيْمُ بِالسُّوْقِ حُلَّةً سِيَرَاءَ وَكَانَ رَجُلًا يَغْشَى الْمُلُوْكَ وَيُصِيْبُ مِنْهُمْ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ رَاَيْتُ عُطَارِدًا فِي السُّوْقِ يُقِيْمُ حُلَّةً سِيَرَاءَ فَلَوِ اشْتَرَيْتَهَا فَلَبِسْتَهَا لِوُفُوْدِ الْعَرَبِ اِذَا قَدِمُوْا عَلَيْكَ وَاَظُنُّهُ قَالَ وَلَبِسْتَهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا يَلْبَسُ الْحَرِيْرَ فِي الدُّنْيَا مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْاٰخِرَةِ فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ اُتِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحُلَلٍ سِيَرَاءَ فَبَعَثَ اِلٰى عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِحُلَّةٍ وَبَعَثَ اِلٰى اُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ بِحُلَّةٍ وَاَعْطٰى عَلِيَّ ابْنَ اَبِيْ طَالِبٍ حُلَّةً وَقَالَ شَقِّقْهَا خُمُرًا بَيْنَ نِسَائِكَ قَالَ فَجَاءَ عُمَرُ بِحُلَّتِهِ يَحْمِلُهَا فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ بَعَثْتَ اِلَيَّ بِهٰذِهِ وَقَدْ قُلْتَ بِالْاَمْسِ فِيْ حُلَّةِ عُطَارِدٍ مَا قُلْتَ فَقَالَ اِنِّيْ لَمْ اَبْعَثْ بِهَا اِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا وَلٰكِنِّيْ بَعَثْتُ بِهَا اِلَيْكَ لِتُصِيْبَ بِهَا وَاَمَّا اُسَامَةُ فَرَاحَ فِيْ حُلَّتِهِ فَنَظَرَ اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَظَرًا عَرَفَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَنْكَرَ مَا صَنَعَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ مَا تَنْظُرُ اِلَيَّ فَاَنْتَ بَعَثْتَ اِلَيَّ بِهَا فَقَالَ اِنِّيْ لَمْ اَبْعَثْ اِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا وَلٰكِنِّيْ بَعَثْتُ بِهَا لِتُشَقِّقَهَا خُمُرًا بَيْنَ نِسَائِكَ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روايت دے وائی چه حضرت عمر عطارد تميمی لره اوليدو په بازار کښے چه يوه ريښمی جوړه ئے ايخودے وه(دخرڅولو دپاره) اوهغه يوداسے سړے وو، چه دبادشاهانو خواله به ورتللو اودهغوئ نه به ئے روپئ حاصلولے، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو يارسول الله ﷺ ماعطارد لره په بازار کښے اوليدو چه يوه ريښمی کپړه ئے ايخودے ده، کچرے تاسو ﷺ هغه کپړه واخلئ، اوهرکله چه دعربو سفيرراځی اوپه هغه وخت ئے تاسو اغوندئ نو مناسب دی، راوی وائی ځما داخيال دے چه هغوئ دا هم وئيلی وو چه دجمعے په ورځ ئے هم اغوندئ، نورسول الله ﷺ اوفرمائيل ريښمی جامے به په دنياکښے هغه څوك اغوندی چه دهغه په آخرت کښے حصه نهٔ وی، بيادد ے نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ماله څوريښمی جوړے راغلے دی، حضرت ﷺ حضرت عمر ته هم يوه جوړه ورکړه، اواسامه بن زيد ته هم اوحضرت علی ته ئے هم يوه جوړه

ورکړه، اوورته ئے اووئیل دا اوشلوئ اوخپلو بنځوله ترے چیوتکی جوړکړئ، حضرت عمرؓ خپله جوړه را اخستے وه اوراغے، اوعرض ئے اوکړو یارسول اللہ ﷺ! تاسو ﷺ داجوړه ماته رالیږلی ده اوپرون تاپخپله دعطارد دجوړے په باره کښے څه فرمائیلی وو حضرت ﷺ اوفرمائیل داجوړه ماتاله داغوستو دپاره نۀ ده درلیږلے بلکه ددے دپاره چه می درلیږلی ده چه تاسو ددے نه فائده حاصله کړئ، (یعنی خرڅه ئے کړئ) اواسامهؓ خپله جوړه واغوسته اولاړو، رسول اللہ ﷺ هغه ته په داسے نظر اوکتل چه هغوئ ته معلومه شوه چه حضرت ﷺ خفه دے، هغوئؓ عرض وکړو یارسول اللہ ﷺ تاسو څه وینئ، هم تاسو داجوړه ماته رالیږلے ده، حضرت ﷺ اوفرمائیل ماددے دپاره نۀ ده درلیږلے چه تۀ ئے پخپله واغوندے بلکه ددے دپاره می درلیګلے ده، چه تاسوئے ورانه کړئ اودخپلو بنځو دپاره تری چیوتکی جوړکړئ۔

(۵۴۰۴) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَرَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ وَجَدَ عُمَرُابْنُ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ حُلَّةً مِّنِ اسْتَبْرَقٍ تُبَاعُ فِی السُّوْقِ فَاَخَذَهَا فَاَتٰی بِهَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللهِ ابْتَعْ هٰذِهٖ فَتَجَمَّلُ بِهَا لِلْعِیْدِ وَالْوَفْدِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا هٰذِهٖ لِبَاسُ مَنْ لَّاخَلَاقَ لَهٗ قَالَ فَلَبِثَ عُمَرُرَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ مَاشَآءَ اللهُ ثُمَّ اَرْسَلَ اِلَیْهِ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِجُبَّةِ دِیْبَاجٍ فَاَقْبَلَ بِهَاعُمَرُرَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ حَتّٰی اَتٰی بِهَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللهِ اَقُلْتَ اِنَّمَا هٰذِهٖ لِبَاسُ مَنْ لَّاخَلَاقَ لَهٗ اَوْقُلْتُ اِنَّمَا یَلْبَسُ مَنْ لَّاخَلَاقَ لَهٗ ثُمَّ اَرْسَلْتَ اِلَیَّ بِهٰذِهٖ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَبِیْعُهَا وَتُصِیْبُ بِهَاحَاجَتَکَ ۔ [ابوداود ، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه حضرت عمررضی الله تعالی عنه په بازار کښے داستبرق یوه جوړه اولیده، هغوئؓ هغه راواخسته اورسول الله ﷺ له ئے راوړه، اوعرض ئے اوکړو چه دے لره واخلئ داخترد دپاره اوڅه وخت چه دبهر دخلقووفدونه راځی په هغه وخت داغوستلو دپاره رسول الله ﷺ اوفرمائیل داخو دهغه چاجامے دی، دچاچه په آخرت کښے حصه نشته دے بیاحضرت عمرؓ څومره چه الله جل جلاله ته منظوره وه اودریدو ددے نه پس رسول الله ﷺ هغوئؓ ته ددیباج یوه جبه اولیږله، (استبرق اودیباج دواړه ریښمی کپړے دی) حضرت عمرؓ هغه واخسته اورسول الله ﷺ له راغے اوعرض ئے اوکړو یارسول الله ﷺ

تاسو خو فرمائیلی وو داد هغه چاجامه ده چه د هغه په آخرت کښې حصه نشته دے، بیا تاسو ماته ځکه راولیږو، حضرت ﷺ اوفرمائیل تۀ دے لره خرڅه کړه اوقیمت ئے پکار راوله۔

(۵۴۰۵) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ددے هم دپورته په شان ترجمه ده۔

(۵۴۰۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ عُمَرَ رَاٰی عَلٰی رَجُلٍ مِّنْ عُطَارِدٍ قَبَآءً مِّنْ دِيْبَاجٍ اَوْحَرِيْرٍ فَقَالَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوِ اشْتَرَيْتَهُ فَقَالَ اِنَّمَا يَلْبَسُ هٰذَا مَنْ لَّاخَلَاقَ لَهُ فَاُهْدِيَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةٌ سِيَرَآءَ فَاَرْسَلَ بِهَااِلَيَّ قَالَ قُلْتُ اَرْسَلْتَ بِهَآ اِلَيَّ وَقَدْسَمِعْتُكَ قُلْتَ فِيْهَا مَاقُلْتَ قَالَ اِنَّمَا بَعَثْتُ بِهَا اِلَيْكَ لِتَسْتَمْتِعَ بِهَا. [بخاری]

ترجمه: دابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه یو سړے دعطارد داولاد نه ددیباج په قبی اغوستلو اولیدو یادحریر، نورسول الله ﷺ ته ئے عرض اوکړو، تاسو دے لره واخلئ حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل دابه هغه څوك اغوندی چه په آخرت کښې ئے حصه نۀ وی، بیارسول الله ﷺ له یوه ریښمی جوړه په تحفه کښې راغله حضرت ﷺ هغے لره ماته راولیږله ماعرض اوکړو داجوړه تاسو ماته راولیږله، اوماوریدلی دی هغه څه چه تاسو په دے باب کښې فرمائیلی وو، حضرت ﷺ اوفرمائیل ماځکه درلیږله چه تاسو ترے فائده واخلئ (خرڅه ئے کړئ)۔

(۵۴۰۷) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ رَاٰى عَلٰى رَجُلٍ مِّنْ الِ عُطَارِدٍ بِمِثْلِ حَدِيْثِ يَحْيَى ابْنِ سَعِيْدٍ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ اِنَّمَا بَعَثْتُ بِهَآ اِلَيْكَ لِتَنْتَفِعَ بِهَاوَلَمْ اَبْعَثْ بِهَا اِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته پشان ده، په دے کښې دادی چه ماتاته ددے دپاره دراولیږو چه تۀ ددے نه فائده واخلے اوددے دپاره می نۀ دے درلیږلے چه تۀ ئے واغوندے)۔

(۵۴۰۸) عَنْ يَحْيَى ابْنِ اَبِيْ اِسْحَاقَ قَالَ قَالَ لِيْ سَالِمُ ابْنُ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فِي الْاِسْتَبْرَقِ قَالَ قُلْتُ مَاغَلُظَ مِنَ الدِّيْبَاجِ وَخَشُنَ مِنْهُ فَقَالَ سَمِعْتُ عَبْدَاللّٰهِ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ رَاٰى عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَلٰى رَجُلٍ حُلَّةً مِّنْ اسْتَبْرَقٍ فَاَتٰى بِهَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَقَالَ إِنَّمَا بَعَثْتُ بِهَا إِلَيْكَ لِتُصِيبَ بِهَا مَالًا. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دیحیی بن اسحاقؒ نه روایت دے وائی چه څمانه سالم بن عبدالله داستبرق په باره کښے تپوس اوکړو، مااووے استبرق هغه سنګین دیباج دے، اوسخت سالم وئیلی دی چه ما دعبدالله بن عمرؓ نه واؤریدل هغه وئیلو چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه داستبرق یوه جوړه اولیده په یوسړی باندے نو درسول الله ﷺ خواله راغے اوبیان ئے اوکړو دغه شان لکه چه پورته تیرشو په دے کښې دادی چه ماتهٔ ددے دپاره لیږلے وے چه ته دهغه نه مال حاصل کړے۔

(۵۴۰۹) عَنْ عَبْدِاللهِ مَوْلَى أَسْمَآءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ وَكَانَ خَالَ وَلَدِ عَطَآءٍ قَالَ أَرْسَلَتْنِي أَسْمَآءُ إِلَى عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ فَقَالَتْ بَلَغَنِي أَنَّكَ تُحَرِّمُ أَشْيَآءَ ثَلَاثَةً الْعَلَمَ فِي الثَّوْبِ وَمِيثَرَةَ الْأُرْجُوَانِ وَصَوْمَ رَجَبٍ كُلِّهِ فَقَالَ لِي عَبْدُاللهِ أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ رَجَبٍ فَكَيْفَ بِمَنْ يَصُومُ الْأَبَدَ وَأَمَّا ذَكَرْتَ مِنَ الْعَلَمِ فِي الثَّوْبِ فَإِنِّي سَمِعْتُ عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّمَا يَلْبَسُ الْحَرِيرَ مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فَخِفْتُ أَنْ يَكُونَ الْعَلَمُ مِنْهُ وَأَمَّا مِيثَرَةُ الْأُرْجُوَانِ فَهٰذِهِ مِيثَرَةُ عَبْدِاللهِ فَإِذَا هِيَ أُرْجُوَانٌ فَرَجَعْتُ إِلَى أَسْمَآءَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا فَخَبَّرْتُهَا فَقَالَتْ هٰذِهِ جُبَّةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْرَجَتْ إِلَيَّ جُبَّةَ طَيَالِسَةٍ كِسْرَوَانِيَّةٍ لَهَا لِبْنَةُ دِيبَاجٍ وَفَرْجَيْهَا مَكْفُوفَيْنِ بِالدِّيبَاجِ فَقَالَتْ هٰذِهِ كَانَتْ عِنْدَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا حَتّٰى قُبِضَتْ فَلَمَّا قُبِضَتْ قَبَضْتُهَا وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُهَا فَنَحْنُ نَغْسِلُهَا لِلْمَرْضٰى اسْتَشْفِيَ بِهَا.

[ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دعبداللهؒ نه روایت چه غلام وو ازاد کړے داسماء بنت ابی بکرؓ اوماما وو دعطاردځوئ هغه وائی چه زهٔ اسماءؓ دعبدالله بن عمرؓ خواله اولیږلم اوراته ئے اووے چه ما اوریدلی دی چه ته درے څیزونه ته حرام وائے، یوخو هغه کپړے ته چه په هغے کښے ریښمي ګلونه وی، اودویم ارجون (یعنی سور ګل کړے) زین پوش دریم په تمامه زیرګه میاشت (رجب) کښے روژے نیولوته نوعبدالله بن عمرؓ اووے درجب دمیاشتے روژونیولوته به څوک حرام اووائی، څوک چه پخپله همیشه روژے نیسی، (عبدالله بن عمرؓ به همیشه روژه په استثناء داخترونو لولیلم

تشریق نیولے او د هغوئ مذهب دغه دے چه صوم دهر مکروه نۀ دی) او په کپړه باندے د ریښمی
ګلونو په باره کښے خو ما د حضرت عمرؓ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو چه ما د رسول الله
ﷺ نه اوریدلی دی فرمائیل ئے حریر به هغه څوك اغوندی چه د هغه په آخرت کښے حصه نۀ
وی، نو ځما سره ویره شوه چه چرته ګلداره کپړه هم حریر نۀ وی، او ارجوانی زین پوش چه دے
نو پخپله د عبدالله زین پوش ارجوان دے، تول زۀ لاړم او حضرت اسماءؓ ته می اووے، هغویؓ
اووے د رسول الله ﷺ داجبه موجوده ده، بیا هغویؓ د خادرونو یوه توره جبه را اوویسته، د هغے
کسروانی (نسبت دے د کسری په طرف یعنی د فارس د بادشاه په طرف) یعنی د هغے ګریوان
د دیباوو، او د هغے په لمنو باندے سنجاف وو دیباج) اسماءؓ اوئے داجبه د حضرت عائشے رضی الله
تعالی عنها سره وه د هغویؓ د وفات پورے، هر کله چه هغهؓ وفات شوه نو داجبه ما واخسته،
او رسول الله ﷺ به دے لره اغوستله او س زۀ دے لره وینځم او ددے هغه او به په بیمارانو باندے
څکوم د شفاد پاره (سنجاف حریر یعنی د ریښمو ګلونه د څلورو ګوتو پورے درست درست دی ددے
نه زیات حرام دی، لکه چه په دویم حدیث کښے راځی) (نوویؒ)

(۵۴۱۰) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ يَخْطُبُ يَقُوْلُ اَلَا لَاتُلْبِسُوْا نِسَآءَ كُمُ الْحَرِيْرَ فَاِنِّىْ سَمِعْتُ عُمَرَابْنَ الْخَطَّابِ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتَلْبَسُوْا الْحَرِيْرَ فَاِنَّهُ مَنْ لَبِسَهُ فِى الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِى الْاٰخِرَةِ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه : عبدالله بن زبیرؓ خطبه لوستله او اوئے و نیلو خبردار شئ، اے خلقو! خپلو ښځوته ریښمی
جامے مه اغوستوئ ولے چه ما د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه نه اوریدلی دی هغویؓ وئیل
چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو تاسو مۀ اغوندئ حریر لره، ولے چه
څوك ئے په دنیا کښے واغوندی هغه به ئے په آخرت کښے نۀ اغوندی۔

فائده : نووی علیه الرحمة وائی دا د ابن الزبیر مذهب دے، ددے نه پس اجماع شوے ده،
چه ریښمی کپړے د ښځو د پاره روا دی، او په حدیث مشهور کښ دی چه سره زر او ریښم حلال
دی ځما د امت په سرو باندے او حلال دی د ښځو د پاره ۔ انتهی مختصرًا.

(۵۴۱۱) عَنْ اَبِىْ عُثْمَانَ قَالَ كَتَبَ اِلَيْنَا عُمَرُ وَنَحْنُ بَاَذْرَبِيْجَانَ يَا عُتْبَةُ ابْنَ فَرْقَدٍ اِنَّهُ لَيْسَ مِنْ كَدِّكَ

وَلا مِنْ كَدِّ اَبِيكَ وَلا مِنْ كَدِّ اُمِّكَ فَاَشْبِعِ الْمُسْلِمِيْنَ فِي رِحَالِهِمْ بِمَا تَشْبَعُ مِنْهُ فِي رَحْلِكَ وَاِيَّاكُمْ وَالتَّنَعُّمَ وَزِيَّ اَهْلِ الشِّرْكِ وَلَبُوْسَ الْحَرِيْرِ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ لَبُوْسِ الْحَرِيْرِ قَالَ اِلَّا هٰكَذَا وَرَفَعَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِصْبَعَيْهِ الْوُسْطٰى وَالسَّبَابَةَ وَضَمَّهُمَا قَالَ زُهَيْرٌ قَالَ عَاصِمٌ هٰذَا فِي الْكِتٰبِ وَرَفَعَ زُهَيْرٌ اِصْبَعَيْهِ. [بخاری ، ابو داود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو عثمانؒ نه روایت دے وائی چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه مونږ ته اولیکل او مونږ په اذربائیجان کښں وو (هغه یو ملك دے په ایران کښے) اے عتبه بن فرقدیه کوم مال چه ستاسره دے نه تا ګټلے دے نه ستا پلار نه ستا مور ګټلے دے، نو ماړه کړه مسلمانانو لره دهغوئ په کورونو کښے لکه چه ته مړیږے په خپل کور کښے (یعنی بغیرد طلب نه ئے هغوئ ته اورسوی او ځان اوساته دعیش رکولونه او دمشرکانو دوضع نه او دریښمی کپړو داغوستلو نه مګر دومره اواچته کړه رسول الله ﷺ خپله دمینځ ګوته او دکلمے ګوته میلاؤ شوے (یعنی دوه ګوتے حریر که په حاشیه کښے یا په بل ځائے کښے لګیدلی وی نو درست دی.

(۵۴۱۲) عَنْ عَاصِمٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَرِيْرِ بِمِثْلِهِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده.

(۵۴۱۳) عَنْ اَبِيْ عُثْمَانَ قَالَ كُنَّا مَعَ عُتْبَةَ ابْنِ فَرْقَدٍ فَجَآءَنَا كِتَابُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَلْبَسُ الْحَرِيْرَ اِلَّا مَنْ لَيْسَ لَهُ مِنْهُ شَيْءٌ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا هٰكَذَا قَالَ اَبُوْ عُثْمَانَ بِاِصْبَعَيْهِ اللَّتَيْنِ تَلِيَانِ الْاِبْهَامَ فَرُاَيْتُهُمَا اَزْرَارَ الطَّيَالِسَةِ حَتّٰى رَاَيْتُ الطَّيَالِسَةَ.

ترجمه: دابو عثمانؒ نه روایت دے وائی چه مونږ دعتبه بن فرقد سره وو نو دحضرت عمرؓ فرمان راغے په هغے کښے لیکلی وو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نه به اغوندی حریر مګر هغه سړے چه هغه ته په آخرت کښے څه دمیلاو یدو نه وی مګر دومره روا دی او ابو عثمان اوښودل په خپلو دواړو ګوتو سره چه دغټے ګوتے په خواه کښے دی ځو مره چه دطیالسه غوټئ دی، بیا ما طیالسه لره اولیدو (طیالسه دطیلسان جمع ده او هغه دعربو تور څادرونه دی.

(۵۴۱۴) عَنْ اَبِيْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ عُتْبَةَ ابْنِ فَرْقَدٍ بِمِثْلِ حَدِيْثِ جَرِيْرٍ.

ترجمه: ترجمه هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه.

(۵۴۱۵) عَنْ اَبِیْ عُثْمَانَ النَّهْدِیِّ قَالَ جَآءَ نَا كِتَابُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَنَحْنُ بِاَذْرَبِیْجَانَ مَعَ عُتْبَةَ ابْنِ فَرْقَدٍ اَوْ بِالشَّامِ اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الْحَرِیْرِ اِلَّا هٰكَذَا اِصْبَعَیْنِ قَالَ اَبُوْ عُثْمَانَ فَمَا عَتَّمْنَا اَنَّهُ یَعْنِیْ الْاَعْلَامَ.

ترجمه: دابوعثمان نهدی نه روایت دے وائی چه مونږ ته دحضرت عمرؓ خط راغے لومونږ په آذربائیجان کښې وو دعتبه بن فرقد سره یاپه شام کښې وو، په هغې کښې دا لیکلی وو اما بعد رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دحریر نه مګردومره ددوه ګوتو برابر نو مونږ نه یو حصار شوی په پوهه کښې چه مراد دهغوی نقش ونګار دے۔

(۵۴۱۶) عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ وَلَمْ یَذْكُرْ قَوْلَ اَبِیْ عُثْمَانَ.

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے پورته پشان ده۔

(۵۴۱۷) عَنْ سُوَیْدِ ابْنِ غَفَلَةَ اَنَّ عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ خَطَبَ بِالْجَابِیَةِ فَقَالَ نَهٰی نَبِیُّ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ الْحَرِیْرِ اِلَّا مَوْضَعَ اِصْبَعَیْنِ اَوْ ثَلَاثٍ اَوْ اَرْبَعٍ. [ترمذی]

ترجمه: دسوید بن غفله نه روایت دے چه حضرت عمرؓ خطبه اولوسته په جابیه کښے (دا یو مقام نوم دے) نو اوئے وئیل منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ دحریر دا غوستلو نه مګرد دوه یادرے یادخلورو ګوتو برابر۔

(۵۴۱۸) عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۴۱۹) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ لَبِسَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمًا قُبَاءً مِّنْ دِیْبَاجٍ اُهْدِیَ لَهُ ثُمَّ اَوْشَكَ اَنْ یَّنْزِعَهُ فَاَرْسَلَ بِهٖ اِلٰی عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ فَقِیْلَ قَدْ اَوْشَكَ مَا نَزَعْتَهُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ نَهَانِیْ عَنْهُ جِبْرِیْلُ عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ فَجَآءَهُ عُمَرُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَبْكِیْ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَرِهْتَ اَمْرًا وَاَعْطَیْتَنِیْهِ فَمَا لِیْ فَقَالَ اِنِّیْ لَمْ اُعْطِكَهُ لِتَلْبَسَهُ اِنَّمَا اَعْطَیْتُكَ تَبِیْعَهُ فَبَاعَهُ بِاَلْفَیْ دِرْهَمٍ. [نسائی]

ترجمه: دجابربن عبداللهؓ نه روایت دے وائی چه یوه ورځ رسول الله ﷺ ددیباقبه واغوسته چه حضرت ﷺ له په تحفه کښې راغلی وه، بیا حضرت ﷺ په هغه وخت اوویسته، اوحضرت

عمرؓ له ئې اوليږله، خلقو اوويے يارسول الله ﷺ! تاسو خودا اوويسته، حضرت ﷺ اوفرمائيل حضرت جبرائيل عليه السلام زۀ ددے نه منع كرمه، ددے په اوريدو حضرت عمرؓ په ژړا ژړا دحضرت ﷺ خواله راغے اواوئے وئيل يارسول الله ﷺ! كوم څيز چه تاسو نۀ خوښوۀ كومے نومالۀ ئے راكوے حضرت ﷺ اوفرمائيل ماتاته داغوستو دپاره نۀ دے دركړے ماددے دپاره دركړے ده چه ته دے لره خرڅه كړه، بيا حضرت عمرؓ هغه په دوه زره درهمه خرڅه كړه.

(۵۴۲۰) عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اُهْدِيَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةُ سِيَرَاءَ فَبَعَثَ بِهَا اِلَيَّ فَلَبِسْتُهَا فَعَرَفْتُ الْغَضَبَ فِيْ وَجْهِهٖ فَقَالَ اِنِّيْ لَمْ اَبْعَثْ بِهَا اِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا اِنَّمَا بَعَثْتُ بِهَا اِلَيْكَ لِتُشَقِّقَهَا خُمُرًا بَيْنَ النِّسَاءِ. [ابوداود، نسائی]

ترجمه: دحضرت امير المؤمنين علی مرتضیٰ رضی الله تعالیٰ عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ په تحفه كښے يوه ريښمی جوړه راغله حضرت ﷺ هغه ماته را اوليږله ماچه هغه واغوسته نورسول الله ﷺ می په غصه كښے اوموندو حضرت ﷺ اوفرمائيل ماخوتاته ددے دپاره نۀ ده دركړے چه ته ئے واغوندے بلكه ددے دپاره مے درليږلے وه چه تاسو ئے اوشلوئ اودخپلو ښځو دپاره ترے چهوتكی جوړكړئ.

(۵۴۲۱) عَنْ اَبِيْ عَوْنٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَفِيْ حَدِيْثِ مُعَاذٍ فَاَمَرَنِيْ فَاَطَرْتُهَا بَيْنَ نِسَائِيْ وَفِيْ حَدِيْثِ مُحَمَّدِ ابْنِ جَعْفَرٍ فَاَطَرْتُهَا بَيْنَ نِسَائِيْ وَلَمْ يَذْكُرْ فَاَمَرَنِيْ.

ترجمه: ددے ترجمه ددے پورته حديث پشان ده.

(۵۴۲۲) عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ اُكَيْدِرَدُوْمَةَ اَهْدٰى اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبَ حَرِيْرٍ فَاَعْطَاهُ عَلِيًّا رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ شَقِّقْهُ خُمُرًا بَيْنَ الْفَوَاطِمِ وَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ وَاَبُوْ كُرَيْبٍ بَيْنَ النِّسْوَةِ.

ترجمه: دحضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه نه روايت دے چه داكيدر دو مادبادشاه رسول الله ﷺ ته يوه تحفه دريښمی كپړے را اوليږله حضرت ﷺ هغه ماته راكړه اوراته ئې اوفرمائيل دالوشلوه اودرے وۀ فاطمو" لره ترے چهوتكی جوړكړه، يوه فاطمة الزهراء درسول الله ﷺ عاليشانه لور، دويمه فاطمه بنت اسد دحضرت علیؓ مور، اودريمه فاطمه بنت حمزه رضی الله

تعالی عنها (یاالله زمونږ حشر دهغوئ په غلامانو کښې اوکړه)۔

فائده: دومه دمدینې نه دیارلس منزله لرې یوښهر دے هغه ځائې حاکم ته به ئې اکیدر ونیلو، اوهغه په رسول الله ﷺ باندې اعتقاد لرلو، لیکن اختلاف په دے کښې دے چه هغه نصرانی مردے مسلمان شوے وو مردے اوصحیح داده چه هغه کافر مړشوے دے، اوخالد بن ولیدؓ هغه قتل کړے وو، دحضرت ﷺ ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه دخلافت په دور کښې۔

(۵۴۲۲) عَنْ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَسَانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةً سِيَرَاءَ فَخَرَجْتُ فِيْهَا فَرَاَيْتُ الْغَضَبَ فِيْ وَجْهِهٖ قَالَ فَشَقَقْتُهَا بَيْنَ نِسَائِيْ. [بخاری]

ترجمه: دامیرالمؤمنین اسد الله حضرت علی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ماته یوه ریښمی جوړه راکړه، ما هغه واغوسته اورا اووتم نو حضرت ﷺ می په غصه کښې اوموندو بیا ما هغه اوشلوله اوښځوله می ورکړه۔

(۵۴۲۳) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى عُمَرَ بِجُبَّةِ سُنْدُسٍ فَقَالَ عُمَرُ بَعَثْتَ بِهَآ اِلَيَّ وَقَدْ قُلْتَ فِيْهَا مَاقُلْتَ قَالَ اِنِّيْ لَمْ اَبْعَثْ بِهَا اِلَيْكَ لِتَلْبَسَهَا وَاِنَّمَابَعَثْتُ بِهَآ اِلَيْكَ لِتَنْتَفِعَ بِثَمَنِهَا.

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ حضرت عمرؓ ته یوه جبه اولیږله دسندس (چه یوه ریښمی کپړه ده) حضرت عمرؓ اووے تاسو ﷺ ماته دا را اولیږله، اوهم تاسو ﷺ داسے داسے فرمائیلی دی، ددے په باب کښې حضرت ﷺ اوفرمائیل ماتاته داغوستو دپاره نۀ ده، درلیږلے بلکه ددے دپاره چه ته دے لره خرڅه کړے اوفائده ترے واخله۔

(۵۴۲۵) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَّبِسَ الْحَرِيْرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْاٰخِرَةِ. [ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه په دنیاکښې حریر اغوندی هغه به په اخرت کښې نۀ اغوندی۔

(۵۴۲۶) عَنْ اَبِیْ عُمَامَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَبِسَ الْحَرِیْرَ فِی الدُّنْیَا لَمْ یَلْبَسْهُ فِی الْاٰخِرَةِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۴۲۷) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اُهْدِیَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَرُّوْجُ حَرِیْرٍ فَلَبِسَهُ ثُمَّ صَلّٰی فِیْهِ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِیْدًا کَالْکَارِهِ لَهُ ثُمَّ قَالَ لَایَنْبَغِیْ هٰذَا لِلْمُتَّقِیْنَ.

[بخاری ، نسائی]

ترجمه: دعقبه بن عامر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه درسول الله ﷺ دپاره دحریر یوه قبا په تحفه کښے راغله حضرت ﷺ هغے لره واغوسته اومونځ ئے اداکړو په هغے سره، اودمانځه دفارغ کیدوسره ئے په زور اوویسته لکه چه بده گنړی دے لره، بیائے اوفرمائیل دادپرهیزگارانو لائقه نه ده۔

(۵۴۲۸) عَنْ یَزِیْدَابْنِ اَبِیْ حَبِیْبٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ اِبَاحَةِ لُبْسِ الْحَرِیْرِ لِلرَّجُلِ اِذَاکَانَ بِهٖ حِکَّةٌ اَوْنَحْوُهَا

سړی لره حریر اغوستل په خارښ وغیره یابل څه عذر سره درست دی۔

(۵۴۲۹) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ لِعَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ وَلِلزُّبَیْرِ ابْنِ الْعَوَّامِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فِیْ قُمُصِ الْحَرِیْرِ فِی السَّفَرِ مِنْ حِکَّةٍ کَانَتْ بِهِمَا اَوْوَجْعٍ کَانَ بِهِمَا. [بخاری ، ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: ددے وجے چه په هغوئ باندے خارښ راغلے یاورته څه بل څه بیماروه۔

(۵۴۳۰) عَنْ سَعِیْدٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَلَمْ یَذْکُرْفِی السَّفَرِ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۴۳۱) عَنْ اَنَسٍ قَالَ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَوْرُخِّصَ لِلزُّبَیْرِابْنِ الْعَوَّامِ وَعَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ فِیْ لُبْسِ الْحَرِیْرِ لِحِکَّةٍ کَانَتْ بِهِمَا . [بخاری]

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده خو په دے کښے صرف دخارښ ذکردے۔

(۵۴۳۲) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۴۳۳) عَنْ اَنَسٍ اَنَّ عَبْدَالرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ وَّالزُّبَيْرَ ابْنِ الْعَوَّامِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ شَكَوْا اِلَی النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَمْلَ فَرَخَّصَ لَهُمَا فِیْ قُمُصِ الْحَرِيْرِ فِیْ غَزَاةٍ لَّهُمَا. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه عبدالرحمن بن عوفؓ اوزبیر بن عوامؓ رسول الله ﷺ ته دسپږو نه شکایت اوکړو، حضرت ﷺ هغویؓ دواړوته دحریر دقمیص اغوستلو اجازت ورکړو دجهاد په سفرکښے۔

فائده: نوویؒ وئیلی دی دامام شافعیؒ دغه قول دے چه په عذر سره حریریعنی ریښمی کپړے اغوستل درست دی، اودمالکؒ په نزد درست نهٔ دی اوداحدیث په هغویٔ باندے حجت دے۔

بَابُ النَّهْیِ عَنْ لُبْسِ الرَّجُلِ الثَّوْبَ الْمُعَصْفَرَ۔

دکسم رنګ یعنی سوررنګ دسړی دپاره درست نهٔ دے

(۵۴۳۴) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِو ابْنِ الْعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ رَاٰی النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَیَّ ثَوْبَيْنِ مُعَصْفَرَيْنِ فَقَالَ اِنَّ هٰذِهٖ ثِيَابُ الْكُفَّارِ فَلَاتَلْبَسْهَا. [نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمروبن عاصؓ نه روایت دے وائی چه مادسور رنګ دوه کپړے اغوستے وے اوحضرت ﷺ اولیدم، نوراته ئے اوفرمائیل دادکافرانو کپړے دی دامهٔ اِغونده۔

(۵۴۳۵) عَنْ يَحْيَى ابْنِ اَبِیْ كَثِيْرٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَا عَنْ خَالِدِابْنِ مَعْدَانَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۴۳۶) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ رَاٰی النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَیَّ ثَوْبَيْنِ مُعَصْفَرَيْنِ فَقَالَ اَاُمُّكَ اَمَرَتْكَ بِهٰذَا قُلْتُ اَغْسِلُهَا قَالَ بَلْ اَحْرِقْهُمَا. [نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمروؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ زهٔ دکسم په رنګ شوے دوه

کپړو کښې اولیدم، نو اوئې فرمائیل ستامورته تاته داسې حکم کړے دے، ماوویے زۀ به دا اووینځم حضرت ﷺ اوفرمائیل اوسیزه دے لره.

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی علماؤ اختلاف کړے دے دکسم په رنګ شوو کپړو کښې (کسم دسوررنګ یو ګل دے) نو جمهور علماء دهغې اغوستلو ته مباح وائی، اوشافعیؒ اوابو حنیفهؒ اومالکؒ دغه قول دے، اوځنو ورته مکروه تنزیهی وئیلی دی، لیکن کیدے شی شافعیؒ ته به دا حدیثونه کیدے شی نۀ وی رسیدلی، ورنه هغه به منع کړے وه، اوبیهقی په اسناد صحیح دشافعیؒ نه روایت کړے دے، چه هرکله حدیث ځما دقول خلاف اومومئ نو په حدیث باندې عمل کوئ دغه ځما مذهب دے اوځما قول پریږدئ ـ انتهی مختصراً.

(۵۴۳۷) عَنْ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَالْمُعَصْفَرِ وَعَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ وَعَنْ قِرَاءَةِ الْقُرْاٰنِ فِي الرُّكُوْعِ.

ترجمه: دحضرت علی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، چه منع کړے دے ماله رسول الله ﷺ په قسی (دایوه ریښمی کپړه ده) اوکسم کښې درنګ کړے شوے کپړے داغوستلو نه، اودسرو زرو دګوتیٔ په ګوتو کولو نه، اوپه حالت درکوع کښې دقران پاك لوستلو نه.

(۵۴۳۸) عَنْ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ نَهَانِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قِرَآءَةِ الْقُرْاٰنِ وَاَنَا رَاكِعٌ وَعَنْ لُبْسِ الذَّهَبِ وَالْمُعَصْفَرِ.

ترجمه: دحضرت علی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے منع کړے دے ماله رسول الله ﷺ په رکوع کښې دقران مجید لوستلو نه اودسونے نه اوپه کسم کښې درنګ شوے کپړے داغوستلو نه.

(۵۴۳۹) عَنْ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهَانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّخَتُّمِ بِالذَّهَبِ وَعَنْ لِبَاسِ الْقِسِّيِّ وَعَنْ قِرَآءَةٍ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ وَعَنْ لِبَاسِ الْمُعَصْفَرِ.

ترجمه: دحضرت علی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع کړے دے ماله رسول الله ﷺ دسروزرو دګوتیٔ په ګوته کولو نه، اوقستی اوغوستلو نه اوپه رکوع یاسجده کښې دقرآت کولو نه اوپه کسم کښې درنګ کړے شوے کپړے داغوستلو نه.

بَابُ فَضْلِ لِبَاسِ الْحِبَرَةِ۔

دیمن څادر فضیلت بیان

(۵۴۴۰) عَنْ قَتَادَةَ قَالَ قُلْنَا لِاَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَىُّ اللِّبَاسِ كَانَ اَحَبَّ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْ اَعْجَبَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحِبَرَةُ.

ترجمه: دقتاده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ انس ؓ ته اووے، چه رسول الله ﷺ به کومه کپړه خوښوله هغوی ؓ اووے دیمن څادر (چه اکری دار مخطط وی په واقعه کښے داکپړے زیاته مضبوطه او خوندنه که اودرنه وی۔

(۵۴۴۱) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ اَحَبَّ الثِّيَابِ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحِبَرَةُ. [بخاری، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ التَّوَاضُعِ فِى اللِّبَاسِ وَالْاِقْتِصَارِ عَلَى الْغَلِيْظِ مِنْهُ

پیرنړه ساده کپړے اغوستل او عاجزی کول په جامو کښې

(۵۴۴۲) عَنْ اَبِىْ بُرْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَاَخْرَجَتْ اِلَيْنَا اِزَارًا غَلِيْظًا مِّمَّا يُصْنَعُ بِالْيَمَنِ وَكِسَآءً مِّنَ الَّتِىْ يُسَمُّوْنَهَا الْمُلَبَّدَةَ قَالَ فَاَقْسَمَتْ بِاللّٰهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ فِىْ هٰذَيْنِ الثَّوْبَيْنِ. [بخاری، ابوداود، ترمذی نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابوبرده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه زۀ دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها خواله لاړم، هغوی ؓ یو پیرنړه تهبند را اوویستو کوم چه په یمن کښے جوړیږی، او یو کمبل چه هغے ته ملبده وائی، بیائے په الله تعالی قسم اوخوړو چه درسول الله ﷺ وفات په دغه دواړو کپړو کښے شوے وو۔

(۵۴۴۳) عَنْ اَبِىْ بُرْدَةَ قَالَ اَخْرَجَتْ اِلَيْنَآ عَآئِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَآ اِزَارً وَّكِسَآءً مُلَبَّدًا فَقَالَتْ فِىْ هٰذَا قُبِضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْنُ حَاتِمٍ فِىْ حَدِيْثِهٖ اِزَارًا غَلِيْظًا.

ترجمه : دابوبرده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها څماپه مخکښې یوتهبند اویوکمبل پیوندکړے شوے را اوویستو اواوئے وئیل چه درسول الله ﷺ وفات هم په دے کښې شوے دے۔

(۵۴۴۴) عَنْ اَیُّوْبَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ وَقَالَ اِزَارًا غَلِیْظًا.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته پشان ده ، خوپه دے کښې دپیرنړه تهبند ذکردے۔

(۵۴۴۵) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ خَرَجَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ وَّعَلَیْهِ مِرْطٌ مُّرَحَّلٌ مِّنْ شَعْرٍ اَسْوَدَ. [ابوداود ، ترمذی ،]

ترجمه : دمؤمنانو دمورحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ یوسحررا اووتو اویوکمبل ئے پسروو چه په هغې باندے دتورو ویښتودپالان تصویرونه جوړشوی وو۔

(۵۴۴۶) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ کَانَ وَسَادَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الَّتِیْ یَتَّکِیُٔ عَلَیْهِ مِنْ اَدَمٍ حَشْوُهٗ لِیْفٌ. [ترمذی]

ترجمه : دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے، وائی چه درسول الله ﷺ تکیه دچرمے وه چه دننه دکجورے دپټ نه ډکه وه۔

(۵۴۴۷) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ اِنَّمَا کَانَ فِرَاشُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الَّذِیْ یَنَامُ عَلَیْهِ اَدَمًا حَشْوُهٗ لِیْفٌ. [ترمذی]

ترجمه : دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه درسول الله ﷺ بچونایعنی بستره په کومے چه به حضرت ﷺ اوده کیدلو دځرمنے وه، چه دننه دکجورے دپټ نه ډکه شوے وه۔

(۵۴۴۸) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ ضِجَاعُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ حَدِیْثِ اَبِیْ مُعَاوِیَةَ یَنَامُ عَلَیْهِ . [ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه : ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

بابُ جوازِ اتّخاذِ الانماط۔

دغالیو یاسوزنو بیان

(۵۴۴۹) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا تَزَوَّجْتُ اتَّخَذْتَ اَنْمَاطًا قُلْتُ وَاَنّٰی لَنَا اَنْمَاطٌ قَالَ اَمَا اِنَّهَا سَتَكُوْنُ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے هرکله چه مانکاح اوکړو نورسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل تاسوزنیان جوړے کړی دی، مااووے زمونږ سره سوزنیان کوم ځائے وے، حضرت ﷺ اووے اوس به نزدے اوشی هرکله چه ملك فتح شی اومسلمانان به مالدار شی بیادغه شان اوشوه داد حضرت ﷺ معجزه ده ۔)

(۵۴۵۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّا تَزَوَّجْتُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَتَّخَذْتَ اَنْمَاطًا قُلْتُ وَاَنّٰی لَنَآ اَنْمَاطٌ قَالَ اَمَآ اِنَّهَا سَتَكُوْنُ قَالَ جَابِرٌ وَعِنْدَامْرَاَتِیْ نَمَطٌ فَاَنَااَقُوْلُ نَحِّیْهِ عَنِّیْ وَتَقُوْلُ قَدْقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهَا سَتَكُوْنُ. [بخاری ، ترمذی]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے هرکله چه مانکاح اوکړوه نورسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل ستاسره سوزنیان شته؟ مااووے زمونږ سره سوزنیان چرته دی حضرت ﷺ اوفرمائیل اوس به اوشی،جابر رضی الله تعالی عنه وائی ځما دبی بی سره یوه سوزنی ده زۀ وایم لرے کړه دے لره، اوهغهٔ وائی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی اوس به سونئ وی. (نوجابرؓ به هغے لره لرے کوله په مکروه گنړلو سره ولے چه هغه زینت دے ددنیا)

(۵۴۵۱) عَنْ سُفْیَانَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَزَادَ قَالَ فَاَدَعُهَا.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده.

بابُ كراهةِ مازاد علی الحاجةِ من الفراشِ واللباسِ

دحاجت نه زیاتی بسترے اوجامے جوړول مکروه دی۔

(۵۴۵۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهٗ فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ وَفِرَاشٌ لِاِمْرَاَتِهٖ وَالثَّالِثُ لِلضَّیْفِ وَالرَّابِعُ لِلشَّیْطَانِ. [ابوداود ، نسائی]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هغوی ته چه یوه بستره دسری دپاره یوه دهغه دبی بی دپاره یوه دهغه دمیلمه دپاره پکار ده. اوڅلورمه به دشیطان وی.

فائده: یعنی بے ضرورته بسترے که ئے خالی غوړولی وی نوپه هغے باندے شیطان ناسته کوی، مقصد دحدیث دادے چه دضرورت نه زیات ددنیاسامان جمع کول مکروه دی، اوکه په اراده دکبراوفخروی نو حرام دی.

بَابُ تَحْرِيمِ جَرِّالثَّوْبِ خُيَلَاءَ

په غرور سره کپړے زوړنده ول حرام دی.

(۵۴۵۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَايَنْظُرُاللهُ تَعَالٰى اِلٰى مَنْ جَرَّثَوْبَهٗ خُيَلَاءَ. [بخاری ، ترمذی]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، نهٔ به ګوری الله تعالی دقیامت په ورځ دهغه سړی په طرف چه هغه خپله کپړه په زمکه راکاږی دغرورنه.

(۵۴۵۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ مَالِكٍ وَّزَادَ فِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده.

(۵۴۵۵) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ الَّذِيْ يَجُرُّثِيَابَهٗ مِنَ الْخُيَلَاءِ لَايَنْظُرُاللهُ اِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده.

(۵۴۵۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِهِمْ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَرَّثَوْبَهٗ مِنَ الْخُيَلَاءِ لَمْ يَنْظُرِ اللهُ اِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ:

(۵۴۵۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ غَیْرَ اَنَّهُ قَالَ ثِیَابَهُ۔

ترجمه: ددې روایتونو ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۴۵۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ رَاٰی رَجُلًا یَجُرُّ اِزَارَهُ فَقَالَ مِمَّنْ اَنْتَ فَانْتَسَبَ لَهُ فَاِذَا رَجُلٌ مِّنْ بَنِیْ لَیْثٍ فَعَرَفَهُ ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِاُذُنَیَّ هَاتَیْنِ یَقُوْلُ مَنْ جَرَّ اِزَارَهُ لَایُرِیْدُ بِذٰلِکَ اِلَّا الْمَخِیْلَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ لَایَنْظُرُ اِلَیْهِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ۔

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه هغویؓ یو سړے اولیدو چه خپل پرتوګ ئې رابنکودلو، هغویؓ ترې تپوس اوکړو چه ته دکومې قبیلې ئې هغه بیان اوکړو، نو معلومه شوه چه دبنی لیث وو ابن عمر رضی الله تعالی عنه هغه لره اوپیژندو نوورته ئې لووې، مادرسول الله ﷺ نه په دے خپلو دواړو غوږونو اوریدلی دی چه فرمائیلو ئې څوک چه خپل پرتوګ غرور په نیت سره زوړند کړی، نو الله تعالی به دقیامت په ورځ دهغه په طرف لونۀ ګوری۔

(۵۴۶۰) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَیْرَ اَنَّ فِیْ حَدِیْثِ اَبِیْ یُوْنُسَ عَنْ مُسْلِمٍ اَبِی الْحَسَنِ وَفِیْ رِوَایَتِهِمْ جَمِیْعًا مَنْ جَرَّ اِزَارَهُ وَلَمْ یَقُوْلُوْا ثَوْبَهُ۔

ترجمه: ترجمه ددې هم پورته پشان ده۔

(۵۴۶۱) عَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ عَبَّادِ ابْنِ جَعْفَرٍ یَقُوْلُ اَمَرْتُ مُسْلِمَ ابْنَ یَسَارٍ مَّوْلٰی نَافِعِ ابْنِ عَبْدِالْحَارِثِ اَنْ یَّسْاَلَ ابْنَ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَاَنَا جَالِسٌ بَیْنَهُمَا اَسَمِعْتَ مِنَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِی الَّذِیْ یَجُرُّ اِزَارَهُ مِنَ الْخُیَلَاءِ شَیْئًا قَالَ سَمِعْتُهُ یَقُوْلُ لَایَنْظُرُ اللّٰهُ اِلَیْهِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ۔

ترجمه: دمحمد بن عباد بن جعفر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما حکم اوکړو مسلم بن یسار ته چه آزار کړے غلام وو، دنافع بن عبدالحارث، دنافعؓ نه دتپوس کولو اوزۀ په دغه ورځ په مینځ کښې ناست وم، آیا تا درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی دهغه سړی په باره کښې چه هغه خپل پرتوګ دغرور نه زوړند کړی وی، هغویؓ اووے مادحضرت ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئې وو الله تعالی به دهغه په طرف اونه ګوری دقیامت په ورځ۔

(۵۴۶۲) عن ابنِ عُمرَرضِیَ اللهُ تعالیٰ عنهما قال مررتُ علیٰ رَسُوْلِ اللهِ صلَّی اللهُ علیهِ وَسلَّمَ وفی ازاری استِرخاءٌ فقالَ یاعبدَاللهِ ارْفَعْ اِزارَک فرفعتُه ثمَّ قالَ زِدْفزِدْتُ فمازِلْتُ اَتحرَّاها بعْدُفقالَ بعضُ القومِ اِلیٰ اینَ فقالَ انْصافِ السَّاقیْنِ.

ترجمه: دابن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه زهٔ درسول الله ﷺ په مخکښے تیرشوم اوځماپرتوگ ښکته شوے وو حضرت ﷺ اوفرمائیل اے عبدالله ؓ خپل پرتوگ لوچت کره. مااوچت کړو حضرت ﷺ اوفرمائیل نورئے اوچت کره، مانور اوچت کړو اواوچتوؤ می تردے پورے حه څنئے خلقوعرض اوکړو چه دکومے پورے به ئے اوچتوے، حضرت ﷺ اوفرمائیل دپنډۍ دنیمے پورے.

(۵۴۶۳) عن محمّدٍ وَهُوابْنُ زیادٍ قال سمعْتُ اباهریرة رضی اللهُ تعالیٰ عنهُ ورایٰ رجُلا یَجُرُّ اِزارَهُ فجعلَ یضربُ الارضَ برجله وهوامیرٌ علی البحرینِ وهویقولُ جاءَ الْاَمیرُ قالَ رَسُوْلُ اللهِ صلَّی اللهُ علیهِ وسلَّمَ انَّ اللهَ لایَنظُرُالی منْ یَّجُرُّاِزارَهُ بطرًا.

ترجمه: دمحمد بن زیادؒ نه روایت دے وائی چه مادابو هریره رضی الله تعالی عنه نه اوریدلی دی چه هغویؓ یوسړے اولیدو چه پرتوگ ئے ښکته کړے وو، اودخپوسره ئے په زمکه رانښکودو، هغه امیر وو په بحرین باندے، او وئیلے شو امیر راغے امیر راغے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی الله جل جلاله به اونهٔ گوری(په نظررحمت) هغه سړی ته چه هغه خپل پرتوگ دغرور دوجے نه ښکته کړے وی.

(۵۴۶۴) عنْ شُعْبَةَ بهٰذَا الْاِسْنَادِ وَفِیْ حَدِیْثِ ابْنِ جَعْفَرٍ کَانَ مَرْوَانُ رَضِیَ اللهُ تعالیٰ عَنْهُ یَسْتَخْلِفُ اباهُریرةَ رضی اللهُ تعالیٰ عنهُ وفِیْ حَدِیْثِ ابْنِ مُثَنّٰی کان اَبُوْهُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تعالیٰ عَنْهُ یَسْتَخْلِفُ علَی الْمَدِیْنَةِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده.

فائده: نووی علیه الرحمة وائی، اسبال یعنی ښکته کول په پرتوگ اوقمیص اوپټکی تولوکښے کیږی. اودپرتوگ ښکته کول دکچونه لاندے جائز نهٔ دی، که په غرور سره وی اوبغیر دغرورنه مکروه دی اوظاهر حدیث نه دامعلومه شوه چه حرمت خاص دے دغرور سره

لیکن ښځو لره اسبال درست دے او مستحب داده چه قمیص او پرتوګ دواړه د پنډئ دقیمے پورے وی، لیکن دکجورے پورے هم جائز دے۔

باب تحریم التبختر فی المشی مع اعجابه بثیابه

په کپړو وغیره باندے په لویئ یا کبر سره تلل حرام دی۔

(۵۴۶۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَیْنَمَا رَجُلٌ یَمْشِیْ قَدْاَعْجَبَتْه جُمَّتُهٗ وَبُرْدَاهُ اِذْ خُسِفَ بِهِ الْاَرْضُ فَهُوَ یَتَجَلْجَلُ فِی الْاَرْضِ حَتّٰی تَقُوْمَ السَّاعَةُ.

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه یو سړے روان وو هغه ته خپلو ویختو او څادر باندے نازیدو آخر په زمکه کښے ننوستے شو، پس هغه به دقیامت پورے به زمکه کښے ننوتے روان وی (کیدے شی هغه سړے په دے امت کښے وی او صحیح داده چه په رومبی امت کښے وو)

(۵۴۶۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ هٰذَا.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث پورته پشان ده۔

(۵۴۶۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَیْنَمَا رَجُلٌ یَتَبَخْتَرُ یَمْشِیْ فِیْ بُرْدَیْهِ قَدْ اَعْجَبَتْهُ نَفْسُهٗ فَخَسَفَ اللّٰهُ بِهِ الْاَرْضَ فَهُوَ یَتَجَلْجَلُ فِیْهَا اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ.

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه یو سړی به کبر کولو په تللو کښے چه خپلو دواړو څادرونو کښے او غرور به ئے کولو، نو الله تعالی هغه لره په زمکه کښے ننوستو، پس هغه به دقیامته پورے په دغه زمکه کښے په خکته روان وی۔

(۵۴۶۸) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَاحَدَّثَنَا اَبُوْهُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَ اَحَادِیْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَیْنَمَا رَجُلٌ یَتَبَخْتَرُ فِیْ بُرْدَیْنِ ثُمَّ ذَکَرَ مِثْلَهٗ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۴۶۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اِنَّ رَجُلًا مِمَّنْ کَانَ قَبْلَکُمْ یَتَبَخْتَرُ فِیْ حُلَّةٍ ثُمَّ ذَکَرَ مِثْلَ حَدِیْثِهِمْ۔

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده، خو په دے کښے دځادرونو په ځائے دجوړے ذکر دے۔

باب تَحْرِیْمِ خَاتَمِ الذَّهَبِ عَلَی الرِّجَالِ

دسړو زرو ګوتۍ نارینه لره حرامه ده۔

(۵۴۷۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ نَهٰی عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ۔ [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دسرو زرو دګوتۍ نه۔

(۵۴۷۱) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَفِیْ حَدِیْثِ ابْنِ مُثَنّٰی قَالَ سَمِعْتُ النَّضْرَبْنَ اَنَسٍ۔

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۴۷۲) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رَاٰی، خَاتَمًا مِّنْ ذَهَبٍ فِیْ یَدِ رَجُلٍ فَنَزَعَهُ فَطَرَحَهُ وَقَالَ یَعْمِدُ اَحَدُکُمْ اِلٰی جَمْرَةٍ مِنْ نَّارٍ فَیَجْعَلُهَا فِیْ یَدِهٖ فَقِیْلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَ مَاذَهَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خُذْ خَاتَمَکَ انْتَفِعْ بِهٖ قَالَ لَاوَاللهِ لَآاٰخُذُهٗ اَبَدًا وَقَدْطَرَحَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ۔

ترجمه: دعبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دسرو زرو ګوتۍ دیو سړی په لاس کښے اولیده، حضرت ﷺ ترینه اوویسته اواوئے غورځوله، اواوئے فرمائیل ستاسو نه یو کس اراده کوی دجهنم داور دسکروټے، پس اخلی هغے لره په لاس خپل کښے، هرکله چه حضرت ﷺ تشریف یوړلو نوخلقو هغه سړی ته اوویے، ته داخپله ګوتۍ رااوچته کړه اونفع ترے واخله، (یعنی دهغے دقیمت نه) هغه اووے قسم په الله جل جلاله چه زۀ هغه څه له لاس نه وروړم چه هغے لره رسول الله ﷺ غورځولی وی (سبحن الله داصحابو تقوی اوتباع داسے اوچتے درجے ته رسیدلی وه، کچرے هغه اوچته کړے وے اوخرڅه کړے ئے وے نو ګناهګار

نۀ وو-)

(۵۴۷۳) عَنْ عَبْدِاللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصْطَنَعَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فَكَانَ يَجْعَلُ فَصَّهُ فِىْ بَاطِنِ كَفِّهٖ اِذَالَبِسَهُ فَصَنَعَ النَّاسُ ثُمَّ اِنَّهُ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَنَزَعَهُ فَقَالَ اِنِّىْ كُنْتُ اَلْبَسُ هٰذَا الْخَاتَمَ وَاَجْعَلُ فَصَّهُ مِنْ دَاخِلٍ فَرَمٰى بِهٖ ثُمَّ قَالَ وَاللهِ لَآ اَلْبَسُهُ اَبَدًا فَنَبَذَ النَّاسُ خَوَاتِيْمَهُمْ وَلَفْظُ الْحَدِيْثِ لِيَحْيٰى. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دسرو زرو یوه گوته جوړه کړه، اودهغے غمے به حضرت ﷺ دورغوی په طرف ساتلو هرکله چه به ئے په گوته کبیے اچوله، پس یوه ورځ حضرت ﷺ په منبر کیناستونو هغه گوتئ ئے اوویسته اواوئے غورځوله اواوئے فرمائیل مابه داگوتئ په گوته کوله اوغمے به می ورله دورغوی په طرف ساتلو بیائے اوغورځوله هغے لره او اوئے فرمائیل په الله جل جلاله قسم دے چه زۀ به داچرته هم په گوته کبیے وانه چوم، ددے په لیدو سره خلقو هم خپلے گوتئ اوغورځولے.

فائده: نووی علیه الرحمة وائی مسلمانانو اجماع کړے ده چه دسرو زروگوتئ دښځودپاره روا ده، اودسړو دپاره حرامه ده، مگردابن حزمؒ نه ددے اباحت منقول دے، اودځنو په نزد مکروه ده حرام نۀ ده، اودغه مذهبونه باطل دی.

(۵۴۷۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ فِىْ خَاتَمِ الذَّهَبِ وَزَادَ فِىْ حَدِيْثِ عُقْبَةَ ابْنِ خَالِدٍ وَجَعَلَهُ فِىْ يَدِهِ الْيُمْنٰى. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: ترجمه ددے هم دوړاندے تیرشوے حدیث پشان ده، په دے کبیے دومره زیاته ده چه هغه گوتئ دحضرت ﷺ په گس لاس کبیے وه.

(۵۴۷۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِىْ خَاتَمِ الذَّهَبِ نَحْوَ حَدِيْثِ اللَّيْثِ. [ترمذی]

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده.

(۵۴۷۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اتَّخَذَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ وَّرِقٍ فَكَانَ فِىْ يَدِهٖ ثُمَّ كَانَ فِىْ يَدِ اَبِىْ بَكْرٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ثُمَّ كَانَ فِىْ يَدِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ثُمَّ

کان فی یـد عـثـمـان رضـی اللہ تعالٰی عنہ حتّی وقع منہ فی بئرِ اَرِیْسٍ نَقْشُہٗ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ علیہ وسلم قال ابنُ نُمیر حتّی وقع فِی بئرٍ وَلَمْ یَقُلْ مِنْہُ.

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ دسپینوزرو یوه گوتئ جوړه کړه. هغه دحضرت ﷺ په لاس کښے وه، بیا دحضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه په لاس کښے وه بیا دحضرت عمررضی الله تعالی عنه په لاس کښے وه بیا دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په لاس کښے وه بیا دهغوئ دلاس نه داریس په کوهی کښے اوغورځیده دهغے گوتئ نقش داوو، "

الله
رسول
محمد

فائده: دکومے ورځی نه چه دغه گوتئ اوغورځیده دهغه ورځی نه یعنی دهغه زمانے نه په خلافت کښے خلل پریوتو اوفتنے شروع شولے، ددے نه معلومه شوه چه په گوتئ باندے نقش کول درست دی، اوپه نقش کښے دالله جل جلاله نوم لیکل ځنودے ته مکروه وئیلی دی، خودغه قول دهغوئ ضعیف دے.

(۵۴۷۷) عن ابـنِ عُمرَرَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ اتَّخَذَ النَّبِیُّ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ خاتَمًا مِّنْ ذَھَبٍ ثُمَّ اَلـقـاہُ ثـمَّ اتـخذ خاتما مِّنْ وَرِقٍ ونُقِش فِیْہِ "مُحَمَّدٌرَّسُوْلُ اللہِ" وَقَالَ لَایَنْقُشُ اَحدٌ عَلٰے نَقْشِ خاتِمِیْ ھذا وکان اِذَالَبِسَہٗ جَعَلَ فَصَّہٗ مِمَّا یَلِیْ بَطْنَ کَفِّہٖ وَھُوَالَّذِیْ سَقَطَ مِنْ مُعَیْقِیْبٍ فِیْ بِئْرِ اَرِیْسٍ. [ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ دسروزرو یوه گوتئ جوړه کړه، بیائے هغه اوغورځوله اودسپینو زروئے جوړه کړه په هغے باندے کنده وو "محمدرسول الله " اواوئے فرمائیل څوك دی په خپله گوتئ کښے څمادانقش نه کنده کوی، هرکله چه به حضرت ﷺ هغه گوتئ په گوته کوله نودهغے غمے به ئے دننه طرفته کولو، اوبیا هغه گوتئ دمعیقیب دلاس نه په اریس (کوهی) کښے پریوته.

(۵۴۷۸) عن انس ابن مالک رَضِی اللهُ تعالی عَنهُ ان النبیُ صلی اللهُ علیه وسلّم اتّخذ خاتمًا مّن فضة وّنقش فیه محمّد رّسُوْلُ الله وقال للنّاس انّی اتّخذت خاتمًا مّن فضةٍ وّنقشتُ فِیه "مُحَمّدٌ رّسُوْلُ الله" فلاینقش احدٌ علی نقشه. [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دسپینوزرو یوه گوتی جوړه کړه اوکنده ئے کړو په هغے کښں "مُحَمّدٌ رّسُوْلُ الله" اوخلقوته ئے اوفرمائیل مایوه گوتئ جوړه کړے ده دسپینوزرو او "مُحَمّدٌ رّسُوْلُ الله" مے پکښی کنده کړے دے نو هیڅ یوکس دی په خپله گوتئ کښے دا (الفاظ) نهٔ کنده کوی.

(۵۴۷۹) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ یَذْکُرْفِیْ الْحَدِیْثِ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته پشان ده.

(۵۴۸۰) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّااَرَادَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ یَّکْتُبَ اِلَی الرُّوْمِ قَالَ قَالُوْٓا اِنَّهُمْ لَایَقْرَءُوْنَ کِتَابًا اِلَّامَخْتُوْمًا قَالَ فَاتَّخَذَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِّنْ فِضَّةٍ کَاَنِّیْ اَنْظُرُاِلٰی بَیَاضِهٖ فِیْ یَدِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَقْشُهٗ "مُحَمَّدٌرَّسُوْلُ اللهِ"

[بخاری، نسائی]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے هرکله چه رسول الله ﷺ دروم بادشاه ته دلیکلو اراده اوکړه، نو خلقواووے دروم خلق بغیردمهرنه خط نهٔ لولی، بیارسول الله ﷺ سپینوزرو یو مهرجوړ کړو، لکه چه زهٔ دهغے سپین والے وینم دحضرت ﷺ په لاس مبارك کښے، په هغے کښے نقش وو "مُحَمّدٌ رّسُوْلُ اللهِ".

(۵۴۸۱) عن انس رَّضِیَ اللهُ تعالی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ اَرَادَ اَنْ یَّکْتُبَ اِلَی الْعَجَمِ فقیل له انّ العجم لایقبلون الّا کتابا علیه خاتمٌ فاصطنع خاتمًا مّن فضّةٍ قَالَ کَاَنِّیْ اَنْظُرُاِلٰی بَیَاضِهٖ فِیْ یده. [ترمذی]

ترجمه: دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ دعجم بادشاه ته لیکل غوښتل، (عجم وائی علاوه دعربو نه نوروتمامو خلقوته) خلقواووے دعجمو خلق هیڅ یو خط

نـه اخلی دکومے پورے چه په هغے باندے مهر نۀ وی، حضرت ﷺ یو مهر جوړ کړو دسپینوزرو لکه زۀ چه اوس دحضرت ﷺ په لاس مبارک کښے دهغے سپین والے وینمه۔

(۵۴۸۲) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرَادَ اَنْ يَّكْتُبَ اِلٰی كِسْرٰی وَقَيْصَرَ وَالنَّجَاشِيِّ فَقِيْلَ اِنَّهُمْ لَا يَقْبَلُوْنَ كِتَابًا اِلَّا بِخَاتَمٍ فَصَاغَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا حَلْقَةً فِضَّةٍ وَّنُقِشَ فِيْهِ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ کسری (دایران بادشاه) ته اوقیصر (دروم بادشاه) ته اونجاشی (دحبشو بادشاه ته) لیکل اوغوښتو خلقو اووے دابادشاهان هیڅ یو خط نۀ اخلی دکومے پورے چه په هغے باندے مهرنۀ وی آخررسول الله ﷺ دسپینوزرو یوه ګوتۍ جوړه کړه اوپه هغے کښ نقش وو "مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ"۔

(۵۴۸۳) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ اَبْصَرَ فِيْ يَدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِّنْ وَّرِقٍ يَوْمًا وَّاحِدًا قَالَ فَصَنَعَ النَّاسُ الْخَوَاتِمَ مِنْ وَّرِقٍ فَلَبِسُوْهُ فَطَرَحَ النَّبِيُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَهٗ فَطَرَحَ النَّاسُ خَوَاتِمَهُمْ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دانس بن مالک نه روایت دے چه هغوی درسول الله ﷺ په لاس مبارک کښے دسپینو زرو یوه ګوتۍ اولیده یوه ورځ، نوټولو خلقو دسپینو زرو ګوتۍ جوړے کړے اوپه ګوتو کښے ئے واچولے، بیا حضرت ﷺ خپله ګوتۍ اوغورځوله، نوخلقو هم خپلے ګوتۍ اوویستے اولوئے غورځولے (یعنی دسروزرو ګوتۍ ټولو اوغورځولے)۔

(۵۴۸۴) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ رَاٰی فِيْ يَدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِّنْ وَّرِقٍ يَوْمًا وَّاحِدًا ثُمَّ اِنَّ النَّاسَ اضْطَرَبُوْا الْخَوَاتِيْمَ مِنْ وَّرِقٍ فَلَبِسُوْهَا فَطَرَحَ النَّبِيُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَهٗ فَطَرَحَ النَّاسُ خَوَاتِيْمَهُمْ . [بخاری]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۴۸۵) عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ.

ترجمه: داترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۴۸۶) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ كَانَ خَاتَمُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ

وُّرِقٍ وَّكَانَ فَصُّهُ حَبَشِيًّا. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه درسول الله ﷺ گوتئ دسپینو زرو وه اوغمے ئے حبشی وو، (یعنی دعقیق چه کان ئے په حبش اویمن کښے دے ـ) اوځنے وائی چه دحبش نه مراد تور دے یعنی دتورو عقیقو ـ

(۵۴۸۷) عَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِسَ خَاتَمَ فِضَّةٍ فِيْ يَمِيْنِهِ فِيْهِ فَصٌّ حَبَشِيٌّ كَانَ يَجْعَلُ فَصَّهُ مِمَّا يَلِيْ كَفَّهُ.

ترجمه : دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به دسپینو زرو گوتئ دښی لاس په گوته کښے اچوله اودهغے غمے به حضرت ﷺ دننه ورغوی طرفته ساتلو ـ

(۵۴۸۸) عَنْ يُوْنُسَ ابْنِ يَزِيْدَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيْثِ طَلْحَةَ ابْنِ يَحْيٰى .

ترجمه : ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده ـ

(۵۴۸۹) عَنْ أَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ هٰذِهٖ وَأَشَارَ إِلَى الْخِنْصَرِ مِنْ يَدِهِ الْيُسْرٰى.

ترجمه : دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے درسول الله ﷺ گوتئ په دغه گوته کښ وه اواشاره ئے اوکړه دګس لاس ورے گوتے ته ـ

(۵۴۹۰) عَنْ عَلِيٍّ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهَانِيْ يَعْنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَجْعَلَ خَاتَمِيْ فِيْ هٰذِهٖ أَوِ الَّتِيْ تَلِيْهَا لَمْ يَدْرِ عَاصِمٌ فِيْ أَيِّ الثِّنْتَيْنِ وَنَهَانِيْ عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَعَنْ جُلُوْسٍ عَلَى الْمَيَاثِرِ قَالَ فَأَمَّا الْقَسِّيُّ فَثِيَابٌ مُضَلَّعَةٌ يُؤْتٰى بِهَا مِنْ مِصْرَ وَالشَّامِ فِيْهَا شِبْهُ كَذَا وَأَمَّا الْمِيَاثِرُ فَشَيْءٌ كَانَتْ تَجْعَلُهُ النِّسَاءُ لِبُعُوْلَتِهِنَّ عَلَى الرَّحْلِ كَالْقَطَائِفِ الْأُرْجُوَانِ. [ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دحضرت علی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی منع کړے یم زهٔ رسول الله ﷺ په دے گوته اوددے دخواپه گوته باندے دگوتئ اچولو نه، عاصمؒ ته (چه ددے حدیث راوی دے یاد نه دی) چه کومے دوه گوتے ئے اوښودلے، (په بل روایت کښے دی چه سبابه اووسطی ئے اوښودلے یاوسطی اودهغے دخواوالا) اومنع کړے ئے یم زهٔ دقسئ داغوستلو نه، اوپه ریښمی زین پوشونودکیناستو نه، هغوئ وائی قسئ خو هغه خانه دارے کپړے دے چه دمصر نه راځی،

اودشام نه . اوزین پوش هغه دے چه هغه ښځے په کجاوو باندے غوړوی، دخپلو خاوندانو دپاره، ارغوانی خادرونه۔

(۵۴۹۱) عن علیٍّ رَضی اللہ تعالیٰ عنہ فذکرھذا الحدیث عن النَّبیّ صلے اللہ علیہ وسلّم بنحوہٖ.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۴۹۲) عَنْ اَبِیْ بُرْدَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَلِیَّ ابْنَ اَبِیْ طَالِبٍ قَالَ نَهَانِیْ یَعْنِی النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمْ فذکرنحوہٗ.

ترجمه : ترجمه ددے حدیث هم دپورته پشان ده۔

(۵۴۹۳) عَنْ اَبِیْ بُرْدَةَ قَالَ عَلِیٌّ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نَهَانِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ اَتَخَتَّمَ فِیْ اِصْبَعِیْ هٰذِهٖ اَوْهٰذِهٖ قَالَ اَوْمَآاِلَی الْوُسْطٰی وَالَّتِیْ تَلِیْهَا.

ترجمه : دابوبرده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه حضرت علی رضی الله تعالی عنه وئیلی دی منع کړے یم زه رسول الله ﷺ په دے ګوته کښے یاپه دے ګوته کښے دګوتئ اچولونه، اواشاره ئے اوکړه دمینځ دګوتے اودهغے په خواکښے، دګوتے په طرف . (ولے چه داګوتے په هرکار کښے مخکښے وی نوپه ګوتئ سره ورته تکلیف وی، البته کچه ګوته ځانله وی نوپه هغے کښے ګوتئ اچول غوره دی۔

فائده : امام نووی رحمة الله علیه وئیلی دی ګوتئ په ښی اوکس دواړولاسونو کښے اچول جائز دی. اوپه یوکښے هم کراهت نشته لیکن افضل څه دی په دے کښے اختلاف دے۔

باب اسْتِحْبَابِ لُبْسِ النِّعَالِ

پیزار په خپوکول مستحب دی

(۵۴۹۴) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ غَزْوَةٍ غَزَوْنَاهَا یَقُوْلُ اسْتَکْثِرُوْا مِنَ النِّعَالِ فَاِنَّ الرَّجُلَ لَایَزَالُ رَاکِبًا مَّاانْتَعَلَ.

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مادیو جهاد په سفرکښے چه په هغے کښے مونږ شریك وو درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو پیزار دیرپه خپوکوئ ولے چه دپیزار پخپوکولو سره بنده همیشه سوروی، (یعنی دسوروپشان خپوته

تکلیف نۀ رسی)۔

باب استحباب لبس النعال فی الیمنی اولا والخلع من الیسری اولا وکراهة المشی فی نعل واحدة۔

مخکښې ښئ پیزار په خپو کول او مخکښې کس پیزار ویستل مستحب دی او صرف په یو پیزار پخپو کولو سره تلل مکروه دی۔

(۵۴۹۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا انْتَعَلَ اَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيُمْنٰى وَاِذَا خَلَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ وَلْيُنْعِلْهُمَا جَمِيْعًا اَوْلِيَخْلَعْهُمَا جَمِيْعًا۔

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "هرکله چه ستاسو نه څوك پیزار په خپو کوی نو دښئ خپے نه دی شروع کوی او هرکله چه ئے اوباسی نو دګسے خپے نه دی شروع کوی، او یکاره چه دواړه پخپو کوی یادواړه اوباسی۔

(۵۴۹۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَايَمْشِیْ اَحَدُكُمْ فِیْ نَعْلٍ وَّاحِدَةٍ لِّيُنْعِلْهُمَا جَمِيْعًا اَوْلِيَخْلَعْهُمَا جَمِيْعًا۔ [بخاری، ابو داود، ترمذی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك دی ستاسو نه یو پیزار په خپو نۀ ګرځی بلکه دواړه دی پخپو کوی یادی دواړه اوباسی (ورنه په خپو کښے دول راختلو احتمال دے، اوبدنمائی هم ده))۔

(۵۴۹۷) عَنْ اَبِیْ رَزِیْنٍ قَالَ خَرَجَ اِلَيْنَا اَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَضَرَبَ بِيَدِهٖ عَلٰى جَبْهَتِهٖ فَقَالَ اَلَا اِنَّكُمْ تَحَدَّثُوْنَ اَنِّیْ اَكْذِبُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِتَهْتَدُوْا وَاَنَا اَضِلُّ اَلَا وَاِنِّیْ اَشْهَدُ لَسَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ اَحَدِكُمْ فَلَايَمْشِیْ فِی الْاُخْرٰى حَتّٰى يُصْلِحَهَا [نسائی]

ترجمه: دابو رزینؒ نه روایت دے وائی چه ابو هریره رضی الله تعالی عنه زمونږ سره راغے، او خپل لاس ئے په خپل تندی باندے اووهو، بیائے اووے تاسو وایئ چه زۀ دروغ وایم په رسول الله ﷺ باندے ددے دپاره چه تاسو هدایت اومومئ اوزۀ ګمراه شم، خبردارشئ، زۀ ګواهی ورکوم

چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلے ئے وو "هرکله چه پتاسو کنبے دیوتن دپیزار تسمه اوشلیږی نو هغه دی هغه بل پیزار هم نهٔ په خپو کوی ترڅو پورے چه ئے هغه پیزار درست کړے نهٔ وی"۔

(۵۴۹۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا الْمَعْنٰی.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث ددے پورته پشان ده۔

بَابُ النَّهْیِ عَنِ اشْتِمَالِ الصَّمَّآءِ وَالْاِحْتِبَآءِ فِیْ ثَوْبٍ وَّاحِدٍ

صرف یوه کپړه په ټول بدن باندے اچول اویه یوه کپړه کښې داحتباء نه دممانعت بیان

(۵۴۹۹) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ یَّاْکُلَ بِشِمَالِهٖ اَوْیَمْشِیَ فِیْ نَعْلٍ وَّاحِدَةٍ وَاَنْ یَّشْتَمِلَ الصَّمَّآءَ وَاَنْ یَّحْتَبِیَ فِیْ ثَوْبٍ وَّاحِدٍ کَاشِفًا عَنْ فَرْجِهٖ.

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ په ګس لاس سره دخوړلو نه یاپه یو پیزار کښې دګرځیدلو نه یاصرف په یوه کپړه دټول بدن پټولو نه، یاپه ماتوزنګونانو په یوه کپړه کښې دکیناستلو نه چه شرمګاه ئے ښکاره وی، (چه ورته احتباء وئیلے شی داپه یوه کپړه کښې منع ده دسترښکاره کیدوپه خیال سره اوکه څوک پټه وی یادسترښکاره کیدوویره نهٔ وی نو مکروه دی)۔

(۵۵۰۰) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَوْسَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اِذَا انْقَطَعَ شِسْعُ اَحَدِکُمْ اَوْمَنِ انْقَطَعَ شِسْعُ نَعْلِهٖ فَلَا یَمْشِیْ فِیْ نَعْلٍ وَّاحِدَةٍ حَتّٰی یُصْلِحَ شِسْعَهٗ وَلَا یَمْشِ فِیْ خُفٍّ وَّاحِدٍ وَلَا یَاْکُلْ بِشِمَالِهٖ وَلَا یَحْتَبِیْ بِالثَّوْبِ الْوَاحِدِ وَلَا یَلْتَحِفِ الصَّمَّآءَ. [ابو داود]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "هرکله چه ستاسو نه دیو کس دیو پیزار تسمه اوشلیږی، نو دیوے خپے په پخپو کړی پیزار دی نه ګرځی ترڅو چه ئے دبلے خپلے هغه تسمه برابر کړے نه وی، اویوے خپے په موزه سره دی نه ګرځی اویه

ګس لاس دی خوراك نهٔ كوی، اوپه یوه كپړه كښې دی په ماتوزنګونانو نه كیښنی، اواشتمال دصماء دی نه كوی (ددے معنی پورته بیان شوے دهٔ)۔

(۵۵۰۱) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ اشْتِمَالِ الصَّمَّآءِ وَالْاِحْتِبَآءِ فِیْ ثَوْبٍ وَّاحِدٍ وَّاَنْ یَّرْفَعَ الرَّجُلُ اِحْدٰی رِجْلَیْهِ عَلَی الْاُخْرٰی وَهُوَمُسْتَلْقٍ عَلٰی ظَهْرِهٖ.

[ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ،رسول الله ﷺ منع کړے ده داشتمال صماء نه، اوپه ماتوزنګونانو دکیښناستو نه په یوه کپړه کښے، اویوه خپه په بله باندے دایخودلونه په داسے حال کښے چه په شاملاست وی (ولے چه دستردښکارکیدوویره ده)۔

(۵۵۰۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یُحَدِّثُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاتَمْشِ فِیْ نَعْلٍ وَّاحِدَةٍ وَلَاتَحْتَبِ فِیْ اِزَارٍ وَّاحِدٍ وَلَاتَاْکُلْ بِشِمَالِکَ وَلَاتَشْتَمِلِ الصَّمَّآءَ وَلَاتَضَعْ اِحْدٰی رِجْلَیْکَ عَلَی الْاُخْرٰی اِذَا اسْتَلْقَیْتَ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مه ګرځی په یوپیزار کښے په یولنګ کښے په ماتوزنګونانو مه کیښنئ اوخوراك مه کوئ په ګس لاس سره اواشتمال صماء مه کوئ. اومه ږدئ یوه خپله به بله باندے په نیغو سملاستوکښے " (داپه داسے صورت کښے چه لنګ ئے وهلے وی ولے چه په دغه حالت کښے دستربښکارکیدو ویره ده اوکه دستربښکاره کیدو ویره نهٔ وی یائے پاجامه اغوستی وی نونیغ سملاستل اویوه خپه په بله باندے ایخودل درست دی، اوپخپله دحضرت ﷺ نه ثابت دی.

(۵۵۰۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَایَسْتَلْقِ اَحَدُکُمْ ثُمَّ یَضَعُ اِحْدٰی رِجْلَیْهِ عَلَی الْاُخْرٰی.

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "هیڅ یوکس دی ستاسونه نیغ په نیغه نه څملی په داسے حال کښے چه یوه خپه ئے په بله ایخودے وی.

(۵۵۰۴) عَنْ عَبَّادِ ابْنِ تَمِیْمٍ عَنْ عَمِّهٖ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنْ رَّاٰی رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

مُستلقیًا فی المسجد واضعًا احدی رِجلَیهِ علی الاُخری. [بخاری، ابوداود، ترمذی]

ترجمه: عباده بن تمیمؒ دخپل تره (عبدالله بن زید بن عاصمؓ) نه اوریدلی دی چه هغویؓ رسول الله ﷺ لره په جماعت کښې په نیغو سملاستو اولیدلو اویوه خپه ئې په بله اچولې وه.

(۵۵۰۵) عَنِ الزُّهرِیِّ بِهٰذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ترجمه ددې هم ددغه پورته حدیث پشان ده.

بَابُ نَهْيِ الرَّجُلِ عَنِ التَّزَعْفُرِ

سړی لره زعفران لګول یا په زعفرانو کښې رنګ شوې کپړې اغوستل منع دي.

(۵۵۰۶) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ التَّزَعْفُرِ قال قتیبة قال حمّادٌ یعنی لِلرِّجالِ. [ابوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده دزعفرانو لګولو نه، حمادؒ اوقتیبهؒ وئیلی دی یعنی نارینه ؤ لره.

(۵۵۰۷) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ یَّتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ.

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده دزعفرانودلګولو نه اودزعفرانودرنګ نه.

بَابُ اسْتِحْبَابِ خِضَابِ الشَّیْبِ

په بوډاوالی کښې په ویښتو باندې خضاب لګول مستحب دي

(۵۵۰۸) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُتِیَ بِاَبِیْ قُحَافَةَ وَجَآءَ عَامَ الْفَتْحِ اَوْیَوْمَ الْفَتْحِ وَرَاْسُهُ وَلِحْیَتُهُ مثل الثّغامِ او الثّغامة فامر اَوْفَاُمِرَ به الٰی نسآئه قالَ غَیِّرُوا هٰذا بِشَیْءٍ. [ابوداود، نسائی]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ابوقحافه راغے په کوم کال مکه فتح شوه، دهغویؒ سر اوږیره، دثغامه پشان سپین وو (ثغامه سپین قسم وابنه دی) حضرت ﷺ دهغویؒ ښځوته حکم اوکړو چه بدل کړئ دے سپین والے لره په څه شي سره.

(۵۵۰۹) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اُتِیَ بِاَبِیْ قُحَافَةَ یَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَاْسُهُ وَلِحْیَتُهُ

كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيِّرُوْا هٰذَا بِشَيْءٍ وَّاجْتَنِبُوْا السَّوَادَ. [ابوداود، نسائی]

ترجمه: ترددے هم دتیرشوی حدیث پشان ده، دومره زیاته ده چه ځان ساتئ دتورولو نه۔

(۵۵۱۰) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰى لَايَصْبَغُوْنَ فَخَالِفُوْهُمْ. [بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، یهود اونصری خضاب نهٔ کوی نوتاسو دهغوئ خلاف کوئ"۔

فائده: اوخضاب کوئ، ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه په روزمره عادات اولباس لووضع کښے حتی المقدور دکافرونه خلاف کول غوره دی، ولے چه هریوقوم له خپل قومی نشان قائم ساتل اوبے فائدے، دبل قوم تقلید نهٔ کول شرف دے، اودازیاته دذلت اوبے غیرتئ خبره ده چه دبل قوم مقلد جوړشی، اودړوند کنړو وضع اوطریقه اختیار کړی، ددے حدیث نه رد راځی په هغه خلقو چه دنصاری ؤ په تقلید اووضع کښے جائز خیال کوی۔

نووی علیه الرحمة وئیلی دی ابوقحافهؓ دابوبکرؓ پلار ؤ دهغه نوم عثمانؓ وو، دفتح مکے په ورځ مسلمان شوے وو، اوزمونږ مذهب دادے چه زیړیاسره خضاب دسرو اوبنځو دپاره مستحب دی، اوتورخضاب حرام دی، اودبعضو په نزد مکروه تنزیهی دی، اومختار دادے چه حرام دی، اواختلاف دے دسلفو ځنے وائی دخضاب پریخودل غوره دی، اودځنو په نزد خضاب افضل دی، ابن عمرؓ اوابو هریرةؓ به زیړ خضاب لګول په حناء اووسمه سره اوزعفرانو سره منقول دی، اویو جماعت تورخضاب هم لګولی دی، دهغوئ نه دی حضرت عثمانؓ اوحضرت حسنؓ اوحسینؓ اوعقبه بن عامرؓ اوابن سیرینؒ اوابوبرده رضی الله تعالی عنهم اجمعین۔ (انتهی مختصرا)۔

بَابُ تَحْرِيْمِ تَصْوِيْرِ صُوْرَةِ الْحَيْوَانِ
دځناورفوټوجوړول حرام دی

(۵۵۱۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّهَا قَالَتْ وَاعَدَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِبْرِيْلُ

علیہ الصلوٰۃ والسلام فی ساعۃ یأتیہ فیھا فجآءت تلک الساعۃ ولم یأتہ وفی یدہ عصا فألقھا من یدہ وقال مایخلف اللہ وعدہ ولا رسلہ ثم التفت فاذا جرو کلب تحت سریر فقال یاعآئشۃ متی دخل ھذا الکلب ھھنا فقالت واللہ مادریت فامربہ فاخرج فجآء جبریل علیہ الصلوٰۃ والسلام فقال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وعدتنی فجلست لک فلم تات فقال منعنی الکلب الذی کان فی بیتک انا لاندخل بیتا فیہ کلب ولاصورۃ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه جبرائیل علیه السلام درسول الله ﷺ سره دراتللو وعده اوکړه په یو وخت کښے، اوبیا هغه وخت راغے او جبرائیل علیه السلام رانهٔ غے، دغه وخت درسول الله ﷺ په لاس مبارك کښے یو لرګے وو .حضرت ﷺ هغه اوغورځوو، اواوئے فرمائیل چه الله تعالی دخپلے وعدے خلاف نهٔ کوی، اودهغه قاصد وعده خلافی کوی بیا حضرت ﷺ آخوا دیخوا اوکتل نودسپی یوبچے ئے دتخت دلاندے په نظر راغے حضرت ﷺ اوفرمائیل اے عائشے داکتیٔ څه وخت راغله دلته. هغوئ اووے په الله جل جلاله قسم دے چه زهٔ ترے خبرنهٔ یم بیاد حضرت ﷺ په حکم هغه دسپی بچے بهر اوویستے شو، دغه وخت حضرت جبرائیل علیه السلام راغے رسول الله ﷺ ورته لوفرمائیل. تاسو زماسره وعده کړے وه اوزهٔ ستاسو په انتظار کښِ ناست وم لیکن تاسو تشریف رانه ورو، نو هغوئ علیه السلام اووے داسپے چه کوم ستاسو په کور کښے وو ده زهٔ منع کړے وم، مونږ هغه کور ته نهٔ ځو په کوم کورکښے چه سپے یاتصویر وی۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی دهر جاندار څیز تصویر جوړول حرام دی سخت اوګناه کبیره ده، برابره خبره ده که په کپړه کښے وی یافرش کښے یاروپواشرفو کښے یاپیسو یالوښو کښے یادیوال کښے وی، البته دونے یاکجاوے یادهغه څیزونو چه په هغے کښے روح نهٔ وی دهغے تصویر جوړول حرام نهٔ دی، اوپه کوم څیز کښِ چه تصویر دجاندار څیز جوړشوے وی کچرے هغه په دیوال باندے لولګولے شی یاپه کپړه کښے واغوستے شی یاپه پټکی کښے وی خو چه ذلیل نهٔ وی نو هغه حرام دی اوکه دذلت په ځائے وی لکه په بستره باندے چه خپے پرے ایخودلے شی یاپه تکیه وغیره باندے خو حرام نهٔ دی، لیکن په دے کښے کلام دے چه په داسے

تصویر سره هم فرښتې کورته راځي، یانې راځي، اوزمونږ په نزد خو څه فرق نشته په هغه تصویر کښې چه هغه سایه دروي اوکه سایه دارنه وي، اودجمهور علماؤ اصحابو اوتابعینو اوتبع تابعینو دغه مذهب دې اودغه قول دې دثوري اومالك اودابوحنیفه، اوځنې سلفو وئیلي دي چه دکوم تصویر سورې نه پریوځي دهغې ایخودل حرام نۀ دي، اودغه مذهب باطل دې، ولې چه حضرت ﷺ چه په کومه پرده خفاشوې وو په هغې باندې بې سایې تصویرونه وو، اواحادیث مطلق دي په دې کښې دیوصورت یعنې تصویر تخصیص نشته دې۔

اودځنو په نزد چه په کپړوباندې چه کوم نقشونه وي دتصویرونو هغه درست دي، لودقاسم بن محمد دغه مذهب دې، لیکن اجماع ده دهغه تصویرونو په حرمت باندې کوم چه سایه دار وي اودهغې ماتول واجب دي۔

قاضي عیاض وئیلي دي په دې کښې دبچو ګډیانې مستثنی دي دهغې اجازت شته دې، لیکن مالك دګډیانو اخستل هم دخپلو بچودپاره مکروه کړي دي، اوځنووئیلي دي چه دلوبودګډیانو اجازت هم په دې حدیث سره منسوخ شوې دې۔ والله اعلم انتهی۔

عَنْ اَبِیْ حَازِمٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ اَنَّ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ وَعَدَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّاْتِيَهُ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ وَلَمْ يُطَوِّلْهُ كَتَطْوِيْلِ ابْنِ اَبِیْ حَازِمٍ.

ترجمه: ترجمه ددې هم ددې تیرشوي حدیث پشان ده۔

(۵۵۱۳) عَنْ مَيْمُوْنَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَصْبَحَ يَوْمًا وَّاجِمًا فَقَالَتْ مَيْمُوْنَةُ يَارَسُوْلَ اللهِ ﷺ لَقَدِ اسْتَنْكَرْتُ هَيْئَتَكَ مُنْذُ الْيَوْمِ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ كَانَ وَعَدَنِيْ اَنْ يَّلْقَانِيَ اللَّيْلَةَ فَلَمْ يَلْقَنِيْ اَمَ وَاللهِ مَااَخْلَفَنِيْ قَالَ فَظَلَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَهُ ذٰلِكَ عَلٰى ذٰلِكَ ثُمَّ وَقَعَ فِیْ نَفْسِهٖ جِرْوُ كَلْبٍ كَانَ تَحْتَ فُسْطَاطٍ لَّنَا فَاَمَرَ بِهٖ فَاُخْرِجَ ثُمَّ اَخَذَ بِيَدِهٖ مَآءً فَنَضَحَ مَكَانَهُ فَلَمَّا اَمْسٰى لَقِيَهُ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ فَقَالَ لَهُ قَدْ كُنْتَ وَعَدْتَنِیْ اَنْ تَلْقَانِیَ الْبَارِحَةَ قَالَ اَجَلْ وَلٰكِنَّا لَانَدْخُلُ بَيْتًا فِيْهِ كَلْبٌ وَّلَاصُوْرَةٌ فَاَصْبَحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ فَاَمَرَ بِقَتْلِ الْكِلَابِ حَتّٰى اَنَّهٗ يَاْمُرُ بِقَتْلِ كَلْبِ الْحَائِطِ الصَّغِيْرِ وَيَتْرُكُ الْكَلْبَ الْحَائِطِ الْكَبِيْرِ. [ابوداود، نسائی]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت میمونے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ سحرپاسیدو غلے غلے وو، (لکه څنګه چه څوك په تکلیف شوے وی) ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ مانن ستاسو شکل داسے اولیدو چه تراوسه پورے می داسے نهٔ وو لیدلے، حضرت ﷺ اوفرمائیل جبرائیل علیه السلام نن شپه زماسره دمیلاویدو وعده کړے وه لیکن میلاؤ نه شولو اوپه الله جل جلاله قسم دے چه هغوئ علیه السلام چرته هم وعده خلافی نهٔ ده کړے، میمونهؓ وائی بیاتوله ورځ حضرت ﷺ دغهٔ شان (خفه) وو، ددے نه پس دحضرت ﷺ په زړهٔ کښے خیال راغے، دیوسپی دبچی چه زمونږ په ډیره کښے وو هغه ئے بهراوویستو بیاحضرت ﷺ اوبه واخستے اوکوم ځائے چه هغه سپے ناست وو هلته ئے چړکلاؤ کړے، هرکله چه مابنام شونو جبرائیل علیه السلام راغے، حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل تاسوعلیه السلام زماسره وعده کړے وه په تیره شپه دراتلو هغوئ علیه السلام اووے هان لیکن مونږه هغه کورته نهٔ ځو چه په هغے کښ سپے وی یاصورت یعنی فوټو بیاپه دغه سحررسول الله ﷺ دسپودقتلولوحکم ورکړو، تردے پورے چه حضرت ﷺ دوړوکی باغ هغه سپے هم قتل کړو اودلوئے باغ سپے ئے (ژوندے) پریښودلو۔

فائده: ولے چه دلوئے باغ حفاظت بغیردسپی نه ګران دے، نووی علیه الرحمة وائی کومے فرښتے چه دسپی په وجه سره کورته نه ورځی هغه درحمت اوبرکت فرښتے دی، لیکن محافظے فرښتے خوورسره هروخت اوسیږی، اوهرځائے ته ورسره ځی، ولے چه هغه اعمالولره لیکی، لوخطابیؒ وئیلی دی دکوم سپی ساتل چه روا دی لکه ښکاری سپے یادپټی سپے هغه فرښتولره نهٔ منع کوی۔ (انتهی مختصرا)۔

(۵۵۱۴) عَنْ اَبِیْ طَلْحَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَایَدْخُلُ الْمَلٰئِکَةُ بَیْتًا فِیْهِ کَلْبٌ وَّلَاصُوْرَةٌ. [بخاری، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابوطلحه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "فرښتے هغه کورته نهٔ ورځی په کوم کورکښے چه سپے یاتصویروی"۔

(۵۵۱۵) عَنْ اَبِیْ طَلْحَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَاتَدْخُلُ

اَلْمَلٰئِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ كَلْبٌ وَّلَاصُوْرَةٌ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۵۱۶) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ حَدِيْثِ يُوْنُسَ وَذِكْرِهِ الْاَخْبَارَ فِي الْإِسْنَادِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دتیرشوی حدیث پشان ده۔

(۵۵۱۷) عَنْ اَبِيْ طَلْحَةَ صَاحِبِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ الْمَلٰئِكَةَ لَاتَدْخُلُ بَيْتًا فِيْهِ صُوْرَةٌ قَالَ بُسْرٌ ثُمَّ اشْتَكٰى زَيْدٌ فَعُدْنَاهُ فَاِذَا عَلٰى بَابِهِ سِتْرٌ فِيْهِ صُوْرَةٌ فَقَالَ فَقُلْتُ لِعُبَيْدِاللّٰهِ الْخَوْلَانِيِّ رَبِيْبِ مَيْمُوْنَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَمْ يُخْبِرْنَا زَيْدٌ عَنِ الصُّوَرِ يَوْمَ الْاَوَّلِ فَقَالَ عُبَيْدُاللّٰهِ اَلَمْ تَسْمَعْهُ حِيْنَ قَالَ اِلَّا رَقْمًا فِيْ ثَوْبٍ. [بخاری، ابوداود، نسائی]

ترجمه: دابو طلحهؓ نه روایت دے چه درسول الله ﷺ اصحابیؓ وو هغویٔ وائی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، فرښتے هغه کورته نهٔ ځی په کوم کورکښے دننه چه تصویروی، بسرؒ وائی زیدؓ بیمار شولو مونږ دهغویٔ بیمار پرسیٔ له لاړو، دهغویؓ په دروازه باندے یوه پرده لګیدلے وه چه په هغے باندے تصویرووو، ماعبیدالله خولانیؒ ته اووے چه دمؤمنانو دمور میمونےؓ پرکتے وو، زیدؓ پخپله مونږ ته دصورت (یعنی تصویر) حدیث بیان کړے وو(اولوس ئے دتصویر پرده زوړنده کړے ده) عبیدالله اووے تاسو دهغویؓ نه نه دی اوریدلی هغویؓ داهم وئیلی وو، مګر هغه تصویرچه په کپړه باندے وی۔

(۵۵۱۸) عَنْ اَبِيْ طَلْحَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاتَدْخُلُ الْمَلٰئِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ صُوْرَةٌ قَالَ بُسْرٌ فَمَرِضَ زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ فَعُدْنَاهُ فَاِذَانَحْنُ فِيْ بَيْتِهِ بِسِتْرٍ فِيْهِ تَصَاوِيْرُ فَقُلْتُ لِعُبَيْدِاللّٰهِ الْخَوْلَانِيِّ لَمْ يُحَدِّثْنَا فِي التَّصَاوِيْرِ قَالَ اِنَّهُ قَالَ اِلَّا رَقْمًا فِيْ ثَوْبٍ اَلَمْ تَسْمَعْهُ قُلْتُ لَا قَالَ بَلٰى قَدْ ذَكَرَ ذَالِكَ.

ترجمه: دابو طلحهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "فرښتے هغه کورته نه ځی په کوم کورکښے چه تصویر وی، بسروائی بیازیدبن خالد بیمارشولو (چه ددے حدیث راوی دے) مونږ دهغویؓ دتپوس دپاره دهغویؓ کورته لاړو، دهغویؓ په کورباندے یوه پرده لګیدلے وه چه په هغے تصویرجوړشوے وو ماعبیدالله خولانیؒ ته اووے، چه ددویؓ خومونږ ته حدیث

دتصویرونو په باره کښې بیان کړے وو، هغویؓ اووے هاں داخوئے هم ونیلی وو تانه دی اوریدلی مګر کوم تصویر چه په کپړه ویستلے شوے وی، ماواوریدلی هغویؓ اووے زیدؓ داسے ونیلی وو۔

(۵۵۱۹) عن ابی طلحة الانصاری قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لاتدخل الملئکة بیتا فیه کلب ولاتماثیل قال فاتیت عآئشة رضی الله تعالی عنها فقلت ان هذا یخبرنی ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لاتدخل الملئکة بیتا فیه کلب ولاتماثیل فهل سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر ذلک فقالت لاولکن ساحدثک مارأیته فعل رأیته خرج فی غزاته فاخذت نمطا فسترته علی الباب فلما قدم فرای النمط عرفت الکراهیة فی وجهه فجذبه حتی هتکه اوقطعه وقال ان الله لم یامرنا ان نکسو الحجارة والطین قال فقطعنا منه وسادتین وحشوتهما لیفا فلم یعب ذلک علی۔

ترجمه: دابوطلحه انصاریؓ نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو "فرښتے هغه کورته نۀ ځی چه په کوم کورکښې سپے یاتصویرونه وی " زیدؓ وائی زۀ ددے په اوریدو سره دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها په خدمت کښې حاضرشوم، اوورته می اووے چه ابوطلحهؓ مونږ ته داحدیث بیان کړے دے تاسو هم درسول الله ﷺ نه داسے اوریدلی دی هغه تاته بیانوم، یوځل حضرت ﷺ دجهاد دپاره تشریف یوړو، نو مایو څادر واخستو اودروازے ته می پرده اوکړه هرکله چه رسول الله ﷺ راغے اوڅادرئے اولیدو حضرت ﷺ ته بدمعلوم شولو، چه سیرے ئے کړو، اوددے نه پس ئے اوفرمائیل الله تعالی مونږ ته حکم نۀ دے کړے ګټے اوخاورے ته دکپړو واغوستلو حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمائی، بیامونږ هغه څادر کټ کړو اوتکیه ګانے می ترے جوړے کړے اودکجورے دپټ می ډکے کړے، اوحضرت ﷺ په هغے باندے عیب اونه لګوؤ۔

فائده: په دغه څادر باندے داسونو تصویرونه وو، لکه څنګه چه په بل روایت کښې دی، ددے حدیث نه داهم معلومه شوه چه په دیوال باندے پرده لګول یاتکو هل منع دی، مګرداکراهت تنزیهی دے، تحریمی نۀ دے، اوابوالفتح وائی چه حرام دی۔

(۵۵۲۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا قَالَتْ كَانَ لَنَا سِتْرٌ فِيهِ تِمْثَالُ طَائِرٍ وَكَانَ الدَّاخِلُ إِذَا دَخَلَ اسْتَقْبَلَهُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَوِّلِي هٰذَا فَإِنِّي كُلَّمَا دَخَلْتُ فَرَأَيْتُهُ ذَكَرْتُ الدُّنْيَا قَالَتْ وَكَانَتْ لَنَا قَطِيفَةٌ كُنَّا نَقُولُ عَلَمُهَا حَرِيرٌ فَكُنَّا نَلْبَسُهَا. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه زمونږ سره یو پرده وه چه په هغې دمرغئ تصویر وو هرکله چه به څوك دننه راتلونو هغه تصویربه ئې مخې ته شولو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا اوباسئ هرکله چه زۀ دننه راشم اودے ته اوګورم نو دنیا راته یادیږی، حضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها وائی، څماسره یو څادر وو چه په هغې باندے دریښمو (دغوایه تصویر) وومابه هغې لره پسرولو۔

(۵۵۲۲) عَنِ ابْنِ أَبِي عَدِيٍّ وَعَبْدِ الْأَعْلٰى بِهٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ ابْنُ الْمُثَنّٰى وَزَادَ فِيهِ يُرِيدُ عَبْدَ الْأَعْلٰى فَلَمْ يَأْمُرْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَطْعِهِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۵۲۳) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا قَالَتْ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَفَرٍ وَقَدْ سَتَرْتُ عَلٰى بَابِي دُرْنُوكًا فِيهِ الْخَيْلُ ذَوَاتُ الْأَجْنِحَةِ فَأَمَرَنِي فَنَزَعْتُهُ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ دسفرنه تشریف راوړو، ماپه خپله دروازه باندے یو نقشی پرده لګولې وه چه په هغې باندے دپروار اسونو تصویرونه جوړشوی وو، حضرت ﷺ حکم اوکړو ما هغه لرې کړله۔

(۵۵۲۴) عَنْ وَكِيعٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَيْسَ فِي حَدِيثِ عَبْدَةَ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۵۲۵) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مُتَسَتِّرَةٌ بِقِرَامٍ فِيهِ صُورَةٌ فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ ثُمَّ تَنَاوَلَ السِّتْرَ فَهَتَكَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ مِنْ أَشَدِّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ الَّذِينَ يُشَبِّهُونَ بِخَلْقِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ څماخواله راغې، اومایو تصویرداره پرده اچولې وه، دحضرت ﷺ دمخ رنګ بدل شولو اوحضرت ﷺ

هغه پرده واخسته اواوې شلوله، بیانې اوفرمائیل "دتولونه زیات سخت عذاب به په قیامت کښې هغه خلقولره وی چه هغه دالله تعالی دمخلوق تصویرونه جوړوی-"

(۵۵۲۶) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا بِمِثْلِ حَدِيْثِ اِبْرَاهِيْمَ ابْنِ سَعْدٍ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ ثُمَّ اَهْوٰى اِلَى الْقِرَامِ فَهَتَكَهُ بِيَدِهٖ.

ترجمه: ترجمه ددې حدیث هم ددې پورته حدیث پشان ده، په دې کښې داسې دی چه بیاحضرت ﷺ دپردې په طرف بنکته شو اوهغه ئې په خپل لاس مبارك سره اوشلوله-

(۵۵۲۷) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَفِيْ حَدِيْثِهِمَا اِنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا لَمْ يَذْكُرَامِنْ.

ترجمه: ترجمه ددې حدیث دپورته حدیث پشان ده-

(۵۵۲۸) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا يَقُوْلُ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ سَتَرْتُ سَهْوَةً لِّيْ بِقِرَامٍ فِيْهِ تَمَاثِيْلُ فَلَمَّا رَاٰهُ هَتَكَهُ وَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ وَقَالَ يَا عَائِشَةُ اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ الَّذِيْنَ يُضَاهُوْنَ بِخَلْقِ اللّٰهِ تَعَالٰی قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا فَقَطَعْنَاهُ فَجَعَلْنَا مِنْهُ وِسَادَةً اَوْ وِسَادَتَيْنِ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دې وائی چه رسول الله ﷺ خماخواله راغې، اومایو طاخ یاتختې لره په خپله یوه پرده پټ کړې وو چه په هغې تصویرونه وو، هرکله چه حضرت ﷺ دا اولیدل نواوئې شلول، اوحضرت ﷺ دمخ رنګ بدل شو، حضرت ﷺ اوفرمائیل "اې عائشې! دهرچانه زیات سخت عذاب به په قیامت کښې هغه خلقوته وی خوك چه دالله تعالی دمخلوق شکل جوړوی" حضرت عائشهؓ وائی ماهغه کټ کړو یوه تکیه یادوه تکیې می ترې جوړې کړې-

(۵۵۲۹) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّهُ كَانَ لَهَا ثَوْبٌ فِيْهِ تَصَاوِيْرُ مَمْدُوْدٌ اِلٰى سَهْوَةٍ فَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ اِلَيْهِ فَقَالَ اَخِّرِيْهِ عَنِّيْ قَالَتْ فَاَخَّرْتُهُ فَجَعَلْتُهُ وَسَائِدَ. [نسائی]

ترجمه: دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دې چه دهغویؓ سره یوه کپړه وه چه په هغې باندې تصویرونه وو، هغه یوطاخ ته زوړنده وه، رسول الله ﷺ دیخوا مونځ لوستلو نواوئې فرمائیل دالرې کړئ خمادمخې نه " حضرت عائشهؓ وائی ماهغه لرې کړو،

اوتکیه ګانې مې ترې جوړې کړې۔

(۵۵۳۰)عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ.

ترجمه: ددې ترجمه هم ددې نه دمخکنبې حدیث پشان ده۔

(۵۵۳۱)عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ وَقَدْ سَتَرْتُ نَمَطًا فَنَحَّاهُ فَاتَّخَذْتُ مِنْهُ وِسَادَتَيْنِ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دې وائي چه رسول الله ﷺ ځماخواله تشریف راؤړو، اومایوه پرده لګولې وه چه په هغې کښې تصویرونه وو، حضرت ﷺ هغه را اوشوکوله، اومادهغې نه دوه تکیه ګانې جوړې کړې۔

(۵۵۳۲) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا نَصَبَتْ سِتْرًا فِيْهِ تَصَاوِيْرُ فَدَخَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَعَهُ قَالَتْ فَقَطَعْتُهُ وِسَادَتَيْنِ فَقَالَ رَجُلٌ فِي الْمَجْلِسِ حِيْنَئِذٍ يُقَالُ لَهُ رَبِيْعَةُ ابْنُ عَطَاءٍ مَوْلٰى بَنِيْ زُهْرَةَ أَفَمَا سَمِعْتَ أَبَامُحَمَّدٍ يَذْكُرُ أَنَّ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْتَفِقُ عَلَيْهِمَا قَالَ ابْنُ الْقَاسِمِ لَاقَالَ لٰكِنِّيْ قَدْ سَمِعْتُهُ يُرِيْدُ الْقَاسِمَ ابْنَ مُحَمَّدٍ.

ترجمه: دمؤمنانو دمورحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دې چه هغوئ یوه پرده اویزانده کړې وه چه په هغې تصویرونه وو نورسول الله ﷺ تشریف راؤړو اوهغه پرده ئې راکوزه کړه حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وائي مادهغې نه دوه تکیه ګانې جوړې کړې، یوسړی په دغه مجلس کښې اووې چه نوم ئې ربیعه بن عطاء وو، اودبنی زهره ازاد کړې غلام وو، اې تانۀ دی اوریدلی دابو محمدؒ نه هغه وئیلو چه حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وئیلی دی چه رسول الله ﷺ به په دغه تکیه ګانو باندې آرام کولو ابن قاسم اووې نۀ لیکن مادقاسم بن محمدؒ نه اوریدلی دی۔

(۵۵۳۳) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيْهَا تَصَاوِيْرُ فَلَمَّا رَاٰهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْبَابِ فَلَمْ يَدْخُلْ فَعَرَفْتُ أَوْفَعُرِفَتْ فِيْ وَجْهِهِ الْكَرَاهَةَ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ أَتُوْبُ إِلَى اللهِ وَإِلٰى رَسُوْلِهِ فَمَاذَا أَذْنَبْتُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَابَالُ هٰذِهِ النُّمْرُقَةِ

فقالت اشتریتها لک تقعد علیها وتوسدها فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان اصحاب هذه الصور یعذبون ویقال لهم احیوا ما خلقتم ثم قال ان البیت الذی فیه الصور لاتدخله الملٰئکة.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه هغوی یو توشك واخستو چه په هغے تصویرونه وو. هرکله چه رسول الله ﷺ هغے لره اولیدونو حضرت ﷺ په دروازه کښے ولاړپاتے شو اودننه لانهٔ ړوزهٔ پو هه شوم چه دحضرت ﷺ په مخ مبارك باندے خفگان دے، ما اووے یارسول الله ﷺ زهٔ توبه اوباسم الله تعالی اودهغه رسول ﷺ په مخکښے څه گناه ده، حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل داتوشك څنګه دے ما اووے داخو ماستاسو دکیناستو اوتکیه لګولو دپاره اخستے دے حضرت ﷺ اوفرمائیل "چا چه داتصویرونه جوړکړے دی هغوئ به عذابیږی اوهغوئ ته به اووئیلے شی چه په دے کښ روح واچوئ، بیائے اوفرمائیل په کوم کورکښے چه تصویرونه وی هغه کورته فرښتے نه راځی".

(۵۵۳۴) عن عائشة رضی الله تعالٰی عنها بهٰذا الحدیث بعضهم اتم حدیثا له من بعض وزاد فی حدیث ابن اخی الماجشون قالت فاخذته فجعلته مرفقتین فکان یرتفق بهما فی البیت.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده، دومره زیاته ده چه ما دهغے نه دوه تکیه گانے جوړے کړے حضرت ﷺ به په کورکښے هغے ته ډډه وهله۔

(۵۵۳۵) عن ابن عمر رضی الله تعالٰی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الذین یصنعون الصور یعذبون یوم القیٰمة یقال لهم احیوا ما خلقتم.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "خوك چه تصویرونه جوړوی هغوئ ته به په قیامت کښے عذاب وی، هغوئ ته به اووئیلے شی چه ژوندی کړی غوئ لره کوم چه تاسو جوړکړی دی".

(۵۵۳۶) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم بمثل حدیث عبیدالله عن نافع عن ابن عمر رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۵۳۷) عَنْ عَبْدِاللهِ رضی اللهُ تعالی عنه قال قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلّٰی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ الْمُصَوِّرُوْنَ وَلَمْ يَذْكُرِالْاَشَجُّ اِنَّ.

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "دتولو نه زیات سخت عذاب به دقیامت په ورځ تصویرجوړونکو ته وی".

(۵۵۳۸) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَفِيْ رِوَايَةِ يَحْيٰى وَاَبِيْ كُرَيْبٍ عَنْ اَبِيْ مُعَاوِيَةَ اِنَّ مِنْ اَشَدِّ اَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابًا نِ الْمُصَوِّرُوْنَ وَحَدِيْثُ سُفْيَانَ كَحَدِيْثِ وَكِيْعٍ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم ددے پورته حدیث شریف په شان ده.

(۵۵۳۹) عَنْ مُسْلِمِ ابْنِ صَبِيْحٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ مَسْرُوْقٍ فِيْ بَيْتٍ تَمَاثِيْلُ مَرْيَمَ فَقَالَ مَسْرُوْقٌ هٰذَا تَمَاثِيْلُ كِسْرٰى فَقُلْتُ لَا هٰذَا تَمَاثِيْلُ مَرْيَمَ فَقَالَ مَسْرُوْقٌ اَمَا اِنِّيْ سَمِعْتُ عَبْدَاللهِ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلّٰى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ الْمُصَوِّرُوْنَ.

ترجمه: دمسلم بن صبیح ؒ نه روایت دے وائی چه زۀ دمسروق ؒ سره په یوکور کښے وم چه په هغے کښے تصویرونه وو، مسروق ؒ اووے دا دکسری (دایران دبادشاه) تصویرونه دی مالووے نه دا دحضرت مریم علیها السلام تصویرونه دی، مسروق ؒ اووے، ما دعبدالله بن مسعود ؓ نه اوریدلی دی هغوی ؓ وئیلی وو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "دهرچانه زیات سخت عذاب به دقیامت په ورځ تصویرجوړونکوته وی".

(۵۵۴۰) عَنْ سَعِيْدِابْنِ اَبِي الْحَسَنِ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ اِلٰى ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فَقَالَ اِنِّيْ رَجُلٌ اُصَوِّرُ هٰذِهِ الصُّوَرَ فَاَفْتِنِيْ فِيْهَا فَقَالَ لَهُ اُدْنُ مِنِّيْ فَدَنَامِنْهُ ثُمَّ قَالَ اُدْنُ مِنِّيْ فَدَنَاحَتّٰى وَضَعَ يَدَهُ عَلٰى رَاْسِهِ وَقَالَ اُنَبِّئُكَ بِمَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلّٰى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ كُلُّ مُصَوِّرٍ فِي النَّارِ يُجْعَلُ لَهُ بِكُلِّ صُوْرَةٍ صَوَّرَهَا نَفْسًا فَتُعَذِّبُهُ فِيْ جَهَنَّمَ وَقَالَ اِنْ كُنْتَ لَابُدَّفَاعِلًا فَاصْنَعِ الشَّجَرَوَمَالَا نَفْسَ لَهُ فَاَقَرَّ بِهِ نَصْرُبْنُ عَلِيٍّ. | بخاری |

ترجمه: دسعید بن ابی الحسن ؒ نه روایت دے وائی چه یو سرے دعبدالله ابن عباس ؓ خواله راغے، اواوئے وئیل زۀ دتصویر جوړونکے یم، نو ماته بیان کړه چه ددے څه حکم دے؟ ابن عباس رضی الله تعالی عنه اووے زماخواله راشه هغه راغے، بیا هغوی ؓ اووے خواله راشه هغه ئے نورخواته

رانزدے شو ، تردے پورے چه ابن عباسؓ خپل لاس دهغه په سرباندے کیښودو اوورته ئے اووے زۀ تاته هغه څه وایم کوم چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی، مااوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو، "هریو تصویرجوړونکے به دوزخ ته ځی، اودهریو تصویرپه بدل به یوسرے روح والاجوړه ولے شی چه هغه به تکلیف ورکوی ده ته په جهنم کښے "اوابن عباس رضی الله تعالی عنه اووے کچرے ته ددے کارنه بس کولے نه شی نودونے یادبل څه بے روحه څیز تصویرجوړ وه۔

(۵۵۴۱) عَنِ النَّضْرِ ابْنِ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَجَعَلَ يُفْتِيْ وَلَايَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى سَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ اِنِّيْ رَجُلٌ اُصَوِّرُهٰذِهِ الصُّوَرَ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اُدْنُهْ، فَدَنَا الرَّجُلُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ صَوَّرَ صُوْرَةً فِي الدُّنْيَا كُلِّفَ اَنْ يَّنْفُخَ فِيْهَا الرُّوْحَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَيْسَ بِنَافِخٍ.

ترجمه : دنضربن انس بن مالكؓ نه روایت دے وائی چه زۀ دعبدالله بن عباسؓ سره ناست وم، هغویؓ فتوی ورکوله اوحدیث ئے نه بیانولو، تردے پورے چه یوسری تپوس اوکړو چه زۀ مصوریم۔ ابن عباس رضی الله تعالی عنه اووے ځماخواله راشه هغه ئے خواله راغے، ابن عباس رضی الله تعالی عنه اووے مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو څوك چه په دنیاکښے دڅه څیزشکل جوړکړی، هغه ته به په قیامت کښے تکلیف ورکولے شی، په هغے کښے دروح غورځولو اوهغه به روغ نه شی پکښے غورځولے۔

(۵۵۴۲) عَنِ النَّضْرِ ابْنِ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اَتَى ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فَذَكَرَعَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ.

ترجمه : ترجمه ددے حدیث شریف هم دپورته په شان ده۔

(۵۵۴۳) عَنْ اَبِيْ زُرْعَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فِيْ دَارِ مَرْوَانَ فَرَاٰي فِيْهَاتَصَاوِيْرَ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ قَالَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ خَلْقًا كَخَلْقِيْ فَلْيَخْلُقُوْا ذَرَّةً اَوْلِيَخْلُقُوْا حَبَّةً اَوْلِيَخْلُقُوْا شَعِيْرَةً.

ترجمه: دابوزرعهؒ نه روایت دے وائی چه زهٔ دابو هریره رضی الله تعالی عنه سره دمروان کورته لاړمه، هلته تصویرونه وو ابو هریره رضی الله تعالی عنه اووے مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی، حضرت ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی فرمائی، "اوخوك دے زیات ظالم دهغه چانه چه هغه زمادمخلوق پشان دجوړولو اراده اوکړی، پس جوړدی کړی یو میږے یاجوړه کړی یوه دانه دغنمو یادوریشو۔

(۵۵۴۴) عَنْ اَبِیْ زُرْعَةَ قَالَ دَخَلْتُ اَنَاوَاَبُوْهُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ دَارًتُبْنٰی بِالْمَدِیْنَةِ لِسَعِیْدٍ اَوْلِمَرْوَانَ قَالَ فَرَاٰی مُصَوِّرًا یُصَوِّرُ فِیْ الدَّارِ فَقَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهٖ وَلَمْ یَذْکُرْاَوْلِیَخْلُقُوْا شَعِیْرَةً.

ترجمه: دابوزرعهؒ نه روایت دے چه زهٔ اوابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه یوکورته لاړ چه هغه جوړیدو په مدینه کښے دسیعدیادمروان، وائی چه هلته مونږ یو مصور اولیدلو چه هغه په کورکښے تصویرجوړولو، ابو هریره رضی الله تعالی عنه هم دغسے اووے لکه چه پورته ذکرشو، خو په دے کښے دوریشو ذکرنشته دے۔

(۵۵۴۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَاتَدْخُلُ الْمَلٰئِکَةُ بَیْتًا فِیْهِ تَمَاثِیْلُ اَوْتَصَاوِیْرُ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "فرشتے هغه کورته نه ځی چه په هغے کښے بتان یاتصویرونه وی۔

بَابُ کَرَاهَةِ الْکَلْبِ وَالْجَرَسِ فِیْ السَّفَرِ

په سفرکښے دجرس اوسپی ساتلو کراهیت

(۵۵۴۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاتَصْحَبُ الْمَلٰئِکَةُ رُفْقَةً فِیْهَا کَلْبٌ وَّلَاجَرَسٌ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "فرښتے ملګرے نهٔ وی دهغه مسافرو سره دچاسره چه جرس وی یاسپے وی "(یعنی درحمت فرښتے ولے چه دجرس آواز مکروه دے اودانهی تنزیهی ده) -

(۵۵۴۷) عَنْ سُهَيْلٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ .

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۵۴۸) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْجَرَسُ مَزَامِيْرُ الشَّيْطَانِ. [ترمذی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "گنټی (جرس) دشیطان باجاده"۔

بَابُ كَرَاهَةِ قِلَادَةِ الْوَتَرِ فِی رَقَبَةِ الْبَعِيْرَةِ

دڑئ دهار داوښ په غاړه کښې داچولو ممانعت

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی دمشرکانو عادت داوو چه دنظر نه لګیدو دپاره به ئے دڑئ هار داوښ په غاړه کښے اچولو، حضرت ﷺ دا هرڅه ختم کړل ددے وجے نه چه بدنظر په دے سره نـۀ شی منع کیدے. اوس کچرے خوک هار دښائست دپاره اچوی نودرست دے، یادحاجت دپاره یابل څه هار سوا دڑئ نه۔

(۵۵۴۹) عَنْ اَبِیْ بَشِيْرٍ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِیْ بَعْضِ اَسْفَارِهٖ قَالَ فَاَرْسَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُوْلًا قَالَ عَبْدُاللّٰهِ ابْنُ اَبِیْ بَكْرٍ حَسِبْتُ اَنَّهٗ قَالَ وَالنَّاسُ فِیْ مَبِيْتِهِمْ لَا يَبْقَيَنَّ فِیْ رَقَبَةِ بَعِيْرٍ قِلَادَةٌ مِّنْ وَّتَرٍ اَوْقِلَادَةٌ اِلَّا قُطِعَتْ قَالَ مَالِکٌ اُرٰی ذٰلِکَ مِنَ الْعَيْنِ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دابوبشیرانصاری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے هغه به اکثر په سفرکښے درسول الله ﷺ سره وونو حضرت ﷺ په یوپیغام رسولو والاپسے اولیږو، عبدالله بن ابوبکرؓ وائی څماداخیال دے چه دغه وخت خلقو دخپلو اوده کیدوپه مقاماتوکښے وو، اوحکم ئے اوکړو چه دیواوښ په غاړه کښے دجئ هاریابل هار پاتے نه شی هغه کټ کړه اواوئے غورځوه، امام مالکؒ وائی زماداخیال دے چه داهارونه ئے دنظردنه لګیدو په خیال اچولی وو۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

باب النهي عن ضرب الحيوان في وجهه ووسمه فيه

څناورلره په مخ باندے وهلواوداغ لګولوممانعت

(۵۵۵۰) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ وَعَنِ الْوَسْمِ فِي الْوَجْهِ. [ترمذی]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ په مخ باندے دوهلو اوپه مخ باندے دداغ لګولو نه.

(۵۵۵۱) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده.

(۵۵۵۲) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَيْهِ حِمَارٌ قَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ فَقَالَ لَعَنَ اللّٰهُ الَّذِيْ وَسَمَهُ.

ترجمه: دجابررضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه درسول الله ﷺ په مخکښے یو خرتیرشو چه هغه ته په مخ داغ ورکړے شوے وو حضرت ﷺ اوفرمائیل "لعنت دی وی دالله تعالی په هغه چاباندے چاچه ده لره داغلے دے.

(۵۵۵۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ رَاٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا مَوْسُوْمَ الْوَجْهِ فَاَنْكَرَ ذٰلِكَ قَالَ فَوَاللّٰهِ لَآاَسِمُهُ اِلَّا فِيْ اَقْصٰى شَيْءٍ مِّنَ الْوَجْهِ فَاَمَرَ بِحِمَارٍ لَهُ فَكُوِيَ فِيْ جَاعِرَتَيْهِ فَهُوَ اَوَّلُ مَنْ كَوَى الْجَاعِرَتَيْنِ.

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے، وائی چه رسول الله ﷺ یو خرلولیدو چه دهغه په مخ باندے داغ وو، حضرت ﷺ هغه بد اوګنړو لواوئے فرمائیل "قسم په الله تعالی چه زهٔ خوداغ نه ورکوم مګرپه هغه ځائے چه دمخ نه لرے وی، (لکه پتبه وغیره) لوحکم ئے لوکړو خپل حزله دداغ ورکولو نوداغ ورکړے شوپه پتو باندے، اودهرچانه مخکښے حضرت ﷺ په پتوباندے اوداغلو.

باب جواز وسم الحيوان غير الآدمي

دبنیادم نه علاوه څناور لره داغ ورکول درست دی.

(۵۵۵۴) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّا وَلَدَتْ اُمُّ سُلَیْمٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ لِیْ یَااَنَسُ انْظُرْ هٰذَا الْغُلَامَ فَلَایُصِیْبَنَّ شَیْئًا حَتّٰی تَغْدُوَبِهٖ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یُحَنِّكُهٗ قَالَ فَغَدَوْتُ فَاِذَاهُوَفِی الْحَآئِطِ وَعَلَیْهِ خَمِیْصَةٌ جَوْنِیَّةٌ وَّهُوَیَسِمُ الظَّهْرَ الَّذِیْ قَدِمَ عَلَیْهِ فِی الْفَتْحِ.

ترجمه : دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ، هرکله چه ام سلیمؓ اوزیږوو، نوماته ئے اووے اے انسؓ ! دے بچی ته ګوره چه څه خوراك اونۀ کړی دکومے پورے چه تاده لره سحردرسول الله ﷺ خواله ورپے نۀ وی اوهغوی ﷺ دخپلے خلے مبارکے څه ژوئیلے شوے ځیزدده په خله کښے اچولے نه وی، انسؓ وائی بیازه سحردحضرت ﷺ خواله لاړم حضرت ﷺ په باغ کښے وو اویوه شړئ ئے دجونیه (چه یوه قبیله یایو ځائے دے) پسروه، اوداغ ئے ورکوو دهغه اوښانو لره کوم چه په فتح کښے حضرت ﷺ له راوستے شوی وو۔

فائده : نووی علیه الرحمة وائی، بنیادم لره داغ ورکول حرام دی، اوځناور لره په مخ باندے منع دی اوځائے مستحب دی دزکوۃ اودجزیے په ځناورو باندے، اونوروځناورو لره جائز دے اودابو حنیفهؒ په نزدمکروه دی، اوبه هغویٔ باندے احادیث حجت دی۔

(۵۵۵۵) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یُحَدِّثُ اَنَّ اُمَّهٗ حِیْنَ وَلَدَتِ انْطَلَقُوْا بِالصَّبِیِّ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یُحَنِّكُهٗ قَالَ فَاِذَا النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ مِرْبَدٍ یَسِمُ غَنَمًا قَالَ شُعْبَةُ وَاَكْثَرُ عِلْمِیْ اَنَّهٗ قَالَ فِیْ اٰذَانِهَا.

ترجمه : دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دهغویٔ مورچه هرکله حمل اوزیږوو، نو هغویٔ اووے دے بچی لره درسول الله ﷺ خواله یوسه، حضرت ﷺ به څه ژوئیلے دخپلے خلے مبارکے دده په خله کښے واچوی، مااولیدل چه رسول الله ﷺ دبزرو په رمه کښے وو داغونه ئے ورکول دهغویٔ په غوږونو کښے۔

(۵۵۵۶) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ دَخَلْنَا عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِرْبَدًا وَّهُوَیَسِمُ غَنَمًا قَالَ اَحْسِبُهٗ قَالَ فِیْ اٰذَانِهَا.

ترجمه : دحضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ درسول الله ﷺ خواله لاړو رمے ته حضرت ﷺ داغونه ورکول دبزو په غوږونو باندے۔

(۵۵۵۷) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۵۵۸) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ فِيْ يَدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِيْسَمَ وَهُوَ يَسِمُ اِبِلَ الصَّدَقَةِ. [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مادرسول الله ﷺ په لاس مبارك کښے دداغ هتیار اولیدل حضرت ﷺ دصدقے په اوښانو داغونه لګولو۔

باب كَرَاهَةِ الْقَزَعِ

دقزع دممانعت بیان

فائده: نووی وائی دقزع معنے ده لږشان سره خرئیل اولږنه خرئیل یاځائے په ځائے خرئیل اودامکروه دی، مګردعلاج په صورت کښے روا دی، اوداکراهت تنزیهی دی، اوځنو دماشومانو دپاره جائز کړے دے، لیکن زمونږ مذهب دادے چه دسړی اوښځے دواړودپاره مطلقا مکروه دے ولے چه دادیهودیانو خصلت دے، یابدنمائی ده۔ انتهی۔

(۵۵۵۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْقَزَعِ قَالَتْ قُلْتُ لِنَافِعٍ وَمَا الْقَزَعُ قَالَ يُحْلَقُ بَعْضُ رَأْسِهِ وَيُتْرَكُ بَعْضٌ. [بخاری ، ابو داود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایات دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دقزع نه، عبدالله وائی مادنافع نه تپوس اوکړو چه قزع څه شے دے، هغوی اووے دبچی څه سر خرئیل اوڅه پریښودل۔

(۵۵۶۰) عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَجَعَلَ التَّفْسِيْرَ فِيْ حَدِيْثِ اَبِيْ اُسَامَةَ مِنْ قَوْلِ عُبَيْدِ اللّٰهِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم داوس تیرشوی حدیث پشان ده۔

(۵۵۶۱) عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ مِثْلَهُ وَاَلْحَقَا التَّفْسِيْرَ فِي الْحَدِيْثِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۵۶۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذٰلِكَ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْجُلُوْسِ فِي الطُّرُقَاتِ۔
په لارو کښې د کیناستلو د ممانعت بیان

(۵۵۶۳) عَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوْسَ فِي الطُّرُقَاتِ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ مَالَنَا بُدٌّ مِّنْ مَّجَالِسِنَا نَتَحَدَّثُ فِيْهَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيْقَ حَقَّهُ قَالَ وَمَا حَقُّهُ قَالَ غَضُّ الْبَصَرِ وَكَفُّ الْأَذٰى وَرَدُّ السَّلَامِ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ. [بخاری ، ابو داود]

ترجمه : دابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بچ اوسی : تاسو په لارو کښې دکیناستو نه، خلقو اووے یارسول ﷺ! مونږ له په خپلو مجلسونو کښې کیناستل ضروری دی، دخبرو کولو دپاره، حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے تاسو نهٔ منئ نو دلارے حق اداکړئ خلقو عرض اوکړو دلارے حق څه دے یارسول الله ﷺ ! حضرت ﷺ اوفرمائیل سترګے ښکته ساتل (اودغیرمحرم په طرف بدنظرنهٔ کول) اوپه لار هٔ کښې تکلیف نه ورکولو، (هیچاته په تلو کښې) اودسلام جواب ورکول اودښه خبرے حکم کول اودبدے خبرے نه منع کول۔

(۵۵۶۴) عَنْ زَيْدِ ابْنِ أَسْلَمَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

بَابُ تَحْرِيْمِ فِعْلِ الْوَاصِلَةِ وَالْمُسْتَوْصِلَةِ وَالْوَاشِمَةِ وَالنَّامِصَةِ وَالْمُتَنَمِّصَةِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ وَالْمُغَيِّرَاتِ خَلْقِ اللهِ۔
په ویښتو کښې جوړ لګونکی اولګولووالا، اوخال وهونکی اولګونکی لومخ ویښته ویستونکی اوویستلو والا اوغابونه پیرته کول اودالله تعالی خلقت لره بدلول حرام دی۔

(۵۵۶۵) عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّ لِيَ ابْنَةً عُرَيِّسًا أَصَابَتْهَا حَصْبَةٌ فَتَمَرَّقَ شَعْرُهَا أَفَأَصِلُهُ قَالَ لَعَنَ اللهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: داسماء بنت ابی بکر رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه درسول الله ﷺ خواله یو ښځه راغله اوعرض ئے اوکړو یارسول الله ﷺ! زما لور ناوے شوے ده، اودننګو په راختو سره دهغے ویښته غور ځیدلی دی، اے زۀ جوړاولګوم دهغے په ویښتو کښے، "حضرت ﷺ اوفرمائیل لعنت کړے دے الله تعالی په جوړلګونکی اوجوړلګولووالا باندے".

فائده: دظاهر حدیث نه ددے فعل حرام والے معلومیږی، اودغه مختار دے، اوځنے وائی جائز دی، اودغه منقول دی دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه، لیکن دا روایت صحیح نۀ دے۔

(٥٥٦٦) عَنْ هِشَامِ ابْنِ عُرْوَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيْثِ اَبِىْ مُعَاوِيَةَ غَيْرَ اَنَّ وَكِيْعًا وَشُعْبَةَ فِىْ حَدِيْثِهِمَا فَتَمَرَّطَ شَعْرُهَا.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(٥٥٦٧) عَنْ اَسْمَآءَ بِنْتِ اَبِىْ بَكْرٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ امْرَاَةً اَتَتِ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اِنِّىْ زَوَّجْتُ ابْنَتِىْ فَتَمَرَّقَ شَعْرُ رَاْسِهَا وَزَوْجُهَا يَسْتَحْسِنُهَا اَفَاصِلُ شَعْرَهَا يَارَسُوْلَ اللهِ فَنَهَاهَا.

ترجمه: داسماء بنت ابی بکر رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له یوه ښځه راغله اوعرض ئے اوکړو چه زما لور واده شوے ده اودهغے ویښته غور ځیدلی دی لودهغے خاوند ویښتولره خوښوی یارسول الله ﷺ زۀ دهغے په ویښتو کښے جوړلولګوم؟ حضرت ﷺ منع کړه هغے لره۔

(٥٥٦٨) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ جَارِيَةً مِّنَ الْاَنْصَارِ تَزَوَّجَتْ وَاَنَّهَا مَرِضَتْ فَتَمَرَّطَ شَعْرُهَا فَاَرَادُوْا اَنْ يَّصِلُوْ فَسَاَلُوْا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَلَعَنَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه رویت دے چه دانصارو یوه جینئ په نکاح شوه بیا هغه بیماره شوه اوویښته ئے اوغورځیدل خلقو دهغے په ویښتو کښے دجوړلګولو اراده اوکړه نودرسول الله ﷺ نه ئے تپوس اوکړو، حضرت ﷺ لعنت اوکړو په جوړلګونکو اولګونکی باندے۔

(۵۵٦۹) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ امْرَأَةً مِّنَ الْاَنْصَارِ زَوَّجَتِ ابْنَةً لَّهَا فَشْتَكَتْ فَتَسَاقَطَ شَعْرُهَا فَاَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اِنَّ زَوْجَهَا يُرِيْدُهَا اَفَاَصِلُ شَعْرَهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُعِنَ الْوَاصِلَاتُ.

ترجمه: د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه د انصارو یوے ښځې د خپلے جینۍ نکاح اوکړه بیا هغه (جینۍ) بیماره شوه او ویښته ئے اوغورځیدل، هغه د رسول الله ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو چه د هغې خاوند د هغے په ویښتو کښ د جوړلګولو اراده کوی اے جوړ اولګوی د هغې په ویښتو کښے حضرت ﷺ اوفرمائیل لعنت دے په جوړلګونکو باندے۔ په دی کښے په جوړلګولو والا باندے لعنت دے۔

(۵۵٧۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ لعنت کړے دے په جوړلګونکی اولګولو والا باندے، اوپه خالونو لګونکو اولګولو والا باندے۔

(۵۵٧٢) عَنْ عَبْدِاللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ. [بخاری]

ترجمه: ترجمه ددے هم د پورته پشان ده۔

(۵۵٧٣) عَنْ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَعَنَ اللهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالنَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللهِ قَالَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ امْرَأَةً مِّنْ بَنِيْ اَسَدٍ يُقَالُ لَهَا اُمُّ يَعْقُوْبَ وَكَانَتْ تَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ فَاَتَتْهُ فَقَالَتْ مَا حَدِيْثٌ بَلَغَنِيْ عَنْكَ اَنَّكَ لَعَنْتَ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ بِحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللهِ فَقَالَ عَبْدُاللهِ وَمَالِيْ لَآ اَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِيْ كِتَابِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ لَوْحَيِ الْمُصْحَفِ فَمَا وَجَدْتُّهُ فَقَالَ لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيْهِ لَقَدْ وَجَدْتِّيْهِ قَالَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا فَقَالَتِ الْمَرْأَةُ فَاِنِّيْ اَرٰى شَيْئًا مِّنْ هٰذَا عَلَى امْرَاَتِكَ الْاٰنَ قَالَ اذْهَبِيْ فَانْظُرِيْ قَالَ فَدَخَلَتْ عَلَى امْرَأَةِ عَبْدِاللهِ فَلَمْ تَرٰى شَيْئًا فَجَآءَتْ اِلَيْهِ فَقَالَتْ مَارَاَيْتُ شَيْئًا فَقَالَ اَمَا لَوْ كَانَ ذٰلِكَ لَمْ نُجَامِعْهَا. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه لعنت کړے دے الله تعالی په خالونو جوړونکو اولګونکو والا باندے، اودمخ دویښتو دویستونکو اوویستلو والاباندے اوپه غاښونو بیرته کولو والا باندے، دښکلوالی دپاره (ددے دپاره چه کم عمرمعلو میږی) اوالله تعالی په خلقت بدلولو والا باندے. بیاداخبردبنی اسد قبیلے یوے ښځے ته اورسیدو چه دهغے نوم ام یعقوب وو، او هغے به قران لوستلو هغه دعبدالله خواله راغله، اووئے وئیل ماته څه خبر رارسیدلے دے چه تالعنت وئیلے دے په خالونو وهونکو اولګونکو باندے، اودمخ دویښتوپه ویستونکو اوویستلو والا باندے، اودغاښونو په بیرته کونکو اودالله تعالی په خلقت بدلونکو باندے، عبدالله اووے زۀ به ولے لعنت نه وایم په هغه بلندے په چاباندے چه رسول الله ﷺ لعنت وئیلے وی، اوداخودالله تعالی په کتاب کښے موجود دی، هغے ښځے اووے ماخوپه دوو جلدونوکښے چه څه قدرے قران وولوستلے دے ماخوپکښں نه دے موندلی، عبدالله اووے کچرے تالوستلے (لکه څنګه په پکار ده په غور سره) نوتاته به میلاؤ شوے وے الله تعالی فرمائیلی دی ، څه چه رسول الله ﷺ تاسوته درکوی یعنی بنائی هغے لره خپلوئ، اودکومے نه چه مومنع کوی دهغے نه ځان اوساتئ ، هغے ښځے اووے په دے خبروکښے خوڅه خبرے ستاسو ښځے هم کوی، عبدالله اووے، لاړه شه اوګوره، هغه لاړه اودهغه دښځے سره ئے هیڅ اونه موندل بیاواپس راغله اووئے وئیل په هغے کښں خویوه خبره ماهم اونۀ مونده، عبدالله اووے کچرے هغے داسے کولے نوما به دهغے سره صحبت نه کولو۔

(۵۵۷۴) عَنْ مَنْصُوْرٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ جَرِیْرٍ غَیْرَ اَنَّ فِیْ حَدِیْثِ سُفْیَانَ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَفِیْ حَدِیْثِ مُفَضَّلٍ الْوَاشِمَاتِ وَالْمَوْشُوْمَاتِ.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۵۷۵) عَنْ مَنْصُوْرٍ بِهٰذَا الْحَدِیْثِ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مُجَرَّدًا عَنْ سَائِرِ الْقِصَّةِ مِنْ ذِکْرِ اُمِّ یَعْقُوْبَ.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۵۷٦) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِیْثِهِمْ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۵۷۷) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ زَجَرَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ تَصِلَ الْمَرْأَةُ بِرَأْسِهَا شَیْئًا.

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ ښځولره په خپل سرکښے دجوړلګولونه۔

(۵۵۷۸) عَنْ حُمَیْدِ ابْنِ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ اَنَّهُ سَمِعَ مُعَاوِیَةَ ابْنِ اَبِیْ مُعَاوِیَةَ عَامَ حَجَّ وَهُوَ عَلَی الْمِنْبَرِ وَتَنَاوَلَ قُصَّةً مِّنْ شَعْرٍ كَانَتْ فِیْ یَدِ حَرَسِیٍّ فَقَالَ یَااَهْلَ الْمَدِیْنَةِ اَیْنَ عُلَمَآؤُكُمْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَنْهٰی عَنْ مِّثْلِ هٰذِهٖ وَیَقُوْلُ اِنَّمَا هَلَكَتْ بَنُوْاِسْرَآئِیْلَ حِیْنَ اتَّخَذَ هٰذِهٖ نِسَآؤُهُمْ.

ترجمه: دحمید بن عبدالرحمن بن عوف نه روایت دے هغوئ اوریدلی دی معاویهؓ نه په کوم کال چه ئے حج اوکړو نو په منبرباندئے ئے اووے، اودویښتو یوه چوټه ئے په لاس کښے واخسته چه دغلاس سره وه، اے مدینے والا ؤ! ستاسو عالمان چرته دی، مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه منع ئے فرمائیله ددے نه (یعنی دجوړلګولونه) اوفرمائیلی ئے وو بنی اسرائیل په دے وجه تباه شوی وو هرکله چه دهغوئ ښځو داکار شروع کړو (اوپه عیش عشرت لوشهوت پرستئ کښے اخته شول، دجهادنه دهغوئ زړونه وانښتیدل۔

(۵۵۷۹) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِمِثْلِ حَدِیْثِ مَالِكٍ غَیْرَاَنَّ فِیْ حَدِیْثِ مَعْمَرٍ اِنَّمَا عُذِّبَ بَنُوْا اِسْرَآئِیْلَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۵۸۰) عَنْ سَعِیْدِابْنِ الْمُسَیَّبِ قَالَ قَدِمَ مُعَاوِیَةُ الْمَدِیْنَةَ فَخَطَبَنَا وَاَخْرَجَ كُبَّةً مِّنْ شَعْرٍ فَقَالَ مَاكُنْتُ اَرٰی اَنَّ اَحَدًا یَّفْعَلُهُ اِلَّا الْیَهُوْدَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَلَغَهُ فَسَمَّاهُ الزُّوْرَ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دسعید بن المسیبؒ نه روایت دے وائی چه معاویهؓ مدینے ته راغے، نو هغویؓ مونږ ته خطبه واورولـه، اویوه چوټه دویښتوئے را اوویسته بیائے اووے ماداګنړله چه داکاربه څوك نه کوی سوا دیهودو نه، اورسول الله ﷺ ته ددے خبر اورسیدو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل دا زور دے، (یعنی مکاری اودغابازی)۔

(۵۵۸۱) عَنْ سَعِیْدِابْنِ الْمُسَیَّبِ اَنَّ مُعَاوِیَةَ قَالَ ذَاتَ یَوْمٍ اِنَّكُمْ قَدْاَحْدَثْتُمْ زِیَّ سَوْءٍ وَّاَنَّ نَبِیَّ اللهِ صَلَّی اللهُ

عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الزُّوْرِ قَالَ وَجَآءَ رَجُلٌ بِعَصًا عَلٰى رَأْسِهَا خِرْقَةٌ قَالَ مُعَاوِيَةُ اَلَا وَهٰذَا الزُّوْرُ قَالَ قَتَادَةُ يَعْنِى مَاتُكَثِّرُ بِهِ النِّسَآءُ اَشْعَارَ هُنَّ مِنَ الْخِرَقِ.

ترجمه: دسعید بن المسیب نه روایت دے چه معاویهؓ یوه ورځ اووے چه تاسو خلقو بده خبره رااوویسته اورسول الله ﷺ منع فرمائیلی ده دزور نه اویوسړے راغے دهغه په سر باندے ئے توټه لګولے وه، معاویه اووے دغه زور دے، قتادهؓ وائی مراد دادے چه ښځے به توټے لګوی اوخپل ویښته به اوږده کوی۔

بَابُ النِّسَاءِ الْكَاسِيَاتِ الْعَارِيَاتِ الْمَائِلَاتِ الْمُمِيْلَاتِ۔

دهغه ښځو بیان چه هغه دکپړو اغوستو باوجود هم بربنډے وی هغه دنیغے لارے نه اوړیدلی دی اوخاوند لره هم اړه وی۔

(۵۵۸۲) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِنْفَانِ مِنْ اَهْلِ النَّارِ لَمْ اَرَهُمَا قَوْمٌ مَّعَهُمْ سِيَاطٌ كَاَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُوْنَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَآءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيْلَاتٌ مَّائِلَاتٌ رُءُوْسُهُنَّ كَاَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَايَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَايَجِدْنَ رِيْحَهَا وَاِنَّ رِيْحَهَا لَيُوْجَدُ مِنْ مَّسِيْرَةِ كَذَا وَكَذَا.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ددوزخیانو دوه قسمونه دی چه هغے لره مانهٔ دی لیدلی یوخو هغه خلق چه دهغوئ سره کوړے دی دغوایانو دلکی پشان چه خلقولره په هغے باندے وهی دویم هغه ښځے دی چه هغه دکپړو اغوستو باوجود هم لغړے وی، (یعنی دسترلائق اندامونه ئے ښکار وی لکه نن صبا چه دښځو سر اوګیډه اوخپے ښکاره وی یاکپړے داسے نرئ اغوندی چه په هغے کښے ئے هم بدن په نظر راځی نو لکه چه بربنډے وی) دنیغے لارے ته خطاکونکے پخپله خطا شوے، دهغوئ سربختی (یوقسم دے داوښ) داوښ دقب پشان یوطرفته کوږ شوے وی هغه به جنت ته نه ځی بلکه دجنت خوشبوئی په ورته هم نهٔ میلاویږی، حالانکه دجنت خوشبوئی ډیره دلرے نه به راتلے شی۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆

بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّزْوِيرِ فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ وَالْمُتَشَبِّعِ بِمَالَمْ يُعْطَ.

د فریب د جامو اغوستلو او څه چه نه وی د هغې دوئیلو ممانعت

(۵۵۸۳) عَنْ عَآئِشَةَ اَنَّ امْرَاَةً قَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ اَقُوْلُ اِنَّ زَوْجِيْ اَعْطَانِيْ مَالَمْ يُعْطِنِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّعُ بِمَالَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه: د حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه یوے ښځے عرض اوکړو یارسول الله ﷺ! زهٔ (خپلے بنے) ته اووایم چه خاوند ماله هغه راکړی دی کوم چه هغه نه دی راکړی، حضرت ﷺ اوفرمائیل څوك چه اووائی چه فلانے څیز زما سره دے، (په خلقو کښے دلویئ اوغرور ظاهرولو دپاره) او هغه دده سره نه وی د هغه مثال داسے دے لکه څوك چه دفریب دوه کپړے واغوندی۔

(۵۵۸۴) عَنْ اَسْمَآءَ جَآءَتْ امْرَاَةٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اِنَّ لِيْ ضَرَّةً فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ اَنْ اَتَشَبَّعَ مِنْ مَّالِ زَوْجِيْ مَالَمْ يُعْطِنِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَشَبِّعُ بِمَالَمْ يُعْطِ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ.

ترجمه: د اسماءؓ نه روایت دے چه یوه ښځه د رسول الله ﷺ خواله راغله، اوائے وئیل څمایوه بن ده، نو اے ماته به ګناه وی که چرے زه (د هغے زړه دسیزلو دپاره) دا اووایم چه خاوند ماله دلراکړی دی څه چه هغه نه وی راکړی حضرت ﷺ اوفرمائیل چاته چه څه څیز نه وی میلاؤ شوی او هغه بیان اوکړی چه میلاؤ شوے دے د هغے مثال داسے دے لکه چاچه دفریب دوه کپړے اغوستے وی (اوخپل ځان ته ناهد متقی وائی حالانکه په اصل کښے دنیادار فریبی دے "لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ)

(۵۵۸۵) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆
☆☆☆☆☆

كِتَابُ الْآدَابِ

كتاب د دے په بيان د آدابو كښ

﴿ بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّكَنِّيْ بِاَبِيْ الْقَاسِمِ وَبَيَانِ مَايُسْتَحِبُّ مِنَ الْاَسْمَآءِ ﴾

دابوالقاسم كنيت ايخودلو ممانعت اودښونومونوبيان

(٥٥٨٦) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَادٰى رَجُلٌ رَجُلًا بِالْبَقِيْعِ يَااَبَا الْقَاسِمِ فَالْتَفَتَ اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنِّيْ لَمْ اَعْنِكَ اِنَّمَا دَعَوْتُ فُلَانًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَمَّوْا بِاِسْمِيْ وَلَاتَكْتَنُوْا بِكُنْيَتِيْ.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یوسړے بل سړی ته آواز اوکړو په بقیع کښے چه اے ابوالقاسمؑ رسول الله ﷺ دهغه په طرف اوکتل هغه سړی اووے یارسول الله ﷺ! ماتاسو ته آواز نه ووکړے، بلکه فلانی سړی ته، (دده کنت به هم ابوالقاسم وی) حضرت ﷺ اوفرمائیل نوم زمادئ زماپه نوم سره اوکنیت مه ږدئ زماپه کنیت سره.

فائده: نووی علیه الرحمة وائی په دے مسئله کښے دعالمانو ډیرمذهبونه دی:

(١) دشافعیؒ اواهل ظاهرو دامذهب دے، چه ابوالقاسم کنیت ایخودل په هیڅ شان له درست نهٔ دی خواه که دهغه نوم محمد یااحمد یابل څه وی.

(٢) داچه دامممانعت منسوخ دے اوایخودل ئے مباح دی دمالکؒ اوجمهورو سلفودغه قول دے.

(٣) دریم داچه دامممانعت دحرمت دپاره نه وو، بلکه په طرد ادب اوس هم باقی دے. (٤) څلورم داچه دامممانعت دهغه چادپاره دے چه دهغه نوم محمد یااحمد وی. (٥) پنځم داچه ابوالقاسم کنیت ایخودل مطلقا منع دی اودبچی نوم قاسم ایخودل.

(٦) شپږم داچه محمد نوم ایخودل منع دی اوپه دے کښے یو حدیث هم دے چه تاسودبچو نوم محمد ږدئ اوبیاپه هغوئ باندے لعنت کوئ. اوحضرت عمررضی الله تعالی عنه منع فرمائیلے ده دمحمد نوم ایخودلولونه. (انتهی مختصرا).

(۵۵۸۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَبَّ أَسْمَاءِ كُمْ إِلَى اللّٰهِ عَبْدُاللّٰهِ وَعَبْدُالرَّحْمٰنِ. [ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: عبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "غوره نومونه ستاسو دالله په نزد دادی، عبدالله اوعبدالرحمن۔

فائده: دغه شان عبدالرحیم ، عبدالملك، عبدالقدوس، عبدالسلام وغیره چه په هغے سره دالله تعالی بندگی ظاهریږی اوبدنومونه هغه دی چه په هغے کښ دکفر اوشرك بوئی موجود وی، لکه عبدالحسین، عبدالنبی، عبدالعلی، پیران دی ته وغیره۔

(۵۵۸۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ وُلِدَ لِرَجُلٍ مِّنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ مُحَمَّدًا فَقَالَ لَهُ قَوْمُهُ لَانَدَعُكَ تُسَمِّيْ بِاسْمِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقَ بِابْنِهِ حَامِلَهُ عَلٰى ظَهْرِهِ فَأَتٰى بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ وُلِدَلِيْ غُلَامٌ فَسَمَّيْتُهُ مُحَمَّدًا فَقَالَ لِيْ قَوْمِيْ لَانَدَعُكَ تُسَمِّيْ بِاسْمِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ تَسَمُّوْا بِاسْمِيْ وَلَاتَكْتَنُوْا بِكُنْيَتِيْ فَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ. [بخاری]

ترجمه: دجابربن عبدالله نه روایت دے وائی چه په مونږ کښے دیوسړی هلك پیداشولو، هغوئ دهغه نوم محمد کینښودو، دهغه قوم هغه ته اووے مونږه تالره په دے نوم ایخودلو سره نه بلوڅکه چه ته درسول الله ﷺ نوم ږدے، بیا هغه سړے هغه خپل بچے شاه اخستو اودرسول الله ﷺ خواله راغے اوعرض ئے اوکړو یارسول الله ﷺ! څمادا هلك پیداشوے دے اوماده ه نوم محمد ایخودے دے، څمادقوم خلق وائی مونږ تالره نه پریږدو ځکه چه تادرسول الله ﷺ نوم ایخودے دے ددے په اوریدو رسول الله ﷺ اوفرمائیل څمانوم ږدئ لیکن زماکنیت (یعنی ابوالقاسم ﷺ) مه ږدئ، ولے چه قاسم زه یم تقسیموم پتاسو باندے څه چه میلاویږی (دغنیمت مال یازکوة ددے وجے نه دبل چاسره ابوالقاسم نوم ایخودل نه بنائی ۔) ۔

(۵۵۸۹) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ وُلِدَ لِرَجُلٍ مِّنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ مُحَمَّدًا فَقُلْنَا لَانَكْنِيْكَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى نَسْتَأْمِرَهُ فَأَتَاهُ فَقَالَ إِنَّهُ وُلِدَلِيْ غُلَامٌ فَسَمَّيْتُهُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ قَوْمِيْ أَبَوْا أَنْ يَّكْنُوْنِيْ بِهِ حَتّٰى تَسْتَأْذِنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَقَالَ تَسَمُّوْا بِاِسْمِیْ وَلَاتَكْتَنُوْا بِكُنْيَتِیْ فَاِنَّمَا بُعِثْتُ قَاسِمًا اَقْسِمُ بَيْنَكُمْ.

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے په مونږ کښے دیو سړی په کورکښے هلك پیداشو هغوئ دهغه نوم محمد کیښودو مونږ خلقواووے مونږ ستاکنیت درسول الله ﷺ دنوم سره نۀ ږدو (یعنی تاته ابو محمد نه شوونیلے) دکومے پورے چه تاسودهغوئ ﷺ نه اجازت اخستے نۀ وی، هغه سړے دحضرت ﷺ خواله راغے اواوئے وئیل څما یو هلك پیداشوے دے، نوما دهغه نوم دالله جل جلاله درسول ﷺ په نوم باندے کیښودو، زمادقوم خلق انکار کوی ددغه نوم دکنیت ماته دراکولو نه دکومے پورے چه رسول الله ﷺ اجازت درکړے نه وی، حضرت ﷺ اوفرمائیل "زما په نوم باندے نوم ږدئ لیکن زماکنیت مۀ ږدئ ولے چه زۀ تقسیمونکے رالیږلے شوے یم زۀ تقسیموم پتاسوکښے اودځان دپاره ئے نه جمع کوم.

(۵۵۹۰) عَنْ حُصَيْنٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْفَاِنَّمَابُعِثْتُ قَاسِمًا اَقْسِمُ بَيْنَكُمْ .

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده.

(۵۵۹۱) عَنْ جَابِرِابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسَمُّوْا بِاِسْمِیْ وَلَاتَكَنَّوْا بِكُنْيَتِیْ فَاِنِّیْ اَنَا اَبُوْالْقَاسِمِ اَقْسِمُ بَيْنَكُمْ وَفِیْ رِوَايَةِ اَبِیْ بَكْرٍ وَلَاتَكْتَنُوْا. [بخاری]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "زمانوم ږدئ لیکن زماکنیت مه ږدئ ولے چه زۀ ابوالقاسم یم تقسیمونکے په مینځ ستاسوکښے".

(۵۵۹۲) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ اِنَّمَا جُعِلْتُ قَاسِمًا اَقْسِمُ بَيْنَكُمْ . [بخاری]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده.

(۵۵۹۳) عَنْ جَابِرِابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ وُلِدَلَهٗ غُلَامٌ فَاَرَادَ اَنْ يُّسَمِّيَهٗ مُحَمَّدًا فَاَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلَهٗ فَقَالَ اَحْسَنَتِ الْاَنْصَارُ تَسَمُّوْا بِاِسْمِیْ وَتَكْتَنُوْا بِكُنْيَتِیْ.

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دیوانصاری (په کورکښے) هلك پیداشو، هغه دخپل بچی نوم محمد ایخودل غوښتلو هغه درسول الله ﷺ خواله راغے

اوحضرت ﷺ نه ئے تپوس اوکړو؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل انصار ؓ بنه کوی چه زماپه نوم باندے نوم ږدی لیکن زما کنیت دی نۀ ږدی"۔

(۵۵۹۴) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِیْثِ مَنْ ذَکَرْنَا حَدِیْثَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَفِیْ حَدِیْثِ النَّضْرِ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ وَزَادَ فِیْهِ حُصَیْنٌ وَّسُلَیْمَانُ قَالَ حُصَیْنٌ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا بُعِثْتُ قَاسِمًا اَقْسِمُ بَیْنَکُمْ وَقَالَ سُلَیْمٰنُ فَاِنَّمَا اَنَاقَاسِمٌ اَقْسِمُ بَیْنَکُمْ.

ترجمه: ترجمه ددے دتیرشوی حدیث شریف پشان ده۔

(۵۵۹۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ وُلِدَلِرَجُلٍ مِّنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ الْقَاسِمَ فَقُلْنَا لَانَکْنِیْکَ اَبَا الْقَاسِمِ وَلَانُنْعِمُکَ عَیْنًا فَاَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَذٰلِکَ لَهٗ فَقَالَ سَمِّ ابْنَکَ عَبْدَالرَّحْمٰنِ.[بخاری]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے په مونږ کښے دیو سړی (په کورکښے) هلك پیداشو هغه ورته نوم قاسم کیښودو(مونږ خلقوورته اوویٔ چه مونږ تاته دابوالقاسم کنیت نه درکوو اوستاسترګے پرے نه یخه وو هغه درسول الله ﷺ خواله راغے اوورته ئے بیان اوکړو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل "ستادځوئ نوم عبدالرحمن دے"۔

(۵۵۹۶) عَنْ جَابِرٍ بِمِثْلِ حَدِیْثِ ابْنِ عُیَیْنَةَ غَیْرَاَنَّهٗ لَمْ یَذْکُرْوَلَانُنْعِمُکَ عَیْنًا.

ترجمه: ددے هم ددے پورته پشان ترجمه ده۔

(۵۵۹۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ اَبُوْالْقَاسِمِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَسَمَّوْا بِاسْمِیْ وَلَاتَکْتَنُوْا بِکُنْیَتِیْ قَالَ عَمْرٌ وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ وَلَمْ یَقُلْ سَمِعْتُ. [بخاری، ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "ځما په نوم باندے نوم ږدیٔ اوځما کنیت مه ږدیٔ۔

(۵۵۹۸) عَنِ الْمُغِیْرَةِ ابْنِ شُعْبَةَ قَالَ لَمَّا قَدِمْتُ نَجْرَانَ سَاَلُوْنِیْ فَقَالُوْا اِنَّکُمْ تَقْرَءُوْنَ یَااُخْتَ هَارُوْنَ وَمُوْسٰی قَبْلَ عِیْسٰی بِکَذَا وَکَذَا فَلَمَّا قَدِمْتُ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ سَاَلْتُهٗ عَنْ ذٰلِکَ فَقَالَ اِنَّهُمْ کَانُوْا یُسَمُّوْنَ بِاَنْبِیَآئِهِمْ وَالصّٰلِحِیْنَ قَبْلَهُمْ. [ترمذی]

ترجمه: دمغیره بن شعبهؓ نه روایت دے وائی هرکله چه زهٔ نجران ته راغلم نودهغه ځائے خلقو(نصری ؤ) په مابانده اعتراض اوکړو چه تاسو (په سورهٔ مریم) کښې لولئ یااخت هارون (حضرت مریم ته ئے دهارون خور ونیلی دی) حالانکه (حضرت هاروان دموسی علیه السلام رور وو اوحضرت موسی دحضرت عیسی علیه السلام نه دومره موده مخکښے وو (بیامریم دهارون علیه السلام خور څنګه کیدے شی) هرکله چه زهٔ درسول الله ﷺ خواله راغلم مادحضرت ﷺ نه تپوس اوکړو حضرت ﷺ اوفرمائیل (داهغه هارون چرته دے کوم چه دموسیٰ رور وو) بلکه دبنی اسرائیلو عادت وو (لکه څنګه چه اوس دتولو عادت دے) چه هغوئ به دپیغمبرانو اودتیرو نیکانو خلقو په نوم باندے نوم ایخودلو۔

بَابُ كَرَاهَةِ التَّسْمِيَةِ بِالْاَسْمَآءِ الْقَبِيْحَةِ۔

دبدونومونوبیان

(۵۵۹۹) عَنْ سَمُرَةَ ابْنِ جُنْدُبٍ قَالَ نَهَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نُسَمِّيَ رَقِيْقَنَا بِاَرْبَعَةِ اَسْمَآءٍ اَفْلَحَ وَرَبَاحٍ وَّيَسَارٍ وَّنَافِعٍ. [ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دسمره بن جندب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع کړی یو مونږ رسول الله ﷺ په خپلو غلامانو باندے ددے نومونو ایخودلو نه "افلح" اورباح اویسار لونافع"۔

فائده: نوویؒ وائی دانهی چه ده تنزیهی ده نه تحریمی ددے وجے نه په دغه بل روایت کښے ذکر دی چه هرکله څوك تپوس اوکړی چه دلته افلح شته یارباح یایسار یانافع لوجواب میلاؤ شی چه نشته دے، په دے کښے ددے قسم بدوالی دهٔ، ولے چه دافلح معنی کامیاب اودرباح معنے فائده مند اودیسار معنی تنګ دست اودنافع معنی فائده ورکونکے دے۔

(۵۶۰۰) عَنْ سَمُرَةَ ابْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتُسَمِّ غُلَامَكَ رَبَاحًا وَّلَا يَسَارًا وَّاَفْلَحَ وَلَانَافِعًا.

ترجمه: دسمره بن جندب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مه ږدئ نوم دخپل غلام (څوئ) رباح اونه یسار اونه افلح اونه نافع۔

(۵۶۰۱) عَنْ سَمُرَةَ ابْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَبُّ الْكَلَامِ اِلَى اللهِ اَرْبَعٌ، سُبْحٰنَ

اللهِ وَالْحَمْدُلِلّٰهِ وَلَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُلَايَضُرُّكَ بِاَيِّهِنَّ بَدَأْتَ وَلَاتُسَمِّيَنَّ غُلَامَكَ يَسَارًا وَلَارَبَاحًا وَلَانَجِيْحًا وَلَااَفْلَحَ فَاِنَّكَ تَقُوْلُ اَثَمَّ هُوَفَلَا يَكُوْنُ فَيَقُوْلُ لَااِنَّمَاهُنَّ اَرْبَعٌ فَلَاتَزِيْدُنَّ عَلَيَّ.

ترجمه: دسمره بن جندب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "د هرڅه نه زیات غوره الله تعالی ته څلورکلمے دے سبحن الله، والحمد لله، ولااله الا الله والله اکبر" په دے کښے چه دی کوم یو مخکښے اووے نقصان نشته دے، اوخپل غلام نوم یسار اورباح اونجیح اوافلح مه ږدیٔ (ددے هم دغه معنے دی کومے چه دافلح دی) ځکه چه ته تپوس اوکړے چه هلته هغه شته (یعنی یسار یارباح یانجیح یاافلح) هغه به وائی نشته دے، "سمرهؓ وائی رسول الله ﷺ دغه څلور نومونه اوفرمائیل نور زیات مه نقل کویٔ ځمانه۔

(۵۶۰۲) عَنْ مَنْصُوْرٍ بِاِسْنَادِ زُهَيْرٍ فَاَمَّا حَدِيْثُ رَوْحٍ فَكَمِثْلِ حَدِيْثِ بِقِصَّتِهٖ وَاَمَّاحَدِيْثُ شُعْبَةَ فَلَيْسَ فِيْهِ اِلَّا ذِكْرُتَسْمِيَةِ الْغُلَامِ وَلَمْ يَذْكُرِالْكَلَامَ الْاَرْبَعَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم ددے پورته حدیث شریف پشان ده۔

(۵۶۰۳) عَنْ جَابِرِابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ اَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّنْهٰى عَنْ اَنْ يُّسَمّٰى بِيَعْلٰى وَبِبَرَكَةٍ وَبِاَفْلَحَ وَيَسَارٍ وَبِنَافِعٍ وَبِنَحْوِ ذٰلِكَ ثُمَّ رَاَيْتُهٗ سَكَتَ بَعْدُعَنْهَا فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا ثُمَّ قُبِضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَنْهَ عَنْ ذٰلِكَ ثُمَّ اَرَادَ عُمَرُرَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنْ يَّنْهٰى عَنْ ذٰلِكَ ثُمَّ تَرَكَهٗ.

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اراده اوکړه چه دیعلی اوبرکت اوافلح اویسار اونافع اوددے پشان نومونو ایخودلو نه منع اوفرمائی، بیاحضرت ﷺ چپ پاتے شو اوڅه ئے اونه فرمائیل، ددے نه پس رسول الله ﷺ وفات شولو اوحضرت ﷺ ددے نه منع اونه فرمائیله، بیاحضرت عمررضی الله تعالی عنه ددے نه منع فرمائیل غوښتل اوورستو ددے نه ئے پریخودو اومنع ئے اونه فرمائیله۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَغْيِيْرِ الْاِسْمِ الْقَبِيْحِ۔

دبدنوم بدلول مستحب دی۔

(۵۶۰۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيَّرَاسْمَ عَاصِيَةَ وَقَالَ اَنْتِ

جَمِيْلَةَ قَالَ اَحْمَدُ مَكَانَ اَخْبَرَنِىْ عَنْ. [ابو داود ، ترمذی]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول الله ﷺ دیوے ښځے نوم بدل کړو چه دهغے نوم عاصیه وو، اوورته ئے ته جمیله ئے (دعاصیه معنی ده نافرمان گنهگاره اودجمیله معنی ده نیکه اوخوبصورته)۔

(۵۲۰۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ ابْنَةً لِّعُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ كَانَتْ يُقَالُ لَهَا عَاصِيَةُ فَسَمَّاهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمِيْلَةَ. [ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه دحضرت عمررضی الله تعالی عنه دیوے لور نوم عاصیه وو، رسول الله ﷺ دهغے نوم جمیله کیښودو۔

(۵۲۰۶) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَتْ جُوَيْرِيَةُ اِسْمُهَا بَرَّةُ فَحَوَّلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْمَهَا جُوَيْرِيَةَ وَكَانَ يَكْرَهُ اَنْ يُّقَالَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِبَرَّةَ وَفِىْ حَدِيْثِ ابْنِ اَبِىْ عُمَرَعَنْ كُرَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَّضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ. [ابو داود]

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه دجویریه نوم مخکښے بره وو رسول الله ﷺ دهغے نوم جویریه کیښودو، حضرت ﷺ بدگنړلو داوئیل چه هغه دبره دخوانه اووتو، لکه دنیکی پریخودل دی، اوپه حدیث دابن ابوعمرؓ کښے دکریب نه روایت دے وائی چه مااوریدلی دی دا دابن عباس رضی الله تعالی عنه نه۔

(۵۲۰۷) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ زَيْنَبَ كَانَ اسْمُهَا بَرَّةُ فَقِيْلَ تُزَكِّىْ نَفْسَهَا فَسَمَّاهَا رَسُوْلُ اللهِ زَيْنَبَ وَلَفْظُ الْحَدِيْثِ لِهٰؤُلَاءِ دُوْنَ ابْنِ بَشَّارٍ وَقَالَ ابْنُ اَبِىْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ ابْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ. [بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دزینبؓ نوم مخکښے بره وو، خلقو به وئیل چه پخپله دخپل ځان تعریف کوی بیارسول الله ﷺ دهغے نوم زینبؓ کیښودو۔

(۵۲۰۸) عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ اسْمِىْ بَرَّةُ فَسَمَّانِىْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ قَالَتْ وَدَخَلَتْ عَلَيْهِ زَيْنَبُ بِنْتُ جَحْشٍ وَاسْمُهَا بَرَّةُ فَسَمَّاهَا زَيْنَبَ. [ابو داود]

ترجمه: دزینب بنت ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے، وائی چه زمانوم بره وو

بیا رسول الله ﷺ زینب ؓ کینبودو او زینب ؓ بنت جحش هم د رسول الله ﷺ خواله لاړه، د هغې نوم هم بره وو، حضرت ﷺ ورله زینب ؓ کینبودو۔

(۵۶۰۹) عَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ عَمْرِو ابْنِ عَطَاءٍ قَالَ سَمَّيْتُ ابْنَتِي بَرَّةَ فَقَالَتْ لِي زَيْنَبُ بِنْتُ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ هٰذَا الِاسْمِ وَسُمِّيتُ بَرَّةَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمُ اللهُ أَعْلَمُ بِأَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ فَقَالُوا بِمَ نُسَمِّيهَا قَالَ سَمُّوهَا زَيْنَبَ.

ترجمه: د محمد بن عمر بن عطا ؒ نه روایت دے وائی چه ما د خپلے لور نوم بره کینبودو نو زینب بنت ابی سلمة ؓ اووے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده ددے نه، او زما نوم هم بره وو، بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خپل صفت پخپله مه کوه، الله تعالی خبر دے چه نیک څوک دے په تاسو کښے، خلقو عرض اوکړو چه مونږ څه نوم کیږدو ددے نه، حضرت ﷺ اوفرمائیل زینب ؓ نوم ترے کیږدوئ۔

بَابُ تَحْرِيمِ التَّسَمِّي بِمَلِكِ الْأَمْلَاكِ

د شهنشا نوم د ایخودلو حرام والی بیان

(۵۶۱۰) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَخْنَعَ اسْمٍ عِنْدَ اللهِ رَجُلٌ تَسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ زَادَ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ فِي رِوَايَتِهِ لَا مَالِكَ إِلَّا اللهُ قَالَ الْأَشْعَثِيُّ قَالَ سُفْيَانُ مِثْلُ شَاهَانْ شَاهْ وَقَالَ أَحْمَدُ ابْنُ حَنْبَلٍ سَأَلْتُ أَبَا عَمْرٍو وَعَنْ أَخْنَعَ فَقَالَ أَوْضَعَ. [بخاری، ابو داود، ترمذی]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "د ټولو نه زیات ذلیل او بدنوم د الله تعالی په نزد د هغه سړی دی چه هغه ته خلق ملك الملوك وائی، د ابن ابی شیبة ؒ په روایت کښے دومره زیاته ده چه څوك مالك نشته سوا د الله تعالی نه، سفیان ؒ وائی چه د ملك الملوك په شان شهنشا هم دے۔

فائده: ملك الملوك یعنی د بادشاهانو بادشاه، او شهنشاه هم د غه معنی ده، دا د الله تعالی صفت دے هغه شهنشاه دے باقی ټول محکوم او بندیګان دی، نووی ؒ وائی دا نوم ایخودل

حرام دی، دغه شان دالله تعالی سره چه کوم نومونه خاص دی هغه ایخودل لکه رحمان، قدوس، مهیمن، خالق الخلق وغیره، مترجم وائی مهاراج هم الله دے اودهغے معنی هم دشهنشاه ده، داهم دهیڅ یوبنده دپاره وئیل درست نه دی، دغه شان قاضی القضاة هم۔

(۵۶۱۱) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَاحَدَّثَنَا اَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَغْيَظُ رَجُلٍ عَلَی اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَاَخْبَثُهُ وَاَغْيَظُهُ عَلَيْهِ رَجُلٌ كَانَ يُسَمّٰی مَلِكُ الْاَمْلَاكِ لَامَالِكَ اِلَّا اللّٰهُ۔

ترجمه: دهمام بن منبهؒ نه نه روایت دے وائی چه دا رارسیدلی دی ماته دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "دټولو نه زیاته غصه به الله تعالی دقیامت په ورځ یادټولو نه زیات ناپاك به دالله تعالی په نزد هغه سړی وی، چاته چه دبادشاهانو بادشاه وئیلے شی، څوك هم مالك نشته سوا دالله تعالی نه۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ تَحْنِيْكِ الْمَوْلُوْدِ وَغَيْرِهٖ۔

دبچی په خله کښے دڅه ژوئیلی څیز وغیره ورکولو بیان

(۵۶۱۲) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ ذَهَبْتُ بِعَبْدِاللّٰهِ ابْنِ اَبِیْ طَلْحَةَ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِیْ عَبَآءَةٍ يَّهْنَا بَعِيْرًا لَّهٗ فَقَالَ هَلْ مَعَكَ تَمْرٌ فَقُلْتُ نَعَمْ فَنَاوَلْتُهٗ تَمَرَاتٍ فَاَلْقَاهُنَّ فِیْ فِيْهِ فَلَاكَهُنَّ ثُمَّ فَغَرَفَا الصَّبِیِّ فَمَجَّهٗ فِيْهِ فَجَعَلَ الصَّبِیُّ يَتَلَمَّظُهٗ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُبُّ الْاَنْصَارِ التَّمْرَ وَسَمَّاهُ عَبْدَاللّٰهِ۔ [ابوداود]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ماعبدالله بن ابی طلحه انصاری لره (هرکله چه هغه پیداشولو) درسول الله ﷺ خواله یوړو، حضرت ﷺ دغه وخت شرئ پسرکړے وه اوپه خپل اوښ باندے ئے تیل مښلو، حضرت ﷺ تپوس اوکړو ستاسو سره کجوره شته مااووے هاں شته، بیاماحضرت ﷺ ته څوکجورے ورکړے حضرت ﷺ هغه په خپله خله مبارکه کښے اوژوئیلے اوبیائے دبچی خله کھولاؤ کړه اودهغه په خله کښے ئے اوغورځولے بچی هغے لره رول شروع کړو، حضرت ﷺ اوفرمائیل انصاریه کجورو مئین دی،

اود هغه نوم ئے عبدالله کیښودو.

فائده: نووی وائی ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه دبچی تحنیك (یعنی څه ژوئیل اود هغه په خله کښیے ورکول) مستحب دی هرکله چه هغه پیداشی اوداپه اجماع سره سنت دی، اوغوره داده چه څوك نیك بنده که سړے وی که ښځه تحنیك اوکړی، اودا هم معلومه شوه چه دآثار صالحین نه اود هغوئ دلاړونه اودهریو څیزنه برکت حاصلول پکار دی، اوپه کجورو سره تحنیك افضل دے دغه شان عبدالله نوم ایخودل. (انتهی مختصرا)

(۵۶۱۳) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ ابْنٌ لِاَبِىْ طَلْحَةَ يَشْتَكِىْ فَخَرَجَ اَبُوْطَلْحَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقُبِضَ الصَّبِىُّ فَلَمَّا رَجَعَ اَبُوْطَلْحَةَ قَالَ مَافَعَلَ ابْنِىْ قَالَتْ اُمُّ سُلَيْمٍ هُوَاَسْكَنُ مِمَّا كَانَ فَقَرَّبَتْ اِلَيْهِ الْعَشَآءَ فَتَعَشّٰى ثُمَّ اَصَابَ مِنْهَا فَلَمَّا فَرَغَ قَالَتْ وَارُوْا الصَّبِىَّ فَلَمَّا اَصْبَحَ اَبُوْطَلْحَةَ اَتٰى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرَهُ فَقَالَ اَعْرَسْتُمُ اللَّيْلَةَ قَالَ نَعَمْ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمَا فَوَلَدَتْ غُلَامًا فَقَالَ لِىْ اَبُوْطَلْحَةَ احْمِلْهُ حَتّٰى تَاْتِىَ بِهِ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَعَثَتْ مَعَهُ بِتَمَرَاتٍ فَاَخَذَهُ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَمَعَهُ شَىْءٌ قَالُوْا نَعَمْ تَمَرَاتٌ فَاَخَذَ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَضَغَهَا ثُمَّ اَخَذَهَا مِنْ فِيْهِ فَجَعَلَهَا فِىْ فِى الصَّبِىِّ ثُمَّ حَنَّكَهُ وَسَمَّاهُ عَبْدَاللهِ. [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه دابو طلحهؓ یو هلك بیمار وو، نو ابو طلحه بهرته لاړو او هغه هلك مړشولو، هرکله چه هغه واپس راغے نو تپوس ئے اوکړو چه څما بچے چرته دے، ام سلیم (دهغوئ بی بی اودانسؓ مور) اووے، اودوراندے په نسبت هغه ته آرام دے. (داکنایه ده دمرګ سره اوڅه دروغ هم نه دی) بیاسم سلیمؓ دماښام خوراك هغوئ ته راوړو، هغوئ اوخوړو، دخوراك نه پس ئے دام سلیمؓ سره صحبت اوکړو هرکله چه فارغ شونوام سلیمؓ ورته اووے، لاړشه او هغه بچے دفن کړه، بیاسحر ابو طلحهؓ درسول الله ﷺ خواله راغے، اودحضرت ﷺ ته ئے ټول حال بیان کړو، حضرت ﷺ تپوس اوکړو اے تادشپے دخپلے بی بی سره صحبت کړے دے، ابو طلحهؓ اووے هاں حضرت ﷺ دعا اوکړه یاالله جل جلاله برکت ورکړی دوئ دواړو لره، بیادام سلیمؓ هلك پیدا شولو، ابو طلحهؓ ماته اووے داهلك واخله اودرسول الله ﷺ خواله ئے یوسه، اوام سلیمؓ دبچی سره څه لږے شان کجورے هم اولیږلے،

رسول الله ﷺ هغه بچی واخستو اوتپوس ئے اوکړو دده سره څه شته خلقواووے کجورے دی،
حضرت ﷺ کجورے واخستے اواوئے ژوئیلے بیائے دخپلے مبارکے خولے نه را اوویستے اودبچی
په خله کښے ئے ورکړے، اوبیائے دهغه نوم عبدالله کیښودو۔

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه ام سلیمؓ ډیره عاقله اوصابره وه، هغویؓ خپل
خاوند ته دبچی دمخکښے نه خبر ورنه کړو، په دے خیال سره چه هغه به طعام اونه خوری
اوتوله شپه به په غم کښے وی، اودحضرت ﷺ دعا دهغویٔ دواړو په حق کښے قبوله شوه
اودهغه نه بهترورته الله تعالی بل هلك عنایت اوفرمائیلو، نوویؒ وائی دهغه عبداللهؓ په
اولادکښے اسحاق پیداشو اودهغه نهه تنه رونړه اوټول نه علماء الصالحین وو، مترجم وائی چه
ددے قسم واقعه خاص زماپه سرتیره شوے ده، مخکښے ځمایوبچے وو چه اشرف ئے نوم وو،
هرکله چه زه په دویم ځل سنه ۱۲۹٤ هـ مقدس کښے مکے معظمے ته لاړمه، نوهغه هلك په
وباء پیچس اوبخار په مکه کښې اوغورځیدو، اوڅه وخت چه دهغه انتقال اوشو، زه
دتفسیرمعالم التنزیل په مطالعه کښے مصروف وم، دهغه دانتقال نه پس می صبر اوکړو اودالله
تعالی نه می دعا اوکړه حق تعالے دهغه نه بهتردرے هلکان مرحمت اوفرمائیل چه نومونه ئے
دادی، اشرف، احسن، محسن، حق تعالی دی دویٔ په عمرکښے برکت کړی، اوهغویٔ دی
باعمله عالمان کړی آمین یارب العلمین۔

(۵۲۱۴) عَنْ اَنَسٍ بِهٰذَا الْقِصَّةِ نَحْوَحَدِیْثِ یَزِیْدَ.

ترجمه: ترجمه ددے دپورته پشان ده۔

(۵۲۱۵) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی قَالَ وُلِدَلِیْ غُلَامٌ فَاَتَیْتُ بِهِ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَسَمَّاهُ اِبْرَاهِیْمَ
وَحَنَّکَهٗ. [بخاری]

ترجمه: دابوموسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه ځمایو هلك پیداشو ماهغه
راواخستو، اودرسول الله ﷺ خواله می راوړو، حضرت ﷺ دهغه نوم ابراهیم کیښودو اوبوه
کجوره ئے اوژوئیله اوبه خپله کښے ئے ورته ورکړه۔

(۵۲۱۶) عَنْ عُرْوَةَ ابْنِ الزُّبَیْرِ وَفَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِابْنِ الزُّبَیْرِ اَنَّهُمَا قَالَا خَرَجَتْ اَسْمَآءُ بِنْتُ اَبِیْ

بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا حِيْنَ هَاجَرَتْ وَهِيَ حُبْلَى بِعَبْدِاللهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ فَقَدِمَتْ قُبَاءَ فَنُفِسَتْ بِعَبْدِاللهِ بِقُبَاءٍ ثُمَّ خَرَجَتْ حِيْنَ نُفِسَتْ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُحَنِّكَهُ فَأَخَذَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا فَوَضَعَهُ فِي حِجْرِهِ ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا فَمَكَثْنَا سَاعَةً نَلْتَمِسُهَا قَبْلَ أَنْ نَجِدَهَا فَمَضَغَهَا ثُمَّ بَصَقَهَا فِي فِيْهِ فَإِنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ دَخَلَ بَطْنَهُ لَرِيْقُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَتْ أَسْمَاءُ ثُمَّ جَاءَ وَهُوَ ابْنُ سَبْعِ سِنِيْنَ أَوْ ثَمَانٍ لِيُبَايِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَهُ بِذٰلِكَ الزُّبَيْرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ رَآهُ مُقْبِلًا إِلَيْهِ ثُمَّ بَايَعَهُ. [بخاری]

ترجمه: دعروه بن زبیر اوفاطمه بنت منذر نه روایت دے دواړه وائی چه اسماء بنت ابی بکر (دحضرت زبیر بی بی) چه هرکله دهجرت دپاره اووته نوعبدالله بن زبیر دهغې په ګیډه وو هغه قباته راغله (چه دمدینې منورې نه دیو میل په فاصله لرې دې) هلته ئې عبدالله اوزیږوو، بیائې هغه راواخستو اودرسول الله ﷺ خواله راغله، ددې دپاره چه حضرت ﷺ هغه ته تحنیك اوکړی (تحنیك څه ژوئیلو اوماشوم په خله کښې ورکولو ته وائی) حضرت ﷺ عبدالله داسماء نه واخستو اوپه خپله غیږه کښې ئې کیښودو، بیائې کجوره اوغوښته، حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وائی مونږ دیوې ګهنټې پورې کجورې تلاش کولې، آخرحضرت ﷺ کجوره اوژئیله اودعبدالله پ خله کښې ئې اوتوکله، نودهرڅه نه مخکښې چه دعبدالله ګیډې ته لاړې هغه درسول الله ﷺ لاړې مبارکې وې، اسماء وائی بیاحضرت ﷺ په عبدالله باندې لاس راښکودو اودهغوئ دپاره ئې دعا اوکړه، اودهغه نوم ئې عبدالله کیښودو ،هرکله چه هغه داوه یااته کالوشونو دزبیر په اشاره سره هغه راغې، درسول الله ﷺ نه دبیعت دپاره حضرت ﷺ چه هرکله هغه راغلې اولیدو نومسکې شوبیائې هغوئ ته بیعت اوکړو (دبرکت دپاره ولې چه هغه ماشوم وو).

(۵۶۱۷) عَنْ أَسْمَاءَ أَنَّهَا حَمَلَتْ بِعَبْدِاللهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ بِمَكَّةَ قَالَتْ فَخَرَجْتُ وَأَنَا مُتِمٌّ فَأَتَيْتُ الْمَدِيْنَةَ فَنَزَلْتُ بِقُبَاءٍ فَوَلَدْتُهُ بِقُبَاءٍ ثُمَّ أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَهُ فِي حِجْرِهِ ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ فَمَضَغَهَا ثُمَّ تَفَلَ فِي فِيْهِ فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ دَخَلَ جَوْفَهُ رِيْقُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ ثُمَّ حَنَّكَهُ لَهُ وَبَرَّكَ اِلَيْهِ وَكَانَ اَوَّلَ مَوْلُوْدٍ وُلِدَفِي الْاِسْلَامِ.

ترجمه: داسماء بنت ابی بکر رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه زهٔ حامله وم په مکه معظمه کښې اوعبدالله بن زبیرؓ زما په ګیډه وو، هرکله چه زهٔ دمکې نه را اووتم نودحمل موده پوره شوې وه، بیا زه مدینې ته راغلم اوپه قباء کښې کوزه شوم، هلته عبداللهؓ پیداشولو بیا زهٔ درسول الله ﷺ خواله راغلم حضرت ﷺ عبدالله لره په خپله غیږه کښې کینولو بیائې یوه کجوره اوغوښته او هغه ئې اوژټیله اودعبداللهؓ په خله کښې ئې اوتوکله نودهرڅه نه مخکښې چه دعبدالله ګیډې ته لاړے هغه درسول الله ﷺ لاړے وې، بیائې دهغوئ دپاره دبرکت دعا اوکړه، اوعبدالله رومبے بچے وو چه داسلام په زمانه کښې پیداشولو (یعنی دهجرت نه پس ورنه دهجرت نه مخکښې خونعمان بن بشیرؓ پیداشوے وو).

(۵۲۱۸) عَنْ اَسْمَآءَ بِنْتِ اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّهَا هَاجَرَتْ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ حُبْلٰى بِعَبْدِاللهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَذَكَرَنَحْوَحَدِيْثِ اَبِيْ اُسَامَةَ

ترجمه: ترجمه ددے هم ددے پورته حدیث پشان ده.

(۵۲۱۹) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتٰى بِالصِّبْيَانِ فَيُبَرِّكُ عَلَيْهِمْ وَيُحَنِّكُهُمْ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له به بچی راوړلے شو، حضرت ﷺ به ورته دبرکت دعاکوله اودهغوئ دپاره به ئې تحنیک کولو.

(۵۲۲۰) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ جِئْنَا بِعَبْدِاللهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَنِّكُهُ فَطَلَبْنَا تَمْرَةً فَعَزَّعَلَيْنَا طَلَبُهَا.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه مونږ عبدالله بن زبیرؓ لره درسول الله ﷺ خواله راوړو دتحنیک کولو دپاره پس مونږه یوه کجوره تلاش کوله خودهغې میلاویدل مشکل شولو.

(۵۲۲۱) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اُتِيَ بِالْمُنْذِرِ ابْنِ اَبِيْ اُسَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِلَى

رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ وُلِدَ فَوَضَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى فَخِذِهِ وَاَبُوْاُسَيْدٍ جَالِسٌ فَلَهِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ بَيْنَ يَدَيْهِ فَاَمَرَ اَبُوْاُسَيْدٍ بِابْنِهِ فَاحْتُمِلَ مِنْ عَلٰى فَخِذِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَقْبَلُوْهُ فَاسْتَفَاقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَيْنَ الصَّبِيُّ فَقَالَ اَبُوْاُسَيْدٍ اَقْلَبْنَاهُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ مَااسْمُهُ قَالَ فُلَانٌ قَالَ لَاوَلٰكِنِ اسْمُهُ الْمُنْذِرُ فَسَمَّاهُ يَوْمَئِذٍ الْمُنْذِرَ.

ترجمه: دسهل بن سعدؓ نه روايت دے منذر دابو اسيد رضی الله تعالی عنه ځوئ چه هرکله پيدا شو نو هغه درسول الله ﷺ خواله راوړے شو، حضرت ﷺ هغه لره پخپل ورون باندے کينبنود او ابو اسيدؓ (دهغه پلار) ناست وو، بيا حضرت ﷺ په څه ځيزکښ خپلے مخے ته متوجه شولو، ابو اسيدؓ حکم اوکړو او بچے دحضرت ﷺ دورون نه اوچت کړے شو، ناڅاپه دحضرت ﷺ خيال شو او اوئے فرمائيل هغه بچے کوم ځاے دے ابو اسيدؓ اوئے يارسول الله ﷺ! مونږ هغه لره اوچت کړے دے، حضرت ﷺ اوفرمائيل دده نوم څه دے، ابو اسيدؓ اووے دانوم دے حضرت ﷺ اوفرمائيل نه دده نوم منذر دے، بيا د هغے ورځې نه هغوئ د هغه نوم منذر کينبنودو.

بَابُ جَوَازِ تَكْنِيَةِ مَنْ لَّمْ يُوْلَدْلَهُ وَتَكْنِيَةِ الصَّغِيْرِ
دچاچه بچے نه وي شوے هغه لره او کم عمر لره کنيت ايخودل درست دي.

(۵۶۲۲) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا وَكَانَ لِيْ اَخٌ يُقَالُ لَهُ اَبُوْعُمَيْرٍ قَالَ اَحْسِبُهُ قَالَ كَانَ فَطِيْمًا قَالَ فَكَانَ اِذَاجَآءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَاٰهُ قَالَ اَبَاعُمَيْرٍ مَافَعَلَ النُّغَيْرُ قَالَ فَكَانَ يَلْعَبُ بِهِ.

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ دټولو نه زيات خوش مزاجه وو زمايو رور وو چه هغه ته به ئے ابوعمير وئيلو (ددے نه معلومه شوه چه کم سن لره او دچاچه بچی نه وی شوی هغه لره کنيت ايخودل درست دی) انسؓ وائی ځما خيال دے چه هغه دپيو ورکولو نه کټ شوے وو، نو هرکله چه به رسول الله ﷺ راتلو او هغه به ئے ليدو نو فرمائيل به ئے اے اباعمير نغير چرته دے (نغيرلعل ته وئيلے شی) او هغه هلك به دلعل

سره لوبے کولے۔

بَابُ جَوَازِ قَوْلِهٖ لِغَيْرِ ابْنِهٖ يَابُنَیَّ وَاسْتِحْبَابِهٖ لِلْمُلَاطَفَةِ۔

دبل ځوئ ته ځوئ ته وئيل اوداسے علمه دمهربانئ په طور مستحب ګڼل۔

(۵٦۲۳) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَابُنَیَّ.
[ابوداود]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روايت دے، وائی چه رسول الله ﷺ ماته لوفرمائيل "ائے ځما وړوکی بچيه"۔

(۵٦۲۴) عَنِ الْمُغِيْرَةِ ابْنِ شُعْبَةَ قَالَ مَاسَاَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَدٌ عَنِ الدَّجَّالِ اَكْثَرَمِمَّاسَاَلْتُهٗ عَنْهُ فَقَالَ لِیْ اَیْ بُنَیَّ وَمَايُنْصِبُكَ مِنْهُ اِنَّهٗ لَنْ يَّضُرَّكَ قَالَ قُلْتُ اِنَّهُمْ يَزْعُمُوْنَ اَنَّ مَعَهٗ اَنْهَارَ الْمَآءِ وَجِبَالَ الْخُبْزِ قَالَ هُوَاَهْوَنُ عَلَی اللهِ مِنْ ذٰلِكَ. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: دمغيره بن شعبه رضی الله تعالی عنه نه روايت دے وائی چه درسول الله ﷺ نه ددجال په باره کښے چادومره تپوس نه دے کړے څومره چه ترے ما کړے دے، آخر حضرت ﷺ لوفرمائيل ځويه! تۀ ولے په دے غم کښ ئے هغه به تاته تکليف نه درکوی، ماعرض اوکړو چه خلق وائی دهغه سره به داوبو نهرونه اوددوډئ غرونه وی، حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل هغه به په دغه سبب ددالله تعالی په نزد ذليله وی۔

فائده: يعنی ددے خبروپه وجه سره کوم چه مؤمنان دی هغه به هيڅ کله نه وی بلکه دالله تعالی په فضل سره به دمؤمنانو ايمان زياتيږی اوکافران اومنافق خلق به تباه کيږی۔

(۵٦۲۵) عَنْ اِسْمَاعِيْلَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَلَيْسَ فِیْ حَدِيْثِ اَحَدٍ مِّنْهُمْ قَوْلُ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُغِيْرَةِ اَیْ بُنَیَّ اِلَّافِیْ حَدِيْثِ يَزِيْدَ وَحْدَهٗ.

ترجمه: ترجمه هم دغه ده کومه چه پورته تيره شوه، په دے کښے دانشته دے چه مغيره ته حضرت ﷺ ځوئ اووے۔

بَابُ الْاِسْتِیْذَانِ

دَاذن غوښتلو بیان

(۵۶۲۶) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ کُنْتُ جَالِسًا بِالْمَدِیْنَةِ فِیْ مَجْلِسِ الْاَنْصَارِ فَاَتَانَا اَبُوْمُوْسٰی فَزِعًا اَوْمَذْعُوْرًا قُلْنَا مَاشَاْنُکَ قَالَ اِنَّ عُمَرَ اَرْسَلَ اِلَیَّ اَنْ اٰتِیَهٗ فَاَتَیْتُ بَابَهٗ فَسَلَّمْتُ ثَلَاثًا فَلَمْ یَرُدَّ عَلَیَّ فَرَجَعْتُ فَقَالَ یَرُدَّ عَلَیَّ فَرَجَعْتُ فَقَالَ مَامَنَعَکَ اَنْ تَاْتِیَنَا قُلْتُ اِنِّیْ اَتَیْتُکَ فَسَلَّمْتُ عَلٰی بَابِکَ ثَلَاثًا فَلَمْ تَرُدَّ عَلَیَّ فَرَجَعْتُ وَقَدْقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اسْتَاْذَنَ اَحَدُکُمْ ثَلَاثًا فَلَمْ یُؤْذَنْ لَهٗ فَلْیَرْجِعْ فَقَالَ عُمَرُرَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَقِمْ عَلَیْهِ الْبَیِّنَةَ وَاِلَّا اَوْجَعْتُکَ فَقَالَ اُبَیُّ ابْنُ کَعْبٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ لَایَقُوْمُ مَعَهٗ اِلَّا اَصْغَرُالْقَوْمِ قَالَ اَبُوْسَعِیْدٍ قُلْتُ اَنَااَصْغَرُالْقَوْمِ قَالَ: فَاذْهَبْ بِهٖ۔ [بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ، وائی چه زه دمدینے په مسجد کښے دانصارو په مجلس کښے ناست وم چه په دے کښے ابو موسی اشعری رضی الله تعالی عنه یریدلے راغے، مونږ ترے تپوس اوکړو څه شوی دی تالره، هغویٔ اووے، حضرت عمرؓ په ماپسے بلنه راولیږله، هرکله چه زه دهغویٔ دروازے له لاړم ،نودرے واره سلام می اوکړو هغویٔ جواب رانۀ کړو ، زۀ واپس راغلم بیا هغویٔ اووے ته زمادکور خواله ولے رانغلے، ماعووے زه درغلے وم، اوستاسو په دروازه کښں می درے ځله سلام اوکړو اوتاسو جواب رانه کړو آخرواپس راغلم، اورسول الله ﷺ فرمائیلی دی، هرکله چه په تاسو کښں یوکس درے ځله اذن اوغواړی، اوځه اذن ورته اونه شی (ددننه تللو) نوواپس دی لاړشی، حضرت عمررضی الله تعالی عنه اووے په دے حدیث باندے ګواه راوله ورنه زۀ تاته سزاء درکوم، ابی بن کعبؓ اووے دابوموسیٰؓ سره دی هغه سرے لاړشی چه په مونږ تولو کښے ورو کے وی، ابوسعید رضی الله تعالی عنه اووے زۀ دتولونه وروکے یم ابی بن کعبؓ اووے بنه ده ته لاړشه، ددوئ سره۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی علماء اجماع کړے ده چه اجازت اخستل مشروع دی، اوسنت داده چه درے ځله دبهرنه سلام اوکړی اوهرځل اجازت اوغواړی ددننه راتلو، اومخکښے

په دسلام لفظ وائی بیابه اجازت غواړی، مثلاً داسې اووائی "اُدْخِلُ یایَدْخُلُ فُلاَنٌ" اوس کچرې ددې ځله نه پس هم اجازت میلاؤ نه شی نوواپس دی لاړشی، یادبیااجازت اوغواړی۔ (انتهٰی مختصرًا)

(۵۶۲۷) عَنْ یَزِیْدَابْنِ اَبِیْ خُصَیْفَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَزَادَ ابْنُ اَبِیْ عُمَرَفِیْ حَدِیْثِهٖ قَالَ اَبُوْسَعِیْدٍ فَقُمْتُ مَعَهٗ فَذَهَبْتُ اِلٰی عُمَرَفَشَهِدْتُّ.

ترجمه: ددې ترجمه هم دپورته پشان ده، دومره زیاته ده چه ابوسعیدؓ وائی زه دابوموسیٰؓ سره پاځیدم اودحضرت عمرؓ خواله لاړم اوګواهی می ورکړه۔

(۵۶۲۸) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِالْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ کُنَّافِیْ مَجْلِسٍ عِنْدَاُبَیِّ ابْنِ کَعْبٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَاَتٰی اَبُوْمُوْسَی الْاَشْعَرِیُّ مُغْضَبًا حَتّٰی وَقَفَ فَقَالَ اَنْشُدُکُمُ اللهَ هَلْ سَمِعَ اَحَدٌ مِّنْکُمْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ الْاِسْتِیْذَانُ ثَلَاثٌ فَاِنْ اُذِنَ لَکَ وَاِلَّا فَارْجِعْ قَالَ اُبَیٌّ وَمَاذَاکَ قَالَ اسْتَاْذَنْتُ عَلٰی عُمَرَابْنِ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَمْسِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَلَمْ یُوْذَنْ لِیْ فَرَجَعْتُ ثُمَّ جِئْتُهُ الْیَوْمَ فَدَخَلْتُ عَلَیْهِ فَاَخْبَرْتُهٗ اَنِّیْ جِئْتُ اَمْسِ فَسَلَّمْتُ ثَلَاثًا ثُمَّ انْصَرَفْتُ فَقَالَ قَدْسَمِعْنَاکَ وَنَحْنُ حِیْنَئِذٍ عَلٰی شُغُلٍ فَلَوْمَااسْتَاْذَنْتَ حَتّٰی یُوْذَنَ لَکَ قَالَ اسْتَاْذَنْتُ کَمَاسَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَوَاللهِ لَاُوْجِعَنَّ ظَهْرَکَ وَبَطْنَکَ اَوْلَتَاْتِیَنَّ بِمَنْ یَّشْهَدُلَکَ عَلٰی هٰذِهٖ فَقَالَ اُبَیُّ ابْنُ کَعْبٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَاللهِ لَایَقُوْمُ مَعَکَ اِلَّااَحْدَثُنَا سِنًّا ثُمَّ یَااَبَاسَعِیْدٍ فَقُمْتُ حَتّٰی اَتَیْتُ عُمَرَرَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقُلْتُ قَدْسَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ هٰذَا.

ترجمه: دابوسعید خدریؓ نه روایت دے وائی چه مونږ دابی بن کعبؓ په مجلس کښې ناست وو چه په دې کښې ابوموسیٰ اشعریؓ په غصه کښې راغې، اواودریدو اوئې وئیل، زه تاسوله په الله جل جلاله قسم درکوم، چه پتاسو کښې چه اوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئې وو، درې ځله اجازت غوښتل دی بیاکه چرې اجازت درته میلاؤ شی خوښه ده، ورنه واپس لاړشه ابیؓ اووې ته ولې تپوس کوې دې لره، هغویؓ اووې ماپرون دحضرت عمرؓ په کورباندې درې ځله اجازت اوغوښتو ماته اجازت رانۀ کړې شو نوزه واپس راغلم نن بیا زه دهغهؓ خواله لاړم لومااووې، پرون زه ستاسو خواله راغلې وم، اودرې ځله سلام می اوکړو بیاواپس لاړم، حضرت

عمررضی الله تعالی عنه اووے، مااوریدلی وو هغه وخت مونږ په کارکښے وو، تابیااجازت ولے اونه غوښتو ترهغے پورے چه اجازت تاته شوے وے، مااووے رسول الله ﷺ چه په څه شان فرمائیلی دی په هغه طریقه مااجازت غوښتلے دے، هغوی اووے قسم دے په الله جل جلاله بانددے چه زۀ به غشے ستاپه شا اوګیده کښے خخ کړم یابه ته ګواه راولے په دے حدیث بانددے ابی بن کعب اووے قسم دے په الله جل جلاله بانددے چه ستاسره به هغه سړے ځی چه هغه په مونږ تولوکم عمروی، پاسه اے ابوسعید بیازه پاځیدم اودحضرت عمررضی الله تعالی عنه خواله راغلم او ورته می اووے چه مادرسول الله ﷺ نه داحدیث مبارك اوریدلے دے۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی چه دابی بن کعب ددے وئیلونه غرض داوو چه حضرت عمررضی الله تعالی عنه ته معلومه شی چه داحدیث زیات مشهور دے، اوزمونږ نه کم عمره سړی ته هم معلومه دے، ددے حدیث نه هغه سړی استدلال کړے دے چه هغه خبر واحد لره حجت نۀ ګنړی، ولے چه دخبرواحد په حجت کیدوبانددے اوپه هغے بانددے دعمل واجب کیدو دخلفاء راشدینو اواکثرو اصحابو اوعلماؤ اتفاق دے، اوحضرت عمررضی الله تعالی عنه دابوموسی روایت لره رد کړے نه وو، بلکه دمصلحت په لحاظ ئے داسے حکم ورکړو چه دروغجنو اومنافقانو خلقوته دحدیثو دجوړولو اوبیانولو جرأت پاتے نه شی۔

اوکچرے دحضرت عمررضی الله تعالی عنه په نزد خبر واحد حجت نه وے نودیوسړی به دابوموسی سره اواتفاق کولوسره څه اثروو ولے چه ددوه دریے سړو روایت دغه خبرواحد دے، ترڅوپورے چه دتواتردرجے ته رسیدلی نۀ وی۔ (انتهی مختصراً)

(۵۶۲۹) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ اَبَامُوْسٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَتٰی بَابَ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَاسْتَاْذَنَ فَقَالَ عُمَرُ وَاحِدَةٌ ثُمَّ اسْتَاْذَنَ فَقَالَ عُمَرُ اِثْنَانِ ثُمَّ اسْتَاْذَنَ الثَّالِثَةَ فَقَالَ عُمَرُ ثَلَاثٌ ثُمَّ انْصَرَفَ فَاَتْبَعَهُ فَرَدَّهُ فَقَالَ اِنْ كَانَ هٰذَا شَيْئًا حَفِظْتَهُ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَا وَاِلَّا لَاَجْعَلَنَّكَ عِظَةً قَالَ اَبُوْسَعِيْدٍ فَاَتَانَا فَقَالَ اَلَمْ تَعْلَمُوْا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْاِسْتِيْذَانُ ثَلَاثٌ قَالَ فَجَعَلُوْا يَضْحَكُوْنَ قَالَ فَقُلْتُ اَتَاكُمْ اَخُوْكُمُ الْمُسْلِمُ قَدْ اُفْزِعَ تَضْحَكُوْنَ انْطَلِقْ وَاَنَا شَرِيْكُكَ فِيْ هٰذِهِ الْعُقُوْبَةِ فَاَتَاهُ فَقَالَ هٰذَا اَبُوْسَعِيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ.

ترجمه: دابو سعید رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه ابو موسی رضی الله تعالی عنه دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه دروازے له راغے، او اجازت ئے اوغوښتو، حضرت عمرؓ اووے دا یو ځل شو، بیا هغویٔ اجازت اوغوښتو حضرت عمرؓ اووے دا دویم ځل شو، بیائے په دریم ځل اجازت اوغوښتو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه اووے دا دریم ځل شو، ددے نه پس ابو موسیٰؓ واپس شو، نو حضرت عمرؓ ورپسے دروستو نه څوك اولیږو او واپس ئے راوستو، حضرت عمرؓ اووے اے ابو موسیٰؓ کچرے تا دا درسول الله ﷺ دیو حدیث موافق کړی وی نو ګواه راوله، ورنه زه تا ته داسے سزاء درکوم چه په هغے سره نورو ته نصیحت وی په دے اوریدو سره ابو موسیٰؓ زمونږ خواله راغے، او اوئے ویل اے تاسو ته معلومه نه ده، چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی اجازت غوښتل درے ځله دی، خلق په خنداشولو، ما اووے ستاسو خواله مسلمان رور ورولے شوے راغلے دے، او تاسو خندا کویٔ، ما اووے اے ابو موسیٰؓ څه زه ستاسره په دے تکلیف کښے ملګرے یم، بیا هغه دحضرت عمرؓ خواله راغے او اوئے ویل دا ابو سعیدؓ ګواه موجود دے۔

(۵۲۳۰) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ بِشْرِبْنِ مُفَضَّلٍ عَنْ اَبِیْ مَسْلَمَةَ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۲۳۱) عَنْ عُبَیْدِ ابْنِ عُمَیْرٍ اَنَّ اَبَامُوْسٰی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اسْتَاْذَنَ عَلٰی عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ثَلَاثًا فَکَاَنَّہٗ وَجَدَہٗ مَشْغُوْلًا فَرَجَعَ فَقَالَ عُمَرُ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اَلَمْ تَسْمَعْ صَوْتَ عَبْدِاللّٰہِ ابْنِ قَیْسٍ ائْذَنُوْا لَہٗ فَدُعِیَ لَہٗ فَقَالَ مَاحَمَلَکَ عَلٰی مَاصَنَعْتَ قَالَ اِنَّا کُنَّا نُؤْمَرُ بِھٰذَا فَقَالَ لَتُقِیْمَنَّ عَلٰی ھٰذَا بَیِّنَةً اَوْلَاَفْعَلَنَّ اِلٰی مَجْلِسٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَالُوْا لَا یَشْھَدُ لَکَ عَلٰی ھٰذَا اِلَّا اَصْغَرُنَا فَقَامَ اَبُوْسَعِیْدٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ کُنَّا نُؤْمَرُ بِھٰذَا فَقَالَ عُمَرُ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خَفِیَ عَلَیَّ ھٰذَا مِنْ اَمْرِ رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اَلْھَانِیْ عَنْہُ الصَّفْقُ بِالْاَسْوَاقِ. [بخاری ،]

ترجمه: دعبید بن عمیر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه ابو موسیٰؓ دعمر رضی الله تعالی عنه نه درے ځله اجازت اوغوښتو هغویٔ دا اوګنړل چه هغه په څه کار کښے مصروف دے، نو واپس لاړو، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه (خپلو خلقوته) اووے چه مونږ دعبدالله بن

قیس (دادابوموسی نوم دے) آواز اوریدلے وو تاسو رااوغواړئ هغوئ لره، بیا هغه رالوغوښتے شو، حضرت عمرؓ اووے تاداسے ولے اوکړو . هغوئ اووے مونږ ته دغه شان حکم شوے وو (د رسول الله ﷺ نه) حضرت عمرؓ لووے ته په دے خبره سره ګواه رواله، ورنه زه به ستاسره لوګورم، (یعنی سزاء به درکرم) ابوموسیؓ را اووتو اودانصارو مجلس ته راغے هغوئ اووے ستاسره به زمونږ نه هغه سړے دغه ګواهی ورکوی چه په مونږ تولو کښے کم عمره وی، بیا ابوسعیدؓ پاڅیدو او هغوئ اووے مونږ ته دغه شان حکم شوے وو، حضرت عمرؓ اووے د رسول الله ﷺ دا حکم ماته نه وو ښکاره شوے اودهغے وجه دغه ده په بازارونو کښے معامله کول (یعنی زه په تجارت وغیره ددنیاپه کارونو کښے مصروف وم اوداحدیث می نه دے اوریدلے هرکله چه حضرت عمرؓ ته تول حدیثونه معلوم نه دی نودبل یو مجتهد یاعالم نه حدیث پټ پاتے کیدل څه لرے خبره ده).

(۵۶۳۲) عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيْثِ النَّضْرِ اَلْهَانِيْ عَنْهُ اَصْفَقُ بِالْاَسْوَاقِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده، په دے کښے دانشته دے چه دبازارونو په خرید وفروخت کولو، سره ددے حدیث نه غافل پاتے شوم.

(۵۶۳۳) عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جَآءَ اَبُوْمُوْسٰى رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِلٰى عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ هٰذَا عَبْدُاللّٰهِ ابْنُ قَيْسٍ فَلَمْ يَاْذَنْ لَهٗ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ هٰذَا اَبُوْمُوْسٰى السَّلَامُ عَلَيْكُمْ هٰذَا الْاَشْعَرِيُّ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ رُدُّوْا عَلَيَّ فَجَآءَ فَقَالَ يَااَبَا مُوْسٰى مَارَدَّكَ كُنَّا فِيْ شُغُلٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْاِسْتِئْذَانُ ثَلَاثًا فَاِنْ اُذِنَ لَكَ وَاِلَّا فَارْجِعْ قَالَ لَتَاْتِيَنِّيْ عَلٰى هٰذَا بِبَيِّنَةٍ وَاِلَّا فَعَلْتُ وَفَعَلْتُ فَذَهَبَ اَبُوْمُوْسٰىؓ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِنْ وَّجَدَ بَيِّنَةً تَجِدُوْهُ عِنْدَ الْمِنْبَرِ عَشِيَّةً وَاِنْ لَّمْ يَجِدْ بَيِّنَةً فَلَمْ تَجِدُوْهُ فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ بِالْعَشِيِّ وَجَدُوْهُ قَالَ يَااَبَامُوْسٰى مَاتَقُوْلُ اَقَدْ وَجَدْتَ قَالَ نَعَمْ اُبَيَّ ابْنَ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ عَدْلٌ قَالَ يَااَبَاالطُّفَيْلِ مَايَقُوْلُ هٰذَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ ذٰلِكَ يَاابْنَ الْخَطَّابِ فَلَاتَكُوْنَنَّ عَذَابًا عَلٰى اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سُبْحٰنَ اللّٰهِ اِنَّمَا سَمِعْتُ شَيْئًا فَاَحْبَبْتُ اَنْ اَتَثَبَّتَ. [ابوداود]

ترجمه : دابوموسی اشعری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه هغه راغے دحضرت عمررضی الله تعالی عنه خواله، نواوئے وئیل السلام علیکم عبدالله بن قیس دے، هغوی هغه ته دننه راتلو اجازت ورنه کړو بیا هغوی اووے السلام علیکم ابوموسی دے، السلام علیکم اشعری دی، (مخکښے ئے نوم بیان کړو بیائے کنیت بیان کړو بیائے نسبت ددے دپاره چه حضرت عمر ته څه شبه پاتے نه شی) آخرواپس شولو بیا حضرت عمررضی الله تعالی عنه ورته اووے تاسو ولے واپس شوئ مونږ په کارکښے وو، هغوی اووے مااوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو اجازت غوښتل درے ځله دی پس کچرے اجازت اوشی خوښه ده ورنه واپس لاړ شه، حضرت عمررضی الله تعالی عنه اووے کچرے په دے حدیث شریف دی گواه راننه وستو نوگوره چه زه څه کوم (یعنی سزاء به درکوم) ابوموسی دا واؤریدو نولاړو، حضرت عمر اووے چه کچرے ابوموسی ته گواه میلاؤ شی نو مابنام به دممنبر په خواکښے ستاسره میلاویږی، اوکچرے گواه اونه مومی نونه به مومے ته ده لره، هرکله چه حضرت عمررضی الله تعالی عنه مابنام دمنبرخواله راغے نوابوموسی هلته موجود وو حضرت عمررضی الله تعالی عنه اووے اے ابوموسی ته څه وائے تاته گواه میلاؤ شو، هغوی اووے هاں !ابی بن کعب موجود دے، حضرت عمر اووے بیشك هغه معتبردے، حضرت عمر اووے اے ابوالطفیل (دادابی بن کعب کنیت دے) ابوموسی څه وائی ؟ ابی بن کعب اووے مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه هم دائے فرمائیلی وو (اے دخطاب ځویه ته عذاب مه جوړیږه درسول الله ﷺ په اصحابو باندے (یعنی دوئ ته تکلیف مه ورکوه) حضرت عمر اووے سبحن الله ماخویو حدیث واؤریدو اودهغے زیات تحقیق کول می بنه اوگنړل (اوزماغرض داهیځکله نه وو چه معاذ الله زه دی دحضرت ﷺ اصحابو ته تکلیف ورکړم، نه می دامطلب وو چه ابوموسی دروغژن دے)۔

(۵۶۳۴) عَنْ طَلْحَةَ ابْنِ يَحْيىٰ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ فَقَالَ يَااَبَا الْمُنْذِرِ اَنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ نَعَمْ فَلَاتَكُنْ يَاابْنَ الْخَطَّابِ عَذَابًا عَلٰى اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْمِنْ قَوْلِ عُمَرَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَابَعْدَهٗ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپوره حدیث پشان ده۔

بَابُ كَرَاهِيَةِ قَوْلِ الْمُسْتَأْذِنِ اَنَا إِذَاقِيْلَ مَنْ هٰذَا۔

هر کله چه دبهرنه خوك آواز اوكړى اودننه نه تپوس اوشى چه خوك ئى ؟ نودهغى په جواب كښې دى خپل نوم اخلى زهٔ يم وئيل مكروه دى۔

(۵۶۳۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَتَيْتُ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَوْتُ فَقَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا قُلْتُ اَنَاقَالَ فَخَرَجَ وَهُوَيَقُوْلُ اَنَااَنَا. [بخارى ، ابوداود ، ترمذى ، ابن ماجه]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه زهٔ درسول الله ﷺ خواله راغلم، ما آواز اوكړو، حضرت ﷺ (ددننه نه) تپوس اوكړو خوك ئے ؟ ما اووے زهٔ يم، حضرت ﷺ بهرته راوتو اوداوينا ئے كوله زه خوزهٔ هم يم۔

(۵۶۳۶) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اسْتَأْذَنْتُ عَلَى النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ هٰذَا فَقُلْتُ اَنَافَقَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَااَنَا.

ترجمه: دجابربن عبدالله رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه ما اذن اوغوښتو درسول الله ﷺ نه حضرت تپوس اوكړو خوك ئے ؟ ما اووے زه يم، حضرت ﷺ اوفرمائيل زه خوزهٔ هم يم۔

(۵۶۳۷) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ. وَفِىْ حَدِيْثِهِمْ كَاَنَّهُ كَرِهَ ذٰلِكَ

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔ په دے كښے دومره قدرے زياته ده چه حضرت ﷺ "زه يم" وئيلولره بداوګنړل (ولے چه ددے نه څه فائده نشته دے تپوس كونكى ته نه معلوميږى چه څوك دے ؟ ياخوخپل نوم خودل يالقب كوم چه مشهور وى بيان كړى۔

بَابُ تَحْرِيْمِ النَّظْرِفِىْ بَيْتِ غَيْرِهٖ۔

پردى كورته په سوروكښې كتل حرام دى۔

(۵۶۳۸) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدِنِ السَّاعِدِىِّ اَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ فِىْ جُحْرٍ فِىْ بَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مِدْرًى يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ فَلَمَّا رَاٰهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْاَعْلَمُ اَنَّكَ تَنْظُرُنِيْ لَطَعَنْتُ بِهٖ فِيْ عَيْنِكَ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا جُعِلَ الْاِذْنُ مِنْ اَجْلِ الْبَصَرِ.

ترجمه: دسهل بن سعد ساعدیؓ نه روایت دے چه یو سړی درسول الله ﷺ ددروازے په سوری کښے کتل اوحضرت ﷺ په لاس مبارك کښے دشاګره ولو آله وه، حضرت ﷺ په هغے سره خپل سر ګرولو، هرکله چه حضرت ده لره اولیدونواوئے فرمائیل که زۀ خبرو ے چه ته ماته ګورے نو مابه ستاسترګه ویستلے وه، اوحضرت ﷺ اوفرمائیل چه "اذن یعنی اجازت غوښتل ددے دپاره دی چه سترګے اونه لګی "(پردی کورته په کتلوسره کوم چه حرام دی)

(۵۲۳۹) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اِطَّلَعَ مِنْ حُجْرٍ فِيْ بَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَدْرًى يُرَجِّلُ بِهٖ رَأْسَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْاَعْلَمُ اَنَّكَ تَنْظُرُ طَعَنْتُ بِهٖ فِيْ عَيْنِكَ اِنَّمَا جَعَلَ اللّٰهُ الْاِذْنَ مِنْ اَجْلِ الْبَصَرِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم هغه ده کومه چه پورته تیره شوه په دے کښے دادی چه حضرت ﷺ په هغے سره خپل سرګومنز کولو۔

(۵۲۴۰) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيْثِ اللَّيْثِ وَيُوْنُسَ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۲۴۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اِطَّلَعَ مِنْ بَعْضِ حُجَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ عَلَيْهِ بِمِشْقَصٍ اَوْمَشَاقِصَ فَكَاَنِّيْ اَنْظُرُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْتِلُهُ لِيَطْعَنَهُ.

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو سړی کتل درسول الله ﷺ دمکان په سوری کښے حضرت ﷺ یو غشے یو څو غشی واخستل اوپاڅیدو لکه چه زه وینم حضرت ﷺ لره حضرت ﷺ غوښتله چه په غفلت کښے زه ده لره په غشی اوخیرم۔

(۵۲۴۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اطَّلَعَ فِيْ بَيْتِ قَوْمٍ بِغَيْرِ اِذْنِهِمْ فَقَدْ حَلَّ لَهُمْ اَنْ يَفْقَؤُا عَيْنَهُ.

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خوك چه خارنه کوی دیو قوم پکور کښې بغیر د هغوئ داجازت نه نو هغوئ لره حلال دی د هغه سترګه خیرل.

فائده: یعنی کچرے هغه په غشی وغیره هغه اوولی او د هغه سترګه اوچوی، نو په کورو الاؤ باندے به څه سزا نه وی.

(۵۶۴۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْاَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ عَلَیْکَ بِغَیْرِ اِذْنٍ فَخَذَفْتَهُ بِحَصَاةٍ فَفَقَأْتَ عَیْنَهُ مَاکَانَ عَلَیْکَ مِنْ جُنَاحٍ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی که چرے یو کس اوګوری ستاسو په کورکښې بغیر ستاسو داجازت نه اوتاسو اوولئ هغه لره او د هغه سترګه اوچوی، نو په تاسو باندے څه ګناه نشته دے.

بَابُ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ

د ناڅاپه نظر پریوتلو بیان

(۵۶۴۴) عَنْ جَرِیْرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ فَاَمَرَنِیْ اَنْ اَصْرِفَ بَصَرِیْ. [ابو داود، ترمذی]

ترجمه: د جریر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه د ناڅاپه نظر پریوتو په باره کښې تپوس اوکړو، حضرت ﷺ حکم اوکړو ما ته د نظر اړولو.

فائده: یعنی کچرے په ناشنابنځه باندے ناڅاپه بے ارادے نه نظر اولګی نو ګناه نه دے لیکن په دغه وخت واجب دی نظر فورا اړول. بیا کچرے قصدا اوګوری نو ګنهګار به شی.

نووی علیه الرحمة وائی د دے حدیث نه دامعلومه شوه چه ښځے لره په لاره کښې خپل مخ پټول واجب نه دی. بلکه سنت او مستحب دی. لیکن سړو لره خپل نظر ښکته ساتل پکار دی. البته د ضرورت په وجه سره لیدل درست دی. لکه ګواهی یادوائی علاج کول یادپیغام ورکولو په صورت کښې یاد آخستلو په وخت یاد معاملے کولو په وخت او دا هم په قدر د حاجت نه زیات. انتهی.

په قران کریم کښې الله جل شانه خطاب کړے دے مؤمنانو سړوته اوښځوته چه "اووایه اے پیغمبره ﷺ مؤمنانو ته چه خپل نظرونه ښکته اوساتی اودخپلوشرمګاهونو حفاظت اوکړی، اووایه مسلمانانو ښځوته چه خپل نظرونه ښکته اوساتئ اودخپلو شرمګاهونو حفاظت اوکړئ یعنی خپل ځانونه دحرام کارئ نه بچ اوساتئ، افسوس چه نن وخت په بازارونو اوکلوادیروکښې چه کومه ازادی اوفحاشی ده دومره به په مغربی خلقوکښې هم نه وی لوبیا ځان ته مسلمانان اودایمان خاوندان هم وائی، داسراسر دایمان په جامه کښې دقران اواسلام بے حرمتی ده، الله دی امان راکړی امین۔ (مترجم پښتو)

(۵۶۴۵) عَنْ يُوْنُسَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆

كِتَابُ السَّلَام

کتاب د ے په بیان دسلام کښ

﴿بَابُ يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِي وَالْقَلِيْلُ عَلَى الْكَثِيْرَةِ.﴾

سوربه په پیدل سلام کوی اولږکسان به په ډیرو سلام کوی۔

(۵۶۴۶) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالىٰ عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِىْ وَالْمَاشِىْ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيْلِ عَلَى الْكَثِيْرِ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، "سلام به کوی سورپه پیدل باندے اوپیدل تلونکے به سلام کوی په ناست باندے اولږ کسان به سلام کوی په ډیروباندے۔

فائده: نووی وئیلی دی سلام کول سنت دی اودهغے جواب ورکول واجب دی لیکن داواجب په طریقه دکفایه دی یعنی که په مجلس کښے څوکسانو جواب ورکړو نودتولو دطرفنه کافی کیږی، اوکه چرے یو هم جواب ورنه کړو نوټول ګنهګارږی. اوغوره داده چه داسے سلام اوکړی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته بیاددے نه پس السلام علیکم ورحمة الله، بیاالسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته" فقط اوسلام علیکم، وئیل هم درست دی، اوپه شروع کښے علیکم السلام وئیل مکروه دی، په جواب کښے هم وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته وئیل غوره دی، اوپه حذف دواؤ علیکم السلام وئیل هم درست دی، اوصرف علیکم، جائز نه دی، البته په وعلیکم کښے دوه قولونه دی، اوسلام دالله جل جلاله نوم دے، نومعنی دالسلام علیکم داده چه دالله تعالی په حفاظت کښے شے، یاسلام په معنی کښے دسلامتئ ده، یعنی ته سلامت اوسیږه۔ انتهی مختصراً).

بَابٌ مِنْ حَقِّ الْجُلُوْسِ عَلَى الطَّرِيْقِ رَدُّالسَّلَامِ۔

په لاره کښے دناستوحق دادے چه دسلام جواب ورکړی۔

(۵۶۴۷) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ اَبِىْ طَلْحَةَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ قَالَ اَبُوْطَلْحَةَ كُنَّا قُعُوْدًا بِالْاَفْنِيَةِ نَتَحَدَّثُ فَجَآءَ رَسُوْلُ اللهِ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ عَلَيْنَا فَقَالَ مَالَكُمْ وَلِمَجَالِسِ الصُّعُدَاتِ فَقُلْنَا إِنَّمَا قَعَدْنَا لِغَيْرِ مَابَاسٍ قَعَدْنَا نَتَذَاكَرُ وَنَتَحَدَّثُ فَقَالَ إِمَّا لَافَأَدُّوْا حَقَّهَا غَضُّ الْبَصَرِ وَرَدُّ السَّلَامِ وَحُسْنُ الْكَلَامِ.

ترجمه: دعبدالله بن ابی طلحة نه روایت دے وائی چه مونږ ناست وو دکور مخے ته چه کومه زمکه وی په هغے کښې خبرے موکولے چه په دے کښې رسول الله ﷺ تشریف راورو، حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسولره په لاره کښې دکیناستونه څه مطلب دے؟ مونږ عرض اوکړو یارسول الله ﷺ مونږ دڅه بدکاردپاره نه یوناست بلکه مونږ ناست یو چپ دآخوا دیخوا ذکرکوو، اوخبرے موکولے، حضرت ﷺ اوفرمائیل ښه ده چه نه منئ نوددے (لارے) حق اداکوئ، هغه څه دے سترګے ښکته ساتل (اودپردوښځو په طرف بدنظرنه کول) اودسلام جواب ورکول اوښے خبرے کول (په کومو چه خلق خوشحالیږی اودهغے نه ورته فائده رسی).

(۵۶۴۸) عَنْ أَبِي سَعِيدِالْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ فِي الطُّرُقَاتِ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ مَالَنَابُدٌّ مِّنْ مَّجَالِسِنَا نَتَحَدَّثُ فِيْهَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَاأَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوْا الطَّرِيْقَ حَقَّهُ قَالُوْا وَمَاحَقُّهُ قَالَ غَضُّ الْبَصَرِ وَكَفُّ الْأَذَىٰ وَرَدُّ السَّلَامِ وَالْأَمْرُبِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ.

ترجمه: دابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "ځان اوساتئ په لاروکښې دکیناستو نه، خلقواووے یارسول الله ﷺ! مونږ ته په خپلو مجلسونوکښې دکیناستو نه اوخبرو کولونه مجبوری ده، حضرت ﷺ اوفرمائیل کچرے تاسونه منئ نودلارے حق اداکوئ، هغوئ عرض اوکړو دلارے حق څه دے؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل "سترګے ښکته ساتل اوچاته ضررنۀ ورکول اودسلام جواب ورکول دښے خبرے حکم کول اودبدے خبرے نه منع کول".

(۵۶۴۹) عَنْ زَيْدِابْنِ أَسْلَمَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده.

بَابٌ مِّنْ حَقِّ الْمُسْلِمِ لِلْمُسْلِمِ رَدُّ السَّلَامِ

دمسلمان حق دا هم دے دسلام جواب ورکول.

(۵۶۵۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَمْسٌ تَجِبُ لِلْمُسْلِمِ عَلٰی اَخِیْهِ رَدُّ السَّلَامِ وَتَشْمِیْتُ الْعَاطِسِ وَاِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَعِیَادَةُ الْمَرِیْضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ کَانَ مَعْمَرٌ یُرْسِلُ هٰذَا الْحَدِیْثَ عَنِ الزُّهْرِیِّ فَاَسْنَدَهٗ مَرَّةً عَنِ ابْنِ الْمُسَیَّبِ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "پنځه حقونه دی دمسلمان دهغه په رور مسلمان باندے، دسلام جواب ورکول اودپرنجی جواب ورکول اودعوت قبلول ،اودبیمار خبرګیر کول اوجنازے سره تلل"۔

(۵۶۵۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَی الْمُسْلِمِ سِتٌّ قِیْلَ مَا هُنَّ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اِذَا لَقِیْتَهٗ فَسَلِّمْ عَلَیْهِ، وَاِذَا دَعَاکَ فَاَجِبْهُ وَاِذَا اسْتَنْصَحَکَ فَانْصَحْ لَهٗ وَاِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللّٰهَ فَشَمِّتْهُ وَاِذَا مَرِضَ فَعُدْهُ وَاِذَا مَاتَ فَاتَّبِعْهُ".

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، دمسلمان حق په مسلمان باندے شپږ دی، خلقوعرض اوکړوخه دی، یارسول الله ﷺ! حضرت ﷺ اوفرمائیل هرکله چه ته دمسلمان سره میلاویږی نوپه هغه سلام کوه، او هرکله چه هغه تاله دعوت درکړی نوته ئے قبلوه، او هرکله چه ستانه مشوره طلب کړی نوبنه مشوره ورکوه، او هرکله چه هغه اوپرنجیږی اوالحمدلله اووائی نوته هم جواب ورکړه (یعنی یرحمك الله اووایه) او هرکله چه هغه ناجوړه شی نوتپوس ئے کوه، او هرکه چه مړشی نو دهغه دجنازے سره ځه"۔

بَابُ النَّهْیِ عَنِ ابْتِدَاءِ اَهْلِ الْکِتَابِ بِالسَّلَامِ وَکَیْفَ یُرَدُّ عَلَیْهِمْ

یهود اونصاری ؤ ته به پخپله سلام نه کوے ځکه چے هغه اوکړی نوځنګه جواب به ورکوے دهغے بیان

(۵۶۵۲) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا سَلَّمَ عَلَیْکُمْ اَهْلُ الْکِتَابِ فَقُوْلُوْا وَعَلَیْکُمْ. [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "هرکله چه تاسوته اهل کتاب سلام اوکړی نوتاسو دهغے په جواب کښے وعلیکم" وایئ".

(۵۶۵۳) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ اَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَهْلَ الْكِتَابِ يُسَلِّمُوْنَ عَلَيْنَا فَكَيْفَ نَرُدُّ عَلَيْهِمْ فَقَالَ قُوْلُوْا وَعَلَيْكُمْ.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اصحابو حضرت ﷺ ته عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ! اهل کتاب مونږ ته سلام کوی مونږ به څنګه دهغے جواب ورکوو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل وعلیکم وایئ.

(۵۶۵۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الْيَهُوْدَ اِذَا سَلَّمُوْا عَلَيْكُمْ يَقُوْلُ اَحَدُهُمُ السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقُلْ عَلَيْكَ. [ترمذی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، یهود چه هرکله تاسوته سلام کوی نوپه هغوئ کښے یووائی، "السَّامُ عَلَيْكُمْ" (یعنی په تاسودی سام (یعنی مرګ) راشی نوتاسو وایئ "وَعَلَيْكَ" (یعنی په تاسودی راشی).

(۵۶۵۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ فَقُوْلُوْا وَعَلَيْكُمْ. [بخاری]

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده.

(۵۶۵۶) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتِ اسْتَأْذَنَ رَهْطٌ مِّنَ الْيَهُوْدِ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَاللَّعْنَةُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةُ اِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْاَمْرِ كُلِّهِ قَالَتْ اَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوْا قَالَ قَدْ قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ.

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه یهودو درسول الله ﷺ خوالے دراتلو اجازت اوغوښتو، (هغوئ ﷺ اجازت ورکړو هغه راغلو) هغوئ اووے السام علیکم حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها اووے په جواب کښے پتاسودی سام وی اولعنت، رسول الله ﷺ اوفرمائیل !اے عائشے رضی الله تعالی عنها الله جل جلاله په

هرکار کښې نرمي غوره کوی " هغوی اووے یارسول الله ﷺ تاوانه وریدل څه چه هغوئ اووے، حضرت ﷺ اوفرمائیل ماخودهغې جواب ورکړو اووعلیکم می اووے ، (بس دومره قدرے جواب کافي وو اوتا چه کوم جواب ورکړو دهغے نه زیات سخت وو، اودغسے سختي الله تعالی ته غوره نه ده ۔)

(۵۶۵۷) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَفِيْ حَدِيْثِهِمَا جَمِيْعًا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْقُلْتُ عَلَيْكُمْ وَلَمْ يَذْكُرِ الْوَاوَ. [بخاری]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده ،په دے کښے علیکم بغیردواو نه دے۔

(۵۶۵۸) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُنَاسٌ مِّنَ الْيَهُوْدِ فَقَالُوْا السَّامُ عَلَيْكَ يَااَبَا الْقَاسِمِ قَالَ وَعَلَيْكُمْ قَالَتْ عَآئِشَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَاقُلْتُ بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَالذَّامُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاعَآئِشَةُ لَاتَكُوْنِيْ فَاحِشَةً فَقَالَتْ مَاسَمِعْتَ مَاقَالُوْا فَقَالَ اَوَلَيْسَ قَدْرَدَدْتُ عَلَيْهِمُ الَّذِيْ قَالُوْا قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ. [ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ لره څو یهودیان راغلو هغوئ اووے "السَّامُ عَلَيْكُمْ يَااَبَا الْقَاسِمِ " ،حضرت ﷺ لوفرمائیل وعلیکم حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها اووے، "بَلْ عَلَيْكُمُ السَّامُ وَالذَّامُ" یعنی په تاسو باندے دی مرگ وی اوبدوالے، رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے عائشے بدزبانه کیږه مه، هغوی اووے تاسو وانه وریدل یهودو چه څه اووے، حضرت ﷺ اوفرمائیل ماواؤریدو هغوئ چه څه اووے، اولے ماجواب ورنه کړو هغوئ چه څه وئیلي دی هغه مې په هغوئ باندے واپس ورکړو۔

(۵۶۵۹) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ فَفَطِنَتْ بِهِمْ عَآئِشَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَسَبَّتْهُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْ يَاعَآئِشَةُ فَاِنَّ اللهَ لَايُحِبُّ الْفُحْشَ وَالتَّفَحُّشَ وَزَادَ فَاَنْزَلَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ وَاِذَاجَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَالَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللهُ اِلٰى اٰخِرِالْاٰيَةِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته تیرشوی حدیث پشان ده، په دے کښے دادی چه حضرت عائشه رضي الله تعالی عنه دهغوئ په خبره پوهه شوه نو کنځل ئے ورته اوکړو، رسول الله ﷺ هغے ته

اوفرمائیل صبر کوه اے عائشےؓ الله تعالی بدزبانولره نه غوره کوی " پس الله پاك جل جلاله داایت نازل کړلو، "وَاِذَاجَآءُوْکَ حَیَّوْکَ بِمَالَمْ یُحَیِّکَ بِهِ اللهُ" یعنی هرکله چه هغه ستاسو خواله راځی نو په داسے طریقه سره سلام کوی چه داسے الله جل جلاله نه دے سلام کړے تاسو ﷺ ته۔

(۵۶۵۹) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ نَاسٌ مِّنَ الْیَهُوْدِ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ السَّامُ عَلَیْکَ یَااَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ وَعَلَیْکُمْ فَقَالَتْ عَآئِشَةُ وَغَضِبَتْ اَلَمْ تَسْمَعْ مَاقَالُوْا قَالَ بَلٰی قَدْسَمِعْتُ فَرَدَدْتُ عَلَیْهِمْ وَاِنَّا نُجَابُ عَلَیْهِمْ وَلَایُجَادِلُوْنَ عَلَیْنَا.

ترجمه: دجابربن عبداللهؓ نه روایت دے وائی چه دیهودو څه خلقورسول الله ﷺ ته سلام اوکړو نواوئے وئیل "اَلسَّامُ عَلَیْکُمْ یَآاَبَا الْقَاسِمِ" حضرت ﷺ اوفرمائیل وعلیکم ! حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها په غصه شوه اواوئے وئیل اے تاوانه وریده دوئ وینا، حضرت ﷺ اوفرمائیل ماواوریده، اودهغے جواب هم ورکړو اومونږ چه کومه دعا کوؤ په دوئ باندے هغه قبلیږی اودوئ دعانه قبلیږی، (دغه شان اوشوه چه الته سام په یهودو باندے راغے مره شو اواووژلے شو)

(۵۶۶۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاتَبْدَئُوْا الْیَهُوْدَ وَلَاالنَّصَارٰی بِالسَّلَامِ وَاِذَالَقِیْتُمْ اَحَدَهُمْ فِیْ طَرِیْقٍ فَاضْطَرُّوْهُ اِلٰی اَضْیَقِهٖ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "یهود اونصری ؤ ته دخپل طرف نه سلام مه کوئ اوهرکله چه تاسو دیویهودی یانصرانی سره په لاره کښے میلاؤ شی نو هغه مجبوره کوئ تنګے لارے ته۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی زمونږ داصحابوؒ داقول دے چه ذمی کافر به دلارے په مینځ باندے تلو ته نه شی پریخودے بلکه په یوه کونه کښے په تنګه لاره به ځی، کچرے مسلمانان په دغه لاره باندے چلیږی، اوکچرے ګڼړه نه وی نوپرواه نشته، مګردتنګولو نه دامطلب نه دے چه هغه په کډه کښے اوغورځوی، یاددیوال سره ورله دکه ورکړی۔

اواختلاف کړے دے عالمانو کافرانوته په سلام کولو کښے زمونږ مذهب دادے چه دشروع نه هغوئ ته سلام کول حرام دی، اوکچرے هغه اوکړی نوپه جواب کښے ورته صف وعلیکم وایئ، اودغه قول دے دعامو علماؤ اوسلفو۔

او دَ یو طائفې داقول دے چه اهل کتابو ته ابتداء سلام کول درست دی، اودغه منقول دی دعبدالله بن عباس اوابی امامه اوابن ابی محیریز نه، اوپه کوم جماعت کښې چه مسلمانان اوکافران دواړه وی، هغه جماعت ته سلام کول درست دی، لیکن نیت به کوی مسلمانانو ته دسلام کولو۔ (انتهی مختصرا)

(۵۶۶۲) عَنْ سَهْلٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَفِیْ حَدِیْثِ وَکِیْعٍ اِذَالَقِیْتُمُوْا الْیَهُوْدَ وَفِیْ حَدِیْثِ ابْنِ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ فِیْ اَهْلِ الْکِتَابِ وَفِیْ حَدِیْثِ جَرِیْرٍ اِذَالَقِیْتُمُوْهُمْ وَلَمْ یُسَمِّ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِکِیْنَ. [ابو داود]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ السَّلَامِ عَلَی الصِّبْیَانِ۔

په بچوباندے سلام کول مستحب دی۔

(۵۶۶۳) عَنْ اَنَسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَرَّعَلٰی غِلْمَانٍ فَسَلَّمَ عَلَیْهِمْ. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ تیرشولوپه بچوباندے نوسلام ئے اوکړو هغوئ ته۔

(۵۶۶۴) عَنْ سَیَّارٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم ددے پورته پشان ده۔

(۵۶۶۵) عَنْ سَیَّارٍ قَالَ کُنْتُ اَمْشِیْ مَعَ ثَابِتِ نِ الْبُنَانِیِّ فَمَرَّبِصِبْیَانٍ فَسَلَّمَ عَلَیْهِمْ فَحَدَّثَ ثَابِتٌ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَمَرَّبِصِبْیَانٍ فَسَلَّمَ عَلَیْهِمْ وَحَدَّثَ اَنَسٌ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهٗ کَانَ یَمْشِیْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَمَرَّبِصِبْیَانٍ فَسَلَّمَ عَلَیْهِمْ.

ترجمه: دسیار نه روایت دے وائی چه زهٔ دثابت بنانی سره روان وم، هغه تیرشوپه بچوباندے نوسلام ئے اوکړو هغوئ ته، اوحدیث ئے بیان کړو چه هغه دانس سره روان وو په بچوباندے راغے نوسلام ئے اوکړو، اوانس حدیث بیان کړو دے چه هغه درسول الله ﷺ سره روان وو چه په ماشومانو باندے تیرشو نوسلام ئے اوکړو هغوئ ته۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی ددے حدیث نه دامعلومه شوه چه بچی تمیزلری نو هغوئ ته

سلام کول مستحب دی، اوبیان دے پکښې درسول الله ﷺ دتواضع اونکسارئ، دغه شان ښځوته هم سلام کول پکار دی که چرې هغه ځوتنه جمع وی، اوکچرے یوه ښځه وی نودهغے خاوند یاسید یامحرم به ورته سلام کوی، اوکه هغه ښځه بوډئ وی نوپردے سړے ورته هم سلام کولے شي، اوکه ځوانه وی نوپردے سړے به ورته سلام نه کوی، بلکه هغے له جواب ورکول هم مکروه دی۔ (انتهٰی مختصرًا)

بَابُ جَوَازِ جَعْلِ الْاِذْنِ رَفْعَ حِجَابٍ اَوْغَيْرِهٖ مِنَ الْعَلَامَاتِ۔

داذن غوښتلو دپاره دپردے اوچتولو یادنورو علاماتو بیان۔

(۵۶۶۶) عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذْنُكَ عَلَيَّ اَنْ يُّرْفَعَ الْحِجَابُ وَاَنْ تَسْمَعَ سِوَادِيْ حَتّٰى اَنْهَاكَ. [ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نه رویت دے وائی چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل "ستادپاره دراتلو اجازت هم دے، چه ته پرده اوچته کړے اوزمادراز خبرے واورے دکومے پورے چه زه تالره نه منع کوم"۔

فائده: عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه دحضرت ﷺ خادم وو، هرکله چه په قران کښے داحکم راغے چه دحضرت ﷺ کورته به خلق بے اجازته نه ورځی، نوحضرت ﷺ هغوئ ته داحدیث اوفرمائیلو، یعنی تاته بار بار داجازت غوښتلو ضرورت نشته ځکه چه په کار خدمت کښے به درته گرانه وی، ستاپرده اوچتول اوزمانه منع کول هم داجازت نښه ده، پس هریوبنده لره دعام وخاص دپاره داسے نشانی مقررول درست دی۔

(۵۶۶۷) عَنِ الْحَسَنِ ابْنِ عُبَيْدٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

بَابُ اِبَاحَةِ الْخُرُوْجِ لِلنِّسَآءِ لِقَضَآءِ حَاجَةِ الْاِنْسَانِ۔

ښځولره دضروری حاجت دپاره بهروتل درست دی۔

(۵۶۶۸) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا بَعْدَمَا ضُرِبَ عَلَيْنَا

الْحِجَابُ لِتَقْضِيَ حَاجَتَهَا وَكَانَتِ امْرَأَةً جَسِيمَةً تَفْرَعُ النِّسَاءَ لَا تَخْفَى عَلَى مَنْ يَعْرِفُهَا فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تعالى عنه فَقَالَ يَا سَوْدَةُ وَاللهِ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا فَانْظُرِي كَيْفَ تَخْرُجِينَ قَالَتْ فَانْكَفَأَتْ رَاجِعَةً وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي إِنَّهُ لَيَتَعَشَّى وَفِي يَدِهِ عَرْقٌ فَدَخَلَتْ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي خَرَجْتُ فَقَالَ لِي عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ كَذَا وَكَذَا قَالَتْ فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ وَإِنَّ الْعَرْقَ فِي يَدِهِ مَا وَضَعَهُ فَقَالَ إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ يَفْرَعُ النِّسَاءَ جِسْمُهَا زَادَ أَبُو بَكْرٍ فِي حَدِيثِهِ فَقَالَ هِشَامٌ يَعْنِي الْبَرَازَ. [بخاری]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی هرکله چه مونږ ته دپردے حکم اوشود هغے نه پس حضرت سوده رضی الله تعالی عنها دحاجت دپاره ووتله. او هغه یوه غټه ښځه وه، چه په ټولو ښځوکښے وتلے ښکاریده، په ګورب والی کښے، اوچا چه به هغه پیژندله، دهغه نه به نه شوه پټیدے، (یعنی هغه به پیژندله) نو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه هغه اولیده، اوورته ئے اووے اے سوده﷜ قسم دے په الله تعالی باندے چه ته خپل ځان زمونږ نه پټلے نۀ شے ځکه پوه شه ته څنګه راوتلے ئے، ددے په اوریدو هغه واپس راغله اورسول الله ﷺ زما په کورکښے طعام خوړلو، دحضرت ﷺ په لاس کښے یو هډوکے وو، چه په دے کښے سوده﷜ راغله، او هغے اووے یارسول الله ﷺ! زه وتلی وم نو عمر﷜ راته داسے داسے خبرے اوکړے، دغه وخت په حضرت ﷺ باندے دوحی حالت راغے، بیا هغه حالت لاړو، او هډوکے لا دحضرت ﷺ په لاس کښے وو حضرت ﷺ هغے لره ایخودے نه وو، حضرت ﷺ اوفرمائیل تاسو ته دضروری حاجت دپاره دوتلو اجازت اوشولو هشام﷫ وائی دحاجت نه مراد دلویو یه لره حاجت دے.

فائده: نووی علیه الرحمة وائی ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه ښځه دقضائے حاجت دپاره یو معمول مقام ته بغیر دخاوند داجازت نه تللے شی.

قاضی عیاض﷫ وئیلی دی دا قسم حجاب یعنی پرده دحضرت ﷺ دبیبیانو﷢ سره سره خاص وه چه په هغے کښے دمخ اوورغو هم دننه ښکاره کیدو حکم وو، او هغوئ لره په کپړه کښے دننه هم خپله جوثه خودل درست نه وو، مګر دضروری حاجت دپاره، او هرکله چه حضرت زینب

وفات شوله نو دغې په نعش باندې ئې یوه قبه غونډې جوړه کړې وه، ددې دپاره چه ددې جثه نه معلومیږی۔

(۵۶۶۹) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ وَكَانَتِ امْرَأَةً يَفْرَعُ النَّاسَ جِسْمُهَا وَقَالَ إِنَّهُ لَيَتَعَشَّى.

ترجمه: ترجمه ددې هم دپورته پشان ده۔

(۵۶۷۰) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ. [بخاری]

ترجمه: ددې ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۶۷۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا أَنَّ أَزْوَاجَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ اِذَا تَبَرَّزْنَ اِلَى الْمَنَاصِعِ وَهُوَ صَعِيْدٌ اَفْيَحُ وَكَانَ عُمَرُ ابْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْجُبْ نِسَآءَكَ فَلَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ فَخَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً مِّنَ اللَّيَالِيْ عِشَآءً وَّكَانَتِ امْرَأَةً طَوِيْلَةً فَنَادَاهَا عُمَرُ اَلَا قَدْ عَرَفْنَاكِ يَاسَوْدَةُ حِرْصًا عَلٰى اَنْ يُّنْزَلَ الْحِجَابُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَاَنْزَلَ الْحِجَابُ. [بخاری]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دې چه درسول الله ﷺ بيبيانې بنـه دشپې وتـلې هركلـه چه به پاخانې له تللې، دغه مقامونو په طرف چه دمدينې نه بهررو، اوپـه صـفـاكـهـولاؤ ځائې كښې وو، حضرت عمررضی الله تعالی عنه رسول الله ﷺ ته اووې خپلې ښځې په پرده كښې ساتې، حضرت ﷺ به دپردې حكم نه وركوؤ يو ځل دمؤمنانو مور سوده بنت زمعهٔ دشپې را اووته دماسختن په وخت هغه يوه دنګه لوړه ښځه وه حضرت عمرؓ هغې نـه اواز ورکـړو اوورتـه ئې اووې مونږ اوپيژندې ته اې سودهٔ بن زمعهٔ اودائې په دې حرص اوكړو چه دپردې حكم نازل شي، حضرت عائشهٔ وائي بيادپردې حكم نازل شولو۔

(۵۶۷۲) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ.

ترجمه: ترجمه ددې هم دپورته پشان ده۔

بَابُ تَحْرِيْمِ الْخَلْوَةِ بِالْاَجْنَبِيَّةِ وَالدُّخُوْلِ عَلَيْهَا۔

دېرش ښځې سره ځان له کېدل اودهغې خواله تلل حرام دي.

(۵۶۷۳) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا لَا يَبِيْتَنَّ رَجُلٌ عِنْدَ امْرَاَةٍ ثَيِّبٍ اِلَّا اَنْ يَكُوْنَ نَاكِحًا اَوْذَامَحْرَمٍ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "خبر دار یوسړے دې یواځې دیوے واده شوے جینۍ په، خواه کنبے دشپے نه پاتے کیږی، مګر داچه دهغے ښځے خاوند یامحرم وی.

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی، دواده شوے جینۍ قید ئے ددے دپاره لولګولو چه ناواده شوے جینۍ خودسرونه خامخا ځانله اوسیږی، اوهرکله چه دواده شوے سره یو ځائے اوسیدل منع شو نودناواده سره اوسیدل خوبه په طریق اولی منع وی، اودمحرم نه مراد هغه سړے دے چه دهغه سره همیشه دپاره نکاح حرام وی، لکه پلار رو، تره، ماما، نیکه وغیره.

(۵۶۷۴) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِيَّاكُمْ وَالدُّخُوْلَ عَلَى النِّسَاءِ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَرَاَيْتَ الْحَمْوَ قَالَ الْحَمْوُ الْمَوْتُ.

[بخاری]

ترجمه: دعقبه بن عامر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بچ شئ تاسو دښځو خواله دتللو نه "یو انصاری" اووے یارسول الله ﷺ کچرے لیور لارشی حضرت ﷺ اوفرمائیل لیور خو مرګ دے".

فائده: ولے چه لیور په ورندار تسلط کولے شی، نودغه نه ځان ساتل ډیر ضروری دی، زمونږ په ملك کنبے دابدرسم عام دے ښځے اکثر دخپلو لیورونو اولیورزو په مخکنبے راوځی اودمحرم پشان دهغوئ په مخکنبے خپل اندامونه کهولاؤ ساتی، دازیات قبیح اوخوفناك کار دی.

(۵۶۷۵) عَنْ يَزِيْدَ ابْنِ اَبِيْ حَبِيْبٍ حَدَّثَهُمْ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده.

(۵۶۷۶) عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ وَسَمِعْتُ اللَّيْثَ ابْنَ سَعْدٍ يَقُوْلُ الْحَمْوُ اَخُ الزَّوْجِ وَمَااَشْبَهَهُ مِنْ اَقَارِبِ

الزَّوْجِ ابْنِ الْعَمِّ وَنَحْوِهِ.

ترجمه: دوهبؒ نه روایت دے وائی چه مادلیث بن سعدؒ نه اوریدلی دی چه په حدیث کښے چه کوم راغلے دی چه حمو مرګ دے، نو دحمونه مراد دخاوند خپلوان اوعزیزان دی، لکه دخاوند رور یاد هغه دتره ځوئ (دخاوند دکومو عزیزانو سره چه دښځے نکاح کول درست وی هغه تول په حمو کښے داخل دی دهغے نه پرده کول پکار دی، سوا دخاوند دپلار یادنیکه نه یادهغه دځوئ نه چه هغه محرم دی، پرده تر ے ضروری نه ده).

(۵٦۷۷) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرِو ابْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ حَدَّثَهُ اَنَّ نَفَرًا مِّنْ بَنِيْ هَاشِمٍ دَخَلُوْا عَلٰى اَسْمَآءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَدَخَلَ اَبُوْبَكْرِ نِ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهِيَ تَحْتَهُ يَوْمَئِذٍ فَرَاٰهُمْ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ لَمْ اَرَ اِلَّا خَيْرًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ لَايَدْخُلَنَّ رَجُلٌ بَعْدَيَوْمِيْ هٰذَا عَلٰى مُغِيْبَةٍ اِلَّا وَمَعَهُ رَجُلٌ اَوِ اثْنَانِ.

ترجمه: دعبدالله بن عمرو ابن العاص رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دبنی هاشم څه خلق داسماء بنت عمیسؓ خواله لاړو، ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه هم راغے، دغه وخت اسماء دهغوئ په نکاح کښے وه، هغوئؓ چه هغه اولیدل نو دهغوئ راتلل ئے بداوګنړل بیائے رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو اوئے وئیل چه ماخو څه بده خبره نه ده لیدلی، حضرت ﷺ اوفرمائیل اسماءؓ لره الله پاك پاکه کړے ده دبدفعل نه بیارسول الله ﷺ په منبرباندے لودریدو اوئے فرمائیل، دنن نه به یوسړے دهغه ښځے کورته نه ځی، چه دهغے خاوند غائب وی، (یعنی په کورکښے نه وی) مکر دیویادوه ملګرو سره.

فائده: نووی علیه الرحمة وائی دظاهر حدیث نه دامعلومیږی چه دوه یادرے سړی دښځے سره خلوت کولے شی، لیکن مشهور قول زمونږ داصحابو په نزد دادے چه هغه هم حرام دی، اودحدیث تاویل داسے کیدے شی چه مراد هغه خلق دی، چه نیك اوصالح وی.

﴿ بَيَانِ اَنَّهُ يَسْتَحِبُّ لِمَنْ رَّاٰى خَالِيًا بِامْرَاَةٍ وَّكَانَتْ زَوْجَتَهُ اَوْمَحْرَمًا لَّهُ اَنْ يَّقُوْلَ هٰذِهٖ فُلَانَةٌ لِيَدْفَعَ ظَنَّ السُّوْءِ. ﴾

څوک چه د يوې ښځې سره په خلوت کښې وی او بل بنده ئې اووينی نومخه ته دی اووائی چه ځما بی بی ده يامی محرمه ده د دې دپاره چه هغه بدګمانه نه شی.

(۵۶۷۸) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مَعَ اِحْدٰی نِسَائِهٖ فَمَرَّ بِهٖ رَجُلٌ فَدَعَاهُ فَقَالَ يَافُلَانُ هٰذِهٖ زَوْجَتِیْ فُلَانَةُ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ مَنْ كُنْتُ اَظُنُّ بِهٖ فَلَمْ اَكُنْ اَظُنُّ بِكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِیْ مِنَ الْاِنْسَانِ مَجْرَی الدَّمِ. [ابوداود]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ دخپلے يوے بی بی سره وو چه په دے کښې يو سړے مخے ته تيرشولو حضرت ﷺ هغه را اوغوښتو، هغه چه راغے نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل اے فلانيه دا زما بی بی ده، هغه سړی اووے يارسول الله ﷺ زه که په چا باندے ګمان کوم نو په تا باندے ګمان کولو والا نه يم حضرت ﷺ ورته اوفرمائيل، شيطان دانسان په بدن کښې داسے چليږی، لکه وينه چه چليږی، (نو شايد ستا په زړه کښې وسوسه واچوی چه پيغمبر ﷺ دپردئ ښځے سره روان دے).

(۵۶۷۹) عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَیٍّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِیُّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعْتَكِفًا فَاَتَيْتُهٗ اَزُوْرُهٗ لَيْلًا فَحَدَّثْتُهٗ ثُمَّ قُمْتُ لِاَنْقَلِبَ فَقَامَ مَعِیَ لِيَقْلِبَنِیْ وَكَانَ مَسْكَنُهَا فِیْ دَارِ اُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ فَمَرَّ رَجُلَانِ مِنَ الْاَنْصَارِ فَلَمَّا رَاٰيَا النَّبِیَّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰی رِسْلِكُمَا اَنَّهَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَیٍّ فَقَالَ سُبْحٰنَ اللهِ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ اِنَّ الشَّيْطٰنَ يَجْرِیْ مِنَ الْاِنْسَانِ مَجْرِیْ الدَّمِ وَاِنِّیْ اَنْ يَّقْذِفَ فِیْ قُلُوْبِكُمَا شَرًّا اَوْقَالَ شَيْئًا. [بخاری، ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دصيفه بنت حيیؓ نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ په اعتکاف کښې وو زه دشپے دهغوئ ﷺ دليدو دپاره راغلم، ما دحضرت ﷺ سره خبرے اوکړے بيا زه اودريدم دواپس راتلو دپاره، حضرت ﷺ هم ځما سره اودريدو زما کورته درسولو دپاره، ځما کور داسامه بن زيدؓ په مکان کښې وو، په لاره کښې دانصاروؓ يو دوه سړی ميلاؤ شو، هرکله چه هغوئ رسول الله ﷺ له اوليدو نو چاخ چاخ تلل ئے شروع کړو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل په قلاره قلاره ځئ،

داصفیه بنت حییؓ ده (دمؤمنانو مور) هغوئ دواړو اووے سبحن الله یارسول الله (یعنی مونږ په تاباندے بدگمانی کولے شو) حضرت ﷺ اوفرمائیل. شیطان دانسان په بدن کښے دوینی په شان گرځی، اوزه اوویریدم چه چرته ستاسو په زړه کښے بدخیان اونه غورځوی. (اودهغے په وجه تباه نه شی)

فائده: نووی علیه الرحمة وائی په پیغمبرانو باندے بدگمانی کول کفردے، اوددے حدیث نه دامعلومه شوه چه ښځه دخپل خاوند سره میلاویدے شی داعتکاف په حالت کښے دشپے یادورځی، لیکن دښځے سره ډیرکیښناستل اودهغے دخبرونه خوند حاصلول مکروه دی، په اعتکاف کښے۔ (انتهی مختصراً)

(۵٦٨٠) عَنْ عَلِیِّ ابْنِ حُسَیْنٍ اَنَّ صَفِیَّةَ زَوْجِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّهَا جَآءَتْ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَزُوْرُهُ فِیْ اِعْتِكَافِهٖ فِی الْمَسْجِدِ فِی الْعَشْرِ الْاَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ فَحَدَّثَتْ عِنْدَهُ سَاعَةً ثُمَّ قَامَتْ تَنْقَلِبُ فَقَامَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقْلِبُهَا ثُمَّ ذَكَرَ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ مَعْمَرٍ غَیْرَ اَنَّهُ قَالَ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الشَّیْطَانَ یَبْلُغُ مِنَ الْاِنْسَانِ مَبْلَغَ الدَّمِ وَلَمْ یَقُلْ یَجْرِیْ.

ترجمه: دعلی بن حسینؓ نه روایت دے چه دمؤمنانو دمور صفیےؓ دنبی ﷺ بی بیؓ هغه له خبر ورکړو، چه هغه درسول الله ﷺ خواله په حالت داعتکاف کښے درمضان په آخری لسو کښے په جماعت کښے زیارت له راغله، اوبیائے دځه وخته پورے دحضرت ﷺ سره خبرے اوکړے، بیاپاځیده دواپس تلودپاره، نبی ﷺ هم دهغے سره پاځیدو کورته درسولو دپاره، بیائے بیان کړو حدیث لره په مثل دمعمر دحدیث دومره فرق دے، چه رسول الله ﷺ چه "شیطان دانسان په بدن کښے دوینی ځائے ته رسی، اوپه دے کښے دگرځیدو ذکرنشته دے"۔

بَابُ مَنْ اَتٰی مَجْلِسًا فَوَجَدَ فُرْجَةً فَجَلَسَ فِیْهَا وَاِلَّا وَرَاءَ هُمْ۔

څوک چه یومجلس ته راشی اوپه صف کښے ځائے لوموی نوکیښنی دی اوکه ځائے نه وی نوورستودی کیښنی۔

(۵٦٨١) عَنْ اَبِیْ وَاقِدِنِ اللَّیْثِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَیْنَمَا هُوَجَالِسٌ فِیْ

الْمَسْجِدِ وَالنَّاسُ مَعَهُ إِذْ أَقْبَلَ نَفَرٌ ثَلَاثَةٌ فَأَقْبَلَ اثْنَانِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَهَبَ وَاحِدٌ قَالَ فَوَقَفَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَرَأَى فُرْجَةً فِي الْحَلْقَةِ فَجَلَسَ فِيهَا خَلْفَهُمْ وَأَمَّا الثَّالِثُ فَأَدْبَرَ ذَاهِبًا فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ عَنِ النَّفَرِ الثَّلَاثَةِ أَمَّا أَحَدُهُمْ فَأَوَى إِلَى اللهِ فَآوَاهُ اللهُ وَأَمَّا الْآخَرُ فَاسْتَحْيَى فَاسْتَحْيَى اللهُ مِنْهُ وَأَمَّا الثَّالِثُ أَعْرَضَ فَأَعْرَضَ اللهُ عَنْهُ. [بخاری ، ترمذی]

ترجمه: دابوواقد لیثی ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په جماعت کښے ناست وو اوخلق دحضرت ﷺ سره وو، په دے کښے درے سړی راغلو، دوه نیغ درسول الله ﷺ خواله راغلو، اوبولاړو، اوهغه دوه چه کوم راغلو، ددوئ نه یو په مجلس کښے خالی ځائے اوموندو نو هلته کیناستو اوهغه بل دخلقونه ورستو کیناستو اوهغه دریم خوپه شالاړو ، هرکله چه رسول الله ﷺ فارغ شولو نو اوئے فرمائیل زه تاسو ته دهغه دریو سړوحلا وایم، یو خوتهکانه واخسته دالله جل جلاه سره الله جل جلاله هغه ته ځائے ورکړو، اودویم شرم اوکړو (په خلقو کښے دننوتلو نه) الله هم دهغه نه شرم اوکړواوهغه دریم مخ واړوو، الله جل جلاله هم دغه نه مخ واړوو۔

(۵۶۸۲) عَنْ إِسْحٰقَ ابْنِ عَبْدِاللهِ ابْنِ أَبِيْ طَلْحَةَ حَدَّثَهُ فِيْ هٰذَا الْإِسْنَادِ بِمِثْلِهٖ فِي الْمَعْنٰى.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته پشان ده۔

(۵۶۸۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُقِيْمَنَّ أَحَدُكُمُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهٖ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيْهِ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی "ستاسوڅه دخوك یو کس لره دهغه دځائے نه نۀ پاڅوی اوبیاپه دی هلته نه کینی۔

فائده: نووی وائی دانهی دحرمت دپاره ده، نو څوك چه په جماعت وغیره کښے دجمعے په ورځ یاپه بله ورځ په یو ځائے کیښنی هغه دهغه ځائے حقدار دے اوبل کس لره دهغه پاڅول جائز نه دی، په دے حدیث سره ، مګرزمونږ دملګرو ددے نه مستثنی کړے دے هغه صورت لره چه هرکله دچاپه جماعت کښے یو ځائے معین وی، دفتوے ورکول دپاره، یادقران لوستلو دپاره،

یا دشرعي تعلیم دپاره، نو هغه دهغې حقدار دے، اوبل کس لره په هغه ځائے کیښناستل درست نه دی. (انتهی)

مترجم وائی چه په ظاهر حدیث باندے دعمل کولو دپاره پکار دی، اوکچرے په جماعت کښے یو ځائے معین هم وی اوبل یو کس ته معلوم نه وی هغه په هغه ځائے کیښنی، نود هغه پاځول درست نه دی، اودغه صحیح دی.

(۵٦۸۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَایُقِیْمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَقْعَدِهٖ ثُمَّ یَجْلِسُ فِیْهِ وَلٰکِنْ تَفَسَّحُوْا وَتَوَسَّعُوْا.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "یو سړے دی بل سړے نه پاځوی، دهغه دځائے نه چه دے کیښنی په هغه باندے، لیکن خواره شئ اوځائے ورکړئ".

(۵٦۸۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِیْثِ اللَّیْثِ وَلَمْ یَذْکُرُوْا فِی الْحَدِیْثِ وَلٰکِنْ تَفَسَّحُوْا وَتَوَسَّعُوْا وَزَادَ فِیْ حَدِیْثِ ابْنِ جُرَیْجٍ قُلْتُ فِیْ یَوْمِ الْجُمُعَةِ قَالَ فِیْ یَوْمِ الْجُمُعَةِ وَغَیْرِهَا. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده، دومره دازیاته ده چه ماا ووے دادجمعے حکم دے هغوئ اووے که جمعه وی یابله ورځ.

(۵٦۸٦) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَایُقِیْمَنَّ اَحَدُکُمْ اَخَاهُ ثُمَّ یَجْلِسُ فِیْ مَجْلِسِهٖ وَکَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اِذَاقَامَ لَهٗ رَجُلٌ عَنْ مَجْلِسِهٖ لَمْ یَجْلِسْ فِیْهِ. [ترمذی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهمانه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "څوك دی ستاسونه خپل یو رور لره دهغه دځائے نه نه پاځوی چه پخپله دهغه په ځائے کیښنی اودعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه دپاره چه به هرکله یوسړے دخپل ځائے نه پاځیدو هغوئ به په هغه ځائے نه کیښناستو، (اگرچه دهغه په رضامندئ سره کیښناستل جائز دی، مګردا احتیاط وو چه کیدے شی په زړه کښے خفه نه شی)

(۵۶۸۷) عَنْ مَعْمَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۶۸۸) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا یُقِیْمَنَّ اَحَدُکُمْ اَخَاهُ یَوْمَ الْجُمُعَةِ ثُمَّ لِیُخَالِفَ اِلٰی مَقْعَدِهِ فَیَقْعُدَ فِیْهِ وَلٰکِنْ یَقُوْلُ اِفْسَحُوْا.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "څوک دی ستاسو نه خپل رور لره دجمعے په ورځ دهغه دځائے نه پاڅوی چه دے هلته کیښنی بلکه داسے دی وائی خواره شئ"۔

بَابُ اِذَا قَامَ مِنْ مَّجْلِسِهٖ ثُمَّ عَادَ فَهُوَ اَحَقُّ بِهٖ.

هرکله چه څوک دخپل ځائے نه پاڅی اوبیاواپس راشی نوهغه دهغه ځائے زیات حقدار دے۔

(۵۶۸۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا قَامَ اَحَدُکُمْ وَفِیْ حَدِیْثِ عُوَانَةَ مَنْ قَامَ مِنْ مَّجْلِسِهٖ ثُمَّ رَجَعَ اِلَیْهِ فَهُوَ اَحَقُّ بِهٖ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک چه ستاسو نه پاڅی دخپل ځائے نه کوم ځائے کښے چه هغه ناست وو (دڅه حاجت دپاره) اوبیاواپس راشی نو هغه دهغه ځائے زیات حقدار دے۔

بَابُ مَنْعِ الْمُخَنَّثِ مِنَ الدُّخُوْلِ عَلَی النِّسَآءِ الْاَجَانِبِ.

مخنث به دپردو ښځوخواله نه ورځی۔

(۵۶۹۰) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ مُخَنَّثًا کَانَ عِنْدَهَا وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِی الْبَیْتِ فَقَالَ لِاَخِیْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَا عَبْدَ اللّٰهِ ابْنَ اَبِیْ اُمَیَّةَ اِنْ فَتَحَ اللّٰهُ لَکُمُ الطَّائِفَ غَدًا فَاِنِّیْ اَدُلُّکَ عَلٰی بِنْتِ غَیْلَانَ فَاِنَّهَا تُقْبِلُ بِاَرْبَعٍ وَّتُدْبِرُ بِثَمَانٍ قَالَ فَسَمِعَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا یَدْخُلُ هٰؤُلَاءِ عَلَیْکُمْ. [بخاری، ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه یو مخنث دهغوی سره

وو. اورسول الله ﷺ په کورکښې وو. نو هغه دام سلمهٔ رور ته اووې، اې عبدالله بن اميه !
کچرې الله تعالی صبا تاسوله په طائف باندې فتح درکړه نوزه به تاته دغيلان لورلوښايم هرکله
چه هغه دمخې نه راځي نو دهغې په ګیډه باندې څلور ډې وي اوهرکله چه په شا واوړی نواته
معلوميږي (ددواړو طرفونو نه . يعنی څريه ده اوعربو به څربو ښځولره خوښولې) داخبره رسول
الله ﷺ واوريده، حضرت ﷺ اوفرمائيل دې به دننه ستاسو خواله نه راځي۔

فائده : نووي عليه الرحمة ونيلي دي دهغه مخنث نوم هنيت ياتهيب وو يامانع،
اومخکښې به هغه درسول الله ﷺ دبيبانو خواله راتلو، اوهغه ﷺ به اجازت ورکوو هغه
خلقوته چه هغه به خادمان وو اودښځو سره به ئې څه غرض نه لرلو، ددغې خبرې نه پس
حضرت ﷺ منع کړلو، اومخنث په دوه قسمه دی يوخو هغه چه خلقي دي يعنی نامرد وی، په
هغه باندې څه عذاب نشته ولې چه هغه معذوره دې۔ دويم چه هغه سړې وی اودښځو پشان
خپل ځان جوړ کړی، دامعلون دې۔ انتهی مختصرا

(۵۶۹۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ كَانَ يَدْخُلُ عَلٰى اَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُخَنَّثٌ فَكَانُوْا يَعُدُّوْنَهُ مِنْ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ قَالَ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَهُوَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ وَهُوَ يَنْعَتُ امْرَأَةً قَالَ اِذَا اَقْبَلَتْ اَقْبَلَتْ بِاَرْبَعٍ وَاِذَا اَدْبَرَتْ اَدْبَرَتْ بِثَمَانٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا اَرٰى هٰذَا يَعْرِفُ مَاهٰهُنَا لَا يَدْخُلَنَّ عَلَيْكُنَّ قَالَتْ فَحَجَبُوْهُ. [ابوداود]

ترجمه : دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روايت دې وائي چه درسول الله
ﷺ خواله به يو مخنس راتللو، اوحضرت ﷺ به هغه لره دهغه خلقونه ګڼرلو، چه دهغوئ به
دښځو سره څه غرض نه وو (اوپه قران کښې ددوئ راتلل دښځوپه مخکښې ئې جائز کړی دی) يوه
ورځ رسول الله ﷺ دخپلې بي بي خواله راغې اوهغه (مخنث) ديوې ښځې صفت کولو چه
هرکله دمخې نه راځي نو څلور ډې را اخستې دی، راځي اوهرکله چه په شاشي نواته
معلوميږي، رسول الله ﷺ اوفرمائيل دادلته چه دي دوئ لره پيژني (يعنی دښځو قبح اوحسن
لره غوره کوی) دې به ستاسو خواله نه راځي بيائې دهغه نه پرده کول شروع کړو۔

باب جواز ارداف المرأة الاجنبية اذآ اعيت فى الطريق۔

چہرے ناشنا ښځه په لاره کښې ستړې شوې وي نوهغه دځان سره سورول درست دي۔

(۵۶۹۲) عَنْ اَسْمَآءَ بِنْتَ اَبِىْ بَكْرٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ تَزَوَّجَنِىْ الزُّبَيْرُ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَمَالَهُ فِى الْاَرْضِ مِنْ مَالٍ وَّلَامَمْلُوْكٍ وَّلَاشَىْءٍ غَيْرَفَرَسِهٖ قَالَتْ فَكُنْتُ اَعْلِفُ فَرَسَهٗ وَاَكْفِيْهِ مُؤْنَتَهٗ وَاَسُوْسُهٗ وَاَدُقُّ النَّوٰى لِنَاضِحِهٖ وَاَعْلِفُهٗ وَاَسْتَقِىْ الْمَآءَ وَاَخْرِزُ غَرْبَهٗ وَاَعْجِنُ وَلَمْ اَكُنْ اُحْسِنُ اَخْبِزُ فَكَانَ يَخْبِزُ لِىْ جَارَاتٌ لِّىْ مِنَ الْاَنْصَارِ وَكُنَّ نِسْوَةَ صِدْقٍ قَالَتْ وَكُنْتُ اَنْقُلُ النَّوٰى مِنْ اَرْضِ الزُّبَيْرِ الَّتِىْ اَقْطَعَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى رَأْسِىْ وَهُوَعَلٰى ثُلُثَىْ فَرْسَخٍ قَالَتْ فَجِئْتُ يَوْمًا وَّالنَّوٰى عَلٰى رَأْسِىْ فَلَقِيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهٗ نَفَرٌمِّنْ اَصْحَابِهٖ فَدَعَانِىْ ثُمَّ قَالَ اِخْ اِخْ لِيَحْمِلَنِىْ خَلْفَهٗ قَالَتْ فَاسْتَحْيَيْتُ وَعَرَفْتُ غَيْرَتَكَ فَقَالَ وَاللهِ لَحَمْلُكِ النَّوٰى عَلٰى رَأْسِكِ اَشَدُّ مِنْ رُكُوْبِكِ مَعَهٗ قَالَتْ حَتّٰى اَرْسَلَ اِلَىَّ اَبُوْبَكْرٍ رَّضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ بَعْدَذٰلِكَ بِخَادِمٍ فَكَفَتْنِىْ سِيَاسَةَ الْفَرَسِ وَكَاَنَّمَآ اَعْتَقَنِىْ. [بخاری]

ترجمه: داسماء بنت ابی بکر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زبیربن العوامؓ څماسره نکاح اوکړه (چه درسول الله ﷺ دترور ځوئ وو) اودهغه سره څه مال نه وو نه ورسره غلام وو، نه نورڅه، صرف یواس وو، مابه هغه اس څرولو اوټول کار به می داس کولو، اوداس خدمت کاره هم وم، اوپنډوکی به می هم دهغه داوښس دپاره ترلو، اوڅروو، به می هم هغه لره، اواوبه به می ورله هم ورکولے، اوبوقه به می هم راوستله، اواوړه به هم اغړل. لیکن ډوډئ به می په ښه طریقه نه شوے پخولے ،نودګاونډانصاریٓ ښځوبه څما ډوډئ پخولے، اوهغوئ ډیرے دمحبت خبرے کولے، اسماءؓ وائی مابه دزبیرؓ دهغه زمکے نه کومه چه رسول الله ﷺ هغهؓ ته دمقطع په طور ورکړے وه، پنډوکی راوړلو په خپل سر باندے، اوهغه مقطعه دمدینے نه دوه میله لرے وه، چه یو میل دشپږزره لاسووی، اولاس دخلیریشتو ګوتووی اوګوته دشپږو وریشو اوفرسخ ددریوؤ میلو وی) یوه ورځ مادهغه ځائے نه پنډوکے راوړلو په لاره کښے درسول الله ﷺ

سره د هغوئ دځو اصحابو ځماسره ملاقات اوشو حضرت ﷺ زه را اوغوښتم، اوبیائے اوښس کینښنوو اوراتـه ئے اووے اخ اخ ددے دپاره چه دځان نه شاته ماپه اوښ کینښنوی ماله شرم راغے اوغیـرت، حضـرت ﷺ اوفـرمـائیـل په الله جل جلاله قسم دے چه دپښوکی بوج په سر باندے اوچتـول ځماسره دسوریدو نه زیات سخت دی، (یعنی داسے بوج خوته برداشت کوے اوځماسره په ناستے ولے نـه ځے) اسـماءؓ وائی بیاابوبکرؓ یو ه وینځه ماته را اولیږله، هغے بیاداس تمام کار کول شروع کړو، لکه چه هغوئ زه آزاده کړم۔

فائده: نووی علیـه الرحمة وائـی، داکار لـکـه ډوډئ پـخـول ، کپړے ،وینځل، دځاروو خدمت کـول اوړه اغـړل، دا هـغـه کـارونـه دی چـه پـه مروت اوحسـن معاشرت کنبے داخل دی، اوښځے دپخوانه داسے کارونه دخپلو خاوندانو دپاره کوی، لیکن دکارونه په ښځو باندے واجب نه دی، کـه دهغے زړۀ غواړی کوی به ئے اوکه زړۀ ئے نه غواړی نه به ئے کوی، واجب په ښځه باندے صـرف دغـه دوه کـارونه دی، یو خوداچه دصحبت نه به انکار نه کوی۔ دویم دخاوند په کورکنبے به اوسیږی۔

اوددے حـدیـث نه دامعلومه شوه چه مقطعه ورکول امام لره درست دی، اوکله دمقطعے زمـکـه پـشـان دمـلـك ورکـولـے شـی داسے مقطع لره دمقطع مالك بیاخرڅولے شی اوکله کله ئے صرف نفع ورکولے شی، نودهغے دخرڅولو اجازت نه وی۔

اوداهـم مـعـلـومـه شـوه چـه کوم څیزونه اوغورځولے شی لکه هډوکی ،جندیان وغیره دهغے غونډول درست دی، اوهغه حلال دی۔

اوداهـم مـعـلـومه شوه چه کومه ښځه محرم نه وی کچرے هغه په لاره کنبے ستړے وی میلاؤشـی نـو هـغـے لـره دخپـل ځان سره سوروّل درست دی خصوصا هرکله چه نورنیك بخت خلـق هـم ورسره وی، اوقاضی عیاضؒ وئیلی دی چه دادرسول الله ﷺ خصوصیت وو، ولے چه اسـمـاءؓ دابوبکرؓ لور اودعائشےؓ خور اودزبیرؓ بی بی وه، لکه دحضرت ﷺ دکور والاؤ پشان وه، بل چالره داسے کول درست نه دی۔ انتهی مختصرًا

(٥٢٩٣) عَنْ اَسْمَآءَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ کُنْتُ اَخْدُمُ الزُّبَیْرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ خِدْمَةَ الْبَیْتِ

وَكَانَ لَهُ فَرَسٌ وَكُنْتُ أَسُوسُهُ فَلَمْ يَكُنْ مِنَ الْخِدْمَةِ شَيْءٌ أَشَدُّ عَلَيَّ مِنْ سِيَاسَةِ الْفَرَسِ كُنْتُ أَحْتَشُّ لَهُ وَأَقُومُ عَلَيْهِ وَأَسُوسُهُ قَالَ ثُمَّ إِنَّهَا أَصَابَتْ خَادِمًا جَاءَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْيٌ فَأَعْطَاهَا خَادِمًا قَالَتْ كَفَتْنِي سِيَاسَةَ الْفَرَسِ فَأَلْقَتْ عَنِّي مَئُونَةً فَجَاءَنِي رَجُلٌ فَقَالَ يَا أُمَّ عَبْدِ اللّٰهِ إِنِّي رَجُلٌ فَقِيرٌ أَرَدْتُ أَنْ أَبِيعَ فِي ظِلِّ دَارِكِ قَالَتْ إِنِّي إِنْ رَخَّصْتُ لَكَ أَبَى ذٰلِكَ الزُّبَيْرُ فَتَعَالَ فَاطْلُبْ إِلَيَّ وَالزُّبَيْرُ شَاهِدٌ فَجَاءَ فَقَالَ يَا أُمَّ عَبْدِ اللّٰهِ إِنِّي رَجُلٌ فَقِيرٌ أَرَدْتُ أَنْ أَبِيعَ فِي ظِلِّ دَارِكِ فَقَالَتْ مَالَكَ بِالْمَدِينَةِ إِلَّا دَارِي فَقَالَ لَهَا الزُّبَيْرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ مَالَكِ أَنْ تَمْنَعِي رَجُلًا فَقِيرًا يَبِيعُ فَكَانَ يَبِيعُ إِلٰى أَنْ كَسَبَ فَبِعْتُهُ الْجَارِيَةَ فَدَخَلَ عَلَيَّ الزُّبَيْرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَثَمَنُهَا فِي حَجْرِي فَقَالَ هَبِيهَا فَقَالَتْ إِنِّي قَدْ تَصَدَّقْتُ بِهَا.

ترجمہ: داسماءؓ نہ روایت دے وائی چہ ماد زبیر رضی اللہ تعالی عنہ دکور کار کولو، دھغہ یو اس وو دھغے بہ ہم پالنہ کولہ، نو یو کار پہ ما باندے، داس دخدمت نہ زیات سخت نہ وو، دھغے دپارہ بہ ما واښہ راوړل دھغے خدمت پالنہ بہ می کولہ، بیا ماتہ یوہ وینځہ میلاؤ شوہ، رسول اللہ ﷺ لہ قیدیان راغلو حضرت ﷺ ماتہ ہم یوہ وینځہ راکړہ، ھغے داس تول کار کول شروع کړو او دامحنت ځماد پاسہ نہ ھغے اوچت کړو، بیا ځما خوالہ یو سړے راغے اووئے وئیل اے ام عبداللہؓ! زہ یو محتاج سړے یم زما ارادہ دہ چہ ستاسو ددیوال پہ سوری باندے دکان اولگوم، ما اووے کچرے زہ تاتہ اجازت درکړم، داسے نہ وی چہ زبیرؓ خفہ شی، نو داسے اوکړہ ھرکلہ چہ زبیرؓ موجود وی دھغہ پہ مخکښے ماتہ اووایہ، ھغہ (سړے) بیا راغے اووئے وئیل اے دعبداللہؓ مور: زہ یو محتاج سړے یم زہ غواړم چہ ستاسو ددیوال پہ سوری باندے دکان اوکړم، ما اووے تاتہ پہ ټولہ مدینہ کښے چرتہ بل کورنہ میلاویږی سوا ځماد کورنہ (دا د اسماءؓ یو تدبیر وو د زبیرؓ دزړے نہ داجازت اخستلو دپارہ) زبیرؓ اووے اسماءؓ تا رلہ څہ شوی دی تہ فقیر لرہ منع کوے دخر خولو نہ، بیا ھغہ دکان شروع کړ ﷺ تردے پورے چہ ھغہ روپئ اوگټلے، ھغہ وینځہ ما ھغہ پہ لاس خرڅہ کړہ ھرکلہ چہ زبیرؓ ځما خوالہ راغے نو دھغے (وینځو) دقیمت پیسے زما پہ غیږہ کښے وے، زبیرؓ اووے داپیسے ماتہ ھبہ راکړہ، ما اووے دا زہ تا لہ صدقہ درکوم۔

باب تحريم مناجاة الاثنين دون الثالث بغير رضاه

چه درې کسان وي دهغوئ نه دې دوه پټې پټې خبرې نه کوي بغيردهغه دريم کس درضانه.

(۵۲۹۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا كَانَ ثَلَاثَةٌ فَلَايَتَنَاجٰى اثْنَانِ دُوْنَ وَاحِدٍ. [بخاری]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "په درے کسانو کښے دی دوه کسه پټے پټے خبرے نه کوی بغیردریم دمرضئ نه".

فائده: دانهی تحریمی ده ددے دپاره چه هغه دریم ته پریشانی اوتکلیف نه وی، اودا ممانعت عام دے په سفراوحضر کښے، اوبعضووئیلی دی چه صرف په سفرکښے ممانعت دے، اوځنووئیلی دی چه داحدیث منسوخ دے په شروع داسلام کښے به منافقانو مسلمانانو ته دتکلیف ورکولو دپاره داسے کولو، لیکن کچرے څلورسړی وی اودوه دهغوئ نه یوبل ته په غوږ کښے خبرے کوی نوبیاڅه قباحت نشته دے. (نوویؒ)

(۵۲۹۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ مَالِكٍ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته پشان ده.

(۵۲۹۶) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْـهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَايَتَنَاجٰى اثْنَانِ دُوْنَ الْاٰخَرِ حَتّٰى تَخْتَلِطُوْا بِالنَّاسِ مِنْ اَجْلِ اَنْ يُحْزِنَهُ.

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ،وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "هرکله چه تاسو درے کسان یئ نوستاسونه دی دوه کسان ددریم نه ځانله یوبل ته په غوږ کښے پټے خبرے نه کوی، تردے پورے چه نور خلق ستاسوسره میلاؤ شی، ځکه چه هغه به خفه شی".

(۵۲۹۷) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَايَتَنَاجٰى اثْنَانِ دُوْنَ صَاحِبِهِمَا فَاِنَّ ذٰلِكَ يُحْزِنُهُ.

ترجمه : ترجمه د دے هم د پورته حدیث پشان ده۔

(۵۲۹۸) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ.

ترجمه : د دے ترجمه هم د پورته پشان ده۔

بَابُ الطِّبِّ وَالْمَرَضِ وَالرُّقٰی

دعلاج بیمارئ او منتریان۔

(۵۲۹۹) عَنْ عَآئِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهَا قَالَتْ اِذَا اشْتَکٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَقَاهُ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ قَالَ بِسْمِ اللهِ يُبْرِيْكَ وَمِنْ كُلِّ دَاءٍ يَّشْفِيْكَ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ وَشَرِّ كُلِّ ذِیْ عَيْنٍ.

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه هرکله به رسول الله ﷺ نو جبریل علیه السلام به دادعاً په حضرت ﷺ باندے لوستله بسم الله د آخره پورے یعنی د الله پاك په نوم سره زه مدد غوارم هغه به تاسو لره بنه کوی، د هرے بیمارئ نه به تاسوله شفا درکوی، د هریو سیزونکی د سیزلو نه به تاسو لره بچ کوی او د هر بدنظر غورځولو والا د نظر نه۔

فائده : نووی علیه الرحمة وائی، دا د جبریل علیه السلام منترو او په یو حدیث کښے څه مخالف نشته دے، چه بے حسابه به جنت ته ځی هغه خوك چه منتر نه کوی، او په دواړو حدیثو کښے څه مخالفت نشته دے، ولے چه د منتر نه کولو والا په تعریف کښے هغه منتر مراد دے، چه هغه د کافرانو کلام وی، یا چه د هغے معنی معلومه نه وی یا چه د عربی نه سوا په بله یوه ژبه کښے وی، نو هغه منتر مرا دے بد دے، ځکه چه کیدے شی په هغے کښے د کفریا د شرك مضمون وی، لیکن په قران ایتونو یا احادیثو کښے چه کومے دعاگانے راغلی دی په هغے سره منتر کول منع نه دی، بلکه سنت دی، او ځنو وئیلی دی چه د منتر پریخودل غوره دی په هر حال کښے لیکن دا قول مختار نه دی۔

(۵۷۰۰) عَنْ اَبِیْ سَعِيْدٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ اَتَی النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ اشْتَكَيْتَ قَالَ نَعَمْ قَالَ بِسْمِ اللهِ اَرْقِيْكَ مِنْ كُلِّ شَیْءٍ يُّؤْذِيْكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ اَوْعَيْنٍ حَاسِدٍ

اللهُ يَشْفِيْكَ بِسْمِ اللهِ أَرْقِيْكَ.

ترجمه: دابوسعید رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه حضرت جبریل علیه السلام درسول الله ﷺ خواله راغے، اواووئے وئیل اے محمد ﷺ تاسو بیمار شوی یئ، حضرت ﷺ اوفرمائیل هان! نو حضرت جبریل علیه السلام اووے "بِسْمِ اللهِ أَرْقِيْكَ" دآخره پورے یعنی دالله پاك په نوم باندے منترکوم په تاباندے دهرهغه څیز نه چه تالره تنګوی، اوده رروح دبدیٔ نه یادحاسد دنظرنه دی الله جل جلاله تالره شفا درکړی، دا جل جلاله په نوم سره منترکوم په تاباندے۔

(۵۷۰۱) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَاحَدَّثَنَا اَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ اَحَادِيْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَيْنُ حَقٌّ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "نظر حق دے۔

(۵۷۰۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعَيْنُ حَقٌّ وَّلَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ سَبَقَتْهُ الْعَيْنُ وَإِذَا اسْتُغْسِلْتُمْ فَاغْسِلُوْا. [ترمذی]

ترجمه: دعبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "نظر حق دے (یعنی په نظرکښے دالله جل جلاله په حکم سره تاثیرشته دے) اوکچرے یو شے دتقدیرنه مخکښے کیدے شوے نونظربه مخکښے کیدو (خودتقدیرنه څه شے وړاندے کیدونکے نشته) هرکله چه تاسوته دغسل په باره کښے اووئیلے شی نوغسل کوئ۔

فائده: امام ابوعبدالله مازری وئیلی دی، چه دجمهورو علماو اعتقاد په دغه ظاهر حدیث باندے دے، هغوئ وائی نظرلګیدل حق دے، اوداهل بدعتویوګروپ ددے نه انکار کوی اودهغوئ قول باطل دے، ولے چه دنظرتاثیر دعقل خلاف نه دے، اوپه شریعت کښے وارد دے، بیادانکار کولو څه وجه ده، اونظر دغسل دادے چه دکوم بنده نظرلګیدلے وی یعنی بدنظر هغه کس به دهغے نه یو چنګ اوبه واخلی اوخله به په دګه کندول کښے کنګال کړی، بیابه مخ اووینځی بیابه په ګس لاس کښے اوبه واخلی اوښی لاس به دمروند پورے اووینځی بیاګس

لاس، بیابه په بنی لاس کښے اوبه واخلی اوکس څنګل به اووینځی، بیابه ښی اووینځی، بیاکسه خپله هم په دغه شان لکه چه لاس ئے وینځلی وو، اودځنګلو اودکچوپه مینځ کښے به نه وینځی، داتول به په دغه پیاله کښے دننه اووینځی بیابه دخپل لنګ دننه طرفنه اوزانده شوے غاړه دښی طرفنه اووینځی، اوځنووئیلی دی چه خپل شرمګاه به اووینځی، بیابه دغه اوبه په چاچه نظر لګیدلے وی دهغه په سرباندے دشاد طرفنه وا چوی ددے تاثیر د حدیث نه ثابت دے۔ اودچاچه لګیدلے وی کچرے هغه ددے غسل نه انکار اوکړی نوپه هغه دی زور اوکړے شی، ولے چه دا امر دوجوب دپاره دے اودځنو په نزد اوبه پرے جبرنه شی کیدے۔

قاضی عیاضؒ وئیلی دی چه دکوم بنده نظرچه لګی نوامام دی هغه ته خپل کور کښے داوسیدو حکم اوکړی، اوکچرے هغه محتاج وی نوپه قدر دخرچے دی هغه له ورکوی ولے چه دهغه ضرر داړودے اودپیازو خورلو اوجماعت ته دتللو نه زیات دے۔ انتهی مختصرا۔

بَابُ السِّحْرِ

باب دے په بیان دجادو کښے۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی چه امام مازریؒ وئیلی دی، داهل سنت اوجمهورو قول دادے چه سحر حق دے، اودهغے یو حقیقت دے لکه دنورو اشیاؤ، اوځنو ددے نه انکار کړے دے اوکومے خبرے چه دسحرنه پیداکیږی هغے ته ئے خیالات باطله وئیلی دی، لوالله تعالی دسحرپه خپل کتاب کښے ذکر کړے دے، اودائے هم فرمائیلی دی چه هغه ایزده کیدے شی اوپه دے سړے کافر کیږی، اوهغه جدائی راولی په مینځ دسړی اوښځے کښې، اودے نه معلومیږی چه دسحر حقیقت شته، اوکوم احادیث چه په دے باب کښے مذکور دی دهغے نه هم دغه معلومیږی، اوعقلا چه څه تاثیر دسحرنه پیداکیږی هغه محال نه دی، بیاددے نه دانکار څه وجه نشته دے۔

اودسحرپه تاثیر کښے دعلماؤ اختلاف دے، ځنے وائی ددے اثر فقط دومره دے چه په خاوند اوښځه کښے جنګ راتلے شی، اوصحیح مذهب دادے چه ددے ډیر تاثیرونه دی، دالله جل جلاله په حکم سره، اوپه پیغمبرﷺ اوساحر کښے، دافرق دے چه ساحر دنبوت اثبات نه شی

غوښتے، اوپیغمبر دنبوت ثابتولو دپاره دعادت نه خلاف کارونه کوی، اوپه ولی اوساحرکښے دافرق دے، چه ساحرفاسق وی اوکرامت دفاسق نه نه کیږی۔

اوس دسحر چلول حرام دی، ددے ایزده کول اوبلته خودل هم حرام دی، اودمالك رحمه الله په نزد ساحرکافر دے، اودهغه توبه قبوله نه ده، اوس کچرے چالره په سحرسره اووژنی اودهغے اقرار اوکړی نوپه هغه باندے به قصاص واجب وی، دنورو گواهانو نه داثابت کیدے نه شی۔ (انتهی مختصراً)

(۵۷۰۳) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ سَحَرَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهُوْدِيٌّ مِّنْ يَهُوْدِ بَنِيْ زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ لَبِيْدُ ابْنُ الْاَعْصَمِ قَالَتْ حَتّٰى كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ اَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّيْءَ وَمَايَفْعَلُهُ حَتّٰى اِذَاكَانَ ذَاتَ يَوْمٍ اَوْذَاتَ لَيْلَةٍ دَعَارَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ دَعَا ثُمَّ قَالَ يَاعَآئِشَةُ اَشَعَرْتِ اَنَّ اللهَ اَفْتَانِيْ فِيْمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيْهِ فَجَآءَ نِيْ رَجُلَانِ فَقَعَدَاَحَدُهُمَا عِنْدَرَاْسِيْ وَالْاٰخَرُعِنْدَرِجْلَيَّ فَقَالَ الَّذِيْ عِنْدَرَاْسِيْ مَاوَجَعُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوْبٌ قَالَ مَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيْدُ ابْنُ الْاَعْصَمِ قَالَ فِيْ اَيِّ شَيْءٍ قَالَ فِيْ مُشْطٍ وَّمُشَاطَةٍ وَّجُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍقَالَ فَاَيْنَ هُوَقَالَ فِيْ بِئْرِ ذِيْ اَرْوَانَ قَالَ فَاَتَاهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ اُنَاسٍ مِّنْ اَصْحَابِهٖ ثُمَّ قَالَ يَاعَآئِشَةُ وَاللهِ لَكَاَنَّ مَآءَ هَا نُقَاعَةُ الْحِنَّآءِ وَلَكَاَنَّ نَخْلَهَا رُءُوْسُ الشَّيَاطِيْنِ قَالَتْ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ اَفَلَااَحْرَقْتَهُ قَالَ لَااَمَّا اَنَا فَقَدْعَافَانِيَ اللهُ وَكَرِهْتُ اَنْ اُثِيْرَعَلَى النَّاسِ شَرًّا فَاَمَرْتُ بِهَا فَدُفِنَتْ. [ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه په رسول الله ﷺ باندے دبنی رزیق یویهودی جادو اوکړو چه هغه ته به ئے لبید بن اعصم وئیلو، تردے پورے چه دحضرت به خیال راغے چه زه داکار کوم اونه به ئے شوکولے هغه کار لره، یوه ورځ یایوه شپه حضرت ﷺ دعا اوکړه بیائے دعا اوکړه، بیائے اوفرمائیل اے عائشے! تاته معلومه شوه الله جل جلاله ماته اوښودل هغه څه دڅه چه مادهغه نه تپوس اوکړو، څماخواله دوه سړی راغلو یو څمادسرپه خواکښے کیښناستو اوهغه بل می دخپوپه خواکښے (هغه دواړه فرښتے وے) کومه چه دسرپه خواکښے ناسته وه هغے هغه بلے ته اووے، دے سړی ته څه بیماری ده؟ هغے اووے په ده باندے جادو شوے دے هغه اووے چاکړے دے؟ هغه بل اووے لبید بن اعصم بیا هغه

اووے پہ گومنز کښے اوپہ هغه وینښتو کښے چه دگومنز سره ختلی وی اودنرکجورودپوستکی پہ غلاف کښے ،بیا هغه اووے دائے کوم ځائے ایخودے دے؟ هغه اووے دذی اروان پہ کوهی کښے.
حضرت عائشہؓ وائی بیا رسول الله ﷺ دخپلو څو اصحابوؓ سره هغه کوهی له لاړو. حضرت ﷺ اوفرمائیل اے عائشےؓ قسم پہ دالله تعالی چه دهغه کوهی اوبه داسے وے لکه دنکریزے شنے اودهغه ځائے دکجورو ونے داسے وے لکه دشیطانانو سرونه ماعرض اوکړو یارسول الله ﷺ تاسو هغے لره سیزلوولے نه (یعنی هغه چه کوم وینښته وغیره را اااووتل) حضرت ﷺ اوفرمائیل زه خوالله جل جلاله ښه کړمه اوس ماته بده معلومیده پہ خلقو کښے فساد پیدا کول. ماحکم اوکړو اوهغه ښخ کړلے شو.
فائده: پہ یوروایات کښے دی چه پہ حضرت ﷺ دخیال بندئ جادو شوے وو چه ناکړے کاربه حضرت ﷺ داسے ګنړلو چه ماکړے دے. اودبخاریؒ پہ روایت کښے دے چه حضرت ﷺ به دخپلو بیبیانو سره صحبت نه شو کولے. چنانچه یوه ورځ حضرت ﷺ څماسره وو. دخپل صحت پہ باره کښے نے دالله جل جلاله نه دعا اوکړه بیائے داحدیث اوفرمائیلو ، اوپه یوروایت کښے دی حضرت عائشہؓ فرمائی ماووے یاحضرت ﷺ دغه جادوګریهودی له سزا ورکړئ اودښهرنه ئے اوباسئ. حضرت ﷺ اوفرمائیل الله جل جلاله ماله صحت راکړو. اوس زه فساد ولے راولاړ کړم. اوشورغوغاجوړه کړم. پہ حضرت ﷺ باندے دجادو وکولو داحکمت وو. چه کافروبه دحضرت پہ معجزولیدو حضرت ﷺ ته جادوګرونیلو. اومشهوره داده چه• جادوګرباندے جادونه چلیږی. پہ حضرت ﷺ باندے چه هرکله دجادو اثراوشونودهغوئ پہ نزدهم حضرت ﷺ ته جادوګرونیل صحیح نه شولو. تحفة الاخیا.
(۵۷۰۴) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا سُحِرَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَسَاقَ اَبُوْکُرَیْبٍ الْحَدِیْثَ بِقِصَّتِهٖ نَحْوَحَدِیْثِ ابْنِ نُمَیْرٍ وَقَالَ فِیْهِ فَذَهَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلَی الْبِئْرِ فَنَظَرَ وَعَلَیْهَا نَخْلٌ وَّقَالَتْ قُلْتُ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَاَخْرَجْتَهٗ وَلَمْ یَقُلْ اَفَلَا اَحْرَقْتَهٗ وَلَمْ یَذْکُرْ. [بخاری]
ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

باب السّم

د زهرو بیان

(۵۷۰۵) عَنْ انسٍ رَضِیَ اللهُ تَعالٰی عَنْهُ انَّ امْرأةً یَهُوْدِیَّةً اَتَتْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ مَسْمُوْمَةٍ فَاکَلَ مِنْهَا فَجِیْئَ بِهَا اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلَهَا عَنْ ذٰلِکَ قَالَتْ اَرَدْتُّ لِاَقْتُلَکَ قَالَ مَا کَانَ اللهُ لِیُسَلِّطَکِ عَلٰی ذَاکِ قَالَ اَوْقَالَ عَلَیَّ قَالَ قَالُوْا اَلَا نَقْتُلُهَا قَالَ لَا قَالَ فَمَازِلْتُ اَعْرِفُهَا فِیْ لَهَوَاتِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: د حضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو یهودی ښځې رسول الله ﷺ له په زهرو کښې میلاؤ کړے دېزے غوښه راوړه، حضرت ﷺ د هغې نه اوخوړه، بیا هغه ښځه د حضرت ﷺ خواله راوستے شوه، حضرت ﷺ ترې تپوس اوکړو داسے تاولې اوکړو هغې اووے ماستاوژل غوښتلو، حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل الله تعالی تالره دومره طاقت درکولو والانه دے، (چه ته دې د هغه پیغمبر ﷺ هلاك کړے) حضرت علی رضی الله تعالی عنه اووے مونږ دے لره قتلوو یارسول الله ﷺ! حضرت ﷺ اوفرمائیل نه، (دا د حضرت ﷺ رحم وو په هغه ښځه باندے. ددے نه هم معلومه شوه چه حضرت ﷺ پیغمبر ﷺ برحق وو ورنه کچرے بادشاه وے نو دغه ښځه به ئے قتل کړے وه) راوی وئیلی دی مابه همیشه د هغه زهرو اثر حضرت ﷺ په مرئ کښې موندلو.

فائده: یعنی نشان د هغه زهرو، معاذ الله څومره سخت زهرو، په دے حدیث کښې د حضرت ﷺ څو معجزے دی، یو په سختو زهروسره نه هلاك کیدل په بل روایت کښې دی چه حضرت ﷺ ورته دا اوفرمائیل چه په دے کښې زهر دی، دا هم یوه معجزه ده، په یو روایت کښې دی چه هغې غوښې اووے چه په ماکښې زهر دی، دا هم معجزه ده، دا ښځه مردوده زینب د حارث لور او مرحب خوروه، چه هغه لره حضرت علیؓ د خیبر په جنګ کښې وژلے وو، او په یو روایت کښې دی چه حضرت ﷺ هغه ښځه د بشر بن براء وارثانو ته اوسپارله، چه هغه ددغه زهرو نه مړوو، هغوئ هغې خبیثې هغې لره قتل کړه.

(۵۷۰۶) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ يُحَدِّثُ اَنَّ يَهُوْدِيَّةً جَعَلَتْ سَمًّا فِيْ لَحْمٍ ثُمَّ اَتَتْ بِهِ رَسُوْلَ اللّٰهِ بِنَحْوِ حَدِيْثِ خَالِدٍ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته پشان ده۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ رُقْيَةِ الْمَرِيْضِ

په بیمار باندے دمنتر لوستلو بیان

(۵۷۰۷) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِذَا اشْتَكٰى مِنَّا اِنْسَانٌ مَسَحَهُ بِيَمِيْنِهِ ثُمَّ قَالَ اَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَاشِفَآءَ اِلَّاشِفَآءُكَ شِفَآءً لَّايُغَادِرُ سَقَمًا فَلَمَّا مَرِضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَثَقُلَ اَخَذْتُ بِيَدِهٖ لِاَصْنَعَ بِهٖ نَحْوَمَاكَانَ يَصْنَعُ فَانْتَزَعَ يَدَهُ مِنْ يَّدِيْ ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَاجْعَلْنِيْ مَعَ الرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى قَالَتْ فَذَهَبْتُ اَنْظُرُفَاِذَاهُوَقَدْقَضٰى. [بخاری]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی رسول الله ﷺ به هرکله په مونږ کښے څوك بیمار شولو نوخپل ښی لاس به ئے په هغه باندے اووهو اوبیابه ئے اوفرمائیل "اَذْهِبِ الْبَاسَ دآخره پورے یعنی لره کړه بیماری اے دخلقو مالکه، اوتندرسی ورکړه بس ته شفا ورکونکے ئے نشته دے شفامگرته شفاورکونکے ئے داسے شفا ورکړه چه بیماری پاتے نه شی هرکله چه رسول الله ﷺ بیمارشو اوبیمارئے سخته شوه نومادحضرت ﷺ لاس اونیوو دداسے کولو دپاره لکه څنګه چه به حضرت ﷺ کولو (یعنی ما اراده اوکړه چه دحضرت ﷺ خپل لاس مبارك په هغه باندے راکاږم اودادعا اولولم) حضرت ﷺ خپل لاس څمادلاس نه آزار کړو اواوئے فرمائیل (یاالله جل جلاله اوبخے مالره اوماداوچت ملګری سره کړے (یعنی دفرښتواوپیغمبرانو سره) حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمائی بیاچه ماکتل نودحضرت ﷺ کار شوے وو(یعنی وفات ئے موندلے وو، دحضرت ﷺ ددعا سره سمدستی حضرت ﷺ الله پاك ځان ته اوغوښتو) اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ.

(۵۷۰۸) عَنِ الْاَعْمَشِ بِاِسْنَادِ جَرِيْرٍ فِيْ حَدِيْثِ هُشَيْمٍ وَّشُعْبَةَ مَسَحَهُ بِيَدِهٖ قَالَ وَفِيْ حَدِيْثِ الثَّوْرِيِّ مَسَحَهُ بِيَمِيْنِهٖ وَقَالَ فِيْ عَقِبِ حَدِيْثِ يَحْيٰى عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الْاَعْمَشِ قَالَ فَحَدَّثْتُ بِهٖ مَنْصُوْرًا فَحَدَّثَنِيْ عَنْ اِبْرَاهِيْمَ

عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا بِنَحْوِهٖ۔

ترجمه: ترجمه ددے هم ددے نه دمخکښے حدیث پشان ده۔

(۵۷۰۹) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَاعَادَ مَرِيْضًا يَقُوْلُ اَذْهِبِ الْبَاْسَ رَبَّ النَّاسِ اشْفِهٖ اَنْتَ الشَّافِيْ لَاشِفَآءَ اِلَّاشِفَآءُكَ شِفَآءً لَايُغَادِرُ سَقَمًا.

ترجمه: دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے رسول الله ﷺ چه به هرکله دچابیمار تپوس له لاړو نوفرمائیل به ئے "اَذْهِبِ الْبَاْسَ داخره پورے۔

(۵۷۱۰) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَااَتَى الْمَرِيْضَ يَدْعُوْلَهٗ قَالَ اَذْهِبِ الْبَاْسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَاشِفَآءَ اِلَّاشِفَآءُكَ شِفَآءً لَايُغَادِرُ سَقَمًا وَفِيْ رِوَايَةِ اَبِيْ بَكْرٍ فَدَعَالَهٗ وَقَالَ اَنْتَ الشَّافِيْ.

ترجمه: ترجمه ددے هم ددے پورته پشان ده۔

(۵۷۱۱) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ اَبِيْ عَوَانَةَ وَجَرِيْرٍ.

ترجمه: داهم دپورته پشان ترجمه ده۔

(۵۷۱۲) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْقِيْ بِهٰذِهِ الرُّقْيَةِ "اَذْهِبِ الْبَاْسَ رَبَّ النَّاسِ بِيَدِكَ الشِّفَآءُ وَلَاكَاشِفَ لَهٗ اِلَّااَنْتَ.

ترجمه: دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایات دے چه رسول الله ﷺ به دامنترلوستلو "اَذْهِبِ الْبَاْسَ رَبَّ النَّاسِ داخره پورے۔

(۵۷۱۳) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَاالْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ.

ددے ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده۔

(۵۷۱۴) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَامَرِضَ اَحَدٌ مِّنْ اَهْلِهٖ نَفَثَ عَلَيْهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ فَلَمَّا مَرِضَ مَرَضَهُ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ جَعَلْتُ اَنْفُثُ عَلَيْهِ وَاَمْسَحُهٗ بِيَدِنَفْسِهٖ لِاَنَّهَا كَانَتْ

اَعْظَمُ بَرَكَةً مِّنْ يَدِیْ وَفِیْ رِوَايَةِ يَحْيٰی ابْنِ اَيُّوْب بِمُعَوِّذَاتٍ.

ترجمه: د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه هرکله به زمونږ په کور کښې څوك بیمار شول نو رسول الله ﷺ به په هغه باندې معوذات (قل اعوذ برب الفلق اوقل اعوذ برب الناس) اولوستل اورته به ئے شف کړو، بیا چه هرکله حضرت ﷺ بیمار شو په هغه بیمارئ چه په هغې کښې وفات اوموندو، نو ما به په هغه باندې شف کوو اود هغوئ ﷺ لاس به مې په هغوئ ﷺ باندې وهولے چه د هغوئ لاس مبارك زما د لاس نه زیات برکتی وو.

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی چه دعا اومنتر په قلاره سره لوستل اوشف کول درست دی، اودشف کولو په جواز باندې اجماع ده، اودے ته جمهور اصحابو اوتابعینو مستحب وئیلی دی، اوځینو دشف کولو اولاړوتو کلونه انکار کړے دے، لیکن مراد هغه شف کول دی چه د هغې سره لاړے هم را اوځی، اودروغوندې شف کولو په جواز باندې اجماع ده۔

(۵۷۱۵) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اشْتَكٰی يَقْرَءُ عَلٰی نَفْسِهٖ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَيَنْفُثُ فَلَمَّا اشْتَدَّ وَجْعُهٗ كُنْتُ اَقْرَءُ عَلَيْهِ وَاَمْسَحُ عَنْهُ بِيَدِهٖ رَجَآءَ بَرَكَتِهَا. [بخاری، ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه به هرکله بیمار شولو نو په خپل ځان به ئے معوذتین لوستل اوشف کول هرکله چه ډیر بیمار شولو نو ما به لوستلو اود حضرت ﷺ لاس مبارك به مې په حضرت ﷺ باندې راښکودلو دبرکت په امید سره۔

(۵۷۱۶) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِاِسْنَادِ مَالِكٍ نَحْوَ حَدِيْثِهٖ وَلَيْسَ فِیْ حَدِيْثِ اَحَدٍ مِّنْهُمْ رَجَآءَ بَرَكَتِهَا اِلَّا فِیْ حَدِيْثِ مَالِكٍ وَفِیْ حَدِيْثِ يُوْنُسَ وَزِيَادٍ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اشْتَكٰی نَفَثَ عَلٰی نَفْسِهٖ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَمَسَحَ عَنْهُ بِيَدِهٖ. [بخاری]

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث پشان ده۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

بَابُ اسْتِحْبَابِ الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ وَالنَّمْلَةِ وَالْحُمَةِ وَالنَّظْرَةِ۔

دنظر اونمله اودزهرو دپاره منتر کول مستحب دی۔

(۵۷۱۷) عَنِ الْاَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا عَنِ الرُّقْيَةِ فَقَالَتْ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَهْلِ بَيْتٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ فِي الرُّقْيَةِ مِنْ كُلِّ ذِي حُمَةٍ. [بخاری]

ترجمه: داسودؒ نه روایت دے وائی چه ما دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها تپوس اوکړو دمنتر په باره کښے، هغوئ اووے رسول الله ﷺ اجازت ورکړے دے دانصاروؓ یو کور والاؤ ته دزهرو دپاره دمنتر کولو (لکه دمار یالړم دپاره)۔

(۵۷۱۸) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَهْلِ بَيْتٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْحُمَةِ. [ابن ماجه]

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم ددے پورته حدیث په شان ده۔

(۵۷۱۹) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اشْتَكَى الْاِنْسَانُ الشَّيْءَ مِنْهُ اَوْكَانَتْ قَرْحَةٌ اَوْجُرْحٌ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاِصْبَعِهٖ هٰكَذَا وَوَضَعَ سُفْيَانُ سَبَّابَتَهٗ بِالْاَرْضِ ثُمَّ رَفَعَهَا "بِسْمِ اللّٰهِ تُرْبَةُ اَرْضِنَا بِرِيْقَةِ بَعْضِنَا لِيُشْفٰى بِهٖ سَقِيْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا قَالَ ابْنُ اَبِي شَيْبَةَ يُشْفٰى سَقِيْمُنَا وَقَالَ زُهَيْرٌ لِيُشْفٰى سَقِيْمُنَا. [بخاری، ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه هرکله چه په مونږ کښے څوك ناجوړه شو یا به پرے څه زخم راغے، نو رسول الله ﷺ به خپله دکلمے ګوته په زمکه باندے کیښوده اوا وبه ئے فرمائیلو "بِسْمِ اللّٰهِ تُرْبَةُ اَرْضِنَا بِرِيْقَةِ بَعْضِنَا لِيُشْفٰى بِهٖ سَقِيْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا" (یعنی دالله جل جلاله په نوم سره زمونږ دملك خاوره زمونږ دچا دلاړو سره په دے سره دی شفا اومومی زمونږ بیمار دالله جل جلاله په حکم سره) (ابن ابی شیبهؒ وئیلی دی "يُشْفٰى سَقِيْمُنَا" اودزهیرؒ نه "لِيُشْفٰى سَقِيْمُنَا" روایت دے۔

(۵۷۲۰) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَاْمُرُهَا اَنْ تَسْتَرْقِيَ مِنَ الْعَيْنِ. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به ماته حکم کوؤ په منترکولو سره دنظرنه۔

(۵۷۲۱) عَنْ مِسْعَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهٗ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۷۲۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنِيْ أَنْ أَسْتَرْقِيَ مِنَ الْعَيْنِ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته پشان ده۔

(۵۷۲۳) عَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فِي الرُّقٰى قَالَ رُخِّصَ فِي الْحُمَةِ وَالنَّمْلَةِ وَالْعَيْنِ.

ترجمه: دانس ؓ نه روایت دے وائی چه دمنترا اجازت شوے دے دز هرو اونمله (یعنه بیماری ده چه دهغے نه ٥ پښتو کښے زخم جوړیږی) اودنظر دپاره۔

(۵۷۲۴) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ وَالْحُمَةِ وَالنَّمْلَةِ وَفِيْ حَدِيْثِ سُفْيَانَ يُوْسُفَ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ حَارِثٍ.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رخصت ورکړے دے رسول الله ﷺ دمنتروئیلو دنظر دپاره اود چیچلی شوی دپاره (دز هرو ویستو) اودنمله دپاره۔

(۵۷۲۵) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِجَارِيَةٍ فِيْ بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأٰى بِوَجْهِهَا سَفْعَةً فَقَالَ بِهَا نَظْرَةٌ فَاسْتَرْقُوْا لَهَا يَعْنِيْ بِوَجْهِهَا صُفْرَةً.

ترجمه: دمؤمنانو دمورام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ دهغوئ ٥ کورکښے یوه جینئ اولیده چه دهغے په مخ باندے، داغونه وو حضرت ﷺ اوفرمائیل په دے نظرلګیدلے دے ددے دپاره منترا وکړئ۔

(۵۷۲۶) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِآلِ حَزْمٍ فِيْ رُقْيَةِ الْحَيَّةِ وَقَالَ لِأَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ مَالِيْ أَرٰى أَجْسَامَ بَنِيْ أَخِيْ ضَارِعَةً تُصِيْبُهُمُ الْحَاجَةُ قَالَتْ لَا وَلٰكِنِ الْعَيْنَ تُسْرِعُ قَالَ ارْقِيْهِمْ قَالَتْ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ ارْقِيْهِمْ.

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ رخصت

ورکړے دے دحزم خلقوته دمار دپاره دمنترکولو، اواسماء بنت عمیسؓ نه ئے اوفرمائیل څه سبب دے چه زه دخپل رور بچی (یعنی دجعفر اوابو طالب هلکانولره) کمزوری وینمه ولے دوئ وږی دی اسماءؓ اووے نه دوئ زر زر دنظره کیږی، حضرت ﷺ اوفرمائیل څه منترکوه، مایو منتر دحضرت ﷺ په مخکښے اووے، حضرت ﷺ اوفرمائیل دامنترکوه۔

(۵۷۲۷) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ اَرْخَصَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ رُقْيَةِ الْحَيَّةِ لِبَنِيْ عَمْرٍ وَّقَالَ اَبُوْالزُّبَيْرِ وَسَمِعْتُ جَابِرَابْنَ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ لَدَغَتْ رَجُلًا مِّنَّا عَقْرَبٌ وَّنَحْنُ جُلُوْسٌ مَّعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَجُلٌ يَّارَسُوْلَ اللهِ اَرْقِيْ قَالَ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ اَنْ يَّنْفَعَ اَخَاهُ فَلْيَفْعَلْ.

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اجازت ورکړے دے دمار دپاره دمنترکولو دبنی عمروخلقوته، اویو سړے زمونږ نه لړم اوچیچلو، دغه وخت مونږ درسول الله ﷺ سره ناست وو، یو سړی اووے یارسول الله ﷺ اوفرمائیل ستاسونه چه څوك دے خپل رورته فائده څه رسولے شی نو هغه دی هغه فائده اورسوی۔

(۵۷۲۸) عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ غَيْرَ اَنَّهٗ قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ اَرْقِيْهِ يَارَسُوْلَ اللهِ وَلَمْ يَقُلْ اَرْقِيْ.

ترجمه : ترجمه ددے هم ددے نه دمخکښے پشان ده۔

(۵۷۲۹) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ لِيْ خَالٌ يَّرْقِيْ مِنَ الْعَقْرَبِ فَنَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرُّقٰى قَالَ فَاَتَاهُ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّكَ نَهَيْتَ عَنِ الرُّقٰى وَاَنَا اَرْقِيْ مِنَ الْعَقْرَبِ فَقَالَ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ اَنْ يَّنْفَعَ اَخَاهُ فَلْيَفْعَلْ. [ابن ماجه]

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه ځماماما به دلړم منترکولو، بیا رسول الله ﷺ دمنترونه منع اوفرمائیله، هغه دحضرت ﷺ خواله راغے اووئے وئیل یارسول الله ﷺ تاسو دمنترو نه منع اوفرمائیله اوزه دلړم منترکوم، حضرت ﷺ اوفرمائیل "ستاسونه چه څوك خپل رورته فائده رسولے شی نورسوی دی ورته۔

(۵۷۳۱) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرُّقٰى فَجَآءَ اٰلُ

عَمْرِو ابْنِ حَزْمٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّهُ كَانَتْ عِنْدَنَا رُقْيَةٌ نَرْقِيْ بِهَا مِنَ الْعَقْرَبِ وَإِنَّكَ نَهَيْتَ عَنِ الرُّقٰى قَالَ فَعَرَضُوْهَا عَلَيْهِ فَقَالَ مَا اَرٰى بَاْسًا مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ اَنْ يَّنْفَعَ اَخَاهُ فَلْيَنْفَعْهُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده، په دے کښے دادی چه دعمرو بن حزم خلق راغلو اوهغه منترے حضرت ﷺ ته اوښودو، حضرت ﷺ اوفرمائیل څه قباحت نشته دے۔

(۵۷۳۲) عَنْ عَوْفِ ابْنِ مَالِكِ نِ الْاَشْجَعِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّا نَرْقِيْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقُلْنَا يَارَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ تَرٰى فِيْ ذٰلِكَ فَقَالَ اعْرِضُوْا عَلَيَّ رُقَاكُمْ لَابَاْسَ بِالرُّقٰى مَالَمْ يَكُنْ فِيْهِ شِرْكٌ.

ترجمه: دعوف بن مالك اشجعی نه روایت دے وائی چه مونږ به دجاهلیت په زمانه کښے منترکولو مونږه اووے یارسول الله ﷺ! ددے په باره کښے تاسو څه وایئ، حضرت ﷺ اوفرمائیل "خپل منترونه زماپه مخکښے پیش کړئ څه قباحت نشته په منترکښے کچرے په هغے کښے دشرك مضمون نه وی۔

بَابُ جَوَازِ اَخْذِ الْاُجْرَةِ عَلَى الرُّقْيَةِ بِالْقُرْاٰنِ وَالْاَذْكَارِ۔

په قران یادعاسره منترکول اوپه هغے باندے اجرت اخستل درست دی۔

(۵۷۳۳) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ نَاسًا مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوْا فِيْ سَفَرٍ فَمَرُّوْا بِحَيٍّ مِّنْ اَحْيَاءِ الْعَرَبِ فَاسْتَضَافُوْهُمْ فَلَمْ يُضِيْفُوْهُمْ فَقَالُوْا لَهُمْ هَلْ فِيْكُمْ رَاقٍ فَاِنَّ سَيِّدَ الْحَيِّ لَدِيْغٌ اَوْمُصَابٌ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنْهُمْ نَعَمْ فَاَتَاهُ فَرَقَاهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَبَرَاَ الرَّجُلُ فَاُعْطِيَ قَطِيْعًا مِّنْ غَنَمٍ فَاَبٰى اَنْ يَّقْبَلَهَا وَقَالَ حَتّٰى اَذْكُرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ وَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ وَاللهِ مَارَقَيْتُ اِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَتَبَسَّمَ وَقَالَ وَمَا اَدْرَاكَ اَنَّهَا رُقْيَةٌ ثُمَّ قَالَ خُذُوْا مِنْهُمْ وَاضْرِبُوْا لِيْ بِسَهْمٍ مَّعَكُمْ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دابوسعید خدری نه روایت دے چه څه خلق درسول الله ﷺ داصحابو نه په سفرکښے وو نودعربو په یوه قبیله باندے تیریدو اودهغوئ نه ئے دعوت اوغوښتو نو هغوئ دعوت ورنه کړو، بیا هغوئ اووے په تاسو کښے چاته منترياد دے دهغوئ سردار لړم چیچلے وو، داصحابو نه یوتن اووے هاں ماله منترراځی بیا هغه سورة فاتحه اولوسته اوهغه ښه شولو اوده ته ئے دېزویوه

رمه ورکړه، ده وانه خسته، اودائے اووے چه زه به درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړم، بیا دحضرت ﷺ خواله راغے، اوحضرت ﷺ ته نے بیان اوکړو اواونے ونیل چه یارسول الله ﷺ قسم په الله تعالی چه ما څه منترنه دے کړے سوا د سورة فاتحے نه، حضرت ﷺ مسکے شو اواونے فرمائیل تاته څنګه معلومه شوه چه هغه منتر دے، بیائے اوفرمائیل چه هغه رمه دبزو واخله اویوه حصه څما دپاره هم دخپل ځان سره اولګوه۔

(۵۷۳۴) عَنْ اَبِیْ بِشْرٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ فِیْ الْحَدِیْثِ فَجَعَلَ یَقْرَءُ اُمَّ الْقُرْاٰنِ وَیَجْمَعُ بُزَاقَهٗ وَیَتْفُلُ فَبَرَاَ الرَّجُلُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده، په دے کښے دادی چه هغه سړی سورة فاتحه لوستله اولاړے به نے جمع کولے اوتوکلے به نے پرے تردے پورے چه هغه ښه شولو۔

(۵۷۳۵) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ نَزَلْنَا مَنْزِلًا فَاَتَتْنَا امْرَاَةٌ فَقَالَتْ اِنَّ سَیِّدَالْحَیِّ سَلِیْمٌ لُدِغَ فَهَلْ فِیْکُمْ مِنْ رَاقٍ فَقَامَ مَعَهَا رَجُلٌ مِّنَّا کُنَّانَظُنُّهٗ یُحْسِنُ رُقْیَةً فَرَقَاهُ بِفَاتِحَةِ الْکِتَابِ فَبَرَا فَاَعْطَوْهُ غَنَمًا وَّسَقَوْنَا لَبَنًا فَقُلْنَا اَکُنْتَ تُحْسِنُ رُقْیَةً فَقَالَ مَارَقَیْتُهٗ اِلَّابِفَاتِحَةِ الْکِتَابِ فَقَالَ فَقُلْتُ لَاتُحَرِّکُوْهَا حَتّٰی نَاْتِیَ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَیْنَا النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرْنَا ذٰلِکَ لَهٗ فَقَالَ مَاکَانَ یُدْرِیْهِ اَنَّهَا رُقْیَةٌ اَقْسِمُوْا وَاضْرِبُوْا لِیْ مَعَکُمْ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دابوسعید خدری نه روایت دے وائی چه مونږ په یو منزل کښے کوز شویو نو یوه ښځه راغله اواونے ونیل چه ددے قبیلے سردار (ماریالرم) چیچلے دے پتاسو کښے چاله منتر ورځی یو سړے په مونږ کښے پاڅیدو چه دهغه مونږ ته پته نه وه چه ده لره په ښه شان سره منتر ورځی، بیا هغه دسورة فاتحے منتراوکړو اوهغه ښه شولو هغه خلقوده لره بزے ورکړے اوپه مونږ ئے پئ اوڅښل، مونږه اووے اے تالره څه ښه منتردرتللو، هغه اووے مادسورة فاتحے منترکړے دے، مااووے دابزے ددے ځائے نه مه خوزوه، دهغے پورے چه مونږ درسول الله ﷺ خواله تلی نه یو بیا مونږ دهغوی ﷺ خواله لاړو اوداقیصه مونږ ورته بیان کړه، حضرت ﷺ اوفرمائیل ده ته څنګه معلومه شوه چه سورة فاتحه منتردے، اوویشه هغه بزولره اودخپل ځان سره یوه حصه زماهم اولګوه۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی ددے حدیث نه معلومیږی چه په قران یانورو ذکرونو سره کچرے منتراوکړی نو دهغے اجرت اخستلے شی اوداحلال دی په دے کنبے څه کراهت نشته دے، دغه شان په قران ښودلوباندے اجرت اخستل درست دی، دامام شافعیؒ اومالکؒ اواسحقؒ دغه قول دے۔

اودامام ابوحنیفهؒ په نزد دقران په تعلیم باندے اجرت اخستل منع دی، البته دمنتراجرت درست دی، اوداچه کوم حضرت ﷺ اوفرمائیل چه څماحصه هم اولګوی دائے دهغویؒ دخوشحالولو دپاره اوفرمائیل لکه څنګه چه دعنبر په حدیث کنبے تیرشولو، اوهغه بزے تولے دمنترلوستلو والا حق وو، لیکن حضرت ﷺ تبرعا اومروة دتولو ملګروپه هغے کنبے حصه اوکړه۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ وَضْعِ يَدِهِ عَلٰى مَوْضِعِ الْاَلَمِ مَعَ الدُّعَآءِ۔

ددعاء په وخت خپل لاس لره د درد په ځائے دایښودلوبیان

(۵۷۳۷) عَنْ عُثْمَانَ ابْنِ اَبِى الْعَاصِ الثَّقَفِىِّ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّهٗ شَكٰى اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعًا يَجِدُهٗ فِىْ جَسَدِهٖ مُنْذُ اَسْلَمَ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِىْ تَاَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ وَقُلْ بِسْمِ اللّٰهِ ثَلَاثًا وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ "اَعُوْذُ بِاللّٰهِ وَقُدْرَتِهٖ مِنْ شَرِّ مَآ اَجِدُ وَاُحَاذِرُ. [ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دعثمان بن ابی العاص ثقفیؓ نه روایت دے چه هغویؓ شکایت اوکړو رسول الله ﷺ ته دیودرد پخپل بدن کنبے چه دهغه مسلمانیدو په وخت دهغه په بدن کنبے پیداشوے وو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل ته خپل لاس د درد په ځائے باندے کیږده، اودرے ځله بسم الله اووایه، دبسم الله نه پس اووه ځله دا اووایه "اَعُوْذُ بِاللّٰهِ وَقُدْرَتِهٖ مِنْ شَرِّ مَا اَجِدُ وَاُحَاذِرُ" یعنی زه پناه غوارم په الله جل جلاله سره دبدئ دهغه خیزونه چه هغے لره مامونډلے دے، اودهغے نه ویریږم۔

بَابُ التَّعَوُّذِ مِنْ شَيْطٰنِ الْوَسْوَسَةِ فِى الصَّلٰوةِ

په مانځه کنبی دشیطان دوسوسے نه دپناه غوښتلوبیان

(۵۷۳۸) عَنْ عُثْمَانَ ابْنِ اَبِی الْعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهٗ اَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ الشَّیْطٰنَ قَدْحَالَ بَیْنِیْ وَبَیْنَ صَلٰوتِیْ وَقِرَآءَ تِیْ یَلْبِسُهَا عَلَیَّ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ذَاکَ شَیْطَانٌ یُقَالُ لَهٗ خِنْزَبٌ فَاِذَا اَحْسَسْتَهٗ فَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلٰی یَسَارِکَ ثَلَاثًا قَالَ فَفَعَلْتُ ذٰلِکَ فَاَذْهَبَهُ اللّٰهُ عَنِّیْ.

ترجمه: دعثمان بن ابی العاص نه روایت دے چه هغهٔ درسول الله ﷺ خواله راغے اوعرض ئے اوکړو یارسول الله ﷺ شیطان زما په مانځه کښے حائل شی اوځمانه قران هیروی حضرت ﷺ اوفرمائیل داشیطان دے چه ورته خنزب وئیلے شی هرکله چه تاته ددے شیطان اثرمعلوم شی نوپه الله تعالی پناه اوغواړه دده نه، اوښی طرفته درے واره اوتوکه (په مانځه کښے دننه) عثمانؓ وائی مادغه شان اوکړو، بیاالله تعالی هغه شیطان ځمانه لرے کړو۔

(۵۷۳۹) عَنْ عُثْمَانَ ابْنِ الْعَاصِ اَنَّهٗ اَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَ بِمِثْلِهٖ وَلَمْ یَذْکُرْفِیْ حَدِیْثِ سَالِمِ ابْنِ نُوْحٍ ثَلَاثًا.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۵۷۴۰) عَنْ عُثْمَانَ ابْنِ اَبِی الْعَاصِ الثَّقَفِیِّ قَالَ قُلْتُ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ ثُمَّ ذَکَرَ بِمِثْلِ حَدِیْثِهِمْ.

ترجمه: دے ترجمه هم دپورته پشان ده۔

بَابُ لِکُلِّ دَآءٍ دَوَآءٌ وَّاسْتِحْبَابِ التَّدَاوِیْ۔

دهرے بیمارئ یوه دوائی ده اودوائی کول مستحب دی۔

(۵۷۴۱) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ لِکُلِّ دَاءٍ دَوَآءٌ فَاِذَا اُصِیْبَ دَوَآءُ نِ الدَّآءِ بَرَاَ بِاِذْنِ اللّٰهِ تَعَالٰی .

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "دهرے بیمارئ یوه دوائی ده، هرکله چه هغه دوائی اورسی نودالله جل جلاله په حکم سره شفاکیږی۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی په دے حدیث کښے اشاره ده چه دوائی کول مستحب دی، اودغه مذهب دے زمونږ داصحابو اوجمهورسلف اواکثردخلف خلقو،اوداحدیث دعلم طب اصل دے اودطب دجواز دلیل دے، اوپه دے کښے رد دے دهغه معتصب صوفیانو چه ددوائیئ

نه انکار کوي او وائی هر څیز دقضاو قدرنه دے نودداویئ څه حاجت دے ؟

اودعالمانو دلیل دے، چه هغه اعتقاد لری چه فاعل الله جل جلاله دے اودوائی کول داهم دتقدیر نه دی اودا داسے دی لکه څنګه چه ددعا حکم شوے دے اودکافرانو سره دجنګ دقلعه ګانو جوړولو اودخپل ځان دهلاکت نه دبچ کولو، حالانکه اجل نه بدلیږی، نه په تقدیر کښې تقدیم اوتاخیر راځی، اوڅه چه په مقدر کښے دی هغه ضرور کیدونکی دے۔ انتهی۔

(۵۷۴۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَادَ الْمُقَنَّعَ ثُمَّ قَالَ لَا اَبْرَحُ حَتّٰی تَحْتَجِمُ فَاِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اِنَّ فِیْهِ شِفَآءً. [بخاری]

ترجمه: دجابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه هغوئ عیادت دمقنع اوکړه، بیائے اووے زه نه حصاریږم دکومے پورے چه تاته ښکراونه لګوم ولے چه ماورېدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو په دے کښے شفا ده۔

(۵۷۴۳) عَنْ عَاصِمِ ابْنِ عُمَرَ وابْنِ قَتَادَةَ قَالَ جَآءَ نَا جَابِرُ ابْنُ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فِیْ اَهْلِنَا وَرَجُلٌ اِیْشْتَکِیْ خُرَاجًا بِهٖٓ اَوْجِرَاحًا فَقَالَ مَاتَشْتَکِیْ قَالَ خُرَاجٌ لِّیْ قَدْشَقَّ عَلَیَّ فَقَالَ یَاغُلَامُ ائْتِنِیْ بِحَجَّامٍ فَقَالَ لَهٗ مَاتَصْنَعُ بِالْحَجَّامِ یَااَبَاعَبْدَاللهِ قَالَ اُرِیْدُ اَنْ اُعَلِّقَ فِیْهِ مِحْجَمًا قَالَ وَاللهِ اِنَّ الذُّبَابَ لَیُصِیْبُنِیْ اَوْیُصِیْبُنِیْ الثَّوْبُ فَیُوْذِیْ وَیَشُقُّ عَلَیَّ فَلَمَّا رَاٰی تَبَرُّمَهٗ مِنْ ذٰلِکَ قَالَ اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اِنْ کَانَ فِیْ شَیْءٍ مِّنْ اَدْوِیَتِکُمْ خَیْرٌ فَفِیْ شُرْطَةِ مِحْجَمٍ اَوْشَرْبَةٍ مِّنْ عَسَلٍ اَوْلَذْعَةٍ بِنَارٍ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَمَااُحِبُّ اَنْ اَکْتَوِیَ قَالَ فَجَآءَ بِحَجَّامٍ فَشَرَطَهٗ فَذَهَبَ عَنْهُ مَایَجِدُ.

ترجمه: دعاصم بن عمروبن قتادةؓ نه روایت دے وائی چه جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما زمونږ کورته راغے، اویوسړی ته دزخم شکایت وو.(یعنی تاسور شوے وو) جابرؓ ترے تپوس اوکړو چه تاته څه شکایت دے هغه اووے یو ځائے می ناسور شوے چه دهغے نه په مابانده زیاته سخته ده، جابر رضی الله تعالی عنه اووے، اے غلام یوښکر لګولووالا راوله، هغه اووے دښکرلګونکی څه کار دے جابرؓ اووے زه په دے زخم باندے ښکر لګول غواړمه، هغه (بیمار) اووے قسم دے په الله جل جلاله باندے چه مچان به ماله تنګوی، اودکپړو

لګیدوسره به راته تکلیف وی، اوسخته به تیریږی، په ماباندے، هرکله چه جابرؓ دااولیده چه دے خفه کیږی دبنکرپه لګولوباندے نواوئے وئیل چه مااوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو "ستاسو په دوایانو کښے چه کومه غوره دوائی ده نو هغه دغه دریے دوایانے دی (۱) یوبنکرلګول۔ دویم دګبین یوګټ۔ دریم په سروټکه ټکور اورسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه زه داغ لګول غوره نه ګنړم" راوی وائی بیابنکر لګولووالا راغے، اوهغه ته ئے بنکراولګولو اوبیماری ئے بنه شوله۔

فائده : نووی علیه الرحمة وائی په دے حدیث کښے ډیرمزیدار طب دے، ولے چه مرضونه امتلائی، یادموی وی، یاصفراوی یاسوداوی یابلغمی وی، کچرے دموی وی نودهغے علاج په بنکرسره بهترنه دے،اوکه دبل قسم مرض وی نودهغے علاج مسهل دے، اوګبین ډیرمزیدار مسهل دے۔ اوداغ ورکول آخری علاج دے، هرکله چه په بله څه دوایئ سره فائده اونه شی۔ انتهی مختصرا

(۵۷۳۴) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ اُمَّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا اسْتَأْذَنَتْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِی الْحِجَامَةِ فَاَمَرَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَبَاطَیْبَةَ اَنْ یَّحْجُمَهَا قَالَتْ حَسِبْتُ اَنَّهٗ کَانَ اَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ اَوْغُلَامًا لَّمْ یَحْتَلِمْ. [ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه : دمؤمنانو دموراَم سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه هغوئ رسول الله ﷺ نه دبنکرلګولو اجازت اوغوښتو حضرت ﷺ ابو طیبهؓ ته حکم اوکړو هغوئ ته دبنکرلګولو دپاره، راوی وائی طیبهؓ دام سلمهؓ رضاعی رور وو یانابالغ هلك وو(چه دهغه نه پرده ضروری نه وه، اودضرورت په وخت ددوایئ دپاره پردے سرے هم لګولے شی هرکله چه بنځه یانابالغ هلك نه وی)

(۵۷۳۵) عَنْ جَابِرٍرَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلٰی اُبَیِّ ابْنِ کَعْبٍ طَبِیْبًا فَقَطَعَ مِنْهُ عِرْقًا ثُمَّ کَوَاهُ عَلَیْهِ. [ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه : دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ابی بن کعبؓ ته یو چالاك حکیم اولیږلو، هغه یورګ پریکړو، (یعنی وینه ئے اوویستله بیائے داغ ورکړو هغے لره۔

(۵۷۳۶) عن الاعمش بهذا الاسناد ولم یذکر فقطع منه عرقا.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۷۳۷) عَنْ جابر ابْنِ عَبْدِاللہِ رَضِیَ اللہُ تَعالٰی عَنْهُمَا قَالَ رُمِیَ اُبَیٌّ رَضِیَ اللہُ تَعالٰی عَنْهُ یَوْمَ الْاَحْزَابِ عَلٰی اَکْحَلِهٖ قَالَ فَکَوَاهُ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه په ابی بن کعبؓ داحزاب په جنګ کښے یو غشے اولګیدو، نو رسول الله ﷺ داغ ورکړو هغه لره۔

(۵۷۳۸) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللہُ تَعالٰی عَنْهُ قَالَ رُمِیَ سَعْدُ ابْنُ مُعَاذٍ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ فِیْ اَکْحَلِهٖ قَالَ فَحَسَمَهُ النَّبِیُّ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِیَدِهٖ بِمِشْقَصٍ ثُمَّ وَرِمَتْ فَحَسَمَهُ الثَّانِیَةَ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه سعد رضی الله تعالی عنه په اکحل (دایو رګ دے) باندے اولګیدو نو رسول الله ﷺ داغ ورکړو هغه لره دغشی په سوکه سره پخپل لاس باندے دهغه لاس اوپړسیدو حضرت ﷺ ورله بیاداغ ورکړو۔

(۵۷۳۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ واعطی الْحَجَّامَ اَجْرَهٗ واسْتَعَطَ.

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ښکرلګولے دے او ښکرلګولو والائے مزدوری ورکړے ده، او حضرت ﷺ په پوزه کښے هم دوائی اچولی ده (یعنی په پوزه ئے راښکودے ده)

(۵۷۵۰) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ احْتَجَمَ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَکَانَ لَایَظْلِمُ احدا اجرهٗ. [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ښکرلګولے دے، او حضرت ﷺ دهیچانه مزدوری نه ده نیولی، (یعنی ورکوله به ئے نو ښکرلګولو والا ئے هم ورکړے ده)۔

(۵۷۵۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ شِدَّةَ الْحُمّٰی مِنْ فَیْحِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوْهَا بِالْمَآءِ. [ابن ماجه]

(۵۷۵۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ شِدَّةَ الْحُمّٰی مِنْ فَیْحِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوْهَا بِالْمَآءِ. [ابن ماجه]

ترجمه: دابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے په دوارو روایتونو کښې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دتبے گرمی دجهنم دگرمی نه ده یخوئ دے لره په اوبو سره.

(۵۷۵۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمّٰی مِنْ فَیْحِ جَهَنَّمَ فَاطْفِئُوْهَا بِالْمَآءِ. [بخاری]

ترجمه: دپورته پشان ترجمه ده.

(۵۷۵۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمّٰی مِنْ فَیْحِ جَهَنَّمَ فَاَطْفِئُوْهَا بِالْمَآءِ.

ترجمه: دابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دتبے جوش دجهنم داورنه دے مرکوئ دے لره په اوبو سره.

(۵۷۵۵) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْحُمّٰی مِنْ فَیْحِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوْهَا بِالْمَآءِ. [ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی تبه دجهنم دسوزش نه ده نویخه وئ دے لره په اوبو سره.

(۵۷۵۶) عن هشام بهذ الاسناد مثله.

ترجمه: ترجمه هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه.

(۵۷۵۷) عن اسماء رضی الله تعالی عنها انها تؤتی بالمرأة الموعوكة فتدعوا بالماء فتصبه فی جیبها وتقول ان رسول الله صلی الله عل [illegible] وقال انها من فیح جهنم [بخاری]

ترجمه: [illegible] بیماره هغې له راغله، نو هغې به لوبه اوغوښتې او د هغې په گریوان کښې به [illegible] چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "یخه وئ دے لره په اوبو سره اوفرمائیلی ئې دی چه تبه دجهنم دسختې گرمئ نه دی.

(۵۷۵۸) عن هشام بهذا الاسناد وفی حدیث ابن نمیر صبت الماء بینها وبین جیبها ولم یذکر فی حدیث

(۵۷۵۹) اَبِیْ اُسَامَةَ اِنَّهَا مِنْ فَیْحِ جَهَنَّمَ قَالَ اَبُوْ اَحْمَدَ قَالَ اِبْرَاهِیْمُ ابْنُ سُفْیَانَ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ بِهٰذَا.

ترجمه: ترجمه ددے هم ددے نه دمخکینے حدیث پشان ده۔

عَنْ رَّافِعِ ابْنِ خَدِیْجٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اِنَّ الْحُمّٰى فَوْرٌ مِّنْ جَهَنَّمَ فَابْرِدُوْهَا بِالْمَآءِ. [بخاری ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: درافع بن خدیج رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو تبه دجهنم دجوش و هلونه راځی، نو یخه وئ دے لره په اوبو سره۔

(۵۷۶۰) عَنْ رَّافِعِ ابْنِ خَدِیْجٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اِنَّ الْحُمّٰى مِنْ فَوْرِ جَهَنَّمَ فَابْرِدُوْهَا عَنْکُمْ بِالْمَآءِ وَلَمْ یَذْکُرْ اَبُوْبَکْرٍ وَقَالَ قَالَ اَخْبَرَنِیْ رَافِعُ ابْنُ خَدِیْجٍ.

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم دپورته حدیث په شان ده۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی په دے حدیث باندے بعضے ملحد اعتراض کوی چه په تبه کښے په یخو اوبو سره لمبل مضردی، ولے چه غه مساماتو لره بندوی اودننه گرم والی لره زیاتوی، ددے جواب دادے چه رسول الله ﷺ دلمبولو حکم نه دے ورکړے بلکه په اوبو سره دیه: ، ولو حکم ئے ورکړے دے او هغه ممکن دی چه په یخو اوبو څښلو سره یا په لاسو نو وینځلو سره، او طبیبان متفق دی په دے امر باندے په صفراوی تبه کښے یخے اوبه پرے څکول بلکه واړے خورول پرے فائده مند دی۔

مترجم وائی په انترې تیښت فیور کښے تمام ډاکټران لیکی چه په سرباندے ورته واړے تږیٔ، اوبه بیمار دبرف ټکړے خورویٔ، ډاکټر رحیم خان صاحب لیکی چه په داسے بخار کښے برف زیاته فائده ورکوی ځکه چه دبرف ټکړے رورو دبیمار حلق ته لاندے کوزیږی، او بیمار ته تسکین راځی، په دے صورت کښے دملحدانو اعتراض ښکاره جهالت دے او ددے نه داسے معلومیږی چه هغوئ پخپله دطب نه ناواقف دی۔

(۵۷۶۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ لَدَدْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ مَرَضِهٖ فَاَشَارَ اَنْ لَاتَلُدُّوْنِیْ فَقُلْنَا کَرَاهِیَةَ الْمَرِیْضِ لِلدَّوَآءِ فَلَمَّا اَفَاقَ قَالَ لَایَبْقٰى مِنْکُمْ اَحَدٌ اِلَّا لُدَّ غَیْرُ الْعَبَّاسِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَاِنَّهٗ لَمْ یَشْهَدْکُمْ. [بخاری]

ترجمه: دمونږ مور حضرت عائشې رضي الله تعالى عنها نه روايت دے دے وائي چه مونږ د رسول الله ﷺ په خله مبارکه کښې دوائي واچوله، دهغوی ﷺ په بیمارئ کښې حضرت ﷺ په اشاره سره اوفرمائيل زما په خله کښې دوائي مه غورځوئ" مونږ خلقوو، خپلو کښې اووے، حضرت ﷺ دبیمارئ په وجه ددوايئ نه نفرت کوی (نو په دے باندے عمل کول ضروری نه دی) هرکله چه حضرت ﷺ ته هوش راغے نو اوئے فرمائيل ستاسو دټولو په خله کښې دی دوائي واچولے شی علاوه دعباس رضي الله تعالى عنه نه چه هغه دلته موجود نه وو. (دسزاء ورکړه حضرت ﷺ هغه خلقو ته چا چه دهغوی ﷺ حکم نه وومنلے.)

(۵۷۶۲) عَنْ اُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ اُخْتِ عُكَّاشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا دَخَلْتُ بِابْنٍ لِّيْ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَاْكُلِ الطَّعَامَ فَبَالَ عَلَيْهِ فَدَعَا بِمَآءٍ فَرَشَّهُ :

قَالَتْ وَدَخَلْتُ عَلَيْهِ بِابْنٍ لِّيْ قَدْ اَعْلَقْتُ عَلَيْهِ مِنَ الْعُذْرَةِ فَقَالَ عَلَامَ تَدْغَرْنَ اَوْلَادَكُنَّ بِهٰذَا الْعَلَاقِ عَلَيْكُنَّ بِهٰذَا الْعُوْدِ الْهِنْدِيِّ فَاِنَّ فِيْهِ سَبْعَةَ اَشْفِيَةٍ مِّنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ يُسْعَطُ مِنَ الْعُذْرَةِ وَيُلَدُّ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ.

ترجمه: دام قیس بنت محصن ؓ نه روايت دے وائي چه دعکاشه خور وه وائي چه ماخپل يو بچے درسول الله ﷺ خواله يوړو چه هغه ددغه وخته پورے خوراك نه وو خوړلے، هغه په حضرت ﷺ باندے متيازے اوکړے، حضرت ﷺ اوبه اوغوښتے اوپه هغه ځائے باندے ئے توږ کړلے، اوما يو بچے دحضرت ﷺ خواله يوړو چه دهغه حلق مادباؤ کړے وو(په گوته سره) دغدره په بيمارئ کښې (غدره دحلق پرسوب دے) حضرت ﷺ اوفرمائيل ولے تالو اوحلق دخپل اولاد دباوے، ددے ږبئ دپاره ته لازم عود هندی ميده کوه په دے کښې داووه بيمارو شفاده. يو دپښتئ د درد دپاره، اوددے سفوف (يعني په پوزه رابنکودل) دږبئ دپاره فائده مند دی اوپه ذات الجنب کښې ددے په مخکښې لګول فائده ورکوی.

فائده: عود هندی ته په عربئ کښې قسط هندی وائي اوهندی کښې اګردازياته فائده منه دوائي ده، په بحرالجواهر کښې دی چه هغه په دريمه درجه کښې ګرم اوخشك دی، په زخم باندے اوچولو سره زخم وچوی، اودسرد دردونو دپاره ددے ضماد فائده ورکوی، اودمعدے دکمزورے اوجګر دپاره فائده مند دی، نووی ؒ وائي کومو خلقو چه په ذات الجنب کښې دقسط

ورکولو نه انکار کړے وو دهغوئ قول باطل دے. ولے چه پخوانے طبیب دا وائی چه په بلغمی ذات الجنب کښے قسط فائده مند دے، اودا هم وائی چه قسط مدد حیض دے اومدربول هم دے. اودز هر اثرلرے کوی اوزیاتوی شهوت لره، اوچینجی وژنی، اوکدو دانه هم وژنی هرکله چه دشهدو سره یو ځائے استعمال کړے شی، اوداغونه لرے کوی اوعلاوه ددے نه نورے هم ډیرے فائدے دی. (انتهی مختصرًا)

(۵۷۶۴) عَنْ اُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ الْاُوَلِ اللَّاتِيْ بَايَعْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ اُخْتُ عُكَّاشَةَ ابْنِ مِحْصَنٍ اَحَدِبَنِيْ اَسَدِ ابْنِ خُزَيْمَةَ قَالَ اَخْبَرَتْنِيْ اَنَّهَا اَتَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِابْنٍ لَهَالَمْ يَبْلُغْ اَنْ يَّاْكُلَ الطَّعَامَ وَقَدْاَعْلَقَتْ عَلَيْهِ مِنَ الْعُذْرَةِ قَالَ يُوْنُسُ اَعْلَقَتْ غَمَزَتْ فَهِيَ تَخَافُ اَنْ يَّكُوْنَ بِهٖ عُذْرَةٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَامَهْ تَدْغَرْنَ اَوْلَادَكُنَّ بِهٰذَا الْاِعْلَاقِ عَلَيْكُمْ بِهٰذَا الْعُوْدِ الْهِنْدِيِّ يَعْنِيْ بِهِ الْقُسْطَ فَاِنَّ فِيْهِ سَبْعَةَ اَشْفِيَةٍ مِّنْهَا ذَاتُ الْجَنْبِ :

ترجمه : دام قیس بنت محصن نه روایت دے اودادمهاجرینو درومبو ښځونه وه کومو چه درسول الله ﷺ نه بیعت کړے وو اودعکاشه خور وه هغے درسول الله ﷺ خواله یوبچے رااخستے وو راغله چه هغه غله نه وه خوړلے اودغدره دبیماریٔ نه هغوئ دهغه حلق دباؤ کړے وو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاسولے خپل اولاد نه تکلیف ورکوئ په تالودباوه ولو اوخیژولو سره، (په ګوته پالرګی سره) تاسوعود هندی یعنی قسط لازم کړئ په دے کښے د اووه بیمارو علاج دے یودهغے نه ذات الجنب هم دے،"

(۵۷۶۵) قَالَ عُبَيْدُاللّٰهِ وَاَخْبَرَتْنِيْ اَنَّ ابْنَهَا ذَاكَ بَالَ فِيْ حِجْرِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَآءٍ فَنَضَحَهٗ عَلٰى بَوْلِهٖ وَلَمْ يَغْسِلْهُ غَسْلًا.

ترجمه : عبیدالله وائی ام قیس ماته بیان کړے دے چه دغه بچی درسول الله ﷺ په غیږه کښے متیازے اوکړے حضرت ﷺ اوبه اوغوښتے اوپه خپلو کپړو باندے ئے توئ کړے، اوکپړولره ئے ونځلے نه.

(۵۷۶۶) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَآءِ شِفَآءً مِّنْ كُلِّ دَآءٍ اِلَّا السَّامَ وَالسَّامُ الْمَوْتُ وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ الشُّوْنِيْزُ. [بخاری ، ترمذی]

ترجمه: دابو هريرة رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى "په توره دانه كښے شفا ده دهرے بيمارئ سوا د رگ نه. اودتورے دانے نه مراد كلونجى ده.

فائده: نووى عليه الرحمة وائى دغه صحيح ده. اوځنے وائى اورے مراد دے. اوځنے وائى بطم مراد دے. دكلونجئ تعريف طبيبانو هم ډيركړے دے. اوبيشكه هغه په تمامو بيمارو كښے كومے چه بادى بلغمى وى داكسير حكم لرى. اودگيدے چه جولره وژنى. نووىؒ وائى په دے حديث كښے دتمامو بيمارو نه مراد ديخنئ بيمارئ دى.

(۵۷٦٧) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ عُقَيْلٍ وَفِىْ حَدِيْثِ سُفْيَانَ وَيُوْنُسَ الْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ وَلَمْ يَقُلِ الشُّوْنِيْزُ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حديث پشان ده.

(۵۷٦٨) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَامِنْ دَاءٍ اِلَّا فِى الْحَبَّةِ السَّوْدَآءِ مِنْهُ شِفَآءٌ اِلَّا السَّامَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حديث پشان ده.

(۵۷٦٩) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا زَوْجِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهَا كَانَتْ اِذَامَاتَ الْمَيِّتُ مِنْ اَهْلِهَا فَاجْتَمَعَ لِذٰلِكَ النِّسَآءُ ثُمَّ تَفَرَّقْنَ اِلَّا اَهْلَهَا وَخَاصَّتَهَا اَمَرَتْ بِبُرْمَةٍ مِّنْ تَلْبِيْنَةٍ فَطُبِخَتْ ثُمَّ صُنِعَ ثَرِيْدٌ فَصُبَّتِ التَّلْبِيْنَةُ عَلَيْهَا ثُمَّ قَالَتْ كُلْنَ مِنْهَا فَاِنِّىْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ التَّلْبِيْنَةُ مُجِمَّةٌ لِّفُؤَادِ الْمَرِيْضِ تُذْهِبُ بَعْضَ الْحُزْنِ. [بخارى، ترمذى]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضى الله تعالى عنها نه روايت دے چه هركله به دهغوئ په كوركښے څوك مړ شونو ښځے به جمع شوے بيابه لاړے صرف دهغوئ كوروالاخاص خلق به پاتے شو. دغه وخت به هغه حكم اوكړو دكټوئ دتلبينے (تلبينه حريره ددلوياداوړو كله كله په هغے كښے شهد هم ميلاوه وى) بيابه هغه پخه شوه ددے نه پس به ثريد تيارشولو (ډوډئ اوشوروا) اوتلبينه به ئے په هغے باندے واچوله. بيابه هغوئ اووے ښځوته خورئ دے لره ولے چه مااوريدلى دى درسول الله ﷺ نه چه فرمائيلى ئے وو "چه تلبينه دبيمار زړۀ لره خوشحالوى اوددے په څښلوسره څه خفګان كميږى.

(۵۷۷۰) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنَّ اَخِیْ اسْتَطْلَقَ بَطْنُهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اسْقِهٖ عَسَلًا فَسَقَاهُ ثُمَّ جَآءَهٗ فَقَالَ اِنِّیْ سَقَیْتُهٗ فَلَمْ یَزِدْهُ اِلَّا اسْتِطْلَاقًا فَقَالَ لَهٗ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ جَآءَ الرَّابِعَةَ فَقَالَ اسْقِهٖ عَسَلًا فَقَالَ لَقَدْ سَقَیْتُهٗ فَلَمْ یَزِدْهُ اِلَّا اسْتِطْلَاقًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ اللّٰهُ وَکَذَبَ بَطْنُ اَخِیْکَ فَسَقَاهُ فَبَرَأَ. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: دابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړے درسول الله ﷺ خوا له راغے، او عرض ئے اوکړو چه زما د رور دستونه کیږی، حضرت ﷺ اوفرمایل په هغه شهد اوڅکوه، هغه پرے اوڅښلو، بیا راغے او اوئے وئیل په شهد څکولو سره د هغه دستونه نور هم زیات شول، حضرت ﷺ ورته بیا اوفرمائیل چه شهد پرے اوڅکوه، درے واره لاړو راغے، په څلورم ځل چه هغه راغے او اوئے وئیل، ما پرے شهد اوڅکول خو دستونه نور هم زیات شول، حضرت ﷺ اوفرمائیل الله تعالی رښتونے دے او ستا د رور ګیډه دروغجنه ده، بیا پرے هغه شهد اوڅکول او هغه ښه شولو۔

فائده: په شهد کښے بالخاصیت شفاده، پخپله قران دے ته شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ وئیلے دے او شهد اګرچه مسهل دے مګر هرکله چه اسهال مادی وی نو دهغے علاج اسهال دے او د شهدنه حاصلیږی، په دے واسطه د شهد په څښلو سره دستونه نور هم سیوا شول هرکله چه ماده تو له اووته نو دستونه اودریدل داعلاج بلکل دطب مطابق دے، اوکوم ملحد چه په دے باندے اعتراض کړے دے هغه جاهل او بے شعوره دے او مونږ چه کومه دطب مسئله په دے مقام باندے بیان کړه هغه ددے دپاره نه چه د حدیث تصدیق اوشی بلکه دطب دمسئلے تصدیق د حدیث نه کیږی، او کچے طبیب حدیث ته دروغژن او وائی نو مونږ دغه طبیبانو ته دروغژن او کافر وایو بیا کچرے هغه په مشاهده سره دعوه ثابته کړی نو مونږ به د حدیث تاویل کوو او د هغے مطلب به صحیح بیانوو۔ (نووی مع زیادة)

(۵۷۷۱) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنَّ اَخِیْ عَرِبَ بَطْنُهٗ فَقَالَ لَهٗ اسْقِهٖ عَسَلًا بِمَعْنٰی حَدِیْثِ شُعْبَةَ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده۔

بَابُ الطَّاعُوْنِ وَالطِّيَرَةِ وَالْكَهَانَةِ

دطاعون بدفالئ اوكهانت بيان

(۵۷۷۲) عَنْ عَامِرِ ابْنِ سَعْدِ ابْنِ اَبِىْ وَقَّاصٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهُ سَمِعَهُ يَسْاَلُ اُسَامَةَ ابْنَ زَيْدٍ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ مَاذَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى الطَّاعُوْنِ فَقَالَ اُسَامَةُ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُوْنُ رِجْزٌ اَوْعَذَابٌ اُرْسِلَ عَلٰى بَنِىْ اِسْرَآئِيْلَ اَوْعَلٰى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَاِذَا سَمِعْتُمْ بِهٖ بِاَرْضٍ فَلَاتَقْدَمُوْا عَلَيْهِ وَاِذَا وَقَعَ بِاَرْضٍ وَاَنْتُمْ بِهَافَلَاتَخْرُجُوْا فِرَارًمِّنْهُ وَقَالَ اَبُوالنَّضْرِ لَايُخْرِجُكُمْ اِلَّافِرَارًمِّنْهُ. [بخاری ، ترمذی]

ترجمه: دعامربن سعد ابن ابی وقاص رضی الله عنه نه روایت دے چه دهغوئ پلار داسامه بن زید رضی الله عنه نه تپوس لوکړو چه تاسو څه اوریدلی دی درسول الله ﷺ نه دطاعون په باره کښے اسامه رضی الله عنه اووے حضرت ﷺ فرمائيلی دی "چه طاعون يوعذاب دے چه په بنی اسرائيلو باندے يا په مخکښے امتونو باندے راليږلے شوے وو، پس هرکله چه تاسو واورئ چه په يو ملك کښے طاعون دے، نو هلته مه ځئ ، اوکچرے ستاوپه علاقه کښے طاعون ښکاره شی نو مه اوځئ دويرے دهغے نه په تيخته سره".

فائده: نووی عليه الرحمة وائی طاعون يوه دانه ده چه په څنګل يا ترخ يا لاس يا ګوتو يا په بدن کښے په بل ځائے راخيژی اودهغے سره پرسوب اودرد اوسوزيدل اوخفقان يعنی زړهٔ درزيدل اوقے لازم وی، خلی وئيلی دی وباهم طاعون ته وئيلے شی اوهره وبايوعام مرض دی، اوصحيح داده چه وباهغه مرض ده چه چرته په يو ملك کښے په کثرت سره ښکاره شی اوپه بل ملك کښے نه وی، نو هرطاعون وبا ده، اوهره وباطاعون نه دے.

اوهغه وباکومه چه دحضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه په زمانهٔ مبارکه کښے په شام کښے راغلے وه هغه طاعون ووکومے ته چه طاعون عمواس وئيلے شی اودهغے بيان دکتاب په مقدمه کښے تيرشوے دے اوس طاعون په نورو امتونو باندے عذاب وو ليکن هغه دمسلمانانو دپاره رحمت اوشهادت دے، په صحيحين کښے دی چه څوك په طاعون سره مرشی

هغه شهید دے. او په یو حدیث کښے دی چه خوك په طاعون کښے صبر او کړی او د خپل ښهر نه اونه تختی. د الله تعالی په تقدیر باندے بهروسه او کړی هغه ته د شهید ثواب میلاویږی او د طاعون د ویرے نه تښتیدل منع دی. حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وائی تښتیدونکے د طاعون نه داسے دے لکه خوك چه د کافرو د مقابلے نه او تښتی. او ځنے خلقو د طاعون نه تښتیدل او کوم ځائے کښے چه طاعون وی هلته تللو ته درست وئیلی دی. او د غه منقول دی د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه نه چه هغه شرمنده شو د سرغ نه په واپس راتللو باندے. او د ابو موسی اشعری رضی الله تعالی عنه او مسروق او د اسود بن هلال نه منقول دے چه هغه د طاعون نه تښتیدلے وو.

او عمرو بن عاص وئیلی دی د دے عذاب نه تښتئ د غرونو میدانونو او کنډونو ته، معاذ وائی دا خو شهادت دے او رحمت دے. او هغه خلقو د حدیث تاویل کړے دے چه دا ممانعت د مصلحت نه دے د دے د پاره چه خلق دا اونه ګڼړی چه د راغلو خلقو په وجه سره هلاك شو، او تښتیدونکی د تښتیدو په وجه سره بچ شو او هغه داسے دے لکه ممانعت د شګون اخستلو او د جذامی خواله د ور تللو.

ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وئیلی دی طاعون فتنه ده، د مقیم د پاره او د تښتیدونکی د پاره، د مقیم د پاره خو د دے وجے نه چه هغه به وائی زه اونه تختیدم ه دے وجه هلاك شوم، او د تښتیدونکی د پاره د دے وجے نه چه هغه به وائی زه او تختیدم ه دے وجه سره بچ شوم، او د غه مذهب صحیح دے چه د طاعون ملك ته تلل او د هغه ځائے نه تښتیدل دواړه منع دی او په حدیث کښے دا امر صفا موجود دے، البته د څه یو بل کار یا ضرورت د پاره تلل او وتل درست دی (نووی)

مترجم وائی د طاعون یا د وبانه تښتیدل د نفس د کمزورتیا او سفاهت دلیل دے، ځکه چه سبب د مرګ څه په طاعون سره منحصر نه دے، بلکه د مرګ اسباب دومره ډیرے شماره دی چه انسان د هغے نه په یو ځائے کښ هم بچ کیدے نه شی، او مرګ خو د انسان په ماهیت کښ داخل دے. د دے نه تیښته کول زمونږه خومره لویه بے وقوفی ده، ولے چه حکیمانو د انسان تعریف

داکړے دے حیوان ناطق مانت ۔ بیاخه چه زمونږ په ماهیت کښے داخل دی دهغے نه تښتیدل زمونږه څومره غټه بے وقوفي ده۔

الله تعالی فرمائیلی دی "قُلْ لَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ مِنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ اِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا" اوایه اے محمد (ﷺ) دمرګ یادقتل نه (بل ځائے ته) تښتیدل به څه فائده درنه کړی، اوکه بالفرض بچ هم شئ، نو څوورځ به نورژوندی یئ بیابه آخرمره کیدل وی عقل سلیم دا وائی چه که څوك دزرو کالو پورے هم په دنیاکښے پاتے شی، بیابه هم ددنیاپه ژوند باندے موړنه شی اومرګ به هم هغه شان ورته ناخوښه وی، ځکه چه دهغه دخیال زیلے دروميږ نه پریکول ضروری دی، اودمرګ دپاره باعمله تیار اوسیدل عین عقل اوشعور دے، (اودعقل اوشعور نه بغیرانسان دانسانیت ددائرے نه بهردے۔

(۵۷۷۳) عَنْ اُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُوْنُ اٰيَةُ الرِّجْزِ ابْتَلَى اللهُ عَزَّوَجَلَّ بِهٖ نَاسًا مِّنْ عِبَادِهٖ فَاِذَا سَمِعْتُمْ فَلَا تَدْخُلُوْا عَلَيْهِ فَاِذَا وَقَعَ بِاَرْضٍ وَّاَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَفِرُّوْا مِنْهُ هٰذَا حَدِيْثُ الْقَعْنَبِيِّ وَقُتَيْبَةَ نَحْوَهٗ.

ترجمه : داسامه بن زیدؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "طاعون دیوعذاب نشانی ده په کوم سره چه الله تعالی په خپلوبعضو بندیګانوباندے ازمینت کړے دے، پس هرکله چه تاسو واورئ چه په یوملك کښے طاعون ښکاره شوے دے نو هلته مه ورځئ اوهرکله چه تاسو هلته یئ نودهغه ځائے نه مه تښتئ۔

(۵۷۷۴) عَنْ اُسَامَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ هٰذَا الطَّاعُوْنَ رِجْزٌ سُلِّطَ عَلٰى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ اَوْعَلٰى بَنِيْ اِسْرَآئِيْلَ فَاِذَا كَانَ بِاَرْضٍ فَلَا تَخْرُجُوْا مِنْهَا فِرَارًا مِنْهُ وَاِذَا بِاَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوْهَا.

ترجمه : ترجمه هم ددے پورته حدیث پشان ده۔

(۵۷۷۵) عَنْ عَامِرِ ابْنِ سَعْدٍ اَخْبَرَهٗ اَنَّ رَجُلًا سَاَلَ سَعْدَ ابْنَ اَبِيْ وَقَّاصٍ عَنِ الطَّاعُوْنِ فَقَالَ اُسَامَةُ ابْنُ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَا اُخْبِرُ عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ عَذَابٌ اَوْرِجْزٌ اَرْسَلَهُ اللهُ تَعَالٰى عَلٰى طَائِفَةٍ مِّنْ بَنِيْ اِسْرَآئِيْلَ اَوْنَاسٍ كَانُوْا قَبْلَكُمْ فَاِذَا سَمِعْتُمْ بِهٖ بِاَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوْهَا عَلَيْهِ وَاِذَا دَخَلَهَا عَلَيْكُمْ

فَلَاتَخْرُجُوْا مِنْهَا فِرَارًا.

ترجمه: دعامر بن سعدؓ نه روایت دے چه یو سړی دسعد بن ابی وقاصؓ نه دطاعون په باره کښے تپوس وکړو اسامهؓ اووے زه بیانوم تاسو ته چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دغه کوم چه پورته ذکر شو.

(۵۷۷۶) عَنْ عَمْرِ ابْنِ دِيْنَارٍ بِاِسْنَادِ ابْنِ جُرَيْجٍ نَحْوَ حَدِيْثِهِ.

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده.

(۵۷۷۷) عَنْ اُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ اِنَّ هٰذَا الْوَجْعَ اَوِالسَّقَمِ رِجْزٌ عُذِّبَ بِهِ بَعْضُ الْاُمَمِ قَبْلَكُمْ ثُمَّ بَقِيَ بَعْدُ بِالْاَرْضِ فَيَذْهَبُ الْمَرَّةَ وَيَأْتِي الْاُخْرٰى فَمَنْ سَمِعَ بِهِ بِاَرْضٍ فَلَايَقْدَمَنَّ عَلَيْهِ وَمَنْ وَقَعَ بِاَرْضٍ وَهُوَ بِهَا فَلَايُخْرِجَنَّهُ الْفِرَارُ مِنْهُ.

ترجمه: داسامه بن زیدؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "دا بیماری عذاب دے چه ستاسو نه مخکښے په یو امت راغلے وه پس هغه ه زمکه کښے پاتے شو، کله ځی کله بیا راځی، پس هرهغه څوك چه واوروی چه یو ملك کښے طاعون دے نو هلته دې نۀ ځی، او هر کله چه ددوئ په ملك کښے طاعون ښکاره شی دهغه ځائے نه دې تښتی هم نه.

(۵۷۷۸) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِاِسْنَادِ يُوْنُسَ نَحْوَ حَدِيْثِهِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده.

(۵۷۷۹) عَنْ حَبِيْبٍ قَالَ كُنَّا بِالْمَدِيْنَةِ فَبَلَغَنِيْ اَنَّ الطَّاعُوْنَ قَدْ وَقَعَ بِالْكُوْفَةِ فَقَالَ لِيْ عَطَاءُ ابْنُ يَسَارٍ وَغَيْرُهُ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا كُنْتَ بِاَرْضٍ فَوَقَعَ بِهَا فَلَاتَخْرُجْ مِنْهَا وَاِذَا بَلَغَكَ اَنَّهُ بِاَرْضٍ فَلَاتَدْخُلْهَا قَالَ قُلْتُ عَنْ مَنْ قَالُوْا عَنْ عَامِرِ ابْنِ سَعْدٍ يُحَدِّثُ بِهِ قَالَ فَاَتَيْتُهُ فَقَالُوْا غَائِبٌ فَقَالَ فَلَقِيْتُ اَخَاهُ اِبْرَاهِيْمَ ابْنَ سَعْدٍ فَسَاَلْتُهُ فَقَالَ شَهِدْتُ اُسَامَةَ يُحَدِّثُ سَعْدًا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ هٰذَا الْوَجْعَ رِجْزٌ وَعَذَابٌ اَوْبَقِيَّةُ عَذَابٍ عُذِّبَ بِهِ اُنَاسٌ مَنْ قَبْلَكُمْ فَاِذَا كَانَ بِاَرْضٍ وَاَنْتُمْ بِهَا فَلَاتَخْرُجُوْا مِنْهَا وَاِذَا بَلَغَكُمْ اَنَّهُ بِاَرْضٍ فَلَاتَدْخُلُوْهَا قَالَ حَبِيْبٌ فَقُلْتُ لِاِبْرَاهِيْمَ اَنْتَ سَمِعْتَ اُسَامَةَ يُحَدِّثُ سَعْدًا وَهُوَ لَايُنْكِرُ قَالَ نَعَمْ.

ترجمه: دحبیبؓ نه روایت دے وائی چه مونږ په مدینه کښے وو م اته خبر رااورسیدو چه په کوفه

کښې طاعون ښکاره شوے دے نو عطاء بن یسارؒ اونورو خلقو ماته اووے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "هرکله چه ته په یو ملك کښې ئے اوپه هغه ځائے باندے طاعون شروع شی نو مه تښته دهغه ځائے نه اوهرکله چه تاته خبر در اورسی چه په یو ملك کښې طاعون شروکیدونکے دے نو هلته مه ځئ" ماووے داحدیث تاته دچانه اوریدلے دے هغویؒ اووے دعامر بن سعدؒ نه، زۀ دهغویؒ خوا لِه لاړم خلقوراته اووے چه هغه نشته دے زۀ دهغه رور ابراهیم بن سعدؒ سره میلاؤ شوم، دهغویؒ نه می تپوس اوکړو هغویؒ اووے زۀ موجود وم هرکله چه اسامهؓ سعدؓ ته حدیث بیان کړو چه ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو"دابیماری عذاب دے یابقیه دعذاب ده چه ه رومبو خلقوراغلے وو، پس هرکله چه دابیماری په یو ملك کښې شروع وی اوته هلته موجود ئے نو دهغه ځائے نه چرته مه زه، اوهرکله چه تاسوته خبردر اورسی چه په یو ملك کښې دغه بیماری شروع شوے ده نو هلته مه ځئ، حبیبؓ وائی ماداابراهیمؒ نه تپوس اوکړو چه تا اوریدلی دی هرکله چه اسامهؓ داحدیث بیانوۀ سعدؓ ته اوهغویٔ انکار نه ووکړے، ابراهیمؒ اووے هاں ماوریدلی دی۔

(۵۷۸۰) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ قِصَّةَ عَطَاءِ ابْنِ يَسَارٍ فِيْ أَوَّلِ الْحَدِيْثِ.

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۷۸۱) عَنْ سَعْدِ ابْنِ مَالِكٍ وَّخُزَيْمَةَ ابْنِ ثَابِتٍ وَّأُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ قَالُوْا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ شُعْبَةَ.

ترجمه : ددے هم ترجمه دپورته حدیث پشان ده۔

(۵۷۸۲) عَنْ إِبْرَاهِيْمَ ابْنِ سَعْدِ ابْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ أُسَامَةُ ابْنُ زَيْدٍ وَّسَعْدٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا جَالِسَيْنِ يَتَحَدَّثَانِ فَقَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيْثِهِمْ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم دپورته حدیث په شان ده۔

(۵۷۸۳) عَنْ اِبْرَاهِيْمَ ابْنِ سَعْدِ ابْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِيْثِهِمْ.

ترجمه: ددے حدیث هم درومبی حدیث پشان ده۔

(۵۷۸۴) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا أَنَّ عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ خَرَجَ إِلٰى

الشام حتی اذا کان بسرغ لقیه اهل الاجناد ابو عبیدة ابن الجراح واصحابه رضی الله تعالی عنهم فاخبروه ان الوباء قد وقع بالشام قال ابن عباس فقال عمر ادع لی المهاجرین الاولین فدعوتهم فاستشارهم واخبرهم ان الوباء وقع بالشام فاختلفوا فقال بعضهم قد خرجت لامر ولا نری ان ترجع عنه وقال بعضهم معک بقیة الناس واصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ولا نری ان تقدمهم علی هذه الوباء قال ارتفعوا عنی ثم قال ادع لی الانصار فدعوتهم فاستشارهم فسلکوا سبیل المهاجرین واختلفوا کاختلافهم فقال ارتفعوا عنی ثم قال ادعوا من کان ههنا من مشیخة قریش من مهاجرة الفتح فدعوتهم فلم یختلف علیه رجلان فقالوا نری ان ترجع بالناس ولاتقدمهم علی هذا الوباء قال فنادی عمر رضی الله تعالی عنه فی الناس انی مصبح علی ظهر فاصبحوا علیه فقال ابوعبیدة ابن الجراح رضی الله تعالی عنه افرارا من قدر الله فقال عمر رضی الله تعالی عنه او غیرک قالها یا ابا عبیدة وکان عمر یکره خلافه نعم نفر من قدر الله الی قدر الله رأیت لو کانت لک ابل فهبطت وادیا له عدوتان احدهما خصبة والاخری جدبة الیس ان رعیت الخصبة رعیتها بقدر الله وان رعیت الجدبة رعیتها بقدر الله قال فجاء عبدالرحمن ابن عوف رضی الله تعالی عنه وکان متغیبا فی بعض حاجته فقال انا عندی من هذا علما سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول اذا سمعتم به بارض فلا تقدموا علیه واذا وقع بارض وانتم بها فلا تخرجوا فرارا منه قال فحمد الله عمر ابن الخطاب رضی الله تعالی عنه ثم انصرف. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: د عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه حضرت عمرؓ د شام په طرف اووتو هر کله چه سرغ تا اورسیدو (سرغ د شام سره متصل د حجاز په غاړه باندے یوه علاقه ده) د هغویٰ سره د اجناد خلقو ملاقات اوکړو (دَ اجناد نه مراد د شام پنځه ښارونه دی (۱) فلسطین (۲) اردن (۳) مشق (۴) حمص (۵) او قنسرین) ابو عبیده بن الجراح او د هغویٰ ملګرو هغویٰ ته بیان اوکړو چه د شام په ملك کښے وبا راغلے ده حضرت عمرؓ اووے مهاجرین اولین خما مخے ته راولئ. (مهاجرین هغه خلق دی اولین چا چه د دواړو قبلو په طرف باندے مونځ لوستلے وی) ابن عباس رضی الله عنه وائی ما هویٰ اوغوښتل، حضرت عمر رضی الله عنه نه مشوره واخسته. او هغویٰ ته ئے بیان اوکړو چه د شام په ملك کښے وبا خوره شوے ده.

هغوئ اختلاف اوکړو. څنو اووے ستاسره هغه خلق دی چه دړومبونه باقی پاتے شوی دی په اصحابو درسول الله ﷺ علیه وسلم کښے او مونږ مناسب نۀ ګنړو دهغوئ یو وبائی ملك ته بوتلل. حضرت عمرؓ اووے بنه ده اوس تاسو خلق رااوغواړئ ما هغوئ را او غوښتل حضرت عمرؓ مشوره واخسته دهغوئ نه. انصارؓ هم دمهاجرینو په قدم لاړو. او دهغوی پشان اختلاف ئے اوکړو. حضرت عمرؓ اووے اوس تاسو خلق لاړشئ. بیائے اووے اوس دقریشو بوډاګان رااوغواړئ چه دفتح مکے نه مخکښے (یادفتح سره) مسلمانان شوی دی. ما هغوئ را اوغوښتل په هغوئ کښے دوؤ هم اختلاف او نۀ کړو. او ټولو دا اووے مونږ مناسب ګنړو چه تاسو دخلقو سره واپس لاړشئ. او دوئ دوبامخے ته مۀ بوځه. آخر حضرت عمرؓ آواز لوکړو په خلقو کښ چه زه به سحر په اوښ سوریږم (او مدینے ته به واپس کیږم) ددے په اوریدو سره صبا سحر خلق هم سواره شول. ابو عبیده بن الجراحؓ اووے. اے دتقدیر نه تیښته کوے. حضرت عمرؓ اووے کاش چه دا خبره چا بـل چا کړے وے (یا کچرے بل چا وئیلے وے نو ما به ورله سزا ورکړے وه) او حضرت عمرؓ دخپلے خبرے په خلاف کولو بد اوګنړل هاں مونږ تیښته کوو دالله تعالی دتقدیر نه دالله دتقدیر په طرف کچرے ستاسره اوښ وی او تۀ یوے وادئ ته لاړشے چه دهغے دوه غاړے وی. یوه غاړه سر سبزوشاداب وی. او دویمه خشکه او خرابه وی او تۀ خپلو اوښانو لره په سر سبزوشاداب طرف کښے څروے. نو دالله تعالی په تقدیر سره داوڅرول. او کچرے په خشك او خراب طرف کښے ئے څروے نو هغه هم دالله په تقدیر سره څروے(مطلب دحضرت دادے چه لکه څنګه چه په دغه څرونکی باندے الزام نشته دے بلکه هغه کار ده تعریف قابل دے چه څناورو ته ئے ارام ورکړو دغه شان زه هم دخپل رعیت څرونکے یم نو کوم ملك چه راته بنه معلومیږی هلته به ئے بیایم او دا کار دتقدیر خلاف نۀ دے بلکه عین تقدیر الهی دے) په دے کښ عبدالرحمن بن عوفؓ راغے. او هغه دڅه کار دپاره تلے وو. هغوئ اووے څما سره خو ددے مسئلے دلیل موجود دے (ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو.) هر کله چه تاسو واورئ چه په یو ملك کښے وباده نو هلته مۀ ځئ او هر کله چه ستاسو په ملك کښے وبا خوره شی نو تیښته هم مۀ کوئ. ددے په اوریدو سره حضرت عمرؓ دالله پاك

شکر اداکړو(چه خپل رائے ئې دحدیث موافق او موندو) او واپس شو۔

فائده: ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه دبلانه حتی المقدور پرهیز کول او احتیاط ساتل دتوکل او تسلیم نه خلاف نۀ دی ، مګر هر کله چه بلا نازله شی نو دغه وخت صبر او سکوت او دعا لازم ده۔ داونۀ وائی چه ما دا فلانے کار اوکړو یام او نۀ کړو په دے وجه دا بلا نازله شوه.

(۵۷۸۵) عَنْ مَعْمَرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِيْثِ مَالِكٍ وَّزَادَ فِيْ حَدِيْثِ مَعْمَرٍ قَالَ فَقَالَ لَهٗ اَيْضًا اَرَاَيْتَ لَوْ اَنَّهٗ رَعَى الْجَدْبَةَ وَتَرَكَ الْخَصِبَةَ اَكُنْتَ مُعَجِّزَهٗ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَسِرْ اِذًا فَسَارَ حَتّٰى اَتَى الْمَدِيْنَةَ فَقَالَ هٰذَاالْمَحَلُّ اَوْ قَالَ هٰذَا الْمَنْزِلُ اِنْشَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰى .

ترجمه: ددے هم دپورته پشان ده۔ په دے کنبے دا زیاته ده چه حضرت عمرؓ ابوعبیدهؓ ته اووے ، اے تۀ پو هیږے کچرے هغه ئې په وُچه او خرابه غاړه پریږدی نو ته به په هغه باندے الزام لګوے؟ ابو عبیده اووے بیشکه ، حضرت عمرؓ اووے نو ځئ، بیا هغه لاړو تردے پورے چه مدینے ته اورسیدو، حضرت عمرؓ اووے دا ځائے دے یا منزل دے کچرے الله غواړی۔

(۵۷۸۶) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهٗ قَالَ اِنَّ عَبْدَ اللّٰهِ ابْنَ الْحَارِثِ حَدَّثَهٗ وَلَمْ يَقُلْ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ .[راجع: ۵۷۸٤]

ترجمه: ددے ترجمه هم ددے نه دړومبی حدیث په شان ده۔

(۵۷۸۷) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَامِرِ ابْنِ رَبِيْعَةَ اَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ خَرَجَ اِلَى الشَّامِ فَلَمَّا جَآءَ سَرْغَ بَلَغَهٗ اَنَّ الْوَبَآءَ وَقَعَ بِالشَّامِ فَاَخْبَرَهٗ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ ابْنُ عَوْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا سَمِعْتُمْ بِهٖ بِاَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوْا عَلَيْهِ وَاِذَ وَقَعَ بِاَرْضٍ وَّ اَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوْا فِرَارً مِّنْهُ فَرَجَعَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ مِنْ سَرْغَ وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِنَّمَا انْصَرَفَ بِالنَّاسِ عَنْ حَدِيْثِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ.[بخاری]

ترجمه: دعبدالله بن عامر بن ربیعهؓ نه روایت دے چه حضرت عمرؓ دشام په طرف اووتو، هر کله سرغ ته اورسیدو نو خبرورته اوشو په شام کنبے دوباد خوریدو ، عبدالرحمن بن عوف هغویؓ ته اووے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی . هر کله چه تاسو واورئ چه په یو ملك کنبے وباخوره

شوے ده نو هلته مهٔ ځئ دوبانه تیښته مهٔ کوئ، ددے په اوریدو حضرت عمرؓ دسرغ نه واپس راغے، ابن شهابؒ دسالم بن عبداللهؓ نه روایت کړے دے چه حضرت عمررضی الله عنه دخلقو سره واپس شو دعبدالرحمن بن عوف دحدیث په اوریدو سره۔

بابُ لا عدوٰی ولا طیرة ولا هامة ولا صفر ولا نوء ولاغول ولا يُورِدُ مُمرِضٌ علٰے مُصِحٍّ۔

دبیمارئ لیدل او بدشونی او هامه او صفراء او نوء او ول دا ټول لغوه دی۔ او بیمار لره دتندرست په خواه کښې دنهٔ پریښودو بیان۔

(۵۷۸۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ حِیْنَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لا عَدْوٰی وَلَا صَفَرَ وَلَا هَامَةَ فَقَالَ اعْرَابِیٌّ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَمَا بَالُ الْاِبِلِ تَکُوْنُ فِی الرَّمْلِ کَاَنَّهَا الظِّبَآءُ فَیَجِیْءُ الْبَعِیْرُ الْاَجْرَبُ فَیَدْخُلُ فِیْهَا فَیُجْرِبُهَا کُلَّهَا قَالَ فَمَنْ اَعْدَی الْاَوَّلَ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی هر کله چه رسول الله ﷺ او فرمائیل دبیمارئ لګیدل څه شے نهٔ دے۔ او دصفراء او هامه څه اصل نشته۔ نو یو بانډیچی اووے یا رسول الله ﷺ! داوښانو څه حال دے چه په خاوره کښے داسے صفا کیږی لکه هوسئ، بیا چه هر کله یو ښاربښ والا اوبښ راشی او په هغوئ کښے داخل شی او ځی نو هغه نور ټول ښاربښ والا کړی حضرت ﷺ او فرمائیل هغه ړومبے اوښ چا ښاربښتی کړے دے۔

فائده: نووی علیه الرحمه وئیلی دی په بل روایت کښے راسے ده چه بیمارو اوښانو لره دتندرست خواله مه بوځئ، په دے دواړو حدیثونو کښے ئے جمع داسے کړے ده۔ چه بیمارئ لګیدو لره چه ئے په کوم حدیث کښے نفی کړے ده دهغے نه مراد نفی ده۔ دهغه اعتقاد چه دجاهلیت والاؤ وو چه بیماری خودبخود راځی بغیر دفعل الهی نه، او په کوم کښے چه ئے بیمار دصحت مند سره دیو ځائے کولو نه منع کړے دے په دے کښے ئے داحتیاط او پرهیز طریقه خودلے ده چه په کوم فعل کښے اکثر ضرر راځی اګر که ضرر په حکم دالهی دے هغے لره نهٔ دی کول پکار۔

او څنو ونیلی دی چه دویم حدیث منسوخ دے دلاعدوٰی په حدیث سره او دا غلطه ده. او دصفر نه مراد دادے چه مشرك به دمحرم حرمت لره دصفر پورے مؤخر کولو یعنی نسی دا غلطه دهیا صفر به ئے یو دګیډے چینجے ګنړلو او دغه دواړه اعتقادونه باطل او غلط دی، یا صفرلره به ئے مخوس ګنړلو لکه څنګه چه اوس هم جاهل اوے وقوف صفرلره تیره تیزی کوی او په صفر کښې څه دخوشحالۍ کار نۀ کوی۔

او دهامه نه مراد اولو(یعنی ګونګے) دے دے لره به دعربو خلقو منحوس ګنړلو، یا به ئے داګنړله چه دمړی دروح نه دهامه مرغۍ شکل جوړیږی ۔ (انتهٰی مختصرًا مع زیادة)

(۵۷۸۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوٰی وَلَا طِیَرَةَ وَلَا صَفَرَ وَلَا هَامَةَ فَقَالَ اَعْرَابِیٌّ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ بِمِثْلِ حَدِیْثِ یُوْنُسَ.[بخاری]

ترجمه: ددے هم دیورته حدیث په شان ده، په دے کښې دازیاته ده چه بدشونی هم څه څیز نه دے۔

(۵۷۹۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوٰی فَقَامَ اَعْرَابِیٌّ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِیْثِ یُوْنُسَ وَصَالِحٍ وَعَنْ شُعَیْبٍ عَنِ الزُّهْرِیِّ قَالَ حَدَّثَنِی السَّائِبُ ابْنُ یَزِیْدَ ابْنِ اُخْتِ نَمِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاعَدْوٰی وَلَا صَفَرَ وَلَا هَامَةَ.[بخاری]

ترجمه: ددے هم ددے نه دمخکښې تیر شوی حدیث په شان ده۔

(۵۷۹۱) عَنْ اَبِیْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَایُوْرِدُ مُمْرِضٌ عَلٰی مُصِحٍّ قَالَ اَبُوْ سَلَمَةَ كَانَ اَبُوْهُرَیْرَةَ یُحَدِّثُ هُمَا كِلْتَیْهِمَا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَمَتَ اَبُوْهُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ بَعْدَ ذٰلِكَ عَنْ قَوْلِهٖ لَا عَدْوٰی وَاَقَامَ عَلٰی مُصِحٍّ قَالَ فَقَالَ لَهُ الْحَارِثُ ابْنُ اَبِیْ ذُبَابٍ وَهُوَ ابْنُ عَمِّ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ كُنْتُ اَسْمَعُكَ یَا اَبَاهُرَیْرَةَ تُحَدِّثُنَا مَعَ هٰذَا الْحَدِیْثِ حَدِیْثًا اٰخَرَ قَدْ سَكَتَّ عَنْهُ كُنْتَ تَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوٰی فَاَبٰی اَبُوْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنْ یَعْرِفَ ذٰلِكَ وَقَالَ لَایُوْرِدُ مُمْرِضٌ عَلٰی

مُصِحٌّ فَمَارَاهُ الْحَارِثُ فِيْ ذٰلِکَ حَتّٰى غَضِبَ اَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَرَطَنَ بِالْحَبَشِيَّةِ فَقَالَ لِلْحَارِثِ اَتَدْرِيْ مَاذَا قُلْتُ قَالَ لَا قَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِنِّيْ قُلْتُ اَبَيْتُ قَالَ اَبُوْسَلَمَةَ وَلَعَمْرِيْ لَقَدْ كَانَ اَبُوْهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يُحَدِّثُنَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوٰى فَلَا اَدْرِيْ اَنَسِيَ اَبُوْهُرَيْرَةَ اَوْنَسَخَ اَحَدُ الْقَوْلَيْنِ الْاٰخَرَ.

ترجمه: دابو سلمه بن عبدالرحمن بن عوف نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "بیماری نۀ لګی" او ابو سلمهؓ دا حدیث بیانولو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی " مۀ راولئ بیمار اوښ دتندرست خواله ابو سلمهؓ وائی " ابو هریرهؓ به دادواړه حدیثونه درسول الله ﷺ نه روایت کولو بیا ورستو ددے نه هغوئ دا حدیث چه بیماری نۀ لګی دا بیانول ئے پریخودو او دا به ئے بیانولو چه مه راولئ بیمار اوښ په تندرست اوښ باندے نو حارث بن ابی زباب چه دابو هریرهؓ دتره ځوئ وو هغوئ ته اووے. اے ابو هریرهؓ مونږ به اوریدلو چه تابه ددے حدیث سره یو بل حدیث بیانوؤ. اوس تۀ هغے له نۀ بیانوے، هغه دا حدیث دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی " بیماری "(یو نه بل ته) نۀ لګی ابو هریره انکار اوکړو او اوئے وئیل ماته دا حدیث نۀ دے معلوم. البته حضرت دا فرمائیلی دی چه مۀ راولئ بیامر اوښ په تندرست اوښ باندے حارثؓ دهغوی سره جګړه اوکړه په دے باندے ابو هریرهؓ غصه شو، او دحبشو په ژبه کښ ئے څه اووے. بیائے دحارثؓ نه تپوس اوکړو تۀ پو هه شوے چه ما څه اووے حاریث اووے نه، ابو هریرهؓ اووے ما دغه اووے چه زۀ انکار کوم ددے حدیث دبیانولو نه، ابو سلمهؓ اووے زما په عمر قسم دے چه ابو هریره به مونږ ته دا حدیث بیانولو چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی " بیماری لګیدل څه شے نۀ دے" بیا نۀ ده معلومه چه دابو هریره نه دا حدیث هیر شو یائے یو حدیث به بل حدیث سره منسوخ اوګنړلو.

فائده: لفظی ترجمه ئے داده، چه نۀ دِراولی بیمار اوښ والا خپل بیمار اوښ لره په تندرست اوښ والا باندے یعنی دصحت مندو اوښانو دننه، لیکن داختصار دپاره حاصل دمطلب لیکلے شوے دے نووی علیه الرحمه وائی، دحدیث دراوی کچرے حدیث هیر شی نو دهغے په صحت کښے څه خلل نۀ راځی. بلکه په هغے باندے عمل واجب دے او دا لفظ

دابو هریرةؓ نه سوا سائب بن یزیدؓ او جابر بن عبدالله او انسؓ بن مالك او ابن عمر رضی الله تعالی عنهم هم روایت کړے دے، " چه بیماری لګیدل څه شے نۀ دے" بیا ددے په ثبوت کښے څه شك دے.

(۵۷۹۲) عَنْ اَبِیْ سَلَمَةَ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّهُ سَمِعَ اَبَاهُرَیْرَةَ یُحَدِّثُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوٰی یُحَدِّثُ مَعَ لَا یُوْرِدُ الْمُمْرِضُ عَلَی الْمُصِحِّ بِمِثْلِ حَدِیْثِ یُوْنُسَ.

ترجمه: ددے حدیث ترجمه هم ددے نه دمخکښې حدیث پشان ده.

(۵۷۹۳) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهُ.

ترجمه: دا هم دپورته پشان دے.

(۵۷۹۴) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوٰی وَلَا هَامَةَ وَلَا نَوْءَ وَلَا صَفَرَ.

ترجمه: دابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "بیماری لګیدے شی نه هامه شته نه نوء نۀ صفر".

فائده: نوء وئیلے شی دستوری راختو او ډوبیدو ته، دعربو خلقو به داګمان کولو چه باران ددے په وجه سره وریږی، لکه څنګه چه دهند خلق دنچهتر نه باران ګڼری، او څنو وئیلی دی دنوء نه دسپوږمیٔ منزل مراد دے، غرض دادے چه شریعت دااعتقاد باطل ګرځولے دے باران ورول دالله په رحمت او حکم سره دی، دستورو په دے کښې څه دخل نشته، او ددے بیان په کتاب الصلوت کښے تیر شوے دے.

(۵۷۹۵) عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَاعَدْوٰی وَلَا طِیَرَةَ وَلَا غُوْلَ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی " نه بیماری لګیدل څه شته " او نه غول څه څیز دے، او نه صفر څه :یے.

فائده: لکه څنګه چه خلق وائی په ځنګل کښے شیطان وی دے ته غول وائی دشپے درنړاګانو په شان پرقیږی مسافرورته لار ښائی او وژنی ئے داتول غلط دی غول دول هیڅ نشته، تش یو وهم دے او په ځنګل کښې چه څنے وخت څه رڼرا په نظر راځی هغه دزمکے خپله ماده، چه خود بخود رڼرا کیږی. او په هلوکو کښے هم دا ماده په کثرت سره وی، څکه په قبرستان

کښے اکثر ددے قسم رنړا په نظر راځی۔

او څنو ونیلی دی دحدیث نه دغول نفی منظوره نۀ ده، بلکه غرض ابطال دے دهغه خیال چه عربو به کولو چه غول په مختلف صورتونو کښے جوړیږی او دهوکه کول کوی۔ اودلا غول نه دا غرض دے چه هغه چالره دهوکه نۀ شی ورکولے، او یو حدیث کښے دی چه کله دغولو ن زور شی نو اذان ورکوئ او دابو ایوبؓ په روایت کښے دی چه ما کجورے غول راشی خوری ئے، ددے نه معلومه شوه چه دغول وجودشته والله اعلم (نووی مع زیادة)

(٥٤٩٧) عن اَبیْ الزُّبَیْرِ اَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ ابْنَ عَبْدِ اللهِ یَقُوْلُ سَمِعْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ لَا عَدْوٰی وَلَا صَفَرَ وَلَا غُوْلَ وَسَمِعْتُ اَبَا الزُّبَیْرِ یَذْکُرُ اَنَّ جَابِرًا فَسَّرَلَهُمْ قَوْلَهٗ وَلَا صَفَرَ قَالَ اَبُو الزُّبَیْرِ الصَّفَرُ الْبَطْنُ فَقِیْلَ لِجَابِرٍ کَیْفَ قَالَ کَانَ یُقَالُ دَوَابُّ الْبَطْنِ قَالَ وَلَمْ یُفَسِّرُ الْغُوْلَ قَالَ اَبُو الزُّبَیْرِ هٰذَا الْغُوْلُ الَّتِیْ تَغَوَّلُ ۔

ترجمه: دابو الزبیرؒ نه روایت دے چه هغوئ اوریدلی دی دجابر رضی الله تعالی عنه نه، هغه ونیلو چه ما درسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو" بیماریٔ لګیدل هیڅ نشته" صفر هیڅ نۀ دے غول هیڅ نۀ دے ابن جریجؒ وائی، ما دابو الزبیرؒ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو جابرؓ دولا صفر تفسیر کړے دے، ابو الزبیرؒ ونیلی دی صفر ګیډے ته ونیلے شی، جابرؓ ته اوونیلے شو ولے چه هغوئ ونیلی وو خلقو ونیلو صفر دګیډے چینجے دی او دغول تفسیر ئے بیان نه کړو، او ابو الزبیر ونیلی دی، غول دغه دے چه هلاکوی مسافرو لره۔

بَابُ الطِّیَرَةِ وَالْفَالِ وَمَا یَکُوْنُ فِیْهِ الشُّوْمُ ۔

باب: دبد فالئ او نیکے خبرے او په هغو څیزونو کښے چه سپیره والے وی دهغے بیان۔

(٥٤٩٨) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ لَا طِیَرَةَ وَخَیْرُهَا الْفَالُ قِیْلَ یَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا الْفَالُ قَالَ اَلْکَلِمَةُ الصَّالِحَةُ یَسْمَعُهَا اَحَدُکُمْ : [بخاری،]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی "

بدفالي څه څيز نۀ دے "(يعنی شګون اخستل) او غوره فالي دے خلقو اووے يا رسول الله!
فال څه دے؟ حضرت او فرمائيل نيکه خبره چه څوك ئے ستاسو نه واوري.

(۵۷۹۹) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وحديث عُقَيْلٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ سَمِعْتُ فِي حديث شُعَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كما قال مَعْمَرٌ.

ترجمه: ددے حديث ترجمه هم د پورته حديث پشان ده.

(۵۸۰۰) عَنْ انسٍ انَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ قَالَ لا عدوى وَلا طِيَرَةَ وَيُعْجِبُنِي الْفَالُ الْكَلِمَةُ الْحَسَنَةُ الْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ.

ترجمه: دانسؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی " بيماري لګيدل او شګون څه شے نۀ دے" او ماته غوره دے فال يعنی کلمه بنه کلمه"

(۵۸۰۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَدْوٰى وَلا طِيَرَةَ وَيُعْجِبُنِي الْفَالُ قِيْلَ وَمَا الْفَالُ قَالَ الْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حديث پشان ده.

(۵۸۰۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا عَدْوٰى وَلَا طِيَرَةَ وَاُحِبُّ الْفَالَ الصَّالِحَ.

ترجمه: دابو هريرة نه روايت دے وائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی "بيماري لګيدل او بدشګوني څه څيز نۀ دے. بد فالي هيڅ نۀ دے البته نيك فال ماته غوره دے"

(۵۸۰۳) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ لَا عَدْوٰى وَلَا هَامَةَ وَلَا طِيَرَةَ وَاُحِبُّ الفال الصَّالِحَ.

ترجمه: ددے هم دپورته پشان ده، په دے کښې دومره زياته ده چه هامه څه څيز نۀ دے.

فائده: شون بدفالي طيره په بدوخبرو کښې وئيلے شی، او په بنه خبره کښې فال وئيلے شي، او په يو حديث کښے دی چه طيره شرك دے، يعنی دا اعتقاد لرل چه ددے نه نفع يا ضرر وي او د هغے په تاثير باندے يقين کو، دفال نيك دا مثال دے، چه څوك بيمار شی او هلته دسالم آواز ورکړی نو اميد پيدا شی چه هغه بيمار به زربنه شی، يا څه کاروی دواجد په لفظ سره، يا

جنګ له روان وی او فتح نان یو یو سړے ورسره میلاو شی.

(۵۸۰۴) عن عبد الله ابن عمر انّ رسُول الله صلّی الله علیه وسلّم قال الشُوْمُ فی الدار والمرأة والفرس.

ترجمه: دعبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی سپیره توب په درے څیزونو کښ وی. په کور کښے په ښځه کښ او په اس کښ.

(۵۸۰۵) عن عبد الله ابن عمر انّ رسُول الله صلّی الله علیه وسلّم قال لا عدوی ولا طیرة وانّما الشُوْمُ فی ثلثة "المرأة والفرس والدار.

ترجمه: دعبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی" بیماری لګیدل او شګون اخستل څه څیز نۀ دے" البته سپیره والے په درے څیزونو کښ وی په کور کښے او په اس کښے او په ښځه کښ.

(۵۸۰۶) عن سالم عن ابیه عن النّبیّ صلّی الله علیه وسلّم والشُوْمُ بمثل حدیث مالک لا یذکر احد منهم فی حدیث غیر یونس ابن یزید.

ترجمه: ددے هم دپورته حدیث پشان ده.

(۵۸۰۷) عن ابن عمر عن النّبیّ صلّی الله علیه وسلّم انّه قال ان یکن من الشُوْم شیٌ حقّ ففی الفرس والمرأة والدار.

ترجمه: عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کچرے شګون بد په یو شی کښے راشی. نو په اس لو ښځه او کور کښے

(۵۸۰۸) عن شعبة بهذ الاسناد مثله ولم یقل حقّ.

ترجمه: ددے دپورته پشان ده.

(۵۸۰۹) عن سهل ابن سعد قال قال رسُول الله صلّی الله علیه وسلّم ان کان الشُوْمُ فی شیٍ ففی الفرس والمسکن والمرأة.

ترجمه: ترجمه دپورته پشان ده

(۵۸۱۰) عن جابر عن رسُول الله صلّی الله علیه وسلّم قال ان کان ففی المرأة والفرس والمسکن یعنی الشُوْم.

ترجمه: ترجمه دسهل بن سعد په شان دا هم مروی دے۔

(۵۸۱۲) عَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنْ كَانَ فِيْ شَيْءٍ فَفِي الرَّبْعِ وَالْخَادِمِ وَالْفَرَسِ ۔

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی" کچرے ته سپیره والے وی نو په زمکه او غلام او اس کنبے وی" ف

فائده: نوویؒ وئیلی دی علماء اختلاف کړے دے په دے حدیث کنبے امام مالکؒ او یوه طائفه وائی چه دا حدیث په خپل ظاهر باندے دے، کاکور لره الله تعالی سبب دهلاکت کړی دغه شان یوے ښځے یا یو اس یا غلام لره، او مطلب دادے چه کله سپیره والے په دے ځیزونو کښ راځی، لکه چه بل روایت کښ دی، چه کچرے سپیره والے په څه شی کښ وی نو په دوئ کښے به وی۔

او خطابیؒ اوډیرو عالمانو وئیلی دی چه دا په طور داستثناء ده یعنی شګون اخستل منع دی۔ مګر هر کله چه دچاکور وی او هغه په هغے کښے اوسیدل غوره نۀ ګڼی یا دیوے ښځے سره صحبت مکروه او ګڼړی یا اس یا خادم ورته بدښکاره شی، نو هغه دا اوباسی (یعنی لرے کړی) په بیعه او طلاقو سره او ځنو وئیلی دی دکور نحوست دادے چه په هغے باندے جهاد او نۀ کړے شی، او دغلام سپیره توب دادے چه بداخلاقه نالائقه وی، انتهٰی مختصرًا۔

بَابُ تَحْرِيْمِ الْكَهَانَةِ وَاِتْيَانِ الْكُهَّانِ .

دکهانت حرمت او دکاهنانو خواله دتلو دحرام والی بیان .

(۵۸۱۳) عَنْ مُعَاوِيَةَ ابْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اُمُوْرًا كُنَّا نَصْنَعُهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ كُنَّا نَأْتِي الْكُهَّانَ قَالَ فَلَا تَأْتُوا الْكُهَّانَ قَالَ قُلْتُ كُنَّا نَتَطَيَّرُ قَالَ ذٰلِكَ شَيْءٌ يَجِدُهٗ اَحَدُكُمْ فِيْ نَفْسِهٖ فَلَا يَصُدَّنَّكُمْ .

ترجمه: دمعاویه بن حکم سلمیٰ نه روایت وائی چه ما عرض اوکړو یا رسول الله! ځنے کاربه مونږ دجاهلیت په زماه کښے کولو، مونږ به دکاهنانو (یعنی نجومیانو) خواله تللو، حضرت او فرمائیل "اوس دنجومیانو خواله مۀ ځئ" مونږه اووے مونږ به بدشګون اخستل کولو، حضرت او فرمائیل "دا هغه خیال دے چه ستاسو په زړۀ کښ تیریږی، لیکن ددے خیال په وجه سره تاسو هیڅ خپل کار مۀ پریږدئ"۔

فائده: قاضی عیاض وائی دعربو کهانت په درے قسمه دے ، یو دا چه دپیری یا شیطان سره ئے محبت وی، او هغه ده ته دآسمان خبرونه آئنده خبرے په الوتو سره خودلے، نو دا قسم درسول الله صلی الله علیه وسلم په نبوت سره موقوف شولو۔

دویم دا چه دزمکے دهر طرف خبرونه چه هغه لرے وی او پټ وی ورته بنائی ، او ددے قسم کول اوس هم دقیاس نه لرے نهٔ دی لیکن معتزلهٔ او ځنے اهل کلامو ددے دواړو قسمونو نفی کړے ده۔ او ددے لره ئے محال قرار کړی دی۔

دریم دنجوم په زور سره ، تلونکے خبرے ښودل ، لکه پنډت او شاستری ئے په هند کښے هم بنائی، او دا قوت الله تعالی په ځنو خلقو کښے پیدا کړے دے، لیکن اکثر دهغوئ خبرے دروغ وی۔

په دے قسمونو کښے یو عرافت هم دے او ځوك چه په عرافت باندے پوهیږی هغه ته عراف وئیلے شی، عراف په اسبابو او علاماتو سره راتلونکی واقعے لره پیژندے شی او پیشن ګوئی کوی، دے ټولو قسمونو ته کهانت وئیلے شی، او شریعت دے ټولو ته دروغ وئیلی دی او دټولو خواله دتلونه او په هغے باندې دیقین کولو نه ئے منع فرمائیلې ده۔ (نووی)

(۵۸۱۴) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ مَعْنٰی حَدِیْثِ یُوْنُسَ غَیْرَ اَنَّ مَالِکًا فِیْ حَدِیْثِهٖ وَذَکَرَ الطِّیَرَةَ وَلَیْسَ فِیْهِ ذِکْرُ الْکُهَّانِ .

ترجمه: ترجمه ددے هم ددے نه دمخکښې تیر شوی حدیث پشان ده۔

(۵۸۱۵) عَنْ مُعَاوِیَةَ ابْنِ الْحَکَمِ السُّلَمِیِّ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ الزُّهْرِیِّ عَنْ اَبِیْ سَلَمَةَ عَنْ مُعَاوِیَةَ وَزَادَ فِیْ حَدِیْثِ یَحْیَی ابْنِ اَبِیْ کَثِیْرٍ قَالَ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ یَخُطُّوْنَ قَالَ کَانَ نَبِیٌّ مِّنَ الْاَنْبِیَآءِ یَخُطُّ فَمَنْ وَّافَقَ خَطَّهٗ فَذَاکَ .

ترجمه: ددے هم دپورته تیر شوی حدیث په شان ده ، په دے کښې دومره زیاته ده چه ما اووے بعضے خلق کرښے راکاږی حضرت او فرمائیل یو پیغمبر به هم کرښے راښکودلے، پس که څوك دغه شان اوکړی نو خیر دے۔

فائده: دهغه یوه نیمه خبره رښتیا شی ل یکن دا اتفاق ده، اوس دهغه پیغمبر په شان

کړنبے کول هیڅاته معلوم نۀ دی، په دے وجه سره راتلونکے خبرے هم معلومیدے نۀ شی، او څنے وائی هغه پیغمبر حضرت دانیال علیه السلام وو، او درمل علم دهغوئ نه راتلے دے، رمل ونیلے شی شګوته په شګو کښے به ئے کرښے راښکودلے۔

مترجمه درمالو امتحان اخستے دے او دهغوئ خبرے م تولے غلطے موندلی دی، دهغے وجه دغه ده چه درمل علم چه دکوم پیغمبر وو هغه باقی پاتے نۀ شو افسوس دے چه په دے زمانه کښے مسلمانان نجوم او اوجفر او دغه شان په نوررو طریقو باندے اعتقاد لری ۔ او قرآن او حدیث طرفته هډوګوری هم نه۔

(۵۸۱٦) عَنْ عَآئِشَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّ الْكُهَّانَ كَانُوْا يُحَدِّثُوْنَنَا بِالشَّيْئِ فَنَجِدُهُ حَقًّا قَالَ تِلْكَ الْكَلِمَةُ الْحَقُّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ فَيَقْذِفُهَا فِيْ أُذُنِ وَلِيِّهٖ يَزِيْدُ فِيْهَا مِائَةَ كَذِبَةٍ ۔[بخاری]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه ما عرض اوکړو چه یا رسول الله بعضے خبرے زمونږ نه نجومی وائی او هغه رښتیا خیژی، حضرت او فرمائیل " دا رښتیا خبره پیرے هغه ته ښائی او دخپلو دوستانو په غوږ کښے ئے غورځوی او دسلونه زیات درو وی سره ملری کوی"

(۵۸۱۷) عَنْ عَآئِشَةَ قَالَ سَأَلَ نَاسٌ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْكُهَّانِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسُوْا بِشَيْئٍ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ فَإِنَّهُمْ يُحَدِّثُوْنَ أَحْيَانًا الشَّيْئَ يَكُوْنُ حَقًّا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ فَيَقُرُّهَا فِيْ أُذُنِ وَلِيِّهٖ قَرَّ الدَّجَاجَةِ فَيَخْلِطُوْنَ فِيْهَا أَكْثَرَ مِنْ مِّائَةِ كَذِبَةٍ ۔

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عآئشے ؓ نه نه روایت دے وائی چه څه کسانو درسول الله صلی الله علیه وسلم نه دنجومیانو په باره کښے تپوس اوکړو؟ حضرت اوفرمائیل لوه دی دڅه اعتبار لائق نۀ دی ۔ خلقو اووے یا رسول الله صلی الله علیه وسلم څنے خبرے دهغوئ رښتیا خیژی، حضرت او فرمائیل ! رښتیا خبره هغه ده چه هغے لره پیران په هوا خلی او دخپل دوست په غوږ کښے ئے او غورځوی ۔ لکه چرګه چرګورے ددایے دپاره راغواړی، (او هغه چرګورے دهغے په آواز پو هیږی ۔ او نور خلق پرے نۀ پو هیږی دغه شان دپیری په خبره دهغه دوست پو هیږی او

نور خلق پرے نۀ پو هیږي) او دخپل طرفنه سل دروغ هم ورسره میلاوه وي. (او خلقوته ئې وائي)

(۵۸۱۸) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَ رِوَايَةِ مَعْقِلٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ.

ترجمه: ددے هم ترجمه ددے پوره پشان ده.

(۵۸۱۹) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ رَجُلٌ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْاَنْصَارِ اِنَّهُمْ بَيْنَمَا هُمْ جُلُوْسٌ لَيْلَةً مَّعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُمِيَ بِنَجْمٍ فَاسْتَنَارَ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا ذَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ اِذَا رُمِيَ بِمِثْلِ هٰذَا قَالُوْا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ كُنَّا نَقُوْلُ وُلِدَ اللَّيْلَةَ رَجُلٌ عَظِيْمٌ وَمَاتَ رَجُلٌ عَظِيْمٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِنَّهَا لَا يُرْمٰى بِهَا لِمَوْتِ اَحَدٍ وَّلَا لِحَيَاتِهٖ وَلٰكِنْ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اسْمُهٗ اِذَا قَضٰى اَمْرًا سَبَّحَ حَمَلَةُ الْعَرْشِ ثُمَّ سَبَّحَ اَهْلُ السَّمَآءِ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ التَّسْبِيْحُ اَهْلَ هٰذِهِ السَّمَآءِ الدُّنْيَا ثُمَّ قَالَ الَّذِيْنَ يَلُوْنَ حَمَلَةَ الْعَرْشِ لِحَمَلَةِ الْعَرْشِ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ فَيُخْبِرُوْنَهُمْ مَاذَا قَالَ قَالَ فَيَسْتَخْبِرُ بَعْضُ اَهْلِ السَّمٰوٰتِ بَعْضًا حَتّٰى يَبْلُغَ الْخَبَرُ هٰذِهِ السَّمَآءَ الدُّنْيَا فَتَخْطَفُ الْجِنُّ السَّمْعَ فَيَقْذِفُوْنَ اِلٰى اَوْلِيَآءِ هِمْ وَيُرْمَوْنَ بِهٖ فَمَا جَآءُوْا بِهٖ عَلٰى وَجْهِهٖ فَهُوَ حَقٌّ وَّلٰكِنَّهُمْ يَقْرِفُوْنَ فِيْهِ وَيَزِيْدُوْنَ. [ترمذی]

ترجمه: دعبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائي چه ماته یو انصاری اصحابي بیان کړے دے چه هغه دشپے درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو چه په دے کښے یو ستورے مات شو او ډیر اوبرقیده حضرت او فرمائیل تاسو به دجاهلیت په زمانه کښے څه وے هر کله چه به داسے واقعه راغله، هغوئ اووے الله او دهغه رسول ښه پوهیږي، لیکن مونږ به دجاهلیت په زمانه کښں داسے وئیل چه نن شپه څوك غټ سړے پیدا شوے دے یا مړدے رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمائیل "ستورے دچا دپیاد کیدو یا مړ کیدو دپاره نۀ ماتیږي لیکن زمونږ مالك جل جلاله چه هر کله څه حکم کوی نو دعرش او چتولو والا فرشتے تسبیح کوی بیا دهغوئ دآواز لوریدو سره دهغوی دګاونډی آسمان فرښتے تسبیح کوی . تردے پورے چه دتسبیح نوبت دهغیا دلسملن پورے رااورسی ، بیا چه کوم خلق دعرش اوچتونکو فرښتو ته نزدے دی هغه دهغوئ نه تپوس کوی چه ستاسو رب څه او فرمائیل ،

هغه نے بیان کړی، په دغه طریقه هر آسمان والا یو بل ته بیان کوی تردے پورے چه هغه خبر ددنیا آسمان والاؤ ته راشی دهغوئ نه هغه خبر پیریان رااخلی او خپلو دوستانوته ئے اوروی فرښتے چه هر کله دغه جناتو لره اووینی نو په دے ستور سره ئے ولی (نوداستوری دهغوئ کوریے دی)" بیا چه څه خبر جنات راوړی کچرے هم هغه او وائی نو ربښتیا دی، لیکن هغه پکښی دروغ میلاووی او زیاتوی ئے ۔

(۵۸۲۰) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَخْبَرَنِیْ رِجَالٌ مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْاَنْصَارِ وَفِیْ حَدِیْثِ الْاَوْزَاعِیِّ وَلٰکِنْ یَقْرِفُوْنَ فِیْهِ وَیَزِیْدُوْنَ وَفِیْ حَدِیْثِ یُوْنُسَ وَلٰکِنَّهُمْ یَرْقُوْنَ وَیَزِیْدُوْنَ وَزَادَ فِیْ حَدِیْثِ یُوْنُسَ وَقَالَ اللّٰهُ حَتّٰی اِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا قَالَ رَبُّکُمْ قَالُوا الْحَقَّ وَفِیْ حَدِیْثِ مَعْقِلٍ کَمَا قَالَ الْاَوْزَاعِیُّ وَلٰکِنَّهُمْ یَقْرِفُوْنَ فِیْهِ وَیَزِیْدُوْنَ ۔

ترجمه: ترجمه ددے حدیث هم ددے نه ددغه مخکښی حدیث په شان ده کوم چه پورته تیر شو۔

(۵۸۲۱) عَنْ صَفِیَّةَ بَعْضِ اَزْوَاجِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اَتٰی عَرَّافًا فَسَئَلَهٗ عَنْ شَیْءٍ لَّمْ تُقْبَلْ لَهٗ صَلٰوةُ اَرْبَعِیْنَ لَیْلَةً ۔

ترجمه: صفیهٌ درسول الله صلی الله علیه وسلم دیوے بی بی نه روایت کوی وائی چه رسول الله فرمائیلی دی، څوک دعراف خواله راغے او دهغه نه ئے دڅه خبرے تپوس اوکړو نو دهغه به دڅلویښتو ورځو پورے مونځ نه قبلیږی۔

فائده: معاذ الله دنجومی او کاهن خواله په تللو او دهغه نه په تپوس کولو کښے څومره لوئے گناه دے بیا دهغه په خبره باندے په یقین کولو کښ به څومره لوئے گناه وی ، په یو روایت کښے دی چه هغه کافر کیږی ، زمونږ په زمانه کښے څنے یے قوفه جاهلان داسے راوتلی دی چه هغه دشریعت دپخو پخو خبرونه انکار کوی لیکن په نجومی او پنډت باندی اعتقاد لری ، الله تعالی لعنت دهغوئ په عقل باندے۔

بَابُ اجْتِنَابِ الْمَجْذُوْمِ وَنَحْوِهٖ .

دجذامی نه دپرهیز کولو بیان .

(۵۸۲۲) عَنْ عَمْرِوبْنِ الشَّرِیْدِ عَنْ اَبِیْهِ قَالَ کَانَ فِیْ وَفْدِ ثَقِیْفٍ رَجُلٌ مَّجْذُوْمٌ فَاَرْسَلَ اِلَیْهِ النَّبِیُّ صَلَّے اللّٰهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ .

ترجمه: دعمرو بن شريد نه روايت دے چه هغوی اوريدلی دی دخپل پلار نه چه دثقيف په خلقو کښې يو جذامی سړے وو ، رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغه پسے قاصد اوليږو چه ته واپس شه مونږ ستانه بيعت اوکړلو۔

فائده: دجابر رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دجذامی سره يو ځائے خوراك کړے دے او فرمائيلی دی په الله باندے بروسه ده۔ او حضرت عمر دجذامی سره خوراك جائز کړے دے، او دهغوئ په نزد دجذامی نه دپرهيز کولو حديث منسوخ دے، او صحيح دا ده چه منسوخ نۀ دے، او دپرهيز حديث په استحباب باندے محمول دے لو خوراك په جواز باندے۔

او دځنے علماؤ په نزد کچرے خاوند جذامی او خيژی نو ښځے له دنکاح دماتولو اختيار شته، دغه شان جذامی به دجماعت دراتلو نه او دخلقو سره دميلاويدونه منع کولے شی، ليکن دجمعے دمانځه نه به نۀ شی منع کولے .

كِتَابُ قَتْلِ الْحَيَّاتِ وَغَيْرِهَا .

دمارانو وغيره دوژلو بيان .

(۵۸۲۳) عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِ ذِى الطُّفْيَتَيْنِ فَاِنَّهُ يَلْتَمِسُ الْبَصَرَ وَيُصِيْبُ الْحَبَلَ .

ترجمه: دحضرت عائشے نه روايت دے حکم کړے دے رسول الله صلی الله عليه وسلم ددوو کرښو والا مار دوژلو، ولے چه هغه سترے چوی او دا حملدارے حمل غورځوی۔

(۵۸۲۴) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ الْاَبْتَرُ وَ ...... ذو الطُّفْيَتَيْنِ .

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده په دے کښې ددم بريده مار هم ذکر دے۔

(۵۸۲۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اقْتُلُوا الْحَيَّاتِ وَذَا الطُّفْيَتَيْنِ وَالْاَبْتَرَ فَاِنَّهُمَا يَسْتَسْقِطَانِ الْحَبَلَ وَيَلْتَمِسَانِ الْبَصَرَ قَالَ فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقْتُلُ كُلَّ حَيَّةٍ وَجَدَهَا فَاَبْصَرَهُ اَبُوْ لُبَابَةَ ابْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ اَوْ زَيْدُ ابْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ يُطَارِدُ حَيَّةً فَقَالَ اِنَّهُ قَدْ نُهِيَ عَنْ ذَوَاتِ الْبُيُوْتِ .[بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دعبدالله بن عمرؓ نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "وژنئ مارانو لره او دوه کربنو والا مار لره او دام بریده لره ولے چه دا دواړه حمل لره غورځوی او نظر دسترګو ختموی" راوی ونیلی دی ابن عمرؓ چه به کوم مار لیدلو نو وژلو به ئے. یو ځل ابو لبابه بن عبدالمنذر یازید ابن خطاب هغویؓ لره په یو مار وریسے شوے اولیدو، نو اوئے وئیل منع کړی شوی دی وژل دکورونو دمارانو.

(۵۸۲۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِقَتْلِ الْكِلَابِ يَقُوْلُ اقْتُلُوْا الْحَيَّاتِ وَالْكِلَابَ اقْتُلُوْا ذَا الطُّفْيَتَيْنِ وَالْأَبْتَرَ فَإِنَّهُمَا يَلْتَمِسَانِ الْبَصَرَ وَيَسْتَسْقِطَانِ الْحَبَالٰى قَالَ الزُّهْرِيُّ وَنُرٰى ذٰلِكَ مِنْ سُمِّهِمَا وَاللّٰهُ أَعْلَمُ قَالَ سَالِمٌ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ عُمَرَ فَلَبِثْتُ لَا أَتْرُكُ حَيَّةً أَرَاهَا إِلَّا قَتَلْتُهَا فَبَيْنَا أَنَا أُطَارِدُ حَيَّةً يَوْمًا مِّنْ ذَوَاتِ الْبُيُوْتِ مَرَّبِيْ زَيْدُ ابْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَأَبُوْ لُبَابَةَ وَأَنَا أُطَارِدُهَا فَقَالَ مَهْلًا يَا عَبْدَ اللّٰهِ فَقُلْتُ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِهِنَّ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ نَهٰى عَنْ ذَوَاتِ الْبُيُوْتِ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه حکم ئے کولو ~~دسپودوژلو اوفرمائیلوئے~~ " مارانو او سپولره وژنئ لو وژنئ دوه کربنو والا اولکئ پریکړی مار لره ولے چه دا دواړه نظر ختموی او دحملدارو "(بنځو) حمل غورځوی زهریؒ وائی کیدی شی دهغوئ په زهرو کښے دا تاثیروی، سالم وائی عبدالله بن عمرؓ اووے، زهٔ خو چه کوم مار وینم هغه فورا وژنمه یو ځل زه دکور دمارانو نه په یو مار پسے لګیدلے وم (یعنی روان وُم) نو زید بن خطابؓ یا ابو لبابهؓ زمادمخے نه تیر شو او زهٔ په هغه (مار) وریسے وُم، هغویؓ اووے اودریږه اے عبداللهؓ! ما اووے رسول الله صلی الله علیه وسلم د مارانو دوژلو حکم ورکړے دے، هغویٔ اووے رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلی ده دکور دماردوژلو نه.

(۵۸۲۷) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَيْرَ أَنَّ صَالِحًا حَتّٰى رَاٰنِيْ أَبُوْ لُبَابَةَ ابْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ وَزَيْدُ ابْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَا إِنَّهُ قَدْ نَهٰى عَنْ ذَوَاتِ الْبُيُوْتِ وَفِيْ حَدِيْثِ يُوْنُسَ اقْتُلُوْا الْحَيَّاتِ وَلَمْ يَقُلْ ذَا الطُّفْيَتَيْنِ وَالْأَبْتَرَ. [بخاری]

ترجمه: ترجمه ددے هم ددے نه دپورته حدیث پشان ده.

(۵۸۲۸) عَنْ نَافِعٍ اَنَّ اَبَالُبَابَةَ كَلَّمَ ابْنَ عُمَرَ لِيَفْتَحَ لَهُ بَابًا فِيْ دَارِهٖ يَسْتَقْرِبُ بِهٖ إِلَى الْمَسْجِدِ فَوَجَدَ الْغِلْمَةُ جِلْدَ جَانٍّ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ الْتَمِسُوْهُ فَاقْتُلُوْهُ فَقَالَ اَبُوْلُبَابَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ لَا تَقْتُلُوْهُ فَإِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ قَتْلِ الْجِنَّانِ الَّتِيْ فِي الْبُيُوْتِ.

ترجمه: دنافع نه روایت دے چه ابو لبابهؓ ابن عمرؓ ته اووے دیوے دروازے لګولو دپاره دهغویؓ په کور کښے ددے دپاره چه جماعت ته نزدے شی، په دے کښی هلکانو دمار یوه جوړه اولیده، عبداللهؓ اووے مار لره تلاش کړئ او مړئے کړئ ابولبابهؓ اووے مه ئے وژنئ ولے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلے ده، دهغه مارانو (دوژلو) نه کوم چه په کور کښے وی.

(۵۸۲۹) عَنْ نَافِعٍ اَنَّ اَبَا لُبَابَةَ كَلَّمَ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقْتُلُ الْحَيَّاتِ كُلَّهُنَّ حَتّٰى حَدَّثَنَا اَبُوْلُبَابَةَ ابْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ الْبَدْرِيُّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ قَتْلِ جِنَّانِ الْبُيُوْتِ فَاَمْسَكَ.

ترجمه: دنافع رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه عبدالله ابن عمر رضی الله تعالی عنه به ټولو مارانو لره وژلو، تردے پورے چه ابو لبابهؓ بن عبدالمنذر حدیث بیان کړو مونږ ته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلی دکور دمار دوژلونه، دهغے ورځے نه عبدالله بن عمرؓ موقوف کړلو.

(۵۸۳۰) عَنْ نَافِعٍ اَنَّهُ سَمِعَ اَبَالُبَابَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يُخْبِرُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ قَتْلِ الْجِنَّانِ.

ترجمه: دنافع نه روایت دے هغه اوریدلی دی دابولبابهؓ نه هغویٔ ته خبر ورکړے دے عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلے ده دمارانو دوژلونه.

(۵۸۳۱) عَنْ اَبِيْ لُبَابَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ قَتْلِ الْجِنَّانِ الَّتِيْ فِي الْبُيُوْتِ.

ترجمه: دابولبابهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه مارانو دوژلونه منع فرمائیلی ده کوم په کورونو کښی اوسیږی.

(۵۸۳۲) عَنْ نَافِعٍ اَنَّ اَبَالُبَابَةَ ابْنِ عَبْدِ الْمُنْذِرِ الْاَنْصَارِیَّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَکَانَ مَسْکَنُهُ بِقُبَآءٍ فَانْتَقَلَ اِلَی الْمَدِیْنَةِ فَبَیْنَمَا عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ جَالِسًا مَّعَهُ یَفْتَحُ خَوْخَةً لَهُ اِذَاهُمْ بِحَیَّةٍ مِّنْ عَوَامِرِ الْبُیُوْتِ فَاَرَادُوْا قَتْلَهَا فَقَالَ اَبُوْا لُبَابَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ قَدْ نُهِیَ عَنْهُنَّ یُرِیْدُ عَوَامِرَ الْبُیُوْتِ وَاُمِرَ بِقَتْلِ لْاَبْتَرِ وَذِی الطُّفْیَتَیْنِ وَ قِیْلَ هُمَا اللَّذَانِ یَلْتَمِعَانِ الْبَصَرَ وَ یَطْرَحَانِ اَوْلَادَ النِّسَآءِ.

ترجمه: د نافعؒ نه روایت دے چه د ابو لبابه بن عبدالمنذر انصاریؓ کور په قبا کښے وو۔ هغه مدینے ته راغلے ۔ یو ځل عبدالله بن عمرؓ د هغوئ په مخکښې ناست و یو روشندان ئے لګولو ۔ چه ناڅاپه ئے یو مار په نظر راے د کور د غټ عمر والا مارانو نه۔ خلقو هغه لره وژل غوښتلو ۔ ابو لبابهؓ اووے د دے د وژلو نه ممانعت دے یعنی د کور د مارانو نه ۔او حکم کړے دے حضرت ﷺ د لکئ پریکړی او دوه کرښو والا مار د وژلو۔ او وئیلی شوی دی چه دا دوه قسمه ماران نظر د سترګو لره ختموی او د ښځو نه حملونه غورځوی۔

(۵۸۳۳) عَنْ نَافِعٍ قَالَ کَانَ عَبْدُاللّٰهِ ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَوْمًا عِنْدَ هَدْمٍ لَهُ فَرَاٰی وَ بِیْصَ جَآنٍّ فَقَالَ اتَّبِعُوْا هٰذَا الْجَآنَّ فَاقْتُلُوْهُ قَالَ اَبُوْلُبَابَةَ الْاَنْصَارِیُّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنْ قَتْلِ الْجِنَّانِ الَّتِیْ تَکُوْنُ فِی الْبُیُوْتِ اِلَّا الْاَبْتَرَ وَ ذَا الطُّفْیَتَیْنِ فَاِنَّهُمَا اللَّذَانِ یَخْطِفَانِ الْبَصَرَ وَ یَتَّبِعَانِ مَا فِیْ بُطُوْنِ النِّسَآءِ.

ترجمه: د نافعؒ نه روایت دے وائی چه عبدالله بن عمرؓ یوه ورځ د خپل غورځیدلی کور سره وو چه هلته ئے د مار یوه جوړه اولیده نو خلقو ته ئے اووے د دے مار تلاش اوکړئ او دے مړ کړئ ابو لبابهؓ اووے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه منع ئے فرمائیله د هغه مارانو د وژلو نه چه هغه په کورونو کښے اوسیږی۔ مګر لکئ پریکړی ۔ او په کوم باندے چه دوه کرښے وی۔ ولے چه دا دواړه نظر لره تښتوی (کله چه نظر میلاؤ کړی) او د ښځو حمل غورځوی (د ویرے د وجے نه د ښځو حمل غورځیږی د هغه په نظر کښے دا تاثیر دے)۔

(۵۸۳۴) عَنْ نَافِعٍ اَنَّ اَبَا لُبَابَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ مَرَّ بَابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَهُوَ عِنْدَالْاُطُمِ الَّذِیْ عِنْدَ دَارِ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَرْصُدُ حَیَّةً بِنَحْوِ حَدِیْثِ لِلَّیْثِ ابْنِ سَعْدٍ.

ترجمه: د نافعؒ نه روایت دے چه ابو لبابه د عبدالله بن عمرؓ په خواه کښے تیر شولو ۔ هغه د

حضرت عمرؓ د کور پخوا ه کښې چه کوم قلعه وو هلته اودریدو ډیر مار په انتظار وو د آخر پورے.

فائده: نووی علی الرحمة وائی ۔ د مدینې منورے مارانو له بغیر د اطلاع ورکول او ویره ولو لکه چه مخکښې به راشی وژل درست نهٔ دی۔ او د مدینې نه سیوا نور په ټولو ځایونو او ځنګلونو یا کورونو کښې د مار وژل مستحب دی۔ او د ویرولو حاجت نشته۔ او د مدینې د استثناء وجه دا ده۔ چه د پیریانو یو مسلمان گروپ هلته د مارانو په شکل کښې اوسیدلو۔ او د یو ټولی د علماؤ دا قول دے۔ چه د کور مارانو له په هر ښهر کښې بغیر د ویرولو او تنګولو نه وژل نهٔ دی پکار البته په بل ځائے کښې وژل پکار دی بغیر د ویرولو۔ نه او امام مالکؒ وئیلی دی په جماعت کښې ئے هم وژل پکار دی۔ او ځنې علماؤ وئیلی دی چه د کور په مارانو کښې هم دوو کرښو والا له او لکئ پریکړه له بغیر د ویرولو وژل پکار دی۔ او د ویره ولو ترکیب دا دے چه مار ته به داسے اووائے زه تا له قسم درکوم د هغهٔ وعدے کومه چه حضرت سلیمان علیه السلام اخستے وه چه مونږ ته ضرر مهٔ راکوه۔ او د دے نه پس مهٔ را اوځه۔ بیا کچرے هغه را اوځی نو مړ ئے کړئ.

(۵۸۳۵) عَنْ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَارٍ وَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا فَنَحْنُ نَأْخُذُهَا مِنْ فِيهِ رَطْبَةً إِذْ خَرَجَتْ عَلَيْنَا حَيَّةٌ فَقَالَ اقْتُلُوهَا فَابْتَدَرْنَاهَا لِنَقْتُلَهَا فَسَبَقَتْنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَاهَا اللهُ شَرَّكُمْ كَمَا وَقَاكُمْ شَرَّهَا ۔[بخاری، نسائی]

ترجمه: د عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو په ار کښې دغه وخت په حضرت باندے سُوْرَةِ وَالْمُرْسَلَاتُ عُرْفًا نازل شوے وو۔ مونږ د حضور د خلے مبارکے نه تازه تازه دا سورة اوریدلو۔ چه په دے کښې یو مار را اووتو حضرت اوفرمائیل او وژنئ ده له مونږ پړ د وژلو د پوره ووتو شو خو هغه اووتو او تښتیدو۔ حضرت اوفرمائیل الله تعالی ده له بچ کړو ستاسو د لاسونو ۔ نه څنګه چه تاسو بچ کړئ الله تعالی د ده د شر نه.

(۵۸۳۶) عن الاعمش بهذا الاسناد بمثله .

ترجمه:د دے هم د پورته حدیث پشان ده۔

(۵۸۳۷) عَنْ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ مُحْرِمًا بِقَتْلِ حَیَّةٍ بِمِنًی .

ترجمه:د عبدالله ابن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو احرام تړلی سړی ته د مار د وژلو حکم اوکړو په مِنا کښې۔

(۵۸۳۸) عَنْ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ بَیْنَمَا نَحْنُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ غَارٍ بِمِثْلِ حَدِیْثِ جَرِیْرٍ وَّ اَبِیْ مُعَاوِیَةَ .

ترجمه:ترجمه د دے هم د دے پورته حدیث پشان ده۔

(۵۸۳۹) عَنْ اَبِی السَّآئِبِ مَوْلٰی هِشَامِ ابْنِ زُهْرَةَ اَنَّهٗ دَخَلَ عَلٰے اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فِیْ بَیْتِهٖ قَالَ فَوَجَدْتُّهٗ یُصَلِّیْ فَجَلَسْتُ اَنْتَظِرُهٗ حَتّٰی یَقْضِیَ صَلَاتَهٗ فَسَمِعْتُ تَحْرِیْکًا فِیْ عَرَاجِیْنَ فِیْ نَاحِیَةِ الْبَیْتِ فَالْتَفَتُّ فَاِذَا حَیَّةٌ فَوَثَبْتُ لِاَقْتُلَهَا فَاَشَارَ اِلَیَّ اَنِ اجْلِسْ فَجَلَسْتُ فَلَمَّا انْصَرَفَ فَاَشَارَ اِلٰی بَیْتٍ فِی الدَّارِ قَالَ اَتَرٰی هٰذَا الْبَیْتَ فَقُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ کَانَ فِیْهِ فَتًی مِّنَّا حَدِیْثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ قَالَ فَخَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِاَنْصَافِ النَّهَارِ فَیَرْجِعُ اِلٰی اَهْلِهٖ فَاسْتَاْذَنَهٗ یَوْمًا فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خُذْ عَلَیْکَ سِلَاحَکَ فَاِنِّیْ اَخْشٰی عَلَیْکَ قُرَیْظَةَ فَاَخَذَ الرَّجُلُ سِلَاحَهٗ ثُمَّ رَجَعَ فَاِذَا امْرَاَتُهٗ بَیْنَ الْبَابَیْنِ قَائِمَةٌ فَاَهْوٰی اِلَیْهَا بِالرُّمْحِ لِیَطْعُنَهَا بِهٖ وَ اَصَابَتْهُ غَیْرَةٌ فَقَالَتْ لَهٗ اکْفُفْ عَلَیْکَ رُمْحَکَ وَادْخُلِ الْبَیْتَ حَتّٰی تَنْظُرَ مَالَّذِیْ اَخْرَجَنِیْ فَدَخَلَ فَاِذَا بِحَیَّةٍ عَظِیْمَةٍ مُّنْطَوِیَةٍ عَلَے الْفِرَاشِ فَاَهْوٰی اِلَیْهَا بِالرُّمْحِ فَانْتَظَمَهَا بِهٖ ثُمَّ خَرَجَ فَرَکَزَهٗ فِی الدَّارِ فَاضْطَرَبَتْ عَلَیْهِ فَمَا نَدْرِیْ اَیُّهُمَا کَانَ اَسْرَعَ مَوْتًا الْحَیَّةُ اَمِ الْفَتٰی قَالَ فَجِئْنَا اِلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَذَکَرْنَا ذٰلِکَ لَهٗ وَقُلْنَا لَهٗ ادْعُ اللهَ یُحْیِیْهِ لَنَا فَقَالَ اسْتَغْفِرُوْا لِصَاحِبِکُمْ ثُمَّ قَالَ اِنَّ بِالْمَدِیْنَةِ جِنًّا قَدْ اَسْلَمُوْا فَاِذَا رَاَیْتُمْ مِّنْهُمْ شَیْئًا فَاٰذِنُوْهُ ثَلَاثَةَ اَیَّامٍ فَاِنْ بَدَا لَکُمْ بَعْدَ ذٰلِکَ فَاقْتُلُوْهُ فَاِنَّمَا هُوَ شَیْطَانٌ .[ابو داود ، ترمذی]

ترجمه :د ابو السائبؒ نه روایت دے چه غلام وو د هشام بن زهره ۔ هغه لاړو د ابو سعید رضی الله تعالی عنه کښې حواله۔ابو السائبؒ وائی ما هغه په مانځه کښې اوموندو نو زهٔ کیېناستم د هغه د مونځ ادا کولو انتظارم کولو۔ په دے کښې څه د حرکت آواز راغے په هغه لرو کښې چه د

کور په گټ کښې پراته وو ما چه هغه طرفته اوکتل نو نو یو مار وو۔ ما منډه کړه د هغه دَ وژلو د پاره۔ ابو سعیدٌ اشاره اوکړه چه کښېنه زه کېښناستم هر کله چه د مانځه نه فارغ شولو نو یوه کوټهری ئې ما ته اوښوده ۔ او تپوس ئې اوکړو دا کوټهری وینې ما ووے هان ! هغوی اووے په دے کښې یو ځان اوسېدو زمونږ خلقو نه چه هغه نوے واده کړے وو مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د خندق په طرف را اووتو۔ هغه ځان به د غرمے په وخت د حضرت نه اجازت غوښتو او کور ته بورتلو۔ یوه ورځ ئې دَ حضرت ﷺ نه اجازت اوغوښتو۔ حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل هتیار واخله اولاړ شه ولے چه ما ته د بنی قریظه نه ویره ده ۔ (چه هغوی دهوکه کړے وه او د موقع په لیدو د مشرکانو په طرف شوی وو) هغه سړی خپله وسله را واخسته هر کله چه خپل کور ته را اورسیدو نو هغه خپله بی بی اولیده چه د دواړو وروںو په مینځ کښې په دروازه کښې ولاړه ده۔ هغه د غیرت نه د هغې دَ وهلو د پاره نیزه اوچته کړه۔ ښځې اووے خپله نیزه سنبال کړه او دننه ورشه اوګوره نو معلومه به شی چه زۀ ولے راوتلے ی۔ هغه ځان چه دننه لاړو او اوئې کتل نو یو غټ مار تاؤ راتاؤ شوے په بستره باندے نست وو ځوان چه هغه پسے نیزه اوچته کړه او په هغه نیزه کښې ئې اوتو میو۔ او نیزه ئې په کور کښې اودرَوله۔ هه مار په هغه پسے را برغ شو۔ د دے نه پس مونږ نه پو هیږو چه مار مخکښې مړ شو او که ځان مخکښې مړ شو بیا مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلو او هغوی ﷺ ته مو توله قیصه بیان کړه۔ او مونږه عرض اوکړو چه یا رسول الله ! د الله نه دُعا اوغواړه چه الله پاك دا ځوان بیا ژوندے کړی ۔ حضرت اوفرمائیل د خپل ملګری د پاره د بخشش دُعا اوکړئ۔ بیا ئې اوفرمائیل په مدینه کښې پیریان اوسیږی چه هغه مسلمانان شوی دی۔ پس کچرے تاسو مارانو لره او وینئ۔ نو دَ درے ورځو پورے هغوئ لره خبَروئ (په دے شان لکه چه پورته تیر شو) کچرے دَ درے ورځو نه پس بیا هم را اووتو نو بیا ئې مړ کړئ هغه شیطان دے (یعنی کافر پیرے دے یا شریر مار دے)۔

(۵۸۳۰) عَنْ اَسْمَاءَ ابْنِ عُبَيْدٍ يُحَدِّثُ عَنْ رَجُلٍ يُقَالُ لَهُ السَّائِبُ وَهُوَ عِنْدَنَا اَبُوْ السَّائِبِ قَالَ دَخَلْنَا عَلٰى اَبِیْ سَعِيْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَبَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوْسٌ اِذْ سَمِعْنَا تَحْتَ سَرِيْرِهٖ حَرَكَةً فَنَظَرْنَا فَاِذَا حَيَّةٌ وَّ

سَاقَ الْحَدِيْثَ بِقِصَّتِهِ نَحْوَ حَدِيْثِ مَالِكٍ عَنْ صَيْفِيٍّ وَقَالَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لِهٰذِهِ الْبُيُوْتِ عَوَامِرَ فَاِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِّنْهَا فَحَرِّجُوْا عَلَيْهَا ثَلٰثًا فَاِنْ ذَهَبَ اِلَّا فَاقْتُلُوْهُ فَاِنَّهُ كَافِرٌ وَقَالَ لَهُمْ اذْهَبُوْا فَادْفِنُوْا صَاحِبَكُمْ.

ترجمه: د دے ترجمه هم د پورته پشان ده په دے کښې داسې دی چه د تخت د لاندې ما د حرکت آواز اومونډو او فرمائیلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه کورنو کښې عمر والا ماران وی۔ هر کله چه تاسو د هغوئ نه یو لره اووینئ نو ډرے ورځو پورے هغه لره تنګوئ (یعنی داسې ورته اووایئ چه کچرے بیا را اووتے نو تا ته به تکلی در اورسی) کچرے هغه بیا ئے راوتو نو خیر دے او که را اووتو نو مړئے کړئ هغه کافر پیرے دے (او په دے روایت کښې دا زیات والے دے) چه ورته به اووائے لاړ شه او خپل ملګری دفن کړه۔

(۵۸۴۱) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ بِالْمَدِيْنَةِ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ قَدْ اَسْلَمُوْا فَمَنْ رَأَى شَيْئًا مِّنْ هٰذِهِ الْعَوَامِرِ فَلْيُؤْذِنْهُ ثَلَاثًا فَاِنْ بَدَالَهُ بَعْدُ فَلْيَقْتُلْهُ فَاِنَّهُ شَيْطَانٌ.

بَابُ اسْتِحْبَابِ قَتْلِ الْوَزَاغِ.

د ګرګټ وژل مستحب دي.

(۵۸۴۲) عَنْ اُمِّ شَرِيْكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَهَا بِقَتْلِ الْاَوْزَاغِ. [بخاری، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دَ ام شریك رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ ته حکم اوکړو د ګرګټو نه دَ وژلو " د ام شریك نه روایت دے چه هغوئ اجازت اوغوښتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګرګټونو دَ وژلو، حضرت ﷺ حکم ورکړو هغوئ ته د هغے دَ وژلو۔ دا ام شریك د بنی عامر د قبیلے یوه ښځه وه۔

(۵۸۴۵) عَنْ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْوَزَغِ الْفُوَيْسِقُ زَادَ حَرْمَلَةُ قَالَتْ وَلَمْ اَسْمَعْهُ اَمَرَ بِقَتْلِهِ. [بخاری، نسائی، ابن ماجه].

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رضی صدیقے رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول

الله صلی الله علیه وسلم ګرګټ ته فویسق ونیلے دے۔ حرمله وائی ما دا نهٔ دی اوریدلی چه حضرت حکم ورکړے دے دَ هغه د وژلو۔

(۵۸۴۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَتَلَ وَزَغَةً فِیْ اَوَّلِ ضَرْبَةٍ فَلَهٗ کَذَا وَ کَذَا حَسَنَةً وَمَنْ قَتَلَهَا فِی الضَّرْبَةِ الثَّانِیَةِ فَلَهٗ کَذَا وَ کَذَا حَسَنَةً لِدُوْنِ الْاُوْلٰی وَ اِنْ قَتَلَهَا فِی الضَّرْبَةِ الثَّالِثَةِ فَلَهٗ کَذَا وَ کَذَا حَسَنَةً لِدُوْنِ الثَّانِیَةِ.

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوك چه ګرګټ په رومبی ګذار مړ کړی هغه له دومره دومره ثواب دے۔او څوك چه ئے چه دویم ګذار مړ کړی هغه له دومره دومره ثوار دے لیکن د رومبی ځل نه کم او څوك چه ئے په دریم ګذار مړ کړی هغه له دو مره دومره ثواب دے لیکن دَ دویم ځل نه کم۔

(۵۸۴۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ خَالِدٍ عَنْ سُهَیْلٍ اِلَّا جَرِیْرًا وَحْدَهٗ فَاِنَّ فِیْ حَدِیْثِهٖ مَنْ قَتَلَ وَزَغًا فِیْ اَوَّلِ ضَرْبَةٍ کُتِبَتْ لَهٗ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَّفِی الثَّانِیَةِ دُوْنَ ذٰلِکَ وَفِی الثَّالِثَةِ دُوْنَ ذٰلِکَ .[ابو داود]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے د پورته پشان په دے کښے دومره قدرے زیاتوالے دے چه چا ګرګټ په رومبی ګزار مړ کړو د هغه به سل نیکئ لیکلے شی۔او په دویم ګذار د هغے نه کمے او په دریم ګذار د هغے نه کمے نیکئ۔

(۵۸۴۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ فِیْ اَوَّلِ ضَرْبَةٍ سَبْعِیْنَ حَسَنَةً .

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ په یو ګذار باندے چه څوك ګرګټ مړ کړی نو د هغه د پاره اویا نیکئ لیکلے شی"۔

فائده: نووی ونیلی دی ګرګټ چا ته په وزغ او سام ابرص هم وئیلے شی د هغه د قتل حکم ئے ورکړو ولے چه هغه موزی دے۔او په یو روایت کښے چه کوم د سلو نیکو ذکر دے او په بل کښے د اویاوو نو په دے کښ تعاوض نشته دے ځکه چه غرض حصر نهٔ دے۔یا به داسے وی

چه مخکښې به ذ اوياوو نيکو ذکر وی ـ بيا الله تعالى سوا کړے وی يا به داسے اووايو چه څنو ته به ذ اوياوو ثواب وی او څنو لره د سلو په اعتبار د بنه نيت او اخلاص د مراتبو ـ

د بخاری په روايت کښے دی ـ چه هر کله ابراهيم عليه السلام په اور کښے اچولے شوے وو ـ نو ټولو ځناورو اور لره مړ کولو ـ ليکن ګرګټ اور لره په پوکو پوکو تيزه وَلو په دے واسطه د دغه بد ذاته په وژلو کښے ثواب دے ـ

بَابُ النَّهْيِ عَنْ قَتْلِ النَّمْلِ .

د ميږو د وژلو د ممانعت بيان .

(۵۸۴۹) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ نَمْلَةً قَرَصَتْ نَبِيًّا مِّنَ الْاَنْبِيَآءِ فَاَمَرَ بِقَرْيَةِ النَّمْلِ فَاُحْرِقَتْ فَاَوْحَى اللهُ اِلَيْهِ اَفِىْ اَنْ قَرَصَتْكَ نَمْلَةٌ اَهْلَكْتَ اُمَّةً مِّنَ الْاُمَمِ تُسَبِّحُ .[بخاری ، ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت ابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى " چه يو ميږی يو پيغمبر اوچيچو هغوئ حکم اوکړو ـ او د ميږی په يو ټك بانډ تاپو امت هلاك کړو چه هغه د الله پاکوالے بيانوی ـ

فائده: بيا کچرے الله تعالى د يو امت د شرك او کفر په وجه سره هغوئ تباه کړی ـ او په هغوئ کښے دوه څلور بنه خلق هم تباه شی نو ولے څه لرے ده ـ

نووی عليه الرحمه وئيلى دی ـ زمونږ په مذهب کښے د ميږی قتل جائز نۀ دے ـ لو په دے کښې يو حديث دے ذ ابن عباسؓ چه رسول الله صلى الله عليه وسلم منع فرمائيلی ده ـ د ميږی او د ګبين د مچئ او ذ هُد هُد او مارغه ذ وژلو نه ـ رويت کړے دے دے لره ابو داود په اسناذِ صحيح د بخاریؒ او مسلم په شرط باندے ـ

(۵۸۵۰) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَزَلَ نَبِيٌّ مِّنَ الْاَنْبِيَآءِ تَحْتَ شَجَرَةٍ فَلَدَغَتْهُ نَمْلَةٌ فَاَمَرَ بِجَهَازِهٖ فَاُخْرِجَ مِنْ تَحْتِهَا ثُمَّ اَمَرَ بِهَا فَاُحْرِقَتْ فَاَوْحَى اللهُ اِلَيْهِ فَهَلَّا نَمْلَةً وَّاحِدَةً .[ابوداود]

ترجمه: د حضرت ابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے ـ رسول الله صلى الله عليه وسلم

فرمائيلي دى " چه يو پيغمبر د پيغمبرانو نه ذ يو ے ونے د لاندِ كوز شولو ـ هغه يو ميږى اوچيچو هغوى حكم اوكړو د ميږو هغه جو ميږك را اوويستے شو بيا هغوى حكم اوكړو هغه اوسيزلے شى ـ پس الله تعالى هغوىٔ ته وحى را اوليږله چه يو ميږى ته به تا سزا وركړے وه (كوم چه چيچلے وے) د نورو څه قصور وو) .

(۵۸۵۱) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا بِهٖ اَبُوْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ اَحَادِيْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ نَبِىٌّ مِّنَ الْاَنْبِيَاءِ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ تَحْتَ شَجَرَةٍ فَلَدَغَتْهُ نَمْلَةٌ فَاَمَرَ بِجَهَازِهٖ فَاُخْرِجَ مِنْ تَحْتِهَا وَاَمَرَبِهَا فَاُحْرِقَتْ فِى النَّارِ فَاَوْحَى اللّٰهُ اِلَيْهِ فَهَلَّا نَمْلَةً وَّاحِدَةً .

ترجمه:ترجمه د دے حديث هم د دے مخكښے حديث پشان ده۔

بَابُ تَحْرِيْمِ قَتْلِ الْهِرَّةِ .

د پيشو د وژلو د ممانعت بيان .

(۵۸۵۲) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُذِّبَتِ امْرَاَةٌ فِىْ هِرَّةٍ سَجَنَتْهَا حَتّٰى مَاتَتْ فَدَخَلَتْ فِيْهَا النَّارَ لَاهِىَ اَطْعَمَتْهَا وَسَقَتْهَا اِذْ حَبَسَتْهَا وَلَا هِىَ تَرَكَتْهَا تَاْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْاَرْضِ .[بخارى]

ترجمه: د عبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى يوه ښځه د پيشو په وجه په عذاب شوله چه هغے پيشو تړلے وه تر دے پورے چه هغه مړه شوله بيا د هغه پيشو په وجه هغه جهنم ته لاړه (قاضى عياضؒ وائى كيدے شى هغه به كافره وه ، اوپه دے قصور سره ، نووى عليه الرحمه وائى صحيح دا ده چه هغه مسلمانه وه ليكن د دے ګناه په وجه سره هغه جهنم ته لاړه ـ او دا ګناه صغيره نۀ دے بلكه د دے په اصرار سره كبيره شولو او په حديث كښے دا نشته دے چه هغه به هميشه په جهنم كښے وى) هغے هغه پيشو له نه خوراك وركولو نۀ اوبۀ خو بس قيد كړے ئے وه . نۀ ئے هغے لره پريښوده چه د زمكے ځناور ئے خوړلے وے .

(۵۸۵۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَعْنَاهُ. [بخاری]

ترجمه: د دے حدیث ترجمه د پورته پشان ده۔

(۵۸۵۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِذٰلِکَ.

ترجمه: د دے ترجمه هم د پورته پشان ده۔

(۵۸۵۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُذِّبَتِ امْرَاَةٌ فِیْ هِرَّةٍ لَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَسْقِهَا وَلَمْ تَتْرُکْهَا تَاْکُلُ مِنْ خَشَاشِ الْاَرْضِ.

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "یوه ښځه په عذاب شوه د یوے پیشو دَ دَ وجے نه۔ چه هغے لره ئے نه خوراك ورکوو نۀ اوبه نۀ ئے هغے لره پریخوده چه دَ زمکے ځناورے خورلے وے۔

(۵۸۵٦) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَفِیْ حَدِیْثِهِمَا رَبَطَتْهَا وَفِیْ حَدِیْثِ اَبِیْ مُعَاوِیَةَ حَشَرَاتِ الْاَرْضِ.

ترجمه: ترجمه د دے حدیث هم د دے پورته پشان ده۔

(۵۸۵۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ هِشَامِ ابْنِ عُرْوَةَ.

ترجمه: ترجمه د دے هم دَ دے پورته پشان ده۔

(۵۸۵۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِ حَدِیْثِهِمْ.

ترجمه: ترجمه د دے هم د پورته پشان ده۔

بَابُ فَضْلِ سَقْیِ الْبَهَآئِمِ وَاِطْعَامِهَا.

په ځناورو باندے د څوزولو او څښولو فضیلت.

(۵۸۵۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَیْنَمَا رَجُلٌ یَمْشِیْ بِطَرِیْقٍ نِ اشْتَدَّ عَلَیْهِ الْعَطَشُ فَوَجَدَ بِئْرًا فَنَزَلَ فِیْهَا فَشَرِبَ ثُمَّ خَرَجَ فَاِذَا کَلْبٌ یَلْهَثُ یَاْکُلُ الثَّرٰی مِنَ الْعَطَشِ فَقَالَ. الرَّجُلُ لَقَدْ بَلَغَ هٰذَا الْکَلْبَ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلُ الَّذِیْ کَانَ بَلَغَ مِنِّیْ فَنَزَلَ الْبِئْرَ فَمَلَاَ خُفَّهُ مَآءً ثُمَّ اَمْسَکَهُ بِفِیْهِ حَتّٰی رَقِیَ فَسَقَی الْکَلْبَ فَشَکَرَ اللّٰهُ لَهُ فَغَفَرَلَهُ قَالُوْا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَ اِنَّ لَنَا فِیْ هٰذَا الْبَهَآئِمِ لَاَجْرًا فَقَالَ فِیْ کُلِّ کَبِدٍ رَطْبَةٍ اَجْرٌ. [بخاری]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم

اوفرمائیل " چه یو سړے په لاره روان وو ډیر تږے شوے وو (په لاره کښے) یو کوهے ئے اوموندو او هغے ته ورکوز شو او اوبه ئے اوڅښلے او بیا را اوختو ۔ نو یو سپے ئے اولیدو چه ژبه ئے را ایستلے وه هپکیدو (د تندے د وجے نه) اولوندے ختے ئے خوړلے ۔ هغه سړی اووے د دے سپی حال به د تندے د وجے نه داسے وی لکه څنګه چه زما حال وو۔بیا هغه کوهی ته کوز شو او خپله موزه ئے د اوبو ډکه کړه او په خپله کښے ئے اونیوه او واپس را اوختو۔او هغه اوبه ئے په سپی اوڅښلے الله تعالی د هغه نیکی قبوله کړه او هغه ئے اوبخښلو۔خلقو عرض اوکړو چه یا رسول اللهؐ ! مونږ ته د دے څناورو په خوړلو او څکولو کښے هم ثواب ده؟ حضرتؐ اوفرمائیل " په هر لوند څیګر والا کښے ثواب دے " (یعنی د هر ځاروی چه موزی نۀ وی) ۔

(۵۸۶۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ امْرَاَةً بَغِیًّا رَاَتْ کَلْبًا فِیْ یَوْمٍ حَارٍّ یُطِیْفُ بِبِئْرٍ قَدْ اَدْلَعَ لِسَانَهُ مِنَ الْعَطَشِ فَنَزَعَتْ بِمُوْقِهَا فَغُفِرَ لَهَا ۔

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے۔ هغه روایت کوی د نبی صلی الله علیه وسلم نه " چه یو حرام کارے ښځے د ګرمئ په ورځو کښے یو سپے اولیدو چه د کوهی نه چاپیره چورلیدو او ژبه ئے بهر راویستے وه ۔ د تندے نه هغه ښځے په خپله موزه کښے اوبه را اویستے او په هغه سپی ئے اوڅکلے او الله تعالی هغه لره اوبخښله۔

(۵۸۶۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَیْنَمَا کَلْبٌ یُطِیْفُ بِرَکِیَّةٍ قَدْ کَادَ یَقْتُلُهُ الْعَطَشُ اِذْ رَاَتْهُ بَغِیٌّ مِّنْ بَغَایَا بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ فَنَزَعَتْ مُوْقَهَا فَاسْتَقَتْ لَهُ بِهِ فَسَقَتْهُ اِیَّاهُ فَغُفِرَ لَهَا بِهِ ۔ [بخاری]

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " یو سپے د یو کوهی په غاړه چاپیره چورلیدو چه د تندے د وجے نه مرګ ته نزدے شوے وو هغه لره د بنی اسرائیلو چه یو حرامکار اولیدو نو په خپله موزه کښے ئے اوبه را او ویستے او په هغه ئے اوڅکولے الله پاك د دغے نیکئ په بدله هغه اوبخښو۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

كِتَابُ الْاَلْفَاظِ مِنَ الْاَدَبِ وَغَيْرِهَا .

د أدب د الفاظو وغيره كتاب .

بَابُ النَّهْيِ عَنْ سَبِّ الدَّهْرِ .

زمانې د بدو وئيلو د ممانعت بيان .

(٥٨٦٢) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ قَالَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ يَسُبُّ ابْنُ اٰدَمَ الدَّهْرَ وَاَنَا الدَّهْرُ بِيَدِيْ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ .[بخاری]

ترجمه: دَ ابـو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے چه ما اوريدلی دی د رسول الله صلی الله عـليـه وسـلـم نـه چه فرمائيلو ئے الله تعالی فرمائيلی دی " چه بد بنيا دم وائی زمانے ته حالانکه زمانه ځما په لاس کښې ده ـ شپه او ورځ زَمَا په اختيار کښې دی"۔

(٥٨٦٣) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ يُؤْذِيْنِيْ ابْنُ اٰدَمَ يَسُبُّ الدَّهْرَ وَاَنَا الدَّهْرُ اُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ .[بخاری]

تـرجمه : د ابـو هـريـره رضـی الله تـعـالـی عـنـه نه روايت دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فـرمـائـيـلـی دی " الله تـعـالی فرمائی ، بنيادم ما ته ضرر راکوی چه زمانے ته کنځل کوی او زه په خپـلـه زمانه يم (يعنی د زمانے نه څه کار نۀ شی کيدے بلکه کار کولو والا زۀ يم) بدلوم شپے لره او ورځی لره۔

(٥٨٦٤) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى يُؤْذِيْنِيْ ابْنُ اٰدَمَ يَقُوْلُ يَاخَيْبَةَ الدَّهْرِ فَلَا يَقُوْلَنَّ اَحَدُكُمْ يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ فَاِنِّيْ اَنَا الدَّهْرُ اُقَلِّبُ لَيْلَهٗ وَنَهَارَهٗ فَاِذَا شِئْتُ قَبَضْتُهُمَا .

ترجمه: د ابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے ، وائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فـرمـائـيـلـی دی چـه الله تبـارك و تعالی ارشاد فرمائی تکليف راکوی ما ته چه بنياد وائی ها ئے د زمانے کمبختئ۔ نو خوك د ستاسو نه داسے نۀ وائی هائے د زمانے کمبختئ ځکه چه زمانه زۀ ...

یَمه شپه او ورځ راولم او هر کله چه زهٔ اوغواړم نو شپه او ورځ راولم او هر کله چه زهٔ اوغواړم نو شپه او ورځ به موقوف کړم۔

(۵۸۶۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا یَقُوْلَنَّ اَحَدُکُمْ یَاخَیْبَةَ الدَّهْرِ فَاِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ .

ترجمه: نووی وائی دا چه نبی کوم اوفرمائیل چه الله تعالی پخپله زمانه ده ـ دا ئې مجازاً اوفرمائیل او د دے سبب دا دے چه د عربو خلقو به دَ مصیبت او تکلیف په وخت زمانے ته بد وئیلو۔ حضرتؐ اوفرمائیل زمانے ته بد مهٔ وایئ۔ولے چه الله تعالی زمانه ده۔یعین تاسو چه چا له د مصیبتونو راوستونکے او تکلیف رسونکے گنړئ د هغه په حقیقت کښ څه اختیار نشته دے بلکه فاعل الله نو ستاسو بد وئیل او کنځل کول الله ته شو ـ (معاذ الله)۔

(۵۸۶۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوا الدَّهْرَ فَاِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ .

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ هیڅوك ډِ بد نهٔ وائی ستاسو نه زمانے ته۔ ځکه چه الله تعالی پخپله زمانه ده (یعنی زمانه څه نهٔ شی کولے کونکے الله دے)۔

بَابُ کَرَاهَةِ تَسْمِیَةِ الْعِنَبِ کَرْمًا .

انگور ته د کرم وئیلو د ممانعت بیان .

فائده: د عربو خلقو به انگور ته او د انگورو شرابو ته کرم وئیلو۔دَ کرم معنی ده بزرگی او عزت او مهربانی۔ د هغوئ دا خیال وو چه په شرابو څکلو سره هم په انسان کښے کرم پیدا کیږی۔ ځکه به ئې پخپله انگور ته او د هغے د شرابو ته کرم وئیلو هر کله چه شراب حرام شولو نو حضرتؐ د انگور د پاره د دے نوم د بدلولو هم ممانعت او فرمائیلو په دے خیال سره چه دا نوم د شرابو یا د نهٔ راولی۔بله دا چه د شرابو عزت اونهٔ کړے شی۔

(۵۸۶۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَسُبُّ اَحَدُکُمُ الدَّهْرَ فَاِنَّ اللهَ هُوَ الدَّهْرُ وَلَا یَقُوْلَنَّ اَحَدُکُمْ لِلْعِنَبِ الْکَرْمَ فَاِنَّ الْکَرْمَ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ .

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ، وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ستاسو نه ډ خوك زمانے ته بد نهٔ وائی ولے چه صرف د الله په لاس کښں زمانه ده۔ او هر څه صرف الله کوی بیا زمانے ته بد وئیل معاذ الله الله تعالی ته بدل وئیلی دی۔او څوك د ستاسو نه انګورو ته کرم نهٔ وائی څکه چه کرم مسلمان بنیادم ته وئیلے شی۔

(۵۸۶۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُوْلُو کَرْمٌ فَاِنَّ الْکَرْمَ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ . [بخاری]

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی انګور ته کرم مهٔ وایئ ولے چه کوم د مسلمان زړهٔ دے "۔

(۵۸۶۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا تُسَمُّوا الْعِنَبَ الْکَرْمَ فَاِنَّ الْکَرْمَ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ .

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " انګور ته کرم مهٔ وایئ څکه چه کرم مسلمان سړی ته وئیلے شی۔

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَقُوْلَنَّ اَحَدُکُمُ الْکَرْمَ فَاِنَّ الْکَرْمَ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ .

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " څوك ډ ستاسو نه کرم انګور ته نهٔ وائی۔ولے چه کرم ډ مؤمن زړهٔ دے۔

(۵۸۷۱) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ مَا حَدَّثَنَا اَبُوْ هُرَیْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَ اَحَادِیْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَقُوْلَنَّ اَحَدُکُمْ لِلْعِنَبِ الْکَرْمَ اِنَّمَا الْکَرْمُ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ .

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ، څوك د ستاسو نه انګورو ته کرم نهٔ وائی کرم خو مسلمان سړے (یعنی بنیادم) دے۔

(۵۸۷۲) عَنْ وَائِلِ ابْنِ حُجْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُوْلُوْا الْکَرْمُ وَلٰکِنْ

قُوْلُوْا الْحَبَلَةُ يَعْنِيْ الْعِنَبَ .

ترجمه : د وائـل بـن حـجـرؓ نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ، کوم مهٔ وايئ بلکه عِنب یا حبله وايئ (یعنی انګورو ته).

(۵۸۷۳) عَنْ وَائِلِ ابْنِ حُجْرٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُوْلُوْا الْكَرْمُ وَلٰكِنْ قُوْلُوْا الْعِنَبُ وَالْحَبْلَةُ .

ترجمه : د وائـل بـن حـجـر رضـی الله تـعـالـی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ۔ کوم مهٔ بلکه عنب یا حبله وايئ (انګورو ته).

بَابُ حُكْمِ إِطْلَاقِ لَفْظِهِ الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ وَالْمُوْلٰى وَالسَّيِّدِ .

د عبد یا امه یا مولی یا سید د دے لفظونو د وئیلو بیان .

(۵۸۷۴) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَقُوْلَنَّ اَحَدُكُمْ عَبْدِیْ وَاَمَتِیْ كُلُّكُمْ عَبِيْدُ اللهِ وَكُلُّ نِسَآءِ كُمْ اِمَآءُ اللهِ وَلٰكِنْ لِيَقُلْ غُلَامِیْ وَجَارِيَتِیْ وَفَتَایَ وَفَتَاتِیْ .

ترجمه : دابـو هـريـره رضـی الله تـعـالـی عـنـه نـه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فـرمـائـیلی دی ، چه ستاسو نه دهیڅ یو کس خپلو غلامانو ته داسے نهٔ وائی چه څما عبد یعنی څمـا بـنده او خپلے وینځے ته دڅما امته یعنی څما بندی ، تاسو تول دالله تعالی بندیګان یئ ، او ستاسو ښځے دالله تعالی بندیګان دی۔ لیکن ، داسے وئیل پکار دی څما غلام او څما وینځه څما ځوان سرے او څما ځوانه ښځه ۔

فائده: پـه بل روایت کښں دی غلام به هم داسے نهٔ وائی چه څما رب ، بلکه داسے داوائی څـمـا سیـد ، نـووی وائـی ددے حدیـث نـه دوه خبرے مقصود دی، یو خو غلام ته ممانعت خپل آقـاتـه درب وئیلو نه ولے چه درب معنی خالق رازق او الله دے ، او په حدیث کښں چه کوم راغلے دی چه وینځه به خپل رب لره زیږوی، دغه شان جواب ئے په دوه طریقے سره ورکړے دے، یو خو دا چـه رب وئـیـل جائز دی او ممانعت ئے تنزیهی دے نهٔ تحریمی ، دویم دا چه ممانعت ددے لفظ په اکثر وئیلو سره دے نهٔ په شاذ نادر وئیلو سره ، قاضی عیاضؒ دغه جواب لره اختیار کړے دے،

او په سید ونیلو سره ممانعت نشته دے ولے چه دسید لفظ دالله تعالی سره خاص نهٔ دے، بلکه ځنو دسید اطلاق په الله تعالی باندے مکروه ایخودے دے۔

او حضرت صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی امام حسینؓ ته چه دا زما ځوئ سید دے.

او فرمائیلی دی پورته شئ دخپل سید دپاره یعنی دسعد بن معاذ دپاره۔

دغه شان د مولی د وئیلو نه۔ولے چه د مولی شپارس معنے دی۔بل مقصود دا دے چه سید به خپلے وینځے اوغلام ته عبد او امته نهٔ وائی ځکه چه عبودیت حقیق خاص الله لره دے۔او په دے لفظ کښے داسے تعظیم دے چه د الله لره دے۔او په دے لفظ کښے داسے تعظیم دے چه د الله سره خاص دے ۔ انتهی مختصراً۔

د دے حدیث نه معلومه شوه چه عبدا النبی یا عبد حسن یا عبد محمد یا بندهٔ حسن یا بندهٔ علیؓ داسے نو ایخولد مکروه دی۔اگر که د نور ایخودلو والا نیت د عبد نه عبودیت حقیقی نهٔ وی۔بلکه د غلام معنیٰ وی۔او کچرے د عبودیت نیت ئے وی نو نوم ایخودونکے مشرك او کافر دے۔او غلام او غلام حسن غلام حسین غلام علی دا نومونه ایخودل اگر چه درست دی خو د سنتو موافق نهٔ دی۔او په دے نومونو کښے یو قسم له درو هُم دی ځکه چه غلامی په د کوم رقیت مترادف ده هغه نهٔ شی موندلے۔البته د غلام مجازی معنی د خادم او خدمت کونکی جوړیدے شی۔پس غوره دا ده چه چه عبدالله ، عبدالرحمن وغیره د کومے چه د الله عبودیت ظاهریږی یا د پیغمبرانو نومونه کیږی۔لکه موسیٰ ، عیسیٰ ، ابراهیم ، صالح ، او لوط هود وغیرے د نارینه د پاره ږدئ۔او د زنانه د پاره مریم ، زینب ، خدیجه ، فاطمه ، حلیمه وغیره نومونه ایخودل غوره دی۔

(۵۸۷۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لا یَقُوْلَنَّ اَحدکُمْ عَبْدِیْ فَکُلُّکُمْ عَبِیْدُ اللّٰهِ وَلٰکِنْ لِّیَقُلْ فَتَایَ وَلَا یَقُلِ الْعَبْدِ رَبِّیْ وَ لٰکِنْ لِّیَقُلْ سَیِّدِیْ .

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ، خوك دِ ستاسو نه داسے نهٔ وائی چه زما بنده ځکه تاسو ټول د الله تعالی بندیګان یئ۔بلکه داسے وائی چه ځما رب ، بلکه داسے وائی ځما سیده۔

(۵۸۷۶) عن الاعمش بهذا الإسناد وفي حديثهما علا يقل العبد لسيده مولاى وزاد في حديث ابي معاوية فان مولاكم الله.

ترجمه: ترجمه د دے هم دغه ده کومه چه پورته تیره شوه. په دے کښې دا دی چه غلام به خپل سید ته مولی نهٔ وائی ولے چه ستاسو مولی الله تعالی دے۔

فائده: نووی علیه الرحمه وائی دا عبارت په نورو روایتونو کښې نشته دے. او د دے حذف زیات صحیح دے. او د مولیٰ اطلاق سوا د الله په نورو باندے راغلے دے۔

(۵۸۷۷) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مَنبِّهٍ قَالَ هٰذا مَا حَدَّثَنَا اَبُوْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ اَحَادِيْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا يَقُلْ اَحَدُكُمْ اسْقِ رَبَّكَ اطْعِمْ رَبَّكَ وَضِّئْ رَبَّكَ وقال لا يقل احدكم ربي وليقل سيدي مولاي ولا يقل احدكم عبدي امتي وليقل فتاي فتاتي غلامي. [بخاري]

ترجمه: همام بن منبّهٔ د ابو هريره رضي الله على عنه نه روايت کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "څوك دِ ستاسو نه داسے نهٔ وائی (چه غلام ته) اوبه اوڅکوه په خپل رَبْ باندے یا ډوډئ اوخوره وه په خپل رب باندے ، او څوك دِ ستاسو نه بل ته خپل رب نهٔ وائی بلکه سید یا مولی دِ وائی. چه زما بنده یا څما بندی . بلکه جوان مرد او جوان ښځه دِ وائی" .

بَابُ كَرَاهَةِ قَوْلِ الْاِنْسَانِ خَبُثَتْ نَفْسِيْ .

دا وئیل چه څما نفس پلیت شوے دے مکروه دی .

(۵۸۷۸) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا يَقُوْلَنَّ اَحَدُكُم خَبُثَتْ نَفْسِيْ وَلٰكِنْ لِّيَقُلْ لَقِسَتْ نَفْسِيْ هٰذَا حَدِيْثُ اَبِيْ كُرَيْبٍ وَّقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلَّم وَلَمْ يَذْكُرْ لٰكِنْ.

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " څوك دِ نهٔ وائی چه څما نفس پلیت شوے دے (يعنى پليد

او نجس) بلکه داسې دوائی چه ځما نفس کاهل او سُست شوې دې" (خبیثت او پلیت د کافر لقب دې او ډیر کریهه لفظ دې. ځکه ئې مسلمان خپل ځان ته د دې لفظ دَ وئیلو نه منع کړې دې. او په یو حدیث کښې چه راغلی دی چه بیا سحر پاڅی خبیث النفس نو هغه د غیر صفت دې او د مبهم سړی بیان دې چه داسې اطلاق منع نهٔ دې.)

(۵۸۸۰) عَنْ سَهْلِ ابْنِ حُنَيْفٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَقُوْلُ اَحَدُكُمْ خَبُثَتْ نَفْسِىْ وَلْيَقُلْ لَقِسَتْ نَفْسِىْ. [بخاری، ابوداود]

• ترجمه: د دې حدیث ترجمه هم د دې پورته حدیث پشان ده.

بَابُ اسْتِعْمَالِ الْمِسْكِ وَ كَرَاهَةِ رَدِّ الرَّيْحَانِ وَالطِّيْبِ.

د مشک بیان او د خوشبوئۍ د واپس کولو ممانعت.

(۵۸۸۱) عَنْ اَبِىْ سَعِيْدِ الْخُدْرِىِّ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتِ امْرَاَةٌ مِّنْ بَنِىْ اِسْرَائِيْلَ قَصِيْرَةٌ تَمْشِىْ مَ امْرَاَتَيْنِ طَوِيْلَتَيْنِ فَاتَّخَذَتْ رِجْلَيْنِ مِنْ خَشَبٍ وَّ خَاتَمًا مِّنْ ذَهَبٍ مُّغْلَقٍ مُّطْبَقٍ ثُمَّ حَشَتْهُ مِسْكًا وَّهُوَ اَطْيَبُ الطِّيْبِ فَمَرَّتْ بَيْنَ الْمَرْاَتَيْنِ وَلَمْ يَعْرِفُوْهَا فَقَالَتْ بِيَدِهَا هٰكَذَا وَ نَفَضَ شُعْبَةُ يَدَهٗ. [ترمذی، نسائی]

ترجمه: د ابو سعید خدریؓ نه روایت دې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. د بنی اسرائیلو په قوم کښې یو مکاره ښځه وه. تلله به دَ دوو دنګو ښځو سره نو هغې به د لرګی جوړې کړې دوه کهړاوې پخپو کولې او د سرو زر یوه خول داره ګوتۍ ئې جوړه کړې وه هغه به ئې په ګوته کښې اچولې وه. او په هغې کښې ئې مشک ډک کړی وو او هغه خو ډیره مزیداره خوشبوئی ده. بیا به تلله د هغه دوارو ښځو په مینځ کښې نو خلقو به هغه نه پیژنده. هغوئ په خپل لاس سره داسې اشاره کوله " شعبهٔ کوم چه د دې حدیث راوی دې خپل لاس ئې خالی کړو او د هغې ښځې اشاره ئې اوښوده.

فائده: په دې حدیث کښې حضرت صلی الله علیه وسلم دا فرمائیلی دی. چه مُشک مزیداه خوشبوئی ده. او دغه د باب مقصود دې نووی علیه الرحمه مشک پاک دی او د هغې استعمال په بدن او کپړه کښې درست دې. او د هغې بیعه په اجماع سره ناجائز ده. او مشک د

هغه قاعدے نه مستثنی دی چه کوم څیز د ژوندی ځناور نه جدا کړے شی هغه مردار دے۔ یا د مُشك حکم پشان د اګئ او بچی او پیُو دے ۔ او هغے بنځے چه کومے د لرګی کهړا وے پخپلو کولے او خپل ځان ئے د نګولو ۔ د دے نه غرض کچرے خپل ځان پتول وی چه د خلقو دَ ضرر نه بچ شی نو دا جائز دی۔ او کچرے د فخر یا لویَ یا د نمائش د پاره ئے کوی نو حرام دی۔

(۵۸۸۲) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ذَکَرَ امْرَاَۃً مِّنْ بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ حَشَتْ خَاتِمَهَا مِسْکًا وَالْمِسْکُ اَطْیَبُ الطِّیْبِ ۔

ترجمه : ترجمه د دے هم د دے نه د مخکښے حدیث په شان ده۔

(۵۸۸۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَۃَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عُرِضَ عَلَیْهِ رَیْحَانٌ فَلَا یَرُدُّهٗ فَاِنَّهٗ خَفِیْفُ الْمَحْمِلِ طَیِّبُ الرِّیْحِ ۔

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " چا له چه خوشبدار وابنه ورکړے شی یا خوشبو دار ګلونه ورکړے شی نو هغه دِ نهٔ واپس کوی ځکه چه د هغے څه بوج نشته او خوشبوئی ئے مزیداره ده "۔

(۵۸۸۴) عَنْ نَافِعٍ قَالَ کَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ اِذَا اسْتَجْمَرَ اسْتَجْمَرَ بِالْاَلُوَّۃِ غَیْرَ مُطَرَّاۃٍ وَ بِکَافُوْرٍ یَطْرَحُهٗ مَعَ الْاَلُوَّۃِ ثُمَّ قَالَ هٰکَذَا کَانَ یَسْتَجْمِرُ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ۔

ترجمه : د نافعؒ نه روایت دے وائی چه عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه چه به هر کله د خوشبوئی لوګے کوو نو د عودو به ئے کوو چه په هغے کښ به نور څه میلاو نهٔ وو۔ یا به ئے د کافورو کوو هم به ئے د عودو سره غورځول بیا به ئے وئیل رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم دغسے خوشبو اخستله۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆

☆

كِتَابُ الشِّعْرِ.

کتاب د شعر په بیان کښې.

(۵۸۸۵) عَنْ عَمْرِو ابْنِ الشَّرِيدِ عَنْ اَبِيهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَدِفْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ هَلْ مَعَكَ مِنْ شِعْرِ اُمَيَّةَ ابْنِ اَبِي الصَّلْتِ شَيْئًا قُلْتُ نَعَمْ قَالَ هِيهِ فَاَنْشَدْتُهُ بَيْتًا فَقَالَ هِيهِ ثُمَّ اَنْشَدْتُهُ بَيْتًا فَقَالَ هِيهِ حَتّٰى اَنْشَدْتُهُ مِائَةَ بَيْتٍ. [ابن ماجه]

ترجمه : د عمرو بن شریدؓ نه روایت دے هغوئ اوریدلی دی د خپل پلار نه هغه وئیلو چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ورځ سور شومه حضرتؐ اوفرمائیل تا ته دَ امیه بن ابی الصلت څه شعرونه یا د دی ما اووے هاں. حضرتؐ اوفرمائیل اووایه ما یو بیت اولوستلو حضرتؐ اوفرمائیل نو اووایه ما بیا یو بیت اولوستو. حضرتؐ اوفرمائیل نور اووایه تر دے پورے چه ما سل بیتونه اولوستل۔

(۵۸۸۶) عَنِ الشَّرِيدِ قَالَ اَرْدَفَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلْفَهُ فَذَكَرَ بِمِثْلِهِ.

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته پشان ده۔

(۵۸۸۷) عَنْ عَمْرِوا بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ اَبِيهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اسْتَنْشَدَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيثِ ابْنِ مَيْسَرَةَ وَزَادَ وَقَالَ اِنْ كَادَ يُسْلِمُ وَفِي حَدِيثِ ابْنِ مَهْدِيٍّ قَالَ لَقَدْ كَادَ يُسْلِمُ فِي شِعْرِهِ.

ترجمه: ترجم ددے هم دپورته تیر شوی حدیث پشان ده۔

فائده: نوویؒ وائی ددے حدیث نه معلومه شوه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دامیه بن ابی الصلت شعرونو لره زیات غوره کړو او دزیاتولوستلو خواهش ئے اوکړو، ولے چه په هغے کښے دتوحید الهی او دحشر اقرار وو، ددے نه معلومه شوه چه په کوم شعر کښے فحش مضمون نهٔ وی د هغے لوستل او اوریدل جائز دی، اگر که دجاهلیت دزمانے شعر وی، او بده داده چه ډیر شعر بل ته لولی یا ډیر شعرونه یادوی لیکن په لږ کښے څه قباحت نشته۔

(۵۸۸۸) عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَشْعَرُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَتْ بِهَا

الْعَرَبُ كَلِمَةِ لَبِيْدٍ اَلَا كُلُّ شَيْئٍ مَا خَلَا اللهُ بَاطِلٌ ۔ [بخاري ، ترمذي ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هريره رضي الله تعالى عنه نه روايت دے دتولونه مزيدار شعر چه دعربو خلقو وئيلے دے دلبيد دا كلام دے (لبيد بن ربيعه يو صحابي شاعروو) دهغے ترجمه په اردو كنبے داده چه ما سيوا دحق نه هر يو شے لغوه دے۔

(۵۸۸۹) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا شَاعِرٌ كَلِمَةُ لَبِيْدٍ اَلَا كُلُّ شَيْئٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ وَّكَادَ ابْنُ اَبِي الصَّلْتِ اَنْ يُّسْلِمَ ۔

ترجمه: دابو هريره نه ددے پورته پشان دا روايت هم دے په دے كنبے داسيت دى چه دتولونه زيات رښتونے كلام دلبيد دے او دابو الصلت څوئ اسلام ته نزدے وو۔ (ولے چه دهغه عقائيد ښه وو خو هغه داِسلام نه محروم پاتے شو)

(۵۸۹۰) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ اَصْدَقَ بَيْتٍ قَالَهُ الشَّاعِرُ اَلَا كُلُّ شَيْئٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ وَّكَادَ ابْنُ اَبِي الصَّلْتِ اَنْ يُّسْلِمَ ۔

ترجمه: هم ددے نه ددے مخكنبں حديث پشان ده كوم چه پورته بيان شو۔

(۵۸۹۱) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ تَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَصْدَقُ بَيْتٍ قَالَتْهُ الشُّعَرَاءُ اَلَا كُلُّ شَيْئٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ ۔

ترجمه: دا ترجمه هم دپورته حديث په شان ده۔

(۵۸۹۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ اَصْدَقَ كَلِمَةٍ قَالَهَا شَاعِرٌ كَلِمَةُ لَبِيْدٍ اَلَا كُلُّ شَيْئٍ مَا خَلَ اللهَ بَاطِلٌ مَّا زَادَ عَلٰى ذٰلِكَ ۔

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حديث په شان ده۔

(۵۸۹۳) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاَنْ يَّمْتَلِئَ جَوْفُ الرَّجُلِ قَيْحًا يَرِيْهِ خَيْرٌ مِّنْ اَنْ يَّمْتَلِئَ شِعْرًا قَالَ اَبُوْ بَكْرٍ اِلَّا اَنَّ حَفْصًا لَمْ يَقُلْ يَرِيْهِ ۔

ترجمه: دابو هريره رضي الله تعالى عنه نه روايت دے رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى " كچرے ديو سرى گيډه دوينو زوونه ډكه شى تر دے پورے چه دهغه پرپو سانو ته اورسى دا دهغه په حق كنبے " غوره ده په خپله گيډه كنبے دشعر ډكولونه۔

(۵۸۹٤) عَنْ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاَنْ يَّمْتَلِيَ جَوْفُ اَحَدِكُمْ قَيْحًا يَرِيْهِ خَيْرٌ مِّنْ اَنْ يَّمْتَلِيَ شِعْرًا. [ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دسعد ابن ابی وقاصؓ نه هم ددغے پشان روایت دے۔

فائده: نووی وئیلی دی، ددے حدیث معنی داده، چه انسان په شعر گویئ یا په شعر خوانئ کنبے داسے مصروف شی چه دعلوم شرعیه او تلاوت قرآن پاك او دحدیثو فرصت نهٔ مومی، او که دقرآن او حدیث سره ورته لږ شان شعرونه هم یادوی نو څه قباحت نشته دے، ځکه چه دهغه گیډه دشعرنه ډکه نهٔ ده، ځنے عالمانو مطلقا شعر ته مکروه وئیلی دی، اگر که په هغے کنبے فحش نهٔ وی۔

او داکثرو قول دادے چه شعر مباح دے اگر په هغے کنبے فحش نهٔ وی هغویٔ وائی شعر هم یو کلام دے بنه دهغے مزیدار دی او بد دهغے بد دی، او حضرت شعرونه اوریدلی دی او په بل ئے لوستلی دی، او حسان بن ثابتؓ ته دے دمشرکانو په هجو کنبں دشعر وئیلو حکم فرمائیلے دے۔

او دحضرت اصحابوؓ دحضرت په مخکنبں په سفر وغیره کنبے شعرونه وئیلی دی، لو هیچا ترے انکار نه دے کړے، البته په بدوشعرونو باندینے انکار کړے دے او کوم شاعر ته چه حضرت شیطان وئیلے دے هغه به دهغه دکفر دوچے نه وی، یا به هغه شپه او ورځ په کفر کنبے مصروف وی، یا به دهغه شعرونه خراب وی۔

(۵۸۹۵) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ نَسِيْرُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَرْجِ اِذَا عَرَضَ شَاعِرٌ، يُنْشِدُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذُوْا الشَّيْطَانَ اَوْ اَمْسِكُوْا الشَّيْطَانَ لَاَنْ يَّمْتَلِيَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا خَيْرٌ لَّهُ مِنْ اَنْ يَّمْتَلِيَ شِعْرًا.

ترجمه: دابوسعید خدریؓ نه روایت دے، وائی چه مونږ دعرج په مینځ کنبے درسول الله صلی الله علیه وسلم سره روان وو(عرج دمدینے نه اته اویا میله لرے..... یو کلے دے) چه په دے کنبں یو شاعر مخے ته راغے. چه هغه شعر لوستلو حضرت او فرمائیل " دے شیطان لره اونیسیٔ، کچرے ستاسونه دچا کیډه دوینو زوو نه ډکه شی نودغه دشعر دډکیدونه غوره ده"

بَابُ تَحْرِيْمِ اللَّعْبِ بِالنَّرْدِشِيْرِ.

دچوسر لوبه کول حرام دي.

(۵۸۹۲) عَنْ اَبِيْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدِ شِيْرِ فَكَاَنَّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِيْ لَحْمِ خِنْزِيْرٍ وَدَمِهِ. [ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دبریده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ،څوك چه دچوسرلوبے کوی هغه چه لکه خپل لاس دسور په غوښه او وینه سره رنگ کوی۔

فائده: معاذ الله د چو سر حرمت خو صفا دے حدیث نه وتلے دے او دَ امام شافعی رحمه الله او جمهور علماؤ دغه قول دے۔ چه د چو سرلو به کول حرام دی۔او دَ ابو اسحاق مزوری دا قول دے چه هغه مکروه دے او حرام نهٔ دے۔او شطرنج زمونږ په مذهب کښے مکروه دے حرام نهٔ دے او دغه منقول دی د تابعینو د یو جماعت نه۔

او د امام مالك او اِمامِ احمد رحمهم الله په نزد حرام دے امام مالكؒ وئیلی دی شطرنج ډیر زیاد بد دے د چو سَرْ نه ځکه چه غافله کوی انسان لره د عبادت نه۔او قیاس کړے هغویٔ شطرنج لره په چو سر باندے۔او زمونږ ملګری دے قیاس لره نهٔ منی۔اووائی چه شطرنج د چو سر نه کم دے۔

مترجم وائی کچرے شطرنج حرام نهٔ دی مروه هم وی بیا هم په داسے صورت کښے چه هر کله د شطرنج په وجه سره په نورو نیکو کارونو کښے خلل نهٔ پریوځی۔او په مونځ کښے هم سستی نه راځی خو بیا به هم په اتفاق سره حرام وی۔په دے لوبو کښے نهٔ د دین فائده شته نهٔ د دنیا محض لغوه او وخت ضائع کول دی۔د وخت په شان قیمتی څیز په دنیا کښے یو نشته دے لره په بنه او د فائدے په کارونو کښے صرف کویٔ۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆

كتاب الرُّؤيا.

د خوب ليدلو په بيان کښې.

(۵۸۹۷) عَنْ اَبِیْ سَلَمَةَ قَالَ كُنْتُ اَرَى الرُّؤْيَا اُعْرٰى مِنْهَا غَيْرَ اَنِّیْ لَا اُزَمَّلُ حَتّٰى لَقِيْتُ اَبَا قَتَادَةَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهٗ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الرُّؤْيَا مِنَ اللهِ وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطٰنِ فَاِذَا حَلَمَ اَحَدُكُمْ حُلْمًا يَكْرَهُهٗ فَلْيَنْفُثْ عَنْ يَسَارِهٖ ثَلٰثًا وَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ شَرِّهَا فَاِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهٗ .[بخاری ، ابوداود ، ترمذی]

ترجمه: د ابو سلمةؓ نه روايت دے وائی چه ما خواب ليدلو نو په ما د بخار غوندے حالت راغلے وو مګر کپړے نهٔ شم اغوستلے۔ تر دے پورے چه زهٔ د ابو قتاده سره ميلاؤ شوم او هغویٔ ته م بيان اوکړو۔ هغویٔ اووے ما دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلی دی چه فرمائيلی ئے وو۔" ښه خوب د الله تعالى د طرفنه دے او بد خو د شيطان د طرفنه دے پس هر کله چه څوک ستاسو نه بد خوب اووينی ۔ نو ګس طرفته د درے ځله لاړے توکی يا د تو تو اوکړی (پے د توکلونه) او په الله تعالى دِ پناه غواړی د هغه (خوب) د شرُ نه بيا به هغه خوب ده لره ضرر نهٔ ورکوی۔

(۵۸۹۸) عَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْ فِیْ حَدِيْثِهِمْ قَوْلَ اَبِیْ سَلَمَةَ كُنْتُ اَرَى الرُّؤْيَا يَا اُعْرٰى مِنْهَا غَيْرَ اَنِّیْ لَا اُزَمَّلُ .

ترجمه: ترجمه د دے د پورته پشان ده .

(۵۸۹۹) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَلَيْسَ فِیْ حَدِيْثِهِمَا اُعْرٰى مِنْهَا وَ زَادَ فِیْ حَدِيْثِ يُوْنُسَ فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهٖ حِيْنَ يَهُبُّ مِنْ نَوْمِهٖ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ .

ترجمه: ترجمه د دے حديث هم د پورته پشان ده۔

(۵۹۰۰) عَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الرُّؤْيَا مِنَ اللهِ وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطٰنِ فَاِذَا رَاٰى اَحَدُكُمْ شَيْئًا يَكْرَهُهٗ فَلْيَنْفُثْ عَنْ يَسَارِهٖ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَلْيَتَعَوَّذْ مِنْ شَرِّهَا فَاِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهٗ فَقَالَ اِنْ كُنْتُ لَاَرَى الرُّؤْيَا اَثْقَلَ عَلَیَّ مِنْ جَبَلٍ فَمَا هُوَ اِلَّا اَنْ سَمِعْتُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ فَمَا اُبَالِيْهَا .

ترجمه: د دے هم ترجمه د پورته پشان ده ۔ ابو سلمةؓ اووے زهٔ بعضے خوب داسے اووينم چه د غر

نه هم زیات په ما باندے بوج وی۔ هر کله چه ما دا حدیث واوریدو نو څه پرواه م پاتے نهٔ شوه۔

(۵۹۰۱) عَنْ يَحْيَى ابْنِ سَعِيْدٍ بِهٰذَ الْإِسْنَادِ وَ فِيْ حَدِيْثِ الثَّقَفِيِّ قَالَ اَبُوْ سَلَمَةَ فَاِنْ كُنْتُ لَاَرَى الرُّؤْيَا وَلَيْسَ فِيْ حَدِيْثِ اللَّيْثِ وَابْنِ نُمَيْرٍ قَوْلُ اَبِيْ سَلَمَةَ اِلٰى اٰخِرِ الْحَدِيْثِ وَزَادَ ابْنُ رُمْحٍ فِيْ رِوَايَةِ هٰذَا الحديث فَلْيَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِيْ كَانَ عَلَيْهِ.

ترجمه: د دے ترجمه هم د پورته حدیث پشان ده۔ په یو روایت کښے دومره نوره زیاته ده چه درے واره به تو تو اوکړی او په الله به پناه اوغواړی او په بله ډډه به څملی۔

(۵۹۰۲) عَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللّٰهِ وَالرُّؤْيَا السُّوْءُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَمَنْ رَّاٰى رُؤْيَا فَكَرِهَ مِنْهَا شَيْئًا فَلْيَنْفُثْ عَنْ يَّسَارِهٖ وَلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ لَا تَضُرُّهٗ وَلَا يُخْبِرْ بِهَا اَحَدًا فَاِنْ رَّاٰى رُؤْيَا حَسَنَةً فَلْيُبْشِرْ وَلَا يُخْبِرْ اِلَّا مَنْ يُّحِبُّ.

ترجمه: د ابو قتادهؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " ښه خوب د الله تعالی د طرفنه دے او بد د شیطان د طرفنه پس څوک چه خوب اووینی او بد ورته ښکاره شی نو کس طرفته د درے ځلو تو تو اوکړی او اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ دِ اووائی۔ اوس به هغه خوب ده ته ضرر نهٔ ورکوی او پکار ده چه هغه خوب هیچا ته بیان نهٔ کړی۔ او کچرے نیك خوب اووینی نو خوشحاله دِ شی او هغه چا ته دِ یے بیان کړی چه دوست وی۔

فائده: د دے د پاره چه ښه ښکلے تعبیر درکړی دشمن ته په بیانولو کښے دا افت دے چه هغه به خراب تعبیر درکړی او احتمال دے چه هم دغسے واقع شی یا یے کاره تکلیف شی۔

(۵۹۰۳) عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ قَالَ كُنْتُ لَاَرَى الرُّؤْيَا تُمْرِضُنِيْ قَالَ فَلَقِيْتُ اَبَا قَتَادَةَ فَقَالَ وَ اَنَا كُنْتُ لَاَرَى الرُّؤْيَا فَتُمْرِضُنِيْ حَتّٰى سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللّٰهِ فَاِذَا رَاٰى اَحَدُكُمْ مَّا يُحِبُّ فَلَا يُحَدِّثْ بِهَا اِلَّا مَنْ يُّحِبُّ وَاِذَا رَاٰى مَا يَكْرَهُ فَلْيَتْفُلْ عَنْ يَّسَارِهٖ ثَلَاثًا وَّلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشَرِّهَا وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا اَحَدًا فَاِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهٗ.

ترجمه: دحضرت ابوسلمه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مابه ځنے خوب داسے اولیدو چه بیمار به شوم (دهغے دویر نه) بیا زهٔ دابو قتادهؓ سره میلاؤ شوم هغوئ اووے ځما هم دغه حال وو تردے پورے چه مادا اوریدل درسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه لوئے فرمائیلو

بنه خوب دالله تعالی دطرفنه دے، پس هر کله چه ستاسو نه څوك بنه خوب اووینی نو نۀ دِئے بیانوی مګر خپل دوست ته. او هر کله چه بد خوب اووینی، نو ګس طرفته ددرے ځله لاړے توکری او دشیطان دشر نه د په الله باندے پنا اوغواړی او هیچاته دِئے نۀ بیانوی، نو نقان به ئے نۀ کیږی۔

(۵۹۰۴) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ اِذَا رَاٰی اَحَدُکُمُ الرُّؤْیَا یَکْرَهُهَا فَلْیَبْصُقْ عَلٰی یَسَارِهٖ ثَلَاثًا وَّلْیَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَانِ ثَلَاثًا وَّلْیَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِیْ کَانَ عَلَیْهِ. [ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه. دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "هر کله چه څوك ستاسو نه داسے خوب اووینی چه هغه بدګنړی نو ګس طرفته د درے ځله لاړے توکری او په الله سره دِپناه اوغواړی دشیطان نه، او په "کومه ډډه چه ملاست وی هغه دِبدله کړی۔

(۵۹۰۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ لَمْ تَکَدْ رُؤْیَا الْمُسْلِمِ تَکْذِبُ وَاَصْدَقُکُمْ رُؤْیَا اَصْدَقُکُمْ حَدِیْثًا وَّرُؤْیَا الْمُسْلِمِ جُزْءٌ مِّنْ خَمْسَةٍ وَّ اَرْبَعِیْنَ جُزْءًا مِّنَ النُّبُوَّةِ وَالرُّؤْیَا ثَلَاثَةٌ فَالرُّؤْیَا الصَّالِحَةُ بُشْرٰی مِنَ اللّٰهِ وَرُؤْیَا تَحْزِیْنٌ مِّنَ الشَّیْطَانِ وَرُؤْیَا مِمَّا یُحَدِّثُ الْمَرْءُ نَفْسَهُ فَاِنْ رَّاٰی اَحَدُکُمْ مَّا یَکْرَهُ فَلْیَقُمْ فَلْیُصَلِّ وَلَا یُحَدِّثْ بِهَا النَّاسَ قَالَ وَاُحِبُّ الْقَیْدَ وَاَکْرَهُ الْغُلَّ وَالْقَیْدُ ثَبَاتٌ فِی الدِّیْنِ فَلَا اَدْرِیْ هُوَ فِی الْحَدِیْثِ اَمْ قَالَهُ ابْنُ سِیْرِیْنَ. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " هر کله چه زمانه یو شان شی "(یعنی ورځ شپه برابر شی یا هر کله چه قیامت رانزدے شی) نو دمسلمان خوب به دورغ نۀ وی، او ستاسو نه به دټولو نه زیات رښتونے خوب دهغه چاوی چه هغه دټولونه زیات رښتونے وی په خبرو کښے، او دمسلمان خوب دنبوت په پنځه څلویښتم حصو کښے یوه حصه ده، او خوب په درے قسمه دے، یو خو نیك خوب چه دالله دطرفنه خو شخبری ده، دویم درنځ خوب چه دشیطان دطرفنه دے، دریم هغه خوب چه دخپل

زړۀ خیال وی. پس هر کله چه څوك ستاسو نه بدخوب اووینی. نو یادځی او مونځ داوکړی. او خلقو نه دنی نۀ بیانوی. او زۀ په خوب کښ هتکړی لګیدلے بنه ګنړمه او په غاړه کښے طوق بدګنړمه" ایوب وئیلی دی زۀ نۀ یم خبر چه دا کلام په حدیث کښے داخل دے یا دابن سیرینؒ کلام دے.

فائده: امام نوویؒ علیه الرحمه وئیلی دی . په څنو روایتونو کښے دپنځه څلویښتمے حصے ذکر دے، په څنو کښے داویائمے حصے ذکر دے په څنو کښے دشپږ څلویښتمے حصے ذکر دے. او په څنو کښے دڅلویښتمے په څنو کښے دیوکم پنځوستمے . په څنو کښے دپنځوستمے ، په څنو کښی دشپږویشتمے په څنو کښے دڅلور څلویښتمے. او کیدے شی دااختلاف دخوب دلیدلو والا په حالت بندے دے. کچرے هغه مؤمن دے نو دهغه خوب دنبوت دڅلویښتو حصونه یوه حصه ده او دفاسق داویاؤ حصونه یوه حصه ده. او څنو وئیلی دی مشکل خوب په اویاوو حصو کښے یوه حصه ده. او صفا په څلویښتو حصو کښے یوه حصه ده.

خطابی وئیلی دی په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے دیرشو کالو پورے وحی راغلے وه. او دنبوت نه مخکښے دشپږو میاشتو پورے به په خوب کښے وحی راتله، نو خوب دڅلویښتو حصونه یوه حصه شوه . او دهتکړو په خوب کښے لیدل څکه غوره دی چه ددے تعبیر دګناهونو نه بچ کیدل او دشرع پابند اوسیدل دی. او طوق دجهنمیانو صفت دے. انتهی مختصراً.

(۵۹۰۲) عَنْ اَيُّوْب بِهٰذَاالاِسْنَاد وَقَالَ فِيْ الْحَدِيْث قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَيُعْجِبُنِيْ الْقَيْد وَاَكْرَهُ الْغُلّ وَالْقَيْدُ ثَبَاتٌ فِيْ الدِّيْن وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُؤْيَاالْمُؤْمِن جُزْءٌ مِّنْ سِتَّة وَّاَرْبَعِيْن جُزْءً مِّن النُّبُوَّة . [ترمذی]

ترجمه : ترجمه ددے هم دپورته پشان ده. په دے کښے دادی چه ابو هریره رضی الله تعالی عنه اووے مانه بیړی لیدل غوره دی. او طوق مکروه ګنړم اودبیړی تعبیر په دین کښے مضبوط کیدل دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه دمؤمن خوب دنبوت دڅلویښتو حصو نه یوه حصه ده

(۵۹۰۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ وَسَاقَ الْحَدِیْثَ وَلَمْ یَذْکُرْ فِیْهِ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ .

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته حدیث پشان ده، مګر دا حدیث موقوف دے په ابو هریره رضی الله تعالی عنه باندے۔

(۵۹۰۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَدْرَجَ فِی الْحَدِیْثِ قَوْلَهُ وَاَکْرَهُ الْغُلَّ اِلٰی تَمَامِ الْکَلَامِ وَلَمْ یَذْکُرِ الرُّؤْیَا جُزْءٌ مِّنْ سِتٍّ وَّاَرْبَعِیْنَ جُزْئًا مِّنَ النُّبُوَّةِ .

ترجمه: ددے ترجمه هم دپورته حدیث پشان ده، څه لږ کمے بیشے پکښې شته دے۔

(۵۹۰۹) عَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رُؤْیَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِّنْ سِتَّةٍ وَّاَرْبَعِیْنَ جُزْءً مِّنَ النُّبُوَّةِ .

ترجمه: دعباده بن صامتؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی"مؤمن خوب دنبوت دخلویښتو حصو نه یوه حصه ده"۔

(۵۹۱۰) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِکَ .

ترجمه: دانسؓ نه هم ددے پورته پشان روایت دے۔

(۵۹۱۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رُؤْیَا لِمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِّنْ سِتَّةٍ وَاَرْبَعِیْنَ جُزْئًا مِّنَ النُّبُوَّةِ .

ترجمه: ترجمه ددے هم دپورته تیر شوؤ احادیثو پشان ده۔

(۵۹۱۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رُؤْیَا الْمُسْلِمِ یَرَاهَا اَوْتُرٰی لَهُ وَفِیْ حَدِیْثِ ابْنِ مُسْهِرٍ الرُّؤْیَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِّنْ سِتَّةٍ وَّاَرْبَعِیْنَ جُزْئًا مِّنَ النُّبُوَّةِ .

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی" دمسلمان خوب که هغه پخپله اووینی یا که بل څوك ئے دهغه دپاره اووینی، دابن مسهر په روایت کښے نیك خوب دے، یوه حصه دنبوت دخلویښتو حصونه ده"۔

(۵۹۱۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رُؤْیَا الرَّجُلِ الصَّالِحِ جُزْءٌ مِّنْ سِتَّةٍ وَّاَرْبَعِیْنَ جُزْئًا مِّنَ النُّبُوَّةِ .

ترجمه: دابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى " دنيك سړى خوب دنبوت دڅلويښتو حصونه يوه حصه ده".

(۵۹۱۴) عَنْ يَحْيَى ابْنِ اَبِيْ كَثِيْرٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِّنْ سَبْعِيْنَ جُزْئًا مِّنَ النُّبُوَّةِ.

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم ددے نه دَ دپورته حديث پشان ده۔

(۵۹۱۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِّنْ سَبْعِيْنَ جُزْئًا مِّنَ النُّبُوَّةِ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنه نه روايت دے، وائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى "نيك خوب دنبوت داوياوو حصونه يوه حصه ده".

بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ((مَنْ رَاٰنِيْ فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَاٰنِيْ))

باب: د رسول الله ﷺ ددے وينا بيان: چه چا زۀ په خوب کښې اوليدم نو يقينا هغه هم زۀ ليدلے يم۔

(۵۹۱۹) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَاٰنِيْ فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَاٰنِيْ فَاِنَّ الشَّيْطٰنَ لَا يَتَمَثَّلُ بِيْ.

ترجمه: دابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى " چا چه زۀ په خوب کښې اوليدم يقينا هغه زۀ اوليدم، ځکه چه شيطان ځما صورت نۀ شى جوړولے".

فائده: ابن باقلانى وئيلى دى مطلب دادے چه دهغه خوب صحيح دے لغوه خيال نۀ دے، نۀ دشيطان دا غولَئۀ دے، او کله کله خوب ليدلو والا حضرتؐ لره دهغوئ دحُليے نه علاوه په بل شکل باندے وينى. لکه دحضرتؐ ږيره مبارکه سپينه اووينى، او کله کله دوه سړى حضرتؐ لره په يو وخت په دوو جدا جدا مکانونو کښے اووينى۔

مازرى وئيلى دى دا حديث په خپل ظاهر باندے محمول دے، او هيڅ يو دليل په دے باندے نشته دے چه دحضرتؐ جسم مبارک فنا شوے دے بلکه داحاديثونه دهغوئ بقاوتلے ده،

قاضي عياض وئيلي دي دا حديث محمول دے چه هغه حالت باندے هر كله چه حضرت لره دهغوی دحليے مطابق اووينی. او دا قول ضعيف دے او صحيح داده چه په هر صورت كښے هغه خوب صحيح دے، او دشيطان دا مجال نشته چه دحضرت په صورت باندے ځان جوړ كړی . ځكه چه كچرے داطاقت نے وے نو شيطان به دهغوئ صورت جوړوو او دروغ ودهوكه به نے كوله. او په حق او باطل كښے به نے شك پيدا كوو. قاضي عياض وئيلی دی چه الله تعالى لره هم په خوب كښے ليدلے كيدے شی۔

(۵۹۲۰) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ رَّاٰنِیْ فِی الْمَنَامِ فَسَيَرَانِیْ فِی الْيَقْظَةِ اَوْ لَا يَتَمَثَّلُ الشَّيْطَانُ بِیْ : بخاری ، ابو داود]

ترجمه: دابو هريره رضی الله تعالى عنه نه روايت دے. وائی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلی دی "څوك چه ما په خوب كښے اووينی هغه به ډير زرما په ويخه اووينی يا چا چه زۀ په خوب كښے اوليدم هغه لكه چه زۀ په ويخه اوليدم . شيطان زما صورت نۀ شی جوړولے "

(۵۹۲۱) وقال فقال ابوسلمة قال ابوقتادة قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من رآنی فقد رأى الحق .

ترجمه : ابو سلمة وائی چه ابو قتاده اووے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلی دی " چا چه زۀ اوليدم هغه په رښتيا سره اوليدم".

فائده: ددے مراد هغه خلق دی چه دحضرت په زمانه كښے وو، يعنی چا چه هجرت نۀ دے كړے او په بل ملك كښے ما په خوب كښے اووينی هغه به په هجرت سره مشرف وی، او ځما سره به ملاقات شی. يا مراد دادے چه په اخرت كښے به ما اووينی . او خپل خوب د رښتونے وګرځی ځكه چه په اخرت كښے به حضرت ته ټول مسلمانان كتلے شی. يا مراد دادے چه په اخرت كښے به ديو خاص قرب سره چه هغه به نورو ته نۀ وی ما اووينی۔

(۵۹۲۲) عن ابن اخی الزهری قال حدثنی فذكر الحديثين جميعًا باسناديهما سوآء مثل حديث يونس .

ترجمه: ترجمه ددے حديث هم ديورته پشان ده۔

(۵۹۲۳) عن جابر ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال من رآنی فی النوم فقد رآنی انه لا ينبغی

للشیطان ان یتمثل فی صورتی وقال اذ حلم احدکم فلا یخبر احدا بتعلب الشیطٰن به فی المنام.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. چاچه زهٔ په خوب کښې اُو لیدم هغه بیشکه زهٔ اولیدم ځکه چه شیطان ځما په صورت کښې نهٔ شي جوړیدے. او هر کله چه ستاسو نه څوك بدخوب اووینی نو چاته دې نهٔ، بیانوی شیطان په خوب کښې دهغه سره لوبې کوی.

(۵۹۲۴) عن جابر ابن عبد الله یقول قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من رای فی النوم فقدرانی فانه لا ینبغی للشیطان ان یتشبه بی.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "چاچه زهٔ په خوب کښې اولیدم هغه بیشکه زهٔ اولیدم، ولے چه شیطان ځما صورت نهٔ شی جوړولے".

(۵۹۲۵) عن جابر عن رَسُوْل الله صلی الله علیه وسلم انَّهٗ قال لاعرابیٍّ جآءهٗ فقال انی حکمت ان راسی قطع فانا اتبعهٗ فزجرهٗ النبی صلی الله علیه وسلم وقال لا تخبر بتلعب الشیطان بک فی المنام.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، رسول الله صلی الله علیه وسلم له یو بانډه چه راغے او اوئے وئیل ما په خوب کښې اولیدل چه ځما سر کټ شوے دے او زهٔ په هغې پسې ورستو روان یم. حضرت هغه لره اورټلو اوورته ئے او فرمائیل " مهٔ خبره وه هیچالره چه ستاسره شیطان لوبې کوی په خوب کښې".

فائده: نووی علیه الرحمه وائی. حضرت نه به په وحی سره یا بل څه قرینه سره معلومه شوے وه چه داخوب لغوه اوبے هوده دے. ورنه تعبیر دسر کټ کیدو داسې وستلې شی، چه دده په دولت یا حکومت کښې به خلل راشی، البته کچرې غلام داسې خوب اووینی نو آزاد به شی که بیمارئے اووینی نو صحت مند به شی، که قرضدارئے اووینی نو قرض به ئے اداشی، او چاچه حج نه وی کړے او داسې خوب اووینی هغه به حج اوکړی که غمژن ئے اووینی نو خوشحاله به شی. او که ویربدلے ئے اووینی نو بے خوفه یعنی بے ویرې به شی. والله اعلم بالصواب.

(۵۹۲۶) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَآءَ اَعْرَابِیٌّ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رَاَیْتُ فِی الْمَنَامِ کَاَنَّ رَاْسِیْ ضُرِبَ فَتَدَحْرَجَ فَاشْتَدَدْتُ عَلٰی اَثَرِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِلْاَعْرَابِیِّ لَا تُحَدِّثِ النَّاسَ بِتَلَعُّبِ الشَّیْطٰنِ بِکَ فِیْ مَنَامِکَ وَقَالَ سَمِعْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَعْدُ یَخْطُبُ فَقَالَ لَا یُحَدِّثَنَّ اَحَدُکُمْ بِتَلَعُّبِ الشَّیْطَانِ بِهٖ فِیْ مَنَامِهٖ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو باندچی درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغیے او اوئے وئیل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ما په خوب کښے اولیدل چه زما سر کټ شو او هغه غورځیدلے روان دے او زهٔ پسے ورستو منډیے وهم، حضرتؐ او فرمائیل " مه بیانوه خلقوته چه شیطان ستاسره لوبے کوی په خوب کښے" جابرؓ وائی ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی، او ددے نه پس حضرتؐ په خطبه کښے او فرمائیل " څوك دِستاسونه نهٔ بیانوی هغه چه شیطان دهغه سره لوبے کوی په خوب کښے"۔

(۵۹۲۷) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ رَاَیْتُ فِی الْمَنَامِ کَاَنَّ رَاْسِیْ قُطِعَ قَالَ فَضَحِکَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ اِذَا لَعِبَ الشَّیْطٰنُ بِاَحَدِکُمْ فِیْ مَنَامِهٖ فَلَا یُحَدِّثْ بِهِ النَّاسَ وَفِیْ رِوَایَةِ اَبِیْ بَکْرٍ اِذَا لُعِبَ بِاَحَدِکُمْ وَلَمْ یَذْکُرِ الشَّیْطَانَ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یو سړے درسول الله ﷺ خواله راغے او اوئے وئیل یا رسول الله ما په خوب کښے اولیدل لکه چه څما سر کټ شوے دے، ددے په اوریدو حضرتؐ مسکے شو او اوئے فرمائیل " هر کله چه په تاسو کښے دچاسره شیطان په خوب کښے لوبے کوی نو هیچاته دئے ذکر نهٔ کوی"۔

(۵۹۲۸) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اَتٰی رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّیْ اَرَی اللَّیْلَةَ فِی الْمَنَامِ ظُلَّةً تَنْطِفُ السَّمْنَ وَالْعَسَلَ فَاَرَی النَّاسَ یَتَکَفَّفُوْنَ مِنْهَا بِاَیْدِیْهِمْ فَالْمُسْتَکْثِرُ وَالْمُسْتَقِلُّ وَاَرٰی سَبَبًا وَّاصِلًا مِّنَ السَّمَآءِ اِلَی الْاَرْضِ فَاَرَاکَ اَخَذْتَ بِهٖ فَعَلَوْتَ ثُمَّ اَخَذَ بِهٖ رَجُلٌ مِّنْ بَعْدِکَ فَعَلَا ثُمَّ اَخَذَ بِهٖ رَجُلٌ اٰخَرُ فَعَلَا ثُمَّ اَخَذَ بِهٖ رَجُلٌ فَانْقَطَعَ بِهٖ ثُمَّ وُصِلَ لَهٗ فَعَلَا قَالَ اَبُوْبَکْرٍ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ بِاَبِیْ اَنْتَ وَاللّٰهِ لَتَدَعَنِّیْ فَلَاَعْبُرَنَّهَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَعْبُرْهَا قَالَ اَبُوْبَکْرٍ اَمَّا الظُّلَّةُ فَظُلَّةُ الْاِسْلَامِ وَاَمَّا الَّذِیْ یَنْطِفُ مِنَ السَّمْنِ وَالْعَسَلِ فَالْقُرْاٰنُ حَلَاوَتُهٗ وَلِیْنُهٗ وَاَمَّا مَا یَتَکَفَّفُ النَّاسُ مِنْ ذٰلِکَ

فَالْمُسْتَكْثِرُ من الْقُرْآنِ وَالْمُسْتَقِلُّ وَاَمَّا السَّبَبُ الْوَاصِلُ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ فَالْحَقُّ الَّذِيْ اَنْتَ عَلَيْهِ تَاْخُذُ بِهِ فَيُعْلِيْكَ اللّٰهُ بِهِ ثُمَّ يَاْخُذُ بِهِ رَجُلٌ مِّنْ بَعْدِكَ فَيَعْلُوْا بِهِ رَجُلٌ اٰخَرُ فَيَعْلُوْا بِهِ ثُمَّ يَاْخُذُ بِهِ رَجُلٌ اٰخَرُ فَيَنْقَطِعُ بِهِ ثُمَّ يُوْصَلُ لَهُ فَيَعْلُوْا بِهِ فَاَخْبِرْنِيْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ بِاَبِيْ اَنْتَ وَاُمِّيْ اَصَبْتُ اَمْ اَخْطَاْتُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَصَبْتَ بَعْضًا وَاَخْطَاْتَ بَعْضًا قَالَ فَوَاللّٰهِ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ لَتُحَدِّثَنِّيْ مَاالَّذِيْ اَخْطَاْتُ قَالَ لَاتُقْسِمْ .

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو سړے درسول الله ﷺ خواله راغې، او اوئې وئیل یا رسول الله ! ما دشپے په خوب کښے اولیدل چه دوریځې دیوے ټکړے نه غوړی او ګبین راساسی، خلق هغے لره په خپلو خپلو لپو سره اخلی څوك زیات اخلی او څوك کم، او ما اولیدل چه داسمان نه دزمکے پورے یوه رسئ زوړنده شوے ده، تاسو هغے لره اونیوه او پورته اوختلې، بیا ستا نه پس یو بل سړی هغه اونیوه او هغه هم پورته اوختو، بیا یو بل سړی او نیوه هغه هم اوختو، بیا یو بل سړی اونیوه نو هغه اوشلیده بیا هغه غوټه شوله او هغه هم پورته لاړو، ددے په اوریدو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه عرض اوکړو یا رسول الله څما پلار دستانه قربان شِی ماته ددے دتعبیر اجازت راکړه، حضرت او فرمائیل ښه ده وایه ابوبکر اووے هغه دوریځې ټکړه خو اِسلام دے، او دغوړو او ګبین نه دقرآن حلاوت او نرمی مرادده او خلق چه کوم زیات اوکم اخلی هغه هم څنو ته ډیر قرآن یاددے او څنو ته کم، اورسئ چه کومه داسمان نه دزمکے پورے زوړنده ده هغه دین برحق دے چه په هغے باندے تاسو یئ، بیا به الله تعالی په دے دین باندے تاسو او غواړی ستاسو نه پس به یو بل سړے هغے لره اونیسی (ستاسو خلیفه) هغه به هم دغه شان او خیژی، بیا به ئے یو بل سړے او نیسی او دهغه به هم دغه حال شی، بیا به ئے یو بل سړے اونیسی نو څه خلل به پکښں راشی ، لیکن هغه خلل به آخر ختم شی، او هغه به هم او خیژی او ماته بیان کړه یا رسول الله چه ما دا تعبیر ټهیك اووے یا غلط، حضرت او فرمائیل څه تا ټهیك اووے او څه تا غلط اووے، او ابوبکر عرض اوکړو یا رسول الله په الله قسم دے تاسو بیان کړئ چه ما څه غلطی اوکړه حضرت او فرمائیل غلطی مهٔ کوه قسمه مهٔ خوره۔

فائده: او غلطی بیان نه کړه، څکه چه د الله تعالی حکم به نهٔ وو شوے علماو وئیلی دی

چه ابوبکر به تعبیر کښې غلطي نه ده بیان کړې . بلکه د هغوئ غلطي دا وه چه تلوار ئې کړو ، کچرې حضرت فرمائیلي وې نو ډیره به ښه وي . او دا قول صحیح دې ځکه چه ابوبکرؓ ته پخپله حضرتؐ اجازت ورکړو په دې صورت کښې به د تعبیر غلطي دا وي چه د غوړو او ګبین نه هغوئ د قرآن حلاوت او نرمي مراد اووې . حالانکه د شهد نه مراد قران دې . او د غوړو نه مراد حدیث دې . یا به دا وي چه د دریم سړي په خلافت کښې هغوئ بیان اوکړو چه خلل به راشي او بیا به ختم شي . د دې نه معلومیږي چه هغه سړې به دغه خلل لره لرې کوي حالانکه داسې اونۀ شوه . بلکه حضرت عثمانؓ جبرا د خلافت نه کوز شو او قتل شولو . بیا حضرت علي رضی الله تالی عنه هغې لره سنبال کړو .

او ابوبکرؓ قسم اوخوړو لیکن حضرت صلی الله علیه وسلم هغې لره پوره نۀ کړو ، د دې نه معلومه شوه چه قسم پوره کول هغه وخت ضروري دي هر کله چه په هغې کښې څه مفسد نۀ وي . او د هغې په بیانولو کښې څه مفسد نۀ وي ، هغه دا چه د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه د قتل او فساد خبر د مخکښې نه ورکول نا مناسب و (نوویؒ مختصرا).

(۵۹۲۹) عن ابن عبّاسٍ رَضِيَ اللهُ تعالى عَنْهُ قال جآء رجلٌ الى النّبيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْصَرَفَهُ مِنْ اُحُدٍ فقال يا رسُوْلَ اللهِ اِنّي رَأيْتُ هذهِ اللّيْلَةَ فِي الْمَنَامِ ظُلَّةً تَنْطُفُ السَّمْنَ وَ الْعَسَلَ بِمَعْنَى حَدِيْثِ يُوْنُسَ .

ترجمه: د ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دې وائي چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله یو سړې راغې ، هر کله چه هغوئ د احد نه واپس شو ،او عرض ئې اوکړو ، یا رسول الله ! ما نن شپه په خوب کښې د وریځې یوه ټکړه اولیده چه د هغې نه غوړي او ګبین څڅیدلو د اخره پوره .

(۵۹۳۰) عن ابن عباس او ابي هريرة قال عبد ... او كان معمر احْيَانًا يقُوْلُ عن ابن عَبَّاسٍ وَ اَحْيانًا يقُوْلُ عن ابيْ هُريْرة انّ رجُلا اتى رسُوْل الله صلى ... وسلم فقال انّيْ ارى اللّيْلَةَ .

ترجمه: د دې حدیث ترجمه هم د دې پورته حدیث په شان ده .

(۵۹۳۱) عن ابن عبّاس رَضي اللهُ تعالى عنهُ انّ رسُوْلَ الله صلّى اللهُ عليْهِ وسلّم كان مِمَّا يقُوْلُ لاَصْحابه مَنْ رَاى مِنْكُمْ رُؤْيا فلْيقُصّها اعْبُرْها لهُ قال فجَآء رجلٌ فقال ي رسُوْلَ اللهِ رَأيْتُ ظُلَّةً بنَحْوِ حديْثِهِمْ .

ترجمه : د عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته اوفرمائیل " چا چه ستاسو نه څه خوب لیدے وی هغه دِ بیان کړی چه زهٔ تعبیر اوباسم یو سړی راغے او اوئے وئیل یا رسول الله ! ما ذ ورېځے یوه ټکړه اولیده بیا ئے بیان کړو حدیث په دا سے شان لکه چه پورته تیر شو.

(۵۹۳۲) عن انس ابن مالک قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم رأیت ذات لیلة فیما یری النائم کانا فی دار عقبة ابن رافع فاتینا برطب من رطب ابن طاب فاولت الرفعة لنا فی الدنیا والعاقبة فی الاخرة وان دیننا قد طاب . [ابوداود]

ترجمه : د انس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " ما یو شپے لره اولیدوه په داسے حالت کښے په کوم کښے چه اوده سړے وینی ، لکه مونږ د عقبه بن رافع په کور کښے یو نو زمونږ مخے ته شنے چوارے راوړے شوے ، د هغه قسم د کوم نسم چه ابن طاب نوم دے . ما د هغے دا تعبیر اوویستو چه زمونږه درجه په دنیا کښے اوچته شی او په آخرت کښے به مو انجما میك وی او البته زمونږ دین غوره او خوند ناك دے.

فائده: حضرت دا تعبیر په لفظونو سره اوویستو ، اوچت والے یعنی رفعت درافع نه او دعاقبت بهتری دعقبه نه او بنانسته والے دطالب نه، معلوم شوے دے چه دتعبیر دغه یوه طریقه ده. چه صرف دلفظونو نه په طور دفال مطلب واخلی.

(۵۹۳۳) عن عبدالله ابن عمر رضی الله تعالی عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ارانی فی المنام اتسوک بسواک فجذبنی رجلان احدهما اکبر من الاخر فناولت السواک الاصغر منهما فقیل لی کبر فدفعته الی الاکبر .

ترجمه : د ابو موسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه حضرت صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ما ته په خوب کښے داسے معلومه چه مسواك کوم، په دغه وخت سړو زهٔ رابنکودم (یعنی د هر یو مسواك غوښتو) یو په هغوئ کښے مشر وو نو ما هغه کشر له مسواك ورکړو . ما ته اووئیلے شو دے مشر له ئے ورکړه ما هغه مشر له ورکړو ".

(۵۹۳۴) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَالَ رَاَیْتُ فِیْ الْمَنَامِ اِنِّیْ اُهَاجِرُ مِنْ مَکَّةَ اِلٰی اَرْضٍ بِهَا نَخْلٌ فَذَهَبَ وَهَلِیْ اِلٰی اَنَّهَا الْیَمَامَةُ اَوْ هَجَرُ فَاِذَا هِیَ الْمَدِیْنَةُ یَثْرِبُ وَرَاَیْتُ فِیْ رُؤْیَایَ هٰذِهٖ اَنِّیْ هَزَزْتُ سَیْفًا فَانْقَطَعَ صَدْرُهٗ فَاِذَا هُوَ مَا اُصِیْبَ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ یَوْمَ اُحُدٍ ثُمَّ هَزَزْتُهٗ اُخْرٰی فَعَادَ اَحْسَنَ مَا کَانَ فَاِذَا هُوَ مَا جَآءَ اللّٰہُ بِهٖ مِنَ الْفَتْحِ وَاجْتِمَاعِ الْمُؤْمِنِیْنَ وَرَاَیْتُ فِیْهَا اَیْضًا بَقَرًا وَّاللّٰہُ خَیْرٌ فَاِذَا هُمُ النَّفَرُ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ یَوْمَ اُحُدٍ وَّ اِذَا الْخَیْرُ مَا جَآءَ اللّٰہُ بِهٖ مِنَ الْخَیْرِ بَعْدُ وَ ثَوَابُ الصِّدْقِ الَّذِیْ اٰتَانَا اللّٰہُ بَعْدَ یَوْمِ بَدْرٍ .[بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه: دَ ابو موسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه حضرت صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی " ما په خوب کښی اولیدل چه زه هجرت کوم د مکے نه د هغه زمکے په طرف چه کوم ځائے د یمامه او هجر په طرف لاړو لیکن هغه مدینه اوخته د کومے نوم چه یثرب هم دے ، او ما په خپل دغه خوب کښے اولیدل چه ما توره اخوزَوَله نو هغه د پورته نه ماته شوه نو د هغے تعبیر د مسلمانانو شهادت اوختو دَ احد په ورځ بیا ما تره په دویم ځل اوخزوله ، نو هم دغسے ثابته شوه د مخکښے نه ښه ، د هغے تعبیر دا اوختو چه الله تعالی فتح نصیب کړه او دَ مسلمانانو جماعت قائم شولو . (یعنی د جنګ احد نه پس خیبر او مکه فتح شوه او دَ اسلام لښکر زور اونیوو) او ما په دغه خوب کښے غواګانے اولیدلے (چه حلالے شوے) او الله تعالی غوره دے (یعنی دا جمله م د چا ذړے نه واوریده الله خیر) هغه خلق وو د مسلمانانو چه دَ احد په ورځ په کار راغلو او د خیر نه مراد هغه وو کوم چه الله تعالی را اولیږل ، د دے نه پس نور ثواب د صدق چه الله تعالی په مونږ باندے پیروز کړو ورستو د بدر په ورځ باندے ".

فائده : یمامه او هجر په عربو کښے دوه ملکونه دی هلته د کجورو ونے ډیرے دی ، د حدیث نه معلومه شوه چه د پیغمبرانو خوبونه رښتیا وی ، لیکن په تعبیر کښے کله کله سهو راځی د هجرت مقام خو په اصل حقیقت کښ مدینه وه ، لیکن د حضرتؐ خیال بل طرفته لاړو . دغه شان دَ اولیاء الله هم خوب او کشف رښتیا وی . لیکن د هغے په مطلب او تعین کښے غلطی راځی . خو د اولیاء الله خوب یا کشف دلیل شرعی نۀ دے ، او نه په هغے باندے عمل کول ضروری دی . بلکه عمل په کتاب او سنت باندے لازِم دے.

(۵۹۳۵) عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما قال قدم مسیلمة الکذاب علی عهد النبیّ صلی الله علیه وسلم المدینة فجعل یقول ان جعل لی محمدٌ الامر من بعده تبعته فقدمها فی بشر کثیر من قومه فاقبل الیه النبیُّ صلی الله علیه وسلم و معه ثابت ابنُ قیس ابن شماس و فی ید النبیّ صلی الله علیه وسلم قطعة جریدة حتی وقف علی مسیلمة فی اصحابه قال لو سالتنی هذه القطعة ما اعطیتکها ولن اتعدی امر الله فیک ولئن ادبرت لیعقرنک الله و انی لاراک الذی اریت فیک ما اریتُ و هذا ثابتٌ یجیبک عنی ثم انصرف عنه فقال ابن عباس فسالت عن قول النبیّ صلی الله علیه وسلم انک اری الذی اریت فیک ما اریتُ فاخبرنی ابو هریرة ان النبیّ صلی الله علیه وسلم قال بینا انا نائم رایت فی یدیَّ سوارین من ذهب فاهمنی شانهما فاُوحی الیَّ فی المنام ان انفخهما فنفختهما فطار فاولتهما کذابین یخرجان من بعدی فکان احدهما العنسیُّ والاخر مسیلمة صاحب الیمامة .بخاری ، ترمذی]

ترجمه : د عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وئی چه مسیلمه کزاب (چه د نبوت په دروغه دعوه کړے وه او د دغے وجے نه ـ هغه لقب کذاب شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس سره د خپلو تابعینو اووژلے شو) د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مباره کښے مدینے منورے ته راغے ، او اوئے وئیل کچرے محمدؐ د خپل ځان نه پس خپل خلافت ما ته راکوی نو زۀ د ده پیروی کوم مسیلمه د خپل ځان سره د خپل قوم ډیر خلق راوستے وو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه خواله تشریف راوړو ، او د حضرتؐ سره ثابت بن قیس بن شماس وو ، او د حضرتؐ په لاس مبارک کښں د لرگی یوه ټکړه وه حضرتؐ د مسیلمه کذاب د خلقو په خواه کښے اودریدو او اوئے فرمائیل ، اے مسیلمه ! کچرے ته زمانه دا لرگی ټکړه اوغواړے نو تا له ئے نۀ درکوم او زۀ دَ الله د حکم نه خلاف ستا په باب کښے کولو والا نه یم ، او کچرے ته زما وینا او نه منے نو الله تعالی به تا لره قتل کړی ، (دا اوفرمائیل د حضرتؐ صحیح شولو) او یقیناً زۀ تا لره هغه گنړم کوم چه ما ته په خوب کښے خودلے شوے دے . او دا ثابت به تا لره ځما د طرفنه درکړی بیا حضرتؐ د هغه ځائے نه لاړو ، ابن عباسؓ وائی ما د خلقو نه تپوس اوکړو ، چه دا حضرت صلی الله علیه وسلم څه اوفرمائیل " ته هغه ئے چه په خوب کښے ما ته خودلے شوے وے " ابو هریره رضی الله تعالی عنه ما ته بیان اوکړو ، چه رسول الله صلی

الله علیه وسلم فرمائیلي دي " زه اوده وم ما په خپل لاس کښې د سرو زرو یو دوه کنګڼ اولیدو، هغه ما ته بد ښکاره شولو . هم په دغه خوب کښې ما ته حکم اوشو دې لره پوکې وکړه ، ما پوکې ورکړو ، هغه دواړه والوتل . ما د هغې تعبیر دا اووے . چه هغه دواړه دروغژن دي ، چۀ ما نه پس به را اوځی ، یو به هغوئ کښې عنسی صنعا والا او دویم یمامه والا".

فائده: صنعاء په یمن کښې یو ښهر دے هلته د حضرت صلی الله علیه وسلم په وخت مبارك کښې یو سړے پیدا شوے وو یعنی ابو الاسود عنسی چه د پیمبرئ دعوه ئے کړے وه ، او د حضرت صلی الله علیه وسلم د پیغمبرئ نه منکر نۀ وو . پس د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښې د فیرواز د یلمی په لاس اووژلے شو . او یمامه په عربو کښې یو ملك دے هلته مسیلمه کذاب د حضرت صلی الله علیه وسلم د شراکت دعوه کړے وه او د حضرت صلی الله علیه وسلم د دعوت نه هم منکر نۀ وو . لیکن هغه د حضرت ابوبکر صدیق په خلافې کښې وحشی په لاس اووژلے شو . حضرت صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی په خوب کښې د اسلام فتح اوښوده . صرف دغه دوه مردود الله تعالی هغوئ لره هم برباد کړو ، معلومه شوه چه کچرے یو سړے په لاس کښې کنګڼ اوویني په خوب کښې نو د هغې تعبیر تنګدستی او تشویش دے ، اهل تعبیرو لیکلی دي چه د ښځو کالی کچرے سړے په خوب کښې اچولی اووینی نو بد دی ، مګر اوبړئ د سړی په غاړه کښې دلیل دے د ښکلې خدمت د میلاویدو ، او په خپلو ګجرے یا پائیزبونه سړی لره لیدل د قید کیدو دلیل دے . (تحفه الاخبار).

(۵۹۳۲) عن همام ابن منبه قال هذا ما حدثنا ابو هریرة رضی الله تعالى عنه عن رسول الله صلى الله علیه وسلم فذكر احادیث منها وقال رسول الله صلى الله علیه وسلم بینا انا نائم اتیت خزائن الارض فوضع فی یدی اسوارین من ذهب فكبر الی ان انفخهما فنفختهما فذهبا فاولتهما الكذابین الذین انا بینهما صاحب صنعاء و صاحب الیمامة.

ترجمه: د همام بن منبه نه روایت دے وائی چه دا خبر راکړے دے مونږ ته ابو هریره رضی الله تعالی عنه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي " زۀ اوده وم چه ما له د زمکې خزانې راوړلے شوے . او زما په لاس کښې د سرو زرو ده کنګڼ واچولے شو ، هغه درانه اولګیدل په ما

باندے او پریشانه شوم . پس الله تعالی ما ته حکم اوکړو . هغې ته د پوکی ورکولو . ما هغې له پوکے ورکړو هغه دواړه لاړو . د هغې تعبیر ما دا اوګنړو دا دواړه دروغژن د ځا په مینځ کښې چه زهٔ یمه . یو د صنعاء اوسیدونکے دے او بل د یمامه اوسیدونکے دے.

(۵۹۳۷) عَنْ سَمُرَةَ ابْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ تعالى عنهُ قالَ كانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ اذا صَلَّى الصُّبْحَ اقبلَ عليهِمْ بوجْهِهِ فقالَ هَلْ رَأى احَدٌ مِنْكُمُ البارِحَةَ رُؤْيَا .[بخاری ، ترمذی]

ترجمه: د سمره بن جندب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به هر کله د سحر مونځ اوکړو نو د خلقو په طرف به متوجه شولو او وبه ئے فرمائیل بتاسو کښې یو کس نن شپه څه خوب لیدلے دے"

تَمَّ بعَونِ اللّٰهِ والحمد لله حمدًا كثيرًا طيبًا مباركًا فيه

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

مترجم مولوی **حضرت علی** ابن حاجی هادی

☆☆☆

ناشر فیضی کتب خانه قصه خوانی پشاور